# د سولې په هکله د افغانستان
# د خلکو خبرې اترې

## د ۳۴ ولایتونو د سولې ولایتي نقشې



# د سولې په هکله د افغانستان
# د خلکو خبرې اترې
## د ۳۴ ولایتونو د سولې ولایتی نقشی

**د کتاب پېژندنه:**

| | |
|---|---|
| **د کتاب نوم:** | **د سولې په هکله د افغانستان د خلکو خبرې اترې (د ۳۴ ولایتونو د سولې ولایتی نقشی)** |
| **خپروونکی:** | **د سولې په هکله د افغانانو د خبرو اترو د رهبری کمیټه** |
| **د چاپ کال:** | **۱۳۹۶ هـ.ش** |
| **د چاپ او دیزاین ځای:** | **د چهاردهی صناعتی مطبعه، کابل** |

**د سولی ددغی نقشی چاپ د یو ناما په همکاری سره ترسره شوی ده .**

**فهرست**

سریزه...................................................................................................... أ
د کابل ولایت ـ د سولې لپاره ولایتی لار نقشې................................................................... ۱
۱. پېژندنه ........................................................................................... ۲
۲. د ولایت پېژندنه: جغرافیه، د نفوسو ترکیب امنیت او سیاسی شرایط ................................ ۲
۳. د نښتو تحلیل، د نښتو ډولونه او انګیزې ............................................................ ۵
۴. د سولې د لار نقشه.................................................................................. ۱۱
۵. د خلکو سپارښتنې ............................................................................... ۱۴
د کاپیسا ولایت ـ د سولې لپاره ولایتی لار نقشې............................................................... ۱۷
۱. پیژندنه ........................................................................................... ۱۸
۲. ولایتی انځور: جغرافیه،جمعیت پیژندنه او سیاسی زمینه ............................................. ۱۸
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ګمونې او محرکات.......................................................... ۱۹
۴. د سولې لپاره طرحه:.................................................................................. ۲۷
۵. د خلکو سپارښتنې:.................................................................................. ۳۳
د پروان ولایت ـ دسولې لپاره ولایتی لار نقشې .................................................................. ۳۵
۱. پیژندنه ........................................................................................... ۳۶
۲. ولایتی انځور: جغرافیایی موقعیت جوړښت او سیاسی وضعیت.......................................... ۳۶
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ګمونې او انګیزې........................................................... ۳۸
۴. د سولې لپاره لارې نقشه .......................................................................... ۴۳
۵. د خلکو وړاندیزونه:.................................................................................. ۴۸
د میدان وردك ولایت ـ د سولې لپاره ولایتی لار نقشې ......................................................... ۵۱
۱. پیژندنه ........................................................................................... ۵۲
۲. دولایت په هکله معلومات: جغرافیه، سرشمیرنه اوسیاسی زمینه........................................ ۵۲
۳. د منازعی(شخړی) تحلیل: دشخړی ډولونه اومحرکه قواوی ............................................... ۵۴
۴. د سولی لپاره د لاری نقشه ......................................................................... ۵۸
۵. د خلکو سپارښتنی .................................................................................. ۶۳
د لوګر ولایت ـ د سولې لپاره ولایتی لار نقشې.................................................................. ۶۵
۱. پیژندنه ........................................................................................... ۶۶
۲. د ولایت پروفایل: جغرافیه، دموګرافی او سیاسی وضعیت............................................... ۶۶
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه او محرکات ........................................................ ۶۷
۴. د سولې لپاره د لارې نقشه......................................................................... ۷۳

۵. د خلکو وړاندیزونه ........................................................................ ۷۷
د غزني ولایت د سولې لپاره ولایتی لار نقشې.............................................. ۷۹
۱. پیژندنه ...................................................................................... ۸۰
۲. د ولایت پیژندنه: جغرافیه، خلک او سیاسی وضعیت ................................... ۸۰
۳. د شخړو تحلیل: د شخړو ډولونه او انګیرنې ............................................. ۸۱
۴. د سولې لپاره ځایی طرح .................................................................. ۹۱
۵. د خلکو وړاندیزونه ........................................................................ ۹۹
د پکتیکا ولایت د سولې لپاره ولایتی لار نقشې............................................ ۱۰۱
۱. پیژندنه ...................................................................................... ۱۰۲
۲. ولایتی انځور: جغرافیه، جمعیت پیژندنه او سیاسی وضعیت............................ ۱۰۲
۳. د شخړو تحلیل: د شخړې نمونې او محرکونه .......................................... ۱۰۳
۴. د سولې لپاره ځایی طرح او د خلکو وړاندیزونه....................................... ۱۰۷
د پکتیا ولایت د سولې لپاره ولایتی لار نقشې ............................................ ۱۰۹
۱. پیژندنه ...................................................................................... ۱۱۰
۲. د ولایت انځور، جغرافیه، د نفوسو شمیر او سیاسی وضعیت ............................ ۱۱۰
۳. د جګړې تحلیل: د شخړې نمونې او محرکونه.......................................... ۱۱۱
۴. د سولې نقشه ............................................................................... ۱۱۹
۵. د خلکو وړاندیزونه ........................................................................ ۱۲۷
د خوست ولایت د سولې لپاره ولایتی لار نقشې .......................................... ۱۲۹
۱. پیژندنه ...................................................................................... ۱۳۰
۲. ولایتی پروفایل: جغرافیه، ډیموګرافی، او سیاسی وضعیت ............................. ۱۳۰
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه او انګیزې........................................... ۱۳۱
۴. د سولې نقشه ............................................................................... ۱۳۶
۵. د خلکو سپارښتنې ......................................................................... ۱۴۷
د ننګرهار ولایت د سولې لپاره ولایتی لار نقشې.......................................... ۱۴۹
۱. پیژندنه ...................................................................................... ۱۵۰
۲. ولایتی انځور: جغرافیه، سرشمیرنه، او سیاسی شالید................................... ۱۵۰
۳. د جګړې یا شخړې شننه: د شخړو ډولونه او سرچینې ................................... ۱۵۱
۴. د سولې لپاره تګلاره ....................................................................... ۱۵۳
۵. د خلکو وړاندیزونه ........................................................................ ۱۶۱
د کنړ ولایت د سولې لپاره ولایتی لار نقشې .............................................. ۱۶۵
۱. پیژندنه ...................................................................................... ۱۶۶
۲. ولایتی انځور: جغرافیه، سرشمیرنه، او سیاسی شالید................................... ۱۶۶

۳. د جګړې یا شخړې شننه: د شخړو ډولونه او سرچینې.............................. ۱٦۷
۴. د سولې لپاره تګلاره .................................................................. ۱۷۱
۵. د خلکو وړاندیزونه ...................................................................... ۱۷۵
د لغمان ولایت_د سولې لپاره ولایتي لار نقشې.......................................... ۱۷۷
۱. پېژندنه ................................................................................... ۱۷۸
۲. ولایتي انځور: جغرافیه، سرشمیرنه، او سیاسي وضعیت.............................. ۱۷۸
۳. د جګړې یا شخړې شننه: د شخړو ډولونه او سرچینې.............................. ۱۷۹
۴. د سولې لپاره تګلاره .................................................................. ۱۸۱
۵. د خلکو وړاندیزونه ...................................................................... ۱۸۵
د نورستان ولایت_د سولې لپاره ولایتي لار نقشې .................................... ۱۸۷
۱. پېژندنه ................................................................................... ۱۸۸
۲. ولایتي انځور: جغرافیه، سرشمیرنه، او سیاسي وضعیت.............................. ۱۸۸
۳. د جګړې یا شخړې شننه: د شخړو ډولونه او سرچینې.............................. ۱۸۹
۴. د سولې لپاره تګلاره .................................................................. ۱۹۲
۵. د خلکو وړاندیزونه ...................................................................... ۱۹٦
د بدخشان ولایت_د سولې لپاره ولایتي لار نقشې....................................... ۱۹۹
۱. پېژندنه ................................................................................... ۲۰۰
۲. د ولایت انځور: جغرافیه، قومي ترکیب او سیاسي وضعیت ........................ ۲۰۰
۳. د جګړې تحلیل: د جګړې ډولونه او انګیزې ........................................ ۲۰۱
۴. د سولې لپاره د لارې نقشه ............................................................ ۲۰٤
۵. د خلکو وړاندیبزونه:..................................................................... ۲۰۸
د تخار ولایت_د سولې لپاره ولایتي لار نقشې......................................... ۲۱۱
۱. پېژندنه ................................................................................... ۲۱۲
۲. د ولایت پېژندنه: جغرافیه،سر شمیرنه او سیاسي شرایط............................ ۲۱۲
۳. د سولې لپاره طرح ...................................................................... ۲۱۸
۴. د خلکو وړاندیزونه: ..................................................................... ۲۲۵
د بغلان ولایت_د سولې لپاره ولایتي لار نقشې ........................................ ۲۲۷
۱. پېژندنه: ................................................................................... ۲۲۸
۲. د بغلان د ولایت جغرافیه او دنفوس پېژندنه......................................... ۲۲۸
۳. د شخړو ډولونه.......................................................................... ۲۳۰
۴. د سولې لپاره طرحه...................................................................... ۲۳٤
۵. وړاندیزونه ............................................................................... ۲۳۹
د کندز ولایت_د سولې لپاره ولایتي لار نقشې ........................................ ۲٤۱

۱. سریزه: ........................................................................ ۲۴۲
۲. د کندوز ولایت ځانګېرنې: جغرافیه، سر شمېرنه او سیاسی تړاو ........................ ۲۴۲
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه اولاملونه ........................................ ۲۴۳
۴. د سولې له پاره طرحه ........................................................ ۲۵۲
۵. د خلکو سپارښتنې ............................................................ ۲۵۹
د سمنګانو ولایت۔د سولې لپاره ولایتی لار نقشې .................................... ۲۶۱
۱. پیژندنه ................................................................... ۲۶۲
۲. ولایتی انځور: جغرافیه،جمعیت پیژندنه او سیاسی زمینه ............................. ۲۶۲
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ځمونې او محرکات ........................................ ۲۶۴
۴. د سولې طرحه ................................................................ ۲۷۷
۵. د خلکو سپارښتنې ............................................................ ۲۷۸
د بلخ ولایت۔د سولې لپاره ولایتی لار نقشې ......................................... ۲۸۱
۱. پیژندنه ................................................................... ۲۸۲
۲. د ولایت پیژندنه: جغرافیه،احصایه او سیاسی شرایط ................................. ۲۸۲
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ځمونې او انګیزې ........................................ ۲۸۳
۴. د سولې لپاره طرح ........................................................... ۲۹۱
۵. د خلکو وړاندېزونه ........................................................... ۲۹۷
د جوزجان ولایت۔د سولې لپاره ولایتی لار نقشې ...................................... ۳۰۱
۱. پیژندنه ................................................................... ۳۰۲
۲. ولایتی انځور: جغرافیه،جمعیت پیژندنه او سیاسی زمینه ............................. ۳۰۲
۳. د شخړې ارزونه: د شخړې نومونې او محرکات ...................................... ۳۰۴
۴. د سولې ځایې طرح ........................................................... ۳۱۹
۵. د خلکو سپارښتنې ............................................................ ۳۳۱
د سرپل ولایت۔د سولې لپاره ولایتی لار نقشې ....................................... ۳۳۳
۱. پیژندنه ................................................................... ۳۳۴
۲. ولایتی انځور: جغرافیه،جمعیت پیژندنه او سیاسی زمینه ............................. ۳۳۴
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ځمونې او محرکات ........................................ ۳۳۵
۴. د سولې طرح ................................................................ ۳۴۷
۵. د خلکو سپارښتنې: ........................................................... ۳۴۹
د فاریاب ولایت۔د سولې لپاره ولایتی لار نقشې ...................................... ۳۵۱
۱. پیژندنه ................................................................... ۳۵۲
۲. ولایتی انځور: جغرافیه،وګړ پیژندنه او سیاسی اوضاع ............................... ۳۵۲
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه او انګیزې ........................................ ۳۵۴

۴. د سولې لپاره د لار نقشه ........ ۳۶۲
۵. د خلکو سپارښتنی: ........ ۳۶۷
د بادغیس ولایت-دسولی لپاره ولایتی لار نقشې ........ ۳۶۹
۱. پیژندګلوی ........ ۳۷۰
۲. د ولایت انځور: جغرافیه، ډموګرافي او سیاسی وضعیت ........ ۳۷۰
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه او محرکات ........ ۳۷۱
۴. د سولې طرح: ........ ۳۷۶
۵. د ګډونوالو سپارښتنې ........ ۳۷۸
د هرات ولایت-د سولی لپاره ولایتی لار نقشې ........ ۳۸۱
۱. پیژندنه ........ ۳۸۲
۲. د ولایت انځور: جغرافیه، ډموګرافي او سیاسی وضعیت ........ ۳۸۲
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه او لاملونه ........ ۳۸۳
۴. د سولې لپاره طرح ........ ۳۹۶
۵. د خلکو وړاندیوزونه ........ ۴۰۳
د فراه ولایت-د سولی لپاره ولایتی لار نقشې ........ ۴۰۶
۱. پیژندنه ........ ۴۰۷
۲. ولایتی معلومات ........ ۴۰۷
۳. د شخړی تحلیل: ډولونه او محرکونه ........ ۴۰۸
۴. د سولی د لاری نقشه ........ ۴۱۳
۵. د خلکو سپارښتنی ........ ۴۱۵
د نیمروز ولایت-د سولی لپاره ولایتی لار نقشې ........ ۴۱۸
۱. پیژندنه ........ ۴۱۹
۲. د ولایت جوړښت: جغرافیه، د وګړو ترکیب او سیاسی وضعیت ........ ۴۱۹
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې محرکونه ........ ۴۲۰
۴. د سولې لپاره طرح ........ ۴۲۱
۵. د خلکو سپارښتنې ........ ۴۲۵
د هلمند ولایت-د سولی لپاره ولایتی لار نقشې ........ ۴۲۷
۱. پیژندنه ........ ۴۲۸
۲. ولایتی پروفایل: جغرافیه، احصائیه او سیاسی حالت ........ ۴۲۸
۳. د جګړو څېړنې: د جګړو ډولونه او عاملین ........ ۴۲۹
۴. د نښتو شننه : د نښتو ډولونه او انګیزې ........ ۴۳۱
۵. د خلکو سپارښتنی ........ ۴۴۰
د کندهار ولایت-د سولی لپاره ولایتی لار نقشې ........ ۴۴۳

۱. پېژندنه ........................................................................................ ۴۴۴
۲. د ولایت هنداره: جغرافیه، نفوس پېژندنه او سیاسی زمینه ........................... ۴۴۵
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه او محرکات ............................................ ۴۴۶
۴. د سولې لپاره نقشه ................................................................ ۴۵۰
۵. د خلکو سپارښتنې ................................................................ ۴۶۱
د زابل ولایت-د سولې لپاره ولایتی لار نقشې .................................................. ۴۶۳
۱. پېژندنه ........................................................................................ ۴۶۴
۲. ولایتی انځور: جغرافیه،جمعیت پېژندنه او سیاسی اوضاع .............................. ۴۶۴
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې انګیزې.................................................................. ۴۶۵
۴. د سولې لپاره د لارې نقشه ....................................................................... ۴۶۶
۵. د خلکو وړاندیزونه ................................................................ ۴۶۸
د ارزګان ولایت-د سولې لپاره ولایتی لار نقشې.............................................. ۴۷۲
۱. پېژندنه. ........................................................................................ ۴۷۳
۲. ولایتی انځور: جغرافیه،جمعیت پېژندنه او سیاسی اوضاع .............................. ۴۷۳
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې انګیزې.................................................................. ۴۷۴
۴. د سولې لپاره لارې نقشه ....................................................................... ۴۷۵
۵. د خلکو وړاندیزونه: ................................................................ ۴۷۹
د غور ولایت-د سولې لپاره ولایتی لار نقشې................................................... ۴۸۱
۱. پېژندنه ........................................................................................ ۴۸۲
۲. ولایتی انځور: جغرافیه، نفوس او سیاسی وضعیت ........................................ ۴۸۲
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه او انګیزې.................................................. ۴۸۳
۴. د سولې لپاره د لارې نقشه ....................................................................... ۴۹۳
۵. د خلکو وړاندیزونه ................................................................ ۵۰۰
د بامیان ولایت-د سولې لپاره ولایتی لار نقشې................................................ ۵۰۳
۱. پېژندنه ........................................................................................ ۵۰۴
۲. د بامیانو ولایتې پېژندنه ....................................................................... ۵۰۴
۳. د شخړې تحلیل: د شخړې نمونې او محرکات ............................................... ۵۰۶
۴. د خلکو سپارښتنې او دسولې نقشه:................................................................ ۵۱۲
د پنجشیر ولایت-د سولې لپاره ولایتی لار نقشې ............................................... ۵۱۵
۱. پېژندنه ........................................................................................ ۵۱۶
۲. ولایتی انځور: جغرافیه، د وګړو ترکیب او سیاسی وضعیت ............................ ۵۱۶
۳. د جګړې تحلیل: د جګړې ډولونه او انګیزې ................................................ ۵۱۷
۴. د سولې لپاره طرحه.............................................................................. ۵۲۳

۵. د خلکو سپارښتنې: ...... ۵۲۳
د دایکندي ولایت_د سولې لپاره ولایتي لار نقشې...... ۵۲۵
۱. پېژندنه ...... ۵۲۶
۲. د ولایت پېژندنه...... ۵۲۶
۳. د ښتو شننه: د ښتو ډولونه او انګیزې ...... ۵۲۷
۴. د خلکو سپارښتنې او د سولې نقشه...... ۵۳۴

## سریزه

د سولې په اړه د افغانانو خبرې اترې (د خلکو خبرې اترې) د افغانانو له خوا رهبري شوې ځانګړې نوښت دی چې عادي افغان ښځو، نارینه وو او ځوانانو ته د دې فرصت ورکوي چې په هر اړخیزو بحثونو کې په افغانستان کې د پایښت لرونکې سولې، پخلاینې، امنیت، اقتصادي او ټولنېزې پرمختیا، بشري حقونو، او د قانون د واکمنۍ په اړه خپلې نظریې بیانې کړي. د خلکو خبرې اترې د سولې په جوړونې او د شخړو په مخنیوي باندې په زور اچولو سره افغانان د پروسې د اصلي محور په څېر شمیري او په دې ډول عادي ښځو، نارینه وو او ځوانانو ته د دې توانایي ورکوي چې پخپله د سولې له بهیر څخه دفاع وکړي. د یوولسو د مدني ټولنو سازمانونو، شبکو[1] او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمسیون په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي(یوناما) په مرسته د خلکو د خبرو اترو په لومړي او دویم پړاو کې د عمومي مباحثو ذمه واري اخیستې او په هغو د نظارت چارې یې ترسره کړي. د ۲۰۱۱ کال له پای څخه تر اوسه پورې د سولې په اړه د افغانانو خبرو اترو پروګرام په بریالیتوب سره تر (۶۰۰۰) څخه زیاتو افغان ښځو، نارینه وو او ځوانانو سره کار کړی او د دوی نظریات یې پارولي، پراخ کړي او ملي او نړیوالې پالیسۍ جوړوونکو ته یې وړاندې کړي.[2]

د خلکو د خبرو اترو لومړی پړاو له ۷۸ متمرکزو ګروپي مباحثو څخه جوړ شوی دی او د افغانستان له ۳۴ ولایتونو[3] څخه په ۴۱ هغو کې تر سره شوی چې له ۱۵۰۰ څخه زیاتو افغاني ښځو، نارینه وو او ځوانانو په کې ګډون کړی و چې په بیلا بیلو قومونو پورې یې تعلق درلود او بیلا بیل اجتماعي او اقتصادي سوابق یې درلودل.[4] د لومړي پړاو موندنې

[1]. د افغان مدني ټولنې څخه جوړه شوې ۱۲ کسیزې کمیټې د افغانانو د خبرو اترو لومړي او دویم پړاو تر څارنې لاندې نیولې او هغه یې رهبري کړې دی. په دې کمیټه کې دا لاندې سازمانونه شامل وو: د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د افغان مدني ټولنې او بشري حقونو شبکه، د افغان ښځو شبکه، د افغان ښځو د مهارتونو د ودې مرکز، د افغان ځوانانو ټولنیز او کلتوري مرکز، افغان کارګري ملي اتحادیه، د افغانستان د بشري حقونو او چاپېریال ساتنې سازمان، د مدني ټولنې د ودې مرکز، د سنایي د پرمختیا ډله او د ښځو د سیاسي ګډون کمیټه.

[2]. د لومړي پړاو په دوران کې، د خلکو په خبرو اترو کې له ۱۵۰۰ تنو څخه زیاتو عادي افغانانو په متمرکزو ګروپي بحثونو کې له ټول افغانستان څخه ګډون کړی و. په دویم پړاو کې ۴۶۴۸ نارینه وو، ښځو او ځوانانو ګډون درلود.

[3] د لومړي پړاو خبرو اترو په دې لاندې ولایتونو کې جوړ شوي و: بامیان، بغلان، بدخشان، بادغیس، دایکندي، فاریاب، فراه، غزني، غور، هرات، جوزجان، کابل، کاپیسا، کندز، کندهار، خوست، کنړ، لغمان، لوګر، مزار شریف، ننګرهار، نیمروز، نورستان، (ګډون کونکي جلال اباد ته ارغلي وو)، پنجشیر، پکتیکا، پکتیا، سرپل، سمنګان، تخار، اروزګان او زابل.

[4] په دې ټکي ډیر ټینګار شوی و چې ګوښه کړای شوي وګړي، او لږکۍ ډلې، ښځې، او ځوانان او د لیرې پرتو سیمو خلک باید د خبرو اترو په دواړو پړاونو کې ګډون وکړي. ډیرې هڅې وشوې چې ګډون کوونکي د خپلو

په یوه هر اړخیز راپور کې خپرې شوی چې د ۲۰۱۱ کال په ډسمبر کې د سولې په اړه د افغانانو خبره اتره، د یو هر اړخیز سوله ییز بهیر لپاره د بنیادونو جوړونه تر عنوان لاندې خپور شو.[۵] راپور د لومړی پړاو موندنې په لنډیز سره بیانوی او څرګندوی چې د عادی افغانانو په نظر په ټول هیواد کې د دوامدارې سولې په وړاندې عمده خنډونه کوم دی لکه د امنیت نشتوالی، بې عدالتی، د قانون د واکمنی کمزوری اداری، پراخ اداری فساد، د اقتصادی پرمختیا او اجتماعی عدالت نشتوالی او د بشری حقونو د ساتنې لپاره محدود تدابیر، د ښځو او نجونو د حقونو په ګډون. راپور همدارنګه عمومی موافقه یاده کړې ده چې د هغو کسانو لپآره باید معافیت ونه شی چې د افغانستان په تیرو سختو وختونو کې یې بشری حقونه تر پښو لاندې کړی او دعادی افغانانو په سپارښتنو باندې پای ته رسیدلی چې افغان حکومت نړیوالی ټولنې، وسله والو مخالفینو او مدنی ټولنې ته یې کړې دی. راپور په افغانستان کې د مدنی ټولنې سازمامونو ته د دې توان ورکړی چې د افغان نارینه وو، ښځو او ځوانانو بیلا بیلې غوښتنې د افغانستان په اړه نړیوال کنفرانس (بن کنفرانس) ورسوی چې د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر په ۵ نیټه جوړ شوی و. په دی ذریعه ددې یقین پیدا شو چې دعا دی افغانانو اواز ددوی نظریات، اندیښنې او مشروع غوښتنې و اوریدای شی او د پالیسی جوړوونکو له خوا تر غور لاندې راشی چې په افغانستان کې د پایښت لرونکی سولې لپاره هڅې کوی.

د خلکو د خبرو اترو د لومړی پړاو له بشپړید وو روسته د هغه دویم پړاو او ۲۰۱۳ کال په اپریل کې پیل شو. لکه څنګه چې په لومړی پړاو کې، دویم پړاو هم په دې منظور عملی شو چې د سولې ټولیزه شفافه او حساب ورکونکی پروسه په دی ډول پر مخ بیول شی چې د هیواد د راتلونکی بهیر په اړه د خلکو نظریات تر لاسه کړی. افغانی مدنی ټولنې د خلکو د خبرو اترو په دویم پړاو کې له ۴۶۴۸ افغانی نارینه وو، ښځو او ځوانانو سره کار کړی (چی دریمه برخه د ګډونوال په ګروپی بحثونو کې ښځینه وو) او هدف یې دا و چې د عادی خلکو له نظره هغه ځایی لاملونه و پیژندل شی چې خلک فکر کوی د لسیزو جګړو شاته پراته دی او همدارنګه د جګړو حل لاری په ګوته کړی او هغو جګړو ته خاتمه ورکړی چې دوی په کې ځوریدلی دی. په دویم پړاو کې د افغانی ټولنې د بیلا بیلو برخو څخه استازو ګډون کړی و چې د کور ښځې، د کانداران، ښوونکی، بزګران، زده کوونکی، قومی مشران مذهبی لارښوونکی، ځوانان، پخوانی وسله مخالفین (پخوانی طالبان) او د

---

ولایتونو د قومی جوړښتونو څخه استازیتوب وکړی. ټولو ګډون کوونکو د خلکو د خبرو اترو له لومړی او دویم پړاو څخه مننه کړې ده چې پراخسې مشورې او د ډیرو خلکو ګډون یې هڅولی.

[۵] د سولې په اړه د افغانستان د خلکو خبری اتری، د یوې هر اړخیزې سولې لپاره بنسټ ایښودنه، ډسمبر، ۲۰۱۱، په دې پته:

http://www.aihrc.org.af/media/files/People%27s%20Dialogue%20FINAL%20report.pdf

پرمختیا یې پروژو ګټه اخیستونکی پکې شامل دی، نژدی ۲۰۰ متمرکز ګروپی بحثونه، چې د افغانی مدنی ټولنې له خوا رهبری کیدل د هیواد په ۳۴ ولایتونو۶ کې تر سره شوی دی. په دې برسیره، ډیری کارکوونکو ته د دې فرصت ورکړل شو چې په انفرادی مرکو او د نظریاتو د سروې په ترڅ کې د سولې او پخلاینې په اړه خپل نظریات څرګند کړی.

له ۴۶۴۸ څخه د زیاتو ګډون کوونکو، چې د خلکو د خبرو اترو په دویم پړاو کې یې ګډون درلود مهمی مسالې او حل لارې وړاندې کړی چې د عمومی رپوټ برسیره چی د سولی د یو لس ماده ییز نقشی او ۳۳ سپارښتنی په ګډون وو د سولې لپاره د ځایی نقشو ۳۴ نمونی یې ایجاد کړی. دغه ځایی نقشې کولای شی د اوسنیو شخړو لاملونه او دهغه حل لارې د ولسوالې، ولایت او هیواد په کچه په ګوته کړی.

د هغو مسالو په اړه د عادی افغانانو د نظریو په غوښتلو چې کولای شی د دوی په ژوند ژوره اغیزه ولری او د دغو نظریاتو په خپرولو سره د خلکو د خبرو اترو پروګرام په نظر کې لری چې هر اړخیزې او داسې سولې ته پرمختیا ورکړی چې د بشری حقوقو پربنسټ ولاړه وی. د سولی دا ولایتی نقشی د معلوماتو په کیفی تحلیل باندې تکیه کوې او مهمو موندنو او هغو نظریاتو لنډیز بیانوی چې په ټول هیواد کې افغانانو بیان کړی دی. ولایتی ځای نقشې د سولې د جوړونې یو پلان وړاندې کړی او هغه ملی او نړیوالو پالیسی جوړوونکو ته رسوی او ښایی د محلی سوله ییزو موافقو لپاره هم بنیاد جوړ کړی.

دسولی دا ولایتی نقشی چی د په تیرو کلنو کی د خبرو اترو پر بنسټ جوړشوی دی ، په افغانستان کی د سولی او ټولنیز روغی جوړی او هغه څه چی تیر شوی دی او باید ورباندی اعتراف وشی د یو تاریخی سند په حیث اوس خپریژی او په پراخه کچه ویشل کیژی.

# د کابل ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پېژندنه

د سولې لپاره دغه ځايي طرح د هغو موندنو او مسايلو لنډيز وړاندې کوی چې په لسو متمرکزو ګروپی مباحثو، ۲۰ انفرادی مرکو او د نظرياتو نژدې ۳۰ سروې ګانو په ترڅ کې لاس ته راغلی او مطرح شوې چې له نږدی ۳۵۳ افغان نارینه وو، ښځو او ځوانانو سره تر سره شوې دی. په ګډون کوونکو کې ۲۳۹ تنه نارينه ۱۱۴ تنه ښځې شاملی وې چې د ټولنی له مختلفو اړخونو څخه وو، لکه د عامه سکټور کارمندان، د ټولنې مشران، بزګران، ښوونکی، زده کوونکی، د پوهنتونونو استادان، ژورنالستان، د داخلی بې ځايه شويو خلکو استازی، د معیوبینو استازی، د مدنی ټولنی اتحادیو، ملی او بین المللی غیر حکومتی سازمانونو استازی، دینی عالمان او ځایی او د انکشافی شوراګانو غړی. ګډون وال د کابل ولايت د مرکز او ولسواليو څخه د مباحثو لپاره راغلی وو چې د سولې په اړه د افغانانو د ډيالوګ د دوهمی دورې په ترڅ کی تر سره شوې وو.

دا مشوری د د سولې په اړه د افغانانو د ډیالوګ د دوهمی دورې چی د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون په ګډون د دیولسو مدنی ټولنو لخوا د ۴۵۰۰ افغانانو سره د مشوری په موخه او د ۳۴ دسولی ولایتی نقشی د جوړيدو په خاطر ترسره شوی دی . د مدنی ټولنې دوو سازمانونو هریو، د ماشومانو او ښځّو د حقوقو د څیړنې سازمان او د ارمان شهر سازمان د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمسیون په مرسته د سولې په اړه د افغانانو د خبری اتری دوهم پړاو د مشورو پروسه بشپړه شوه.د سولې د دغې طرحې هدف دا دی چې د نښتو د ځایی انګیزو تحلیل او دغه راز د یوې داسې حل لارې وړاندیز وکړی چې په پایله کې یې په کابل ولایت کې سوله او ټیکاو راشی.

## ۲. د ولايت پېژندنه: جغرافیه، د نفوسو ترکیب امنیت او سیاسی شرایط

د کابل ښار، د ولایت او د افغانستان ملی مرکز د ۱۸۰۰ متره د بحر له سطې څخه لوړ پروت دی، چې په نړۍ کې د لوړو مرکزونو څخه یو دی. دا ولایت د پنجشیر د وادی په خوله کې پروت دی او وچ میدانونه لری چې د غرونو د لړۍ په منځ کې غځیدلې. د فرزې او ګلدرې ولسوالۍ چې د دغو غرونو په بیخ کې پرتې دی په ټول کال کې اوبه لری چې د طبیعی سرچینو او د واورو د ویلی کیدو څخه راځی. د شمالی میدانونه چې د پروان او کابل ولايتونو تر منځ پراته دی بیا وچ او بې اوبو دی او په دې ډول د کابل ولایت په نورو برخو کې اوبه په تیت پرک ډول د موسمی څاګانو او د اوبو د پروژو له لارې برابریږی. د کابل ولایت په زیاتو حاصل خیزو برخو کې میوې او غنم کرل کیږی او د کابل په مارکیټونو کې سودا کیږی. د کابل زیاتره نفوس په خود کفا کرنیزو محصولاتو ژوند کوی.

**جغرافیایی موقعیت:** د کابل ولایت له شپږو نور ولایتونو سره پوله لری لکه په شمال غرب کې د پروان ولایت، په شمال شرق کې د کاپیسا ولایت، په شرق کې د لغمان ولایت، په جنوب شرق کې د ننگرهار ولایت، په جنوب کې د لوګر ولایت او په جنوب غرب کې د میدان وردگ ولایت.

**مرکز او ولسوالۍ:** د کابل ښار او ۱۴ ولسوالۍ

**تخمینی نفوس:** نژدې ۳۹۵۰۳۰۰ کسان، چې ۳۲۸۹۰۰۰ یوازی په کابل کې اوسی که څه هم ځینی یې تخمیناً ۵۰۰۰۰۰۰ کسان ګڼی

**قومی ګروپونه او سیاسی ویش:** د کابل ښار د افغانستان سیاسی او اقتصادی مرکز دی. دری او پښتو یې عمده ژبې دی او د نفوسو زیاته برخه یې پښتانه، تاجکان او ازاره ګان جوړوی خو په افغانستان کې ټول قومونه په کابل کې، په خاص ډول په ښاری مرکز کې استازیتوب لری. دغه راز کابل کله کله د کوچیانو کوربه توب هم کوی.

**نفوس او د نفوسو ترکیب:** د کابل ولایت د کابل له ښار څخه پرته په ۱۴ ولسوالیو وېشل شوی دی. د کابل ښاروالی په ۲۲ ښاری ناحیو ویشل شوې او پولیس ۱۷ حوزی د کابل په ښاری حوضه کې لری. نژدې ۳۹۸۰۳۰۰ تنه خلک په کابل ولایت کې اوسی چې ۳۲۸۹۰۰۰ یې د کابل په ښار کې اوسی. د ښار قومی ترکیب ډیر متنوع دی، د ښار په غربی برخو کې د اوسیدونکو اکثریت هزاره ګان دی، د ښار په شرقی او جنوبی برخو کې اکثریت پښتانه اوسی.

**امنیت:** د کابل ولایت په نسبی ډول له ټېکاو څخه برخمن دی، په استثنا د هغو برخو چې یا د ځایی او یا د ګاونډیو ولایتونو د یاغیانو له خوا متاثره کیږی چې دغه ساحې لانجمنې ګڼل کیږی. له دې ځایه چې د کابل ښار له سیاسی او نظامی پلوه ډیر جذابیت لری، په تیرو څو کلونو کې[٦] د یاغیانو له خوا ترڅو پیچلو بریدونو لاندی راغلی، چې د رسنیو ډیره پاملرنه یې ځانته اړولې او داسې انتباه یې را پیدا کړې چې د ملک مرکز د یاغیانو له بریدونو څخه په امن کې نه شی پاتی کیدای. طالبانو په خپله اعلامیو کی پر بهرنیو دیپلوماتیکی مرکزونو، د قاضیانو او څارانوالانو او قضایی بنسټونو په ګډون ددولت ملکی کار کوونکو باندی د پسرلنی بریدونو د تصمیم لرلو اعلان وکړ[٧]. د هغی پسی د کابل ښار پر نریوالی ټولنی او غټی دولتی بنسټونو په ګډون پر ملکی ځایونو باندی د

---

[٦]. د انټرکانټینینټل هوټل، جون، د بریتانیا قونسلګری اګست، د عبد الحق څلور لارې/ د امریکا سفارت سپتمبر، د عاشورا د لمانځنې ورځ ډسمبر ۲۰۱۱ او د سفارت ناحیه په اپریل کې، ګرین ویلیج میلمستون په مۍ کې او قرغې بند/ د پغمان ولسوالی په جون ۲۰۱۲ کې.

[٧]. د ۲۰۱۳ کې د طالبانو د پسرلی یرغل د (خالد بن ولید) تر نامه لاندی د دې کال د اپریل په پای کې پیل شو او د طالبانو اراده یې وښودله چې لومړی په کابل کې میشته په بهرنیو دیپلوماتیکی تاسیساتو بریدونه وکړی.

طالبانو لخوا پر ملکی وګړو باندی دحملود زیاتوالی ددوام شاهد وو . د۲۰۱۳ کال د می په میاشت کی په ۲۵مه نیتی کی د کډوالو پر نړیوال سازمان دفتر باندی برید ٫ د ۲۰۱۳ کال د جون د میاشتی په ۱۱مه پر ستره محکمی باندی برید ٫ د ۲۰۱۴ کال د جنوری په ۱۷مه کی پر لبنانی رستورانت باندی تیری چی د۱۳ بهرنیانو په ګډون د ۲۱ ملکی کسانو د وژل کیدو لامل وشو ٫ د ۲۰۱۴ کال د دسامبر په ۱۱ مه کی د فرانسی پر فرهنګی مرکز باندی تیری چی د ۱۲ ملکی کسانو د وژل او زخمی کیدل ( ۲ وژل شوی او ۱۰ زخمیان) ٫ پر لوی څارانوالی دفتر باندی حمله اود ۲۰۱۵ کال د می ۴ مه او ۱۰ مه نیټو کی د لوی څارانوالی د مامورینو ګاډی باندی دوه بریدونه چی پکی ۷ ملکی کسان ووژل شو او ۳۴ نور زخمیان وګرځیدـ٫ د ۲۰۱۵ کال د می پر ۱۹مه نیټه کی پر عدلیی وزارت باندی برید چی د ۵ ملکی افرادو د وژل کیدو او ۴۷ زخمی کول لامل شو. د طالبانو وروستنی حمل د موبی ګروپ پر موتر چی د ۲۰۱۶ کال د جنوری په ۱۶ مه نیته کی ترسره شول اته ملکی کسان په ګډون د طلوع د تلویزیون اوه تنه کار کوونکی وواژه او نور ۳۰ تنه زخمیان کړل. د غه حمله د هغو تهدیداتو څخه وروسته وشو چی د طلوع او یو تلویزیونونه د هغه راپور د خپرولو په خاطر چی د ۲۰۱۵ کال د سپتامبر ۲۸ – اکتوبر ۱۳ مهد طالبانو لخوا د کندز ښار د نیولو په وخت کی خپور کړی وو .

په داسې حال کې چې د کابل ولایت شمالی برخې له نسبی امنیت څخه برخمنې دی، د ښآر جنوبی ناحیو ته د راپورونو له مخې دې ښار ته د راغلو لارو څخه د یاغیانو ننوتل مشاهده شوی چې اوسیدونکی تهدیدوی څو له حکومت سره، په تیره بیا له ملی امنیتی ځواکونو سره مرستی و نه کړی. د کابل ولایت تر ټولو نا امنه ولسوالی چې د یاغیانو له خوا تر ډیر تهدید لاندې ده، د سروبی ولسوالی ده. دغه ولسوالی د اوزبین په نا امنه وادی کې پرته ده چې یاغیان له شرق، شمال او جنوب څخه (په خاص ډول د کاپیسا او لغمان ولایتونه) هلته نفوذ کوی او له دې سره ایدیالوژیکی مخالفتونه د وسله والو ډلو تر منځ (جمعیت اسلامی او حزب اسلامی) هم لیدل کیږی. د موسهی،چهار اسیاب، خاک جبار او بګرامی ولسوالیو چې د مرکز په جنوب شرق کې پرتې دی، هم د وسله والو ډلو حرکتونه لیدلی دی. د پغمان ولسوالی چې د میدان وردګ له ولایت سره پوله لری، په تاریخی لحاظ له تیریو سره مخامخ وه، او د ناقانونه وسله والو ډلو او جنایت کاره ګروپونو لپاره یو خوندی ځای برابروی. د شکر درې، ده سبز او قره باغ ولسوالۍ په شاوخوا کې چې د مرکز په شمال کې پرتې دی، هم د یاغیانو او جنایت کاره ګروپونو موجودیت لیدل شوی. د کابل په ښار کې د تیری لسیزې په ترڅ کې د نفوسو له زیاتوالی سره د جنایتونو کچه لوړه شوی، خو د قانون د انفاذ له زیاتیدو سره تر یوی اندازی را ټیټه شوې ده. سره د دې هم، د جنایتونو په اړه کم راپورونه ورکړل شوی او ګرانه ده چې ارزونه یې وشی، څو د

لوړې کچې، د اختطاف او ښکونې پیښی څو ځله تکرار شوې او ځینی نور ورته فعالیتونه ثبت شوی دی.

**سیاسی وضعیت**

**تاریخی پیښینه:** د افغانستان د شتمن تاریخ په اوږدو کې، کابل د ټولو سیاسی داعیو مرکزی ځای و. تر ۱۹۷۰ کلونو د سیاسی ګوندونو فعالیتونه کمزوری وو، که څه هم د خلکو دیموکراتیک ګوند (پی ډی پی) دیو شمیر انقلابی دیموکراتیکو عناصرو له خوا د شپیتمی لسیزې په وروستیو کې تاسیس شو. په ۱۹۷۹ کې د شوروی تیری او مداخلې یو شمیر مخالفو ګوندونو او اتلافونو ته لار هواره کړه. د دوی په منځ کې حزب اسلامی، جمعیت اسلامی، اتحاد اسلامی او وحدت اسلامی مهم ګوندونه وو چې هر یوه تر خپل سیاسی بیرغ لاندی فعالیت درلود، خو د جهاد په دوران (۱۹۷۹-۱۹۹۲) کې فعال ګوندونه وو. د شوروی پوځونو له وتلو او د نجیب الله د رژیم له ړنګیدو وروسته (۱۹۹۲) دغو ګوندونو چې تر یوې اندازې یې مشترکې ګټې درلودې د سست اتحاد درلود او د صبغت الله مجددی په مشر یی یو نوی حکومت تشکیل کړ. خو سره د دې، ملک ډیر ژر د کورنۍ جګړې اورته ولوید. کله چې طالبان په ۱۹۹۶ کې څواک ته ورسیدل، ځینې پخوانی جهادی عناصر له طالبانو سره یو ځای شول، او ځینو نورو د مقاومت جبهه جوړه کړه. په ۲۰۰۱ کې د طالبانو د رژیم له ړنګیدو وروسته، ډیر شمیر پخوانی جهادی مشران له نوی حکومت سره یو ځآی شول.

د ۲۰۰۱ کال څخه په وروسته دوره کې له سلو څخه زیات سیاسی ګوندونه د افغانستان دعدلیې له وزارت سره ثبت شوی دی، چې په ملک کې په سیاسی ټوټه کیدو شاهدی ورکوی. ډیری ګوندونو په شخصیتونو یا تنګو او لنډو ګټو باندی تمرکز کړی. وروستیو قوانینو د راجستر کولو کار په دې ډول محدود کړی چې ډیر سخت شرایط یې ورته وضع کړی چې په پایله کې موږ اوس یوازې ۴۵ سیاسی ګوندونه لرو چې د عدلیې له وزارت سره په رسمی ډول راجستر شوی دی. سره د دې، سیاسی وضعه په پرلپسې ډول له څلورو تر پنځو جهادی ګوندونو له اړخه په تیره لسیزه کې تر نفوذ لاندی ده او یو ډول سست ایتلاف یې جوړ کړی دی.

## ۳. د نښتو تحلیل، د نښتو ډولونه او انګیزې

د ټولنو غړو د کابل په ولایت کې د نښتو او ځایی مخالفتونو یوه لړۍ په ګوته کړې چې له یو بل سره نښتی دی چې په خپلو ساحو کې سولې او ټیکاو ته ګواښونه جوړوی، لکه د طالباتو له خوا رهبری شوی یاغیتوب، د مختلفو سیاسی ګوندونو په منځ کې سیاسی سیالۍ، د قومونو تر منځ شخړې، د ژبې او قوم پربنسټ تبعیض، د مخدره توکو مافیا او د

مخدره توکو په قاچاق پورې تړلې ستونزې، معافیت، او د افغانستان په سیاسی چارو کې د بهرنیو مذهبی عناصرو لاس وهنه.

ګډون والو په عموم ډول د طالبانو له خوا رهبری شوی یاغیتوب په کابل ولایت کې د سولې او ټیکاو په وړاندی یو لوی تهدید وباله، چې په وروستیو کلونو کې د ولایت ډیرو برخو ته په پرله پسې ډول د طالبانو ننوتل په ګوته کوی. په ځانګړی ډول یاغیانو د ولایت په جنوبی ولسوالیو کې خپل نفوذ او شتون زیات کړی دی. د ټولنې غړو د سروبی، خاک جبار او موسهی ولسوالیو کې د امنیتی وضعې د خرابیدو او هلته د یاغی ګروپونو د فعالیتونو د زیاتیدو له امله جدی اندیښنې وښودلې. لکه څنګه چې د پوهنتون یوه شاګرد وویل:

″په کابل کې د ځانمرګي بریدونو زیاتوالی زموږ اصلي اندیښنه ده. دغه بریدونه ښايي مذهبي انګیزي ولري، خو په هیڅ صورت د تبریي وړ نه دي.″

په کابل ولایت کې د سولې او ټیکاو لپاره ورته نور تهدیدونه هم شته لکه د ناقانونه وسله والو ډلو شتون، وسله وال انفرادی کسان او تنظیم شوی جرمونه. د میربچه کوټ له ولسوالۍ څخه یوی ښځینه ګډون والی وویل:

″د ناقانونه وسله والو ډلو شتون د میربچه کوټ په ولسوالۍ کې سولې او ټیکاو ته لوی ګواښ جوړ کړی دی او د ډاياګ(د ناقانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول) پروګرام هیڅکله په مناسب او بشپړ ډول نه دی تطبیق شوی.″

یوه قومی مشر وویل:

″د ځایی زور واکانو شتون د دوی له وسله والو کسانو سره چې له حکومتي ځواکونو سره نښتي کوی په کابل کې د سولې او ثبات لپاره لویه ننګونه ده.″

د سیاسی سیالیو اغیزه او د قومیت، ژبې او مذهب پر بنسټ د سیاسی ګوندونو شتون یوه بله اندیښنه وه چې په مباحثو کې ورته اشاره وشوه، لکه څنګه چې یوه ګډون وال وویل:

″دغه ګوندونه د خپلو قومونو او مذهبی عقیدو په باره کې غور کوي. دوی د افغانستان د ملت لپاره کار نه کوي. د دوی اجندا د دې لپاره نه ده چې د افغانانو په منځ کې یووالی او یو واحد افغان ملت جوړول تقویه کړي.″

د کابل له ښار څخه بل ګډون وال په دې باور وو:

″موږ ګوندونه لرو چې د قومیت پربنسټ ولاړ دي او دوی یوازي د هغه قوم لپاره کار کوي.″

ګډون والو وړاندی وویل چې د فرقه یی جګړو بل لامل دا دی چې په کابل ولایت کې د اوسیدونکو تر منځ چې د مختلفو ژبنیو ګروپونو څخه دی، یوه خلا موجوده ده، چې دغه تشه کله د سیاست والو او سیاسی ګوندونو له خوا استعمالیږی څو زیات ملاتړ تر لاسه کړی. د غیر حکومتی موسسې یوې ښځینه کارمندې او د ښځو د حقونو فعالې د ګډون والو نظریات داسې په لنډ ډول بیان کړل:

″قومي توپیرونه او د هغې په پایله کې ژبني خنډونه د خلکو د ډیري اندیښنې لامل ګرزیدلي. د قوم پر بنسټ ویش حتی زموږ د ماشومانو فکرونه هم مشوش کړي دي، دوی په ښکاره یو او بل ته وایي ؛ ته پښتو خبرې کوي، ته دري خبرې کوې، ته پښتون یې، ته تاجک یې، او نور؛ ماشومان دومره متاثره شوې چې حتی دوی یو ځای لوبې نه کوي. دغه توپیرونه د ټولنې غړی یو له بل څخه بیلوي، مګر زه باور لرم چې دغه ویش او توپیر د تعلیم د نشتوالی او د مشخصو ډلو د لمسونې له امله را پیدا شوی.″

د کابل د ښار یوې بلې ښځینه ګډون والې وویل:

″بین المللي ټولنې د ملت جوړونې نوښتونو ته هیڅ پاملرنه ونه کړه، د دې پر ځای دوی په سیاسي جوړښت کې او د حکومتي څوکیو لپاره د استخدام په وخت کې قومي معیارونه تقویه کړل.″

ګډون والو وویل چې د کورنیو او ټولنو په منځ کې منازعې او د زورواکانو له خوا د حکومتی ځمکو نیول نور لاملونه دی چې په سیمه کې له نا امنۍ او بې ثباتی سره مرسته کوی. د کوچیانو او ځایی خلکو په منځ کې د ځمکو دعوې د دوو ټولنو تر منځ د حکومتی ځمکې پر سر د دې احتمال رامنځ ته کوی چې په وسله وال خشونت بدل شی او په پایله کې، په ډیری قضیو کې، د افرادو د مرګ ژوبلې سبب وګرزی. یوه تن ګډون کونکی دغه اندیښنې داسې لنډی بیان کړې:

″د ټولنې غړو وویل چې یو میلیون او ۲۵۰ زره ایکړه ځمکه په ټول ملک کې د زوروا کانو له خوا غصب شوې، چې ۲۳ سلنه(۴۷ زره ایکړه ځمکه) یې یوازي په کابل ولایت کې ده. هغه کسان چې غوښتل یې غصب شوې ځمکه بیرته تر لاسه کړي، که په برابر ډول زورواکی نه وو، د ځمکو د غاصبینو له ډیر قوي غبرګون سره مخ شوي دي.″

د ده سبز ولسوالی څخه یوه بل ګډونکونکی وویل:

″د کابل په ولایت کې د ځمکو په سر شخړی یوه لویه ستونزه ده. دا د خشونت لویه منبع ده. د بګرامی او ده سبز په ولسوالیو کې د حکومت

ډیری ځمکی د زور واکانو له خوا نیولی وی دی. دغه خلک له حکومتی چارواکو او د ځمکو له مافیا سره کار کوی."

د ګډون والو په باور د سولې او ټیکاو لپاره بل تهدید د مخدره توکو مافیا ده چې د هغی نه وروسته په کابل کې په نشه یی توکو روږدې ډیر کسان دی. ډیری ګډون کوونکو وویل چې په نشه یی توکو د روږدو کسانو شمیر مخ په زیاتیدو دی او حکومت کافی اقدامات نه دی نیولی چې نشه یی توکی محوه کړی یا په دې توکو د روږدو کسانو شمیر را ټیټ کړی، چې دا پخپله د افغانی ټولنې لپاره لویې ستونزې جوړوی.

**د نښتو انګیزې:** د سلا مشورو د دوهم پړاو په ترڅ کې، ګډون والو د نښتو اصلی لاملونه برملا کړی او دوه مهمی کټګورۍ یې په ګوته کړې.

۱- د نښتو جوړښتیز لاملونه: د نښتو جوړښتیز لاملونه د پراخ اداری فساد او د ځایی چارواکو له خوا له ځواک څخه بده استفاده، د قانون د پلې کیدو نشتوالی او د قانون د نابرابر تطبیق، د ټولنیز عدالت نشتوالی، پټ معافیت او د پایداره اجتماعی او اقتصادی پرمختګ نشتوالی، نیستی او بې کاری او د مذهبی افراطیت په شمول دی. د کابل ولایت دټولنې غړو باور درلود چې پورتنی لاملونه د جګړو د دوام سبب ګرزی او له دې سره د قانون د کمزوری واکمنۍ او په بشری حقونو د جاری تیریو له امله د خلکو نا رضایت او ناهیلی سببونه ګڼل شوی دی.

۲- ناڅاپې نښتې چې پروسو، حوادثو او پروګرامونو ته اشاره کوی لکه د افغانستان د سولې بیا یو ځای کیدو پروکرام (ایی پی ار پی) او د ولسمشرۍ او ولایتی شوراګانو ټاکنې، چې د یوه لنډ وخت لپاره را منځ ته کیږی، خو د اوږد مهال اغیزې پر ځای پریږدی او د نورو نښتو لپاره لار هواروی.

**د نښتو د جوړښتیزو لاملونه:** د نښتو د جوړښتیزو لاملونو په اړه، ګډون والو د حکومت په ناکامی اندیښنه څرګنده کړه چې نه شی کولای د کابل په ولایت کې امنیت تضمین کړی، خلکو ته ساتنه ورکړی او د قانون واکمنی ټینګه کړی، چې د دوی په باور په کابل کې د ناامنۍ او بی ثباتی اصلی لاملونه دی. د ټولنی غړو د حکومت په اجراتو کې کمزوری دې ته منسوبه ګڼلې چې د حکومت موسسات له مشروعیت څخه په پوره ډول برخمن نه دی ځکه چې اداری فساد او له ځواک څخه بدې استفادې زور اخیستی دی. خلک په دې باور دی چې اداری فساد او له ځواک څخه بده استفاده په حکومت او په ټولنیز ډول په افغانی ټولنه کې لویه او ورانونکی ستونزه ده. د کابل د ښار یوه مشرـ وویل:

"اداري فساد د شخړو یوه مهمه انګیزه او لامل دی. اداري فساد نا امنی پیدا کړې او ټولې ستونزې یې ایجاد کړې دي. حکومتي چارواکي د خلکو لپاره کار نه کوي، دوی د خپلو جیبونو لپاره کار کوي."

د کابل له ښآر څخه یوه بل ګډوکونکی وویل:

"اداري فساد په ټولو حکومتي موسساتو کې شته. اداري فساد د استخدام له پروسې څخه پیل کیږي بیا د کومکونو په ویش کې او حتی په قضایی او د قانون د انفاذ په ادارو کې اجرا کیږي، چې باید د قانون د تطبیق لپاره کار وکړي."

ګډون والو په دې تاکید وکړ چې واسطه، رشوت او اختلاس په حکومتی ادارو کې عام شکل اختیار کړی. د دوی په نظر حکومتی ادارې باید د اداری فساد به ضد مبارزه وکړی، خو دغه ادارې یا نه شی کولای او یا نه غواړی چې د اداری فساد د محوه کولو لپاره عملی ګامونه اوچت کړی. د پغمان له ولسوالۍ څخه د شورا یوه غړی وویل:

"که یو وزیر له خپل قوم څخه یا له خپلې سیمې څخه خلک مقرر کړی، دې ته تبعیض او واسطه ویلی شو."

له کابل ښار څخه د مدنی ټولنې یوه تن وویل:

"واسطه او قومي طرفداري په هر ځای کې شته. دغه کارونه په ټولو حکومتي موسساتو کې د استخدام د پروسې یوه برخه ګرزیدلی ده."

دغه راز، ګډون کوونکو وویل چې د هر ډول جرم لپاره معافیت(په تیرو وختونو کې تر سره شوی جرمونه یا اوسنی جرمونه) د خلکو او حکومت تر منځ یو لوی واټن ایجادوی. دغه راز په جنایی قضیو کې د مجازاتو نشتوالی د شخصی غچ اخیستې هڅو ته لار هواروی. د ټولنی غړو وویل چې د قانون د انفاذ چارواکی لکه پولیس، قضایی چارواکی او څارنوالان له نورو څخه زیات د دې مسسوولیت لری چې اوس مهال مجرمین له معافیت څخه برخمن دی او جزا نه وینی. د کابل له ښار څخه یوه تن وویل:

"د تنظیم شویو جنایي ګروپونو او مافیا موجودیت، د موټرونو او موټرسایکلونو غلا او لوټماري او دغه خبره چې پولیس هم په یو ډول په دې کې ښکیل دي، زموږ لپاره د کابل په ولایت کې د لویي اندیښنې سبب دی."

په دې برسیره، ګډون والو توضیح کړه چې د ټولنیزی او اقتصادی پرمختیا نشتوالی د کابل په ولایت کې د جاری جګړو یو بل لامل دی. ګډون والو په عموم ډول څرګنده کړه چې د سواد ټیټه کچه او بې کاری په ګډه سره د دوی په ولایت کې د امنیت په وضعه منفی

اغيزې شيندلې دي. دوی وويل چې دوی په حکومت باور نلری او د مورال کمزورې هم ددې لامل گرزيدلی چې په ټولنو کې د ننه او د ټولنو تر منځ نښتی پيښيږی. گڼون والو په دې حقيقت خپله انديښنه څرگنده کړه چې نالوستی، بې تعليمه او بې روزگاره خلک په اسانی سره د ياغياتو او د نشه يی توکو د مافيا له خوا انحصار او استعماليدای شی. د کابل له ښار څخه يوه تن وويل:

"بې کاري او غريبی په کابل ولايت کې ډيره زياته ده.زيات شمير خلک ليک لوست نه شی کولای او کيدای شي چې په اساني سره د جنايت کاره گروپونو او/ ياغيانو له خوا انحصار او استعمال شي."

د موسهی له ولسوالی څخه يوه تن په دې ټينگار وکړ چې گوښه کړای شوې ټولنې چې زيات شمير خلک يې بې کاره دی، په اسانی سره د ياغيانو تر نفوذ لاندې راتلی شی:

"عدالت او تعليم ته د لاس رسی نشتوالی، موجوده غريبي او بې روزگاري هغه اصلي لاملونه دي چې ځوانان د طالبانو لوري ته کښ کوي. "

د کابل په ښار کې د داخلی بې ځايه شويو خلکو يوه استازی وويل:

"ډيری بې ځايه شوی خلک چې د جاری وسله واله نښتو له امله د کورونو پريښودلو ته مجبور شوي دي اوس هم د بې کاری له امله له ډيرو ستونزو سره مخ دي، چې د ډيري غريبی او ژوند د ډيرو بدو شرايطو سبب گرزيدلې. تر اوسه د دې ستونزو د حل لپاره نه د حکومت له خوا او نه د بين المللي سازمانونو له خوا د حل لار پيدا شوې."

**د جگړو تصفيی:** د کابل په ولايت کې د جگړو د لوملرينو لاملونو په اړه گډون والو وويل چې ای پی ار پی پروگرام ونه توانيده چې امنيت ښه کړی، بلکه دې پروگرام جگړو ته زور ورکړ او امنيتی وضعه ويجاړه شوې. دوی په دې باور وو چې د ای پی ار پی پروگرام د داسې خلکو له خوا رهبری کيده چې د جنگ له دوام سره يې گټې تړلې وې څو خپله شخصی اجندا پلې کړی. د کابل ښار يوه تن گډون کونکی د اکثريت کسانو اندښنی داسې بيانې کړی:

"د حکومت د سولې پروسه بريالۍ ونه خته او له ناکامي سره مخامخ شوه. وسله واله نښتې زياتې شوې، حتی د سولې د عالي شورا مشر ووژل شو. هغه کسان چې د سولې پروسه پر مخ بيايي د طالبانو او د ډيری خلکو لپاره د منلو وړ نه دي. د سولې پروسه يوه اړخيزه پروسه نه ده. دغه پروسه بايد دوه اړخيزه وي. حکومت د سولې وړانديز وکړ، مگر طالبانو ونه مانه."

له کابل ښار څخه یوه بل ګډون وال وویل:

″د افغانی امنیتی ځواکونو او د سولې د عالي شورا تر منځ د همغږۍ نشتوالی د دې ناکامی سبب شو چې داسې منځګړی کسان/مذاکره چیان و پیژندل شی چې دوارو خواوو ته د منلو وړوي.″

دغه راز ګډون والو په دې حقیقت اندیښنه ښکاره کړه چې د ای پی ار پی پروګرام د خپل ماموریت په خلاف په داسې یوه پروژه بدل شو چې د حکومت له خوا رهبری کیږی. د میر بچه کوټ له ولسوالی څخه یوې ښځینه ګډون کونکی وویل:

″د سولې اوسنۍ پروسه سمبولیکه ده. دغه پروسه نه تطبیق کیږي. وسله وال مخالفین د حکومت د سولې پروګرام نه مني، ځکه چې د سولې د پروسې او سني مشران وړ خلک نه دي، دغه خلک د خلکو له خوا نه دي انتخاب شوي. دوی د حکومت له خوا انتساب شوي دي.″

په پای کې ګډون والو په مجموعی ډول په هغه وخت کې د راتلونکو ولسمشریزو او د ولایتی شوراګانو د ټاکنو د شفافیت او امنیت په اړه اندیښنې ښکاره کړې.

## ۴. د سولې د لار نقشه

ګډون والو په عموم ډول په ځایی کچه د سولې جوړونې د نوښتونو په باب خپلی نظریی څرګندی کړی، لکه د ځایی حکومتی موسساتو تقویه کول د اقتصادی او اجتماعی پرمختیایی پروژو تطبیق کول، په خاص ډول د بنیادی ساختارونو پروژې، د افغان ملی امنیتی ځواکونو پیاوړی کول، د قانون د واکمنی ټینګول او د سولې د هر اړخیزې پروسی پلی کول چې عادی خلک د ښځو، نارینه وو او ځوانانو په ګډون پکې برخه واخلی. ګډون والو احساس کاوه چې افغان چارواکی د سولې مخکینی نوښتونه په داسې ډول تطبیق کړی چې د نښتو ریښه یی لاملونه محوه کړی او هدف یی دا وی چې په ولایت کې دایمی سوله او ټیکاو راولی.

د سولې نوښتونه چې په کابل کې ګډون والو له خوا وړاندی شوی په عموم ډول تر دریو لاندینو کټګوریو لاندی راتلی شی چې له یو بل سره تړلی دی:

**د حکومتداری، امنیت او ټیکاو تقویه کول**

**د حکومتداری تقویه:** ګډون والو وویل چې اداری فساد او رشوت په حکومت کې یو عام عمل ګرزیدلی چې د حکومت او ټولنو تر منځ یی واټن نور هم دراز کړی دی او په پایله کې یې د حکومت مشروعیت او موثریت ته زیان رسولی. له دې امله، ګډون والو وویل چې حکومت باید د فساد د محوه کولو لپاره اغیزناک اقدامات وکړی چې د یوې قوی سیاسی ارادې غوښتنه کوی. د دغو اقداماتو لپاره ضروری ده چې د فساد د ضد په اوسینو

اقداماتو یو عمومی نظر واچوو، څو د دوی عیبونه او نیمګرتیاوې رفع شی او که ضروری وی یو نوی میکانیزم فعاله شی چې په پایله کې هدف لاس ته راشی او فاسد اشخاص تر باسخاس لاندی ونیول شی او/ یا له څوکیو څخه ایسته کړای شی.

د فساد پر ضد د څارنې عالی اداره (ایچ او او) او قضا ښایی د ظرفیت د لوړولو له فعالیتونو څخه ګټه پورته کړی څو اداری فساد او له ځواک څخه بده استفادې ته خاتمه ورکړی. د حکومتی چارواکو لپاره روزنه ډیره ضروری وګڼل شوه څو دوی وکولای شی چې خپلو مشتریانو ته ښه خدمتونه اجرا کړی او په حکومتی ادارو کې د خپلو مسوولیتونو د رفع کولو په غرض خپل مسلکی مهارتونه لوړ کړی.

د ښې حکومتداری د پرمختګ لپاره د ګډون والو په نظر باید د مکافاتو او مجازاتو مفهوم پلی شی، څو هغه کسان جزاووینی چې مسوولیتونه نه اجرا کوی او یا له خپل ځواک څخه بده استفاده کوی او هغو کسانو ته مکافات ورکړل شی چې د وظایفو د لایحې سره سم خپلی دندې تر سره کوی. په دې برسیره، د ټولنې غړو وړاندیز وکړ چې ټول حکومتی چارواکی او د ملکی خدماتو مسوولین باید د وړتیا پر بنسټ مقرر شی. دوی وویل چې د استخدام پروسه باید روښانه او په انصاف ولاړه وی، څو حکومتی څوکۍ هغو کسانو ته ورسیزی چې تر ټولو لویه وړتیا ولری. له کابل ښار څخه د پوهنتون یوه محصل وویل:

> ″د احتساب نشتوالی د پراخ ادارې فساد او له ځواک څخه د ناوړه استفادې سبب ګرزي.″

**امنیت او ټیکاو:** ګډون والو په دې ټینګار وکړ چې د ملی امنیتی قواوو لکه د افغان ملی اردو(ای این ای)، افغان ملی پولیس (ای این پی) او د ملی امنیت اداره (این ډی ایس) ظرفیت باید لوړ شی څو امنیت او ټیکاو تضمین شی او په کابل ولایت کې یاغیانو او جنایت کاره ګروپونو ته ماتې ورکړی. دوی د ظرفیت د لوړولو د فعالیتونو په زیاتوالی ټینګار وکړ څو داسې یو قویی بنیاد رامنځ ته شی چې سوله او امنیت یې پر بنسټ وغوړیږی.

ګډون والو وویل چې د ناقانونه وسله والو ډلو او جنایت کاره اشخاصو شتون د دوی د اندیښنې اصلی لاملونه دی او د دې لپاره چې دغه ستونزه هواره شی یوازینۍ لار یې دا ده چې ناقانونه ډلې او نورې حکومت پلوه ملیشه باید په بشپړډول بې سلا شی.

له دې امله ګډون والو په ټینګار سره غوښتنه وکړه چې د ډایاګ پروګرام دې د کابل په ولایت کې دوام پیدا کړی.

**د بشری حقونو، د قانون د واکمنی تقویه او معافیت ته رسیدګی:** د کابل د ولایت د ټولنو غړو دغه راز د بشری حقونو په اړه اندیښنه څرګنده کړه، لکه د ملکی کسانو د

تلفاتو زیاتوالی، د ښځو په ضد جاری تاوتریخوالی، او ضررناکه دودیز رواجونه، په خاص ډول د ولسوالیو په کچه. په دې برسیره، دوی وویل چې د داخلی بې ځایه شویو کسانو د مسالو حل کول، د قانون واکمنی او د معافیت د کلتور ختمول باید د حکومت د اجندا په لومړی سر کې وی ځو په کابل ولایت کې تل پاتې سوله او ټیکاو تضمین شی. د ټولو ګډون کوونکو نظریات په یوه نظر کې خلاصه کیږی:

"د حکومتي چارواکو له خوا د قانون نه تطبیق کول، د حکومت د دریو ارګانونو له خوا د قانون ماتول،(ولسمشر، پارلمان او قضا) او په ټولو افغانانو د قانون په برابر ډول نه تطبیق کول زموږ له اصلي اندیښنو څخه دي. قانون په غریبو خلکو تطبیق کیږی، مګر د مثال په ډول هیڅکله د وزیر په زوی نه تطبیق کیږی.په افغانستان کې په ښکاره ډول اجتماعي بې عدالتي شته. د افرادو په بشري حقونو تیری د حکومت ساتنې ته اړتیا لري."

**اجتماعی او اقتصادی پرمختیا:** ګډون والو په عمومی ډول په کابل ولایت کې له هغو پرمختګونو څخه رضایت څرګند کړ چې په ټولنیزه او اقتصادی برخو کې ښکاره شوی، لکه د معلوماتی تکنالوژی په ساحه کې ګړندی پرمختګ، د خصوصی پوهنتونونو تا سیسول، د خصوصی او عامه روغتونو او کلینیکونو ایجادول، او په خصوصی سکټور کې پرمختګ لکه د خصوصی کمپنیو جوړول چې نوی کاری فرصتونه یې پیدا کړی او د ملی پیوستون د پروګرام پلی کول. سره د دې، ګډون والو وویل چې ډیره زیاته غریبی لا هم شته او د بیکارانو زیات شمیر، د ژوند ډیر ټیټ شرایط او د ولایت په ځینو برخو کې د بریښنا نشتوالی د اندیښنو لوی لاملونه دی. د کابل ښار یوه تن اوسیدونکی دغه نظریات داسې خلاصه کړل:

"د باکیفیته تعلیم تقویه کول، اقتصادي پرمختیا، د ښځو او ځوانانو ونډه اخیستل په اقتصادي او ټولنیز ژوند کې او د اتحادیو او ټولنو تاسیسول چې یو بل ومني، په کابل ولایت کې ا اقتصادي او اجتماعي پرمختګ لپاره ډیري کلیدي مسالې دي".

ګډون والو وویل چې د کاری فرصتونو ایجادول، خاصتآ د ځوانانو لپاره، ښایی ځوانان له دې څخه منع کړی چې له یاغیانو سره یو ځای شی او په دې ډول په کابل ولایت کې د سولې او ټیکاو له ټینګښت سره مرسته وکړی. دوی وړاندی څرګنده کړه چې په بنیادی ساختارونو او مهمو اقتصادی پروژو کې دوامداره پانګونه او دغه راز د کرنې او اوبو لګولو د سیستمونو عصری کول ښایی ښاری او کلیوالی اقتصاد ته وده ورکړی او د خلکو په ژوند مثبته اغیزه وشیندی. ګډون کوونکو د کابل ولایت په ټولو برخو کې د پروژو د تطبیق په اړه په متوازن روش باندی ټینګار وکړ.

**د سولې له فعالینو او ورانکارانو سره چلند:** د کابل ولایت ګډون والو په دې ټینګار وکړ چې عادی خلک لکه سړی، ښځې، ځوانان، بانفوذه مذهبی رهبران، علما، د ټولنو مشران او لیډرکی باید د سولې په پروسه کې ګډون وکړی. دوی وویل چې د زیات شمیر ښځو ګډون، چې د دوی په نظر په دودیز ډول ګوښه کړای شوی دې په افغانستان کې د سولې او پخلاینې د هرې پروسې لپاره ضروری ده. دوی په ځانګړی ډول د دې غوښتنه وکړه چې ښځې باید په کابل ولایت کې د سولې په ولایتی کمیټه کې ګډون وکړی. ګډون کوونکو دغه راز وویل چې د سولې مذاکرې نه باید د خلکو اساسی حقونه تر پښو لاندی کړی.

د ټولنی غړو همدارنګه د شخړو د حل ځایی/ دودیز میکانیزمونه وستایل چې منازعې د جرګو یا شوراګانو له لارې، خصوصاً د ولسوالی په کچه حل کوی. د ډیری ګډون والو په باور د ځایی شخړو او منازعو په حل کولو کې د بانفوذه مشرانو نقش ډیر اهمیت لری. د ټولنی غړو وړاندیز وکړ چې ځایی شوراګانې تقویه کړی هغو ته اختیار ورکړی، خو د دې خبرداری یې ورکړ چې د څارنې یو میکانیزم ضروری دی، څو قضاوتونه عادلانه او مناسب وی. سره د دې هم، ښځینه کارمندانو د ځای شوراګانو په تقویه کولو اندیښنې ښکاره کړې، ځکه چې د دوی په باور ځایی شوراګانو له ښځو سره د تاوتریخوالی په قضیو کې ناسم قضاوت کړی دی او د شوراګانو پریکړې په دغو شرایطو کې د ښځو د حقونو په ګټه نه وې.

د دې لپاره چې د سولې ورانکاره عناصرو ته په مناسب ډول ځواب وویل شی، ګډون کوونکی په دې باور وو چې د سولې د کمیټې غړی باید په شفافه توګه داسې انتخاب شی چې د وړتیا، بې طرفی، له وسله واله مخالفینو سره د مذاکرو صلاحیت، صداقت او وطن پرستی معیارونه یې پوره کړی وی او دواړو خواوو ته د منلو وړ وی. ګډون والو ټینګار وکړ چې انتخاب باید دیموکراتیک وی (یانی د ټولو افغانانو په ګډون او له دوی څخه جوړ شوی وی) یوه ګډون کونکی وویل:

> ″بانفوذه او بې طرفه اشخاص چې له وسله واله مخالفینو سره د مذاکرو صلاحیت لري او د عامو خلکو لپاره د منلو وړ وي باید د سولې او پخلاینې د پروسې لپاره انتخاب شی.″

## ۵. د خلکو سپارښتنې

ګډون والو ټینګار وکړ چې حکومت، سیاسی ګوندونه، ملګری ملتونه، بین المللی فعالین، مدنی ټولنه او ځایی شوراګانې په دې اړه چې څنګه کولای شی دوامداره سوله د کابل په ولایت کې ټینګه کړی، په یوه سازنده ډیالوګ کې شامل شی.

**د ځایي حکومتي موسساتو تقویه او ریفورم او ښه حکومتداري:** (۱) د وړتیا پر بنسټ استخدامول او بې له تبعیضه هغو افغانانو ته د لومړیتوب حق ورکول چې صادق، مسلکي کسان وي او وړتیا ولري؛ (۲) د رونیزو پروګرامونو د یوې لړۍ جوړول چې هدف یې د حکومتي چارواکو د مسلکي توب او احتساب او د خدماتو د وړاندې کولو د وړتیا ښه کول وي؛ (۳) د فساد ضد اوسنی ارګانونه تر بیا کتنې لاندې راوستل او د فساد ضد دیوه اغیزناک میکانیزم جوړول چې په خاص ډول د دې صلاحیت ولري چې له ځواک څخه د بدې استفادې د مخنیوي په غرض د خدماتو وړاندې کول تر څارنې لاندې ونیسي؛ (۴) په منظم ډول له مدني ټولنې، اتحادیو او د کابل له عادي اوسیدونکو سره غونډې کول چې ټول له حکومتي چارواکو سره په دوی پوري د تړلو مسالو په اړه په یوه سازنده ډیالوګ کې ښکیل شي څو د کابل د ټولنو او حکومت تر منځ واټن لنډ شي؛ (۵) د دې تضمین کول چې د ظرفیت د لوړولو او اصلاحاتو پروګرامونه جاري دي څو د ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت لوړ شي او د فساد او جناتونو په وړاندې مبارزه وشي چې دا په خپل وار د سولې او ټیکاو په یقیني کولو کې مرسته کوي.

**د بشري حقونو او د قانون د واکمنۍ تقویه او له معافیت سره چلند:** (۱) د افغان ملي امنیتي ځواکونو تقویه کول څو کابل ته د وسله والو ګروپونو د ننوتلو مخنیوی وکړي؛ (۲) له طالبانو سره په ملکي کسانو او ملکي شتمنیو باندې د بریدونو د منفي اغیزو په اړه د بانفوذه علماوو، مذهبي رهبرانو او مشرانو په مرسته د سازنده ډیالوګ تقویه کول؛ (۳) د پوهاوي د پروګرامونو او د حکومت د پالیسیو تطبیق چې هدف یې د برابري د اصل تقویه او د ظرفیت جوړونې د نوښتونو زیاتوالی دی څو د جنډر، قومیت یا ژبې پر بنسټ ولاړ تبعیض محوه شي؛ (۴) د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي مجرمین د عدالت په وړاندې درول چې د ښځو پر علیه د خشونت د منع د قانون سره چې په ۲۰۰۹ کې تصویب شوی دی، سمون لري؛ (۵) د ټولنې د غړو په منځ کې د بشري حقونو په اړه د پوهاوي د پروګرامونو پراخول چې هدف یې د خشونت د کلتور محوه کول دي؛ (۶) د تحمل او د ګډ ژوند تقویه کول؛ (۷) د قضایي چارواکو او د قانون د انفاذ د ارګانونو لپاره د ظرفیت د لوړولو د فعالیتونو تطبیق چې بې له ژبني، مذهبي یا قومي تبعیض څخه قانون په ټولو افغانانو باندې یو ډول تطبیق کوي؛ (۸) د معافیت د کلتور سره مبارزه کول؛

**د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ تقویه:** (۱) په بنیادي ساختارونو کې پانګونه لکه مهمې اقتصادي پروژې د مثال په ډول ساختماني پروژې، صنعت، عامه خدمتونه او کرنه؛ (۲) د کابل په ولایت کې د ساختاري پروژو تطبیق چې د څارنې یو اغیزناک سیستم ولري څو د پرمختیایي پروژو کیفیت او په خپل وخت سره د هغوی پلي کول تر کتنې لاندې راولي.

**د سولې او پخلاينې په پروسه کې د ټولو ګروپونو تقويه کول:** (۱) د پی پی سی اعضا بايد په بې پرې ډول د عادی خلکو له خوا انتخاب شی چې د شخړې د واړو خواوو ته د منلو وړ وی؛ (۲) د خدمتونو د عرضه کول او د سولې پروژې بايد د قومی، ټولنيز او مذهبی ګروپونه او د کابل ولايت د ټولو برخو استازی راونغاړی؛ (۳) پی پی سی بايد د عادی خلکو ګډون يقينی کړی او په دوديز لحاظ د ګوښه کړای شويو ګروپونو، لکه ښځې، ځوانان او قومی اقليتونه، نظريات راغونډ کړی؛ (۴) پی پی سی بايد ريښتنی، پوه او بی طرفه با نفوذه اشخاص، علما، د ټولنی او قومی مشران او د مدنی ټولنې فعالين راټول کړی؛ (۵) د دې يقين ورکول چې په تيرو وختونو کې په بشری حقونو د تيريو تورن کسان د عدالت په وړاندی و درول شی.(انتقالی عدالت)؛ (۶) د افغانستان د سولې او بيا ګډونی په پروګرام کې د بدلونونو او اصلاحاتو راوستل، لکه د سولې ملی پروګرام چې وسله وال مخالف ګروپونه او نور سياسی ګروپونه په يو ډول په مجموع کې تر هدف لاندی راولی؛ (۷) د مذاکرو او ډيالوګ د کلتور ايجادول؛ (۸) د جګړې ټولو خواوو لپاره د عملی اقداماتو او ګامونو هڅول چې سوله يقينی شی، د مثال په ډول د اوربند اعلامول؛ (۹) د يوه بې پرې کمسيون ايجادول چې سوله اداره کړی او د جګړې له ټولو خواوو نظريات راغونډ کړی چې له هغه وروسته له عادی افغانانو سره په سلا مشورو کې د هغو ارزونه وشی.

# د کاپیسا ولایت
# د سولي لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

د سولې لپاره دا طرحه د امنیت، عدالت، قانون د حاکمیت، بشری حقونو، پراختیا او د محلی شخړې د ډاینامیکونو او د سولې لپاره د سپارښتنو په اړه د کاپیسا د ولایت د عادی افغانانو د نظریو او اندیښنو په هکله یو لنډیز وړاندی کوی. په دې حواله د عادی افغانانو نظرې، اندیښنې او وړاندیزونه د څلورو ګروپې ناستو پر مهال د څلور انفرادی مرکې او د نطریو ۱۰ سروې ګانې سره سم، مستنندې شوی. پدې ګروپې ناستو کې ۱۳۵ کسانو، د ۳۶ ښځینه وو په ګډون چې د ټولو ۷ ولسوالیو څخه استاریتوب کوی، د دریو نا ارامو ولسوالیو په شمول، یعنی تګاب، الاسای او نجراب او د ټولنې د بیلابیلو برخو څخه، ښوونکو، ځایې مشرانو، د حقونو ښځینه فعالانو، د پوهنتون محصلینو، د اسلامی شورا غړو، د ولایتی شورا غړو، د سولی د ولایتی شورا غړو، د سیاسی کوندونو غړو، قانون پوهانو، خبریالانو، محلی چارواکو، د کور میرمنو، قابله ګانو او هتیې والو ګډون کړې وو. ګروپې ناستې او د نطریو سروې ګانې د مدنې تولنې د ۱۱ سازمانونو د ملی شبکی د ولایتی رابط او د افغان ښځو لپاره د ښځو د یوې انجو لخوا چې د ښځو د حقونو په برخه کې کار کوی په کاپیسا ولایت کې ترسره شوې.

د سولې لپاره د کاپیسا د ولایتې طرحې موخه د امکان په صورت کې د هغو سترو اندیښنو تجزیه او تحلیل دی کومې چې د افغان خلکو د ډیالوګ د پروګرام د ګډونوالو، د ځایې شخړې د ډاینامیکونو، او د هغو د لاملونو، د عمل د یوه ریښتینې محلی پلان د پلې کولو او د سولې د محلی هڅو د پیاوړتیا په هدف د وړاندیزونو په واسطه مطرح شوې او په کومو چې د محلی فعالینو لخوا هوکړه شوې او موخه یې په ولایت کې د پایدارې سولې تامینول دی.

## ۲. ولایتی انځور: جغرافیه،جمعیت پیژندنه او سیاسی زمینه[۸]

د کاپیسا ولایت، او د یاد ولایت پلازمینه محمود راقی د افغانستان په شمال شرق کې موقعیت لری او په شرق کې د لغمان، په شمال کې د پنجشیر، په جنوب کې د کابل او په غرب کې د پروان د ولایتونه سره ګډه پوله لری. د کاپیسا ولایت ۱۸۴۲ کیلو متره مربع ساحه لری چې په دې سره د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه تر ټولو وړ ولایت دی. یاد ولایت ۷ ولسوالې ګانې لری: محمود راقی، کوهستان ۱ او کوهستان ۲، نجراب، تګاب او الا سای. د ولایت شمالی او شرقی پولې د وچو غرونو په واسطه مشخصی شوې، له بلې خوا بیا د ولایت مرکزی، غربی او جنوبی سیمی د خړوبونې د پیچلو شبکو په واسطه چې د پنجشیر د عمومی سیند سره ارتباط لری مشخصې شوې. په دې ولایت کې ټولټال۴۱۹۸۰۰ تنه اوسی(د مرکزې احصایې د ادارې ارقام ۲۰۱۲-۲۰۱۳).

[۸] د یوناما ولایتی انځور(داخلی اسناد، د ۲۰۱۳ کال جون میاشت).

په دې ولایت کې ۳ سترې قومې ډلې اوسیږي: تاجک(۴۲ سلنه)، پښتانه(۳۷ سلنه) او پشه یې (۲۰ سلنه). تاجکان په دریو سترو سیاسی ډلو ویشل شوې: جمعیت اسلامی ګوند(اټکل ۴۰ سلنه) حزب اسلامی افغانستان(۴۵ سلنه) او پاته برخه د خلک ډیموکراتیک ګوند سره دی. پښتانه په سیاسی لحاظ په دوو سیاسی ډولو ویشل شوې دی: HIA/HIG او حرکت اسلامی. په تګاب او نجراب ولسوالیو کې او د الا سای د ولسوالې په ځینو برخو کې پښتانه او پشه یان اوسیږی او دا د طالبانو د شتون او فعالیتونو سره په یوه وخت او ځای کې واقع کیږی. د ګلبدین حکمتیار اسلامی ګوند په ولایت کې شتون لری، خو حضور یې کم رنګه ده. د دې ګوند قومندانان د افغان سیمه ییزو پولیسو په لیکو کې تنظیم شوې(د طالبانو د واکمنې په وړاندې د پایښت ستراتیژې). په دې توګه دوی د طالبانو په وړاندې مقابله کوی او د دولت څخه مالې امتیازات ترلاسه کوی. تاجکان په دریو شمالې ولسوالیو یعنی محمود راقی، کوهستان ۱ او کوهستان ۲ کې ژوند کوی. د نجراب په ولسوالې کې هم نږدی (۷۳ سلنه) تاجکان اوسیږی، خو د تګاب، الا سای او خوبند په ولسوالیو کې اکثریت پښتانه اوسیږی. د خوبند د ولسوالې پشه یې وګړې په ولایت کې تاجک ټولنو ته نږدې پاته شوې ځکه نو په دری خبرې کوی خو د الا سای د ولسوالې پښتانه وګړې په ولایت کې د پښتنو ټولنو سره نږدې پاته شوی ځکه نو په پښتو خبرې کوی. په ولایت کې د جمعیت اسلامی ګوند او د HIA/HIG سیاسی ګوندونه واکمن دی. د تګاب، نجراب او الا سای ولسوالې د طالبانو د یاغیتوب سره مخې دی.

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې نمونې او محرکات

معلومیږی چې ولایت په څرګند ډول په ۳ ډوله شخړو کې ښکیل دی: الف) د جایدادونو پر سر منازعې، د بیلګې په توګه، ځمکه، ب) د تیرو جنایتونو/سرغړونو په خاطر غچ اخیستل، ج) د یاغیتوب سره تړلې وسله واله شخړه.

**د وسله والې شخړې سره تړلی یاغیتوب:** درې جنوبی ولسوالی: د تګاب، الا سای او نجراب ولسوالی ګانې د طالبانو د جنبش تر نفوذ لاندې دی. د تکاب ولسوالې په ټولیز ډول پښتانه دی خو په نجراب کې پشه یان هم اوسیږی، په پښتو خبرې کوی او د پښتنو سره نږدې اړیکې پالې. په نجراب ولسوالې کې اکثرا تاجکان اوسیږی خو د دې ولسوالې په ځینو برخو لکه افغانیه دره کې پښتانه اوسیږی. د پروګرامونو پر مهال خلکو ویلې چې د الا سای د ولسوالې ۹۵ سلنه، د تکاب د ولسوالې ۷۰ سلنه او د نجراب د ولسوالې ۲۰ سلنه ځمکه د طالبانو تر ولکې لاندې ده. د طالبانو د جنبش لپاره اسانه ده څو دغو دریو ولسوالیو ته نفوذ وکړی ځکه چې یادې ولسوالی ګانې د کابل ولایت د سروبی د ولسوالی سره ګډه پوله لری او دا بیا د لغمان ولایت د بدپخ د سیمې، د لوګر ولایت د ازرې ولسوالې او د پروان ولایت د صافی غره سره پوله لری، دا سیمی په عنعنوی لحاظ د طالبانو د جنبش تر کنترول

لاندې دی. د لغمان ولایت د کنړ او کنړ بیا د پاکستان د خیبر پښتونخواه د ایالت سره پوله لري. دغه دوه لارې بیا د کاپیسا ولایت دغو دریو جنوبي ولسوالیو ته د بهرنیو جنګیالیو د ننوتو فرصت برابروي.

د یادونې وړ ده چې د دغو دریو ولسوالیو امنیتي وضعیت په ۲۰۰۶ کال کې په خرابیدو شو. د نړیوالو پوځې ځواکونو د یوه کاروان په وړاندې لومړی برید د ۲۰۰۶ کال په نیمایې موده کې د تګاب د ولسوالۍ د جلو خیلو په سیمه کې ترسره شو. په ۲۰۰۶ کال په اکتوبر کې د یوه پوځې عملیات موخه د تګاب په ولسوالۍ کې د یاغیانو د شبکو د نفوذ له منځه وړل او همدارنګه د نا قانونه وسله والو ډلو د زیاتوالي او د وسله والو قوماندانانو د مخ پر زیاتیدونکي نفوذ مخه نیول و. که څه هم دې عملیاتو و نه شو کولای امنیتي تمایلات وساتي او د ۲۰۰۷ کال د مارچ په لومړیو کې په نجراب ولسوالۍ کې نړیوالو ځواکونو او یاغیانو په یو بل د راکټ دزې کولې او د نړیوالو پوځې ځواکونو په وړاندې یې د طالبانو د مخ پر زیاتیدونکي قوت ځرګندوې کوله.

یواځې په ۲۰۱۳ کال کې، پنځه پوځې عملیات، یعنې د سرباز اول نه تر پنځمه پورې ترسره شول. دې عملیاتو په خاصه توګه په جنوبي نجراب (د افغانیه،پت چه غان او ګیان په کلیو) او د تګاب ولسوالۍ په کڼ میشته سیمو تمرکز درلود. دا عملیات د موقتو کنټرول بې ځایه کیدنو لامل شو. د دې پوځې عملیاتو په نتیجه کې د تګاب د ولسوالۍ په بدرب سیمه کې د طالبانو یو زندان له منځه ولاړ او یو شمیر طالبان یا خو ووژل شول او یا ونیول شول. د دې سربیره، ملکي کسانو ته تلفات او جایدادونو ته زیان واوښت. امنیتي ځواکونو و نه شوای کولای هغه سیمې چې د طالبانو د شتون څخه پاکې شوې وساتي. ځکه نو د عملیاتو پایلې ښې نه وې. دغو عملیاتو په حقیقت کې پښتانه لا هم د مخالفت لورې ته سوق کړل، چې د طالبانو د جنبش لپاره د لا زیاتې عملیاته فضا برابره شوه.

د طالبانو غورځنګ په دغو دریو ولسوالیو کې د پراخ ملاتړ څخه برخمن دی. یو لامل هم د طالبانو د موازې دولت شتون دی. خو، په عین حال کې، د قضایې کارکونکو په شمول یو شمیر دولتي چارواکي په دې قادر نه دي چې دغو ولسوالیو ته ولاړ شي. ځکه نو د عدالت د غوښتلو لپاره خلک طالبانو ته مراجعه کوي. لومړی د طالبانو تحقیق کونکي دوسیې څیړي، بیا هغوی د پریکړې نیولو په موخه د دوسیې اوراق د طالبانو د قاضیانو یوې ډلې ته سپاري. قاضیان د جمعې د لمانځه پر مهال په جومات کې پریکړه اوروي. طالبان د عدالت د تامین لپاره پیسې نه اخلي. دا پر وسه چټکه او د پریکړو د تطبیق ضمانت لري. له بلې خوا، دولتي څارنوالان په ولسوالیو کې نه تم کیږي او د ادعا سره سم بډې اخلي. دولتي قضایي سیستم ته باید په میاشتو انتظار و ایستل شي تر څو عدالت پلي شي. دغه کار محلي خلک هڅولي تر څو د عدالت د پلي کولو په خاطر د دولت په ځای

طالبانو ته مراجعه وکړی او په دې سره د دغو ټولنو د یوې برخې په حیث د طالبانو شتون ته مشروعیت ورکوی.

په دغو دریو ولسوالیو کې د مخ پر زیاتیدونکې یاغیتوب بل لامل د دولت پلوه ځواکونو لخوا د هر ډول شامنظر یا شواهدو د معلومولو پرته بې هدفه نیونې، توقیف او د کورونو تلاشۍ ګانې(او حتی د وژنو) ترسره کول دی. ګډونوالو ویلی چې امنیتی ځواکونه اکثرا د ناسمو استخباراتو پر بنسټ کوم چې د هغوی د سیالانو لخوا ورکول کیږی، عمل کوی. د بې ګناه خلکو بې هدفه نیونو، د کورونو تلاشۍ ګانو او د ملکی کسانو وژنو د دولت او امنیتی ځواکونو په وړاندې د ځايي خلکو غصه لا را پارولې. د دې په نتیجه کې ټولنې د طالبانو د غورځنګ څخه حمایت کوی. د کاپیسا د سولې د ولایتی شورا یو غړې وویل چې:

"سوله د الله تحفه ده څکه چې انسانان یواځې په سوله کې ژوند کولای شي. له بده مرغه، د کاپیسا د ولایت په دریو ولسوالیو کې وسله والې شخړې روانې دي. زه د دې پړه په دولت اچوم. د دولت ضد عناصرو او د هغوي د فعالیتونو په اړه د دولت استخبارات ډیر کمزورې دي. امنیتي ځواکونه په دې نه پوهیږي چې دولت ضد عناصر څوک او چیرې دي. دولت ضد عناصر راځي، هر څه چې یې زړه وي هغه ترسره کوي او ځي، دولتي ځواکونه په هیڅ خبر نه وي. په هر سکټور کې بې کنټروله روان فساد، په نا امنه ولسوالیو کې د انکشافي پروژو نه شتون، پراخه نیستي او د بیلابیلو قومي ډلو او شمالي او جنوبي ولسوالیو تر منځ تبعیض د مخ پر زیاتیدونکې یاغیتوب نور مهم لاملونه دي چې په ولایت کې د نا امني لامل کیږي."

په ولایت کې د مخ پر زیاتیدونکې یاغیتوب دریم لامل په ولایتی او د ولسوالې په کچه په اداره کې د کورنۍ دستور او قاعدې او واسطې شتون ده چې د تجرید شویو ټولنو مخالفت کوی. که چیرې والی په یوه خاصه قبیله، قومې ډلې او سیاسی ګوند پورې تړاو ولری، نوموړی لومړی خپل ورور او خور ټاکی او بیا د هغه د قبیلې او سیاسی ګوند څخه غړی ټاکی. د جنوبې ولسوالیو څخه ګډونوالو وویل چې د ۲۰۰۹ کال تر ټاکنو پورې دوی په ولایتی شورا او پارلمان باور درلود. کله چې په ۲۰۰۴ کال کې په جنوبې ولسوالیو کې سوله وه د کاپیسا ولایت د ټولو نهو اختصاص شویو څوکیو څخه د ولایتی شورا ۶ تنه د دغو دریو ولسوالیو څخه وټاکل شول. په ولسی جرګه کې د کاپیسا د ټولو څلورو اختصاص شویو څوکیو څخه د پارلمان دوه غړی د الا سای او نجراب د ولسوالیو څخه وو. خو د ۲۰۱۰ کال د ولسی جرګې په ټولټاکنو کې د دې دریو ولسوالیو څخه هیڅوک هم و نه ټاکل شول. د ۲۰۰۹ کال د ولایتی شورا په ټاکنو کې، د تګاب د ولسوالې څخه یواځې یو تن د ولایتی شورا لپاره وټاکل شو. د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو په ولسمشریزو،ولایتی شوراګانو او ولسی جرګې په

ټولټاکنو کې د الا سای په ولسوالۍ کې د رای اچولو هيڅ مرکز هم نه وه پرانيستی. په ورته ډول د تګاب او نجراب په ولسواليو کې د رای اچونې يواځې يو څو مرکزونه پرانيستی وو. د دې مرکزونو زياتره رايې باطلې اعلان شوې. د دې په پايله کې، دغو ولسواليو د ولايت او مرکز په کچو کې سياسی استازيتوب له لاسه وکړ. ګډونوالو په ولايتی اداره او د قدرت په شمالی دلالانو تور پورې کړ چې د دغو دريو ولسواليو د امنيت د ساتلو په موخه يې اړين ګامونه نه دې ترسره کړې. په دغو دريو ولسواليو کې ناامنې (د شمال تاجک واکمنو ولسواليو) سره مرسته کړې څو ټولې ځوکۍ خپلې کړی. د کاپيسا د تګاب ولسوالۍ څخه د ځوانانو د سازمان يو تن د ۲۰۱۳ کال د جون په ۲۶ وويل چې:

″د تګاب، الا سای او نجراب د ولسواليو څخه هيڅوک په اداره،ولسوالۍ او ولايتي کچو کې په دندو و نه ګمارل شول. د دغو دريو ولسواليو خلک دا احساس کوي چې دوي د حکومت څخه د باندې پاتې شوې. موږ د دې دريو ولسواليو خلک د ډير توپيرې چلند احساس کوو. حتی ولايتي اداره هم زموږ په ولسواليو کې ښوونځيو ته زاړه کتابونه را ليږې. ولې په دغو دريو ولسواليو کې لا هم د شپې له خوا تلاشي ګانې دوام لري؟ موږ غواړو تلاشې ګانې بندې شي. د شپې له خوا تلاشي ګانې موږ ډير زوروې: هغوي بې ګناه خلک نيسي، هغوي وهي او وژني. موږ طالبان هم نه خوښوو. دولت موږ ته پاملرنه نه کوي. موږ د دولت څخه نا هيلې شوې يوو او اړ يوو تر څو د طالبانو ملاتړ وکړو، البته دا د ژوندې پاته کيدو پوښتنه ده.″

د ياغيتوب څلورم لامل د افغان سيمه ييزو پوليسو شتون دی. د افغان سيمه ييزو پوليسو په تشکيل کې پخوانې جنايتکاران او د محلی با نفوذه اشخاصو سيالې مليشاوې تنظيم شوې. افغان سيمه ييزو پوليسو په هيواد کې د کورنۍ جګړې پر مهال يو شمير خلک وژلی. دوی لا هم د خلکو وژلو ته دوام ورکوی. هغوی اوس په افغان سيمه ييزو پوليسو اوښتې او معاشونه او وسلې تر لاسه کوی. په ريښتيا سره دوی بايد د تيرو جرمونو لپاره اوس د زندان د تورو ميلو تر شا پراته وای. د قربانيانو کورنۍ د غچ اخيستلو پرته نور هيڅ هم نه شی کولای. ټولنې په افغان سيمه ييزو پوليسو باور نه لری. افغان سيمه ييز پوليس د طالبانو ليکو ته اوړې. په تګاب کې، د ۲۰۱۳ کال په جنورې کې يواځې، ۷ تنه افغان سيمه ييز پوليس د خپلو مدرنو وسلو سره د طالبانو له ليکو سره يو ځای شول. او س دا ډله د افغان سيمه ييزو پوليسو په موقعيتونو بريد کوی. په سيمه کې خشونت زيات شوې. د کاپيسا ولايت په محمود راقی کې د انجو يوه تن کارکونکې د ۲۰۱۳ کال د جون په ۵ وويل چې:

"په دې ورستیو کې افغان سیمه ییزو پو لیسو د تګاب په ولسوالۍ کې یو ځوان هک وواژه. د دې هلک یواځنۍ تیروتنه دا وه چې ورور یې په ولسوالۍ کې د طالبانو قوماندان و. نه پو لیسو او نه هم څارنوالانو دوسیه تعقیب کړه. د قربانۍ شخص طالب ورور ژمنه کړې چې د افغان سیمه ییزو پولیسو په وړاندې به بریدونو ته دوام ورکړي او څومره چې کولای شي هومره به ووژني. زه به د افغان سیمه ییزو پولیسو او طالبانو تر منځ د دړزو د لا زیاتې تبادلې لپاره زمینه برابره کړم او په نتیجه کې به ملکي کسان د دړزو په تبادله کې را ګیر او هغو ته تلفات واوړي."

نیستی هم په ولایت کې د مخ پر زیاتیدونکې یاغیتوب په برخه کې مهم نقش لوبوی. د نیستمنو او شتمنو خلکو تر منځ پراخه شوې تشې نه یواځې غیر متناسبه ټولنه را منځ ته کړې بلکه عدالت د نیستمنو لپاره یو خوب او د شتمنو لپاره یوه متاع پاتې شوې. نیستی او د دولت له اړخه نه پاملرنې ځوانان نا هیلې کړي. د کاپیسا د ولایت د اول کوهستان د ولسوالۍ څخه د ښځو د حقونو یوه مشاور د ۲۰۱۳ کال د جون په ۵ وویل چې:

"زموږ په ټولنه کې یو شمیر کسان د هغوی د اړتیاوو په پرتله زیات شیان لري: هغوی زغره وال ګاډي، تعمیرونه او هر چیرې د فارم لپاره ځمکې لري. خو نور خلک چې غریب دي هغه بیا هیڅ هم نه لري. هغوي حتی د خپل ژوند د بقا لپاره ډوډۍ هم نه لري. هغوي د لوږې څخه زوریږي. خو کومه پایله چې تاسو تر لاسه کوي هغه په ټولنه کې شخړه او خشونت دی."

په ټولیز ډول، د حکومتدارۍ په اوسنۍ سیستم باندې د باور نه شتون، د کارې فرصتونو نه شتون، د ځوانانو د بسیج کولو کمزورۍ هڅو د ځینو ډلو مشترکو ګټو کومې چې د جګړې د اقتصاد څخه ګټه پورته کوی او بې سارې تبعیض او مخ پر زیاتیدونکې یاغیتوب د روان خشونت سره مرسته کړې. د یو شمیر ګډونوالو په اند، د یاغې ډلو څخه د ګاونډیو هیوادونو ملاتړ او تدارکات بله ستره اندیښنه ده.

**د ځمکو پر سر اوږدې شخړې:** د دوو کورنیو او یا دوو قبیلو تر منځ د ځمکې پر سر اوږدې شخړې کله نا کله د دوی تر منځ په وسله والو نښتو اوښتې. یو شمیر ګډونوالو په ولایت کې، په خاص ډول د شمال په یوه با امنه ولسوالۍ کې د دوو توکمو تر منځ شخړې د نا امنۍ د مهمو لاملونو څخه شمیرلې.

د دغو ټولو په منځ کې، د ځمکو پر سر داسی مهمې شخړې هم موجودې دی چې دولت یې د کلونو را هیسی د هوارولو هڅه کوی. د د غو له جملې څخه یوه هم په ۱ کوهستان ولسوالۍ کې د سنګن کلې د پشه یې قوم او د عزتخیلو او شیرخان خیلو د کلیو تر منځ د ځمکې د یوې ټوټې پر سر لانجه ده چې د پشه یې او تاجکو د کلیو تر منځ واقع ده. یاده

ځمکه د ګلبهار د دولتی فابريکې اړوند ځمکه ده. فابريکه په کال ۱۹۸۹ کې تړل شوې او د هغه مودې راهيسې ځمکه خالې پاته شوې. په ۲۰۱۰ کال کې، د عزتخيلو او شيرخانخيلو د کليو تاجک سوداګرو کوښښ وکړ تر څو په دې ځای يو ښارګوټی جوړ او يواځې يې د عزتخيلو او شيرخانخيلو د کليو په تاجک اوسيدونکو وپلورې. د سنګن کلي د پشه يې اوسيدونکو لخوا يې مخالفت وشو او د ځمکې د مالکيت ادعا يې وکړه. پشه يانو کم تر کمه د ځمکې په تړاو دوه واره توندی مظاهرې وکړی او د ولسوالې مرکز ته په لار يې د عزتخيلو او شيرخانخيلو د کليو تاجک اوسيدونکو ځينو هټيو ته هم اور ور واچاوه. هغوی همدارنګه د نيمې ورځې لپاره د کوهستان ښاروال هم وتښتاوه او بيا يې د مشرانو او دولتی چارواکو د مداخلت په تعقيب له بنده خوشی کړ. تاجک ادعا کوی چې په تيرو وختونو کې دولت ياده ځمکه په زور نيولې او دوی ته يې هيڅ ډول خساره نه ده ورکړې. دولت هم د ځمکې د مالکيت ادعا کوی ځکه چې دا د دولتی فابريکې ځمکه ده. تاجک سوداګرو په اوس وخت کې د ښار ګوټې د جوړولو کار په موقت ډول درولی. د يادونې وړ ده چې د ځمکې پر سر د مالکيت ادعا لا هم په خپل ځای پاته ده او ممکن هر وخت په خشونت واوړې. په داسی حال کې چې سيند خپل مسير او پولې بدلوی،د ځمکې پر سر دوهمه مهمه شخړه په ولايت کې د دوو کليو صياد(د کاپيسا د محمود راقی) او د پروان د ولايت د بګرام د ولسوالې د قراچه د کلي تر منځ د پنجشير د سيند د څنډې پر سر ده. دواړه کلي ګډ قومي تاجک او پښتانه اوسيدونکې لری. د ۲۰۱۳ کال په نومبر کې، د قراچې خلکو د يوې ورځې لپاره لاريون وکړ او د سيند د غاړې د يوې ټوټې ځمکې ادعا يې کوله ځکه چې سيند خپل جريان ته تغير ورکړ. کله چې وضعيت ترينګلی شو نو د پروان پوليسو د هر ډول ممکنه نښتو څخه د مخنيوی په خاطر د کاپيسا- بګرام سړک د يوې ورځې لپاره وتاړه. له هغه وروسته، د پارلمان د غړو د مداخلې له کبله تشنج پای ته ورسيد او د ځمکې پر سر شخړه د دواړو ولايتونو د عدليې رياستونو ته وسپارل شوه. د دوسيې په هکله لا هم پريکړه نه ده شوې.

د ځمکې پر سر دريمه شخړه د محمود راقی د سوخی د کلي او د کډوالو د چارو د رياست او محلی پښتنو تر منځ د يوې ټوټې ځمکې پرسر ده چې کيدای شی يو بل القوه تشنج را منځ ته کړی. دا ځمکه د ۲۰۱۳ کال تر لومړيو پورې د داخلی بې ځايه شويو کسانو له خوا ځوک چې د ولايت د جنوبی نا امنه ولسواليو څخه بې ځايه شوې وو اشغال شوې وه. اوس چې داخلی بې ځايه شوې کسان د دې ځای څخه کډه شوې خو د کډوالو د چارو رياست يې د مالکيت ادعا کوی او پلان لری چې په دې ټوټه ځمکه د راستنيدونکو کسانو او کډوالو لپاره ښارګوټې جوړ کړی خو پښتانه لا هم د دې ځمکې د مالکيت ادعا کوی. د عدليې رياست په اوس حال کې په دې شخړه غور کوی. ناشونې ده دا شخړه د

حقوقی پريکړې د نيولو له لارې هواره شی. د يادونې وړ ده چې ياده شخړه دا پوتانسيل لری چې د ولايت نسبی امنو سيمو لکه محمود راقی ته د طالبانو پام را واړوی.

په ولايت کې د ځمکو پر سر يو شمير نورې وړې شخړې هم موجودې دی. د ستونزې يوه برخه د ځمکو د مناسبو اندازه کولو(پړی وهلو) او د ځمکو د قبالو نه شتون له امله کومې چې ريښتينو ماليکينو ته صادرې شوې را منځ ته شوې. د قدرت ولايتی دلالان هڅه کوی خالې يا دولتی ځمکې غصب کړی او ښار ګوټې پرې جوړ کړی(د معاملاتو د لارښوونې سوداګرې). عدليې رياست او محکمې نه شی کولای دا ډول شخړې هوارې کړی ځکه چې د ځمکو مالکين د مالکيت شواهد، يعنی قباله د تخصيص يا انتقال نه لری. د کاپيسا ولايت د خوبند د ولسوالې څخه د ښځو د حقونو يوې فعالې د ۲۰۱۳ کال د جون په پنځمه وويل:

> ”د قانون په وړاندې هيڅ ډول مساوات نشته. پياوړي خلک د قانون څخه اوچت دي. قانون يواځې د نستمنو خلکو لپاره دی. هيڅوک نه شي کولای يو څوک چې ۲۰ وسله وال ساتونکي ولري توقيف او هغه تر عدلې تعقيب لاندې ونيسي. په کاپيسا او افغانستان کې سياست او جرمونه له يو بل سره نږدې اړيکې لري. سياسيون په نا پاکو کړنو کې ښکيل دي: هغوي ځمکه غصبوی او د محلي نيستمنو خلکو څخه ناوړه ګټه پورته کوي.“

**ناقانونه وسله والې ډلې(پخوانې جهادی قومندانان) او د غچ اخيستلو دود:** نږدې ټول پخوانې جهادی قومدانان يوه اندازه وسله او مليشاوې لری. په افغانستان کې د بې وسلې کولو پروګرام و نه شوای کولای په بشپړه توکه جهادی قومندانان او د هغوی مليشاووې بې وسلې کړی. که څه هم چې دوی د ۲۰۱۱ کال پورې د نا قانونه وسله والو ډلو تر پروګرام لاندې هدف وګرځول شول خو پروګرام و نه شوای کولای دوی بې وسلې کړی. د سولې د تحکيم پروګرام او د سولې او پخلاينې پروګرام هم و نه شوای کولای دا نا قانونه وسله والې ډلې او هغه ډلې چې د پخوانيو جهادی قومندانانو له خوا يې رهبرې کيږی، بې وسلې کړی. ځکه نو ، جهادی قومندانان لا هم يو شمير وسلې او مليشاوې لری.

دا جهادی قومندانان په نسبتا امنو شمالی ولسوليو کې ژوند کوی خو ښکارې چې هغوی د يوه داسی فرصت لپاره انتظار باسی تر څو خپلې وسلې او مليشاوې د دولت او د هغوی د سيالو جهادی قومنداانو په وړاندې وکاروی. د بيلګې په توګه، د خوبند په ولسوالې کې، دوه محلی جهادی قومندانان کله نا کله په وسله والو نښتو کې د يو بل سره ښکيليږی. د دغو نښتو په پايله کې د دواړو خواوو څخه مليشاووې او ملکی کسان ووژل کيږی او ملکی جايدادونو ته زيان اوړې. دا مشاهده شوې چې د دې نښتو پر مهال، په سيمه کې د ټپې کيدو او يا په کلينيکونو او ښوونځو کې د ناروغانو او زده کوونکو د وژل کيدو له

امله روغتيايي کلينيکونه او ښوونځي تړل شوي. په ولسوالۍ او ولايت کې د يو شمير شکايتونو د سپارلو سربيره غوښتنه شوې څو جهادي قومندانان بې وسلې او په هغوی عدالت جاری کړی، خو دولت په دې مسله خپل غوږونه کاڼه اچولي. د راپور سره سم د کاپيسا د ولايت څخه د ولسی جرګې غړی د يوه جهادي قومندان او مهم ولايتي چارواکی د بل جهادي قومندان ملاتړ کوی. دغه ډول ملاتړ او حمايت د جهادي قومندانانو سره مرسته کړې تر څو معافيت ولری.

دغه نا قانونه وسله والې ډلې او جهادي مليشاوې د ادعا سره سم د ترياکو په کښت او د مخدره توکو په قاچاق کې ښکيلې دی. د بيلګې په توګه، د خوبند په ولسوالۍ کې، د ۲۰۱۳ کال په اګست کې، د افغان ملی پوليسو يو ټيم د ترياکو د بوټو د له منځه وړلو په موخه سيمه ته لاړ چيرې چې د يوه پخواني جهادي قومندان د نا قانونه وسله والې ډلې له خوا تر بريد لاندې راغلل او په نتيجه کې ټيم شا تګ ته اړ شو.

**ګډونوالو انتقامي وژنو ته د وژنو او خشونت[۹] د رواني لړۍ د يوې مهمې انديښنې په توګه اشاره کړې:** د جهاد را وروسته دا په يوه مهمه ستونزه اوښتې. د جهاد پر مهال، يو شمير محلی خلک د هغوی د سيالو جهادي قومندانانو له خوا ووژل شول او په دې اړه د هيڅ قومندان څخه تحقيقات و نه شول او نه تر عدلی تعقيب لاندې ونيول شول. دولت د انتقامي وژنو د مخنيوی او د هغو کسانو د تعقيب په برخه کې چې په دا ډول وژنو کې ښکيل وو، پاتې راغلی. د انتقامي وژنو په وړاندې د دولت بې خبرې او سستې د انتقامي وژنو د فعاليت مشروعيت ته لار هواره کړې. د کوهستان ۲ ولسوالۍ څخه د ۲۰۱۳ کال د جون په ۵ يوې ښځينه ښوونکې وويل:

> ″د کورنيو يا قبيلو يا قومونو تر منځ د انتقامي وژنو وروسته د دښمنيو لړۍ دوام مومي. د انتقامي وژنو د لړۍ د دوام اصلي لامل دا دې چې د بشري حقونو د تيرو سرغړونو او د روانو انتقامي وژنو په تړاو مرتکبين عدالت ته نه دي را کښل شوي.″

محلی شورا ګانې يا جرګې هڅه کوی څو د انتقامی وژنو مسله هواره کړی. د شورا ګانو او جرګو د مشرانو لپاره تر ټولو ښه حل لاره د بد په بدل کې د قرباني شخص کورنۍ ته د مرتکيب د کورنۍ د نجلۍ ورکول دی. د مرتکيب شخص د کورنۍ نجلۍ د هغې د

---

[۹]. انتقامي وژنې په دې مانا چې يو څوک د يو چا د کورنۍ غړی يا نږدې خپلوان ووژنې، د پښتونولۍ د عنعنوی اصولو پر بنسټ يو شخص کولای شی قاتل يا د هغه نږدې خپلوان ووژنې. په تيرو وختونو کې، د پښتونولۍ اصولو د قاتل د کورنۍ د مشر د وژلو او يا د قاتل د کورنۍ د بل هر غړي د وژلو جواز ورکاوه. اوس، دا يواځې د قاتل تر وژلو پورې محدود پاته شوی.

رضایت پرته د قربانې شخص د کورنۍ د یوه شخص سره (اکثرا د یوه زاړه شخص سره) واده کوی. دا نجلۍ ټول ژوند د خشونت د دغې بدې حلقې په دننه کې رنځ وړي.

## ۴. د سولې لپاره طرحه:

د ګروپې خبرو اترو په جریان کې، د کاپیسا ولایت ګډونوالو د شخړو د اصلې لاملونو او محرکو د ځوابولو په موخه او د دې په خاطر چې په ولایت کې پایښت لرونکې سوله تامین شی یو شمیر خاص ځایې نوښتونه پیژندلې دی. وړاندیز شوې محلی نوښتونه د ولسوالې او ولایت په کچه یو شمیر ستراتیژیک نوښتونه په بر کې نیسی چې باید په سیاسی، (ملکی، قضایې، پوځې او پولیسو) اداري او اقتصادی(پراختیا او د کارونو د را منځ ته کولو) سکټورونو کې پلې شی. د دې سربیره، د یاغیانو سره د خبرو په موخه او د سولې د تامین لپاره هڅوی یو لړ اقداماتو د نیولو سپارښتنې کړې.

### د محلي حکومتولي، امنیت او ټیکاو پیاوړي کول:

**عام شموله او استازیتوب کونکې اداره:** ولایتی او د ولسوالې د کچې اداره له هیڅ اړخه عام شموله نه ده. ځکه نو، باید یوه ولایتی او د ولسوالې د کچې عام شموله اداره را منځ ته شی. ټولې اداري او ریاستونه باید په ولایت کې د ټولو سترو قومې ډلو د استازیتوب څخه ډاډ حاصل کړی: د هغو د وګړو په تناسب، پښتانه، تاجک او عرب. په ټولو ادارو کې باید د هرې ولسوالې د (جغرافې) څخه استازیتوب وشی. د استخدام په چارو کې د واسطې فرهنګ، په ځایې موضوعاتو کې د ولایتې قدرت د دلالانو مداخلې، د کلیدی چارواکو او د قانون د پلې کونکو ادارو د ټاکنو په شمول، او قومی او د سیاست پر بنسټ تبعیض ته باید د پای ټکی کښیښودل شی. د تګاب د ولسوالې د شورا یوه تن غړې د ۲۰۱۳ کال د جون په ۲۶ وویل چې:

> ″ولایتي اداره د تګاب او الا ساي ولسوالیو ته د ولایتي اداري د یوې برخې په سترګه نه ګوري. که چیرې ولایتي اداري دغو دواړو ولسوالیو ته د خپلو برخو په سترګه کتلای نو په ولایتي او د ولسوالې په کچو په اداره کې به د تګاب او الا ساي د ولسوالیو څخه هرومرو چا حضور درلود. موږ په ولسې او مشرانو جرګو کې هم د دغو دوو ولسوالیو څخه څوک نه لرو. له نیکه مرغه، د ولایتي شورا د نهو غړو څخه یواځې یو تن د تګاب د ولسوالې څخه دی. نو، زموږ استازیتوب چیرې دی؟ موږ نه پوهیزو چې دا دولت د چا د ی. دا زموږ نه دی. زموږ سره یې توپیرې چلند کړی.″

دولت باید د رای اچونې د مرکزونو د پرانیستلو لپاره بې سارې هڅې ترسره کړی او باید د ولایتی شوراګانو، ولسمشریزو او ولسې جرګې د ټاکنو پر مهال په دغو دریو نا امنه ولسوالیو کې اساسی دیموکراتیکه فضا را منځ ته کړی. د بیلګې په توګه، په ۲۰۰۴ کال کې،

کله چې په دغو دریو ولسوالیو کې امنیت نسبتا ښه وو، د دغو ولسوالیو څخه په ولایتی شورا کې ۶ او په ولسی جرگه کې دوه تنه غړی وو. د ۲۰۰۹ کال د ولایتی شوراگانو په ټولټاکنو کې د دغو دریو ولسوالیو څخه د ولسی جرگې لپاره هیڅ کاندید هم و نه ټاکل شو. د ا ځکه چې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو په ټاکنو کې د الا سای په ولسوالۍ کې د رای اچونې هیڅ مرکز نه و پرانیستل شوی، د تگاب او نجراب په ولسوالیو کې یواځې یو څو مرکزونه پرانیستل شوې و او د امنیت د نه شتون په بهانه یې یو شمیر رای ورکونکی د رایو او انتخاب د حق څخه محروم کړل.

**د وړتیا پر بنسټ گمارنه:** د گمارنې اوسنۍ پروسه، په خاص ډول، په مهمو کلیدی موقیفونو کې، داسی طرح شوې څو د قدرت مهمو ولایتی او د ملی زورواکانو په منځ کې پوستېونه وویشی. دلته د زده کړې او اړوندو مسلکی تجربو لپاره کمه یا هیڅ اړتیا نه لیدل کیږی. د د ې په نتیجه کې، د قانون د انفاذ او قضا په شمول، په ولایتی اداره او د ولسوالۍ په اداره کې پخوانې جهادیان او مذهبی خلک په دندو گمارل شوې. د PAR (شخصی روانې ارزونې بیا کتنه) پروسه په موثر ډول نه ده عملی شوې. دا پروسه د لوړې کچې پوستېونه تر هدف لاندې نه نیسی، پریکړې یې نه عملی کیږی، دیره سسته او کمزورې ده. دا پروسه باید د یوه نوې سیستم په واسطه پیاوړې یا له سره بدله شی او د ولایتی او د ولسوالۍ په کچه د مشرتابه د موقیفونو په شمول د وړتیا پر بنسټ د گمارنو ، او په عین حال کې د قومی او جغرافیایې استازیتوب څخه ډاډ حاصل شی. د دوهم کوهستان د ولسوالۍ د یوې ځایې آیف ایم راډیو یوه خبریال وویل چې:

> ″د دوهم کوهستان ولسوالۍ ولسوال څوک چې د وړتیا پر بنسټ د گمارنې د پروسې له لارې ټاکل شوی و، د ۲۰۱۳ کال د جنورې په ۲۰ د خپلو مسولیتونو د ترسره کولو لپاره د ولسوالۍ مرکز ته په لار و ووژل شو. نوموړی د دې لپاره چې د کوم سیاسي گوند یا د قدرت د د لالانو سره تړلی نه و، ووژل شو. نوموړی په حقیقت کې د قدرت د هغو ځایې دلالانو له خوا چا چې دې نه خوښاوه ، و ووژل شو. خو له بده مرغه، طالبانو په دروغو د دې پیښې مسولیت ومانه. دا د دولتي لوړ رتبه چارواکو د گمارنې په پروسه کې د ستونزو جدیت په گوته کوي.″

**د بهتر شویو خدمتونو رسول:** د دې په خاطر لکه څنگه چې په قانون کې تشریح شوې څو په وخت سره خدمتونه ترلاسه شی، شخص باید چارواکی یا ځایې قدرت لرونکی کسان و پیژنی یا بډې ورکړی. که نه نو، د دولتی چارواکو څخه د اساسی خدمتونو لکه پیژندپاڼې، پاسپورټ، د موټرچلولو او روزنو د چارو د جوازونو د تر لاسه کولو لپاره ورځو ورځو ته اړتیا ده. د یوې دولتی چارواکې یا اداري څخه د خدمتونو د ترلاسه کولو په موخه کلیدی

معیار د قدرت د مشخصو دلالانو څخه د بډو یا ملاتړ ترلاسه کول دی، په دې اړه قوانین او لارښودونه موجود دی. خو پلې کيږی نه. د وزارتونو لخوا اعزام شوې نظارت کونکی هم د دغو لارښودنو د پلې کولو د کنترول او نه کنترول او دا چې خلک په وخت سره خدمتونه ترلاسه کوی یا نه هم د ولایتی چارواکو څخه د نظارت کونکو په حیث بدې اخلی. دغه کار، دا جوته وی چې ټول سیستم د ادارې فساد په قید کې بند دی. که چیرې دولت، خصوصی سکتور، مدنې ټولنه او رسنۍ د یو بل سره کار وکړی، کیدای شی د ادارې فساد سره د مبارزې د چارو په برخه کې مرسته وکړی.

**دمحلي حکومتداری تقویه کول:** د قضایې کارکونکو غړی (څارنوالان او قاضیان) نا امنه ولسوالیو ته نه ځی. د ولسوالیو ولسوالان دومره تعلیم او مهارتونه چې وکولای شی د ځایې ټولنو او متنوع ټولنو سره له نږدی کار وکړی، نه لری. هغوی په نا امنه ولسوالیو کې نه اوسیږی. د د ې په نتیجه کې، خلک عدالت ته د رسیدو په موخه طالبانو ته مراجعه کوی. د ې ته باید ځواب وویل شی.

**د ادارې فساد په وړاندې کمباین:** دا د افغان ملی پولیسو او څارنوالانو دنده ده تر څو د ادارې فساد په حواله شکایتونه او دوسیې تعقیب او وڅیړې، خو هغوی خاص مهارتونه نه لری او د راپورونه سره سم هغوی په خپله په فساد کې ښکیل دی. ځکه نو، د ادارې فساد د ادعاوو او دوسیو د تعقیب او څیړنې په موخه ولایت یوه خاص میکانیزم ته اړتیا لری. د ادارې فساد په وړاندې عالی کمیشنر او د لوی څارنوال د دفتر د ادارې فساد په وړاندې ریاست یواځې په مرکزې کچه شتون لری خو په ولایتی کچه شتون نه لری. هغوی باید په ولایتونو کې هم دفترونه پرانیزی.

امنیتی ځواکونه او د هغو د حساب ورکونې څخه ډاډ: ګډونوالو په هغو سیمو کې په کومو کې چې پخوانی جهادی قومندانان واکمن دی د افغان ملی پولیسو او افغان ملی پوځ د قوی حضور غوښتنه وکړه. په دې سره به پخوانی جهادیان او د هغوی ملیشاوې بې وسلې شی. په ورته ډول، په دغو دریو نا امنه ولسوالیو کې باید د افغان ملی امنیتی ځواکونو قوی حضور هم را منځ ته شی. دولت باید د دغو ولسوالیو د کنترول په موخه له یوې روښانه غوښتنې سره میدان ته را ودانګی او د خپلو خدمتونو رسول پراخ کړی. د بیلګې په توګه، د الا سای په ولسوالې کې، له ۲۰ څخه زیات افغان ملی پولیس د ولسوالې په مرکز کې شتون نه لری. ولسوالې همدارنګه افغان ملی پولیسو او افغان سیمه ییزو پولیسو ته اړتیا لری. په ولسوالې کې د افغان ملی امنیتی ځواکونو د نه شتون له امله د طالبانو فعالیتونه زیات شوې او د دې په نتیجه کې ځایې خلک د دولتی خدمتونو څخه لا محرو م شوې. د بشری حقونو د سرغړونو یو شمیر شکمن افغان سیمه ییز پولیس نه

دی نیول شوی یا تر عدلی تعقیب لاندې نه دی نیول شوې. د پولیسو او پوځې عدلی تعقیب مشر باید د افغان سیمه ییزو پولیسو د حساب ورکونې څخه ډاډ حاصل کړی.

**د جهادی قومندانانو په شمول د نا قانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول او حساب ورکونه:** ولایت داسی یوې نوې پروژې ته چې وکولای شی د پخوانیو جهادی قومندانانو په شمول نا قانونه وسله والې ډلې بې وسلې کړی، اړتیا لری. د ډایاګ پخوانۍ پروګرام د جهادی قومندانانو د بې وسلې کولو په برخه کې پاتې راغلی ځکه چې هغه یواځې د وسلو د سوداګری په یوه ګټور پروګرام اوښتی و. د بیلګې په توګه، که چیرې د نا قانونه وسله والې ډلې یو قومندان د ډایاګ پروسې ته لس میله وسله وسپارې نو نوموړی به د زرګونو ډالرو په ارزښت پروژې ترلاسه کړی. په داسی حال کې چې د ډایاګ پروسو ته د ورسپارل شویو لسو میلو وسلو ارزښت ښایې یواځې یو څو زره افغانی وی. د دې په نتیجه کې، ریښتنې وسلې د جهادی قومندانانو سره پاته شوې، زړې او له کاره لویدلې وسلی د ډیاګ پروګرام ته سپارل شوې. اوس دوی هغه فعالې وسلې د خپلو سیالانو په وړاندې کاروی او په ولایت کې خشونت او نا امنی را منځ ته کوی.

**د مدنې ټولنې او د رسنیو د نقش پیاوړی کول:** د کاپیسا په ولایت کې د مدنې ټولنې هیڅ سازمان یا رسنۍ د قدرت د ولایتی دلالانو په وړاندې په ازاده توګه خبری نه شی کولای. د بیان ازادی ډیره محدوده ده. د رسنیو کارپوهان د قدرت د ولایتی دلالانو او مهمو دولتی چارواکو په وړاندې حتی د معقولو او مشروع نیوکو د خپرولو په خاطر ګواښونه تر لاسه کوی. په ولایت کې د ځایې رسنیو شتون ډیر محدود دی: یواځې دوه محلی ایف ایم راډیوګانې او یوه اونیزه(د کاپیسا اونیزه) شتون لری.

**د دولت ضد عناصرو سره ځایې منځګړیتوب:** دا به ښه وی چې د وسله والو مخالفو ډلو سره د بیګانه وو پر ځای د منځګړیتوب چارې او خبرې اترې د ځایې خلکو لخوا ترسره شی. دا پروسه باید د افغانانو تر رهبری لاندې او افغانی بڼه ولری. د دولت ضد عناصرو سره د سولې په راوستلو کې د درناوی وړ مذهبی مشرانو نقش ډیر مهم دی. سره له دې هم دولت د سولې د سفیرانو په حیث د مذهبی مشرانو ټاکلو ته پوره پام نه اړوی. د تګاب د ولسوالې د ولسوالې د شورا یوه تن غړې د ۲۰۱۳ کال د جون په ۲۶ وویل چې:

> ”زه به ووایم چې په ولایت کې مذهبي مشران هم د سولې د مسلې پر سر تقسیم شویدي. لومړی باید هغوي د سولې او هغو لارو چارو پر سر چې څنګه کیدای شي سوله را منځ ته شي، خبرې اترې ترسره کړي او موافقه پرې وکړي. د سولې د پروسې پر سر د طالبانو په منځ کې اختلافاتو د عادي افغانانو تر منځ، په خاص ډول د هغو کسانو په منځ کې چې په لرې پرتو سیمو او عنعنوي ټولنو کې ژوند کوي، یو ډول مغشوشوالی را منځ ته کړی.“

د سولې د موجوده ولایتی شورا غړی نه شی کولای نا امنه سیمو ته سفر وکړی ځکه چې هغوی ته د وسله والې شخړې د ټولو ښکیلو ډلو لخوا درناوی نه کیږی. د سولې د ولایتی شورا رییس د درناوی وړ شخص دی. ښکارې چې دولت په ریښتیا سره نه غواړی چې د سولې کومې خبرې دې ترسره شی، خو غواړې ټولنې وویشی او اداره یې کړی. دا البته د دولت مسولیت دی چې په ملې او لوجستیکې لحاظ(د لاسرسی، سولې د پوستړونو، د ملاقاتونو د لګښتونو او هر ډول نورو عملیاتې لګښتونو د چارو په هدف تمویل) د سولې د پروسې څخه ملاتړ وکړی. د کاپیسا ولایت د دوهم کوهستان د ولسوالۍ څخه د پوهنتون یوې ښځینه محصلې د ۲۰۱۳ کال د جون په ۵ وویل چې:

"هیڅوک حق نه لري چې د جنایتکارانو سره خبرې اترې وکړي. جنایتکاران باید ونیول او تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي. د منځګړیتوب خبرې اترې باید یواځې د مخالفو سیاسي ډلو سره ترسره شی. یو وار بیا، د منځګړیتوب په نوم، باید د مخالفو سیاسي ډلو غړو او مشرانو ته که چیرې هغوی هر ډول جدې سرغړونې، د بیلګې په توګه، په تیرو وختونو کې ځانمرګې بریدونه ترسره کړې وي په بشپړه توګه عفو نه شي."

**د بشري حقونو او د قانون د حاکمیت ترویج او د معافیت له منځه وړل:**

"د زده کړې حق، د کار حق، د مناسبې روغتیا پالنې حق، د ښځو په وړاندې خشونت، په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو ساتنه او عدالت ته لاسرسی په ولایت کې د بشري حقونو مهمې اندیښنې دي. نیستي او اداري فساد هغه نورې مسلې دې کومې چې ځایې خلک متاثره کوي. د طالبانو د یاغیتوب او د دولت د نه شتون له امله د دغو حقونو وضعیت په نا امنه سیمو کې بدتریږي."

که چیرې دولت وکولای شی په نا امنو سیمو کې د روغتیایې او د ښوونې او روزنې د خدمتونو د را منځ ته کولو له لارې خپل کنترول پراخ کړی او که چیرې دلته د زیربنایی پروژو په شمول چې وکولای شی کارونه را منځ ته کړی سترې پراختیایې پروژې را منځ ته شی، دا به د بشری حقونو د وضعیت د ښه کولو سره مرسته وکړی. دولت باید د ښو خدمتونو د را منځ ته کولو په موخه د ښوونکو او روغتیایې کار پوهانو په روزنه تمرکز وکړی. د طالبانو د نفوذ له امله په الا سای او تګاب ولسوالیو کې د نجونو هیڅ ښوونځی فعال نه دی. د قضا په دننه کې هم باید پراخیدونکی اداری فساد له منځه یوووړل شی. د جرم د تحقیقاتو او د توقیف شویو کسانو د حقونو په اړه د نویو تخنیکونو په هکله باید افغان ملی پولیسو ته روزنې ورکړل شی.

دولت باید د ښځو او نجونو په وړاندې د ضررلرونکو عنعنوی فعالیتونو په اړه او همدارنګه د ښځو په وړاندې د خشونت د قانون د شته والې په هکله په ټولنو کې پوهاوی لوړ کړی. پولیس، څارنوالان او محکمې باید د ښځو په وړاندې د خشونت او د ښځو پر علیه د تاوتریخوالې د منع د قانون پر اساس تورن تر عدلی تعقیب لاندې ونیسی. د افغان ملی پولیسو کورنی واحد باید پیاوړی شی(مهارت لرونکی کارکونکی او د دندو او ضوابطو قوی لایحه).

د وسله والو ځواکونو غړی(د افغان سیمه ییزو پولیسو په شمول) پخوانې جهادی قوماندانان او هغه مرتکبین چې د قدرت د ولایتی دلالانو سره تړاو او خواخوږی ولری د سرغړونو او جرمونو د ارتکاب په صورت کې باید تر عدلی تعقیب لاندې ونیول شی. د قانون د انفاذ (د مهمو کلیدی چارواکو او د قدرت د ولایتی دلالانو له خوا) او د محکمو د موضوعاتو په اړه (د افغان ملی پولیسو او څارنوالانو) له خوا سیاسی مداخلې باید پای ته ورسیږی.

په بشری حقونو تیرې جدی او سرغړونې باید وڅیړل او تعقیب شی. د معافیت کلتور باید ختم شی. دا به د انتقام اخیستلو ناوړه دورې ته د پای ټکې کیږدی. په ورته وخت کې باید د پولیسو، څارنوالانو او محکمو په دننه کې د ادارې فساد سره مبارزه وشی.

افغان ملی امنیتی ځواکونه او ایساف باید د چګړې بې توپیره تاکتیکونه و نه کاروی، د بیلګې په توګه، په کلیو د راکټونو توغول. هغوی باید همدارنګه د شپنیو تلاشې ګانو پر مهال قوانین رعایت او د کلتوری حساسیتونو او د ملکی کسانو او توقیف شویو کسانو د حقونو درناوی وکړی.

**د ټولنیزې او اقتصادې پراختیا تحقق:** امنیت او پراختیا باید یو ځای پر مخ یووړل شی. د ډیرې مودې راهیسې په دریو نا امنو ولسوالیو کې، هیڅ ډول پرمختیایې پروژې په نظر کې نه دې نیول شوې. د دغو نا امنو ولسوالیو او د هغو د وګړو(پښتنو او پشه یانو) په وړاندې تبعیض په خپل حالت پاته شوې.

په اوس حال کې، د الا سای په ولسوالې کې د نجونو هیڅ ښوونځې فعال نه دی. د تګاب په ولسوالې کې هم همدارنګه د نجونو زیاتره ښوونځې تړلې دی. دا د طالبانو د مخ پر زیاتیدونکې یاغیتوب له امله را منځ ته شوې خو دولت هم باید د دې ولسوالیو د کنترول په موخه ریښتنې اراده ولری.

شمالی ولسوالی ګانې پوهنتون، ښوونځی، روغتونونه او مدرسی لری خو په جنوبی ولسوالیو کې بیا دا موجود نه دی. ځکه خو په دې دریو جنوبی ولسوالیو کې باید امنیت او پراختیا

یو ځای تطبیق شی. دا به همدارنګه د ځوانانو لپاره کارې فرصتونه را منځ ته کړی او د طالبانو لپاره به د ځوانانو د نوې استخدام د مخنیوی له چارو سره مرسته وکړی.

**د سولې فعالینو او تخریبونکو ته رسیدنه:** د پارلمان د پخوانیو او اوسنیو غړو، د کاپیسا د ولایت څخه د ولسمشر د مشاورینو، مهم ولایتی چارواکو(لکه والی، د ولایتی شورا د مشر، د افغان ملی پولیسو او ملی امنیت د ادارې د مشرانو او د سولې د ولایتی شورا د مشر نظرونه باید همیشه هغه وخت وپوښتل شی چې کله هم په ولایت کې د پایښت لرونکې سولې د را منځ ته کولو په لارو چارو او میکانیزمونو سلامشورې ترسره کیږی.) که چیرې قانون پلې شی، د بشری حقونو درناوی وشی، ادارې فساد له منځه ولاړ شی، د قانون حاکمیت تامین شی، پرمختیایې پروګرامونه پلی شی، د امنیت او سولې پروګرامونه په محتاطانه ډول طرح شی او د ټولو سترو فعالینو سره تطبیق شی، پایښت لرونکې سوله به تر لاسه شی.

## ۵. د خلکو سپارښتنې:

**د محلی دولتي ادارو پیاوړي کول:** (۱) د دولت په ټولو برخو کې د وړتیا پر بنسټ د ګمارنو او شمولیت څخه ډاډ (قومی او جغرافیایې)، (۲) د کاپیسا ولایت د سولې شورا د موجوده غړو په عوض باید د درناوی وړ مشران وټاکل شی تر څو په دې پوه شی چې محلی طالبان په ریښتیا سره څه غواړی، او وکولای شی د هغوی سره خبرې وکړی. بیا د طالبانو غوښتنې تحلیل کړی او په تدریج سره د هغوی د مشروع غوښتنو د پلې کولو په برخه کې عمل وکړی، (۳) د چلند او انظباط په اړه د ملی امنیتی ځواکونو روزنه (افغان ملی پولیس، افغان ملی پوځ، افغان سیمه ییز پولیس او د ملی امنیت اداره) او د سرغړونو د ارتکاب په صورت کې د هغوی د احتساب څخه ډاډ، (۴) په ټولو کچو کې په عصری او علمی ښوونه او روزنه باندې د موجوده معارف سیسټم اړول، (۵) دولت باید د تګاب، الا سای او نجراب د ولسوالیو په شمول د ټولو ولسوالیو د کنټرول په موخه هڅه وکړی، (۶) د اداری فساد په اړه د معلوماتو د راغونډولو په موخه د استخباراتی او کشفی ریاستونو پیاوړی کول، (۷) د مدنې ټولنې ملاتړ تر څو دا ټولنه وکولای شی د اداری فساد او سولې په وړاندې مدافعه را منځ ته کړی، (۸) د ملایانو په ملاتړ د کلتوری اصلاحاتو پیلول، د دې په خاطر چې د خشونت د دې بدنامی حلقې سره مبارزه وشی ، ضرر لرونکی عنعنوی فعالیتونه او انتقامی وژنې باید هدف وګرزول شی، او (۹) والی، د هغه اداره او ملی امنیتی ځواکونه باید د قدرت د ولایتی دلالانو د ساتنې پر ځای د عامو وګړو ساتنه هم وکړی. (۱۰) د حکومت د شفافیت او حساب ورکونی څخه اطمینان حاصلول .

**د سولې او پخلاینې د پروسې د شمولیت ملاتړ:** د سولې په اوسنۍ ولایتی شورا کې باید نورو با نفوذه مذهبی او سیاسی اشخاصو ته ځای ورکړل شی کومو ته چې د ټولنې لخوا د

وړ کسانو په سترګه کتل کیږی او د دې وړتیا لری تر څو د سولې په رابطه د محلی طالبانو سره خبرې وکړی.

**د بشري حقونو، قانون د حاکمیت ترویج او د معافیت له منځه وړل:** (۱) د قومی او جغرافیایې بڼو په شمول، د تبعیض د ټولو بڼو بندول، او د تبعیض په وړاندې د هڅو ترویج،(۲) د تیرو جدی بشری حقونو د سرغړونو لپاره د عدالت څخه ډاډ او د روانو سرغړونو او تیریو لپاره د معافیت پای ته رسول، دا به همدارنګه خلک د انتقامې وژنو څخه هم منع کړی، (۳) د ټولنو او د ټولنو د مشرانو په منځ کې د ښځو او نجونو د حقونو په شمول د بشری حقونو ترویج، (۴) د ښځو په وړاندې د خشونت د دوسیو په هکله د جدی جرمونو د روانو خبرو اترو پر سر د څیړنو او عدلی تعقیب ضمانت، (۵) د اداري په شمول د ځوانانو د ګډون څخه د ډاډ حاصلول، (۶) د تګاب ، الا سای او نجراب د دریو ولسوالیو په شمول، په ولسوالیو کې د قضایې چارواکو د شتون څخه ډاډ تر څو هر چیرې او په هر وخت کې عدالت ته د لاسرسی څخه ډاډ حاصل شی، او (۷) د شفافیت څخه ډاډ حاصلول او د اداری فساد له منځه وړل.

**د ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا پیاوړتیا:** (۱) په نا امنو ټولنو کې، د بیلګې په توګه، د الا سای او تګاب په ولسوالیو او همدارنګه افغانیه او پچاغان او د نجراب د ولسوالۍ د غیین په درو کې د کار د را منځ ته کولو په موخه د پروژو اختصاص. (۲) د الا سای او تګاب په ولسوالیو کې د نجونو د تړل شویو ښوونځیو پرانیستل، او (۳) د ګلبهار دولتی نساجی فابریکې بیا پرانیستل (په تیرو وختونو کې، یادې فابریکې ۱۵۰۰۰ کارونه را منځ ته کړی وو).

# د پروان ولایت
# دسولي لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پيژندنه

دسولې دا ولايتي نقشه د اساسي مسايلو او مهمو پايلو يوه لنډيز ته چې په متمرکزو ګروپي مباحثو، انفرادي مرکو او د نظريو په سروې ګانو کې مطرح شوې او د پروان په ولايت کې د نږدې ۱۲۰ کسانو سره د سلا مشورو د پروسې پر مهال ترسره شوې چې په هغو کې د ځوانانو ډلې، ښوونکي، قضا، د مدني ټولنې فعالان، مذهبي علما، د ټولنې مشران، زده کونکي او يو شمير با نفوذه کسان چا چې په دغه ولايت کې د سولې لپاره د يوې طرحې د را منځ ته کولو په خاطر په پروګرام کې فعاله ونډه اخيستې شامل وو، اشاره کوي.

دا خبرې اترې د سولې د پروګرام په اړه د افغانانو د ډيالوګ د دوېيم پړاو د يوې برخې په حيث ترسره شوې کوم چې د مدني ټولنې د نږدې ۱۱ شبکو او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون په ګډون له خوا پيل شوې څو د نږدې ۴۵۰۰ عادي افغانانو سره مشورې ترسره کړې او د هر ولايت لپاره د سولې يوه طرح را منځ ته کړي.

## ۲. ولايتي انځور: جغرافيايي موقعيت جوړښت او سياسي وضعيت

د پروان ولايت د ۵۹۷۴ متر مربع مساحت په درلودلو سره يو ستراتيژيک ولايت دی چې د کابل په شمال کې موقعيت لري او په شمال ختيځ کې د پنجشير، په ختيځ کې د کاپيسا او په جنوب ختيځ کې د کابل او په جنوب لويديځ کې د ميدان وردګو، په لويديځ کې د باميانو او په شمال کې د بغلان د ولايتونو سره ګډه پوله لري. چاريکار د پروان ولايت مرکز دی او اته ولسوالۍ لري چې په لاندې ډول دي: سيد خيل،شيخ علي، شينواري، سرخ پارسا، سياه ګرد، کوه صافي، بګرام او سالنګ.

د مرکزي احصاييې د رياست د تازه اټکلونو (۲۰۱۲-۲۰۱۳) له مخې، د پروان ولايت د وګړو شمير ټولټال ۶۳۱۶۰۰ تنه دی.

د پروان ولايت د قومي ويش له مخې متنوع دی، تاجکان (۷۰) سلنه، پښتانه (۱۸) سلنه، هزاره(۱۱) سلنه او ترکان(۱) سلنه دي. پر دې سربيره، د شينوارو، بګرام او کوه صافي ولسواليو ته موسمي کوچيان کډه کيږي او ځينې يې د شينوارو په ولسوالۍ کې په دايمي توګه هستوګن دي.

که څه هم چې د پروان په ولايت کې د هيڅ ګوند دفتر شتون نه لري، خو سياست په عمومي توګه په دغه ولايت کې په حمايتي شبکو پورې تړلی. ولايتي سياسي تحرکات د پخوانيو مهمو جهادي ډلو تر منځ، د بيلګې په توګه، د اسلامي جمعيت ګوند او اسلامي ګوند، حرکت انقلاب اسلامي او اتحاد اسلامي ګوندونو تر منځ د تشنج په واسطه شکل نيسي.

د سالنګ د لویې لارې د شتون له امله، هغه عمومي لار چې کابل د شمال او شمال ختیځو نهو ولایتونو سره نښلوي پروان ولایت د ډېر مهم ستراتیژیک اهمیت څخه برخمن کړی. د کورنۍ جګړې پر مهال، د شمال د وادی یوه برخه چې په دی ولایت کې واقع شوې،د شمالي ټلوالې او طالب ځواکونو تر منځ د جګړې لومړۍ کرښه وه.

د نورو ولایتونو په پرتله د دغه ولایت امنیتي وضعیت نسبتا ارام دی، که څه هم د ۲۰۱۱ کال راهیسې، د دې ولایت درې ولسوالۍ د بیلګې په توګه، (سیا ګرد، او شینواری د غوربند په وادی کې او کوه صافی) د یاغیتوب سره د یو شمیر ترلو پیښو شاهدې وې او یادې ولسوالۍ بی ثباته بلل شوې. د کاپیسا د ولایت د تګاب د ولسوالۍ څخه د کوه صافی د ولسوالی په لور او د میدان وردګو د جلریز ولسوالۍ، او د بغلان د تاله او برفک د ولسوالۍ څخه د غوربند د ولسوالیو په لور د طالبانو د نفوذ د پراخیدو په هکله راپورونه موجود دی. د غوربند له لارې د بامیانو او د کابل تر منځ سړک د دولت ضد عناصرو او ناقانونه وسله والو ډلو له خوا بریدونو ته مساعد دی

**د یاغیتوب سره مرسته کونکی لاملونه:** د سیاسی تشنج او نژادی هویت تر منځ تداخل هغه عمده فاکټور دی چې د دی ولایت په نا امنو ولسوالیو کې د یاغیتوب د شتون سره مرسته کوی. د غوربند په ولسوالۍ کې،ځایی ټولنې په عنعنوی توګه د اسلامی ګوند سره خواخوږی لری او د طالبانو د رژیم پر مهال زیاتره د طالبانو د لیکو سره یو ځای شوې. د طالبانو د رژیم د نسکوریدو وروسته، د یاغیتوب لپاره خواخوږۍ دوام موندلی او د جمعیت ګوند/تاجکانو لخوا د ولایتی ادارې د کنټرول مسلې هغوی په غصه کړی او دیپکار د سیاسی تجرید او نژادی/جغرافیایی تبعیض په اړه د احساساتو د راپارولو سره مرسته کړې. که څه هم چې د غوربند ټولنې سره ورته نه بلکه په اصل کې متجانسې دی، په ولایتی کچه مشاهده شوی ویش هم د ولسوالۍ په دننه کې د لیدو وړ دی. د قدرت ستر دلالان، څوک چې د اسلامی ګوند سره خواخوږی لری د ټولنو لخوا په دواړو اړخونو کې په دې تورن شوی چې د موجوده نازک حالت څخه په ګټه پورته کولو سره غواړی خپلو سیاسی موخو ته ځان ورسوی. سیاسی تشنج هم تر یوې زیاتیپاندازې پورې (د قانونی او ناقانونه) سیاسی او اقتصادی سرچینو پر سر او همدارنګه د سیمه ییزو پولیسو د استخدام پرسر د سیالۍ د مسلې سره تړلی دی. د غوربند په دره کې زیاتره هزاره ګان په شیخ علی او کم کسان په سرخ پارسا کې استوګن دی او د مذهبی کرښو په شاخوا (سنی، شعیه او اسماعلیه) ویشل شوی او د اسلامی ګوند په شمول بیلابیلو ډلو ته وفادار دی.

د کوه صافی ولسوالۍ هم د کورنۍ جګړې پر مهال د جهادی ډلو تر منځ د اتحاد په تعقیب د داخل څخه ویشل شوې چې د دې ولایت یوه بله د تشنج نقطه ده. د جهاد پر مهال ولسوالۍ په سیاسی لحاظ متنوع وه، په دې کې د حرکت انقلاب اسلامی د قومندانانو

(په اوس حال کې په ولسوالۍ کې حاکمه ډله)، اسلامي ګوند(د ګلبدین حکمتیار او خالص ډلې) جمعیت اسلامي او د اتحاد اسلامي ګوندونو ونډه درلودله. د داخل څخه دغه ویش د ځايي ټولنو مخه نیولې څو د ۲۰۰۱ کال را وروسته ټاکنو پر مهال سره متحد شي او په ولایتي کچه د هغوی نمایندګي وکړي، همدارنګه ویل کیږي چې ځینې پخوانی جهادي قومندانان د یاغیتوب ملاتړ کوي چې زیاتره ځوانان خپلو لیکو ته جذبوي. د تاجکو/او د شمالي ټلوالې د حاکمې ولایتي ادارې او د ولسوالۍ د پښتنو وګړو تر منځ په ولایتي کچه را منځ ته شوې نا امني د داخلي اختلافونو له امله له بده بدتره شوې او دا د تجرید کیدلو احساسات لا غښتلي کوي. جغرافیایي موقعیت اکثره نفوذ ته لار هواره کړې: د غوربند دره د شمال او جنوب تر منځ د ترانزیتي لار په حیث کاریدلې او په بغلان کې د تاله و برفک او په میدان وردګو کې د جلریز د ولسوالیو سره ګډه پوله لري. کوه صافي په کاپیسا ولایت کې د تګاب د ولسوالۍ سره ګډه پوله لري او دا د دولت ضد عناصرو لپاره د خوځښت لار برابروي او په دې کې د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ هم شامله ده.

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ټمونې او انګیزې

د ډلو د خبرو اترو پر مهال، د پروان په ولایت کې د ټولنو غړي، طالبان، د حکمتیار اسلامي ګوند، ناقانونه وسله والې ډلې، جنایتکاران، فاسد حکومتي چارواکي او ځینې ځايي مشران د شخړې اصلي فعالین بولي. د پروان په ولایت کې، طالبان د اسلامي ګوند څخه جلا فعالیتونه نه لري، وسله والې ډلې یو د بل سره اړیکې لري. که څه هم چې دا روښانه ده چې په ولایت کې طالبان ډیر غښتلي دي ځکه نو اسلامي ګوند د طالبانو د لارښوونې لاندې فعالیت کوي.

ځینې ګډونوال ادعا کوي چې د ځايي سیاست تر څنګ د طالبانو او دولت ضد عناصرو په فعال ملاتړ کې بهرني جنګیالي او بهرني هیوادونه هم ښکیل دي. د ټولنو غړي په دې نظر دي چې د غوربند په دره کې کنترول د پاکستاني طالبانو په واک کې دی او افغان طالبان د هغوی تر لارښوونې لاندې کار کوي. د ټولنو غړي ادعا کوي چې یو شمیر نور هیوادونه د وسلو او مالي ملاتړ د برابرولو له لارې او همدارنګه په پاکستان کې روزنیزو کمپونو ته د لاسرسي په شمول د یاغیتوب د فعالیتونو سره مرسته کوي څو د طالبانو او دولت ضد عناصرو د بریالیتوب څخه ډاډ حاصل کړي.

خلکو په ډاګه کړې چې د غوربند په دره کې امنیتي وضعیت د یاغیتوب د مخ پر زیاتیدونکي فعالیتونو او د پولیسو په پوستو باندې د بریدونو په شمول د خرابیدو په حال کې دی او دا په ملکي کسانو باندې ژورې اغیزې پریږدي. د ټولنو غړو هم په بګرام کې د پوځي اډې د شتون په اړه کومه چې د دولت ضد عناصرو لخوا په مکرر ډول تر هدف لاندې نیول کیږي خپلې اندیښنې په ډاګه کړې. هغوی شکایت کوي چې کله نا کله د

دولت ضد عناصر راکښونه توغوی او په هدف نه لګیږی چې په پایله کې بی ګناه ملکی کسانو ته زیان اوړی.

خلکو یادونه کړې چې ناقانونه وسله والې ډلې او د شخړې فعالین د سولې لپاره کومه اجنډا نه لری. د هغوی یوازینۍ موخه د شخړې را منځ ته کول او د را منځ ته شوی تشنج څخه د سیاسی او اقتصادی لاسته راوړنو د ګټې پورته کول دی. د هغوی د ادعا پر بنسټ ځینې کسان غواړی یوازی شهرت تر لاسه کړی.

د ګروپی خبرو اترو له لارې،خلکو د شخړې او ځایی منازعو بیلابیلې نمونې پیژندلی کومې چې ښایی په سیمه کې سوله او ټیکاو متاثره کړی، د بیلګې په توګه، د طالبانو او نا قانونه وسله والو ډلو ویجاړونکی فعالیتونه، په خاص ډول د غوربند په دره کې قومی تشنج، د ځمکو پر سر شخړې او جنایی عملونه.

دوی د حکومت کمزوری، نا مسلکی توب،معتاد شوی پولیس، د قانون د حاکمیت نه شتون او مخ پر زیاتیدونکی معافیت، د حکومت او د پروان د خلکو تر منځ واټن،قوم پالنه، اداري فساد او د سولې او پخلاینې د پروګرام کمزورتیا، د نورو هیوادونو لخوا مداخله، بې سوادی، بې وزلی او د کاری فرصتونو نه شتون د شخړې مهم لاملونه بللی دی.

**د شخړو ځانګړی لاملونه:** د پروان ولایت د کابل په شمال کې موقعیت لری او یاد ولایت د سالنګ د لوې لارې د شتون له امله چې کابل د نهو شمالی ولایتونو سره نښلوی، د زیات ستراتیژیک اهمیت څخه برخمن دی. د دولت ضد عناصرو موخه د ستراتیژیکی لارې بی ثباته کول دی څو د سیمې کنترول تر لاسه او په دې توګه د هیواد شمالی او مرکزی سیمو ته لاسرسی پیدا کړی.

د خلکو او سولې په وړاندې اصلی اندیښنه او ګواښ د طالبانو او د نا قانونه وسله والو ډلو مخ پر زیاتیدونکی شتون او د هغوی ویجاړونکی فعالیتونه دی. د پروان په ولایت کې، په خاص ډول د غوربند په دره او کوه صافی کې، طالبان او نورې ناقانونه وسله والې ډلې د یو بل سره همکاری کوی او د حکومت لپاره غیر ممکنه کوی څو په دې روانه جګړه کې بریالی شی. طالبان، اسلامی ګوند او جنایتکاران په فعاله توګه فعالیت کوی او سیمه ییز حکومت د هغوی د فعالیتونو د درولو توان نه لری.

د سلامشورو په یوه ناسته کې د سیاګرد د ولسوالی څخه د ټولنې یوه غړی وویل:

> "د سیاه ګرد په ولسوالۍ کې نږدې دوه کاله د مخه یوازې یو څو طالبانو فعالیت کاوه. حکومت په اسانۍ سره کولای شوای سیمه د هغوي د شتون څخه پاکه کړي، د کمزورتیا او نه پاملرنې له امله د ورځو په تیریدو د طالبانو

په شمیر کې زیاتوالی راغلی، په اوس حال کې په ولسوالۍ کې د طالبانو شمیر د ۴۰۰ کسانو څخه زیات دی.″

په پروان کې د غوربند ولسوالی ورو ورو د طالبانو په اډه بدلیږي. د تیرو دوو کلونو پر ترڅ کې د طالبانو واک تر زیاتې اندازې زیات شوی، په دې سره د غوربند په دره کې د شینوارو او سیا ګرد د ولسوالیو لپاره د تش په نوم ولسوالانو د مقررۍ لار هواره شوې. په اوس حال کې هغوی په سلګونو وفاداره او با اعتباره جنګیالي لري. د هغوی ویجاړونکی فعالیتونه، د بیلګې په توګه، په ۲۰۱۲ کال کې د بامیانو د ولایتی شورا د غړي وژل، په شینوارو ولسوالۍ کې د یوې ښځې په عام محضر کې اعدام، په دولتی تعمیرونو او پوځی کاروانونو بریدونه او په خلکو باندې د طالبانو د جدی قوانینو پلی کول د غوربند په دره کې د هغوی د فعال شتون بیلګې په ګوته کوي. د حکمتیار اسلامی ګوند هم په پروان کې د طالبانو تر لارښوونې لاندې فعالیت کوي. دواړه ډلې په پښتون قوم پورې تړاو لري او په ایدیالوژیکی لحاظ په ورته ډول فکر کوي. دواړه ډلې تقریبا ورته موخې لري، یعنی د یوه سخت دریځه اسلامی حکومت را منځ ته کول او په واک کې پاتې کیدل دی.

**د شخړې اصلي سرچینې:**

- د حکومت کمزورتیا او همدارنګه د غیر مسلکی، معتادو پولیسو شتون د شخړې اصلی لاملونه دی او دا په پروان ولایت کې د ځایی شخړو لپاره لار هواره وی،
- د دې سربیره، د ټولنو غړی ادعا کوی چې ځینې چارواکی په فعاله توګه د دولت ضد عناصرو ملاتړ کوی او د جنایتکارانو او وسله والو ډلو سره پټې اړیکې لری،
- د ځمکو پرسر شخړه د پروان د ولایت په ځینو سیمو کې د مخ پر زیاتیدونکی خشونت لامل دی،

د ټولنې یوه غړی وویل:

″د قومي شخړې را منځ ته کول یوه سیاسي لوبه ده، د غوربند په دره کې د پښتنو زیاتره کلي د طالبانو تر نفوذ لاندې دي او سیاسیون هڅه کوي څو خلک په قومی کرښو و ویشی څو د پښتنو او تاجکو ټولنو تر منځ تشنج را منځ ته کړي. د خلکو په منځ کې د یووالی نه شتون د دولت ضد عناصرو لپاره یوه لویه لاسته راوړنه ده، په ځینو سیمو کې چیرې چې خلک متحد دي د طالبانو او دولت ضد عناصرو لپاره ستونزمنه ده چې سیمه کنترول کړي.″

- د قانون د حاکمیت نه شتون او په پایله کې معافیت د خلکو په منځ کې زیات تشنج را منځ ته کوی. د جنایی قضایی سیستم په دننه کې په خپله ډیرې ستونزې

موجودې دی چې د فساد په بڼه کې مشخصې شوی دی. قوانین یوازې د کاغذ پر مخ پراته دي او په مناسبه او مساوی توګه د پروان په ولایت کې نه پلی کیږي،

- د دې سربیره، خلک د افغان سیمه ییزو پولیسو او د افغان ملي پولیسو د فاسد او بې تهذیبه او بې ادبه سلوک په اړه شکایت کوي. هغوی ادعا کوي چې د پولیسو زیاتره کارکونکي نا لوستي او معتاد دي، د پولیسو ځینې غړي د جنایتکارانو او د دولت ضد عناصرو سره همکاري کوي او خپل ځواک څخه په ښکاره ناوړه کار اخلي. د دې علت د دولت لخوا د کمو تنخواوو ورکول دي او دا په ولایت کې د فساد لامل دی.
- د افغانستان د سولې او پخلاینې د پروګرام کمزورتیا هغه بله اندیښنه ده چې د ډلو د خبرو اترو پر مهال د خلکو لخوا مطرح شوې. د سولې د روانو نوښتونو لپاره کمزورتیا زیات محدودیتونه را منځ ته کړي. د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام د افغانانو تر رهبرۍ لاندې یو پروګرام دی خو دا پروګرام شفاف او روښانه نه دی. د ټولنو غړو شکایت کړی چې د سولې ولایتي شورا په ولسوالیو کې هیڅ ډول فعالیت نه لري، زیاتره خلک حتی د هغوی د سولې د ولایتي شورا استازي نه پیژني.
- پلټونکي او څارنوالان تر زیاتې اندازې غیر مسلکي کسان دي او په ولایت کې د قوانینو د پلي کولو په برخه کې پاتې راغي، یا خو هغوی په فساد ککړ دي او یا هم غیر مسلکي دي او یا هم دومره کمزوري دي چې په ولایت کې قوانین پلي کړي. په یقین سره، د جنایتکارانو لپاره معافیت یو ښه فرصت را منځ ته کوي. د اوسني رژیم پر مهال، یو شمیر زیات جرمونه واقع شوي خو په دې هکله هیڅ ډول قانوني اقدامات نه دي ترسره شوي او په دې سره هغه مجرمین چې د جزا څخه بچ شوي لا غښتلي شوي. معافیت د خلکو او دولت تر منځ لویه تشه را منځ ته کوي. د معافیت د کلتور له منځه وړل به د پروان د ولایت لپاره تر ټولو لویه لاسته راوړنه وي.

د کوه صافي د ټولنې یوه غړي په لاندې ډول و ویل:

> ”د کوه صافي په ولسوالي کې طالبان او د حکمتیار اسلامي ګوند د شخړې مهم لاملونه دي، خو افغان سیمه ییز پولیس هم په ولسوالي کې د یاغیتوب سرچینه ده. د کوه صافي د ولسوالۍ لپاره د افغان سیمه ییزو پولیسو د استخدام وروسته، امنیتي وضعیت ورځ تر بلې بدتر شوی. افغان سیمه ییز پولیس د خپل واک څخه ناوړه ګټه اخلي او د خلکو تر منځ تشنج را منځ ته کوي، د افغان سیمه ییزو پولیسو ځینې غړي څوک چې د کلیوالو سره شخصي

خصومت او دښمني لري ، هغوي د افغان وسله والو سيمه ييزو پوليسو په حيث د خپل نوي نقش څخه په ګټې اخيستنې سره د کليوالو څخه غچ اخلی.″

د چاريکار و ښار د مدنی ټولنې يوه تن فعال و ويل چې:

″جنايی فعاليتونه او معافيت په پروان کې د شخړې مهم لامل دی،جنايت په پروان کې زيات شوی او مرتکبين جګړه سالاران او وسله وال خلک دي، هغوي هر څه چې غواړي هغه ترسره کوي،هغوي شخصي ملکيتونه نيسي،هغوي خلک تښتوي او وژني، هغوي د ټولنو د غړو تر منځ هر ډول تشنج را منځ ته کوي، خو هغوي د جنايی فعاليتونو د ترسره کولو لپاره جزا نه ويني.″

د حج او اوقافو د رياست يوه تن استازی وويل:

″په پروان کې د شخړې يو لامل د کاري فرصتونو او فابريکو نه شتون دی. د مجاهدينو په دوران کې په جبل سراج ولسوالي کې د نساجۍ دوه سترې فابريکې موجودې وې. د خلکو لپاره د کاري فرصتونو را منځ ته کول ډير اړين دي او دا به د روانې شخړې د پاي ته رسولو په برخه کې ښې اغېزې ولري، کله چې خلک معاش او مالي ملاتړ ولري، هغوي به د دولت ضد عناصرو سره يو ځای نه شي. له بده مرغه، دولت دې ستونزې ته پام نه کوي.″

د ټولنو غړو همدارنګه ټينګار کړی چې د روغتيا پالنې مناسبو خدمتونو ته نه لاسرسی او د معارف ټيټ کيفيت هم د ټولنې د غړو تر منځ تشنج ته لار هواره وی. د ترينګلی امنيتی وضعيت له امله، کورنۍ په مشکل سره خپلو ماشومانو ته ښوونځی ته د تګ اجازه ورکوی ځکه چې ځينې ښوونځی د افغان سيمه ييزو پوليسو او افغان ملی پوليسو پوستو ته څېرمه موقعيت لری. د ماښام پر مهال، د شينوارو او سياه ګرد د ولسواليو د ټولنو غړی د طالبانو د شتون او ويرې له امله کلينيکونو ته مراجعه نه کوی.

د کوه صافی د ولسوالۍ يوه تن ځوان وويل:

″د کوه صافی ولسوالي د پروان په ولايت کې هغه يواځېنۍ ولسوالي ده چيرې چې د نجونو عالی ليسه شتون نه لري او نارينه زده کونکي هم د يو شمير زياتو ستونزو سره مخ دي، د ښوونځيو لپاره مناسب تعميرونه موجود نه دي او د معارف کچه په ډير ټيټ حالت کې ده، زما ورور په ۷ ټولګی کې دی، خو نوموړی نور نه غواړي ښوونځي ته لاړ شي. هغه د ځوکيو او ميزونو د نه شتون څخه سر ټکوي، خو موږ هغه په هر حال اړ ايستی چې ښوونځی ته لاړ شي.″

د سیاه ګرد ځخه یوه تن ملک په لاندې ډول وویل:

"په اوس حال کې طالبان د معارف په پروګرام کې مداخله نه کوي، خو د وخت په تیریدو سره به دې مسلې ته ځواب وویل شي چې کله دوي بشپړ واک تر لاسه کړي، بیا به هغوي خپله ریښتو نې ځیره را برسیره کړي، هغوي د بشري حقونو او مناسب معارف مخالف دي."

د سیاه ګرد د ولسوالۍ ځخه یوه تن مشر وویل:

"د سیاه ګرد ځخه دوه تنه بې روزګاره ځوانان د ولسوالۍ مرکز ته ولاړل او دولتي چارواکو ته یې وویل چې هغوي د طالبانو ځخه ستړي شوي، هغوي غواړي کار وکړي او سیمه پریږدي. کله چې دوي بیا خپل اصلي ټاټوبي ته راستانه شول نو طالبانو هغوي په لرګیو کلک وهلي. هلکانو نه شوای کولای چې د یوې اونۍ لپاره په پښو وګرزي."

## ۴. د سولې لپاره لارې نقشه

د پروان ولایت لپاره د تمرکز د ډلو د خبرو اترو پر مهال، ګډونوالو د سولې جوړونې یو شمیر ځایی عملی نوښتونه پیژندلی ځو په پروان کې د شخړې اصلی لاملونو ته ځواب ووایی. په دې کې د نورو شیانو تر ځنګ د قانون د حاکمیت د پیاوړی کولو چارې، د معافیت له منځه وړل، د ځایی کاری فرصتونو را منځ ته کول او د نا قانونه وسله والو ډلو او جنایتکارانو د عدلی تعقیب چارې شاملې دی. هغوی بیا هغه تدبیرونه په ګوته کړی کوم چې کولای شی په ولایت کې د سولې او ټیکاو د غښتلیا په موخه اصلی مسایلو ته ځواب ووایی.

**د حکومتولی، امنیت او ټیکاو غښتلتیا:** د تمرکز د ډلې د خبرو اترو نږدې ټولو ګډون کونکو موافقه کړې چې په پروان ولایت کې د نا امنۍ مهم لامل د ناقانونه وسله والو ډلو او جنایتکارانو شتون دی. هغوی ادعا کوی چې د حکومت نه پاملرنې په ولایت کې نا امنی را منځ ته کړې او د ځایی حکومتی ادارو کمزورتیا د جنایی فعالیتونو دمتوقف کیدو مخه نیولې. دې کار د معافیت او د قانون د حاکمیت نه شتون ته لار هواره کړې. خلکو د ډاډاګ د پروسې له لارې سولې او ټیکاو ته د لاسرسی په موخه په ولایت کې د نا قانونه وسله والو ډلو د بې وسلې کولو وړاندیز کړی. هغوی همدارنګه د مرکزی حکومت لخوا د دغو نا قانونه ډلو د منحل کولو وړاندیز کړی. ګډونوالو او مرکه ورکونکو هم د فاسدو چارواکو د لېری کولو او د کنترول په موخه د میکانیزم د را منځ ته کولو وړاندیز کړی ځو وکولای شی د اداری فساد کچه را ټیټه کړی او یوه سوله ییزه ټولنه را منځ ته کړی. ځینو

ګډونوالو د دولتی معاشونو د لوړېدو وړاندیز کړی څو په دې توګه د بډو اخیستل محدود کړی.

د پروان د ولایت د سیدخیلو د ولسوالۍ څخه د ټولنې یوه تن مشر په لاندې ډول خبرې اترې خلاصه کړې:

"نا قانونه وسله وال په ټول پروان کې موجود دي،هغوي سوله نه غواړي ځکه چې هغوي به خپل واک له لاسه ورکړي، ځکه نو په ټولنو کې شخړې را منځ ته کوي، دا له بده مرغه زموږ په ټولنو کې یو حقیقت دی او سولې ته د رسیدو په لار کې یو رښتینی محدودیت دی، تر هغو چې دغه ډلی په واک کې وي، سوله نه شی تامینیدلای."

د دې سربیره، د ټولنو غړو و ویل چې افغان ملی پولیس او افغان سیمه ییز پولیس د ولسوالیو په کچو کې د امنیت د تامین لپاره ډیر مهم فاکتورونه دی. هغوی ادعا کوی چې زیاتره افغان ملی پولیس او افغان سیمه ییز پولیس غیر مسلکی او نا لوستی کسان دی، ځکه نو د ملی تشکیلاتو د جوړولو ظرفیت باید د دولت، ملی او نړیوالو انجوګانو لپاره یو لومړیتوب وی، هغوی باید د قانون د پلی کولو لپاره د پوهاوی د کچې د لوړولو پروګرامونه زیات کړی.

د چاریکارو د ښار یوه تن مشر وویل:

"د پروان د ولایت په ځینو برخو کې د نالوستو او معتادو پولیسو شتون د شخړې مهم لامل دی. زیاتره پولیس په دې نه پوهیږی چې څنګه امنیت تامین کړي، په زیاترو هیوادونو کې پولیس د خلکو لپاره خوندي چاپیریال را منځ ته کوي، خو زما په ولایت کې خلک د پولیسو څخه ویریږي."

**د بشری حقونو، د قانون د حاکمیت او معافیت د مخنیوی وده:** د بشری حقونو د پوهاوی د لوړولو په پروګرامونو کې زیاتوالی او داسی موضوعګانې لکه "بشري حقونه او اسلام"او د ښوونځیو په نصاب کې د بشری حقونو د مضمونونو شاملول د قانون د حاکمیت او د معافیت د مخنیوی د سمې کارونې لپاره بنسټ جوړوی. د ټولنې مشرانو په پروان ولایت کې په خاص ډول په نا امنو سیمو کې د بشری حقونو د مخ پر زیاتیدونکو سرغړونو په حواله اندیښنې څرګندې کړې. هغوی ومنله چې طالبان، ناقانونه وسله والې ډلې او ځینې مشران د بشری حقونو سرغړونکی دی او باید مجازات شی. په سیمه کې د دولت ضد عناصرو شتون د نا امنۍ مهم لامل دی، د دولت ضد عناصرو شتون د بشری حقونو، د تعلیم د حق، روغتیا پالنې ته د لاسرسی، عدالت ته د لاسرسی او د ښځو د حقونو په شمول مخنیوی کوی.

د کوه صافی څخه یوه تن ځوان وویل:

″د طالبانو تر نفوذ لاندې سیمو کې خلک یوازې د ژوندي پاتې کیدو کوښښ کوي. دا د ټولو خلکو هیله ده- موږ د بشري حقونو په اړه د فکر کولو وخت نه لرو.″

په ځینو ګروپی خبرو اترو کې ګډونوالو په سیمه کې د غیر ریښتینو مشرانو په هکله خپلې اندیښنې په ډاګه کړې، دوی ادعا کوی چې په عمومی توګه خلک په مشرانو باور لری خو د راپور سره سم ځینې یی د طالبانو او دولت سره اړیکی لری.

د چاریکارو څخه د مدنی ټونی یوه فعال وویل:

″ځینې مشران تکړه او د تجربې درلودونکي دي خو ځینې بیا نا لوستي او متعصب دي او د ښځو په بشري حقونو باور نه لري، د ښځو په وړاندې د تاتریخوالی د پیښو په صورت کې، مشران جرګې ترسره کوي او د ځایي جرګو له لارې د ښځو په وړاندې د خشونت دوسیی حل کوي. بیا هغوي نا سمه پریکړه کوي او د بلی شخړې لپاره لار هواروی.″

خلک د "بشری حقونو او اسلام" په اړه د پوهاوی د لوړولو د فعالیتونو د زیاتوالی وړاندیز کوی. هغوی د ښځو د اسلامی حقونو په اړه د ځانګړی تمرکز له لارې د بشری حقونو په اړه د مناسبې او دوامداره پروپاګنډې د درلودلو هیله څرګنده کړې. د هدف اصلی ډله باید د حکومتی چارواکو په شمول د ټولنې مشران او با نفوذه کسان وی. د یادونی وړ ده چې ځینې ګډون کونکی ، په خاص ډول مشران د بشری حقونو د کلمې سره مخالف وو، هغوی باور لری چې بشری حقونه یو غربی مفهوم دی کوم چې د اسلام او افغانی کلتور سره په ټکر کې دی.

د دې سربیره، خلکو د ولسوالیو په کچو کې د ټولنې د مشرانو لپاره د ظرفیت د جوړولو روزنې او د پوهاوی د لوړولو د لا زیاتو پروګرامونو وړاندیز کړی، په خاص ډول د مشرانو او هغو چارواکو لپاره چې موخه یی د "زیان منونکو دودیزو کړنو" هدف نیول دی، مبارزه وکړی.

د سیاه ګرد څخه یوې ښځې وویل:

″د پروان په ټول ولایت کې باید د ضررناکو دودیزو کړنو پر خلاف یو قوي حرکت پیل شي څو دغه ناقانونه کړنې د ښځو پر علیه د خشونت د له منځه وړلو تر لاندې د جزا لیدلو کړنې وګڼلې شي.″

د بګرام ځخه یوځوان وویل:

"په پروان ولایت کې چارواکي د معافیت اصلي لامل دي. چارواکي قانون نه پلې کوي،هغوي بډې اخلي، هغوي د جنایتکارانو سره همکاري کوي، په ځینو واردو کې هغوي د جرمونو قربانیانو ته خبر ورکړی چې مرتکبین تښتیدلي، خو مور پوهیږو چې مرتکبینو هغوي د شپې ډوډس ته دعوت کړي او ټوله شپه یې د مرتکیبینو سره په دعوت کې تیره شوې. د دغو چارواکو لېږې کول به په ولایت کې د معافیت د ختمولو په برخه کې یو ښه اقدام وي."

**د ټولنیزی او اقتصادی پرمختیا تحقق:** د خبرو اترو د پروسې پر مهال، د دې لپاره چې د پروان په ولایت کې پایداره سوله را منځ ته شی خلکو په ټولنیزه او اقتصادی پرمختیا کې، دمعارف د پیاوړتیا او د کاری فرصتونو د را منځ ته کولو په شمول د ښه والی وړاندیز کړی.

د پروان د خلکو لپاره وزګارتیا او نیستی کومې چې د سولې او ټیکاو سره مستقیمه اړیکه لری، د ډیرې اندیښنې وړ ده.

ځوان نسل د وزګارتیا ځخه رنځ وړی او د دې لپاره دوی د یاغیانو او د طالبانو د جنګیالیو سره په ویجاړونکو فعالیتونو کې برخه اخلی. د ټولنې ځینې غړی یادونه کوی چې یو وخت د پروان په ولایت کې سترې فابریکې(د جبل سراج په ولسوالۍ کې درې سترې فابریکې، د بیلګې په توګه، د جبل سراج د نساجۍ فابریکه،د ګلبهار د نساجۍ فابریکه "د جبل سراج کلی" او د سمنتو یوه فابریکه) موجودې وی کومې چې د جګړې پر مهال له منځه ولاړې. خلکو په پراخه کچه وړاندیز کړی چې د دغو فابریکو بیا رغونه ممکن په حالاتو کې بدلون را منځ ته کړی. هغوی همدارنګه په جبل سراج کې د بریښنا د بند د بیا جوړیدو یادونه کړې.

د فابریکو او د جبل سراج د بریښنا د بند د جوړیدو ځخه جلا، د ټولنو مشرانو د پروان په ولایت کې د کرنې د تقویت وړاندیز کړی.

" که چیری دولت د غریبانو لپاره ځینې ځمکې اختصاص کړي نو دا به په ځرګند ډول د یاغیتوب د فعالیتونو کچه را ټیټه کړي " .

په نا امنه سیمو کې روانې شخړې په منفی توګه په خاص ډول د ښځو لپاره معارف ته لاسرسی، متاثره کړی.

ځکه نو، په پروان ولایت کې د پایښت لرونکې سولې لپاره د معارف په سیستم کې پانګونه مهمه ده او دا باید د حکومت او نا دولتی سازمانونو مهم او لومړی هدف وی. د ښوونځیو د جوړولو تر څنګ، حکومت او نور سازمانونه باید د معارف په ښه کیفیت

ټمرکز وکړی او د معارف وزارت باید د معارف د کیفیت د ښه کولو په موخه د ښوونځیو په نصاب له سره کتنه وکړی.

د دې سربیره، خلکو ټینګار کړی چې حکومت باید پوځ ته اجازه ور نه کړی چې د ښوونځیو تعمیرونو ته ځېرمه خپلې پوستې جوړې کړی. د ټولنې غړو په سیاه ګرد او شینوارو ولسوالیو کې چیرې چې ځینې ښوونځی پوځی اډو ته ځېرمه واقع شوی، اشاره کوی. کورنۍ د ویرې له امله نه شی کولای خپل ماشومان ښوونځیو ته ولیږی.

د بګرام څخه یوه تن ښوونکی وویل:

> ”زموږ په سیمه کې بې سوادي د شخړې اصلي لامل دی، د بیلابیلو لاملونو په خاطر زیاتره کسان معارف ته لاسرسی نه لري،نا امني او عنعنات یواځې هلکانو ته د ښوونځي د تګ اجازه ورکوي. د نکاح خیلو په کلي کې د نجونو یو ښوونځی موجود د ی خو د امنیتي لاملونو له امله خلک نه شي کولای خپل ماشومان ښوونځی ته ولیږي.“

**د سولې د فعالینو او مخربینو سره چلند:** په پروان ولایت کې د نا قانونه وسله والو ډلود بې وسلې کولو د پروګرام ( ډاياک) پرمختګ سمبولیک و. د افغانستان د سولې او پخلاینی پروګرام د سولې د یوې ولایتی شورا د ۲۵ غړو په درلودلو سره د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر په میاشت کې په رسمی توګه پیل شو. د سولې ولایتی شورا د سولې د عالی شورا د دارلانشا لخوا د یوه کال لپاره تایید او تصدیق نه شوه او هیڅ ډول فعالیت یې له ځانه و نه ښودلو (یا ممکنه علاقمندی) او د PJST په استخدام هم وخت ولګېد؛ د سولې عالی شورا په پای کې د کمیټې په جوړښت له سره کتنه وکړه او له سره یې بیا شکل ورکړ او د ۲۷ غړو یو نوی فهرست یې جوړ کړ؛ د سولې نوې عالی شورا د ۲۰۱۳ کال د اپریل په میاشت کې په رسمی توګه پرانیستل شوه خو تر اوسه یی څرګند فعالیت نه دی لیدل شوی؛ په جغرافیایی لحاظ، د سیاه ګرد او شینوارو د ولسوالیو څخه ۷ تنه او د کوه صافی د ولسوالۍ څخه درې تنه انتخاب شوی. د سولې په عالی شورا کې د جمعیت ګوند نفوذ او کنترول ښایی د سیاسی ډلو په منځ کې د تجرید لا نور احساسات را منځ ته کړی او ښایی په ولایت کې د سیاسی پروسو او جوړښتونو څخه ځانونه د باندې وشمیری. د جمعیت د ګوند سره نهه تنه او د حکمتیار د اسلامی ګوند سره دوه تنه خواخوږی لری؛ د خبرو اترو د پروسې پر مهال، د دې په خاطر چې په ولایت کې پایښت لرونکې سوله او ټیکاو را منځ ته شی،خلکو د سولې په پروګرام کې د عادی افغانانو، په خاص ډول د ښځو په پراخ ګډون ټینګار کړی؛ د پروان د سولې د کمیټې د ۲۷ غړو په ډله کې یواځې دوه تنه ښځې دی. زیاترو ګډونوالو د سولې په پروسه کې د ښځو د لا زیات ګډون پر اړتیا ټینګار کړی او دا یې د پایښت لرونکې سولې د تامین لپاره ضروری بللې. ځکه نو، خلکو

په پروان ولایت کې د سولې په ولایتی کمیټو کې د ښځو د لا زیات ګډون غوښتنه کړې؛ هغوی همدارنګه د دوام وړ لاسته راوړنو د نه شتون له امله د پروان د سولې د کمیټې په فعالیتونو د بیا کتنې ورانديز کړی. هغوی ادعا کوی چې غړی فعال نه دی او د ولسوالۍ په کچه د سولې په کمیټه کې خپل استازی نه پیژنی.

د سیاه ګرد څخه یوې ښځینه ښوونکې وویل:

> ”په پروان ولایت کې د سولې لپاره یوه تشه او محدودیت د ولسوالۍ په کچه د سولې په پروسه کې د ښځینه کسانو نه شتون دی. په کلیو کې یا خو د کورنۍ مشر ښځو ته د کار کولو او زده کړې اجازه نه ورکوي او یا خو حکومتي چارواکي ښځې له پامه غورځوي.“

## ۵. د خلکو وړاندیزونه:

د خبرو اترو د پروسې پر مهال د ټولنو غړو د لاندې وړاندیزونه کړی دی:

**دفساد پرضد مبارزه او د شه حکومت داری تقویت کول:** (۱) له دندو څخه د فاسدو چارواکو لېری کول، د فساد د کچې د را ټیټولو په موخه د کنترول د میکانیزم او د یوې سوله ییزې ټولنې را منځ ته کول؛ (۲) د قانون د انفاذ په موخه د ظرفیت جوړونې د پروګرامونو را منځ ته کول؛

**د سولی او ملی پخلاینی د پروسی ګړندی کول:** (۱) سولې او ټیکاو ته د رسیدو په موخه، په ولایت کې د ډایاګ د پروسې له لارې د ناقانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول،(۲) د ملایانو او بانفوذه مشرانو د ښکیلتیا له لارې د سولې جوړونی د پرګرامونو پیل؛(۳) د څرګندو لاسته راوړنو د نه شتون له امله د پروان د سولې د کمیټی د فعالیتونو بیا کتنه؛(۴) د سولې په پروسه کې د ښځو لا زیات ګډون؛ (۵) د سولې لپاره د یوه تبلیغاتی شبکی جوړول.

**د بشری حقونو تقویت ُ و معافیت د فرهنګ ختمولُ او د قانون حاکمیت:** (۱) د معافیت د مخنیوی ته اولویت ورکول (۲) د بشری حقونو د پوهاوی د لوړولو په پروګرامونو کې زیاتوالی او داسې موضوعګانو لکه "بشری حقونه او اسلام"او د ښوونځیو په نصاب کې د بشری حقونو د مضمونونو شاملول د قانون د حاکمیت او د سمې کارونې لپاره بنسټ جوړوی؛ (۳) په ټولو ولایتونو کې د ضررلرونکو او دودیزو کړنو په وړاندې د یو غښتلی خوځښت پیل؛

**د اقتصاد ی او اجتماعی پروګرامونو پلی کول:** (۱)د دې په خاطر چې په پروان ولایت کې پایداره سوله تامین شی باید کاری فرصتونه را منځ ته شی، وزګارتیا او نیستی په سوله او ټیکاو مستقیمه اغیزه لری. خلکو د دریو اصلی فابریکو د بیا جوړولو وړاندیز کړی، دا کار

کولای شی حالات ښه اړخ ته بوزی. هغوی همدارنکه په جبل سراج کې د بریښنا د بند دبیا جوولو وړاندیز هم کړی؛ (۲) د نصاب د بیا کتنې له لارې پر مخ تللی معارف؛

# د میدان وردك ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

دغه د سولی ولایتی نقشه دهغوکلیدی موندونواومسایلولنډیزاونتیجه وړاندی کوی کوم چی دڅلوروګروپی بحثونو اواوه دنظریاتو دسروی په ترڅ کی رابرسیره شول چی د ۱۳۴ تنو افغانانو سره د۳۴ تنو ښځوپه ګډون ترسره شول. ۱۳۴ تنه دمختلفوقومی ګروپونو څخه لکه پښتانه، هزاره‌ګان او تاجیکانو او د بیلابیلو ټولنیز و او سیاسی پسمنظرونو درلودنکو، د دولتی سکتور کار کوونکو، د ټولنی مشرانو، بزګرانو، د مدنی ټولنو استازو، دینی عالمانو او دپخوانیوجهادی تنظیمونو غړیو له جملی څخه و.

دغه سلا مشوری لکه دافغان اولس خبری دسولی دپروګرام ددوهمی مرحلی په هکله دیوی برخی په توګه ترسره شوی دی اود۱۱ مدنی ټولنودسازمانونودیوی اتحادیی پواسطه په ملی سطح اوددوی دولایتی مسولینوپواسطه دولایت په سطح تراجرا لاندی ونیول شو. په ټول هیواد کی هدف داوچی د ۴۵۰۰ افغانانوسره سلامشوری وشی دهرولایت لپاره ولایتی دسولی دلاری نقشه جوړه اوانکشاف ورکړل شی. دوردګوپه ولایت کی دمدنی ټولنو دسازمانونو د اتحادیی نماینده دځوانانو ملی اوټولنیز سازمان و چی دغه پروګرام ترسره کړل. د وردګو ولایت لپاره دسولی دسیمه ایزی لاری په دغه نقشه کی تر ممکنه حده پوری هڅه شوی څومره چی ممکن وی دشخړی د سیمه ایزو محرکه قواوومفصل تحلیل وشی اووروسته بیا دحل وړعملی لاری وړاندی شوی دی ترڅودمیدان وردګوپه ولایت کی دیوی دوامداری اوټینګی سولی اوټیکاوپه راوستلوکی مرسته وکړی.

## ۲. دولایت په هکله معلومات: جغرافیه، سرشمیرنه اوسیاسی زمینه

دمیدان وردګ ولایت دهیواددپایتخت کابل دجنوب په ۳۵ کیلومتری کی واقع شوی دی. له نوموړی ولایت دوی لویی ترانسپورتی لاری تیریږی چی یویی د کابل-وردګ-غزنی-کندهارلوی سرک –لومړی نمبر لویه لاره چی پښتانه قومونه د کابل سره نښلوی اوبل یی دکابل- وردګ- بامیان-غورلویه لاره – دوهم نمبرلوی سرک دی چی هزاره قومونه دکابل ښار سره نښلوی. دغه ولایت ۱۰۹۱۱ کیلومترمربع مساحت لری چی تقریباً په ۲۲۳۴ کلیوباندی ویشل شوی دی. میدان ښارد ولایت اداری مرکزدی.

د مرکزی احصایی داداری د تخمین په اساس دغه ولایت ۵۴۹۲۰۰ تنه نفوس لری. (۹) ولسوالی لری: میدان ښار، جغتو، جلریز، سیدآباد، چک، دای میرداد، حصه اول بهسود، حصه دوبهسود اونرخ.

پښتون قوم اودهغی مختلفی قبیلی دولایت اکثریت اوسیدونکی جوړوی. دوی په چک، سیدآباد، نرخ، جغتو، میدان ښاراو د جلریزپه نیمایی برخه کی اوددای میرداد په ولسوالیو کی هستوګنه لری. د بهسود د حصه اول او حصه دوپه ولسوالیوکی او یوه برخه ددای

میرداد په ولسوالی کی اکثریت هزاره گان میشت دی. همدا رازدجلریزپه نیمایی برخه کی تاجیکان اوسیژی.

له سیاسی لحاظه دمیدان وردگووگړی ډیر متفرق او ویشلی دی. دغه ولایت دقومی او سیاسی نقطه نظره دیوځه قومی او سیاسی هویت اوځانګړتیاوپه لرلوسره ویشل شوی دی.

- دوردگوقبیله(قوم)دچک، سیدآباداوددایمیردادپه یوه برخه کی اوسیژی دگلبدین حکمتیاردحزب اسلامی سره تړاو لری.
- مبدان کی میشت پښتانه قومونه چی په میدان ښار، نرخ اودجلریزپه ځنی برخوکی هستوگنه لری دگلبدین حکمتیارد حزب اسلامی، حرکت انقلاب اسلامی اود سیاف داسلامی اتحاد سره تړاولری.
- هغه پښتانه چی په جغتوکی اوسیژی د مولوی خالص د حزب اسلامی اود پیرگیلانی د محاذ ملی سره تړاولری.
- دبهسود په لومړی حصه اودوهمه حصه ولسوالیوکی اودجلریزاودایمیرداد د ځنی برخوهزاره میشت اوسیدونکی دشیعه سیاسی گوندونولکه د خلیلی دافغانستان داسلامی وحدت گوند او د محقق د حزب وحدت مردمی افغانستان، دملی انسجام گوند اوپه لژشمیرکی دانوری حرکت اسلامی پوری تړاولری.
- تاجیک لژکی (اقلیت) چی په جلریزکی حضورلری د جمیعت اسلامی گوند پوری تړلی دی.

په اوس مهال کی د سیاسی گوندونو فعالیتونه دامنیتی حالت دخرابوالی له وجی ډیرمحدود دی.

دامنیتی وضیعت خرابوالی په ۲۰۰۷ کال کی پیل شو. په هغه وخت کی طالبان او جنایتکار عناصر په لویولاروکی په قطارونو او کاروانونو باندی حملی پیل کړل. دغه حالت په ۲۰۰۹ کال کی اوله هغه څخه وروسته نورهم خراب شول.

له هغی وروسته د دولت حضور د چک، جغتو، نرخ او سید آباد و لسوالیوکی یوازی دولسوالیو مرکزونو پوری محدود شول. حال داچی نوری برخی اوسیمی یی د طالبانو پواسطه کنترولیژی.

وضیعت نورهم په خرابیدوروان دی. د طالبانواود گلبدین حکمتیاردحزب اسلامی دافرادوله کبله چی دولایت زیاتره برخه دوی کنترولوی اودځنی غټوپیښوپه ترسره کولوسره چی د میدان ښاراوسیدآباد دولسوالیوپه مرکزونوکی ترسره کړل دملکی کسانو او

دامنیتی قواود تلفاتولامل شو. او همدارنګه په مرکزکی ددولتی تعمیرونواوشخصی ودانیودتخریب سبب شو.

## ۳. د منازعی(شخړی) تحلیل: دشخړی ډولونه اومحرکه قواوی

**دشخړی ډولونه:** په دغه ولایت کی په پراخه توګه د منازعی(شخړی) لاندی ډولونه شته.

د طالبانوپه قیادت وسله واله شخړه(منازعه) اودهغی په ضد شخړه. د طالبانو او دحکمتیار دحزب اسلامی ترمنځ وسله واله شخړه د سیاسی ډلوترمنځ سیاسی سیالی اورقابتونه اودبهسودپه ولسوالیو کی دهزاره ګانو اوکوچیانو ترمنځ د ځمکی په سر لانجه اودعوی.

**د طالبانو ترمشری مسلحانه منازعه (شخړه) اودهغی په ضد مبارزه:** د جغتو، چک، سیدآباد او دایمیرداد ولسوالییو د طالبانو د کلکو سنګرونو په توګه پیژندل کیژی. د نرخ، جلریز او میدان ښارځنی برخی هم د طالبانو تر کنترول لاندی دی. ګډون کوونکو همدارنګه څرګند کړل چی دمخالفینو فعالیتونه دنړیلوالو قواودوتلواود امنیتی انتقال څخه وروسته په دی ولسوالیوکی زیات شوی دی.

دافغانستان دملی وسله والوځواکونوظرفیت ډیرکمزوری معلومیژی څود طالبانوډپرمختګ اوپیاوړتیا سره مبارزه وکړی. دملی پولیسو، ملی اردو، نظم عامه پولیس اود ملی امنیت ترمنځ اوهمدارنګه دنورواداروترمنځ دهمغژی کمزورتیا اوپخپل سره د شپی چاپی دوسله والو مخالفینولپاره دا زمینه برابرکړل چی عملیات وکړی. غیرسالم سیالی اورقابت د محافظت عامه د ځواکونوترمنځ کوم چی داکمالاتی کاروانونوداسکورت اوامنیت لپاره توظیف شوی دی اوهمداډول دکاروانونوداسکورت دامنیتی شخصی کمپنیو ترمنځ نا سالم رقابت ددی لامل شوی چی ددوی ترمنځ وسله والی نښتی وشی چی دلویولاروپه امنیت یی منفی اغیزه کړی.

ډیرشمیرلاملونه (فکتورونه) دمیدان وردګوپه ولایت کی ددولت ضد عناصرو دنفوذلپاره زمینه برابرکړی. لومړی پخپله د ولایت جغرافیایی – ستراتیژیک موقیعت چی دهیواد دوی لویی لاری تری تیریژی دغه ولایت یی د شورشیانو لپاره د پاملرنی وړګرځولی څونړیوال قواوی اودافغانستان امنیتی قواوی هدف وګرځوی. په خاصه توګه په لومړی نمبرلویه لاره چی دکابل اوکندهارترمنځ اکمالاتی لاره ده.

د دی ولایت ګاونډیتوب د دووناامنوولایتونولوګراوغزنی سره په دی ولایت کی یی ددولت ضد عناصرود تحرکاتولپاره یی شرایط برابرکړی.

ددی ولایت نژدی والی دهیواد دپایتخت کابل سره په دی ولایت کی ددولت ضد عناصره دفعالیتونود زیاتوالی یوبل لامل دی.

داسی ښکاری چی په دوهم ځمبرلویه لاره کی دشورشیانودفعالیتونوهدف زیاتره دهزاره توکم خلک دی چی دکابل – بامیانوپه دی لویه لاره سفرکوی(اوهمدارنگه دای کونډی). داسی ښکاری چی د طا لبانوهدف په سیمه کی دهزاره اوپښتنوترمنځ د قومی شخړوپیدا کول دی، نوپدی صورت کی دوی کولی شی چ ډیرقومی حمایت اوملاتړولری اودقومی شخړودپیښیدو په صورت کی به طالبان دهزاره گانو په وړاندی دپشتنوڅخه ملاتړوکړی،

سربیره پرذکرشویولاملونوپه ولایت کی یوشمیرسیاسی فکتورونه هم دامنیتی وضیعت په خرابولوکی رول لوبولی . د کلیدی جهادی قومندانانو له پامه غورځول. ولایتی اداره ددغومختلفوقومندانانو د موازنی په ساتلوکی پاتی راغلل اودوی احساس وکړچی له پامه غورځول شوی دی اوهمغه وچی په ولایت کی شخړی پیدا شول.

دلته دشخړی نوری محرکه قواوی هم شته لکه خپل سری نیونه(گرفتاری) اودشپی چاپی اوله کلتوری پلوه دامریکایی قوتونو غیر مسولانه رویه اورفتاردامریکایی خاصوقواوپه گډون کوم چی دسیمی خلک یی وځورول اوهغوی په غوسه کړل اودوی یی مجبورکړل چی د طالبانوملاتړوکړی. د۲۰۱۳ کال دمارچ په میاشت کی دسیمی خلکو یو شمیر د تاوتریخوالی ډک احتجاجونه وکړل اودولایت له مقام څخه یی له ولایت نه دامریکایی خاصوځواکونو دوتلوغوښتنه کول. دامریکایی خاصو ځواکونوچی دنرخ په ولسوالی کی یی قرارگاه لرل اوقرارگاه یی لدی کبله وتړل شوچی په هغوی باندی داتوروچی هغوی د دنرخ ، میدان ښار اوجلریزپه ولسوالیو کی دسیمی داوسیدونکو په وړاندی دیوشمیرسرغړونوپه گډون دوژنی اوپه زوردتری تم کییدلو(لادرکی) مرتکب شوی دی.

دکوچیانواوهزاره گانوترمنځ دځمکی پرسر اوژد مهاله لانجه اودعوی دبهسودوپه لومړی اودوهمه حصه اوددایمیردادپه ولسوالیو کی هم د طالبانود نفوذ سره مرسته کړی. طالبانو باندی توردی چی دکوچیانوملاتړپه دی خاطرکوی چی پښتانه دی.

د شورشیانوخپل منځی تحرکات(د طالبانواودحکمتیاردحزب اسلامی ترمنځ شخړه) هم دولایت په امنیت حالت باندی منفی اغیزه اچولی. د۲۰۱۴ کال دجنوری په میاشت کی د جلریزپه ولسوالی کی دحکمتیاردحزب اسلامی یوتعدادجنگیالی اختطاف اوووژل. د گلبدین حکمتیارحزب اسلامی عناصرپه دی تورن شوی چی ددولت له خوا استعمالیژی چی په نوموړی ولایت کی دطالبانودزیاتیدونکی اغیزی سره په ولایت کی مبارزه وکړی. که څه هم دغه دملی امنیت دریاست په رهبری اودولایتی حکومت اوددوی په قومی وابستگیوپوری اړه لری.

په پای کی بی کاری او د اقتصادی فرصتونو نشتوالی هم په بی امنیتی کی ونډه لری. بی کاری د طالبانوپه حرکت اولیکوکی د یو شمیر ځوانانو د استخدام او جذب لپاره زمینه برابروی.

**د شخړی محرکه:** د سلامشورودپروسی په جریان کی ګډون کوونکی دشخړی(منازعی) دوه ډولونه په ګوته کړل لکه (۱) د شخړی(منازعی) جوړښتی(ساختاری) لاملونه چی پکښی پراخ اداری فساد اودصلاحیت څخه ناوړه استفاده، دټاکل شویومجازاتوڅخه معافیت اومصونیت اودټولنیزاو اقتصادی دوامداره پرمختګ نشتوالی او(۲) د شخړی فوری یا سمدستی لاملونه چی جریانونه، پیښی اوپروګرامونه کوم چی دلنډی مودی لپاره پیښیږی مګردشخړی په محرکه قواوباندی یی اوژدمهاله اغیزه پاتی کیږی لکه د سولی اوپخلاینی، د سیمه ایزه پولیسوپروګرامونه اودجمهوری ریاست اوولایتی شورا ګانواوولسی جرګی دورانی ټاکنی.

اداری فساد، کمزوری حکومت، دخدماتوپه وړادی کولوکی ځنډ، په عدالت کی ځنډ اودعدالت نشتون، د بی ګناه کسانو نیول(ګرفتاری) اوتوقیف، دشپی چاپی او د کورونو تلاشی دغلطواستخباراتی راپورونوپربنسټ د شخړی ددوام لپاره لومړنی دلایل دی اوله همدی کبله اولس له حکومت څخه خوشحاله نه دی اوبیا د شورشیانوطرف نیسی.

ولایتی اود دولسوالی حکومتی اداره په خلکوباندی اوپه نا امنومتطقوکی دخپل مشروع کنترول په غځولواوپراختیا کی پاتی راغلی. څکه نوددولت له خواهیځ ډول ساتنه په نا امنه سیموکی د سیمی داوسیدونکو لپاره نه وړاندی کیژی. دولت په داسی سیموکی قضایی ادارات نه لری اوپه ولایتی سطح کی هم قضایی ادارات فاسد دی اوخدمات یی هروخت ځنډن وی اودوی تراوسه پوری په دی نه دی توانیدلی چی د مرتکبینوسره حساب وکړی اوپای کی یی پایله دادی چی هلته قانون هیڅ نه پلی کیژی اوپدی توګه دمجازاتوڅخه دمعافیت اومصونیت دیو فرهنګه په توګه وده کوی. حکومت څکه خپل مشروعیت د اولس په سترګوکی له لاسه ورکړی چی ټوله دستګاه یی فاسد دی او د صلاحیت څخه ناوړه استفاده کوی. اداری فساداودصلاحیت ناوړه استفاده دمجازاتود معافیت دفرهنګ سره په ګډه ددولت مشروعیت ته جدی ګواښ متوجه کړی.

د میدان وردګ دنرخ ولسوالی یومشرووېل:

> ”اداری فساد اودرشوت اخستل ددولتی چارواکوډیری مروجی کړنی دی اوپه پراخه کچه شتون لری. حتی که کوم څوک غواړی چی حج ته لاړشی چارواکی درشوت غوښتنه ځنی کوی. دغسی کړنی خلک ددولت څخه ناراضه کوی اوددولت اوټولنی ترمنځ فاصله زیاتوی“

دولتی ادارات ددی لپاره توظیف شوی چی داداری فساد سره مبارزه وکړی. دوی یا ددی قدرت نه لری اویا نه غواړی چی داداری فساد په وړاندی جدی اقدامات تزسره کړی اویا دوی خپله په اداری فساد کی ککړاوفاسدین دی. اداری فسادنه یوازی په دولتی چوکاټ

کی دی بلکه اوس یی ټولنی ته هم پراختیا موندلی اودټوننی یوه نه بیلیدونکی برخه گرځیدلی.

دمیدان ښاردسیمه ایزشورا غړی څرگند کړل چی:

"خلک نه غواړی چی دولتی اداراتوته مراجعه وکړی ترڅ خپلی شخړی اودعوی حل اوفصل کړی. دوی نه غواړی چی ددولتی چارواکوپواسطه لوټ شی څرنگه چی هردولتی چارواکی اومقام درشوت غوښتنه کوی. نوځکه اولس مشرانوته مراچعه کوی ترڅوخپلی دعاوی حل اوفصل کړی دجزایی مسایلوپه گډون."

د شپی چاپی اودتلاشی عملیات چی دبین المللی قواواوافغان ملی امنیتی ځواکونوپواسطه دغلطواطلاعاتواوراپورونوپه اساس ترسره کیږی ځایی خلک یی نورهم وځورول اوپوزی ته یی راوست. د سیدآباد ولسوالی یومشروویل:

«بین المللی ځواکونه د شپی چاپی ترسره کوی. دوی زموږد کلتور او عنعناتو درناوی او مراعات نه کوی. کله چی دوی غواړی چی یوکورپه کلی کی تلاشی کړی لس نورکورونه دهغه په شاوخوا کی زیانمنی کیږی اوپه پای کی دوی هیڅ شی نه پیدا کوی. »

دقومونوترمنځ دعوی دعامه څرځایونواوعامه اوشخصی ځمکوپرسرپه دغه ولایت کی د شخړی(منازعی) یوه بله محرکه قوه ده. د مثال په ډول دبهسود د لومړی حصی اودوهمی حصی په ولسوالیوکی دکوچیانواوهزاره گانوترمنځ دځمکی پرسراوږد مهاله دعوی باید تراوسه پوری حل شوی وای. جمهورریس په دی اړوند فرمان صادرکړی. دبهسوددولسوالی څخه دسیمی یومشروویل چی:

"د هزاره گانو او کوچیانو ترمنځ تبعیض او د عدالت (قضا) نشتوالی د هغو جرایمو لپاره چی کوچیان اوهزاره کان دخپل منځی نښتوپه جریان کی مرتکب شوی دی دبهسودینو په ولسوالیوکی د کوچیانو او هزاره گانو ترمنځ دجگړی ددوام اساسی لامل دی."

گډون کوونکی همدا ډول څرگند کړل چی داقتصادی اوټولنیزپرمختگ نشتوالی کوم چی په ټولنه کی دځوانانو لپاره د کاری فرصتونو وړاندیز کولی شی په دغه ولایت کی د تاوتریخوالی نورلاملونه دی. دمیدان وردگو ولایت اوسیدونکی باورلری چی دکیفی معیاری ښوونی اوروزنی نشتوالی دوی دکاراووظیفی څخه لری ساتلی چی په نتیجه کی یوشمیربی کاره ځوانان د طالبانودحرکت په لیکوکی کی نوی استخدام شوی . دمدنی ټولنی فعال دسید آباد له ولسوالی څخه وویل چی:

"دځوانانوپه منځ کی د کاری فرصتونونشتوالی دډېرزیات غربت(نیستی) سبب کیږی چی په میدان وردگو ولایت کی د شخړولامل کیږی."

د میدان وردګوپه ولایت کی ګډون کوونکوڅرګند کړل چی دسولی اوپخلاینی پروګرام هم دامنیتی حالت دخرابوالی لامل شوی نسبت دی ته چی دحل لاره وی. دا ځکه چی نوموړی پروګرام دداسی اشخاصوپواسطه رهبری کیږی چی دوی خپلی قطعی شخصی ګټی لری اودوی په واقعیت کی دمسلحانه شخړی اوجګړی دوام غواړی اوله همدی کبله دوی کولی شی چی خپل سیاسی اوشخصی موخی وساتی. مسلحانه شخړه(منازعه) ددوی سره مرسته کوی څوپه آسانی سره نفاق واچوی او په ټولنه باندی حکومت وکړی اووروسته دوی ته ددرآمد اوعوایدود سرچینی په توګه وکارول شی. د مدنی ټولنی فعال د سیدآباد له ولسوالی څخه وویل چی:

" کوم اشخاص چی زموږپه ولایت کی دسولی پروسه مخ ته بیایی صادقان نه دی مناسب او وړ کسان نه دی. دوی نا امنه ځایونوته تلی نه شی اودطالبانوسره خبری نه شی کولی. دوردګوپه ولایت کی سوله ډېرلږ ښکاری."

ګډون کوونکی وویل چی د سولی اوپخلاینی پروګرام له سره دسولی پروسه نه ده. دا په واقعیت کی د شورشیانوپه ضد پروګرام دی ځکه چی دحکومت پواسطه رهبری کیږی اود مخالفینو په وړاندی تری استفاده کیږی څودشورشیانوشبکه دځنو عادی طالبانوپه اخستلوکمزوری کړی. تر اوسه پوری د وردګوپه ولایت کی یوازی دشورشیانویوکوچنی ګروپ(دلسوتنو) په شاوخوا کی دنرخ په ولسوالی کی د سولی دپروسی سره یوځای شوی دی. که څه هم د سولی اوپخلاینی پروګرام حتی د یوځای شویودامنیت اوساتنی په چارو اوپه کارګمارلوکی هم پاته راغلی چی دنورودیوځای کیدودنه تشویق سبب شوی څود سولی د پروسی سره یوځای شی.

همدا رنګه ګدون کوونکو په روانه مسلحانه شخړه کی د سیمه ایزپولیس رول اونقش ترسوال لاندی راوست. که چیری د ولایت په کومه سیمه کی کومه دعوی د قومونوترمنځ وی نو سیمه ایزپولیس طرف اولوری نیسی. اولس په لومړی سرکی د سیمه ایزپولیس د پروګرام مخا لف و. خلکوپه حقیقت کی دسیمه ایزپولیس په ځای د ملی پولیس غوښتونکی و.

## ۴. د سولی لپاره د لاری نقشه

په عمومی ډول ګډون کوونکی لاندی د سولی جوړونکی سیمه ایزابتکارونه په ګوته کړل چی تراجرا لاندی ونیول شی اود جګړی اوشخړی اساسی لاملونوته رسیده ګی وشی ترڅوپایداره سوله په ولایت کی راشی. دوی ددولتی اداراتو(نهادونو) پیاوړتیا اواصلاح، د

اقتصادی اوټولنیزی پرمختیاد پروژوپلی کول، د شخړواودعوودحل اوفصل سیمه ایز میکانیزم په کار اچول چی دټولنی دغړوپواسطه چلول کیږی اودسولی اوپخلاینی په پروسه کی دعادی افغانانودمعنی داری ونډی اخستنی پیاوړی کول دی.

**د دولتی اداراتو (نهادونو) پیاوړتیا او اصلاح:** څرنګه چی اداری فساد اورشوت اخستنه ددولتی مقاماتوپواسطه ددولت اواولس ترمنځ د واټن(فاصلی) دنیولودځینوکلیدی دلیلونو څخه شمیرل کیږی نوپه ولایت کی باید دفساد سره دمبارزی میکانیزم جوړشی څودفاسدودولتی چارواکوقضیی تحقیق کړی اوهغوی ته دقانون مطابق جزا ورکړی. سربیره پردی ولایتی نظارتی میکانیزم باید تشکیل شی ترڅودخدماتوعرضه اودصلاحیت څخه د ناوړی

استفادی موارد نظارت کړی. دولت باید دچارواکولپاره ترینګونه دپرمختللی ښه خدمتونو د وړاندی کولو(د مشتریانو) دغوښتنی اودمسلکی مهارتونوداړتیا په اساس دایرکړی خپل مربوطه مسولیتونه په ښه توګه اجرا کړی.

د ښه حکومت داری دودی اوپرمختیا لپاره د" مجازاتواومکافاتو" اصل باید پلی شی او هغوته جزاورکړل شی چی د ښه اجرآتو په اړوند پاتی راغلی اویا دصلاحیت څخه یی ناوړه استفاده کړی اوهغه کسان مکافات شی چی خپلی دندی یی د قانون د غوښتنو مطابق ترسره کړی. د میدان وردګوولایت سیمه ایزتعلیم یافته او ماهرکدرونوته په ولایت کی دهرډول کاری فرصتونوچی په دولتی اداراواویا خصوصی سکتورکی موجود وی د لومړیتوب حق ورکړل شی.

د مدنی ټونی فعال د میدان ښار څخه وویل چی:

> ″ د ښه اداری دجوړیدل، دادارى فساد له منځه تلل، د په وخت دولتی ښه خدمتونووړاندی کول اود دملکی کارکوونکو لپاره دمجازاتواومکافاتواصل پلی کول به مرسته وکړی چی دمیدان وردګوپه ولایت کی سوله راشی.″

**داقتصادی اوټولنیزوپرمختیایی پروژوپلی کول:** ګڼون کوونکی څرګند کړل چی په ولایت کی د لاندی پروژوکارونه روان دی:

- د ملی پیوستون پروګرام(NSP) پروژی: د ملی پیوستون پروژی د لړو عایداتی پروژوڅخه دی لکه د سیمه ایزو لارواوکانالونوبیا رغونه او د جنکلداری اود میوودباغونوترویج دی. که چیری دری سوه کورنی دپروژی څخه ګټه واخلی نودملی پیوستون پروژه دټولنی لپاره منظوریږی.

- د لومړنی صحی خدمتونوپروژه: دغه دافغانستان لپاره د سویدن د کمیټی پواسطه ټمویلیږی اوپه ټول ولایت کی د صحی کلینیکوتوپه ایجادولو او اکمالولو ټمرکز کوی اوهمدارنګه دقابله ګانواود ډاکټرانود مرستیالانولپاره تریننګونه دایروی.
- د مالداری اوعلمی بڼوالی(باغداری) پروژه: دغه پروژه د میوه داروونو د ایښودلو په ګډون د مڼوباغونه، دڅړځایونو جوړول اوهمدارنګه تولیدی حاصل ورکوونکی مالداری ته لکه دغوا ګانواوچرګانوروزنی ته اختصاص شوی دی.

ګډون کوونکوځرګند کړل چی دغه پروژی په دی نه دی توانیدلی چی په ولایت کی کافی کاری فرصتونه دځوانانولپاره چی دوی ورته اړتیا لری وړاندی کړی اوپه نتیجه کی ځوانان تراوسه هم د طالبانودحرکت سره یوځای کیږی. ددی لپاره چی زیاتی دندی اوکاری فرصتونه ایجاد شی داسی پروژی چی موخه یی دکرهڼی اومالداری عصری کول، دبریښنا دبندونوسره جوخت داوبورسولود سیستم جوړول اود مرمرتیږودکانونواستخراج به مرسته وکړی ځوپه دغه ولایت کی زیات کاری فرصتونه اودندی ایجاد شی ترڅودعایداتوسطح لوړکړی. دا به واقعآ ځوانان تشویق کړی چی له شورشیانوسره یوځای نه شی. ګډون کوونکی همداډول اندیښنه لرل چی دچک دبریښنا بند د بیا جوړونی کار دامنیت دخرابوالی له کبله دریدلی.

په بل عبارت ګډون کوونکی د ښوونځیواودینی مدرسود جوړولوڅخه خوښی ځرګند کړل اودا یی په ګوته کړل چی یوشمیر ښوونځی ودانی نه لری اوپه کرایه کورونوکی فعالیت کوی. ښوونځی اوپه خاص ډول دنجونوښوونځی دمسلکی روزل شوی ښوونکوله کمبود سره مخامخ دی کوم چی دښوونی اوروزنی د کیفیت او معیاری کیدوباندی منفی اغیزه کوی. ګدون کوونکی د دقابله ګانود تریننګ دپروګرام هرکلی وکړکوم چی په ولایت کی روان دی مګرپه ولایت کی لاهم د مسلکی داکټرانو اودهغوی د مرستیالانوکمبود شته. دجلریزله ولسوالی څخه دمدنی ټولنی فعال وویل:

> "د ځوانانو لپاره دکاری فرصتونو برابرول، د زراعت اومالداری دسکوتورونو پرمختیا او په ولایت کی دبریښنا دبندونوجوړول اوپه امن اوناامنو ولسوالیوکی دمتوازن پرمختګ په نظر کی نیول واقعآ به په ولایت کی ددوامداری سولی په راوستلوکی مرسته وکړی."

**د بشری حقونوپرمختیا، دقانون حاکمیت اود مجازاتوڅخه دمصونیت په وړاندی مبارزه:**
ددواړوښکیلو لورو د مسلحانه جګړی(شخړی) له کبله روان ملکی تلفات دوردګیانولپاره اساسی اندیښنه ګرځیدلی.

ګڼون کوونکی افغان ملی ځواکونه اونړیوال ځواکونه په دی تورن کړل چی دوی په کلیوباندی دراکټو بی هدفه فیرونه کوی کله چی دوی د طالبانوترحملولاندی راځی. په پای کی ملکی کسان هغه څوک دی چی تاوان(بیه) ورکوی ځرنګه چی د راکټو فیرونه ددوی په کورونولګیږی. په دی مسلی (موضوع ) باندی د بریالیتوب په خاطر یوڅا باید د افغان ملی امنیتی ځواکونو اونړیوالوځواکونوسره په جوړونکی خبرواتروبوخت شی ترڅود د جګړی اومبارزی داسی تکتیکونو څخه استفاده ونه کړی. همدا شانته دټولنی متنفذ مشران، قومی مشران او علمآ باید ددولت د وسله والو مخالفینو سره جوړونکی خبری وکړی ترڅوهغوی د ملکیانودکورونو اود ملکیانوڅخه د ډال په توګه استفاده ونه کړی اوهمدارنګه د په لاس جوړشوی بمونو استعمال ودروی.

په دی ولایت کی د بشری حقونویوه بله لویه اندیښنه د ښځو اونجونوپه وړاندی دتاوتریخوالی د ناوړه دودونو شتون دی.

عدالت ته دښځونه لاسرسی اوپه سیاسی اوټولنیز ژوند کی د ښځونه ګډون نوری اندیښنی دی. که څه هم د وردګو ولایت یو محافظه کاراو نا امنه ولایت دی او ډیر وخت او زیاتو منابعوته اړتیا ده چی دغه ستونځی په پشپړه توګه حل شی. په دغه ولایت کی باید د داسی پلانونو او پروګرامونو عملی کول پیل شی چی هدف یی د غوستونځوته د پای ټکی ایښودل وی اوعلما، قومی مشران، دټولنی متنفذین، مدنی ټولنی اودښځودحقوقوفعالین ته یکی فعاله برخه اوګډون ورکړل شی. په دی لړکی ترټولو مهمه خبره داده چی د ښځوپه وړاندی دتاوتریخوالی مرتکبین دښځوپه وړاندی دتاوتریخوالی د منع قانون سره سم د عدالت منګولوته وسپارل شی. د بشری حقونونوری اندیښنی عبارت دی له بیکاری، شدید فقر، دکارحق او مناسب ژوند لپاره دکافی ډوډوی او هستوګنی حق اودژوند حق دی . ددغوستونځودحل لاره د میدان وردګوپه ولایت کی د دولتی اوخصوصی سکتور پواسطه د اقتصادی اوټولنیزپرمختیا دپروژودپلی کیدو له لاری ممکن دی.

**د سولی اوپخلاینی په پروسه کی دعادی (عامو) وګړودمعنی داری ګډون اوبرخی اخستنی پیاوړتیا:** دسولی اوپخلاینی ملی پروګرام مفصل، هراړخیزه اوشفافه پروسه نه ده. د سولی اوپخلاینی پروګرام هدف یوازی دعادی سرتیرواخستل دی. دا یوه هراړخیزه پروسه نه ده بلکه فقط دطالبانودشبکی دکمزوری کولولپاره ده مګر نه ددامداری سولی دراوستلولپاره ده. ځکه دسولی ملی پروګرام داوسنی دسولی پروګرام ځای ونیسی. د میدای ښار دمحلی شورا غړی وویل چی:

" د سولی اوپخلاینی پروګرام دسولی ملی پروسه نه ده. دسولی پروسه باید د سیاسی او ایدیالوژیکو مخالفینو سره وی اود مرتکبینو او قربانیانو ترمنځ وی څوک چی دمسلحانه شخړو او نښتونه یی زیان لیدلی. لاکن د سولی

اوپخلاینی پروګرام داسی معلومیږی چی فقط اقتصادی پروګرام وی جنګیالی واخلی. زه دغه پروګرام نه خوښوم اوملاتړیی هم نه کوم."

د سولی اوسنی ولایتی کمیټی غړیتوب دقومونواوجغرافییایی سیمی استاری توب نه کی. همارنګه د سولی دولایتی کمیټیی غړی وړتیا نه لری چی د شورشیانو سره خبری وکړی څرنګه چی په ټولنه کی ددوی درناوی نه کیږی اوځکه دوی نه شی کولی چی نا امنه سیمو ته لاړشی اوله طالبانوسره خبری وکړی. دولت باید دولسوالی اوسیمه ایزوشوراګانواوهمداډول دولایتی شورا دغړوسره سلا مشوری وکړی مخکی له دی چی کوم څوک د سولی دکمیټی دغړی په توګه ټاکی. د سیمی دقدروړدینی علما کولی شی چی په ولایت کی دسولی په راوستلوکی مهم رول ولوبوی.

دسولی د بریاالی پروګرام لپاره دولایتی کمیټی اوسنی میکانیزم اودهغی توسعوی فعالیتونه اودسولی د پروژوتخصیص باید پراخ شی او د دینی علماو، قومی مشرانو، سیاسی رهبرانواوځوانانو ګډون ته خاصه پاملرنه وشی.

**د ټولنی دغړو پواسطه دشخړو او دعوو دحل او فصل میکانیزم:** وردګ ولایت البته چی یودودیز او عنعنوی ټولنه ده. دخلکوتر منځ دعوو حل او فصل د قوم دمشرانو، شورا ګانو او جرګی له لاری ډیرزیات دود اومعمول دی. یوولسی مشر دمیدان ښارله مرکز څخه څرګند کړل چی:

"اجازه راکړی چی ووایم چی د سیمه ایزو دعوو اولانجو ۹۰ سلنه د سیمه ایزو شوراګانو اوجرګو پوسطه حل او فصل کیږی. دادځمکی په سردعوی اولانجی او دقومونو ترمنځ دعوی اولانجی دی. مګردوی نه شی کولای چی لویی سیاسسی لانجی اومسایل اومسلحانه شخړی حل اوفصل کړی. دوی لږه اغیزه په مسلح ګروپونو لری."

نوځکه دولت باید داسی یوه پالیسی طرح کړی چی داولس پواسطه ددعوواولانجوحل اوفصل میکانیزم درسمی عدالت (قضایی سیستم سره یوځای شی. دابه داولس لاسرسی عدالت ته زیات کړی اوهمدارنګه به د شورا اوجرګوفیصلوته قانونی حیثیت ورکړل شی.

**د سولی ویجاړو نکو او لوبغاړو ته خطاب:** کله چی په ولایت کی د سولی هڅی اوکوششونه منظم اوګړندی شی دځوانانو، دینی عالمانو، قومی مشرانواوکلیدی سیاسی رهبرانوټولول په یوه محور کی کلی ده ترڅوپه ولایت کی سوله راشی.ځکه اولس په خاصه توګه د سولی په ولایتی کمیټوکی او دهغوی په فعالیتونو اودسولی په اختصاصی پروژوکی دبا نفوذه دینی عالمانو، متنفذو قومی او دټولنی مشرانو، مدنی ټولنو اودښځو د پراخ اوزیاتیدونکی ګډون غوښتونکی شو. د میدان ښار یوتن مشرپه دی اړه وویل چی:

" دعادی خلکو، انجمنونواو مدنی ټولنواودښځو ګډون اوبرخه اخستنه د سولی په هڅواوکوششونوکی د سولی پروسه نورهم پیاوړی کوی اوهمدارنګه د سولی د لاسته راوړلو په لوری کی دخلکودپراخ ملاتړپه جلبولوکی مرسته کوی".

## ۵. د خلکو سپارښتنی

د دی لپاره جی په میدان وردګو ولایت کی سوله څرنګه راشی ګډون کوونکی په یوه جوړنکی خبرواترو کی ددولت، نړیوالی ټولنی، مدنی ټولنی او سیمه ایزو شوراګانو دلازیاتی ونډی اخستنی په موخه لاندی وړاندیزونه وړاندی کړل.

**د دولتی اداراتو (بنسټونو) اصلاح (رغونه) او د ښه حکومتداری پیاوړتیا:** (۱) د وړتیا اولیاقت پربنسټ د مقرری (استخدام یقینی کول اود ولایت او ولسوالیو د دولتی اداروپه څوکیو کی د میدان وردګو ولایت ماهرو او تعلیمیافته کسانوته دلومړیتوب حق ورکول: (۲) د زده کړی اوتریننګونودیوی لړی په لاره اچول د دولتی چاروکو د مسلکی پوهی اوښه خدمتونو دوړاندی کولو په مخه (۳) د فساد په وړاندی د یوه غښتلی ارګان او نظارتی میکانیزم رامنځته کول چی دخدمتونودوړاندی کولودځرنګوالی نه نظارت وکړی اوددولتی چاروکوپوسطه د صلاحیت څخه دناوړی استفادی مخنیوی وکړی: (۴) دولت باید داسی غونډی جوړی کړی چی په هغه کی دټولنی غړی وکولی شی چی ددولت سره په یوه جوړونکی اومتقابل اغیزمن خبرواتروکی برخه واخلی کوم کی چی دوی وکولی شی خپلی مسلی اواندیښنی چی دو ی باندی اغیزه کوی له دولت سره مطرح کړی اوله دی سره مرسته کوی چی د خلکواودولت ترمنځ زیاتیدونکی واټن لرکړی.

**د بشری حقونو پرمختیا (ارتقا)، دقانون حاکمیت اود مجازاتو څخه دمصونیت په وړاندی مبارزه:** (۱) د افغان امنیتی ځواکونو او طالبانو سره خبری، دهغه جملی نه د دینی علماوله لاری، د ملکی تلفاتو د کمولو په خاطر؛ (۲) د تبعیض په وړاندی د مبارزی د ترویج په مقصد د پروګرامونو پلی کول له هغی جملی نه د جنسیتی تبعیض په وړاندی؛ (۳) عدالت ته دښځو په وړاندی دتاوتریخوالی د منع قانون مطابق د ښځوپه وړاندی د تاوتریخوالی د مرتکبینو راوستل؛ (۴) د ښخو دحقونو اود ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون په هکله د پوهاوی د لوړولو د کمپاین په لاره اچول چی د ټولنیز وګرو پونوپراخ طیف له هغی جملی نه مذهبی رهبران، دټولنی مشران، د ځوانانو ډلی، زده کوونکی او دولتی چاروکی تر پوشش لاندی ونیسی؛ (۵) د ښوونځیوپه تعلیمی نصاب کی دیومظمون د "سوله اوبشری حقونه اودهغوی ګـتـې" ترعنوان لاندی شاملول او (۶) د قضاییه قوی، څارنوالی اودقانون د تنفیذ داورګانود ظرفیت جوړول دی.

**د سولی اوپخلاینی دپروسی د پراخ بنسټتوب څخه ملاتړ:** (۱) دسولی دولایتی کمیټو میکانیزمونه، دهغوی مرسته رسوونکی ابتکارونه او د سولی پروژی باید د قومی او

سیمه‌ایز جغرافیایی نماینده‌کی په نظرکی ونیسی؛ (۲) دسولی ولایتی کمیتی باید دعادی خلکو ګډون یقینی کړی او د دودیزو محرومو ګروپونو د نظریاتو اخستل یقینی کړی د ښځو، ځولنانو اودقومی لږه کیوپه کډون؛ (۳) د داخبری یقینی کول چی داسی میکانیزمو شته دی چی د سولی او پخلاینی پروسی باندی د ویجاړونکو د منفی اغیزو څخه مخنیوی وکړی؛ (۴) ددی خبری یقینی کول چی د تیرو جدی بشری حقونو سرغړونو اوځورونو مرتکبین به دعدالت منګلوته سپارل کیږی؛ (۵) د سولی اوپخلاینی اوسنی پروګرام تعویض د سولی د یوی ملی پروسی سره چی هدف یی سیاسی اووسله وال مخالف ګروپونه دیوه کل په توګه د یوی جامع اوهراړخیز پروګرام له لیاری شاملول دی.

**د اقتصادی اوټولنیزی پرمختیا دپروژو پلی کول:** (۱) دداسوپروژوپلی کول چی هدف یی دکرهڼی او مالداری عصری کول، د اوبو او بریښنا د بندونو سیستم چی د اوبو لګولو استفاده هم تری وشی اود مرمرو ډبرو د کانونو استخراج چی شغل او کار خلکوته پیدا کړی؛ (۲) پرمختیایی مرستو ته دسیمه ایزو ټولنو د برابر لاسرسی یقینی کول اود خلکو قادرول په دی باندی چی د پرمختیایی پروژو څخه په خپلو سیمو کی څارنه وکړی.

# د لوګر ولايت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

دسولی دا ولایتی نقشه د هغو کلیدی موندنو اومسلو لنډیز بیانوی چې د ټمرکز د درې ډلو د بحثونو، د شپږو انفرادی مرکو او د نظریو د هغو

شپږو سروې ګانو په ترڅ کې رابرسیره شوی چې د لوګر په ولایت کې د ۹۰ تنو محلی اوسیدونکو سره د مشورو د بهیر په لړ کې ترسره شوی دی. ګډون کوونکی د بیلابیلو ټولنیزو او سیاسی شالیدونو درلودونکی وو: د ټولنې مشران، نارینه او ښځینه ښوونکی، مذهبی پوهان، پخوانی جهادی قوماندانان او د ځوانانو او مدنی ټولنې استازی. دغه مشورې د افغانستان د سولې د پروګرام لپاره د افغانستان د خلکو د خبری اتری د دوهم پړاو د یوې برخې په توګه د ۱۱ مدنی ټولنو او د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون لخوا سرته ورسیدلې چې د ۴۵۰۰عادی افغان وګړو سره د هېواد په کچه مشورې وکړی د دې لپاره چې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې په هر ولایت کې د سولې لپاره د لارې جلا جلا نقشو ته انکشاف ورکړی. د لوګر په ولایت کې د د لوګر د ولایت د مدنی ټولنې شبکه وه چې همدغې موسسې ډله ییزې غونډې، مرکې اود نظریو لپاره ګروهی بحثونه اوانفرادی سروې ګانې پر لاره واچولې.

د سولې لپاره د لارې د د غې نقشې موخه داده چې د شخړې په اړه ممکن هر اړخیز تحلیلونه برابر کړی او همدارنګه په محلی کچه د حل عملی محلی لارې چارې ولټوی څو په دې لاره کې مرسته وکړی چې د لوګر په ولایت کې تل پاتې سوله ټینګه او ټیکاو رامنځته شی.

## ۲. د ولایت پروفایل: جغرافیه، دموګرافی او سیاسی وضعیت[۱۰]

د لوګر ولایت هغه وادی ده چې د کابل په سهیل ختیځ کې پرته ده او د ختیځ، سهیل او جنوب لویدیځ له لوری د کړو وړو او نا هموارو غرونو په وسیله احاطه شو ې ده. د لوګر ولایت په لویدیځ کې د میدان وردک له ولایت سره، په شمال کې د کابل، په ختیځ کې د ننګرهار، او په سهیل کې د غزنی او پکتیا سره پوله لری. د دغه ولایت د ازرې ولسوالی په ختیځ کې د پاکستان د خیبر پختونخوا د خیبر د د درې سره ۱۶ کیلومتره پوله لری. د لوګر ولایت اوه ولسوالۍ لری: پل علم( د ولایت مرکز) ، محمد اغه، برکی برک، ازره، خروار، څرخ او خوشی.

د وروستنیو تخمینونو له مخې چې په ۱۳۹۰/ مارچ ۲۰۱۱ کې د احصایې د مرکزی ادارې له خوا تر سره شوی دی د دغه ولایت نفوس ۳۶۰۹۰۰ تنو ته رسیږی. د نفوس ۷۰ سلنه پښتانه، او ۳۰ سلنه تاجک( دوه ستر قومیتونه) دی. د تاجکو ډیری نفوس د څرخ په

---

[۱۰] د یوناما د لوګر ولایتی پروفایل ( داخلی سند) ۲۰۱۳

ولسوالۍ کې ( د ولسوالۍ د نفوسو ۷۵ سلنه) دی. د خوشی په ولسوالۍ کې (۵۰ سلنه د ولسوالۍ نفوس) او برکی برک ( ۴۰ سلنه د ولسوالۍ نفوس) دی. همدارنګه ۲۳٪ د محمد اغې د ولسوالۍ نفوس او ۲۰٪ د پل علم د ولسوالۍ نفوس هم تاجکان دی. خروار او د ازرې په ولسوالۍ کې په ګډه پښتانه او تاجکان دی.

د جهاد په کلونو کې په تاریخی لحاظ د لوګر ولایت د حزب اسلامی، جمعیت، حرکت اسلامی او محاز ملی د تنظیمونو څواکمن مرکز و. په دې ولایت کې ډیرې مشهورې جهادې جګړې وشوې، نو له همدې کبله دې ولایت ته د " د جهاد دروازه" لقب ورکړل شو. د دې ولایت قومی ګډ تر کیب، دسیاسی ګوندونو سره یې تړاو د قومی تشخصاتو تر پوښښ لاندې را نغلو. جمعیت، حرکت انقلاب اسلامی او د ګلبدین حزب اسلامی د دغه ولایت درې ستر سیاسی ګوندونه دی. یوه پخوانی جهادی قوماندان ویلی دی:

> "د جهاد پر مهال لوګر ته د، باب الجهاد نوم ورکړل شو، ( د جهاد دروازه) . موږ زیاتره نظامي تدارکات چې د مجاهدینو لپاره پاکستان برابرول د لوګر د لارې تر لاسه کول. اوس مهال هم طالبان د لوګر -کابل د سترې لارې څخه په همدغه موخه کار اخلي."

په ۲۰۰۵ کال کې د طالبانو ترمشرتابه لاندې یاغیانو( چې په کې بهرنی شورشیان هم شامل وو) چې د خروار، څرخ، ازرې او برکی برک په ولسوالیو کې یې سر را پورته کړی و او بیا وروسته پل علم او د محمد اغې ولسوالیوته خپاره شول.[۱۱]

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه او محرکات

**د شخړې ډولونه:** په دغه ولایت کې دوه ډوله پراخې شخړې موجودې دی: د طالبانو تر مشرۍ لاندې (همدارنګه د حقانی دشبکې) شورش او د ځمکې او نورو طبیعی زیرمو پر سر را ولاړې شخړې( د کوچیانو او محلی خلکو ترمنځ او همدارنګه د مس عینک د کان ستونزه). د نورو ولایتونو پر خلاف د لوګر ولایت د پښتنو او تاجکو تر منځ او پخپله د پښتنو قبیلو تر منځ قومی شخړې او هم د سنی او اهل تشیع مذهبونو تر منځ کوم ډول نښتې نشته. د نفوس ډیری برخه پښتانه او تاجکان دی. دواړه قومی ډلې په دواړو ملی ژبو غږیږی: دری او پښتو. دا د دې سره مرسته کوی چې په قومی او مذهبی لحاظ کلیوالې ټولنې یو بل په تبعیضی او توپیری حالت کې نه وینی.

**د مسلح مخالفینود یاغیتوب کړکیچ:** د ۲۰۰۵کال راهیسې د طالبانو تر مشرۍ لاندې یاغیتوب ورځ تر بلې قوت مومی. لومړی دغه شورش د ازرې، خروار، چرخ او برکی برک

[۱۱] د یوناما د لوګر ولایتی پروفایل، د ۲۰۱۳ کال د فبروری میاشت

په ولسواليو کې رامنځته شو او بيا پل علم، خوشی او محمد اغې ولسواليو ته خپور شو. د ولايت ډيری برخې اوس د طالبانو د حرکت تر کنترول لاندې دی.

د لوګر په ولايت کې د حقانی شبکه هم ډير فعال حضور لری. خو هغه د طالبانو سره يوشان فعاله ده، ځکه چې حقانی او طالبان د ايډيالوژۍاو ستراتيژيو له مخې سره کوم اختلاف نه لری. په حقيقت کې د حقانی شبکه په دغه ولايت کې ډيره قوی ده ځکه چې د جلال الدين حقانی د ورور خسر د برکی برک د ولسوالۍ څخه دی. د طالبانو ځينې غړی هم د القاعده سره په تړاو کې دی. په دې توګه د حقانی د ډلې، القاعده او د طالبانو د محلی ډلو تر منځ توپير نه ليدل کيږی؛ هغوی يوځای سره کار کوی.

په عمل کې د لوګر په ولايت کې دشورشيانو خصلت د يو ځای څخه په بل ځای کې او هم د وخت په تغير سره توپير کوی او د دې لامل د دولت ضد عناصرو په محلی شبکو کې د بهرنيو جنګياليو نفوذ اوموجوديت دی. بهرنی جنګيالی وخت په وخت د محلی اوسيدونکو د ګټو پر خلاف اقدام کوی. د هغوی حضور سره د محلی مشرانو او دينی پوهانو نفوذ د دولت ضد عناصرو په شبکو محدوديږی، په ځانګړې توګه کله چې محلی مشران د هغوی سره د اختطاف شوو کسانو او د کليو د مشرانو د موخه ييزو وژنو د بندولو په اړه مذاکرې کوی. ګډون والو په دې ټينګار کولو چې بهرنی جنګيالی بې رحمه قاتلان دی او هغوی د محلی ټولنو پروا نه لری او نه هم محلی مشرانو ته غوږ نيسی. هغوی د سولې د بهير پر خلاف دی.

د خروار، ازرې او چرخ ولسوالۍ زياتره د طالبانو د کنترول لاندې دی، يواځې د دغو ولسواليو اداری مرکزونه د دولت تر ولکې لاندې دی. هيڅ چارواکی نه شی کولای چې د پل علم او ازرې د ولسوالۍ تر منځ د سړک څخه کار واخلی ځکه چې هغه د طالبانو تر کنترول لاندې دی. د ازرې ولسوالۍ ته متبادل سړک د ننګرهار ( جلال اباد) د حصارک د ولسوالۍ څخه تير شوی دی، چې هغه هم د طالبانو تر قوی نفوذ لاندې دی، خو چارواکی د دغه سړک څخه د نظامی کتار په بدرګه کار اخلی. د ننګر هار په ولايت کې د شورشيانو له خوا د رامنځته شوې نا امنۍ له کبله د ننګرهار څخه د ازرې د ولسوالۍ پر لور د سړک څخه استفاده هم ننګونکې ده. د ازرې د ولسوالۍ ۱۸ کلومتره پوله چې د پاکستان د پختونخوا د ايالت سره ده بهرنيو جنګياليو او طالبانو ته د ننوتلو يوه مصوونه لار برابروی. د طالب او بهرنيو جنګياليو د ازرې د ولسوالۍ له لارې د لوګر ولايت ته د راننوتلو بل لامل د ازرې په ولسوالۍ کې د نظامی ځواکونو کمزوری حضور او ځای پرځای کيدنه ده. په دغې ولسوالۍ کې افغان ملی پوليس دير کم دی . د لوګر د ولايت د پل علم څخه د مدنی ټولنې يو غړی وايی:

″ د طالبانو ځواکمني د ۲۰۰۵ کال څخه راهيسې ورځ په ورځ زياتيږي. اوس هغوي د ولايت ډيرې برخې کنټرولوي. طالبان د دې ځواک لري چې د ځينو ولسواليو مرکزونه هم ونيسي، خو هغوي دغه کار نه کوي، ځکه هغوي په دې پوهيږي چې دغه مرکزونه تر اوږد مهاله نه شي ساتلای، د څرخ په ولسوالۍ کې افغان امنيتي ځواکونه د ولسوالۍ په مرکز کې حتی بازار ته هم نه شي تللای. دا په دې مانا ده چې افغان امنيتي ځواکونه نه شي کولای چې د خپلو محوطو او انګړو څخه را و وځي. نو په دې توګه که و پوښتل شي چې د ولسوالۍ اصلي چلونکي څوک دي، نو ويلای شو چې هغه طالبان دي.″

ځينی ګډونوال وويل چی دولت پلوه ځواکونه د دولت ضد عناصرو پرخلاف د شپې د مهال په چاپو او د هغوی د موقعيت پر ځايونو په هوايی بريدونو باندې تکيه لری. خو دغو هوايی بريدونو او د شپې د مهال چاپو په واقعيت کې خلک د دولت پر ضد راپارولی او د دولت ضد عناصرو سره يې نږدې کړی دی. د بيلګې په ډول د برکی برک په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۲ کال د جون د مياشتې په هوايی بريد کې ۲۰ تنه ملکيان و و ژل شول چې په هغو کې ماشومان او ښځې هم شاملې وې. د ې سره محلی وګړی لا هم د دولت څخه دومره لېرې شول چې پخوا دومره نه وو لېرې. د شپې د مهال د چاپو په ترڅ کې بهرنی پوځيان فرهنګی حساسيتونه په پام کې نه نيسی. دې سره محلی اوسيدونکی لا هم د حکومت او بهرنيو ځواکونو پر ضد شول. افغانان هيڅکله هم دا نه منی چې بهرنيان يې د شپې پر مهال پر کور بريد وکړی. د لوګر د ولايت يو تن ملا و ويل:

″ يو له هغو لاملونو څخه چې په پرله پسې ډول د طالبانو د شورش د پراخيدو سبب شو هغه د محلي وګړو سره د نړيوالو نظامي ځواکونو چلند او دهغوي حضور دی. هغوي د ملکي وګړو کورونو ته ننوتل، هغوي يې دشپې پر مهال تلاشي کړل چې دا کار زموږ د فرهنګ پر ضد کار دی او موږ يې هيڅکله هم نه شو منلای. نو له همدې امله هم وه چې خلک بيا د طالبانو سره يوځای شول .″

ګډون والو دا څرګنده کړه چې کله هغوی د شپې د مهال د چاپو او هوايی بريدونو او بيا د دولت خلاف وو نو دا د دې مانا نه لری چې ګواکې د هغوی طالبان خوښيږی. هغوی و ويل چې دوی سوله غواړی. ټولنې او کليوال د شخړې د دواړو خواوو څخه په تنګ دی . دبيلګې په توګه د څرخ او برکی برک په ولسواليو کې د طالبانو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ ډزې تبادله کيږی چې په منځ کې يې ملکيان راګير وی. ملکيانو ته هميشه خورا زيات تاوان رسيږی ځکه چې طالبان د ملکی وګړو کورونه استعمالوی. محلی وګړی نه شی کولای د طالبانو مخنيوی وکړی څو د دوی کورونو ته داخل نه شی. خو که هغوی دا کار کوی نو طالبان ورته د مرګ ګواښونه کوی. د لوګر د ولايت يو تن محلی قومی مشر و ويل:

" هیڅوک زموږ پروا نه لري. مونږ طالبان د دې څخه نه شو منع کولای چې زمونږ کورونه دې نه استعمالوي. که چېرې موږ دا کار وکړو طالبان به موږ و وژني. او کله چې موږ څواکونو ته ورځو او ورڅخه هیله کوو چې زموږ پر کلیو راکټونه مه ګوزاروئ نو هغوي وایي چې موږ ولې طالبانو ته په کلي کې د پاتې کېدو اجازه ورکوو. موږ د دواړو اړخونو څخه ځورېږو. طالبان موږ په دې تورنوي چې موږ د دولت ملاتړ کوو او حکومت مو په دې تورنوي چې موږ د طالبانو ملاتړي یو. "

**د کوچیانو او ځایی خلک تر مینځ شخړې:** خلک تشریح کړل چی د وه نور ډول د منازعی لاملونه په لوګر کی شتون لری جی یو د ځایی خلک او کوچیانو تر مینځ او دوهم د هغو ځمکو پر سر دی چی ر عینک مس د وعدن تر پروژی لاندی راغلی دی .

د برکی برک او محمد اغه په ولسوالیو کې د کوچیانو او محلی اوسیدونکو تر منځ دځمکې دوه سترې شخړې موجودې دی. د برکی برک په ولسوالۍ‌کې حکومت کوچیانو ته ځمکه ویشلې ده چې هغوی د وردک او بامیانو دولایتونو څخه هلته را کډه شوی وو چې هلته د هزاره ګانو او کوچیانو تر منځ د تاو تریخوالی اوږد مهاله نښتې وې. د محمد اغې په ولسوالۍ کې کوچیان د نورو ولایتونو څخه را کډه شوی دی او اوس هغوی ځمکې او څړ ځایونه نیولی دی. دې سره هلته محدودې زیرمې په ختمیدو دی چې د محلی اوسیدونکو او راکډه شوو کوچیانو تر منځ د شخړې او لانجې لپاره په راتلونکې وخت کې یو خطر موجود دی. د مدنی ټولنې یو کارکونکی چې د لوګر د ولایت څخه دی و ویل:

" کوچیان پخپله د برکي برک په ولسوالۍ کې د وسله والو شخړو لپاره یو لامل دی. له هغه ځایه چې کوچیان پښتانه دي او هغوي طالبانو ته پناه ورکوي، د دې سره طالبان د هغوي څخه د محلي وګړو پر خلاف ملاتړ کوي. حکومت هم زموږ نه اوري څو دغه ستونزه حل کړو."

**د شخړې لاملونو:** لاندنی موارد د دې لامل دی چې د حکومت او ټولنو تر منځ واټن زیاتوی چې دا پخپل وار په را وروسته موده کې په ټولنو کې د دولت ضد عناصرو لپاره د فعالیت کولو پراخه زمینه برابروی.

**اداری فساد:** خلکو دا په ګوته کړه چې فساد د ټولو ستونزو اصلی لامل دی. هغوی د دې یادونه وکړه چې فساد په دغه ولایت کې د حکومتولۍ او پرمختیایی چارو ټولې ساحې ګوډې کړی دی. دې سره ټولنې د حکومت څخه ناراضه دی. نو بیا د دې سره دغه کلیوالې ټولنې د طالبانو پر خوا کیږی. د بیلګې په ډول د ډیر زیات فساد له امله چې د قانون د پلی کولو او عدلی چارو په ادارو کې دی خلک دې ته ترجیح ورکوی چې د طالبانو

شوراګانو او یا د عدالت لپاره قومي جرګو ته مراجعه وکړي. هغوی ولیدل چې د طالبانو شوراګانې مفسدې نه دي، شفافه دي او د حکومت د عدلي سیستم پر خلاف عدالت ته د رسیدنې په لار کې ګړندي اقدامات کوي. هغه څه چې د ډیرې خواشینۍ لامل دي هغه دا دي چې عدلیه چې باید د فساد مسلې حل او هغه له منځه یوسي هغه پخپله په فساد اخته ده. د لوګر د ولایت د پل علم څخه یو قومي مشر وایي:

> ″ حکومت خو هسې هم کمزوری دی. او اوس هغه په فساد اخته دی. هیڅ رسمي چارواکي او ادارې د فساد څخه پاکې نه دي. د ټول دولت ماشین په فساد ککړ دی. او د دې هر څه پایله داده چې د ټولنو، وګړو او حکومت تر منځ واټن زیاتیږي او ورسره د طالبانو لپاره ملاتړ هم ډیریږي. ″

**کمزورې حکومتولي:** خلکو د مرکو په درشل کی داو یل چی  د ولایت او ولسوالۍ په کچو حکومتي مامورین پوره مسلکي او مهارت لرونکي نه دي نو له همدې کبله په دې نه توانیږي چې ښه حکومتولي رامنځته کړي که دا کار هغوی وغواړي هم یې نه شي کولای. بدې حکومتولۍ بې کارۍ، بې وزلي او د ټولنو ترمنځ نا هیلي رامنځته کړې ده. د دې یو لامل د ولایتي ادارې په رهبرۍ کې همیشني بدلون دی. د تیرو څو کلونو په جریان کې مرسته کوونکو او ډونرانو هم د لوګر ولایت هیر کړی دی. ولایتې اداره هم په دې کې پاتې راغلې ده چې د دغو مرسته کونکو توجه را واړوي. نا سمه امنیتي وضعه د دې لامل ګڼل کیږي، خو بده اداره او نا امني یو له بل سره تړلي دي. او بیا هم د دې سره ټوله پایله دا کیږي چې ټولنې د طالبانو او د هغوی د فعالیتونو پلوی ته مخ اړوي.

**د افغان محلي پولیسو سلوک:** په داسې حال کې چې افغان محلي پولیسو د دې سره مرسته کړې ده چې د دولت ضد عناصرو د ډله ییز نفوذ (لکه د محمد اغې او ازرې په ولسوالیو کې) مخنیوی وکړي ، خو د ټولنو سره د هغوی همیشني ناوړه سلوک د محلي وګړو تر منځ عمومي غصه راپارولې ده. د افغان محلي پولیسو سره ستونزه په ناسم استخدام کې ده . افغان محلي پولیس رسمي ملیشه ده. پخوانۍ ملیشه ګانې چې په تیریو تورنې وې هغوی هم د افغان محلي پولیسو سره یوځای شوې دي. او دهغوی څخه ځینې یې لا هم جرمونه سرته رسوي. خو د هغوی څخه یو یې هم نه دی نیول شوی او نه هم تر عدلي تعقیب لاندې راغلي. که چیرې هلته قومي او قبیلوي شخړې وې نو هغوی په دې صورت کې طرف واقع کیږي. د برکي برک د ولسوالۍ څخه یو پښتون مشر و ویل چې په برکي برک کې د افغان محلي پولیسو ډیری یې تاجکان دي. که چېرې هلته کومه شخړه د تاجکو او پښتنو ترمنځ وي نو په دې صورت کې افغان محلي پولیس د تاجکانو لوری نیسي. هغوی همدارنګه پښتانه وګړي هلته تهدیدوي او ګواښي او وایي چې ټول پښتانه چې ږیرې لري طالبان دي. یوه تن پخواني قوماندان و و ویل:

" په لوګر کې د جهاد د وختونو څخه را هیسې د خلکو تر منځ ستونزې شته چې حل شوې نه دي. اوس ورځو کې هغه پخواني متضاد مجاهدین او د طالبانو د رژیم ملاتړي د افغان محلي پولیسو لیکو ته ننوتي دي. د دې سره هغوي بیرته ځواکمن شوي او اوس هغوي هڅه کوي چې دخپلو پخوانیو مخالفینو څخه انتقام واخلي."

**د افغان امنیتی ځواکونو کموالی:** د مشورتی غونډو په ترځ کې خلکو و ویل چې د افغان امنیتی ځواکونو کمښت ، په تیره بیا د خروار، ازرې او څرخ په ولسوالیو کې د دولت د ضد عناصرو حوصله لوړه کړې ده. په دغو ولسوالیو کې افغان ملی اردو نشته. د ازرې په ولسوالۍ کې شاوخوا ۱۰۰ محلی پولیس په دې وروستیو کې مستقر شوی دی، خو هغه هم د ولسوالۍ په اداری مرکز کې دی. د لوګر ولایت یو سپین ږیری و ویل:

" په څرخ او د ازرې په ولسوالیو کې محلي حکومت یواځې د ولسوالۍ په اداري مرکز کې دی. او د څرخ په ولسوالۍ کې حتی د ولسوالۍ مرکز هم د طالبانو تر اغیز لاندې دی. د محمد اغې او برکي برک په ولسوالیو کې هم، طالبانو خپل فعالیتونه زیات کړي دي. که چېرې حکومت افغان امنیتي ځواکونه پر وخت زیات نه کړي نو ټول ولایت کېدلای شي چې د طالبانو په کنټرول کې راشي. "

**د نړیوالو نظامی ځواکونو هوایی بریدونه:** دشپې چاپې او د تلاشۍ عملیات: ټولنو په ښکاره هغه مهال د طالبانو هر کلی وکړ کله چې د امریکې د متحده ایالاتو نظامیانو د ګوانتنامو په زندان کې قران ته اور واچولو. طالبانو د دغه فرصت څخه ګټه پورته کړه او هغوی ځایی وګړی د نړیوالو پوځیانو پرضد را وپارول. نو په دې توګه محلی وګړو د نړیوالو نظامیانو د غه اقدام په وړاندې غصه څرګنده کړه، هغوی د شپې د مهال د بریالیو بریدونو او تلاشیو په وړاندې هم غصه درلودله، حتی که هغوی په دې کې یواځې د طالبانو غړی په نښه کړی وو. محلی اوسیدونکی د شپې د هر ډول چاپو، د تلاشیو د عملیاتو او هوایی بریدونو پر ضد دی. د لوګر د ولایت یو تن محلی سپین ږیری و ویل:

" د ۲۰۱۲ کال په جولای کې امریکایانو د سجاوند کلی بمبار کړ. هغوي ۱۸ تنه ملکیان و وژل. هغوي ښځې او ماشومان و وژل. په ۲۰۱۳ کال کې دیوه ملکي کس کور هم بمبار دکړ. هغوي زموږ پروا نه کوي. زموږ ژوند د هغوي لپاره هیڅ ارزښت نه لري. که چېرې هغوي زموږ وژنو ته ادامه ورکړي نو موږ به د دوي پرخلاف تر پاي وجنګیږو او دا کار موږ د روسانو پر خلاف کړی دی. "

## ۴. د سولې لپاره د لارې نقشه

د ګروپي بحثونو ، مرکو او د نظرونو د سروې ګانو په لړ کې د لوګر د ولايت خلکو د تل پاتې سولې او د ولايت د ښې راتلونکې لپاره ډير ګټور وړانديزونه وکړل. هغوی د دې لپاره په څلورو مهمو ساحو باندې تمرکز درلود: (۱) د محلی حکومت په ادارو (ملکی او نظامی) کې اساسی اصلاحات؛ (۲) د افغانستان د سولې او بيا يوځای کېدنې د پروګرام( ای پی ار پی) د پاليسۍ بيا کتنه او بدلون، د سولې د ولايتی شورا (پی پی سی) غړيتوب او د ا ی پی ار پی پلی کول؛ (۳) نوی اقتصادی او پرمختيايی فرصتونه؛ او (۴) د ولايت په کچه د قانون د حاکميت او بشری حقونو تقويه، د سولې د هڅو په شمول.

**د محلي حکومتولۍ په موسسو کې بنسټيز اصلاحات:** د ښې حکومتولۍ لپاره افغن ښځينه و نارينه او ځوانان دا وړانديز درلود چې په لومړی سر کې د ولايتی او ولسوالۍ د ادارو او د نورو بيلابيلو اړوندو وزارتونو د رياستونو لپاره د رييسانو ټاکل نه بايد چې د سياسی، قومی او کورنيو تعلقاتو پر بنسټ وی. هغوی بايد د وړاندې څخه د معلومو تحصيلی مهارتونو او مسلکی تجربو د معيارونو له مخې وټاکل شی. د ولايت د والی او ولسوالانو د مقامونو لپاره دا به غوره وی چې هغوی د خلکو په خوښه وټاکل شی. د لوګر د پل علم څخه د محلی مدنی ټولنې يو غړی وايی:

> ″ والي د ولايت رييس دی لکه چې رييس جمهور د هېواد رييس دی. نو ځکه والی بايد د خلکو په خوښه وټاکل شي. څنګه محلي ټولنې کولای شي هغه شخص ومني او ملاتړې وکړي چې يواځې غوره شوی وي او د مرکزي حکومت له خوا پرته له دې چې د ټولنې د مشرانو سره په کې مشوره شوې وي وټاکل شي.″

بل شی چې بايد ورباندې تمرکز وشی هغه د فساد سره مبارزه ده. محلی اداره بايد د هغې د لګښتونو او فعاليتونو لپاره حساب ورکونکې وی. دلته بايد شفافيت موجود وی. خلک او رسنۍ بايد پر خپل وخت معلوماتو ته رسيدنه ولری. د دې لپاره چې دفساد سره مبارزه وشی بايد چې اصلاحات لومړی په قضاء او د قانون د انفاذ په ادارو کې راشی. حکومت بايد دا باوری کړی چې د فساد لپاره جزا شته او داچې هغه پلې کيږی. دا به د دې سره مرسته وکړی چې په محلی ادارې دخلکو باور بيرته را ژوندی شی او د دې سره به مرسته وکړی چې د د ولت ضد عناصرو د فعاليت ساحه را تنګه، او په دې توګه تل پاتې سوله را منځته شی. د لوګر د پل علم څخه يو تن محلی مشر و ويل:

> ″ تر اوسه پورې موږ هيڅ قاضی، څارنوال او پوليس نه دی ليدلی چې نيول شوی وي او د فساد په تور تر عدلي تعقيب لاندې راغلی وي. که چيرې هغوي

د عدلي تعقیب لاندې ونیول شی نو دا به دنورو لپاره ښه ځمونه وي. نو دې سره به د فساد سره د مبارزې په برخه کې مرسته وشي. ″

افغان نارینه ٬ ښځینه او ځوانان د لوګر په ولایت کی دا وویل چی حکومت هم دې ته اړ دی چې محلی شورا ګانې چې د شخړو د حل لپاره واضحه دنده ولری جوړې کړی. دابه وکولای شی چې حکومت د ټولنې د وګړو سره نږدې کړی. دغه ډول شورا ګانې همدارنګه کولای شی چې د اوږد مهال څخه را پاتې د ځمکې شخړې چې د قومونو او قبیلو تر منځ وجود لری حل کړی، ځکه چې ټولنې هغوی ته د منځګړو قضاوت کوونکو په توګه ګوری چې کولای شی د شخړې د دوارو خواوو لپاره د وړونکو په توګه پریکړې ولری. د لوګر د ولایت یو تن محلی مشر و ویل:

″ زموږ په فرهنګ کې راغلي دي چې د مشرانو پریکړې باید ومنلې شي. ټولنه په ټوله کې هم د مشرانو پریکړې مني. خو حکومت د هغوي پریکړي په رسمیت نه پیژني. حکومت باید محلي شوراګانې او د هغوي پریکړې ومني. دا به د دې سره مرسته وکړي چې د ټولنو تر منځ د حکومت مشروعیت تقویه کړي. ″

امنیتی سکتور کې هم اصلاحاتو ته اړتیا ده . تر هرڅه دمخه محلی مشران باید د افغان محلی پولیسو د استخدام په بهیر کې په ریښتونې توګه مشورې وکړی. نوبیا باید افغان محلی پولیس په مسلکی توګه و روزل شی. د افغان محلی پولیسو رهبری او نظامی څارنوال باید دا باوری کړی چې هغه افغان محلی پولیس چې د جرمونو مرتکب کیږی باید ونیول شی او تر عدلی تعقیب لاندې راشی. حکومت دې ته اړ دی چې د لوګر په ولایت کې د محلی پولیسو تشکیل زیات کړی. افغان محلی پولیسو ته پیغام دادی چې هغوی باید د دولت ضد عناصرو سره د متقابلو ډزو پر مهال د احتیاط څخه کار واخلی. دابه د دې سره مرسته وکړی چې ملکی تلفات را کم شی. هغوی باید په کلیو کې د راکټونو په بې توپیره توګه د ګوزارونو څخه ډډه وکړی . خو په عمومی صورت ګډون والو د افغان ملی اردو د اجراآتو څخه خوښی څرګنده کړه. د برکی برک د ولسوالۍ څخه یو تن پښتون مشر و ویل:

″ د طالبانو د رژیم پر مهال دا طالبان وو چې خلک یې د دې لپاره چې ږیرې یې نه دي پرې ایښي وهل ټکول، او اوس تاجک افغان محلي پولیس دي چې خلک د دې لپاره وهي ټکوي چې ږیرې لري. د هغوي لپاره پښتانه طالبان دي، ځکه چې هغوي ټول ږیرې لري او پټکي په سر کوي. ولې افغان محلي پولیس چې د ګاونډ د دروازې اوسیدونکي دي او په دې نه پوهیږي چې دا د پښتنو ،فرهنګ، دی.″

د غونډې برخه والو د دې وړاندیز وکړ چې نړیوال نظامی ځواکونه باید د افغان امنیتی ځواکونو په روزنه او نورو تخنیکی او لوژیستیکی ملاتړ باندې تمرکز وکړی، نه داچې په مستقیم ډول د شپې په چاپو ، تلاشیو او هوایی بریدونو کې برخه واخلی. په عملیاتو کې د نړیوالو نظامی ځواکونو شتون په واقعیت کې خلک نا راضی کوی. او په پایله کې ټولنې او کلیوال د طالبانو د تحریک څخه ملاتړ کوی. د لوګر د ولایت یو محلی مشر وایی:

" زه ویلای شم چې افغان ملي امنیتي ځواکونه د دې ظرفیت لري چې د طالبانو پر خلاف وجنګیږي. خو هغه څه ته چې دوي ورته اړ دي هغه عصري تجهیزات او روزنې دي. دا نړیوال امنیتي ځواکونه دي چې کولای شي افغان امنیتي ځواکونو ته دغه ډول مرستې برابرې کړي."

**د افغانستان د سولې او بیرته یوځای کېدنې د پروګرام ( ای پی ار پی) د پالیسۍ بیا کتنه او بدلون، د سولې د ولایتی شورا غړیتوب او د هغه پلي کول:** ګډون والو و ویل چې د ای پی ار پی روان پروګرام یوه ناکامه هڅه ده. د سولې ولایتی شورا ته د دې واک سپارل شوی دی چې د ای پی ار پی پروګرام پلی کړی چې غیر فعال دی. د سولې ولایتی شورا د ټولو نماینده او با شموله نه ده او د پراخو ټولنو له خوا ورته درناوی نه کیږی. د لوګر د ولایت دپل علم څخه یو تن محلی مشر و ویل:

" د سولې د ولایتي شورا اوسني مشران نه شي کولای چې د طالبانو سره مزاکرات وکړي. د هغوي ډیری یې د یوه سیاسي ګوند سره تړاو لري او هغوي بې پرې نه دي. نو بیا هغوي نه شي کولای چې د طالبانو سره اړیکي ونیسي. حکومت باید د هغوي پر ځای اعتبار لرونکي درانه محلي دیني پوهان او قومي مشران وټاکي چې هغوي د طالبانو سره مزاکرې پیل کړي."

د سولې ولایتی شورا باید چې د سولې په اړه د عامه پوهاوی پروګرامونه په ولایت کې پیل کړی. د سولې د ولایتی شورا غړی باید چې د محلی ټولنو سره په پرلپسې ډول اړیکی او مفاهمې ولری . د افغانستان د سولې، بیرته یوځای کېدنې پروګرام ( ای پې ار پی) باید چې په ټولو هڅو او فعالیتونو کې د ټولنو د وګړو ونډه باوری کړی. یو تن ځوان چې د لوګرپه پل علم کې د یوې غیر دولتی موسسې سره کار کوی و ویل:

" د اي پي ار پي پروګرام باید د یو دولتي پروګرام د شکل څخه د ټولنې د کچې په یو پروګرام واوړي. نو بیا به دا د دې امکان پیدا کړي چې د ټولنې هر غړی په کې ونډه ولري. دا به طالبان دې ته اړ کړي چې سولې ته غاړه کښیږدي."

**د اقتصاد او پرمختيا نوې فرصتونه:** بې روزګارى د بې وزلۍ لامل کيږي او دا په دغه ولايت کې د ناوتريخوالى او ياغيتوب اصلى لامل دى. لاندنى فرصتونه چې په دغه ولايت کې شتون لرى او که چېرې د هغو څخه کار واخيستل شى نو کېداى شى چې د کار امکانات را پيدا کړي.

په ولايت کې د منرالونو د زيرمو موجوديت: خلکو و ويل چې د لوګر په ولايت کې دوه ډوله منرالونه دى: الف) په سوداګريز لحاظ پايداره ستر کانونه، لکه د عينک د مسو کان؛ او ب) د ټيټې کچې منرالى زيرمې. که چيرې حکومت د يو واضح عملى پلان له مخې د کانونو د راويستلو په کار پيل وکړى نو دا به د دې سره مرسته وکړي چې د محلى ټولنو لپاره د کار او عوايدو د تر لاسه کولو فرصتونه برابر شى. خو په واقعيت کې ځواکمنې کړۍ د کانونو په را ويستلو بوختې دى او طالبان هم خپله ونډه ورڅخه تر لاسه کوى، خو د دې سره محلى ټولنې د کانونو د روانو نا قانونه را ويستنو څخه هيڅ نه تر لاسه کوى. يو تن ځوان د لوګر د پل علم څخه و ويل:

> " ځواکمنې ډلې د ځينو لوړ پوړو چارواکو سره يو ځاى د کانونو په ناقانونه را ويستنو کې اخته دي . حکومت بايد د دې مخه ونيسي. دا کار بايد د يو پلان له مخې وشي او دغه پلان بايد عملي شي. "

د کرنې فرصتونه: د ولايت اقتصاد په هر حال يو کرنيز اقتصاد دى. دغه ولايت کې ډيرې براخه حاصل ورکونکې وادى ګانې شته چې ډيرې يې د اوبو سرچينې او ډير باغونه لرى. که چيرې حکومت د اوبو د بندونو/ زيرمو ځينې داسې پروژې چې د وچکالۍ پر مهال اوبه زيرمه کړى تطبيق کړى نو بزګران به ډيره ځمکه کې کرکيله وکړي حتى که هغوى د وچکالۍ سره هم مخ شى.

که څه هم په دغه ولايت کې بيلابيلې ميوې توليد کيږى خو د ميوو د پروسس يوه فابريکه هم په کې نشته. که چېرې حکومت په دغه ولايت کې د کرنې او باغدارۍ نوى پروګرامونه په کار واچوى نو دا به په ريښتيا سره د دې سره مرسته وکړي چې د بې وزلۍ مخنيوى وشى، په دې مانا چې ځوانان به دې ته نه هڅول کيږى چې د ياغيانو سره يوځاى شى، او په دې توګه به په دغه ولايت کې سوله راشى.

**د قانون د حاکميت او بشرى حقونو تقويه:** د لوګر ولايت د قانون د حاکميت او بشرى حقونو په لړ کې کمزورې سابقه لرى. د قانون د حاکميت تطبيق او بشرى حقونو تقويه به د دې سره مرسته وکړى چې په دغه ولايت کې قانون پلى شى، ښه حکومتولى رامنځته او سوله ټينګه شى. خلک د کمزورې حکومتولۍ او د قانون د حاکميت او بشرى حقونو، د ناوتريخوالى د ناوړه موجوده حالت څخه ستړى شوى دى. د لوګر د ولايت د پل علم څخه يو تن ځوان و ويل:

" موږ همیشه په ویره، درد او تشنج کې اوسیږو. موږ د وسله والې شخړې د دواړو اړخونو څخه په ویره کې اوسیږو. موږ د دوو خواوو تر منځ په متقابلو ډزو کې راګیر کیږو. موږ د هغوي څخه غواړو چې موږ ته د انسانانو په توګه پام وکړي. موږ بې اسرې یو موږ نه شو کولای چې پخپله د ځان دفاع وکړو."

افغان امنیتی ځواکونه هم د بشری حقونو رعایت نه کوی. هغوی ته باید د بشری حقونو په برخه کې روزنه ورکړل شی او بیا یې هغوی باید رعایت کړی. د لوګر د ولایت څخه یو تن مشر و ویل:

" حکومت په تیره بیا افغان امنیتي ځواکونه باید په دې پوه وي چې هغوي د بشري حقونو ساتونکي دي . هغوي باید په دې پوه وي چې بشري حقونه څه ته وايي او داچې ولې او څنګه دهغو درناوی اوهم یې ساتنه وشي. "

حکومت هم باید چې دا باوری کړی چې د بشری حقونو پایمالونکی به هیڅکله هم د سولې په بهیر کې معافیت ونه لری. هغوی باید ونیول او تر عدلی تعقیب لاندې راشی. د لوګر د ولایت څخه یوې ښځینه ګډون والې و ویل:

" د سولې د ولایتي شورا غړي او یا هم نو ر کسان چې د سولې په بهیر کې شامل دي باید چې د بشري حقونو د مفکورو، اصولو او ارزښتونو څخه خبرتیا ولري. هغوي باید چې په ځانګړي ډول د ښځو حقونو ته درناوی ولري. بشري حقونو ته چې په کې د ښځو حقونه شامل دي د درناوي پرته سوله بشپړه او پایداره نه ده. "

## ۵. د خلکو وړاندیزونه

د مشورو په بهیر کې خلکو لاندنی وړاندیزونه د دې لپاره درلودل چې د لوګر په ولایت کې د شخړې د اساسی لاملونو سره د مقابلې لپاره د یوه جوړښتی ډیالوګ د لارې حکومت، نړیوال فعالان او مدنی ټولنې دغو مسلو ته متوجه کړی:

**په محلي حکومتی ادارو کې اساسی اصلاحات**

**د ښې حکومتولۍ په لړ کې:** (۱) د ولایت د مشرتابه ټاکنه باید په سیاسی تړاوونو ونه شی او د دې لپاره باید شایسته سالاری او لیاقت په پام کې وی؛ (۲) باید د فساد سره د مبارزې لپاره یو واقعی میکانیزم موجود وی؛ (۳) حکومت باید د شخړې د حل لپاره محلی میکانیزم ته چې په کې محلی قومی شورا ګانې شاملې دی ښه والی ورکړی او د سولې په بهیر کې مشران شامل کړی.

**د امنيتی سکتور د اصلاحاتو په لړ کې:** (۱) د افغان محلی پوليسو د پروګرام لپاره اساسی اصلاحات او د هغوی د فعاليتونو د څواکمنې څارنې او حساب ورکونې باوری کول؛ (۲) د افغان محلی پوليسو او افغان ملی اردو د شمير زياتول او په ټولو ولسواليو کې د ملی اردو مستقر کول؛ (۳) افغان امنيتی ځواکونه، په تيره بيا افغان ملی اردو بايد چې د ملکيانو ساتنه وکړی، او؛ (۴) نړيوال امنيتی ځواکونه بايد په عملياتو کې ونډه ونه لری خو هغوی بايد افغان ملی امنيتی ځواکونو ته ملاتړ برابرکړی.

**د بشری حقونو او د قانون د حاکميت تقويه کول:** (۱) د بشری حقونو او د هغو د اصولو او ارزښتونو په اړه د عامه پوهاوی زياتول؛ (۲) د بشری حقونو او د بشر پالنې د قانون په اړوند د افغان امنيتی ځواکونو او د سولې د ولايتی شورا د غړو د پوهاوی دکچې لوړول؛ (۳) د قانون پلی کول او د قانون د حاکميت څخه ملاتړ کول.

**د افغانستان د سولې او بيرته يوځای کېدنې د پروګرام ( ای پی ار پی) د پاليسۍ بدلون، د سولې د ولايتی شورا غړيتوب او د دې پلي کول: (۱)** دسولې ولايتی اوسنۍ شورا بايد منحله شی او درانه دينی او قومی مشران چې کولای شی د طالبانو سره مزاکرې وکړی په کې دندو وګومارل شی؛ (۲) د ای پی ار پی اود سولې د ولايتی شورا اوسنۍ ستراتيژی بايد د سره وکتله شی؛ (۳) دغه بهير بايد با شموله وی چې په کې علماء، قومی مشران، مدنی ټولنه او مخور با نفوذه کسان ګډون ولری؛ (۴) د سولې په اړه خلکو ته د رسيدنې يو لړ پروګرامونه تنظيم شی څو د سولې په بهير کې د ټولنو ملاتړ شامل شی.

**نوی اقتصادی او پرمختيايی فرصتونه:** (۱) د کانونو په پروژو کې چې په کې د کوچنۍ کچې پروژې شاملې دی د ستراتيژيکو پانګونولپاره زمينه مساعده شی؛ (۲) د کرنې د پراختيا لپاره د اوبو د جريان قابو کول؛ (۳) د باغدارۍ د پراختيا لپاره د ميوو د پروسس کولو د فابريکو جوړول.

# د غزنی ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

د سولې لپاره ولایتی طرحه د هغو مهمو موندنو او مسایلو خلاصه وړاندې کوی کومه چې د متمرکزو ګروپی خبرو اترو، انفرادی مرکو او سروې ګانو له لارې مطرح شوې او په غزنی ولایت کې د سلا مشورو د پروسې پر مهال ترسره شوه. د سلا مشورو پروسه د یوناما د بشری حقونو د څانګې په ملاتړ د مدنی ټولنې د سازمانونو له خوا ترسره شوه. سلا مشورې د سولې په اړه د افغانانو د ډیالوګ د دوهم پړاو د یوې برخې په حیث ترسره شوې (له دې وروسته د خلکو د ډیالوګ په نوم یادیږی)، چې پیل یې د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون په ګډون د مدنې ټولنې د ۱۱ شبکو له خوا ترسره شو څو د هیواد په کچه د ټولټال ۴۵۰۰ افغانانو سره سلا مشورې ترسره کړی او د سولې لپاره ۳۴ طرحې، د هر ولایت لپاره یوه، جوړې کړی.

## ۲. د ولایت پیژندنه: جغرافیه، خلک او سیاسی وضعیت

د غزنی ولایت د افغانستان په جنوب ختیځ کې پروت دی چې شمال ختیځ ته یې د پکتیا او لوګر ولایتونه، جنوب لویدیځ ته یې د زابل ولایت، دایکندی او بامیانو ولایتونه یې شمال لویدیځ او شمال ته د وردکو ولایت پروت دی. دغه ولایت ۲۳۳۷۸ کیلو متر مربع مساحت لری. له نیمایی څخه زیات غرنۍ یا نیمه غرنۍ سیمې لری (۶۰ سلنه) چې په عمده ډول هزاره توکمه خلک په کې اوسی او له یو پر دریمې څخه زیات (۳۶ سلنه) هوارې ځمکې لری، چې په عمده ډول پښتانه په کې میشت دی. دغه راز په دې ولایت کې کوچیان او تاجکان هم اوسی چې اقلیت جوړوی. غزنی د کابل- کندهار پر لویه لار پروت دی. دغه سړک (د لومړۍ لوې لارې په نوم هم پیژندل کیږی) په اقتصادی او ستراتیژیکی لحاظ ډیر اهمیت لری. غزنی په تاریخ کې د دغو ښارونو ترمنځ په تجارتی چارو کې ډیر مهم نقش درلود.

اټکل کیږی چې د دې ولایت نفوس یو میلیون تنو ته ورسیږی. د غزنی اقتصاد په عمده ډول له کرنې څخه تامینیږی، خو دغه ولایت زیات معدونونه هم لری چې لا د استفادې وړ نه دی ګرځیدلې. دلته یوازې دوې نسبتا لوې فابریکې شته چې یوه یې د مالګې او بله یې د چاکلیت فابریک ده. سوداګریز فعالیتونه په عمده ډول د کرنیزو محصولاتو او څارویو په راکړه ورکړه ولاړ دی، چې د ۵۷ سلنه کورنیو عایدات له کرنیزو محصولاتو څخه تامینیږی . د مهاجرینو له خوا له کورنیو سره نغدې مرستې هم د عایداتو بله مهمه سرچینه ده.

غزنی د جنوب ختیځ په حوزه پورې تړلی ولایت دی چې امینتی وضعه یې ډیره بې ثباته ده او د حکومت ضد عناصر په څو ولسوالیو کې ځواکمن شتون لری. د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو په موده کې، د دې ولایت په څو نا امنه ولسوالیو کې د رایې اچونې مرکزونه د حکومت

ضد عناصرو او نورو نا امنیو له امله تړلی پاتې شول. ځینې تحلیل ګران په دې باور دی چې په ولسوالیو کې د امنیتی پېښو شمیر په دې پورې تړاو لری چې په ولسوالیو کې د اوسیدونکو اکثریت په کوم قوم پورې تړلی دی.

د غزنی ولایت په ۲۰۱۳ کې د اسلامی، علمی، تعلیمی او کلتوری نړیوال سازمان له خوا د اسیا په منطقه کې د اسلامی کلتور د مرکز په توګه وټاکل شو.

## ۳. د شخړو تحلیل: د شخړو ډولونه او انګیرنې

**د شخړې اصلي ټمونې او لوبغاړی:** په غزنی ولایت کې اکثرو ګډنوالو د شخړې اصلی لاملونه د افغان دولت چې ملاتړ یې د نړیوالو پوځې ځواکونو له خوا کیږی او طالبانو تر رهبری لاندې د یاغیتوب تر منځ اړیکه په ګوته کړی. په دې زمینه کې خلکو د شخړې اصلی لاملونه په دوو ډلو ویشلی: افغان دولت، افغان ملی امنیتی ځواکونه او نړیوال پوځی ځواکونه، او په بلې خوا ته دولت ضد عناصر (زیاتره یې طالبان). د دې سربیره، ګډونکونکو ویلی چې قومی تشنج اکثرا په محلی کچه خشونت را پاروی او له دې څخه اکثرا دولت ضد عناصر او دولتی چارواکی د خپلو شخصی ګټو د تامینولو په خاطر کار اخلی.

په غزنی ولایت کې سیمه ییزو قدرتونو ته هم د شخړې د فعالو فعالینو په سترګه کتل کیږی. د افغانستان په جګړه کې د بهرنیو هیوادونو نفوذ، په تیره بیا، د پاکستان نفوذ د ګډونوالو لپاره د یوې پرلپسې اندیښنې په حیث پاته شوې، او دغو کسانو افغانانو ته د بهرنیو فعالینو تر منځ د مبارزې د قربانیانو په سترګه کتلی. د ده یک د ولسوالی څخه یوه نارینه ګډونکونکی وویل:

> "بهرنیان ستونزې او د قومونو تر منځ واټن را منځ ته کوي. دا د افغانستان جګړه نه ده. د جګړې لپاره څوک وسلې او مهمات برابروي د کومو څخه چې په افغانستان کې کار اخیستل کیږي."[۱۲]

**د ۲۰۰۱ کال راهیسې په غزنی ولایت کې ترلاسه شوی پرمختګ:** زیاتره ګډونوال د هغو پرمختګونو په اړه کوم چې په تیره لسیزه کې افغانستان ترلاسه کړی، موافق و: د بیلګې په توګه، معارف، تکنالوژی او مخابرات، سړک جوړونه او نور جوړښتونه، انکشاف، د ښځو حقونه او د افغان ملی امنیتی ځواکونو را منځ ته کول په لومړیتوب کې ځای لری. د ګډونوالو له نظره په هغو نورو ساحو کې چې افغانستان لاسته راوړنې لرلی، هغه نړیوالی اړیکی، اقتصادی پرمختګ، د حکومت څخه د طالبانو شړل، د بیان ازادی، د نړیوالو

[۱۲] د ده یک په ولسوالی کې د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره د تمرکز ګروپی خبرې اترې ترسه شوی.

ځواکونو څخه افغان امنیتی ځواکونو ته د امنیتی بهیر لیږدول، د دیموکراتیکو ادارو جوړول او روغتیا شامله ده.

زیاترو ګډونوالو د رایو په اتفاق (۹۰ سلنه) ویلی چې د غزنی د معارف په ډګر کې د پام وړ پرمختګ کړی. ۲/۳ ګډونوالو د سړکونو او نورو جوړښتونو د جوړولو په برخه کې د ترلاسه شوې پرمختګ یادونه کړې. د نورو مسایلو په اړه د ګډونوالو تر منځ د نظر اتفاق موجود نه و او یواځې ۱۰ سلنه ګډونوالو ویلی چې د بیان د ازادی په برخه کې پرمختګ شوی او پنځه سلنه نورو ګډونوالو د امنیت د ښه کیدو څخه یادونه کړی.

اړتیا لیدله کیږی څو دغه لاسته راوړنې په پوره پام سره وارزول شی. که څه هم چې ګډونکونکو باور درلود چې د تیرې لسیزې پر مهال په معارف کې ډراماتیک ښه والی را منځ ته شوی، خو هغوی بیا هم ولی چې د معارف نه شتون "بې خبری" او بې سوادی په محلی او ملی کچو کې د شخړې مهم لاملونه دی.

د انکشاف په برخه کې د ترلاسه شوې پرمختګ په اړه، که څه هم چې یو شمیر زیاتو ګډونوالو ویلی چې د تیرې یوې لسیزې په پرتله په غزنی کې زیات کار شوی، خو دوی په دومداره توګه ویلی چې نیستی، بې کاری او د فرصتونو نه شتون د شخړې د سونګ توکی دی.

په پای کې، د سروې ۱/۳ ګډونوالو ویلی چې د تیرې لسیزې په دوران کې د افغان ملی امنیتی ځواکونو را منځ ته کول او پیاوړی کول د افغانستان د مهمو لاسته راوړنو څخه حسابیږی، خو یو شمیر نورو زیاتو ګډونوالو باور درلود چې د افغان ملی امنیتی ځواکونو کمزوری لا هم په غزنی کې د شخړې یو لامل دی.

**د غزنی په ولایت کې د امنیت درک:** که څه هم د خبرواترو په جریان کې یوازې ۵ سلنه ګډون والو ویلی دی چې امنیت په غزنی کې ښه شوی دی، او ۵۵ سلنه په دې باور وو چې غزنی په وروستیو وختونو کې هیڅکله هم په امن کې نه و، د ځینو ولسوالیو څخه ګډون والو وویل چې د دوی په سیمو کې امنیت ډیر ښه شوی دی۱۳ او په دې ډول یې په ډیرو نورو برخو کې ګټه رسولې ده:

> "په تیرو کلونو کې ډیر بدلونونه راغلل. د طالبانو په دوره کې ښوونځي تړل شوي وو. اوس هغه پرانیستي دي. بازارونه بند و، اوس خلاص دي. حکومتي چارواکي اوس کولای شي کورونو ته ولاړ شي، چې پخوا یې نه شو کولای کلینیکونه اوس خلاص دي."[۱۴]

[۱۳] لکه څنګه چې دا نظریه په ۲۰۱۴/۲۰۱۳ کلونو کې ریکارډ شوې، په اوسو وخت کې د امنیت په تړاو درک منعکسوی، خو باید یادونه وشی چې د ۲۰۱۴ کال را هیسې په ټول افغانستان کې امنیت له بده بدتر شوی.

[۱۴] د اندړو د ولسوالۍ له ځوانانو سره متمرکز ګروپی غونډه

د افغان ملی امنیتی ځواکونو په اړه ویل شوی چې د غزنی په ولایت کې یې امنیتی وضعه ښه کړې او د بشری حقونو تړاو یې مثبت نقش درلودلی دی.

"د افغان ملي امنيتي ځواکونو اغيزه ډيره مثبته ده. د دوي تر کنټرول لاندې سيمو په سوله کې ژوند کوي. دوي د نجونو ښوونځي چې پخوا تړل شوي وو پرانستل. د دوي لپاره ودانۍ نشته، خو دوي په مسجدونو کې اوسي. کلينيک دلته نه و. اوس درمل شته. روغتيايي خدمتونو ته لاس رسی ډير ښه شوی دی. دغه راز تعليم ته هم لاس رسي ښه شوي."[15]

ځینې ګډون والو وویل چې دوی د طالبانو په وخت کې ډیر د امن احساس کاوه. له ګډون والو سره د ازادو مباحثو په ترڅ کې، دا حقیقت داسې تعبیر کیدای شی چې د طالبانو د دوران په اړه خلک په معمول ډول داسې درک کوی چې د دوی حقونه محدود وو (په خاص ډول د ښځو حقونه او د خوځښت ازادی) او له غیر پښتنو سره تبعیض کیده، خو د اوسنی وخت په پرتله جګړې او امنیتی پیښې (ځای پر ځای شوی چاودیدونکی توکی، مخامخ جګړی او نور) کمې وې. یوه ګډون کوونکی دغه راز په هغه دوره کې د قومونو ترمنځ په ځواک کې په ویش نا برابر توازن ته اشاره وکړه:

"د طالبانو په دوران کې امنيت ډير ښه و، خو د تاسف ځای و چې ځواک د يوه ملت په لاس کې و[16] له دې څخه په غير د طالبانو رژيم بله کومه ستونزه نه درلوده."[17]

نیمایی ګډون کوونکو وویل چې ټول افغان ملی امنیتی ځواکونه او نړیوال نظامی ځواکونه د غزنی د امنیت لپاره ډیر مهم دی. د افغان ملی امنیتی ځواکونو په منځ کې، افغان ملی پولیس د ډیری ګډون والو په نظر ځانګړی اهمیت لری. سره د دې، په خلاصو مباحثو کې محلی پولیس د خلکو له خوا زیات ستایل شوی دی، او په دې باور وو چې د دوی په ولسوالیو کې د محلی پولیسو ځای پر ځای کول د امنیت له ټینګښت سره ډیره مرسته کړې ده، ځکه چې هغوی باوری دی چې په ولسوالیو کې د امنیت د ښه کولو په برخه کې د افغان سیمه ییزو پولیسو ځای په ځای کول مهم دی:

"يوازې محلي پوليس کولای شي په سيمه کې امنيت ټينګ کړي. د دوي په غياب کې نه امنيت و او نه خلکو تعليم او روغتياي خدمتونو ته لاس رسی درلود."[18]

---

[15] د قره باغ له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه
[16] طالبان په عمده ډول پښتانه دی.
[17] په سروې کې نا معلوم ګډون وال: یو سړی د ګیلان له ولسوالی څخه، ۲۰- ۵۰ کلونو په عمر کې

"محلي پوليس د جنگي جبهې په لومړۍ کرښه کې دي، چيرې چې جګړې وي، محلي پوليس هلته رسيدلي وي، له دوي وروسته افغان ملي پوليس راځي او خلک نيسي. محلي پوليس ډير زيات نفوذ لري. دوي کليو ته راځي، له خلکو سره خبرې کوي او له دوي سره کښيني.... د دوي اړيکې له خلکو سره ډيرې نږدې دي."[19]

د ډيرو ګډون والو په نظر محلی پوليس له دې امله ګټور دی چې دوی له ټولنو سره نږدې اړيکې لری:

"محلي پوليس په دې مانا له افغان ملي امنيتي ځواکونو څخه توپير لري چې دوي ځايي خلک دي. موږ کولای شو له هغوي سره معلومات شريک کړو، موږ يو بل پيژنو موږ يو بل په اسانۍ سره درک کولای شو. دوي خلک او سيمه پيژني، او دا د هغوي لپاره خورا اسانه ده، چې سيمه کنترول کړي."[20]

له دې سره، ځينو ګډون والو د ناوړه چلند له داسې قضيو څخه شکايت وکړ چې محلی پوليس په کې شريک وو:

"په معمول ډول دا هغه خلک دي چې کارونه نه لري. ډيری يې له دې پخوا په جنايي فعاليتونو کې بوخت وو. اکثريت يې جنګيالي وو چې يا د حکومت په پلوي د طالبانو په ضد يا د طالبانو ترځنګ د حکومت په ضد جنګيدل. ډير شمير له دوي سره ځکه يو ځای کيږي څو د هغو نا خواليو غچ واخلي چې د دوي له کورنيو سره شوي دي. [......] محلي پوليس ډير ښه دي، خو د دوي ځينې غړي بايد و ايستل شي ځکه دوی له دې صلاحيت څخه ناوړه ګټه پورته کوي. دوي په اداري فساد کې هم لاس لري. دوي د ټولنې په ژوند کې په خپل سر مداخله کوي. د محلي پوليسانو ملګري او د دوي د کورنيو غړي هم د محلي پوليسو په عملياتو کې برخه اخلي څو خپلو ګټو ته ورسيږي."[21]

**په غزنی کې په عامه ژوند کې د ښځو ګډون:** کله چې پوښتنه وشوه چې ايا په غزنی ولايت کې ښځې دې ته تيارې دی چې په عامه چارو کې برخه واخلی، ۴۰ سلنه ګډون کوونکو مثبت او ۶۰ سلنه هغو منفی ځواب ورکړ. ګډون کوونکو محافظه کار ځايی کلتور، د امنيت نشتوالی او طالبانو شتون او نفوذ د لاملونو په څېر په ګوته کړل چې د دې کار سبب ګرځيدلی. په تاسف سره، هغو کسانو چې ويل يې ښځې په عامه چارو کې د

[18] د قره باغ له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارينه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه
[19] د ده يک له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارينه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه
[20] د ده يک له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارينه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه
[21] د قره باغ له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارينه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

ګډون لپاره تیارې دی، د خپلې ادعا لپاره قانع کوونکی دلایل نه لرل. دغه پوښتنه په ۲۰۱۴ کې د راتلونکو ولایتی شورا د ټاکنو په تړاو کلیدی اهمیت لری.

یوې ښځینه ګډون کوونکې توضیح کړه چې څنګه ځایی کلتور ښځې له دې منع کوی چې په عامه چارو کې برخه واخلی:

> "زموږ په ټولنه کې ډیر محدودیتونه او زموږ د خلکو له خوا ناروا دودونه شته چې ښځې په مطلق ډول ګوښه کوي. په ولسوالي کې ښځې تر فشار لاندې دي. د دوي لپاره د تعلیم فرصت نشته او له کور څخه بهر کار کول نا ممکن دي.

سړیو ته چې ښځې یې په حکومت کې یا نورو موسساتو کې کار کوي کرکه او سپکه سترګه کتل کیږي او په دې ډول زموږ په ټولنه کې ډیرې ستونزې را ولاړیږي." [22]

**د شخړې انګیزې:** په جنسیت کې د تنوع سربیره، د ګډنکونکو عمر او اصل (د غزنی د ښار د ځوانو ښځینه زده کونکو څخه نیولی بیا د د قره باغ د ولسوالی تر قومی مشرانو) ، د خلکو ډیلوګ هغو اقتصادی فاکتورونو ته [ط په ولایت او ټول افغانستان کې جګړې ته لمن وهی، اشاره وکړه. ډیر ګډون کوونکی د شخړو د ملی او ځایی محرکاتو ترمنځ یوه ښکاره اړیکه وینی: په افغانستان او په غزنی کې د شخړو اصلی لاملونه یو شانته دی. د ګډون کوونکو په نظر د حکومت ضد عناصرو شتون، بې وزلی او بې کاری، د تعلیم نشتون، اداری فساد، د افغان ملی امنیتی ځواکونو کمزورتیا، د حکومتی موسساتو بې کفایتی، بهرنۍ لاس وهنې، او د قومونو ترمنځ تربګنی په غزنی کې د جګړو لاملونه دی. دا هغه ځوابونه دی چې په ملی کچه د دې پوښتنې په وړاندې ورکړل شوی وو.

د شخړې د وړاندیز شویو لاملونو په پرتله د ګاونډیو هیوادونو له خوا مداخله (۷۰ سلنه)وه. په داسی حال کې چې ۱/۳ برخې ګډونوالو وویل چې دولت د امیت د تامینولو ظرفیت نه لری، نیمایی ګډونکونکو وویل چې د دولتی چارواکو په منځ کې اداری فساد او بې عدالتی د شخړې مهم لاملونه دی. یواځې ۱۰ فیصدو ګډونوالو وویل چې د جګړې لامل د سولې لپاره د هڅو نه شون دی.

کله چې د جګړې د دوام د لاملونو په اړه سروې ترسره شوه، د سروې اکثرو ګډونوالو (۶۰ سلنه) دولت ضد عناصرو د ملامتی ګوته ونیوله. په داسی حال کې چې د ګډونوالو ۱/۴ برخې (۲۵ سلنه) د جګړو د دوام مسولیت نړیوالو پوځې ځواکونو ته ورواړاوه، ۳۵ سلنه ګډونوالو د جګړې د دوام مسول ګاوندی هیوادونه وبلل.

[22] د قره باغ له ولسوالۍ څخه له ښځو سره متمرکزه ګروپی غونډه

**د دولت ضد عناصرو شتون:** ډیری ګډون کوونکی په غزنی کې د حکومت ضد عناصرو شتون د شخړو تر ټول لوی لامل ګڼی: "که د دولت ضد عناصر نه وي، امنیت راتلی شي."[۲۳] د دوی په نظر د حکومت ضد عناصر د ټولو ناوړه کارونو مسوولین دی لکه په نا قانونه ډول اعدامول، ځانمرګی بریدونه، تښتونې، ځورونې او نور. دغه کړنې د شخړو اصلی مرکزی شکلونه او د ملکی خلکو د ځورونې او مصیبتونو بنستیز لاملونه دی.

زیاترو ګډنکونکو دې ته اشاره کړی چې د دولت ضد عناصر د سولې لپاره کومه مشخصه اجنډا نه لری چې دا هم د شخړې د دوام یو لامل دی: طاالبان د سولې لپاه کومه اجنډآ نه لری. هغوی یواځې د جګړې په اړه فکر کوی. که نه نو هغوی به په تیرو لسو کلونو کې بل ډول چلند کړی وای.[۲٤]

**نیستی او بیکاری:** زیاتره ګډونکونکی په دې باور دی چې په غزنی ولایت کې د شخړې یو لامل نیستی او بې کاری ده. د اقتصادی فرصتونو نه شتون ځوانان اړ باسی څو د خپلو کورنیو لپاره د عایداتو د ترلاسه کولو په موخه یاغیتوب ته مخه کړی:

"خلک ډیر نیستمن دي ځکه نو د پیسو د ترلاسه کولو لپاره جګړې ته ځي.[۲۵] بیکاري کولای شي چې په اسانۍ سره جنګیالي د یاغیانو په لیکو کې تنظیم کړي. که خلک کارونه ولري او په خپلو سوداګریزو فعالیتونو کې بوخت وي او کولای شي د خپلو کورنیو لپاره عایدات پیدا کړي، بیا دوي په جګړو کې برخه نه اخلي."[۲٦]

د اندړو له ولسوالی څخه د یوه تن سړی په باور، هغه کسان چې له کلیو څخه ښارونو ته لیږد کوی په خاص ډول د دولت ضد عناصرو تر نفوذ لاندې راتلی شی:

"د کارونو د نشتوالي له امله د کلیو خلک په اسانۍ سره د حکومت ضد عناصرو له خوا استخدام کیدای شي. دوی له کلیو څخه غزني ته راځي، ۱۵ تر ۲۰ ورځې تیروي او هیڅ شي لاس ته نه ورځي، نو ځکه له دولت ضد عناصرو سره یو ځای کیږي."[۲۷]

**د تعلیم نشتوالی:** ډیر ګډونوال د رسمی تعلیم نشتوالی (کله د "بې سوادی" او "ناپوهی" په نوم هم یاد شوی) په غزنی کې د شخړو د اصلی لامل په څیر بللی:

[۲۳] د اندړو د ولسوالۍ له ځوانانو سره متمرکز ګروپی غونډه
[۲٤] د ده یک له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه
[۲۵] د اندړو د ولسوالی څخه د نارینه ووغړو سره متمرکزه کروپی غونډه
[۲٦] د قره باغ له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه
[۲۷] د اندړو د ولسوالۍ له ځوانانو سره متمرکز ګروپی غونډه

"[که چیرې] تعلیم نه وي، د حکومت ضد عناصرو لپاره ډیره اسانه وي چې د ځوان نسل مغزونو ته ننوځي او دوي د ځان خوا ته را وګرځوي."[۲۸]

د تعلیم نشتوالی نه یوازې ځوانان دې ته اړ باسی چې افراطیت ته مخه کړی او د مشخصو ایډیالوژیو تر نفوذ لاندې راشی، بلکه د کار موندلو په لار کې د دوی لپاره خنډ ګرځی او دوی ته ډیر لږ امکانات ورکوی چې د خپلو کورنیو لپاره له دې لارې عایدات پیدا کړی، چې له یاغیانو سره یو ځای شی.

په زړه پورې خبر دا ده چې په دې ځای کې مورږ د تعلیم د موضوع په اړه له متضادو یادونو سره مخامخ کیږو: له یوې خوا، داسې ویل شوی چې په تیره لسیزه کې افغانستان د تعلیم په برخه کې ډیرې لاس ته راوړنې لری او له بلې خوا د تعلیمی فرصتونو نشتوالی ډیر ځله د جګړو د یوه لامل په څیر پیژندل شوی. له دې څخه دا نتیجه اخیستل کیږی چې سره د دې چې ډیر پرمختګ شوی خو بیا هم د افغان ټولنې ډیری برخې د تعلیم له لازمو کچو څخه بې برخې پاتې شوی یا له تعلیم څخه وروسته کاری فرصتونو ته لاس رسی نه لری چې اقتصادی عایدات ولری او ځوان نسل له افراطیت او د ایډیالوژیو له نفود څخه وژغوری.

**اداری فساد او د قانون د حاکمیت نه شتون:** ګډونوالو ویلی چې د افغانستان دولت غیر موثره او په فساد ککړ دی او خپل مشروعیت او ملاتړ ته په پټه زیان رسوی او خلک یاغیتوب ته سوقوی. خلکو همدارنګه د عدلی سیستم په هکله هم خپله نا رضایتی ښودلی او ادعا یې کړی چې چارواکی د بډو غوښتنه کوی. د دې علاوه، په دولتی اداره کې د کار د موندلو په برخه کې خپلولی د ټولنې یو لوی قشر د عامه خدمتونو د ترلاسه کولو څخه محروموی چې په نتیجه کې یې د شکایت موضوع او نارضایتی را منځ ته کیږی او یاغیان د دې څخه ګټه پورته کوی.

"لوړ پوړي چارواکي یوازې خپل خپلوان استخداموي، چې اکثرا مستحق کسان نه وي، په داسې حال کې چې مستحق او وړ کسان کارونه نه شي موندلای ځکه چې دوي غریبان وي. دغه وضعیت د خپګان او شکایت مبداء جوړوي او جګړې پراخوي."[۲۹]

خپلولی پالنه په عموم ډول د ځوانانو لپاره د کاری فرصتونو چاپیریال نور هم تنګوی. له ده یک ولسوالی څخه یوه تن نارینه ګډون کوونکی دغې مسالې ته داسې اشاره وکړه:

[۲۸] د غزنی په ښار کې د پوهنتون او لیسو له ښځینه شاګردانو سره متمرکزه ګروپی غونډه
[۲۹] د اندړو د ولسوالۍ له ځوانانو سره متمرکز ګروپی غونډه

"لویه ستونزه د تعلیم نشتوالی دی. ډیری خلک رسمي تعلیم نه لري. زیاتره خلک رسمي زده کړي نه لري. او یو څو تنه چې تعلیم یې کړی دی کارونه نه شي موندلای. د بیلګې په توګه، زه له پوهنتون څخه اوس فارغ شوی یم، خو زه د بزګر په حیث کار کوم. زور ور خلک کارونه د خپلو ځانونو لپاره ساتي. ځکه نو ځوانان له یاغیانو سره یو ځای." [30]

ډیری ګډون کوونکی د افغان حکومت کمزوری او ناتوانی چې د قانون واکمنی وساتی د جګړو اصلی لامل ګڼی. د افغان حکومت کمزوری نه یواز نا امنی منځ ته راوړی، بلکه په حکومت باندې د خلکو اعتماد هم کموی او هغوی د یاغیتوب لوری ته سوق کوی. دغه کمزورتیا په خاص ډول د قضایی سیستم په اړه ډیره محسوسه ده او ډیرې بدې پایلې لری:

"حکومت ډیر کمزوری دی. هغه نشی کولای چې د خلکو ستونزې رفع کړي. د بیلګې په توګه، که یو څوک له کلي څخه د ولسوالي مرکز ته راشي او یوه ستونزه ولري، دوي په فساد اخته دي او د دې توان نه لري چې د هغه ستونزه حل کړي. دوي له هغه چا څخه چې د مرستې غوښتنه کوي، یوازې پیسې غواړي. که چیرې هغوي طالبانو ته ورشي، نو بې له ځنډه د دوي ستونزې حل کوي او پیسې هم نه غواړي. [......] یوه ستونزه چې خلک یې په عموم ډول د طالبانو محکمو ته وړي، هغه د ځمکو پر سر اختلافونه دي. د حکومت د دې مسالې په حل کولو کلونه تیریږي." [31]

ویل کیږي چې د سولې په لور د افغان ملي امنیتي ځواکونو ځای په ځای کول یو مثبت ګام دی، خو د هغوي د کارکونکو ځای په ځای کولو، د هغوي روزنې او د استخدام چارو ته اکثره ګډونکونکي د شک په سترګه ګوري او ښایې و نه شي کولای خلکو ته امنیت برابر کړي.

**د قومونو ترمنځ شخړې:** زیاترو ګډونکونکو اندیښنه درلودله چې په غزنی کې د قومی ډولو په منځ کې شته تشنج شخونت ته لمن وهی. که څه هم ګډون کوونکی په دې باور وو چې په ټول ولایت کې د قومونو ترمنځ ښکاره مخالفتونه نشته، په ځینو ځایونو کې د دوی ترمنځ له تاوتریخوالی ډک مخالفتونه منځ ته راځی. په معمول ډول قومی ګروپونه له حکومت څخه یا له طالبانو څخه د مرستې غوښتنه کوی، په دې ډول ځایی اختلافونه د عمومی جګړو یو دایمی جز ګرځیدلی.

**بهرنۍ لاس وهنه:** زیات شمیر ګډون کوونکی په دې باور وو چې د ګاونډیو هیوادونو لاس وهنې د شخړو مهم لاملونه دی. د دوی په وینا، دغه ملکونه په افغانستان کې د نا

[30] د ده یک له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

[31] د ده یک له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

امنی د زیاتولو له لارې خپلې اقتصادی ګټې لټوی. زیات شمیر کسان په دې باور وو چې دولت ضد عناصر د ګاوندی هیواد په ملاتر په غزنی کې د سولې پروسه مختلوی. یو شمیر زیاتو کسانو پاکستان په دې تورن کړ چې د حکومت ضد عناصرو ته خوندی ځایونو ورکوی تر څو په افغانستان کې خپل بریدونه تنظیم کړی، ځینې نور وایی چې پاکستان د افغان ګډوالو په منځ کې د حکومت په ضد پروپاګنده هم کوی:

"زیات شمیر خلک (په پاکستان کې افغان ګډوال) بې تعلیمه پاتې شوي دي. دوي په اوسنیو شرایطو نه پوهیږي. د بیلګې په توګه، هغوي په اساني سره غولیږي او د یاغیتوب سره یو ځای کیږي. [.....] زه په پاکستان کې وم او ما افغانان د کډوالو په کمپونو کې ولیدل. هلته د حکومت پر ضد ډیره پروپاګنده کیږي. که تاسې دغو معلوماتو ته غوږ ونیسې ...... هر یو به جاکټ واغوندي چې له چاودیدونکو موادو څخه ډک وي او د حکومت په ضد به خپلو ځانونو ته انفجار ورکړي."[۳۲]

ډیری ګډون والو دغه راز نړیوال نظامی ځواکونه د دې لباره ګرم وبلل چې په افغانستان کې نا امنی د دې لباره زیاتوی چې خپل موجودیت دلته یقینی کړی.

یو شمیر نور ګډونوال د دې سره همغږی نه وو او د نړیوالو پوځې ځواکونو د لا زیاتې فعالی ښکیلتیا غوښتونکی وو. د ناور د ولسوالی څخه یوې ښځینه زده کونکې وویل "که چیرې نړیوال پوځې ځواکونه د پخوا په شان عمل وکړی، لکه څنګه چې یې طالبان له قدرته لیرې کړل نو بیا به وکولای شی په اسانی سره سوله را منځ ته کړی.[۳۳] " یوه تن ګډونکونکی وویل چې له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو وتل به د شخړې د ختمیدو سره کومه مرسته ونه کړی: "د نړیوالو ځواکونو د شتون پرته، جګړې په د تل لپاره دوام ولری. د نړیوالو پوځې ځواکونو له مرستې پرته جګړې نه شی ختمیدلای." [۳۴]

**تبعیض:** تبعیض هم د شخړو یو لوی لامل دی. له قره باغ څخه یوه سړی دغه مساله داسې بیا کړه:

"په سیاسي استازیتوب کې نابرابري هم د شخړو یو لامل دی. ځینې قبیلو په حکومت کې ډیر پوستونه نیولي دي او ځینې نور هم استازي نه لري او بې برخې پاتې شوي دي. حکومتي چارواکي منابع په برابر ډول نه ویشي، دوي د خپلو خلکو پلوي کوي او په دې ډول د شکایت منبع ایجادوي."[۳۵]

[۳۲] د ده یک له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه
[۳۳] د ناور د ولسوالی څخه یوه ښځینه زده کونکې، ۲۰-۱۵ ملنه کارې ډله
[۳۴] د ده یک له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه
[۳۵] د قره باغ له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

**د ځمکې پر سر شخړې:** زیات شمیر ګډون والو له محلی دعوو څخه خبرې کولې چې د منابعو په سر له رقابتونو (اوبه، کرنیزې ځمکې او ځنګلونه) څخه راولاړیږی. حکومتی چارواکی او حکومت ضد عناصر ډیر ځله په دعوو کې د یوې قبیلې ملاتړ کوی، ځو خپلې ګټې خوندی وساتی د دې پر ځای چې د مخالفو ډلو تر منځ تفاهم ایجاد کړی او په دې ډول شخړې زور اخلی.

**ضررناکې دودیزې کړنې:** ځینې دودیزې کړنې هم کولای شی چې تاوتریخوالی ته لمن ووهی، له قرباغ څخه یوه سړی دغه مسله داسې بیا کړه:

"ناوړه دودونه د خشړو یو بل لامل دی. شریعي قانون په نا مناسبه طریقه کارول کیږي. دوي کولای شي یو څوک د دې لپاره ووژني چې له اسلامي دود سره برابر لباس یې نه دی اغوستی."[٣٦]

ګډونوالو دغه راز له وخت څخه مخکې ودونه، جبری ودونه او نور دودونه په سیمه ییزه کچه د تشنج د راپارولو او په عموم ډول په غزنی کې د تاوتریخوالی د زیاتیدو د لاملونو په څیر په ګوته کړل.

**په غزنی کې په کافی شمیر د مدرسو نشتون:** په متمرکزو ګروپونو کې، ګډونوالو په پرلپسې ډول وویل چې په غزنی کې د مذهبی ښوونځیو د ناکافی شمیر له امله ډیری ماشومان پاکستان ته د مذهبی زده کړو لپاره ځی. په تاسف سره، د ګډونوالو په وینا، د دوی ځینې یې چې بیرته ولایت ته را وګرځی، جنګیالی ور څخه جوړ شوی وی او په افراطی عقیده سمبال وی او خلک دې ته هڅوی چې له یاغیانو سره یو ځای شی. که هغه نفوذ په نظر کې وساتو چې مذهبی مشران یې په ځایی خلکو باندې لری، د دې مسالې اهمیت له نظره نه شی غورځیدای. له قره باغ څخه ځو تنو ګډن کوونکو بهر ته د مذهبی زده کړو لپاره د تګ اغیزې په ماشومانو باندې داسې توضیح کړی:

"د قره باغ خلک سوله غواړي او ډیر د مذهب او شرعي قانون تابع دي. ځکه دوي خپل ماشومان بهر ته لیږي چې مذهبي زده کړې وکړي او ځکه هلته دوي نظامی روزنه اخلي. [......] د مذهبي زده کړو شاګردان او طالبان کله چې په افغانستان کې په زده کړو بوخت وي د وسلو په اړه په څه نه پوهیږي. کله چې ۱۵ کلن شي، پاکستان ته ځي او په مدرسو کې د وسلې روزنه اخلي. نو کله چې بیرته را وګرځي ماهر جنګیالي ور څخه جوړ شوي وي. دوي ځکه پاکستان ته ځي چې په افغانستان کې د لوړې کچې مذهبي زده کړې نه شي کولای. که

[٣٦] د قره باغ له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

موږ داسې زده کړې دلته درلودای بیا به دوي پاکستان ته نه تلل چې د وسلو کارول زده کړي."[۳۷]

**د افغان امنیتی ځواکونو او نړیوالو نظامی ځواکونو له خوا له بشری حقونو سرغړونې:** ځینې ګډون کوونکو وویل چې د افغان ملی امنیتی ځواکونو له خوا په بشری حقونو تیری هم خلک د یاغیتوب لوری ته سوق کوی:

"د امنیتي ځواکونو چلند ښه نه دی ځکه دوي روزنه نه وي لیدلې او په دې وجه خلک له یاغي قوتونو سره یو ځای کیږي."[۳۸]

ځینې نورو دارنګه وویل چې د نړیوالو نظامی ځواکونو له عملیاتو څخه نا رضایتی تر یوه بریده له دې امله شته چې د دوی غړی د کلتور په اړه ډیره کمه خبرتیا لری:

"ایساف ځینې وختونه ناقانونه نظامي عملیات کوي بې له دې چې زموږ دودونه په پام کې ونیسي، چې دا زموږ له کلتور څخه د دوي بې خبري څرګندوي. دې خبرې په دې ولایت کې د خلکو په منځ کې ډیره نا رضایتي راپیدا کړې ده."[۳۹]

**نور لاملونه:** د شخړې د پورته یاد شویو لاملونو سربیره، د سروې ګډون والو دغه راز په غزنی ولایت کې د شخړو نور لاملونه هم په ګوته کړل، لکه د نشه یې توکو کارول، بې اتفاقی، د ټولنیزو ډلو ترمنځ د همکاری او ډیالوګ نشتوالی او نور.

"د مخدره توکو کارول هم د شخړې د دوام سره کوي. په مخدره توکو روږدي خلک د مخدره توکو د را نیولو په خاطر یاغیتوب ته مخه کوي." [۴۰]

## ۴. د سولې لپاره ځایی طرح

نړدی ټولو ګډونکونکو د سولې پر یوې پراخې او تاریخی مفکورې باور درلود، چې ټول وړاندیز شوې عنصرونه په بر کې نیسی: د جګړې، خشونت، عدالت او مساواتو نه شتون.

[۳۷] د قره باغ له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

[۳۸] د ده یک له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

[۳۹] د مقر له ولسوالی څخه له ښځو سره متمرکزه ګروپی غونډه

[۴۰] "دغه راز د نشه یي توکو کارول هم شخړو ته لمن وهي. په چرسو او نورو نشه یي توکو روږدي خلک دې ته اړ باسي چې د پیسو د پیدا کولو لپاره چې دغه توکي ور باندې واخلي له یاغیانو سره یو ځای کیدو ته مجبوروي." د قره باغ له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه. "ځوانان د بیکاري له ستړې ستونزې سره مخ دي او چرس، تریاکو او الکهولو اخته دي. کله چې دوي له خپل ژوند څخه ناهیي شي، بیا دوي په یقین سره له شورشیانو سره یو ځای کیږي او د هر څه کولو ته چمتو وي."له غزنی ښار څخه له ښځو سره متمرکزه ګروپی غونډه.

د غاغوری د ولسوالی څخه یوې ښځينه ګډونوالی د سولې په اړه خپل درک په لاندې توګه بيان کړ:

"سوله په دې مانا چې په هيواد کې ټول کسان په ازادانه توګه کار کولای شي."[41]

**په غزنی ولايت کې د شخړې او ځايي شخړې د حل لپاره ستراتيژۍ ګانې:** د ګډون کوونکو له ځوابونو څخه داسې برېښيده چې د دوی په باور د ولايت په کچه شخړه د افغانستان د شخړې يوه دايمې برخه ده:

"که سوله يوازې د غزني په ولايت کې وي، دا به هيڅ ګټه و نه لري. سوله بايد د افغانستان د ټولو ولايتونو لپاره عمومي وي. ترڅو پورې چې پاکستان او ايران او نورو ګاونډيونو هيوادونو په افغانستان کې لاس وهنه نه وي بنده کړي، تر هغو په افغانستان کې پخلاينه نه شي راتلي."[42]

له دې امله په ولايتی/محلی کچه د سولې او امنيت لپاره وړانديزونه هغه تدابير رانغاړی چې بايد په ملی او نړيواله کچه په نظر کې ونيول شی او په ولايت کې پلی شی لکه له فساد سره مبارزه يا د بهرنيو هيوادونو لاس وهنې ته د پای ټکی ايښودل. سره د دې، ځينې تدابير په محل کې د تطبيق وړ دی او د غزنی ځانګړو اړتياوو ته ځواب وايی.

**د فساد پر ضد مبارزه او د احتساب تقويه کول:** د فساد په ضد د مبارې او د احتساب د تقويې اړتيا په ولايتی کچه يو اقدام دی، چې په پرلپسې ډول په غزنی کې د سولې د تقويې لپاره تر ټولو مهم ګڼل شوی. لکه څنګه چې مخکې تر بحث لاندې راغله، په فساد اخته حکومتی چاروکی په حکومت باندې د خلکو اعتماد کموی، شکايتونه راپيدا کوی او د پرمختيا کار له ځنډ سره مخامخوی چې اکثرا په پايله کې خلک د ياغيتوب لوری ته سوق کوی.

**حساب ورکونکی دولت او انتخاب شوی استازی:** ډيری ګډون والو دې اړتيا ته اشاره وکړه چې په غزنی کې حکومت نور هم تقويه شی څو په ولايت کې سوله او امنيت پيدا شی. يو پياوړی حکومت کولای شی چې خلکو ته خدمتونه او امنيت برابر کړی او دارنګه کولای شی د فساد او ناوړه ګټه اخيستنې مخنيوی وکړی. يوه مهمه ساحه په دې برخه کې د عدالت نظام دی، چيرې چې بنسټيزو اصلاحاتو ته اړتيا ليدل کيږی، څو د دې مخنيوی وشی چې خلک د طالبانو محکمو ته د عدالت لپاره مراجعه وکړی.

[41] د جاغورې د ولسوالی څخه يوه ښځه

[42] د غزنی له ښار څخه له ښځو سره متمرکزه ګروپی غونډه.

ډیرو کمو ګډونکونکو ویلی چې هغوی د سولې او امنیت په تړاو په پارلمان کې د غزنی ولایت د غړو د ترسره کار په اړه خوښ دی. زیاترو خلکو، ۷۰ سلنه، باور نه لری چې په پارلمان کې د غزنی استازو د سولې او امنیت د ټینګښت او د بشری حقونو د ترویج په تړاو کوم کار کړی وی. د غزنی د ولایت د پارلمان په غړو تور دی چې هغوی د خپلو ګټو د پر مخ وړلو لپاره کار کوی، هغوی ادعا لرله چې یادو کسانو په تقلب سره پارلمان ته لار پیدا کړې او د دولت ضد عناصرو له خوا د هدف نیولو په خاطر یې د سولې د تامینولو لپاره کوم کار نه دی کړی.

**بهتره شوې پرمختیا:** ګډونوالو په دوامداره توګه د کاری فرصتونو، معارف او داسی نورو شیانو د برابرولو په شمول په ولایت کې د سولې د ترویج د اساسی لاملونو په حیث د ښې پرمختیا په اړتیا ټینګار کړی.

ځینو ګډونکونکو سپارښتنه کړې چې د کرنی په سکتور کې دې په پرمختیایی هڅو زیات تمرکز وشی. د قره باغ د ولسوالی څخه یوه تن نارینه ګډونوال وویل:

> "که هر چا ځمکه روزنه او منابع د فارمونو لپاره درلودای، دوی به تاوتریخوالي ته مخه نه کړي."[۴۳]

ډیری ګډون کوونکو دغه راز د داسې پروګرامونو وړاندیز وکړ چې کاری فرصتونه ایجادوی: مسلکی روزنه، د کمپیوټر کورسونه، د عایداتو راوړونکې پروژې او نور. ډیری ګډون والو وویل چې دغه ډول پروګرامونه باید په ښځو باندې ډیر تمرکز وکړی.

ګډونوالو په محلی حکومت غږ وکړ چې په پرمختیایی برخه کې زیاته ونډه واخلی. د هغوی په باور نا دولتی سازمانونه په غزنی ولایت کې تر ډیره بریده د بیا رغونې په کارونو کې ښکیل دی، په داسی حال کې چې محلی حکومت په دوهم او ملګری ملتونه په دریم ځای کې راځی.

**له دولت ضد عناصرو سره ډیالوګ/خبرې اترې؟:** ګډون وال ډیری ځلې د شخړو د خواوو ترمنځ د ډیالوګ ضرورت ته اشاره کوی. خو دوی دا هم وویل چې دغه ډول مذاکرې باید هغه بریاوې اغیزمنې نه کړی چې د ښځو د حقونو په برخه کې لاس ته راغلی. یوه ګډون کوونکی وویل چې د ډیالوګ د پروسې لپاره، باید سیمه ییز ځواکونه مداخله وکړی او د حکومت ضد عناصر د جګړو بندولو او د مذاکرې کولو ته وهڅوی:

> "یوازې حکومت له ډیالوګ سره لیوالتیا لري. خو د دولت ضد عناصر له پولې ها خوا امرونه تر لاسه کوي. که دوي ته وویل شي چې له حکومت سره مذاکره

[۴۳] د قره باغ له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

وکړي، دوي دغه کار کوي. که له پاکستان څخه ملاتړ ودريږي، جګړې به سملاسي ودريږي. دوي به د ډيالوګ لپاره چمتو شي."[٤٤]

په ټوله کې، ګډونوالو د سولې د ولايتي شورا د خدمتونو په اړه ډير کم رضايت ښودلی. د سولې د ولايتي شورا د مشر تابه، د شورا د اغيزو، د شورا د کم رنګه څرنګوالي، د شورا له خوا د خپلوي پالنې، د سولې په پروسه کې د دولت ضد عناصرو د يو ځای کولو د ظرفيت د نشتوالي په هکله نيوکې شوي او کله ناکله داسې نيوکې هم مطرح شوي چې د شورا غړي د سولې د ولايتي شورا د اختياراتو د پر مخ بيولو پر ځای د خپلو ګټو لپاره کار کوي. د نا امنيو له وجې د سولې ولايتي شورا په دې نه ده توانيدلې چې يو شمير سيمو ته لاسرسی پيدا کړي چې دا په خپل وار د انديښنې وړ مسله وه.

"د سولې د ولايتي شورا ولايتي دفتر په غزني کې موقعيت لري او د ولسواليو څخه ليدن نه کوي. ځکه نو په کليو کې خلک د سولې د نوښتونو څخه بې خبره دي."[٤٥]

"موږ په خپل ولايت کې د هغوي فعاليتونه نه محسوسوو، هغوي ويه دي او د خپلو مياشتنو تنخواګانو انتظار باسي."[٤٦]

زياتره ګډونکونکی باور لری چې په اوسنی مشرتابه اړين ظرفيت موجود نه دی څو دولت ضد عناصر د سولې پروسې ته را مات کړی.

"طالبان د سولې په دې شورا باور نه لری. هغوی به هيکله به دی کې ګډون ونه کړی. شورا د طالبانو لپاره يو هدف دی. هغوی ته که د شورا هر کسب په لاس ورشی نو دوی به يې ووژنی."[٤٧]

د دې لپاره چې د لا ښه نفوذ او اتبار څخه ډاډ حاصل شی، او د خپلې بې طرفی په اړه د خلکو پام ځان ته راواړوی، ګډونوالو د سولې د ولايتی شورا په دننه کې د قومی مشرانو په شمول د لا ښه شموليت غوښتنه وکړه.

**د شخړو په حل کې د ځايي منځګړو ښکيلول:** په مرکو او متمرکزو ګروپونو کې ډيری ګډون والو وويل چې د منځګړيتوب ځايی نوښتنونه په غزنی ولايت کې د سولې لپاره ډير ضروری دی. که څه هم د منځګړيتوب جوړښت بايد له سره تر غور لاندې راشی، ډيری

[٤٤] د ده يک له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارينه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

[٤٥] د اندړو د ولسوالی څخه د ځوانانو سره متمرکزه ګروپی غونډه

[٤٦] د غزنی ښار څخه يوه ښځه

[٤٧] د ده يک له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارينه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

ګډون والو وویل چې تاریخ د دې شاهد دی چې دغه ډول نوښتونه کولای شی په جګړو کې ښکیلې خواوې سره یو ځای کړی.

د قره باغ له ولسوالي څخه یوې ښځې وویل:

> "زما په نظر یوازې یوه لار شته، ځایي شوراګانې او قومي مشران له طالبانو سره مذاکرې کولای شي، له دې پرته بله کومه موسسه نه شي کولای چې سوله راولي. هیڅ یو د دې توان نه لري"[48]

**د سولې د ترویج لپاره د پوهاوي لوړول:**

> ډیری ګډون والو د دې وړاندیز وکړ چې د پوهاوي د لوړتیا لپاره کمپاینونه تنظیم کړي څو په غزنې کې سوله پرمختیا وکړي. قومي مشران او مذهبي پوهان د دې کار لپاره تر ټولو مناسب او وړ کسان بلل شوي دي.

**د ځمکو د شخړو په ګډون، د قومونو ترمنځ د تشنج حلول:** ډیری ګډون والو وویل چې په غزنی کې د سولې د راوستلو لپاره ضروری ده چې د ځمکو پر سر شخړې حل شی. قومونه او قبیلې چې د ځمکو پر سر شخړې لری په معمول ډول د ملاتړ لپاره طالبانو یا حکومت ته مراجعه کوی. دغه خواوې ډیر ځلې له وسلو د کارولو له لارې یا په بل ډول مرستې کوی، چې مخالفتونه نور هم زیاتوی، د دې پر ځای چې د قومونو او قبیلو ترمنځ تفاهم ایجاد کړی. څرنګه چې دغه شخړې د ولایت او د هیواد په کچه د شخړو یوه برخه ده، د ډیری ګډون والو په باور په غزنی کې د سولې د ټینګښت لپاره د دغو ستونزو حل کول ډیر اړین دی.

**د افغان ملي امنیتی ځواکونو تقویه کول:** ګډون والو په پرلپسې ډول څرګنده کړه چې په غزنی کې د امنیت د ټینګښت لپاره قوی امنیتی ځواکونو ته اړتیا شته. ډیر خلک احساس کوی چې د امنیتی ځواکونو د ځای پر ځای کولو سره امنیت ښه شوی دی (په خاص ډول د محلی پولیسو په ذریعه) د دوی په سیمو کې. د دې ځواکونو تقویه کول یوازې باید دا مانا و نه لری چې د دوی شمیر زیات شی[49] او یا ښه وسایل ولری.[50] (ډیر ځله د ګډون والو له خوا غوښتل شوی)، بلکه دوی باید د بشر حقونو او د احتساب د سیستم په اړه ښه پوهاوی تر لاسه کړی څو د بدې استفادې قضیې پیښې نه شی او د ټولنو په منځ کې د

[48] د قره باغ له ولسوالۍ څخه له ښځو سره متمرکزه ګروپی غونډه

[49] "موږ ۲۸۰ (محلي پولیس) لرو، که څه هم موږ د ۵۰۰ تنو غوښتنه کړې وه." د ده یک له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

[50] "حکومت باید له دوي سره نوره هم مرسته وکړي: ښې سلاوې، ډیر د تلاشي پوستې، خواړه، سیمه ییز پولیس یوازینی ځواک دی چې کولای شي امنیت راولي." د اندړو له ولسوالی څخه له ځوانانو سره متمرکزه ګروپی غونډه.

افغان ملی امنیتی ځواکونو لپاره ملاتړ ته زیان و نه رسوی. ګڼون والو وغوښتل چې له افغان ملی امنیتی ځواکونو څخه هغه چارواکی وایستل شی چې د ناوړه ګټه اخیستنې مرتکب کیږی.

**د رسنیو تقویه کول:** پیاوړې رسنۍ نه یوازې د حکومت د اجرااتو څخه څارنه او په هغو د انتقاد له لارې دیموکراسی تقویه کوی، بلکه د خلکو د پوهاوی کچه هم لوړوی او هغوی ته له افراطیت څخه نجات ورکوی.

له قره باغ څخه یوه سړی وویل:

"دری څلور کاله د مخه له طالبانو سره خلکو مرسته کوله، خو اوس موږ یو پیاوړی حکومت لرو او څنګه چې خلک خبرې رسنیو ته خلاص لاس رسی لري، دوي اوس په ډیر څه پوهیږي، دوي اوس له طالبانو سره مرسته نه کوی، چیچنیان، عربان او پاکستانیان د طالبانو په جامه کې راځي، ځکه ځایي خلک اوس له دوي سره مرستې نه کوي."[٥١]

**د ځایی مدرسو پرمختیا:** ډیری ګډون کوونکو په ټولو ولسوالیو کې د ځایی مدرسو د پرمختګ په اهمیت باندې د داسې یوې وسیلې په څیر ټینګار وکړ چې ماشومان پاکستانی مدرسو ته له ورتګ رامنع کوی، چیرې چې دوی "تلقین" کیږی او حتی د ځانمرګی بریدونو لپاره کارول کیدای شی. دې نفوذ ته په کتو سره چې مذهبی رهبران یې په ځایی خلکو باندې لری، د دې مسلې اهمیت نه باید له پامه وغورځول شی. په سیمه کې د ځایی مدرسو پرمختګ د دې فرصت هم برابرولای شی چې د مذهبی رهبرانو په منځ کې د ښځو د حقونو په اړه خبرتیا لوړه شی.

**د بهرنۍ لاس وهنې مخنیوی:** که څه هم دا داسې یو اقدام نه دی چې په محل که نیول کیدای شی، دیری ګډون کوونکی په دې باور دی چې د بهرنیانو د لاس وهنې مخنیوی د دې لپاره لومړنی اقدام دی چې په غزنی کې سوله پیدا شی: په دې اړه زیاترو نظریاتو په ګاونډیو هیوادونو زور اچولی، خو ځینو نورو له افغانستان حخه د نړیوالو نظامی ځواکونو له وتلو څخه دفاع وکړه. سره د دې، په دې اړه موافقه لاس ته نه راغله: ډیری کسانو د ایساف له وتلو وروسته له ډیرو بدو پایلو ویره ښکاره کړه.

**ډاډ حاصل شی چې د بشری حقونو اصول او اندیښنې د سولې په ځایی نوښتونو کې په کافی ډول انعکاس ومومی:** زیاتره ګډون وال د جګړې منفی اغیز په غزنی کې د بشری حقونو په تحقق باندې وینی.

[٥١] د قره باغ له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

د اندړو له ولسوالی څخه یوه تن سړی دغه اغیز په دې ډول بیان کړ:

"که چیرې ټول برخه وال سره یو ځای شي، خلک به له خپلو بشري حقوقو څخه برخمن شي، لکه د بیان آزادي، روغتیا او زده کړو ته لاس رسی او نور. خو که جګړه دوام پیدا کړي خلک نه شي کولای له بشري حقوقو څخه برخمن شي." [٥٢]

یوه ګډون کوونکی د بشری حقونو او احتساب نقش د نورو جګړو په بندولو کې داسې بیا کړ:

"که چیرې بشري حقونو ته درناوی وشي او مراعات شي، هیڅوک به هم تاوتریخوالی ته مخه نه کړي ځکه چې دوي بیا له قانون څخه ویره لري." [٥٣]

یوه بل ګډون وال وویل چې د بشری حقونو په اړه ښه پوهاوی هم داسې لامل کیدای شی چې د جګړو مخنیوی وکړی:

"خلک له خپلو حقونو څخه خبر نه دي. له بشري حقونو څخه نا خبرتیا هم جګړو ته زور ورکوی. خلک په اساني سره تر نفوذ لاندې راځي او قانع کیږي چې له یاغیانو سره یو ځای شي." [٥٤]

ګډون والو په پرلپسې ډول دا خبره یاده کړه چې افغانان به ددې اجازه ور نه کړی چې له حکومت ضد عناصرو سره د مذاکراتو په پروسه کې بشری حقونه یا د ښځو حقونه له لاسه ورکړی.

په سروې کې اکثریت کسانو (۸۵ سلنه) وویل چې بشری حقونه او د معافیت نشتوالی کولای شی د سولې په لاس ته راوړنه کې مرسته وکړی. دغه غبرګون د ګډون کوونکو له ډیرو نورو څرګندونو سره برابر و چې د سولې له پروسې څخه یې له افغان امنیتی ځواکونو د هغو چارواکو او د هغو کسانو ایستل غوښتل چې د بشری حقونو په نقض کې ښکیل دی.

په ټوله کې، ګدونکونکو د دې تصدیق وکړ چې افغان دولت او نړیوال پوځې ځواکونه هغه ګټور فعالین دی چې کولای شی افغانستان ته سوله راولی. که څه هم یو شمیر زیاتو کسانو ویلی ټول فعالین ګټور ټامیدلای شی.

د غزنی څخه یوه تن نارینه زده کونکی وویل چې:

"که چیرې دوي ټول په هیواد کې په ریښتیا د سولې او پخلاینې لپاره د یو بل سره ګډ کار وکړي نو په دې کې شک نه پاته کیږي چې سوله به په اساني سره راشي. [٥٥]"

[٥٢] د اندړو له ولسوالی څخه له ځوانانو سره متمرکزه ګروپی غونډه

[٥٣] په سروې کې نا معلوم ګډون وال: د خواجه عمری له ولسوالی څخه ښځینه ښوونکې، ۲۰- ۵۰ کلونو په عمر کې

[٥٤] د قره باغ له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

ګډونکونکی په دې باور وه چې د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون او د ښځو د چارو ریاست په غزنی کې د بشری حقونو د ساتنی او ترویج لپاره ډیر مهم دی چې په تعقیب یې د مدنی ټولنی سازمانونه او د پارلمان غړی راځی. که څه هم چې دوی ته په پرانیستو خبرو اترو کې د ګډونوالو له خوا د سولې لپاره د بلالقوه مدافعینو په سترګه کنل شوی، خو ګډونوالو مذهبی او قومی مشران نه دې غوره کړی. دا د دې لپاره چې که څه هم چې مذهبی او قومی مشران ډیر نفوذ لری او د سولې په راوستلو کې مهم رول لوبولای شی، خو د بشری حقونو په اړه د هغوی پوهاوی باید لا هم پیاوړی شی.

قومی او دینی پوهانو ته تر ډیره بریده د نفوذ لرونکو فعالانو په سترګه کتل کیږی ځوک چې کولای شی په ښه توګه سولې ته وده ورکړی. د دغ فعالینو توان او وړتیا تر ډیره د طالبانو د شتون له امله له ګواښ سره مخ ده.

د اندړو څخه یوه ګډونوال وویل:

"قومي مشران د طالبانو تر فشار لاندې دي. که چیرې په دولت کې دا ظرفیت موجود وي چې هغوي وساتي هغوي به د سولې فعال ملاتړي وي. د امیت پرته، هغوي نه شي کولای د خلکو څخه لیدنه وکړي او هغوي سره یو ځای کړي. دولت باید د هغوي د ساتنې لپاره کار وکړي او د هغوي څخه د سولې د پروسې د تسهیلونکو په څیر کار واخلي.[٥٦]"

د راپورونو سره سم، د دینی مشرانو په هکله هم لکه څنګه چې په لاندې قضیه کې مشخصه شوی، ورته نظر موجود دی:

"یو پښتون ملا په کلکه د دولت ضد عناصرو مخالف دی او د هغوي په وړاندې په ښکاره خبرې کوي، ځکه نو هغه ته ګواښ شوی او اوس په خپل کور کې دننه دی.[٥٧]"

د دې په پایله کې، د دینی مشرانو د بلالقوه نقش څخه ګټه نه ده پورته شوې.

"ملایانو ته له دولړو خواوو ګواښونه متوجه دي. که چیرې هغوي د دولن ننګه وکړي نو بیا د طالبانو له خوا ګواښل کیږي او که چیري هغوي د طالبانو ملاتړ وکړي نو بیا هغوی د دولت له خوا ګواښل کیږي. ځکه نو هغوي کوښښ کوي ځانونه ښکیل نه کړي[٥٨]."

[٥٥] د غزنی د ښار څخه یوه ښځینه زده کونکې، د ۲۰-۱۵ کلونو په عمر کې

[٥٦] د اندړو د ځوانانو سره متمرکزه ګروپی غونډه.

[٥٧] د قره باغ له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

[٥٨] د اندړو د ځوانانو سره متمرکزه ګروپی غونډه

"ملایان سملاسی ګواښل کیږی خو په هغوی برید نه دی شوی. هغوی طرف نه واقع کیږی، نو ولې باید ووژل شی. که چیری یو یې د دولت طرفداری وکړی هغوی به سمدستی له صحنی ترې تم شی.[۵۹] "

د یو شمیر زیاتو ګډونوالو په حواله، یاغی ډلې د بشری حقونو په وړاندې قوی موقف لری او بشری حقونو ته د بهرنیانو له خوا د یوه فریب او تحمیل په سترګه ګوری. خلک ادعا کوی چې د بشری حقونو سرغړونې د شخړې د دواړو خواوو له خوا ترسره کیږی. خلک همدارنګه شکایت کوی چې د افغان ملی امنیتی ځواکونو له خوا په ترسره شویو سرغړونو سترګې پټیږی او مرتکیبینو ته یې سزا نه ورکول کیږی چې په نتیجه کې ی قربانیان او خپلوان د غچ اخیتنې په موخه د یاغیانو سره یو ځای کیږی.

## ۵. د خلکو وړاندیزونه

(۱) د ټول مرکو په جریان کی د غزنی ولایت لاندی وړاندیز د ګډونوالو لخوا په ولایتی سولی نقشی د ځای په ځای کولو په اړه وړاندی شو  چی هغه کسان چی د سولی ضد دی باید د سولی د پروسی څخه ویستل شی. (۲) د فساد په ضد مبارزه "بې عدالتی" او د خلکو په حقونو تیری (د بشری حقونو د نقض په ګډون) باید یو لومړیتوب وی که چیرې غواړو چې په غزنی کې سوله ټینګه شی؛ (۳) د پرمختیا لپاره ټولې هڅې، خاصتا د زده کړو په برخه کې، باید ښځې ځوانان، مختلف قومی ګروپونه او نور راشامل کړی. د ډیرو ګډون کوونکو په باور تبعیض په غزنی کې د شخړو یو لامل دی؛ (۴) د حکومت او د افغان ملی امنیتی ځواکونو تقویه کول باید د ظرفیت د جوړولو او احتساب ښه میکانیزمونه، د بشری حقونو د نقض او د هغوی د جبران په ګډون طرح کړی. د نقض هغه موارد چې له حکومت ضد عناصرو سره په مقابله کې رامنځ ته کیږی باید د شفافو پلټنو له لارې حل شی، حو د افغان ملی امنیتی ځواکونو (په تیره بیا د محلی پولیسو) او نړیوال نظامی ځواکونو په ضد د خلکو په منځ کې نا رضایتی نوره وده ونه کړی؛ (۵) ګډون وال ډیر ځله دودیز موسسات د داسې وسیلو په څیر وینی چې د دې وړتیا لری چې دحکومت ضد عناصر د مذاکرو میز ته راوبولی. که چیرې قومی/دودیز موسسات لکه شوراګانې او جرګې بیا د رغول وړ وی، دوی باید اوس ټول ټولنیز ګروپونه په افغانستان کې راونغاړی او د قومی مشرانو له خوا له احتمالی تبعیض او توپیر څخه ډډه وکړی، خصوصا د ولایتی مرکز څخه بهر په ولسوالیو کې د ښځو د حقونو په وړاندې؛ (۶) که له دولت ضد عناصرو سره مذاکرې/ډیالوګ رامنځ ته کیږی، ګډون کوونکی په دې ټینګار کوی چې په دې لړ کې د ښځو د حقونو په تراو برياوې باید په خطر کې و نه لویږی، خاصتا د زده کړو د حق په برخه کې؛ (۷) د قومی ډلو ترمنځ اختلافونه باید د داسې میکانیزمونو له لارې حل شی چې

[۵۹] د ده یک له ولسوالی څخه د قومی مشرانو او د ټولنې د نورو نارینه غړو سره متمرکزه ګروپی غونډه

د ټولو قومی ډلو اواز واوریدل شی او د برابری د اصل پر بنسټ وی او حکومت باید له دې څخه ډډه وکړی چې د سیاسی فرصت طلبی له مخې د ځینو قومی ګروپونو په وړاندې له تبعیض څخه کار واخلی؛ (۸) په غزنی کې باید مدرسې او دینې زده کړې تقویه شی څو ماشومان بهر ته له تګ څخه رامنع کړی، باید د بشری حقونو زده کړې احتوا کړی ترڅو په راتلونکې کې د دینی رهبرانو نقش د صبر او زغم په تقویه او د افراطیت په ضد پیاوړی شی.

# د پکتیکا ولایت
# د سولي لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

د سولې لپاره دغه ولایتي طرحه د هغو مهمو موندنو او مسایلو خلاصه وړاندې کوي کومه چې د ګروپي متمرکزو مباحثو د سلا مشورو په لړ کې د پکتیکا ولایت د ټولنې د درنو استازو سره مطرح شوې. په دې خبرو اترو کې د پکتیکا ولایت د جانیخیلو، سروضې او ارګون د ولسوالیو څخه نهو تنو قومي مشرانو ګډون کړی و.

د پکتیکا په ولایت کې خبرې اترې د خلکو د ډیالوګ د دوهم پړاو د یوې برخې په حیث ترسره شوې، دا خبرې اترې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په ګډون د مدني ټولنو د ۱۱ شبکو له خوا پیل څو د ټولټال ۴۵۰۰ عادي افغانانو سلا مشورې ترسره کړي او د سولې لپاره ۳۴ ولایتي طرحې، د هر ولایت لپاره یوه، جوړه کړي.

د مدني ټولنې کوم سازمانونه چې د خبرو اترو پروسه پر مخ بیایي هڅه کوي داسې ګډونوال انتخاب کړي چې د اعظمي شمولیت څخه ډاډ حاصل شي. په پکتیکا کې په عامه ژوند کې د محافظه کاره عنعنوي نورمونو له وجې د ښځو د ګډون په هکله د شدیدو محدودیتونو له امله، ښځو و نه شوای کولای په یاد ولایت کې د خلکو د ډیالوګ په خبرو اترو کې برخه واخلي. د دې علاوه، د امنیتي لاملونو له امله د پکتیکا ولایت ولسوالیو ته ډیر کم لاسرسی کیدای شي، چې دا په خپل ذات کې پراخې ټولنې ته د رسیدو په لار کې اظافي محدودیتونه را منځ ته کوي.

## ۲. ولایتي انځور: جغرافیه، جمعیت پیژندنه او سیاسي وضعیت

د پکتیکا نا همواره ولایت د افغانستان په جنوب ختیځ کې پروت دی او په پاکستان کې د جنوبي او شمالي وزیرستان د یاغیتوب د قوي سنګر او د شخړو د سیمو سره (د خیبر پښتونخوا د قبایلي سیمو یوه برخه) یوه اوږده او غرنۍ پوله او هم په پاکستان کې د بلوجستان له ژوب سره یوه وړه پوله لري. دارنګه پکتیکا له غزني، زابل، پکتیا او خوست ولایتونو سره هم ګډه پوله لري. په دې ولایت کې ۲۴ ولسوالۍ شته چې د شرنې په شمول (۵ هغه یې غیر رسمي دي)،[۶۰] چې شرنه یې د ولایت مرکز دی. دغه ولایت ۱۹۳۳۶ کیلو متر مربع مساحت لري. د ولایت نیمایي برخه غرنۍ یا نیمه غرني ده چې دوه پر پنځمه برخه یې هواره سیمه ده. پکتیکا په افغانستان کې له لیرې پرتو او محافظه کاره ولایتونو

[۶۰] په پکتیکا کې ۱۹ رسمي او پنځه غیر رسمي ولسوالۍ شتون لري. د پکتیکا د ولایت ځینې ولسوالۍ د مساحت او نفوسو له لحاظه ډیرې پراخې او ګڼ میشتې وې، دولت پریکړه وکړه څو دا ولسوالۍ وویشي او پنځه غیر ریسمي ولسوالۍ یې ور اظافه کړي. په پکتیکا ولایت کې پنځه غیر رسمي ولاسوالۍ په لاندې ډول دي. شاه خیل اباد (غیر رسمي ولسوالۍ- د جاني خیلو څخه حلا شوې)؛ بکخیل (عیر رسمي ولسوالۍ- د خیر کوټ ولسوالۍ څخه جلا شوې)؛ چاربران (غیر رسمي ولسوالۍ- د برمل د ولسوالۍ څخه جلا شوې)؛ خوشامند (غیر رسمي ولسوالۍ- د ډیلې د ولسالۍ څخه جلا شوې)؛ او شکین (غیر رسمي ولسوالۍ- د برمل د ولسوالۍ څخه جلا شوې).

څخه يو دی. نا امنی په دې ولايت کې يوه ډېره لويه ستونزه ده چې د ولايت نږدې ۹۵ سلنه ساحه د نا امنی له امله د لاس رسی وړ نه ده. په دې ډول د پکتيکا ولايت د جنوب ختيځ په حوزه کې يو له ډېرو نا امنو ولايتونو څخه دی. ياغيان د ولايت ډېرې ولسوالۍ تر ولکې لاندې لری؛ او د حکومتی چارواکو يا امنيتی ځواکونو په پرتله په خلکو کې ډېر نفوذ لری.

د پکتيکا ولايت د نفوسو د شمير په اړه کره شميره نشته. د احصايی د مرکزی دفتر/يو اين ايف پی ای د ۲۰۰۵ کال د سروې له مخې د دې ولايت نفوس ۸۰۹۷۷۲ کسان اټکل شوی دی. په داسې حال کې چې غير رسمی سرچينو هم د دې ولايت نفوس ۸۳۰۰۰۰ کسان اټکل کړی. خو دواړه احصايی د نفوسو شمير ډېر کم ښرګندوی، ځکه چې د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې په دې ولايت کې نږدې ۶۰۰۰۰۰ کسانو د رايې ورکولو لپاره ځانونه ثبت کړی وو. د نفوسو د کم شمير تخمين له امله د حکومت په وړاندې بدبينې راپيدا کړی چې په پايله کې يې په پارلمان کې د دې ولايت د څوکيو شمير هم لږ دی.

خلک په ټولنيز لحاظ ډېر محافظه کار دی، د نجونو تر ۷ سلنې کمې لومړنۍ زده کړې لری او په ټاکنو کې ښځې نږدې هيڅ برخه نه اخلی. په ولايت کې پياوړی قبيلوی جوړښت او د هغه سره تړلی مورال، دود او د شخړو د حل ميکانيزمونه هم په بشری حقونو ډېره اغيزه لری. د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالی قضيې په معمول ډول تر چارواکو پورې نه رسيږی. په دې ولايت کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالی قضيې ډېرې عامې دی. له دې امله د تاوتريخوالی قضيې نه شی مستندې کيدای، ځکه چې د دا ډول قضيو راپورونه نه ورکول کيږی او د جنوب ختيځ حوزې د بشری حقونو د کارمندانو لپاره ډېر محدود امکانات شته چې له ښځو سره خبرې وکړی.

## ۳. د شخړو تحليل: د شخړې ټونې او محرکونه

**د شخړې لاملونه:** په پکتيا کی د بحثونو ګډونوال په دريو ګروپی متمرکزو مباحثو په جګړو کې بيلا بيل ميلانونه په ګوته کړی. د اورګون په ولسوالی کې ګډونوالو احساس کاوه، چې له زيړوک، لوړې او نوی... له اډو څخه د نړيوالو نظامی ځواکونو تر وتلو وروسته امنيتی شرايط ښه شوی دی. خو دغه بهتری يوه بهرنی عامل ته منسوب شوې او هغه دا چې د نړيوالو ځواکونو تر وتلو وروسته پاکستان په دې ولسوالی کې طالبانو ته مرستې کمې کړې دی. داسې بريښی چې د مالی مرستو په کمښت کې د طالبانو فعاليتونه کمزوری شوی دی، سره د دې چې د طالبانو فعاليتونه کم شوی دی، ګډونوالو بيا هم له افغان ملی امنيتی ځواکونو سره د کومې ښې مثبتې تجربې يادونه نه ده کړې. دوی وويل چې هغوی بد چلند کوی؛ نا قانونه تلاشې ګانې کوی ، ځايی اوسيدونکی هم له افغان

ملی پولیسو او افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا د فاسدو کړنو سره د نا ارامی احساس کوی.

ګډونوالو د نړیوالو نظامی ځواکونو تر وتلو وروسته په سر روضې کې د امنیتی وضعیت د خرابیدو خبر ورکړ. دوی په ډاګه کړه، چې اوس مهال د دولت عناصر په ولسوالی کې په ازاد ډول فعالیت کوی. په هغو سیمو کې چې افغان محلی پولیس شتون لری، ګډونوالو هلته د حکومتی ځواکونو د ملاتړ یادونه وکړه او سیمه ییز پولیس یې پر ناوړه چلند تورن کړل، چې له امله یې ځایی اوسیدونکی هم له حکومتی ځواکونو او له دولت ضد عناصرو سره د ناارامی احساس کوی.

د جانی خیلو د ولسوالۍ ګډونوالو له ځایی پولیسو سره څه همکاری وښودله او ویې ویل چې د نړیوالو ځواکونو تر وتلو وروسته طالبان نور په دې ساحه کې ځواکمن نه دی. چیرې چې شورشیان په سیمه ولکه لری، هلته دوی ځایی اوسیدونکو ته څه ازادی ورکړې ده، هغوی کولای شی ښوونځیو ته ولاړ شی او د ساختمانی شرکتونو له لارې سوداګریز فعالیتونه ترسره کړی. داسې معلومیږی چې شورشیانو یو څه د قانون واکمنی پلې کړې ده. د دغو ټولو کړنو سربیره، ګډونوالو ویلی چې د دولت صد عناصرو تر کنټرول لاندې سیمو کې د بیان ازادی محدوه پاته شوې.

ګډون کوونکی په دې باور وو، چې طالبان په ولایت کې د پاکستان د استخباراتی ادارې په مرسته د اوسنیو جګړو اصلی لامل جوړوی. په پکتیکا ولایت کې د ګډون کوونکو په نظر طالبان د خپل اختیار او ځواک نه دی بلکه د پاکستان د استخباراتی ادارې تر ولکې لاندې کار کوی خو دوی په دې اړه کوم مالومات ور نه کړ چې پاکستان په افغانستان کې ولې د طالبانو ملاتړ کوی. په دې ولایت کې خلک باور لری چې اوسنۍ جګړې له پاکستان څخه سرچینه اخلی، دوی دغه راز د اوسنیو جګړو یو لامل ناامنی وګڼله او په عموم ډول یې په حکومت بې باوری څرګنده کړه چې نه شی کولای په ولایت کې امنیت او سوله ټینګه کړی؛ د دې ولایت لویه برخه د طالبانو تر ولکې لاندې ده او حکومتی ځواکونه هلته نه شی تللی، چې سروضه د دې حالت یوه بېلګه ده.

له افغانستان څخه د نړیوالو ایتلافی ځواکونو له وتلو وروسته په ولایت کې د بدلونونو په اړه راز راز نظریې شته. په عموم ډول داسې بریښی چې د حکومت ضد عناصرو له خوا د تبعیه شویو چاودیدونکو توکو ځای پر ځای کول زیات شوی. حکومت ضد عناصرو په ټوله سیمه کې ځانونه تقویه کړی او په ځینو ولسوالیو کې دوی او د دولت ضد نور عناصر تقریبا بشپړه ولکه لری. که څخه هم ځایی خلک د حکومت ضد عناصرو ملاتړ نه کوی، بیا هم داسې معلومیږی چې دې عناصرو په ځینو ولسوالیو کې تر یوه بریده پورې یو ملکی نظم راوستی. ګډون کوونکو وویل چې دولت ضد عناصرو ځایی ساختمانی شرکتونو ته اجازه

ورکړې چې په ځینو ولسوالیو کې کار وکړی، دوی ځایی ښوونځی پرانیستی پرې ایښی او د قانون او نظم یو ابتدایی شکل یې جاری کړی، خو د بیان ازادی تر ډېره بریده محدوده ده. په ټولو دریو ولسوالیو کې، ګډون کوونکی له ځایی پولیسو څخه ناخوښ وو. ګډون کونکو وړاندې راپور ورکړی چې دولت ضد عناصرو د قانون او عامه نظم نیمګړې بڼه په کار اچولی، طابانو اکثرا د بشری حقونو سرغړونکو ته سزاګانې ورکوی او د خوځښت او بیان ازادی یې تر ډېره بریده محدودی کړی. په ټولو دریو ولسوالیو کې، ګډون کونکو د افغان سیمه ییزو پولیسو د محدود شتون په اړه نا رضایتی ښودلی. د دی علاوه، ګډونو کونکو ویلی چې افغان سیمه ییز پولیس غیر موثره او په فساد ککړ دی او د ځایې خلکو په وړاندې د نا سمې رویې په خاطر مشهور دی او د ځایی خلکو څخه ناقانونه تلاشې ګانې کوی او د قانونی طرزالعملونو د په پام کې نیولو پرته د طالبانو د غړو ملکی خپلوان توقیفوی او د توقیفیانو د خلاصون څخه وړاندې د هغوی څخه د بډو غوښتنه کوی چې دا کړنه په منفی توګه د افغان سیمه ییزو پولیسو په وړاندې د ځایی خلکو ملاتړ را کموی. ګډون کوونکو وویل چې ځایی پولیس محلی خلک ځوروی، هغوی په ناقانونه ډول تلاشی کوی، د طالبانو ملکی خپلوان له قانونی پروسې پرته په توقیف کې ساتی او له توقیف څخه د خلاصیدو په بدل کې له هغوی څخه رشوت اخلی. په یوه مورد کې، ځایی اوسیدونکو د افغان سیمه ییزو پولیسو د مشرتابه او د افغان سیمه پولیسو د سرغړونو په اړه ولسی جرګې ته یو رسمی شکایت وړاندی کړ خو کومه اغیزه یې نه درلوده.

**د شخړې محرکونه:** ګډون کوونکی په پکتیکا او افغانستان کې د جګړو په لاملونو سره سلا شول: د نړیوالو ځواکونو (په تېره بیا د امریکا متحده ایالتونه) او ګاونډیو هیوادونو (په خاص ډول ایران او پاکستان) له خوا لاسوهنه؛ اداری فساد؛ په مذاکراتو کې د ښکسلو خواوو یوه لوری ته تمایل، چې د مذاکرې خواوې او د دوی انتخاب کوونکی سره بیلوی؛ بې کاری او بې وزلی. په ټولو دریو ولسوالیو کې ګډون کوونکو نړدې په یوه ډول د حکومت او دولت ضد عناصرو په وړاندې خپله بې باوری څرګنده کړې. دوی شکایت وکړ چې هم طالبان او هم حکومتی ځواکونه دوی ببروی، په خاص ډول د طالبانو په اړه یې ویلی چې هغوی له ځایی خلکو څخه د "زکات" په شکل پیسې او رشوت اخلی.

په جنوب شرقی سیمه کې د نورو ولایتونو په خلاف، ګډونوالو نه دی ویلی چې د قبیلو په منځ کې تشنج د شخړو د دوام لامل ګرځیدلی وی ګډونوالو دا لاندنی فکتورونه په پکتیکا کې د شخړو د اصلی لاملونو په څیر په ګوته کړی دی:

**بهرنۍ لاسوهنه:** د نورو هیوادونو لاسوهنه، په ځانګړی ډول د امریکا او پاکستان له خوا د ډیرو په نظر د جګړو اصلی لامل دی. ګډونوال وایی چې پاکستان نه یوازې دولت ضد عناصرو ته مرستې برابروی، بلکه د پاکستان حکومت په دې کې هم مرسته کوی چې ډیر شمیر افغان کډوال د شخړو لپاره وهڅوی.

**اداری فساد او د قانون د واکمنۍ نه شتون:** دواړه، د حکومت او د یاغیانو مشرتابه په فساد تورن او له کم مشروعیت څخه برخمن بولي. د دوی په باور حکومتي چارواکی له شخړو څخه مالي ګټې تر لاسه کوی او د "خپلو جیبونو د ډکولو لپاره کار کوی." قضایی سیستم کمزوری بلل شوی او د دې لامل ګرځیدلی چې خلک د خپلو دعوو د حل په موخه د طالبانو یا دودیزو سیستمونو ته مراجعه وکړی. په دې برسیره، په طالبانو هم دوی باور نه درلود او د دوی له چلند څخه یې شکایت کاوه.

**د مشرتابه پلویتوب چې د خلکو د ناخوښۍ سبب ګرځیدلې:** په ګروپی متمرکزو مباحثو کې ګډونوالو په رسمی او غیر رسمی مشرتابه باندې خپله بې باوری څرګند کړه. ګډون والو وویل چې د سولې خبرې په هغه وخت کې بریالیتوب پیدا کولای شی چې د جګړو د خواوو ترمنځ د باور فضا پیدا شی.

**د سولې بې اغیزې پروسه:** د سولې اوسنۍ خبرې څکه تر نیوکې لاندې وی چې بې طرفی په کې نه ده مراعات شوې. د پکتیکا ولایت د سولې شورا د خلکو په نظر بې پلوه نه ده او په دې کې پاتې راغلې چې د مختلفو سیمه ییزو برخه والو له خوا استازیتوب وکړی. له دې امله دغه شورا څه نفوذ نه لری او ګډون کوونکو په دې شورا باور نه درلو چې وکولای شی اغیزمنه ثابته شی او د سولې پروسه پر مخ یوسی. د پکتیکا د خلکو په باور نړیواله ټولنه کولای شی د سولې لپاره ګټوره ثابته شی او دوی په دې هم ټینګار کاوه، چې د سولې په پروسه کې باید دریم ګړی لوری د نړیوالې ټولنې له خوا څخه وی.

**بې وزلي او د بې کاری لوړه کچه:** د کاری فرصتونو نشتوالی ډیری ځوانان دې ته اړ باسی چې د اقتصادی عایداتو لپاره له یاغیانو سره یو ځای شی.

**په شخړه کې فعالین:** ګډونوالو د شخړې درې ابتدایې فعالین په ګوته کړی، په مساوی ډول د مسولیت ویش (۱) د بهرنیو عنصرونو تر منځ مستقیمه ښکیلتیا، د پاکستان او متحده ایالتونو استخباراتی شبکې؛ (۲) طالبان؛ او (۳)په فساد ککړ دولتی ځواکونه.

ګډونوال ټینګ پاور لری چې د هغوی ولایت او (افغانستان) د سیالو بهرنیو ډلو تر منځ، د بیلګې په توګه د پاکستان او متحده ایالتونو د ګټو په میدان اوښتی. دولتی امنیتی ځواکونه کمزوری او غیر موثره دی او نه شی کولای امنیت تامین کړی. ګډونکونکو ویلی چې د سر وضی په ولسوالی کې کمه برخه د دولت تر ولکې لاندې ده او پاتې لوی برخې ته افغان ملی امنیتی ځواکونه لاسرسی نه لری. د دې سربیره، د راپورونو سره سم طالبان د ځایی خلکو څخه زکات راټولوی او دولتی ځواکونه په ښکاره توګه نه شی کولای دا لړی ونګوی.

**په افغانستان کې د سولې لپاره ګټور فعالین:** د حیرانیتا خبره نه ده، چې ډیری ګډونوالو د سولې په پروسه کې د نړیوالو په ګډون باندې ټینګار کاوه. په خاص ډول هغوی له

امریکا، سعودی عربستان، ترکیې او نورو هیوادونو څخه وغوښتل چې پاکستان د سولې د پروسې د تقویې او د دې لپاره وهڅوی چې په پکتیکا کې د شورشیانو د فعالیتونو له تنظیمولو څخه لاس په سر شی. ګډونوالو له طالبانو سره د نورو مذاکرو کولو غوښتنه وکړه او د بن د سولې خبرې یې د پخلاینې لپاره د یوه داسې فرصت په څیر وبللې چې له لاسه وتلې دی، ځکه چې نړیوالې ټولنې نه غوښتل چې طالبان په دې خبرو کې راګډ کړی.

## ۴. د سولې لپاره ځایی طرح او د خلکو وړاندیزونه

په ولایت کې د پایښت لرونکې سولې د تامین لپاره په یاد ولایت کې د خلکو د ډیالوګ ګډونکونکو لاندې سپارښتنې په ګوته کړی:

**د سولې د پروسې د موثریت ښه کول:** (۱) د سولې د بې پرې خبرو اترو یقینی کول: د بې طرفه سپین ږیرو، مشرانو او دولتی چارواکو انتخابول څو د دولت ضد عناصرو سره د سولې په خبرو اترو هوکړه وکړی، دا یې هم وویل چې د سولې شورا باید له داسې کسانو څخه جوړه شی چې دواړه لوری په دوې باور وکړی؛ (۲) ګډون کوونکو ټینګار وکړ چې د حکومت او دولت ضد عناصرو ترمنځ باید مذاکرې پیل شی، چې د پاکستان د حکومت په ګډون د نړیوالې ټولنې ملاتړ ورسره وی. دوی وویل چې جګړه د شخړې حل نه دی او حکومت دې ته اړتیا لری چې د اوسنۍ شخړې د حل لپاره د مذاکرو لار خپله کړی؛ (۳) د پاکستان په نقش باندې څو ځله خبرې وشوې او ګډون کوونکو وویل چې پاکستان نه یوازې باید د مذاکرو پروسه تقویه کړی، بلکه باید خپله مداخله په دې ډول بنده کړی چې یاغیانو ته نورې مرستې ور نه کړی.

**د افغان سیمه ییزو پولیسو پیاوړي کول او د حسابورکونې څخه د ډاډ حاصلول:** ګډونوالو په ټینګار سره څرګنده کړه چې په پکتیکا کې د سولې د ټنګښت لپاره داسې قوی ځایی پولیس ته اړتیا شته چې ځآیی ټولنه پرې باور وکړای شی. ډیری خلکو په خپلو ساحو کې د ځایی پولیسو له عملیاتو څخه شکایت درلود، په خاص ډول دغو شکایتونو د حساب ورکونې له نشتون او له ځواک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې سره تړاو درلود. طالب مشرانو ویلی دی چې ځایی پولیس ډیر ځله ځایی خلک په ناقانونه ډول په توقیف کې ساتلی، هغوی یې وهلی او په زوره یې پیسې ځینې اخیستی. لږ تر لږه یو وار ځایی خلکو ولسی جرګې او د ځایی پولیسو مشرتابه ته په رسمی ډول شکایت کړی خو څه پایله یې نه درلوده. په دې سربیره، ګډونوالو ویلی دی چې په ځینو ولسوالیو کې د ځایی پولیسو شمیر کم دی او په دې کم شمیر سره دوی نه شی کولای چې هلته امنیت او سوله ټینګه کړی.

# د پکتیا ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

دا ولایتی طرح د هغو مهمو موندنو او مسایلو یو لنډیز وړاندی کوی کوم چې په پکتیا ولایت کې په متمرکزو گروپی مباحثو کې مطرح شو. د پکتیا په ولایت کې نږدې ۸۲ گډونوالو په ۸ متمرکزو گروپې مباحثو، ۱۱ مرکو او ۲۲ سروې گانو کې گډون وکړ. د ولایتی پلازمیینې گردیز څخه د ځوانو ښځینه زده کونکو څخه نیولی بیا د زرمت د ولسوالی تر مشرانو پورې گډون کونکی جنسیت، عمر او ځای له لحاظه متفات وو. د یوناما د بشری حقونو څانگې د خبرو اترو لپاره اسانتیاووې برابری کړی او د مدنې ټولنو سازمانونو د خبرو اترو پروسې پر مخ یووړی، هغه یې وکړه داسې گډون کونکی انتخاب کړی چې د اعظمی شمولیت څخه ډاډ حاصل کړی. که څه هم د ولایتی پلازمیینې گردیز څخه د باندې د نا امنی، جنسیت د توازن او د ټولنو په اړه پراخ استازیتوب، او په ولایت کې په عامه ژوند کې د ښځینه وو د گډون په هکله محدودیتونه چې د محافظه کارو دودیزو نورمونو څخه سرچینه اخلی، ترلاسه شوی.

دا خبرې اترې د سولې د پروگرام په اړه د افغانانو د ډیالوگ د دویم پړاو د یوې برخې په حیث ترسره شوی کوم چې د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون په گډون د مدنی ټولنې د نږدې ۱۱ شبکو له خوا پیل شوی څو د نږدې ۴۵۰۰ عادی افغانانو سره مشورې ترسره کړی او د ۳۴ ولایتونو لپاره د هر ولایت لپاره د سولې یوه طرح را منځ ته کړی.

یوناما باور لری چې لاندې طرح به په پکتیا ولایت کې پراخې نظریې را منځ ته کړی او د سولې لپاره وړاندیز شوې تدبیرونه به د یو شمیر خلکو او ټولنو ملاتړ تر لاسه کړی.

## ۲. د ولایت انځور، جغرافیه، د نفوسو شمیر او سیاسی وضعیت

پکتیا یو غرنی ولایت دی چې د ولایت په سهیل لویدیز کې وچه صحرا او په مرکزی او ختیځو برخو کې کرهنیزې او د څړ ځمکې لری. د ولایت مرکز گردیز چې د کابل څخه په ۱۲۰ کلومتره واټن کې دی د سمندر له سطحې څخه په ۲۳۰۰ متره لوړوالی کې واقع دی. د پکتیا ولایت د پاکستان د یاغیتوب ځپلې کرم ایجنسی سره ۱۰۰ کلومتره پوله لری. دغه ولایت همدارنگه د افغانستان د لوگر، غزنی، پکتیکا او خوست د ولایتونو سره پوله لری.

د پکتیا د ولایت نفوس نږدې یو ملیون وگړی دی. پکتیا ته د پښتون ټبره قومونو د مرکزی سیمې په سترگه کتل کیږی او د هیواد په کچه یې په سیاسی پیښو کې، په تیره بیا، په ۱۹۲۹ کال کې د شاهی دولت د بیا اعاده کولو په برخه کې په عنعنوی لحاظ مهم رول لوبولی دی. په تیرو وختونو کې چې به کله هم مشرانو غوښتل په افغانستان کې واک ترلاسه کړی، هغوی عادتا په پکتیا کې د "پاچا جوړونکو " قومونو څخه د مرستی غوښتنه کوله چې د خپلې ځواکمنۍ او یو والی له امله یې شهرت درلود. په تیر وخت کې کله چې رهبرانو غوښتلی چې پر افغانستان واک ولری هغوی همیشه په پکتیا کې د " پادشاه

ټاکونکو" قبیلو څخه د ملاتړ هیله کړې. هلته همدارنګه یو تاجک اقلیت چې ورته " ګردیزیان" ویل کیږی د ولایت په مرکز ګردیز کې هستوګن دی. قبیلې په پکتیا کې مهم سیاسی او ټولنیز واحدونه دی. د مدنی ټولنې د سازمانونو او سیاسی ګوندونو حضور او نفوذ تر ډیره بریده محدود دی.

د پکتیا ولایت په اقتصادی لحاظ کمزوری او لږ تاسیسات او صنعت لری، محلی غیر رسمی اقتصاد په اساسی او نیمه آساسی زراعت ولاړ دی، رسمی اقتصاد یې په لاندنیو سکټورونو ویشل کیږی: د۴۵٪ فعال نفوس د عوایدو سرچینه کرهڼه ده؛ په داسې حال کې ۱۷٪ نفوس د ساختمانی چارو څخه؛ ۱۳٪ د سوداګرۍ ؛ ۱۱٪ د ټرانسپورټ د سکټور؛ او پاتې ۱۴٪ د نورو سرچینو څخه عواید تر لاسه کوی. د پاکستان سره قانونی او ناقانونه سوداګری او د هند او عرب هېوادونو څخه رالیږل شوې پیسې د عوایدو د پام وړ سرچینې دی. دلرګیو، چرسو او وسلو قاچاق همدارنګه د اصلی کاروبار تشکیلوی. پکتیا په افغانستان کې یو له څو هغو ولایتونو څخه دی چې د کوکنارو څخه فارغ دی.

## ۳. د جګړې تحلیل: د شخړې ډمونې او محرکونه

**د شخړې اصلي ډمونی او ښکیلې ډلې:** ډیری ګدون والو په پکتیا ولایت کې د شخړې اصلی ډمونې د افغانستان د حکومت چې ملاتړ یې د نړیوالو امنیتی ځواکونو له خوا کیږی او د یاغیتوب تر منځ په ګوته کړی. په دې زمینه کې خلکو په پکتیا ولایت کې هغه فعالین چې په جګړه کې ښکیل دی په دوو اړخونو و ویشل: افغان ملی امنیتی ځواکونه او نړبوال پوځې ځواکونه د یوه اړخ په توګه ؛ او دولت ضد عناصر- (زیاتره طالبان، د حقانی شبکه او حزب اسلامی) د بل اړخ په توګه. په عین وخت کې ګاونډی هېوادونه (په ځانګړی ډول پاکستان او ایران) هم په جګړه کې د فعال اړخ په توګه یاد شول. که څه هم ګډون والو د جګړې د هغو عاملینو تر منځ چې په ملی او محلی کچو په جګړه کې ښکیل دی، د قبیلوی او هغو شخړو چې د ځمکې او ځنګل د سرچینو لپاره کیږی په پکتیا کې د جګړې په اړه د بحث پر مهال کوم توپیر ونه کړ.

**دقومونو او قبیلو ترمنځ تاوتریخوالی:** د پکتیا د ولایت څخه اوسیدونکو وویل چې د ولایت د قوی قومی خصوصیت او د سیاسی استازیتوب په موخه د قومونو تر منځ د سیالیو، په محلی اداره کې د عامه موقفونو د ترلاسه کولو او سرچینو ته د لاسرسی په موخه چې اکثره یې د ځمکې او ځنګلونو د شخړو سره تړاو لری شخړو ته لار هواروی او دا اکثرا د دولت او یاغی ډلو له خوا د سیاسی موخو د ترلاسه کولو په هدف تشدید کیږی.

**د ۲۰۰۱ کال راهیسی په پکتیا کې تر لاسه شوی پرمختګ:** زیاتره ګډون وال په تیره لسیزه کې په هیواد کې د پرمختګ د اړخونو په اړه متفق وو: پوهنه، د ښځو حقونه او سړکونو جوړول او نور تاسیسات په پرلپسې توګه په لومړی سر کې راغلل. خو دغه لاسته

راوړنې باید په دقیق ډول سره وارزولې شی. که څه هم ګډون وال په دې باوردی چې د افغانستان تعلیمی سیستم په واقعی توګه له هغه څه چې لس کلونه پخوا و بهتره دی، خو هغوی بیا هم ویل چې د تعلیم نشتوالی او "جهالت"ا و بې سوادی د جګړې د تداوم د سترو لاملونو په توګه هم په محلی او هم په ملی کچو دی. د ښځو د حقونو په برخه کې ګډون وال د هغه پرمختګ په لړ کې چې په ملی کچه شوی دی په دې متفق ول، خو ډیر کم په دې کې متفق ول کله چې یې په ځانګړې توګه د پکتیا په اړه بحث کولو. د تاسیساتو ښه والی په هر حالت کې د ګډونوالو په نظر باید په ملی او محلی کچو سره په سمون کې وی، حتی ګډون والو د دې لپاره د هڅو وړاندیز درلود چې دغه لاسته راوړنې باید وساتلې شی څو چې په راتلونکې کې په افغانستان کې ورڅخه د سولې د تسهیل لپاره د وسیلې په توګه کار واخیستل شی.

په منفی اړخ کې، ډیری ګډون والو د دې یادونه وکړه چې امنیتی وضعیت په څو وروستیو کلونو کې د هېواد په کچه ښه نه دی. په سروې کې یواځې ۱۴٪ ګډون والو د امنیت څخه د هغې ساحې په توګه یادونه درلودله چې په افغانستان کې په کې پرمختګ راغلی دی.

د تمرکز د ډلو ګڼ شمیر ګډون والو د دې یادونه وکړه چې د طالبانو د رژیم سقوط په افغانستان کې د ډیرو خلکو لپاره د بیان ازادی له ځان سره راوړه . خو بیا هم ګډون والو و ویل چې لا هم حکومت هغه کسان چې په عامه محضر کې یې خپل نظر بیان کړی د حکومت له خوا تر تعقیب لاندې راغلی. د څمکنیو څخه یو تن قبیلوی مشر دغه مساله داسې توضیح کړه:

> " لا هم د دواړو غاړو څخه د بیان پر ازادۍ محدودیتونه شتون لري، خو که حکومت خلک بندي کوي نو طالبان یې وژني." [٦١]

**په پکتیا کې د امنیت په اړه انګېرنې:** ډیری ګډون والو وویل چې پکتیا یو نا امنه ولایت دی، هغوی د دولت ضد عناصرو د موجودیت له کبله د نقل و حرکت د محدودیت، هغو پیښو یادونه وکړه چې په کې ملکی کسان د دولت پلوه ځواکونو له اړخه وژل شوی او یا هم ټپی شوی دی، او یا هم د هغو کسانو قضیې چې په ټولنیز او عامه ژوند کې د برخې اخیستنې له کبله تر هدف لاندې راغلی دی.

د دې سربیره، د نیمایې څخه زیاتو ګډون کونکو وویل چې هیڅ کوم اوسنی سیاسی رژیم د دوی لپاره په هیواد کې امنیت نه دی تامین کړی. خو د متمرکز بحث د ډلې د ګډون والو څخه یو تن زده کوونکی د اوسنی امنیتی حالت په اړه خوشبینه وو:

[٦١] د څمکنیو د قومی مشرانو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.

"زه فکر کوم چې د روانې جګړې باوجود د کورنۍ جګړې په پرتله تاوتریخوالی کم شوی دی. هغه مهال حکومت شتون نه درلود او نړیوال ځواکونه هم نه وو. دا ستونزمنه وه چې له یو ځای بل ځای ته حرکت ولري. د بیلګې په توګه که چېرې تاسو غوښتل چې کابل ته ولاړ شئ نو تاسو ته لازمه وه چې اوه د هویت کارتونه ولرئ- د مختلفو ملیشاء ډلو د هرې د چیک د پوستې لپاره یوځانګړي کارت. په هغه مهال کې جنګ د یوه کور څخه بل کور ته لیږدېدلو. نن جګړه د یاغیانو د تصادفي بریدونو پورې محدوده ده." [٦٢]

ګډون والو په مرکو او د تمرکز په ډلو کې اکثره مهال د دې یادونه کړې چې افغان محلی پولیس د پکتیا ولایت په ولسوالیو کې د امنیت د ساتلو لپاره یوه کلیدی موسسه ده . ځینو بیا تایید کړې چې امنیت د هغوی د ځای پر ځای کېدو څخه وروسته په ډراماتیکه توګه ښه شوی.

د څکمنیو څخه یوه تن قومی مشر وویل:

" د افغان محلي پولیس د ځاي پر ځاي کېدا وروسته په دې وروستیو دوو کلونو کې تاوتریخوالي کې کموالی راغلی دی. د دې تر مخه خلکو خپل سري کوله. دا ښه ده چې افغان محلي پولیس د افغان ملي پولیس تر قوماندې لاندې دي: قبیلي افغان محلي پولیس د خپل منځي جګړو لپاره نه کاروي. افغان محلي پولیس د یاغیانو د بریدونو له امله را ولاړ شوې نا امني کمه کړې ده. د دې ترمخه خلک اړ وو چې د خپلو وسلو سره د ځان ساتنې لپاره سفر وکړي، خو د افغان محلي پولیس د پوستو سره اوس دې ته نوره اړتیا نه لیدل کیږي. له هغه مهاله چې افغان محلي پولیس ځاي پرځاي شوي دي نو د نقل او حرکت او یوځاي کېدا لپاره ښه والی راغلی دی، لکه چې مشران اوس بیا کولای شي چې په شورا ګانو (چې د طالبانو له اړخه پرې بندیز وو) سره وګوري." [٦٣]

یوه له هغو ښیګڼو څخه چې افغان محلی پولیس یې لری هغه داده چې هغوی پخپله د قومی جوړښت برخه دی، او له همدې کبله د قبیلو ملاتړ ورسره دی. همدارنګه داچې هغوی خپلې ټولنې، خلک او سیمه ښه پیژنی نو دوی په آسانۍ سره کولای شی چې د دولت ضد عناصرو فعالیتونه او د هغوی د نفوذ مخنیوی وکړی:

"هغوي په دې پوهیږي چې څوک څوک دي" [٦٤].

[٦٢] د ګردیز او ځدران د زده کوونکو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.
[٦٣] د څمکنیو د قومی مشرانو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.
[٦٤] د څمکنیو د قومی مشرانو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.

د ګډون والو له نظره افغان محلی پولیس همدارنګه د یوه سبمول په توګه ډیر ګټور دی چې هغوی د حکومت څخه د ټولنې ملاتړ ته انعکاس ورکوی:

" که چېرې په یوه ساحه کې افغان محلي پولیس شتون ولري نو هغه دولت پلوه دي او یاغیان په دې پوهیږي چې نه شي کولای هلته عملیات ولري."[٦٥]

د دې باوجود هم سروې په دغه ولایت کې د کوم ځانګړی ځواک لپاره تر جیح ونه ښودله . تر ټولو غوره ځواب دادی چې ټول افغان امنیتی ځواکونه د پکتیا په ولایت کې مهم دی. په دوهمه درجه کې افغان ملی پولیس او افغان ملی اردو ده. د ملی امنیت ریاست د یوې په څلورمې برخې ګډون والو له خوا ، نړیوال نظامی ځواکونه د هر لسم ګډون وال او افغان محلی پولیس یواځې د ۵٪ ګډون والو له خوا تشخیص شول.

**د ښځو د حقونو په اړه پرمختګ:** د دې یادونه په زړه پورې ده چې ځینو ګډون والو چاچې په افغانستان کې د ښځو د حقونو په اړه په پرلپسې توګه د تیرې لسیزې د لاسته راوړنو یادونه کوله ډیر کم دې ته متمایل وو چې د هغو څخه په پکتیا کې د بریالیتوبونو په توګه یادونه وکړی. نو له همدې کبله داسې لیدل کیږی چې د سروې ګډون وال هغه پرمختګ چې په افغانستان کې د ښځو د حقونو په لړ کې ترسره شوی دی پخپله ساحه کې د هغو انعکاس نه ګوری. پکتیا زیاتره قبیلوی سیمه ده، چېرته چې محافظه کاره دودونه او قوی دودیز رسمونه د خلکو په ژوند مسلط دی چې ددغه انحراف ښکارندویه دی.

که څه هم د ګردیز ښځنیه زده کوونکې ګډون والې په ښاری چاپیریال کې اوسیږی او د قبیلوی فرهنګ څخه لرې اغیزمنې دی خو په پکتیا کې د ښځو د وضعیت په اړه لږې خوشبینه وې:

"موږ نه پوهیږو چې زموږ راتلونکې به څنګه وي. د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی زیات شوی دی چې د دې سره په عامه چارو کې زموږ ګډون د خنډ سره مخ کیږي.. [...] په دې ولایت کې د ښځو لپاره ټولنیزه فضاء نشته. ښځې ځان مصوونه نه احساسوي، موږ اکثره وخت په ښار کې، په عامه ځایونو، لکه مارکیټونو او پوهنتون کې د ځورونو سره مخ کیږو. بله ستونزه داده چې ښځې د محافظه کارانه او زیانمنونکو دودونو او تجربو سره په دغه ولایت کې مخې دي."[٦٦]

[٦٥] د څمکنیو د قومی مشرانو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.
[٦٦] د ګردیز او ځدران د ولسوالۍ د زده کوونکو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.

د ښځو تر منځ د اندیښنې بل ستر لامل هغه امکان دی چې د طالبانو سره د مذاکرو د بهیر امکان کېدلای شی چې هغه لاسته راوړنې چې د ښځو د حقونو په لړ کې تر لاسه شوی دی د ګواښ سره مخ شی:

" محلي خلک د دې څخه اندیښنه لري چې که طالبان د حکومت سره بیا یوځای شي نو هغوي به د ښځو تعلیم او نورې هغه لاسته راوړنې چې په تیرو کلونو کې تر لاسه شوي، ودروي."[٦٧]

کله چې موږ د دې پوښتنه وکړه چې آیا په پکتیا کې ښځې دې ته چمتو دی چې په عامه چارو کې ګډون وکړی نږدې نیمایی ګډون والو یې مثبت ځواب او په همدغه شمیره کې نورو یې منفی ځواب درلود. د هغو لاملونو په اړه چې ولې شرایط لا هم مساعد نه دی ، ګډون والو محافظه کارانه محلی دود ، د امن نشتوالی او د طالبانو شتون او نفوذ ته په دې لړ کې اشاره درلودله. د بده مرغه هغوی چې دا یې تایید کړه چې پکتیا په واقعیت کې د ښځو ګډون ته چمتو ده خو دا چې ولې یې په دې اړه یې څه ونه ویل. دغه پوښتنه په ۲۰۱۴ کال کې د ولایتی شورا د ټاکنو لپاره کلیدی ګڼل کیږی چېرته چې پنځوو ښځو ځانونه په پکتیا کې د دریو هغو څوکیو لپاره نوماندې کړی دی چې د ښځو لپاره ریزرف دی.

د څکمنیو څخه یوه تن نارینه ګډون وال و ویل چې د ستونزو سره سره هغه پخپله ولسوالۍ کې د ښځو د ګډون په لړ کې د پام وړ پرمختګ لیدلی دی:

" د ښځو د حقونو په اړوند د طالبانو له خوا تهدیدونه او ارعاب شتون لري، خو قومونه د دې مسلې په اړه متفق دي. نجونې ښوونځیو ته ځي او ښځې په شورا ګانو کې ګډون کوي: درې ښځې په انکشافي کمیټه کې او دوه ښځې د سولې د کمیټې په محلي شورا کې دي." [٦٨]

**د جګړې محرکونه:** ډیری ګډون وال په ډیر وضاحت سره د جګړې د محلی او ملی محرکاتو تر منځ ښکاره ارتباط څرګندوی: په افغانستان او پکتیا د شخړې مهم لاملونه په لاندې ډول دی: د تعلیم نشتوالی، فساد، بهرنۍ مداخله، د افغان امنیتی ځواکونو او د دولتی ادارو کمزوری، د قبیلو تر منځ تاوتریخوالی، نیستې او بې کارې. همدارنګه کله چې د دوی څخه په خاص ډول د جګړې د دوام په هکله پوښتنه وشوه، په سروې کې زیاترو ګډونوالو وویل چې د افغانستان ګاوندی هیوادونه او له هغه وروسته طالبانو او د افغان دولت

[٦٧] د څمکنیو د ولسوالی د ښځو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.
[٦٨] د څمکنیو د قومی مشرانو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.

مخالفی وسله والې ډلې په شخړو کې لاس لری. ۱/۳ ګډونوالو د افغانستان دولت ملامت باله خو یو شمیر نورو ګډونوالو نړیوال پوځې ځواکونه د شخړو د دوام مسول ګڼل.

**اداري فساد او بې عدالتي:** فساد او بې عدالتی د برخه والو له خوا د ولایت په کچه د اصلی لاملونو څخه وګڼل شول.

دولت په پراخه پیمانه غیر موثره او په اداري فساد ککړ دی چې دا یې مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولی. ګډونوالو استدلا کړی چې دغه فاکتورونه د دې لامل شی چې د دولت او خلکو تر ونځ واټن زیات شی او په نتیجه کې یې خلک د یاغیانو لیکو ته ورشی. ګډون کونکو اندیښنه څرګنده کړې چې د عدلی سیستم کارکونکی اکثرا د بډو غوښتنه کوی او دا یې هم ویلی چې په دولتی ادارو کې د دندو د ګمارلو په برخه کې خپلوی پالل کیږی او په دې سره د خلکو لویه برخه د عامه اشتغال څخه بې برخه کوی چې په نتیکه کې یې شکایتونه او نارضایتی را منځ ته کیږی او د هغو څخه یاغیان د ځان په نفع ګټه پورته کوی.

لکه چې د زرمت د ولسوالۍ څخه یو تن مشر واضحه کړه چې فساد نه یواځې د خلکو اعتماد او د حکومت ملاتړ متضرره کوی بلکې همدارنګه په پکتیا کې د پخلاینې بهیر تر ګواښ لاندې نیسی.

> "زه نه شم کولای یاغیان دې ته وهڅوم چې د سولې له بهیر سره یوځای شي ځکه چې په دغه پروسه کې فساد دی. په تیر وخت کې موږ د هغو کسانو سره چې د سولې له بهیر سره یوځای شول وعده کړې وه چې هغوي ته به تحفظ، کار، او نور ملاتړ حاصل وي خو دغه وعدې رښتیا نه شوې. ټولې پیسې د ښکیلو اړخونو جیبونو ته ځي." [٦٩]

لکه چې د متمرکز بحث د ډلې یو تن برخه وال زده کوونکی وویل فساد او غیر فعاله عدالتی سیستم همدارنګه وسله والې مخالفې ډلې نیغ په نیغه تقویه کوی:

> "یو څوک چې په محکمه او څارنوالۍ کې دوسیه ولري ورته عدالت نه رسي، نو ځکه هغه به خپله دوسیه یا خو طالبانو ته وروړي او یا به هم له مخالفینو سره د غچ اخیستنې په موخه یوځای کیږي." [٧٠]

**د قومونو تر منځ تشنج:** ګډونوالو د مرکو په ترڅ کې وویل چې په پکتیا ولایت کې د قومونو تر منځ تشنج د شخړې یو مهم لامل دی. دا اکثرا د ځمکو پر سر د شخړو او سرچینو د لاسرسی، په تیره بیا د کرهیزې ځمکې او ځنګلونو د مسلې سره تړاو لری. د

[٦٩] د زرمت د قومی مشرانو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.
[٧٠] د ګردیز او ځدران زده کوونکو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.

ځمکنیو[۷۱] څخه د یوه تن قومی مشر په حواله، دولتی چارواکی، د افغان ملی امنیتی ځواکونو په شمول، د دې پر ځای چې د قومونو په منځ کې درک او پوهاوی را منځ ته کړی په شخړه کې د یوه قوم ملاتړ کوی څو خپلې موخې تعقیب کړی ځکه نو غیر طبعی شخړې ته لمن وهی.

**بهرنۍ مداخله:** په سروې کې د یو په درې برخې ګډون والو له جملې څخه نږدې نیمایی ګډون والو په مرکو کې په پکتیا کې بهرنۍ مداخله د جګړې له لاملونو څخه یو مهم لامل بللی. ګډون وال ګاونډی هېوادونه په دې تورنوی چې د یاغیانو لپاره د دې لپاره مرسته کوی څو ټیکاو له منځه یوسی او افغانستان کمزوری کړی، او نړیوال نظامی ځواکونه ملکی تلفات رامنځته کوی او د شپې د مهال تلاشۍ کوی چې دا ناخوښی راولی او جګړه تیزوی.

د افغانستان په جګړه کې د ګاونډیو هیوادونو نفوذ د ګډونوالو لپاره یوه دوامداره اندیښنه ده او افغانانو ته د بهرنیو فعالینو تر منځ د مبارزې د قربانیانو په سترګه کتلی.

د پاکستان له خوا د یاغی ډلو د ملاتړ په اړوند چې موخه یې د افغانستان بې ثباته کول دی د ګډون والو تر منځ شکایتونه خورا پراخ وو.

په افغانستان کې د بهرنۍ مداخلې تحلیل همدارنګه د اقتصادی ریښو په اړه تمرکز درلود:

> ″ افغانستان د خپل جیو ستراتیژیک موقعیت له امله د بهرنۍ مداخلې قربانی دی. د امریکې متحده ایالات او پاکستان غواړي چې منځنۍ اسیا او چین ته لاس رسی ولري. دا یوه اقتصادي جګړه ده او د دې ګټې ګاونډیو هېوادونو او زبر ځواکونو ته ځي.″[۷۲]

**د تعلیم نشتوالی:** ګډون والو د رسمی تعلیم نشتوالی په پکتیا کې د جګړې د پراختیا اساسی لامل بللی.

د خلکو په حواله، رسمی معارف ته د لاسرسی نه شتون دوه ډوله ناوړه اغیزې لری: لومړی، خلک زیامننوی او استعمالوی او هغوی د راډیکالیزم طرف ته سوقوی او د یاغیتوب لپاره د جګړه مارو سره د استخدام په چارو کې د هغوی سره مرسته کوی؛ او دوهم، اقتصادی فرصتونو ته د لاسرسی مخه نیسی، د بې کاری په نتیجه کې زیات ځوانان د عایداتو د ترلاسه کولو په موخه د یاغیانو سره یو ځای کیږی.

د تمرکز بحث په یوې ډلې کې یوه تن ګډون وال د تعلیم د اهمیت په اړه داسې و ویل:

[۷۱] د ځمکنیو څخه د قومی مشرانو سره متمرکزی ګ‌ډ،ې ناستی چې په ګردیز کې ترسره شوې.
[۷۲] د زرمت د قومی مشرانو سره د ډله ییز متمرکز بحث چې په ګردیز کې دایر شوی وو.

" د جنګ جګړو داخلي فکتور په هېواد کې د سواد د کچې ټیټوالی دی. په دې توګه خلک په اسانۍ سره د جنګ لپاره استعمالیږي." [73]

**بې وزلي او بې روزګاري:** ډیری برخه وال په دې باور دی چې بې وزلی او بې روزګاری په پکتیا کې د جګړې له لاملونو څخه دی. لکه چې پورته یې یادونه وشوه، د اقتصادی فرصتونو نشتوالی ځوانان دې ته اړ باسی چې د اقتصادی عوایدو د باوری کولو لپاره د یاغیانو سره یوځای شی.

**په پکتیا کې د کافي شمیر مدرسو نشتوالی:** د متمرکز و بحثونو په ډلو کې ګډون والو وویل چې د پکتیا په ولایت کې د کافی شمیر دینی ښوونځیو نشتوالی ماشومان دې ته اړ باسلی دی چې پاکستان ته ولاړ شی چې هلته دینی زده کړې تعقیب کړی. د بده مرغه د ګډون والو په وینا ډیری یې چې بیرته ولایت ته راځی د ځان سره افراطی افکار را لیږدوی. د هغه نفوذ په پام کې نیولو سره چې دینی مشران یې په محلی خلکو لری د دې ستونزې اهمیت له پامه نه شی غورځېدلای.

**نور لاملونه:** د ټولو هغو لاملونو څخه چې پورته یې یادونه وشوه د سروې ګډون والو همدارنګه په پکتیا کې د جګړې نور لاملونه هم لکه د حکومت او افغان امنیتی ځواکونو کمزوری، د افغانستان د خلکو تر منځ د" وحدت نشتوالی" او د سیاسی پوهاوی نشتوالی په نښه کړل. په پای کې د ګډون والو یوه لړکی د ناقانونه توکو کښت، پر حکومت بې باوری، تبعیض او محافظه کارانه دودونه د لاملونو په ډله کې وشمیرل.

د دې سربیره، یوه زده کونکی د افغانانو په منځ کې د سولې د عادی درک د نه شتون مسلې ته اشاره وکړه او دا یې د خشونت یو لامل وباله:

"زه همیشه له ځانه دا پوښتنه کوم چې ولې خلک زما په هیواد کې خپل ورونه وژني. ولې موږ د یو بل دښمنان یو؟ ځواب دا دی چې د سولې په تړاو د خلو په منځ کې د نظریو موافقه شتون نه لري. خلک د سولې د یوې واحدي اجنډا لاندې سره متحد نه دي."[74]

**د ناراضیتوب سرچینې:** د شخړې د پورته یادو شویو سرچینو سره په سمون کې، ډیری ګډون والو هغو ککړو او بې لیاقته دولتی چارواکو او د دولت ضد عناصرو له خوا هغو ځورونو ته اشاره وکړه چې په پکتیا ولایت کې د ناراضیتوب د اساسی لاملونو په توګه بلل کیږی. د ناراضیتوب بله اساسی سرچینه د ناوړه سلوک او تیری هغه قضیې دې چې د افغان امنیتی ځواکونو او نړیوالو نظامیانو له خوا ترسره کیږی.

[73] د زرمت د قومی مشرانو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.
[74] د ګردیز د ولایت د زده کونکو سره د متمرکزو ډلو خبری اتری په ګردیز کې ترسره شوی.

یوه تن زده کوونکی وویل:

"د ناتو اود حکومت له خوا د شپې د مهال بریدونه اود تلاشیو عملیات د حکومت څخه د خلکو د ناراضیتوب بله سرچینه ده. دغه عملیات ځینې وختونه د هغو خلکو د وژنو ، توقیف او شکنجې لامل کیږي څوک چې د سولې لپاره د کار کولو امکانات لري." [۷۵]

د زرمت د ولسوالۍ څخه یوتن مشر وویل:

" ایا بهرنیان ( نړیوال نظامیان) په رښتیا سره غواړي چې دا هېواد جوړ کړي او سوله راولي؟ هغوي په دې وروستیو کې نهه ماشومان او ښځې په کنړ کې و وژلې." [۷۶]

په سروې کې د ګډون والو اکثریت وویل چې د ناراضیتوب اصلی لامل دولتی فاسد او نا لایقه کار کوونکی دی. د هغوی نیمایی یې ټوپک سالاران او قوماندانان دی، چې له نږدې څخه د طالبانو او نورو وسله والو ډلو له خوا تعقیبیږی. یو په دریېمه ګډون والو په سروې کې د جنایی ډلو یادونه وکړه.

## ۴. د سولې نقشه

زیاترو ګډونوالو د سولې په رابطه ازاد او خصمانه نظر درلود، دا نه یواځې د جګړې او خشونت د نه شتون په مانا بلکه داسې یوه حالت چیرې چې مساوات او عدالت یقینی وی او اسانتیاوو او خدمتونو ته مساوی لاسرسی ممکن وی.

**په پکتیا ولایت کې د شخړو او ځایي شخړو د حل لپاره ستراتیژۍ ګانې:** د ګډون والو د غبرګونونو څخه دا څرګندیده چې هغوی په ولایتی کچه د جګړې شتون د افغانستان د جګړې یوه برخه بولی. نو له همدې کبله په محلی او ولایتی کچو د سولې او امنیت د را وستلو لپاره وړاندیزونه د هغو تدابیرو څرګندویه دی چې هغه باید په ملی او نړیوالو کچو کې ونیول شی او همدارنګه هغه باید په ولایتونو کې پلی شی، لکه د فساد سره مبارزه او یا هم د باندنیو هېوادونو د مداخلې مخنیوی کول. ځینی تربیرونه د پکتیا ولایت خاصو اړتیاوو ته ځواب وایی.

**د اداری فساد سره مبارزه او د احتساب ترویج:** په ولایتی کچه د فساد سره مبارزه او د احتساب ترویج په پکتیا کې د سولې د ترویج لپاره تر ټولو مهم لومړیتوب دی. د ګډونوالو په حواله، فعال او شفاف سیاسی او عدلی سیستمونه کیدای شی په ملی کچه د

[۷۵] د ګردیز او ځدران د ولسوالیو د زده کوونکو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.
[۷۶] د زرمت د قومی مشرانو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.

اتخاذ شويو تدبيرونو له لارې ترلاسه شی، يوه تن زده کوونکی دا تاييد کړه چې محلی پښتنی دود کېدلای شی چې د يوه ارزښت په توګه د احتساب لپاره وکارول شی:

″ موږ پښتانه يو او زموږ پښتون ولي ( د چلند پښتني قانون) له موږ څخه غواړي چې لومړی خپلې نيمګړتياوې سمې کړو او بيا نورو خلکو ته و وايو. ايا موږ په دې نه پوهيږو چې دلته د پښتنو تر منځ تيري کوونکي دي؟ موږ بايد د هغو د ناراواو په هکله خپلو خلکو ته معلومات ورکړو. دا بايد د ټولو قوميتونو لپاره يو عام روش وي، او که چېرې هغوي د خپلو غلطو مشرانو پر ضد ودريږي ، نو بيا به موږ په دې وتوانيږو چې په هېواد کې سوله راولي.″ [۷۷]

ګډونوالو د سولې د موجوده نوښتونو په اړه مالومات نه درلود. د بيلګې په توګه، د ګرديز څخه ښځينه ګډونوال په دې باور دی چې:

″ د سولې په اړه جاري نوښتونه شتون نه لري ″[۷۸]

هغو کسانو چا چې د سولې د نوښتونو په اړه څه نا څه مالومات درلودل، هغو د سولې په اړه منفی نظريی درلودلې.

"په اوس حال کې هيڅوک د سولې او پخلاينې لپاره کار نه کوی. حتی د سولې او بيا يو ځای کيدنی ملی پروګرام هم مهم رول نه دی لوبولی."[۷۹]

د دې سربيره، يو شمير ګډونوالو د سولې د ولايتی کميټې په اړه مالومات نه درلودل او هغو کسانو چې د يادې کميټې په اړه مالومات درلود هغوی د کميټې د موجوده مشرتابه په اړه غير مطمين وو. هغوی په دې باور وو چې په زياتره پوستونو د دولتی چارواکو خپلوان کار کوی او د ظرفيت پر اساس نه دی انتخاب شوی، ځکه نو ياد کسان د نفوذ، مهارتونو او بې طرفۍ څخه برخمن ده دی، نه شی کولای خپل نقش پر مخ بوزی.

که څه هم چې په سروې کې د نيمايې څخه زياتو ګډونوالو ويلی چې دوی د سولې د ولايتی کميټې د فعاليتونو څخه راضی دی، خو لاملونه يې نه دی بيان کړی. هغو يو شمير کسانو چا چې منفی ځوابونه ورکړی، ادعا کوی چې د کميټې غړی "د خپلو ګټو لپاره کار کوی"، او "خپلې موخې يې نه دی ترلاسه کړې" او "اړ دی چې ډير کار وکړی".

د کميټې په مشرتابه نيوکې شويدی. د زرمت د ولسوالۍ څخه يوه تن قومی مشر په متمرکزو ګروپی خبرو اترو کې وويل چې: "د سولې د اوسنۍ عالی شورا/د سولې د ولايتی

[۷۷] د ګرديز او ځدران د ولسواليو د زده کوونکو سره ډله ييز متمرکز بحثونه چې په ګرديز کې داير شوی وو.
[۷۸] د ښځينه ګډونوالو سره متمرکزی ګروپی مباحثی په ګرديز کې ترسره شوی.
[۷۹] د ځکمنيو د ښځو سره په ګرديز کې د متمرکزو ډلو خبرې اترې

کمیټې غړی نفوذ او ملاتړ نه لری. هغی ټول په فساد ککړ دی. "[۸۰] د دې علاوه، د سید کرم د ولسوالی قومی مشرانو په دې ټینګار وکړ چې د یادې کمیټې غړی باید بې پرې وی: "د منځګړیتوب په پروسه کې د منځګړی په حیث یو بې طرفه دریم اړخ موجود وی. د سولې عالی شورا باید د ولت برخه نه وی. طالبان به هیڅ کله د خپل دښمن سره خبرې و نه کړی."[۸۱]

**ښه شوی پرمختګ:** ګډونوالو وویل چې روزګار، پوهنه، کرهڼه او صنعت د سولې لپاره ضروری دی. د سولې، ټیکاو او پرمختیا تر منځ بیلابیلې حلقی باید پیاوړی شی، څو د ژوندانه د معیارونه او اقتصادی فرصتونو د ښه کولو لا لارې ټیکاو ته وده ورکوی، یو سوله ییز چاپیریال د پرمختیا لپاره لاره هواروی.

د سروې ګډونوالو ویلی چې نادولتی سازمانونه او د مدنی ټولنې سازمانونه د بیا رغونې په برخه کې د اصلی فعالینو په حیث کار کوی. محلی شورا ګانې په دوهم درجه کې راځی.

**د افغان امنیتی ځواکونو تقویه:** ګډون والو په پرلپسې توګه و ویل چې په پکتیا کې د سولې د ټینګښت لپاره قوی افغان امنیتی ځواکونو ته اړتیا ده. خلک داسې احساس کوی چې د هغوی په سیمو کې د افغان امنیتی ځواکونو د ځای پرځای کېدو سره امنیت ښه شوی او د امنیت د ښه کولو په برخه کې یې د افغان محلی پولیسو ، په قبیلوی جوړښت کې د هغوی له خوا د سنګر نیولو او د محلی تولنو په اړه د هغوی د ښه درک له امله ستاینه کړې.

د هغوی تقویه باید یواځې د هغوی د غړو د زیاتوالی او ښو تجهیزاتو( چې اکثره وخت یې د ګډون والو له خوا غوښتنه کیږی) په مانا نه وی بلکې همدارنګه هغوی د ښه پوهاوی او احتساب ورکولو میکانیزمونه ولری څو په دې توګه د تیریو قضیې په ټولنو کې د افغان ملی امنیتی ځواکونو لپاره ملاتړ د ګواښ سره مخ نه کړی.

**حساب ورکونکی دولت او انتخاب شوی استازی:** ډیری ګډون والو د دې اړتیا یادونه وکړه چې د پکتیا په ولایت کې باید حکومتداری تقویه شی څو په دې توګه په دغه ولایت کې سوله او امنیت ښه والی ومومی. قوی حکومتداری باید د دې توان ولری چې د خلکو ټولنو ته امنیت او خدمات وړاندې کړی، او د دې لپاره چې په ولایت کې سولې او ټیکاو ته وده ورکړی، باید د فساد او تیریو د قضیو مخنیوی وکړی.

[۸۰] د زرمت د ولسوالی څخه د قومی مشرانو سره په ګردیز کې د متمرکزو ډلو خبرې اترې
[۸۱] د سید کرم د ولسوالی څخه د قومی مشرانو سره په ګردیز کې د متمرکزو ډلو خبرې اترې

" که موږ په هېوا د کې یوه ښه او ځواکمنه حکومتداري رامنځته کړو ، نو بیا به سوله ممکنه وي ځکه چې ټول افغان وګړي د سولې ِ غوښتونکي دي. "[۸۲]

په عدلی سیستم کې د دولتی جوړښتونو او تشکیلاتو تقویه اړینه ده،ځکه چې د هغو بې کفایتی اکثره وخت خلک دې ته اړباسی څو د مرستې لپاره د د دولت ضد عناصرو ته مراجعه وکړی.

انتخاب شوی استازی د ګدون والو تر سختو نیوکو لاندې راغلل. په سروې کې د نیمې څخه زیاتو ګډون والو و ویل چې د هغوی د سیمې څخه انتخاب شوی د ولسی جرګې استازو د سولې، امنیت او بشری حقونو لپاره کار نه دی کړی، په داسې حال کې چې یوې په درېیمې برخې ګډون والو چې په مثبت ډول یې غبرګون درلود د دې لاملونه یې مشخص نه کړل، هغوی چې منفی نظر یې درلود و ویل چې انتخاب شوی وکیلان د "پیسو د تر لاسه کولو "او" خپلو ګټو "لپاره کار کوی، او یا هم داچې" هغوي په سیمه کې نه لیدل کیږي" . دغه ډول غبرګونونه د پخوانیو پوښتنو سره په تړاو کې دی چېرته چې د سروې ګډون والو فساد د جګړې او پر حکومت باندې د بې باورۍ یو له مهمو لاملونو څخه وبللو.

**د سولې د ټینګښت لپاره د خلکو د پوهاوی د کچې لوړول:** په سروې کې یوې درېیمې برخې ګډون والو د پوهاوی د لوړولو د ستر کمپاین وړاندیز وکړ څو په دغه سیمه کې سوله ټینګښت ومومی. ډېرو برخه والو د دینی عالمانو د یوه عامل په توګه یادونه وکړه چې د فعالینو په توګه دهغوی د نفوذ له امله او داچې په ولایت کې ټولو ساحو ته لاس رسی لری هغوی دې په دغه پهیر کې شامل شی. خو د هغوی د نقش باید په مناسبه توګه په هغو ډګرونو کې چېرته چې دینی عالمان کمه پوهه لری لکه د ښځو د حقونو په لړ کې ملاتړ ترسره شی.

**دودیزې نهادونه:** په داسې حال کې د ټولو هغو تدابیرو جې پورته یې وړاندیز وشو باید هغه په ملی کچه ونیول شی، د ګډون والو ٪۲۷ په مرکو کې شورا ګانې او جرګې د هغو موسسو په توګه یادې کړې چې کولای شی په محلی کچه د سولې په وده کې مهم نقش ولوبوی، ځکه چې په هغوکې د تبعیض پرته د ټولو قبیلو استازیتوب تامینیږی.

د دې لپاره چې دغه موسسې د سولې د ودې لپاره ګټورې وی هغوی باید را ژوندۍ شی، د متمرکز بحث په ګروپ کې د یوتن زده کوونکی په وینا:

" د درې لسیزو جګړو د هېواد ټولنیز جوړښت ډیر زیات اغیزمن کړی دی. د نورو تر څنګ محلي شورا ګانې( جرګې) چې د هغو څخ زیاتې یې په ټولنیزو

[۸۲] د نه معرفی شویو ګډون کوونکو سره مصاحبه. د ګردیز څخه یو تن نارینه د ۵۰ – ۸۰ کلونو د عمر په ډله کې.

پریکړو کې ځواکمنې وې اوس یې د پریکړو لپاره خپله ځواکمني او قوت له لاسه ورکړی. محلي شوراګانې نورې نه شي کولای د یوې باقدرته شخص او یا هم یوې وسله والې ډلې په وړاندې ودریږي.″[83]

همدارنګه قبیلوی جوړښتونه باید له سره نوی شی چې په هغو کې شمولیت باوری شی ، ځکه چې اوس مهال په هغو کې د داسې ګروپونو لکه د ښځو او ځوانانو استازیتوب له پامه ایستل شوی.

**د محلي مدرسو جوړول:** ډیرو ګډون والو (د ځمکنیو څخه د ښځو او قومی مشرانو، د زرمت څخه د ښځو په شمول) په ټولو ولسوالیو کې د مدرسو په جوړولو ټینګار درلود، څو په دې توګه ماشومان د دې څخه منع کړی چې پاکستان ته په مدرسو کې د شمولیت لپاره ولاړ شی، چېرته چې هغوی " تلقین" ، او حتی د ځانمرګو بریدونو لپاره چمتو کیږی. د دینی عالمانو د هغه نفوذ په پام کې نیولو سره چې پر محلی وګړو یې لری ، د دې موضوع اهمیت باید چې له پامه ونه غورځول شی، د محلی مدرسو جوړول په سیمه کې کولای شی همدارنګه یو داسې فرصت وی چې د ښځو د حقونو په اړه د دینی عالمانو د پوهاوی کچه لوړه شی.

**د دولت ضد عناصرو سره خبری اتری:** ګډونوالو د سولې د ترویج لپاره د دولت ضد عناصرو سره د خبرو اترو په دوام ټینګار وکړ او د دولت ضد عناصرو څخه یې د سولې د ټینګښت لپاره د یوې وسیلې په توګه یادونه وکړه. ځینو ګډون کونکو د دولت ضد عناصرو د نظریو څخه دفاع وکړه او ټینګار یې کاوه چې باید د دوی باید په پام کې ونیولې شی

د زرمت څخه قومی مشرانو وویل:

″ طالبان هم د دې هېواد دي، د هغوي غوښتنې باید واوریدلې شي.″

د زرمت او احمد اباد څخه ښځو و ویل چې " حکومت باید تلاش وکړي څو د قطر دفتر پرانیستل شي او د طالبانو سره مزاکرات دوام وکړي."[84]

د زرمت او احمد اباد د ولسوالیو ښځې، وویل چې: "دوولت باید د طالبانو سره خبرو ته دوام ورکړی."

---

[83] د ګردیز او ځدران د ولسوالیو د زده کوونکو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.
[84] د زرمت او احمد آباد د ولسوالیو د ښځو سره په ګردیز کې ډله ییز متمرکز بحثونه.

په هرحال ، ګډون والو و ویل چې د دولت ضد عناصرو سره مزاکرات او په حکومت کې د هغوی شاملول باید هغه پرمختګونه چې د ښځو د حقونو او تعلیم په برخه کې تر لاسه شوی د خطر سره مخ نه کړی.

**انتقالي عدالت:** د انتقالی عدالت د پروسې په اړه هم وړاندیزونه وشول. یو تن ګډون وال د دغې احتمالی پروسې په اړه داسې وویل:

> " د ښې حکومتولۍلپاره انتقالي عدالت اړین دی، ځکه چې په دغه پروسه کې به جنګ سالاران او مجرمین عدالت ته راکښ شي. انتقالي عدالت باید د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې ترسره شي. موږ د نړیوالې ټولنې څخه غواړو چې راتلونکې ټاکنې وڅاري او د با ثباته او ٌقوي حکومت ملاتړ وکړي."

د زرمت او احمد آباد ولسوالیو څخه ښځو همدارنګه د ي اړتیا ته اشاره درلودله چې " د انتقالي عدالت داسې پروسه دې پیل شي چې په کې جنګ سالاران " او " هغه مجرمین چې په دولت کې کار کوي مجازات شي." [85]

انتقالی عدالت کولای شی پر حکومت باندې د خلکو د باور د زیاتوالی سره مرسته وکړی، لکه چې ډیری ګډون والو په دولت کې مفسدو عناصرو او هغو کسانو چې د بشری حقونو څخه یې زیاته سرغړونه درلودلې ده د شتون یادونه کوله چې دا پخپله په افغانستان او بیا په پکتیا کې د جګړې د تودوالی عوامل دی.

**د بهرنیو مداخلو مخنیوی:** که څه هم داهغه تدبیر نه دی چې په محلی کچه ونیول شی ، ډیری ګډون وال په دې باور و چې بهرنۍ مداخلې (که هغه د ګاونډیانو له خوا دی او یا هم د هغو هېوادونو له اړخه ده چې په افغانستان کې نظامی حضور لری) ته دپای ټکی ایښودلو سره به پکتیا کې د سولې ټینګښت ته لاره هواره شی.

**د ښځو د ګډون زیاتول:** ښځینه ګډونکونکو وویل چې د سولې په پروسه کې باید د ښځو ګډون تقویه شی، ځکه چې ښځې دسولې ښې مدافعانې دی.

> لکه چې د ګردیز څخه ښځو وویل، " دلته ډیر خلک د سولې لپاره کار کوي ، خو د هغوي څوک نه اوري. په تیره بیا ښځې ، ځکه چې خلک نه غواړي د ښځو غږ واوري."[86]

**د ځمکو د شخړو هوارول:** د ځمکنیو څخه قومی مشرانو وویل چې دا مهمه ده چې د ځمکو شخړې حل شی څو په پکتیا کې سوله راشی.[87] د هغوی له نظره حکومت باید

[85] د زرمت او احمد آباد د ولسوالیو د ښځو سره په ګردیز کې ډله ییز متمرکز بحثونه.
[86] د ښځینه ګډون کوونکو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې جوړ شوی وو.

مداخله وکړی د قبیلو سره په مشوره کې ټولې ځمکې په سمه توګه وویشی او د ځمکې پر سر د قومونو تر منځ شخړو ته د پای ټکی کښیږدی. دغه ډول هڅه باید په ځنګلی ځمکو کې وشی. د زراعتی ځمکو پرته چې هغه په ډیره واضحه توګه د قبیلو او کلیو تر منځ ویشلې شوی دی، د ځنګلونو سرچینو ته لاس رسی تنظیم شوی نه دی، او هغه د قبیلو ترمنځ د تاوتریخوالی لامل کیږی.

**د بشری حقونو اصول او کلیدی اندیښنې څنګه او په سمه توګه د سولې جوړونی په نوښتونو کې منعکس شوی دی:** ډیری ګډون والو د دې مفکورې ملاتړ درلود چې د بشری حقونو باوری کول او د معافیت پای ته رسول به د دې سره مرسته وکړی څو پکتیا او افغانستان ته سوله راشی، په داسې حال کې چې ځینې د دې سره موافق نه وو. هغوی چې موافق ول دهغو څخه یو تن چې له ګډون والو څخه وو و ویل چې دلیل یې په لاندې ډول دی:

> " د اد افغانستان د خلکو غوښتنه ده: څو بشري حقونه پلي او فساد پای وومومي. "[88]

یوتن ګډون وال په مرکه کې وویل:

> " کله چې خلک بشري حقونو ته لاس رسی ولري، نو بیا جنګ کمیږي. او که چېرې خلک بشري حقونو ته لاس رسی ونه لري نو بیا ورسره جګړه هم زیاتیږي ".

د هغو کسانو تر منځ چې د دې سره یې توافق نه درلود، یو تن دغه شان ګډون وال وویل چې د دې لامل دا دی چې " بشري حقونه د شریعت مخالف دي"، په داسې حال کې چې بل یوه یې و ویل چې " افغانستان د دې لپاره ډیره محافظه کاره ټولنه ده".

د ګډون والو تر منځ د عمومی نظر په پام کې نیولو سره چې د بشری حقونه څخه برخمن کیدل یو عامل دی چې کولای شی په افغانستان کې د سولې سره مرسته وکړی لپاره چې کولای شی، مهمه ده چې دا په پکتیا کې د سولې په ځایې طرح کې ځای کړو.

**په افغانستان کې د سولې لپاره ګټور فعالین:** ډیری ګډون والو دا ومنله چې هغه فعالین چې د جګړې لامل کیږی همغه کسان دی چې هغوی د سولې د راوستلو په لار کې ګټور دی. هغوی د دې فعالینو په اړه انتقادی نظریات درلودل، خو بیا وروسته یې پرلپسې په دې تاکید درلود چې هغوی دسولې لپاره هم ګټور دی. د بې کفایتۍ او فساد د تورونو

---

[87] د څمکنیو د ولسوالی د قومی مشرانو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې جوړ شوی وو.

[88] په مصاحبو کې نه معرفی شوی ګډون کوونکی: یو تـن نارینـه د لجـه احمـد خیـل د ولسـوالی څخـه د ۲۰- ۵۰ کلونو د عمر په ډله کې.

لګولو سره سره د افغانستان حکومت لا هم د ډیری ګډون والو له خوا په افغانستان کې د سولې د راوستلو لپاره مفید وګڼل شو.[89] که څه هم هغوی د ګاونډی هېوادونو ناوړه مداخله د هېواد د ټیکاو د له منځه وړلو لپاره وغندل شوه ( که چېرې هغه ګډون وال چاچې د ج او ه برخې انتخاب کړی دی) خو هغوی بیا هم ګاونډیان په افغانستان کې د سولې لپاره مفید وبلل. طالبان او مخالفې وسله والې ډلې د نیمایی څخه د لږو ګډون والو له خوا د سولې د موخې لپاره ګټور فعالین وبلل شول. یو له څلورو فعالینو څخه همدارنګه نړیوال نظامی ځواکونه په افغانستان کې د سولې لپاره ګټور وګڼل.

نور فعالین چې د بحثونو پر مهال یې یادونه وشوه هغه دینی عالمان ، قومی مشران او مدنی ټولنې وې.

یوه له هغو ډلو څخه چې په پرلپسې توګه یې د دې یادونه شوې چې د سولې لپاره د کار کولو زیات امکانات لری هغه مذهبی مشران او عالمان دی. یو تن زده کوونکی لاندنی دلایل وړاندې کړل:

″ ملایان کولای شي چې د سولې په اړوند د خلکو د پوهاوي د لوړوالي لپاره د ممبر څخه استفاده وکړي. هغوي کولای شي چې د خپل نفوذ څخه په استفادې سره د وسله والو ډلو مخه ونیسي څو د دوي ټولنو ته داخل شي. هغوي همدارنګه کولای شي چې د وسله والو ډلو سره خبرې وکړي او هغوي د سولې کولو لپاره وهڅوي.″[90]

که څه هم د سولې په بهیر کې د ملایانو ګډون اندیښنې راولاړوی:

″د ملایانو سره ستونزه داده چې هغوي د اوسنیو نړیوالو تحولاتو سره آشنا نه دي. په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو او د هغوي د اړتیاوو په لړ کې د هغوي پوهاوی او تفسیر ډیر ټیټ او ستونزمن دی. بله ستونزه د ملایانو سره داده چې هغوي د محلي زورواکونو او وسله والو مخالفینو تر اغیز لاندې دي.″ [91]

یو تن عالم دې ته اشاره درلودله چې په عام محضر کې د هغوی راوتل او د وسله والو فعالینو په وړاندې د دوی زیانمنتیا دوی د دې ګواښ سره مخ کوی چې د سولې د ودې لپاره خپل ظرفیت په کار واچوی:

[89] فیصدی ۶۸ سلنه ده، که چیری مونږ هغه ګډون کوونکی ور اضافه کړو په خاص ډول افغان حکومت یی انتخاب کړی( د الف ګزینه) او د ه ګزینه ("ټولې پورتنی ګزینی")

[90] د ګردیز او ځدران زده کوونکو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.

[91] د ګردیز او ځدران زده کوونکو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.

" علماء نه شي کولای چې په جوماتونو کې د سولې لپاره تبلیغ وکړي ، ځکه چې موږ د طالبانو او یا هم د حکومت پر خلاف څه ووایو موږ تر برید لاندې راځو او یا هم د ناوړه پایلو سره مخ کیږو. موږ په منځ کې را ښکیل یو." [92] په شخړو کې او د ځایې شخړو د حل کولو په چارو کې د محلي منځګړو ښکیلتیا

قبیلوی مشران په پکتیا کې د منځګړو په توګه ډیر پیاوړی نقش لری. د هغوی بې پرېتوب او نفوذ د دغه نقش لپاره ډیره مهمه پانګه ده ، خو د ښځو د حقونو څخه د هغوی د پوهاوی نشتوالی اکثره مهال د هغوی لپاره یوه کمزوری بلله شی څو د سولې د ودې په لا ر کې خپل مهم نقش تر سره کړی. د څمکنیو څخه دیو تن مشر په وینا بله کمزوری داده چې هغوی اجراییوی صلاحیت نه لری او هغوی د دې لپاره هم سرچینې نه لری څو پخپلو سیمو کې سفرونه وکړی او د خپلو کورونو څخه لېرې پاتې شی. د مثبت اړخ په توګه هغوی وویل چې د دوی نقش د پښتنی دودونو سره په ټینګ تړاو کې دی : " خلک فکر کوي چې د ا د کارونو د ترسره کولو لپاره سمه لار ده" او " د هغوي په بې طرفۍ باورمند دي. " [93]

## ۵. د خلکو وړاندیزونه

د پکتیا د خلکو د خبرو اترو د پروسې په جریان کې، په ولایت کې د پایدارې او عادلانه سولې د راړوستلو په هدف د لاندې عمومي سپارښتنو وړاندیز وشو. (۱)د افغان سولې او پخلاینې د پروګرام اصلاح څو د پروګرام د شمولیت د مسلې څخه ډاډ حاصل شی او د ښځو او مدنې ټولنې د سازمانونو غړونه اچت کړی؛ (۲) د سولې د پروسې د بې طرفی څخه ډاډ حاصل شی، د قدرت دلالانو، جګړه مارو او نورو تخریب کونکو له خوا د سیاسی مداخلتونو مخه ونیوله شی؛ (۳) د فساد ، " بې عدالتۍ"او دخلکو پر ضد د تیریو او زیاتیو ( د بشری حقونو څخه د سرغړونو په شمول) مبارزه باید لومړیتوب ولری څو چې سولې ته ورسیږو؛ (۴) د پرمختیا لپاره په هڅو کې، په تیره بیا د پوهنې په برخه کې باید چې ښځې، ځوانان، بیل بیل قومیتونه وغیره ګډون ولری؛ (۵) د حکومت او افغان امنیتی ځواکونو تقویه کې باید په ښه توګه دظرفیت جوړونې، د احتساب میکانیزمونه چې په کې د بشری حقونو څخه د سرغړونو او د سرغړونو د تلافۍ په شمول موارد شامل وی ولری. هغه سرغړونې چې د دولت ضد عناصرو سره د جګړې پر مهال شوی دی باید د رټو ځیړنو په ترڅ کې ورته رسیدګی وشی، څو په دې توګه د افغان امنیتی ځواکونو په وړاندې ناخوښی زیاته نه شی؛ (۶) که چېرې قبیله/دودیزې موسسې لکه شورا ګانې او جرګې بیرته را ژوندۍ او تقویه شی، هغه باید په افغانستان کې د ټولو ټولنیزو ګروپونو د شمولیت

[92] د څمکنی د قومی مشرانو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.

[93] د څمکنیو د قومی مشرانو سره ډله ییز متمرکز بحثونه چې په ګردیز کې دایر شوی وو.

لپاره نوې شی او د ښځو د بشری حقونو په لړ کې د ځینو قومی مشرانو د تعصب او مخالفت مخنیوی وشی؛ (۷) که چېرې د دولت ضد عناصرو سره مزاکرې/ ډیالوګ رامنځته شی ، نو د دې لپاره باید د احتساب او خسارې د جبران شفافه میکاینزمونه جوړ او یا هم تقویه شی څو د محلی خلکو تر منځ ناراضیتوب او د دولت ضد عناصرو څخه ملاتړ له منځه ولاړشی؛ (۸) د ځمکې شخړې باید د هغو میکاینزمونو له لارې حل شی چې په هغو کې ټول قومونه د برابرۍ له مخې خپل غږ ولری او حکومت باید د سیاسی ملحوظاتو له مخې د ځینو مشخصو قبیلو سره تبعیض ونه لری؛ (۹)د پراختیا لپاره، او په ځانګړې توګه د تعلیم په برخه کې باید هڅې تر سره شی، او تعلیمی پروسه باید ښځې، ځوانان او مختلفې قومی تر پوښښ لاندې ونیسی؛ (۱۰) د تاوتریخجنې تندلارې مسلې ته باید رسیدګی وشی، محلی مدرسې دې جوړې شی او د دینی عالمانو د زده کړو په لړ کې باید د بشری حقونو تدریس شامل شی څو په راتلونکې وخت کې د رادیکالیزم په مقابل کې د زغم لپاره د هغوی نقش اغیزمن وی.

# د خوست ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پېژندنه

د سولې لپاره ولایتی طرحه د هغو کلیدی موندنو خلاصه وړاندې کوی چې د خوست د خلکو د سلا مشورو په ترڅ کې مطرح شوې وې. په خوست کې ۸۴ کسانو په نهو متمرکزو ګروپی مباحثو، او ۲۰ سروی ګانو کې برخه اخیستې وه.

دغه سلامشورې د سولې لپاره د افغانانو د ډیالوګ د پروګرام د دویم پړاو چې د مدنی ټولنو د ۱۱ شبکو له خوا په لاره اچول شوی و، ترسره شوې، چې په دغو شبکو کې د افغانستان دبشری حقونو خپلواک کمیسیون هم ګډون درلود، چې د افغانستان په کچه له ۴۵۰۰ هیوادوالو سره سلا مشورې وکړی، څو د هغو خبرو اترو له مخې د ۳۴ ولایتونو لپاره د سولې ځایی طرحې برابرې کړی - د هر ولایت لپاره یوه طرحه.

د مدنی ټولنې هغو سازمانونو چې د یوناما د بشری حقونو د څانګې په ملاتړ په خوست کې له خلکو سره سلامشورې کولې، هڅې وکړې چې د دغو سلامشورو په ترسره کولو کې د هر ټولشموله اصل خوندی کړی. د دې په پایله کې ښځینه ګډونوالې ۴۵ سلنې ته ورسیدلې او د ولایت د مرکز څخه بهر په پراخه پیمانه خلکو په کې برخې واخیستې. د ګډونوالو ۲۷ سلنه د خوست له ښار څخه وه او ۶۳ نور یې له نورو ولسوالیو څخه راغلی وو.

## ۲. ولایتی پروفایل: جغرافیه، ډیموګرافی، او سیاسی وضعیت

خوست ولایت د افغانستان په سهیل ختیځ کې موقعیت لری، او د سمندر له سطحې څخه ۱۱۸۵ متره لوړوالی لری، د خوست ولایت د ځمکې مساحت ۴۰۲۹ کیلو متر مربع دی، چې ۵۹ سلنه یې غرنیزې یا نیمه غرنیزې سیمې دی او پاتې ۴۱ سلنه یې هوارې یا نیمه هوارې سیمې دی. د ولایت مرکز د خوست ښار دی. خوست ولایت د پکتیا او پکتیکا ولایتونو سره او همدارنګه د پاکستان د شمالی وزیرستان د قبایلی سیمو او کرم ایجنسی سره پوله لری کومې چې د پاکستان د یاغیتوب مرکز دی او د فدرالی دولت له خوا اداره کېږی چې د فاټا په نوم پیژندلې شی.

د خوست ولایت نفوس اټکل یو میلون وګړی دی. د نورو سهیل ختیځو ولایتونو په پرتله، خوست نسبتاً یوه سوکاله ولایت دی، چې د دې سوکالی یو لامل هم د پاکستان سره مستقیمه ترانزیتی لاره ده، بل لامل یې حاصلخیزې ځمکې او بل یې هغه پیسې دی چې بهر میشت خوستیان چې په بهرنیو ملکونو کې کار کوی دغه ولایت ته استوی. کرهنه د شاوخوا نیمایی نفوس د عوائدو اصلی سرچینه ده. زیاتره ګروندګر یې هغه کسان دې چې د ځمکو کوچنۍ ټوټې لری چې د خپلو کورنیو د ژوند چلولو لپاره په کرهنه بوخت دی.

د هغه لږ شمیر کسانو پرته چې په خوست کې ژوند کوی، د دغه ولایت نفوس عمدتاً سنی مذهبه پښتانه دی. دغه ولات همدارنګه یو شمېر کوچیان لری چې شمیر یې د

موسمی کوچیدنې په تناسب کمېږی او زیاتېږی. په خوست کې قبیله تر ټولو ستر سیاسی واحد ګڼل کېږی. خلک د پښتونولۍ د عرفی قانون په رڼا کې خپلې چارې پر مخ بیایی. د خوست د ښار د سیمې پرته د خوست په ولایت کې د سیاسی ګوندونو او مدنی ټولنو نفوذ نسبتاً کمزوری دی.

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه او انګیزې

**د شخړې عمده ډولونه او لاملونه:** په خوست ولایت کې ګډونوالو د شخړې لاندنی عمده ډاینامیکونه په ګوته کړی وو: د افغان دولت او وسله والو ډلو تر منځ وسله واله شخړه، د وسله والو ډلو تر منځ جګړه او دقومونو تر منځ نښتې. په دې زمینه کې د شخړې ستر عاملان په ګوته شوی او په دوو اړخونو ویشل شوی وو: د افغانستان دولت او د افغان ملی امنیتی ځواکونه چې ملاتړ یې د نړیوالو وسله والو ځواکونو له خوا کېږی، یو اړخ، او د دولت ضد عناصر لکه طالبانو، حقانی شبکه، القاعده او حزب اسلامی، بل اړخ.

د یاغی ډلو تر منځ جګړه ته د ډېرو ګډونوالو له طرفه اشاره وشوه چې په خوست کې د تاوتریخوالی پاروونکې ده. د دوی ارزونه دا وه چې یوازې د مشترکو ګټو د لاس ته راوړلو په خاطر یو له بل سره یو ځای کېږی چې عبارت له دولت سره مخالفت او هغه ته ماتې ورکول دی، چې دا کار بې ثباتی ته لمن وهی. خو بیا هم د دولت ضد عناصر چېرته چې د واک او د اقتصادی ګټې په تر لاسه کولو کې د دوی له ګټو سره په ټکر کې وی، له یو بل سره د جګړې په کولو کې زړه نا زړه نه کېږی. په عین حال کې، په خوست کې قومونه چې تر ټولو مهم ټولنیز جوړښتونه بلل کېږی، په جګړه کې ډېر مهم رول لوبوی، او د اوبو پر سرچینو، پر ځمکې او د ځنګلونو پر سرچینو د قومونو تر منځ اختلافونه تل تاوتریخوالی پاروی، او ویل کېږی چې د دولت ضد عناصرو، او دولتی چارواکو له خوا د خپلو ګټو د خوندی کولو په خاطر ترې کار اخیستل کېږی.

د افغانستان په جګړه کې بهرنی نفوذ او په تېره بیا د پاکستان هغه د ګډونوالو په نظر یوه دوامداره اندیښنه وه، او ویل به یې چې افغانان د بهرنیو لوبغاړو ترمنځ د سیالیو قربانیان دی. د ګډونوالو له خوا پاکستان ته د افغانستان په وسله واله شخړه کې د یوه لوبغاړی په ډول کتل کېده چې ګومان کېږی د افغانستان د ثبات د له منځه وړلو په موخه د یاغی ډلو ملاتړ کوی.

**په خوست ولایت کې له ۲۰۰۱ کال را پدې خوا تر سره شوې لاسته راوړنې:** زیاترو ګډونوالو په یوه غږ پر دې موافق و چې افغانستان د وروستی لسیزې په جریان کې ځینې پرمختګونه کړی دی: ښوونه او روزنه، د سړکونو جوړول، او نورې زیربناوې، پراختیا او د ډیموکراټیکو بنسټونو رامنځته کول، ځینې نورې ساحې چې افغانستان په کې پرمختګ کړی دی، د ګډونوالو په وینا عبارت دی له روغتیا، افغان ملی امنیتی ځواکونه، د بیان

آزادی، امنیت او نړیوالې اړیکې. نږدې نیمایی ګډونوالو وویل چې په خوست کې پراختیا تر سترګو کېږی، په داسې حال کې چې د نورو اړخونو په اړه لکه روغتیا، ډیموکراتیک بنسټونه، مدنی ټولنه او امنیتی وضع په اړه د نظر اختلاف موجود وو.

خو بیا هم دغه لاسته راوړنې باید په احتیاط سره وارزولې شی، که څه هم چې ګډونوالو باور درلود چې د افغانستان پوهنیز سیستم له شک پرته له لسو کلونو راهیسې ډیر ښه شوی دی، خو بیا هم د تعلیم نشتوالی یا "جهل" او بې سوادی یو له هغو سترو عواملو څخه دی چې په محلی او ملی کچو د افغانستان د شخړې لامل کېږی.

د ډیموکراتیکو نهادونو په اړه، د ګډونوالو نظر دا و چې دا یوه ستر پر مختګ دی. که څه هم د دغو بنسټونو له کړنو څخه ناخوښی څرګنده کړه او له دولته ډیر زیات انتقاد درلود چې فاسد دی او د اعتماد وړ نه دی، او دا چې دولتی خلک زیاتره هڅه دا ده چې خپلې شخصی ګټې تامین کړی په ځای د دې چې خلکو ته خدمتونه وړاندې کړی.

**په خوست کې د امنیتی وضع په اړه انګېرنې:** زیاترو ګډونوالو منلی چې په خوست کې امنیتی ستونزې شتون لری. د سروی پایلو وښوده چې د ګډونوالو یو پر درییم په دې باور وو چې خوست د وروستیو تاریخی دورو په جریان کې له امنیت څخه بې برخې و. دا هم د یادولو وړ ده چې د ګډونوالو نیمایی په دې نظر وو چې په وروستی تاریخ کې یوازینې دوره چې خوست په کې تر ټولو وختونو زیات امن پاتې شوی و، د طالبانو دوره وه. خلک زیاتره په دې باور دی چې د طالبانو دوره هغه دوره وه چې په کې بشری حقونه (په ځانګړی ډول، د ښځو حقونه، د خوځښت او د بیان ازادی) محدودې شوې وې، خو د اوسنی دورې په پرتله ډیر کم وسله والې شخړې او امنیتی پېښې رامنځ ته کېدلې (لکه ځای پر ځای شوی چاودېدونکی توکې، ځمکنۍ ننښتې او داسې نور).

بر عکس، ګڼ شمېر ګډونوالو د سلامشورو په وخت کې د اوسنی امنیتې وضعې په اړه خوشبینانه نظرونه څرګند کړل:

"دلته په خوست کې د تېرو څو کلونو په پرتله امنیتي وضعه مخ په ښه کېدو ده او تاوتریخوالی او شخړې مخ په کمېدو دي"[٩٤]

"وسله واله شخړه ورځ په ورځ په زیاتېدو ده، که چېرې موږ د هیواد په کچه خبرې وکړو. خو که د خوست په اړه خبرې وکړو، په وروستیو کلونو کې امنیت ورځ تر بله ښه کېږي."[٩٥]

[٩٤] په خوست ښار کې له ښځینو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپې مباحثې

[٩٥] په یوې انفرادی مرکه کې ناپیژاند ګډونوال: نارینه، د منډوزی د ولسوالی څخه، سیاسی شنونکی او د ۵۵ کلونو عمر خاوند.

نو په دې اساس، ویلای شو، چې د خوست د امنیتی وضعیت په اړه انګېرنې ښایي د یو بل سره ډېر زیات تفاوت ولري. او د دې سبب ښایي دا وي چې تاوتریخوالی مختلفو ټولنیزو ډلو باندې اغیز کوي او په ځانګړې توګه د خوست ولایت بېلابېلې سیمې او ولسوالۍ په مختلف ډولونه اغیزمن کوي. په داسې حال کې چې ځینې ولسوالۍ نسبتاً ارامې دي، نور یې په دوامداره توګه د امنیتي پېښو او د ملکي تلفاتو له ستونزو سره مخ دي.

د ټولو ګډونوالو له خوا په مساویانه ډول نظر څرګند شو چې د سولې د راوستلو لپاره په دغه ولایت کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو رول خورا مهم دی، خو افغان سیمه ییز پولیس په دغه ولایت کې نه دي ځای پر ځای شوي، ګډونوالو په دې اړه کوم نظر څرګند نه کړ.

**د شخړې لاملونه:** د ګډونوالو د جنسیت، عمر او اصل په تنوع سره بېره (چې په د خوست د ځوانو ښځینه زده کوونکو، نه نیولی د خوست لرې پراته ولسوالیو د دیني مشرانو پورې په کې برخه اخیستې وه)، د خلکو ډیالوګ دا جوته کړه چې په افغانستان او خوست کې په ځانګړي ډول د جګړې د لاملونو په اړه یوه ګډه انګیرنه موجوده ده چې د هغې په اساس لاندې شیان د جنګ لاملونه بلل شوي دي: فساد، بې عدالتي، د حسابورکونې نشتون، فقر او بې کاري، د ښوونې او روزنې نشتون، د قومونو تر منځ تشنج، او د ځمکې پر سر شخړې؛ د افغان دولت کمزوري، او د ګاونډیو هېوادونو لاسوهنې.

د سروې په پوښتنو کې د ګاونډي هېوادونو له خوا ادعا شوې لاسوهنې د شخړې د نورو لاملونو په پرتله یوه اندازه زیاتې نمرې تر لاسه کړې وې. د خوست موقعیت هم ښایي د شخړو د لاملونو څخه یو وي، چېرته چې د دغه ولایت له ۱۴ ولسوالیو څخه نیمايي هغه یې له پاکستان سره ګډه پوله لري، او د خوست پلازمینه د پاکستان د پولې څخه د ۳۰ کیلومترو په واټن کې پروت ده. د امنیت د برابرولو په برخه کې د افغان دولت د پاتې راتلو سربېره اداري فساد او بې عدالتي په ترتیب سره په پایلو کې یاد شوي.

همدارنګه په سروې کې زیاتره ګډونوال ګاوندي هیوادونه د افغانستان د کړکیچ د دوام لامل بولي. زیاتره ورکړل شوي ځواب هغه ده چې طالبان او نور وسله وال ګروپونه د شخړې د دوام لامل دي. دغه ځواب نړدې د ځواب ورکوونکو د یو پر دریېیم ګډونوالو له خوا وړاندې شوي دي. د دې بر عکس، ډیرو کمو ګډونوالو دې ته اشاره کړې ده چې افغان دولت او نړیوال پوځي ځواکونه د جنګ د دوام سبب دي.

د ګډونوالو په وینا د شخړو د دوام یو لامل دا دی چې په شخړه کې ښکیلې خواوې د شخړې د ختمولو په اړه هیڅ ډول لیوالتیا نه لري.

"له شخړې سره تړلې ډلې نه سولې لپاره کوم پلان، او نه هم د سولې په اړه کومه ليوالتيا لري "[٩٦]

**فساد:** ګډونوالو په ولايت کې فساد او بې عدالتی د شخړې د دوام له مهمو سرچينو څخه وباله. فساد پر دولت د خلکو د اعتماد کچه راکموی.

"په دولت کې فساد د شخړو د لاملونو څخه حسابيږي، او خلک پر دولت خپل اعتماد له لاسه ورکړی."[٩٧]

فساد ته په پراخه پيمانه د يوه داسې لامل په سترګه کتل کيږی، چې خلک يې دې ته اړ ايستلی څو ياغيتوب ته مخه کړی. پر دې سربيره په عدلی او قضائی سيستم کې په پراخه کچه فساد، او په اداره کې خپلوی پالنه خلک خواشينی کوی او ياغيان له دې وضعيت څخه ګټه پورته کوی.

**د دولتی نهادونو کمزوری او د حساب ورکونې نشتون:** ګڼ شمير ګډونوالو ادعا کړې چې د دولت کمزورتيا، او د قانون په پلې کولو کې د دولت پاتې راتلل د جنګ ستر لامل دی، چې په پايله کې يې زياتره خلک پر دولتی نهادونو بې باوره کيږی. چې دا کار په خلکو کې د دولت ضد عناصرو ته د ملاتړ زمينه برابروی.

د يو دينی عالم په وينا:

"د هغو کسانو لپاره د احتساب نشتون چې بشري حقونه يې تر پښو لاندې کړې او زيات بې ګناه خلک يې وژلې په افغانستان کې د شخړې د دوام يا تشديد يو فاکتور دی."[٩٨]

**بې وزلي او بې روزګاری:** ډيری ګډونوال په دې باور دی چې بې وزلی او بې روزګاری په خوست کې د جګړې له لاملونو څخه دی. لکه چې پورته يې يادونه وشوه، د اقتصادی فرصتونو نشتوالی ځوانان دې ته اړ باسی چې د اقتصادی عوايدو د باوری کولو لپاره د ياغيانو سره يوځای شی.

**بهرنۍ مداخله:** ټولو ګډونوالو د پاکستان او د هغه هيواد د خوست د اوربدې پولې په اوږدو کې د پاکستان د نفوذ يادونه وکړه او ويې ويل چې دا واقعيت د خوست په ولايت کې د شخړو د دوام له مهمو لاملونو څخه دی. ډيری ګډونوالو پاکستان په دې تورن کړ

[٩٦] په خوست ښار کې له دينی مشرانو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې.
[٩٧] په يوې انفرادی مرکه کې ناپيژاند ګډونوال: د لکن له ولسوالۍ څخه يو نارينه، ډاکټر، ٣٥ کلن.
[٩٨] په خوست ښار کې له دينی مشرانو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې

چې یاغیانو ته خوندی پناه ځایونه برابروي. ځینو ګډونوالو دا هم وویل چې له پاکستان سره بې کنټروله سرحد د تاوتریخوالي د پارولو سبب دی.

"زموږ په ولایت کې د شخړې یوازینې لامل دا دی چې زموږ ولایت له پاکستان سره اوږده پوله لري او د یاغیانو لپاره ډېره اسانه ده چې له پولې واوړي او د دولت پر ضد خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي."[99]

**د قومونو ترمنځ او د ځمکې پر سر شخړې:** زیاتره ګډونوال په خوست کې د قومونو تر منځ کړکېچونه د شخړې د یوې سرچینې په ډول یاد کړي. خوست یوه قوي قومي ځانګړنه لري او د سیاسي استازیتوب لپاره د قومونو ترمنځ سیالي، په دولتي ادارو کې د عامه پوستونو د ترلاسه کولو او سرچینو ته د لاسرسي پر سر سیالي (په ځانګړي ډول د اوبو، کرنیزو ځمکو او ځنګلونو پر سر سیالي) د شخړو د رامنځ ته کېدو سبب ګرځي. د قومونو تر منځ اوسنۍ اړیکې د ګډونوالو په آند، د" نه اتفاق" او یو بل سره د مقابلې اړیکې دي. دولتي چارواکې او دولت ضد عناصر د ادعا سره سم، په شخړه کې د یو قوم ملاتړ کوي څو خپلې ګټې خوندي کړي او په دې وسیله شخړې تشدید کړي. د خوست د ښار څخه یوې ښځینه ګډونوالې وویل:

"د قومونو تر منځ د ځمکو پر سر د شخړو مسایل د قومونو تر منځ د شخړو یو مهم لامل دی. د دې په خاطر چې د شخړې یو طرف پر بل برلاسي شي نو د وسلو په شمول د دولت ضد عناصرو څخه د ځینو سامان آلاتو د ترلاسه کولو لپاره کوښښ کوي. په ورته ډول، بل طرف هم کوښښ کوي چې د دولت څخه ملاتړ تر لاسه کړي، کوښښ کوي دولت ته ډاډ ورکړي چې دوی د دولت ملاتړي دي. ځکه نو د ځمکو پر سر شخړې د موجوده شخړې سره مستقیمه اړیکه لري." [100]

**د ښوونې او روزنې نشتون:** زیاترو ګډونوالو په ګوته کړې چې د بې سوادی او ناپوهی په شمول د رسمي معارف نشتون په خوست کې د شخړې د تشدید د مهمو لاملونو څخه دی. که څه هم چې په تېره لسیزه کې په هېواد کې معارف ته د یوه مهم پرمختګ په حیث کتل شوی، د افغان ټولنې د پام وړ یوه برخه، په خاص ډول په لرې پرتو سیمو کې ډېری افغانان له معارف څخه بې برخې دی کوم چې کولای شی دوی ته اقتصادی فرصتونه رامنځ ته کړی او ځوانان د تندلاری څخه راوکرځوی.

[99] په خوست ښار کې له ښځو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپي مباحثې
[100] په خوست ښار کې له ښځو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپي مباحثې

سربېره پر دې، زیاترو ګډونوالو دا مشخصه کړې چې د رسمی زده کړو نشتون د دولت ضد عناصرو لپاره دا کار اسانه کوی څو ځوانان په خپلو لیکو کې استخدام کړی، او همدارنګه یې د دولت ضد عناصرو لپاره اسانه کوی څو هغه ځوانان چې د لیک لوست له نعمت څخه بې برخې دی تندلاری ته وهڅوی او په دې سره اقتصادی فرصتونو ته لاسرسی محدود کړی.[۱۰۱]

**تبعیض:** د عامه سرچینو د ویش په برخه کې نابرابری د ګډونوالو له نظره د شخړې د مهمو سرچینو څخه یوه ده: "هغه څوک چې د دولت څخه هېڅ ډول ګټې یا ملاتړ نه تر لاسه کوي، هرومرو د شخړې یو طرف ګرځي." [۱۰۲]

**نور لاملونه:** د پورته یادو شویو لاملونو پرته، د سروی ګډونوالو همدارنګه په خوست کې د شخړې نور لاملونه، د بېلګې په توګه ضرر لرونکې دودیز فعالیتونه، د احتساب نشتون، د سولې لپاره د نوښتونو نشتون هم په ګوته کړې.

**د نارضایتی سرچینې:** زیاترو ګډونوالو ویلې چې طالبان او نورې وسله والې مخالفې ډلې د نارضایتی اصلی سرچینې دی. نږدې نیمایی ګډونوالو نورو جنایی عناصرو ته د نارضایتی د سرچینې په حیث کتلې، په دې پسې اداری فساد، او د چارواکو په منځ کې د وړتیاوو نشتون دی، او ور پسې جنګسالاران دی. یو شمېر کمو خلکو دې مسالې ته اشاره کړې چې داخلی بې ځایه شوی کسان هم د خلکو د نارضایتی لامل ګرځی.

## ۴. د سولې نقشه

زیاتره ګډونوال د سولې په اړه هراړخیزه او جامع مفکوره لری چې د ټولو وړاندیز شویو عنصرونو څخه جوړه شوې ده: د جګړې او خشونت نشتون د عدالت او مساواتو رامنځ ته کول. د هرو څلورو څخه یوه تن ګډون کوونکی وویل چې د هغوی د سولې نظریه عبارت د جګړې او تاوتریخوالی له نشتون څخه دی.

**په خوست کې د ځایی شخړو او شخړې د هوارولو لپاره ستراتیژی ګانې:** ګډونوالو د ولایت په کچه شخړې د افغان شخړې د یوې نه بېلېدونکی برخې په حیث کتلې، ځکه نو کله چې په ملی او نړیوالو کچو داسې تدبیرونه تر غور لاندې نیول کېږی باید په ولایتی کچه د سولې او امنیت لپاره وړاندیزونه هغه تر غور لاندې ونیول شی چې کله داسې تدبیرونه په ملی او نړیوالو کچو طرحه کېږی د ولایتونو په کچه پلې شی، د بېلګې په توګه د اداری فساد په وړاندې مبارزه، یا د بهرنیو هیوادونو مداخلې ته د پای ټکی کېښودل په وخت کې. ځینې تدبیرونه د دې لپاره وړاندیز شوی دی چې خوست ځانګړی اړتیاو ته

[۱۰۱] په خوست ښار کې د نجونو د لیسې او پوهنتون له محصلینو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې
[۱۰۲] په خوست ښار کې له دینی عالمانو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې

ځواب ووايي لکه د دوديزو جوړښتونو (جرګو، شوراګانو، مرکو) پياوړی کول ځو دې ته زمينه برابره شي چې ټول قومونه په مساويانه ډول د شخړو په هوارولو کې برخه واخلي (او له دې لارې په دغه ولايت کې د ميشتو مختلفو قومونو تر منځ سوله‌ييزې اړيکې ټينګې شي). اړتيا ليدل کېږي چې ديني مدرسې د دولت تر نږدې څارنې لاندې راوستلې شي څو د مدرسې د طالبانو افراطيت خوا ته د سوق کولو څخه مخنيوی وشي او له مدرسو څخه داسې ځايونه جوړ شي چې هلته سولې ته وده ورکړل شي، دا يو بل اقدام دی چې ښايي د خوست ولايت دغه ځانګړې اړتيا ته ځواب ووايي.

**د فساد سره مبارزه او حساب ورکونې ته وده ورکول:** ګډونوالو په دوامداره توګه يادونه وکړه چې د ولايت په کچه له فساد سره مبارزه او احتساب ته وده ورکول له ډېرو مهمو تدبيرونو څخه دی چې په خوست کې به سولې ته زمينه برابره کړي. لکه څرنګه چې وړاندې پرې بحث وشو، په دولت کې فساد پر هغه د خلکو اعتماد کمزوری کوی او نارضايتی رامنځته کوی او د پراختيا په وړاندې خنډ جوړوی، چې دا هغه اساسی لاملونه دی چې خلک ياغيتوب ته اړ باسی.

په دې اړه يوې محصلې د فساد سره د مبارزې مثبتې اغيزې په دې ډول تشريح کړې:

> "که چېرې فساد نه وي خلکو ته د تعليم زمينه برابرېږي، او افغان پوځي ځواکونه پياوړی کېږي او د دې توان تر لاسه کوي چې په ولايت کې شخړه تر کنټرول لاندې راولي." [۱۰۳]

**حساب ورکوونکی دولت او منتخب استازی:** که څه هم خلکو د خوست د ځايی ادارې له خوا شوی پرمختګونه په رسميت پېژني، خو زياتره يې د دغه موضوع پر اهميت ټينګار کوی چې ځايی اداره بايد لا نور هم تقويه شي څو په ولايت کې سوله او امنيت د خوندی کولو وړتيا تر لاسه کړی. ګډونوال په دې عقيده وو چې يو حسابورکوونکی او قوی دولت کولای شی خلکو ته بهتره امنيتی خدمتونه وړاندې کړی او د فساد او ناوړه ګټې اخيستنې مخه ونيسی. دولت بايد ډاډ ورکړی چې د بشری حقونو په برخه کې بهتره عمل وکړی کوم چې د خلکو د اعتماد د راجلبولو لپاره ښه رول لوبولای شی.

> "دولت بايد بشري حقونو ته ځانګړی پاملرنه وکړي او خلکو ته وښيي چې بشري حقونو ته درناوي کوي." [۱۰٤]

د ګډونوالو نږدې نيمايي هغه يې وويل چې تر کومو پورې چې سوله او امنيت پورې اړه نيسي، دوی د افغانستان په پارلمان کې د خوست له استازيو څخه

[۱۰۳] په خوست ښار کې د نجونو د ليسې او پوهنتون له محصلينو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې
[۱۰٤] په خوست ښار کې د نجونو د ليسې او پوهنتون له محصلينو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې

راضي دي، په داسې حال کې چې د پاتې نيمايي نظرونه له دوی سره په ټکر کې وو. ګډونوالو وويل چې د پارلمان غړي خپلو منافعو ته فکر کوي ځکه چې دوی د درغلي له لارې پارلمان ته داخل شوي دي. "دوی دغه پوستونه د فساد له لارې تر لاسه کړي دي او نه د خلکو د ملاتړ له لارې." [105] او اوس د دولت ضد عناصرو د شتون لامله نه شي کولای په ولايت کې د سولې ملاتړ وکړي:

"د دولت ضد عناصرو له ډار څخه دوی د سولې د پرمختګ لپاره هيڅ کار نه دی کړی، بلکې دوی د دې کار پر ځای خپلو شخصي کاروبار ته متوجه دي. کله چې دوی کابل ته لار شي، بيا يې مونږ نور نه وينو. په حقيقت کې دوي د خلکو ملاتړ له ځانه سره نه لري او دوي د درغلی له لارې ټاکل شوي وو."[106]

**د پراختيا وده:** په متمرکزو ګروپی ناستو، مرکو او سروی ګانو کې تر ټولو شايع غبرګون د ښې پراختيا اړتيا وه: په ولايت کې د سولې وده د يوه پيش شرط په حيث د ګډونوالو له خوا په دوامداره توګه، يادونه شوې د ښېګڼې په توګه، استخدام، معارف او داسې نور. او په خوست کې د ژوندانه د بهتر شويو معيارونو او د سولې لپاره د ښو چانسونو تر منځ د ګډونوالو له خوا يوه روښانه رابطه رامنځته شوې: خلکو باور درلود چې که چېرې د ژوند معيارونو او اقتصادی فرصتونو کې ښه والی رامنځته شی، نو ټيکاو تر لاسه شی، له بلې خوا سوله‌ييز چاپيريال د پراختيا لپاره ښه شرايط برابروی.

يوه قومی مشر وويل:

"که چېرې يوه شخړه حل شي، نو ملتونه پرمختګ کوي، او که نه شي، پر امنيت اغېز کوي او پرمختيايي چارې کمېږي." [107]

په پرمختيايی چارو کې د ځايی دولت پر کارونو نېوکې وشوې، يوازې ۱۰ سلنه په دې آند وو، چې دولتی چارواکی د بيارغونې چارې پرمخ وړی، په داسې حال کې چې د ګډونوالو له خوا نادولتی ادارې او د مدنی ټولنې سازمانونه په پراخه کچه د هغو ادارو په توګه په ګوته شول، چې د بيارغونې لپاره کار کوی او نړيوالو نظامی ځواکونو په دې برخه کې دويم ځای خپل کړی.

**د بشری حقونو ترويجول:** زيات شمير ګډونوالو د بشری حقونو او سولې ترمنځ د تړاو يادونه وکړه، او استدلال يې وکړ، چې د بشری حقونو ساتنه او په پام کې نيونه د سولې لپاره يو بنسټيز عنصر دی. سربېره پر دې، دوی بشری حقونه د يوې سرې کرښې په څير

[105] په سروې کې ناپيژاند ګډونوال: له خوست ښار څخه يو نارينه، ۱۵ – ۲۰ کلنو ډله.
[106] په سروې کې ناپيژاند ګډونوال: له خوست ښار څخه يو نارينه، ۲۰ – ۵۰ کلنو ډله.
[107] له سپېرې، متون، او تنيو ولسواليو څخه له قومی مشرانو سره ترسره شوې متمرکزې مباحثې.

وګټل، چې د دولت ضد عناصرو سره په راتلونکو خبرو اترو کې نه باید له پامه وغورځول شی. د زیاترو ګډونوالو له خوا د بشری حقونو د سرغړونو په وړاندې حساب ورکونه د سولې د پروسې یوه کلیدی برخه ګڼل کیده، نه یوازې دا چې د دولت له خوا ترویج و بسیج شی. د ګډونوالو له وینا سره سم، دینی عالمان هم باید په دې برخه کې خپل رول ولوبوی:

"دیني عالمان باید د اسلام تر چتر لاندې دغه پیغام ټولنې ته ورسوي، هغه کسان چې د بشري حقونو پر سرغړونو تورن دي، په دغې پروسه کې ځای نه لري."[108]

**له دولت ضد عناصرو سره د ډیالوګ/خبرو اترو بسیجول:** ګډونوالو زیاتره د شخړې د خواوو ترمنځ د خبرو اترو/ډیالوګ د بسیجولو له اړتیا دفاع وکړه:

"که چیرې د شخړې خواوې د خبرو اترو مېز، یا یو بل ته نږدې کړای شي، دغه چاره به د سولې او امنیت لپاره ګټوره وي"[109]

که څه هم یو شمیر ګډونوال اندېښمن وو، چې دغه ډول خبرې اترې ښایی د ښځو د حقونو په اړه تر لاسه شوی پرمختګ له ګواښ سره مخ کړی:

"څرنګه چې دولت ضد عناصر غواړي په افغانستان کې شرعي قانون رامنځ ته کړي، د سولې لپاره به د دوي اجنډا ستونزمنه وي. د مثال په ډول، دوي به د دې غوښتنه وکړي، چې یوازې ښځینه استاداني کولای شي، نجونو ته تدریس وکړي، او نجونې باید په کورونو کې پاتې شي او داسې نور."[110]

په همدې ډول، ګډونوال له دې څخه په وېره کې وو، که چیرې دولت ضد عناصر په دولت کې شامل کړای شی، په افغانستان کې د ښځو له حقونو څخه برخمن کیدل به اغیزمن شی:

"کله چې طالبان واک ته ورسیږي، تر ټولو لومړی به ښځو ته ورکړل شوي حقونه بېرته واخلي او داسې نور."[111]

دغه راز، زیاترو ګډونوالو په ټینګار وکړ، هغه کسان چې له بشری حقونو څخه په سرغړونو کې ښکېل دی، د سولې په راتلونکې پروسه کې ځای نه لری.

[108] په خوست ښار کې له ښځینو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې
[109] په خوست ښار کې له دینی عالمانو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې
[110] په خوست ښار کې د نجونو د لیسې او پوهنتون له محصلینو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې
[111] په خوست ښار کې د نجونو د لیسې او پوهنتون له محصلینو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې

يوه دينی عالم وويل:

"هغه خلک چې بشري حقونو ته درناوي لري او هغه رعايت کوي، هغوي بايد د سولې د پروسې برخه وي؛ خو که چيرې هغه کسان چې پر بشري حقونو باور نه لري او په دغې پروسه کې برخه اخلي، دا به د بشري حقونو په برخه کې د تېرو ۱۲ کلونو ټولې لاسته راوړنې زيانمنې کړي."[١١٢]

زياترو ګډونوالو د دې يادونه وکړه، چې نړيواله ټولنه او ملګرې ملتونه بايد د خبرو اترو په راتلونکې پروسه کې مهم رول ولوبوی، بهرنی هيوادونه په پروسه کې له ناروا لاسوهنې څخه لاس اخيستنې ته وهڅوی، او د جګړې خواوې سره يو ځای کړی، څو د افغانستان جګړې لپاره د يوې حل لارې په اړه خبرې اترې ترسره کړی.

**د سولې د پروسې د بې پرېيتوب او ټول شموليت ډاډمن کول:** د سولې اوسنی نوښتونه د بې پرېيتوب او څرګندو پايلو د نشتون له امله له سختو نېوکو سره مخ شول. ګډونوالو د سولې د ولايتی شوراګانو له فعاليتونو سره لېږ رضايت څرګند کړ. خلکو د سولې د ولايتی شوراګانو پر اوسنی غړيتوب، د اغيز نشتوالی، محدودې څرګندتيا، خپلوی پالنې، د سولې په پروسه کې د دولت ضد عناصرو د شاملولو نه وړتيا نېوکې وکړی او دا تور يې پورې کړ، چې ځينې وختونه د دغو شوراګانو غړی د دې پرځای چې د سولې د ولايتی شوراګانو ماموريت پرمخ يوسی، د خپلو شخصی ګټو لپاره کار کوی. د ناامنيو له امله، د سولې عالی شورا يو شمير سيمو ته د لاس رسی وړتيا نه لری. په سروې کې د ګډونوالو په وينا:

"څومره يې چې موږ ته درلوده، د سولې د ولايتي شورا غړي په هغه کچه فعال نه دي، دوي هيڅ بريا او لاسته راوړنه نه لري. دوي خپل دفترونه پرانيستي، خو کارمندان يې ولسواليو ته لاسرسی نه لري."[١١٣]

"په ولايت کې دسولې ولايتي شورا په بشپړ ډول غير فعاله ده، موږ د دوي هيڅ لاسته راوړنه نه ده ليدلې. دوي وخت ضايع کوي او پيسې بې له کوم لامله مصرفوي."[١١٤]

د زياترو ګډونوالو نېوکه د سولې د ولايتی شورا پر نه بې پرېيتوب او د دولت ضد عناصرو د باور تر لاسه کولو پر نه وړتيا متمرکزه وه:

[١١٢] په يوې انفرادی مرکه کې ناپيژاند ګډونوال: له نادر شاه کوټ ولسوالۍ څخه يو نارينه، دينی عالم، ۴۰ کلن.
[١١٣] په سروې کې ناپيژاند ګډونوال: له خوست ښار څخه يو نارينه، ۲۰ – ۵۰ کلنو ډله.
[١١٤] په يوې انفرادی مرکه کې ناپيژاند ګډونوال: له خوست ښار څخه يو نارينه، اکاډميک، ۴۵ کلن.

"د سولې د اوسنۍ کمیټې پر ځای، باید یوه بله خپلواکه کمیټه شتون ولري، ځکه چې د دولت ضد عناصر د اوسنۍ کمیټې پر غړو بې باوره دي،هغوي فکر کوي، چې د کمیټې غړي د افغان دولت تر نفوذ لاندې دي."[115]

"ځرنګه چې د سولې عالي شورا په کابل او ځانګې یې په ولایتونو کې په مستقیم ډول د دولت تر واک لاندې کار کوي، د سولې د تر لاسه کولو لپاره د دوي هڅې بې ګټې دي. د سولې یوه داسې شورا باید شتون ولري، چې د دولت تر نفوذ لاندې نه وي."[116]

**د ځمکې پر سر د شخړو په ګډون، د قبیلو ترمنځ د کړکیچونو حل کول:** د زیاترو ګډونوالو له وینا سره سم، په خوست کې د سولې د ترلاسه کولو لپاره د ځمکې پر سر د شخړو حل کول خورا اړین او مهم دی. لکه ځرنګه چې یې مخکې یادونه وشوه، د ځمکې پر سر په شخړو کې ښکیلې قبیلې، دولت ضد عناصرو یا هم دولت ته رجوع کوی، چې زیاتره وخت له هغوی سره د وسلو یا نوره مرسته کیږی، او پر ځای د دې چې د قبیلو ترمنځ شخړې حل کړی، هغوی ته لمن وهی. نو په دې اساس، د ځمکو پر سر د شخړو حل کول به د قبیلو ترمنځ د شخړو مخنیوی وکړی، کومې چې په عام ډول له وسله والې شخړې سره مرسته کوی.

**د شخړو په حل کې د ځایی منځګړو ښکېلول:** په مرکو او متمرکزو ګروپی مباحثو کې زیاترو ګډونوالو په ولایت کې د پخلاینې په پروسه کې د منځګړیتوب د عنعنوی جوړښتونو د ښکېلتیا ملاتړ وکړ.

"په دې کې هیڅ شک نشته، چې ځایي شخړې کیدای شي د ځایي منځګړو له لارې حل کړای شي، ځکه جرګه او مرکه زموږ د کلتور یوه ارزښتناکه برخه ده، زموږ د تاریخ په اوږدو کې زیات شمیر شخړې د منځګړیتوب له لارې حل کړای شوې دي."[117]

په مرکو کې زیات شمیر ګډونوالو د دې یادونه وکړه، چې شورا ګانې، جرګې او مرکې د میکانیزمونو په څېر کولای شی په ځایی کچه د سولې په بسیجولو کې مهم رول ولوبوی. دوی پر دې ټینګار وکړ، چې دغه ځایی جوړښتونه نه یوازې دا چې د خوست په ټولنیز جوړښت کې ژورې ریښې لری، بلکې خورا مهم هم دی، ځرنګه چې دوی د ټولو قبیلو ترمنځ پرته له کوم تبعیض و توپیره د استازیتوب چارې اسانه کوی (ځرنګه چې د قبیلو د ټول شمولیت نشتون ته د نارضایت د یوې سرچینې په سترګه کتل کیږی). خو له دې سره

[115] په یوې انفرادی مرکه کې ناپیژاند ګډونوال: له سپېره ولسوالۍ څخه یو نارینه، قومی مشر، ۴۰ کلن.
[116] په یوې انفرادی مرکه کې ناپیژاند ګډونوال: له نادر شاه کوټ ولسوالۍ څخه یو نارینه، دینی عالم، ۴۰ کلن.
[117] په یوې انفرادی مرکه کې ناپیژاند ګډونوال: له متون ولسوالۍ څخه یو نارینه، قومی مشر.

سره، قومی جوړښتونو ته باید له سره کتنه وشی، څو ټول شمولیت ډاډمن شی، څرنګه چې دوی اوس د یو شمیر ډلو لکه ښځو او ځوانانو استازیتوب له پامه غورځوی.

د یوه ګډونوال له وینا سره سم، ځینې دینی عالمان د دولت له خوا منزوی شوی، چې دغه کار یو شمیر اندېښنې رامنځ ته کړی، چې حل کولو ته اړتیا لری:

"دیني عالمان د اوسني دولت له خوا له پامه غورځول شوي؛ له دولت سره دیني عالمان ریښتیني هغه نه دي، څوک چې په رښتیا د ټولو دیني علماوو استازیتوب کوي. که چیرې دولت د قومي مشرانو په ګډون له دیني علماوو سره له نږدې کار وکړي، دوي به د سولې په اړه د پام وړ پایلې ترلاسه کړي."[118]

**د افغان ملي امنیتی ځواکونو پیاوړی کول:** که څه هم زیات شمیر خلکو دا څرګنده کړه، چې د هغوی سیمو ته د افغان ملی امنیتی ځواکونو په لیږدولو سره امنیت ښه شوی، خو ګډونوالو په ټینګار سره په خوست کې د امنیت ساتلو په موخه د ملی امنیتی ځواکونو د پیاوړتیا د اړتیا یادونه وکړه. که څه هم دوی دې ته اشاره وکړه، چې د افغان ملی امنیتی ځواکونو پیاوړی کول نه یوازې د کارمندانو او ښه تجهیز له پلوه وی، بلکې همدارنګه باید د بشری حقونو په اړه د غوره پوهاوی او حساب ورکونې د سیستمونو له پلوه وی، چې د بشری حقونو او نورو سرغړونو مخنیوی وشی.

**د سولې د بسیجولو لپاره د پوهاوی لوړول:** په خوست کې د سولې د بسیجولو لپاره زیات شمیر ګډونوالو د پوهاوی د کمپاینونو وړاندیز وکړ، چې د مختلفو فعالینو د فعالې ښکېلتیا او ګډون غوښتنه کوی.

ګډونوالو په ولایت کې د سولې د بسیجولو لپاره د ښځینو د مثبت رول یادونه وکړه. په خوست ښار کې د مدنی ټولنې د یوه فعال له وینا سره سم:

"باید د ښځینوو ګرځنده ډلې جوړې شي، څو کور په کور وګرځي او له میندو سره خبرې وکړي، چې خپل زامن د سولې له پروسې سره یو ځای کیدو ته وهڅوي."[119]

دغه راز دینی عالمان هم کولای شی د سولې په اړه د پوهاوی په لوړولو کې برخه واخلی:

"د سولې په اړه باید عامه پوهاوي موجود وي، د سولې په اړه باید سمینارونه او ورکشاپونه ترسره شي. له جوماتونو د پیغامونو په استولو کې د دیني عالمانو رول خورا مهم دی، خلک هغوي ته غوږ ږدي او پر هغوي باور کوي."[120]

[118] په یوې انفرادی مرکه کې ناپیژاند ګډونوال: له نادر شاه کوټ ولسوالۍ څخه یو نارینه، دینی عالم، ۴۰ کلن.
[119] په خوست ښار کې د مدنی ټولنې له فعالینو سره ترسره شوې متمرکزه ګروپی مباحثه

د ډلو/ګروپونو ترمنځ د سولې په اړه د پوهاوی په لوړولو کې پر ځوانو نسلونو د ښوونځیو د ښوونکو او مدرسو د نفوذ په پام کې نیولو سره، د هغوی د مهم رول یادونه هم وشوه.

ګډونوالو د دې وړاندیز وکړ، چې مدرسې دې د دولت تر څارنې لاندې وی، څو د دولت ضد عناصرو له خوا د استخدام او روزنې د مرکزونو په ځیر یې مخنیوی وشی او پر ځای یې د سولې او عدالت د بسیجولو د مرکزونو په څېر وکارول شی. ګډونوالو زیاتره مدرسو ته د داسې پوتنشیال لرونکو فعالینو په سترګه کتل، چې په خوست کې مثبت رول لوبولی شی:

"مدرسې د عدالت په راوستلو کې خورا مهم رول لوبولی شي، که چیرې هغوي خپلې هڅې په دغه لار کې ولګوي"[121]

**د بهرنۍ لاسوهنې مخنیوی:** زیاترو ګډونوالو په خوست کې د سولې راوستلو د یوې اصلی وسیلې په څېر، د بهرنۍ لاسوهنې د مخنیوی غوښتنه وکړه:

"په ولایت کې د شخړې لامل له طالبانو، القاعده او د دولت ضد عناصرو نورو ډلو سره د پاکستان ملاتړ دی. که چیرې څوک پاکستان له دغه کاره راوګرځوي، نو په هیواد او دغه ولایت کې به جګړه نه وي."[122]

په دې برخه کې زیاتره نظریې پر پاکستان متمرکزې وې، خو یو شمیر یې له افغانستان څخه د نړیوالو نظامی ځواکونو له وتلو ملاتړ کاوه، که څه هم زیات شمیر د نړیوالو ځواکونو د وتلو په پایله کې د ناوړه پایلو په وېره کې وو. یوه ګډونوال خپله اندېښنه په دې ډول څرګنده کړه:

"که څه هم موږ یو شمیر مثبت بدلونونه وینو، خو دایمي نه دي. کله چې په هیواد کې نړیوال نظامي ځواکونه نه وي، زه دا وېره لرم، چې موږ به ټولې لاسته راوړنې له لاسه ورکړو."[123]

**د ښځو د ګډون زیاتول:** د سولې په پروسه کې د مېرمنو پیاوړی رول د زیات شمیر ګډونوالو له خوا په ډاګه شو. د خوست له ښار څخه یوې ښځینه زده کوونکې وړاندیز وکړ، چې

[120] په خوست ښار کې د مدنی ټولنې له فعالینو سره ترسره شوې متمرکزه ګروپی مباحثه
[121] په خوست ښار کې د مدنی ټولنې له فعالینو سره ترسره شوې متمرکزه ګروپی مباحثه
[122] په یوې انفرادی مرکه کې ناپېژاند ګډونوال: له تنیو ولسوالۍ څخه یو نارینه،سیاستمدار، ۵۷ کلن.
[123] په یوې انفرادی مرکه کې ناپېژاند ګډونوال: له لکن ولسوالۍ څخه یو نارینه،ډاکټر، ۳۵ کلن.

"د سولې په پروسه کې د ښځو ګډون باید زیات کړای شي، ځکه میندې کولای شي خپلو زامنو ته پیغام ولیږدوي او هغوي د سولې له پروسې سره یو ځای کړي."[١٢٤]

زیاترو ګډونوالو پر دې نظر هوکړه وکړه، چې په کورنیو کې د میرمنو رول هغوی د سولې د پیغام پر خپرولو جوګه کوی:

"ښځې باید د سولې د پروسې برخه وي، ځکه دوي په دواړو خواوو کې د خپلو زامنو قرباني ورکوي او دغه راز کولای شي خپلو زامنو ته پیغام ورسوي. موږ به هیڅکله هغه کسان چې د بشري حقونو په تېره بیا د ښځو حقونو پر سرغړونو تورن دي، د سولې پروسې د برخې په توګه و نه منو، او غواړو هغه لاسته راوړنې چې د ښځو د حقونو په اړه په تېره یوه لسیزه کې ترلاسه شوي، خوندي وي."[١٢٥]

**د دې یقینی کول، چې د سولې په ځایی نوښتونو کې د بشری حقونو اصول په سم ډول منعکس شوی:** د ګډونوالو اکثریت دا تایید کړه، چې شخړې په خوست کې له بشری حقونو څخه په برخمن کیدو د پام وړ اغیز کړی. له خوست څخه یوې ښځینه ګډونوالې په دې اړه داسې وویل:

"چیرې چې جګړه وي، ته نه شي کولای له خپلو ټولو بنسټیزو او اساسي حقونو څخه برخمن شي: ښځې او سړي خپل حقونه له لاسه ورکوي، آن تر ټولو مهم حقونه لکه د ژوندانه او پوهنې حقونه. دغه راز ځایي شخړې هم ښځې او سړي د هغوي له بنسټیزو حقونو څخه محروموي. د بیلګې په توګه، که چیرې په سیمه کې د دوو قبیلو ترمنځ جګړه وي، هیڅ خوا خپل ماشومان ښوونځیو ته نه شي استولی، دوي روغتیایي خدمتونو او داسې نورو ته لاس رسي له لاسه ورکوي..."[١٢٦]

ګډونوالو د سولې په پروسه کې د بشری حقونو په پام کې نیولو لپاره راتلونکې لارې چارې وړاندیز کړې. یوه دینی عالم د سولې او بشری حقونو ترمنځ پیاوړی تړاو په دې ډول څرګند کړ:

[١٢٤] په خوست ښار کې د نجونو د لیسې او پوهنتون له محصلینو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې.
[١٢٥] په خوست ښار کې له ښځینه ګډونوالو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې.
[١٢٦] په خوست ښار کې له ښځو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې.

"بشري حقونه بايد د سولې د پروسې بنسټيزه اندېښنه وي: يا په بل عبارت بشري حقونه بايد د سولې شرط وي."[۱۲۷]

په ورته معنا سره، يوه بل ګډونوال وويل:

"که چيرې موږ له طالبانو يا د دولت ضد عناصرو له نورو ډلو سره سوله يا پخلاينه غواړو، دا نه بايد موږ ته په هيواد کې د بشري حقونو د ټولو لاسته راوړنو په زيان تمامه شي."[۱۲۸]

د ګډونوالو له خوا حساب ورکونه او د قانون واکمنی يوازې د سولې د ترلاسه کولو د يوه مهم عنصر په څير نه، بلکې د بشری حقونو د ساتنې لپاره خورا حياتی ګڼل کيده:

"که چيرې د قانون واکمني وي، دا کولای شي په ټولنه کې د هر ډول جرمونو مخه ونيسي. که چيرې د قانون واکمني وي، هغه کسان چې د دولت او خلکو په وړاندې جرمونه ترسره کوي، د خپلو اعمالو په سزا رسول کيږي. نو په دې اساس ويلای شو، چې د بشري حقونو د ساتلو يوازينۍ لار د قانون نافذول دي."[۱۲۹]

د سروې اکثريت ګډونوال (۷۵ سلنه) په دې آند وو، چې بشری حقونو ته درناوی او د معافيت پای ته رسول به په هيواد کې د سولې له راوستلو سره مرسته وکړی. سربيره پر دې، ګډونوالو پر دې ټينګار کاوه، چې د بشری حقونو سرغړونکی بايد د سولې له پروسې څخه ليرې وساتل شی او د سولې د يوې بريالۍ پروسې لپاره يې د حساب ورکونې پر اړتيا تاکيد کاوه:

"که چيرې په رښتيا سره په دې هيواد کې سوله غواړو، موږ بايد د بشري حقونو درناوی وکړو: د ښځو دواړه خواوې بايد دغه حقونه په پام کې ونيسي. هغه خلک چې بشري حقونه نه پيژني، هغوي ته درناوی نه کوي، نه بايد د سولې د پروسې برخه وي."[۱۳۰]

**په افغانستان کې د سولې ګټور فعالين:** په افغانستان کې د جګړې اور ته د ګاونډيو هيوادونو په لمن وهلو او آن په هيواد کې د جګړې په اصلی لامل د هغوی د تورنولو سره سره، له نيمه يی څخه زياتو ګډونوالو ګاونډی هيوادونه په افغانستان کې په سوله راوستلو کې ګټور بلل. نړيوال نظامی ځواکونه، ښايی له دې امله چې لا پخوا له خوست

[۱۲۷] په خوست ښار کې له دينی عالمانو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې.
[۱۲۸] په سروې کې ناپيژاند ګډونوال: له لژه احمد خيل له ولسوالۍ څخه يو نارينه، ۲۰ - ۵۰ کلنو ډله.
[۱۲۹] په خوست ښار کې د نجونو د ليسې او پوهنتون له محصلينو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې.
[۱۳۰] په يوې انفرادی مرکه کې ناپيژاند ګډونوال: له ګربزو ولسوالۍ څخه يو نارينه،د حقوقو محصل، ۲۵ کلن.

څخه وتلی وو، د شخړې د شنني پر مهال په پرانستو مباحثو کې زیاتره د ګډونوالو له خوا نه دی یاد شوی، خو په سروې کې د نږدې نیمه یی ګډونوالو له خوا د سولې په راوستلو کې ګټور کنل کیدل. سربیره پر دې، ګډونوالو له دولت ضد عناصرو سره ډیالوګ/خبرې اترې د سولې لپاره اړینې بللې.

**د بشری حقونو لپاره کارکوونکی فعالین:** ګډونوالو په خوست کې د بشری حقونو د ساتنې د اصلی فعالینو په ځېر په منظم ډول د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون، د ښځو چارو ریاست او د مدنی ټولنې سازمانونه غوره کول.

**په خوست کې د سولې لپاره پیاوړې مدافعه:** ګډونوالو د یوې داسې هر اړخیزې کړنلارې وړاندیز وکړ، چیرې چې مختلفې ټولنیزې ډلې د سولې د مدافعې لپاره رول لوبولای شی. څرنګه چې یې مخکې یادونه وشوه، زیاترو ګډونوالو وویل، چې ښځې کیدای شی په خوست کې د سولې لپاره ښې مدافعینې وګرځی. قومی مشران او دینی عالمان پیاوړی نفوذ لرونکی فعالین ګنل کیدل، څوک چې په بریالیتوب سره کولی شی، د سولې له بسیجولو سره مرسته وکړی. دغه راز د ښوونځیو استادان او رسنۍ هم د یو شمیر ګډونوالو له خوا په دغه چاره کې موثرې بلل کیدې.

ګډونوالو دغه راز په ډاګه کړه، چې دینې عالمان د سولې لپاره ښه مدافعین کیدای شی، که چیرې په مناسب ډول وروزل شی:

> "د سولې په اړه باید عامه پوهاوي موجود وي، د سولې په اړه باید سمینارونه او ورکشاپونه ترسره شي. له جوماتونو د پیغامونو په استولو کې د دیني عالمانو رول خورا مهم دی، خلک هغوي ته غوږ ږدي او پر هغوي باور کوي."[۱۳۱]

**د بشری حقونو په وړاندې د دغو ډلو/اشخاصو کړنلار څرنګه ارزوئ؟:** زیاتره ګډونوال په دې باور وو، چې یاغی ډلې د بشری حقونو په وړاندې سخت دریځ لری. که څه هم خلکو دا منله، چې د شخړې د دواړو خواوو له خوا د بشری حقونو سرغړونې ترسره شوې دی:

> "که رښتیني و اوسم، په شخړه کې ښکېله هیڅ خوا پر بشري حقونو باور نه لري. که چیرې داسې وای، دوي ولې خلک وژني، دوي ولې د محکمې له رسمې پریکړې پرته د خلکو ژوند اخلي؟ د شخړې دواړه خواوې له بشري حقونو سرغړونه کوي."[۱۳۲]

---

[۱۳۱] په خوست ښار کې له ښځینه ګډونوالو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې.
[۱۳۲] په خوست ښار کې له ښځینه استادانو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې.

د ځینو ګډونوالو له خوا دینی عالمانو ته د بشری حقونو په اړه د پوهاوی د نه درلودلو په سترګه کتل کیدل، په تېره بیا د ښځو د حقونو په تړاو. په دې برخه کې، قومی مشرانو ته هم د داسې یو چا په سترګه کتل کیدل، چې محافظه کاره نظریې لری. که څه هم یوه دینی عالم په ډاګه کړه، چې دغه ډول انګیرنه تل دقیقه نه وی:

"بشري حقونه باید د سولې د پروسې بنسټیزه اندېښنه وي: یا په بل عبارت بشري حقونه باید د سولې شرط وي."[۱۳۳]

یوه ګډونوال وویل، د شخړې ټولې خواوې باید د بشری حقونو په اړه پوه وی، څو ډاډ تر لاسه شی، چې هغوی ته په عملی ډول درناوی شوی:

"د شخړې ښکیلې خواوې باید د بشري حقونو پر اصولو او معیارونو پوه وي. دا خورا مهمه ده، ځکه له دغې لارې دوي کولای شي چې بشري حقونو ته درناوي وکړي او هغه وساتي. نو له دې امله دا اړینه ده، چې د شخړې ښکیلې خواوې د بشري حقونو په اړه پوه کړای شي، که نه نو، دا به د دواړو خواوو لپاره ستونزمنه وي، چې بشري حقونو ته درناوي وکړي یا هغه وساتي."[۱۳٤]

## ۵. د خلکو سپارښتنې

د خوست له اوسیدونکو سره د خبرو اترو د پروسې پر مهال، په غزنی ولایت کې په ځایی طرح کې د بشری حقونو د ځایولو په خاطر د لاندې عمومی سپارښتونو وړاندیز شوی.(۱) یو مهم اصل چې ډېر ګډون کوونکو ورڅخه دفاع کړې ده دا دی چې د بشری حقونو ضد کسان باید د سولې له پروسې څخه وایستل شی؛ (۲) د سولې د یوې خپلواکې او هر اړخیزې پروسې څخه ډاډ ورکول. د سولې د ولایتی کمېټې د غړیتوب بیاکتنه او ډاډ حاصلول چې د کمیټې غړی د هغوی د اعتبار پر بنسټ انتخاب شی څو د دولت ضد عناصرو سره مذاکره وکړی. (۳)د سولې په پروسه کې د ښځو د ګډون زیاتول او په ټولنه کې د سولې د تامین په برخه کې د هغوی د نقش پېژندل؛ (۴) د ښځو د حقونو په هکله تر لاسه شوی پرمختګ، په ځانګړی ډول د ښوونې او روزنې حق باید د دولت ضد عناصرو سره د خبرو اترو پر مهال باید قربانی نه شی؛ (۵) د سولې د ترویج په برخه کې د ښکیلو ښځو، ځوانانو ښوونځیو او مذهبی مشرانو او مدرسو کې د سولې د پوهاوی د پروګرامونو معرفی کول؛ (۶) د حکومتولی او امنیت ښه کول: - د دولت او افغان ملی امنیتی ځواکونو په پیاوړی کولو کې باید د ښځو د بشری حقونو د سرغړونو د مخنیوی او د خسارې د جبران په شمول د ښه ظرفیت جوړولو او حسابورکونې میکانیزمونه شامل وی. اوښتې سرغړونې باید د

---

۱۳۳ په خوست ښار کې له دینی عالمانو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې.

۱۳٤ په خوست ښار کې له ښځینه ګډونوالو سره ترسره شوې متمرکزې ګروپی مباحثې.

شفافو خپلواکو او هر اړخیزو څېړنو له لارې په فعال ډول رسیدگی وشی؛ (۷) بشری حقونه خوندی او ترویج شی. زیاترو ګډونوالو د بشری حقونو په اړه د بهتر شوی دولتی اجراآتو او په خوست کې د سولې دپاره د ښو چانسونو تر منځ یوه روښانه اړیکه جوته کړې؛ (۸) د فساد په ضد مبارزه "بې عدالتی" او د خلکو په حقونو تیری (د بشری حقونو د نقض په ګډون) باید یو لومړیتوب وی که چیرې غواړو چې په غزنی کې سوله ټینګه شی؛ (۹) د پرمختیا لپاره ټولې هڅې، خاصتا د زده کړو په برخه کې، باید ښځې ځوانان، مختلف قومی ګروپونه او نور راشامل کړی. د ډیرو ګډون کوونکو په باور تبعیض په غزنی کې د شخړو یو لامل دی؛ (۱۰) که چیرې قومی/دودیز موسسات لکه شوراګانې او جرګې بیا د رغولو وړ وی، دوی باید اوس ټول ټولنیز ګروپونه په افغانستان کې راونغاړی او د قومی مشرانو له خوا له احتمالی تبعیض او توپیر څخه ډډه وکړی، خصوصا د ولایتی مرکز څخه بهر په ولسوالیو کې د ښځو د حقونو په وړاندې؛ (۱۱) د قومونو تر منځ د شخړو حلول: خوست ولایت چې تر ډیره بریده یوه د مختلفو قومونو څخه جوړ یو ولایت دی، نو د قومونو ترمنځ محلی تاوتریجنې شخړې باید د یوه لومړیتوب په حیث ورته ځواب وویل شی؛ (۱۲) د ځمکو پر سر شخړې باید د شفافو میکانیزمونو له لارې حل شی، او په دې کار انصاف څخه ډاډ حاصل شی او د ټولو ښکیلو خواو غړونه په مساوی ډول واوریدل شی؛ (۱۳) دینی مدرسې دې د دولت تر لا نږدې څارنې لاندې راوستلې شی څو ځوانان د افراطیت خوا ته د سوق کولو څخه مخنیوی وشی او له مدرسو څخه داسې ځایونه جوړ شی چې هلته سولې ته وده ورکول کېږی؛ (۱۳) د افغانستان په چارو کې باید بهرنی مداخله پای ومومی او پاکستان باید دولت ضد عناصرو ته د خوندی پناه ځایونو د برابرولو څخه ډډه وکړی، او پر دولت ضد عناصرو لا زیات فشار واچوی چې پر افغانستان باندې د پاکستان له خاورې عملیات او بریدونه و نه کړی.

# د ننګرهار ولايت
# د سولې لپاره ولايتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

دسولی دا ولایتی نقشه د هغو مسایلو او سپارښتنو لنډیز دی چې د سولې په اړه د افغانانو خبرې اترې (ډیالوګ) د دوهم پړاو په ترڅ کې په ننګرهار ولایت کې د ترسره شویو سلا مشورو په پایله کې وړاندې شوی دی. نوموړې سلا مشورې په ننګرهار ولایت کې د ۱۰۸ نفرو سره د ګروپی غونډو، انفرادی مرکو او د نظریاتو د ټولنې (سروې) له لارې ترسره شوې دی. ددې پروګرام ګډون کوونکی د حکومت د کارمندانو، د ټولنې د مشرانو، علماء کرامو، بزګرانو، ښوونکو، د مدنی ټولنو استازو او د سولې پروسې سره د یو ځای شوو طالبانو په ګډون د ټولنې له مختلفو سیاسی او ټولنیزو قشرونو څخه ټاکل شوی وو. تر ټولو مهمه دا چې، هڅه شوې د ښځو او ځوانانونظریات راټول شی ترڅو د ټولنې د هر اړخیز استازیتوب بیلګه اوسی.

دا خبرې اترې د سولې د پروګرام په اړه د افغانانو د ډیالوګ د دوهیم پړاو د یوې برخې په حیث ترسره شوی کوم چې د مدنی ټولنې د نړدې ۱۱ شبکو او د افغاانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون په ګډون  له خوا پیل شوی څو د نږدې ۴۵۰۰ عادی افغانانو سره مشورې ترسره کړی او د هر ولایت لپاره د سولې یوه طرح را منځ ته کړی.

## ۲. ولایتی انځور: جغرافیه، سرشمیرنه، او سیاسی شالید

ننګرهار ولایت چې د هیواد په ختیځ کې پروت دی، د وګړو شمیر یې نژدې ۱۲۸۹۰۰۰ تنو ته رسیږی. له کابل، کنړ، لغمان او لوګر ولایتونو سره نښتی دی. په جنوب ختیځ کې له پاکستان هیواد سره ګډه پوله لری چې د هغه هیواد له قبایلی سیمو څخه د وسله والو مخالفینو د نفوذ اسانه لار ګڼل کیږی. د ننګرهار ولایت سرحدی سیمې غرنۍ دی، ولې داخلی ساحه یې هموارہ او حاصلخیزه ده چې د کنړ او نورستان د واورو ویلی کیدو په وسیله اوبه کیږی.

د ننګرهار ولایت مرکز د جلال آباد ښار دی چې پخوا د افغانستان د ژمی پلازمینه ګڼل کیده. د ننګرهار مهم ځایونه عبارت دی له: د تورې بوړې غارونه چیرته چې آسامه بن لادن په ۲۰۰۲ کال کې د نړیوالو ځواکونه په وړاندې جګړه کوله، په شینوارو کې د سپین غر لمنې او څوکې، د اډې تاریخی آثار، او په جلال آباد ښار کې د غازی آمان الله خان مقبره او د سراج الامارت شاهی باغ.

د ننګرهار د وګړو ډیری پښتانه دی او یوه کوچنی شمیر یې پشه یان جوړوی. مومند، شینواری او خوګیانی د ننګرهار درې لویې قبیلې دی. خوګیانی په شیرزادو، خوګیانو، پچیرآګام، حصارک او یو کم شمیر یې په چپرهار او سره رود ولسوالیو کې میشته دی. شینواری د ننګرهار په غنی خیلو، اچین، نازیان، سپین غر، دوربابا، هسکه مینه او کوټ

ولسوالیو کې ځای پر ځای دی او مومند په مومندرې، لعل پوره، ګوشته، بټی کوټ، رودات او کامه کې اوسیږی. په خیوه او دره نور کې په زیاته اندازه پشه یان اوسیږی ولې ددوی یو کوچنی شمیر په بهسودو ولسوالۍ کې هم پراته دی.

د ننګرهار اوسنی والی ښاغلی عطاءالله لودین دی. نژدې شل سیاسی ګوندونه په دغه ولایت کې فعالیت کوی چې د هغوی له ډلې یې حزب اسلامی، دعوت اسلامی (چې پخوا په اتحاد اسلامی مشهور ؤ)، جمعیت اسلامی، افغان ملت او اسلامی حزب یې تر ټولو بانفوذه ګوندونه دی. پرته له جمعیت اسلامی، په ننګرهار کې نژدې ټولو بانفوذه ګوندونو په ۲۰۰۹ کال ټولټاکنو کې له حامد کرزی نه ملاتړ کاوه.

## ۳. د جګړې یا شخړې شننه: د شخړو ډولونه او سرچینې

**د شخړو ډولونه:** په ننګرهار ولایت کې د ولس استازو په خپل ولایت کې د شخړو یو لړ ډولونه په لاندې ډول په ګوته کړل:

- **د دولت پلوه ځواکونو او مخالفو وسله والو ترمنځ روانې جګړې:** ګډونوالو د دولت وسله والو هغه ډلې په ګوته کړې چې ددوی په ولایت کې د دولت پلوه ځواکونو سره جګړه کوی لکه: د افغانستان اسلامی امارت، تحریک طالبان پاکستان، تحریک نفاذ شرعیه، حزب اسلامی او سلفی ګروپ.
- **شخصی، قومی او توکمیزې شخړې:** لکه په اچین ولسوالۍ کې د شینوارو د دوو پرګنو سیپای او علی شیرخیلو ترمنځ د ځمکې پر سر نښتې او په بټی کوټ کې د کوچیانو او ځایی اوسیدونکو ترمنځ نښتې او
- **ځایی سیاسی او جنایی تربګنۍ.**

**د شخړو سرچینې:** ګډونوالو په ننګرهار کې د شخړو د سرچینو یو هراړخیز لیست په لاندې ډول وړاندې کړ. ضعیف حکومت داری، فساد، د امنیتی ملی ځواکونو عدم موثریت ٗ په عملیاتونو کی د بشری حقونو نقض بهرنی مداخلی او د بیان د آزادی څخه مخنیوی .

**دجګړو په درشل کی د بشری حقونو نقض:** د مُلکی وګړو مرګ او ژوبله چې د افغان امنیتی ځواکونو او نړیوالو ځواکونه له خوا رامنځته کیږی او د عملیاتو پر وخت د خلکو سره ناوړه چلند، بار بار د شخړو او جګړو د لاملونو په توګه یاد شول. یو قومی مشر وویل:

"خپلسري عملیات، د شپې چاپو او هوایي بمباریو خلک مجبوره کړل چې خپلې مینې پریږدي. بې ګناه خلک پرته له کوم تور په زندانونو کې واچول شول. په

ټولیز ډول دغه لاملونه وو چې د خلکو او حکومت ترمنځ یې واټن رامنځته کړ. نو ځکه نن ورځ زیاتره خلک د دولت او نړیوالو ځواکونو خلاف دي او د وسله والو مخالفینو ملاتړ کوي."

**بهرنی لاس وهنی:** همدارنګه د بهرنیو لاسوهنو څخه هم یادونه وشوه چې د هندوستان، ایران او پاکستان په ګډون یې بهرنی هیوادونه د خپلو ستراتیژیکو ګټو په موخه په افغانستان کې ترسره کوی. او دا یوه نیابتی جګړه ده چې د وسله والو مخالفینو له لوری ترسره کیږی. د مُلکی خدماتو د کمیسیون مشرې وویل چې: زمونږ ګاونډی هیوادونه له وسله والو مخالفینو مادی او معنوی ملاتړ کوی. همدارنګه یوې پخوانۍ ښوونکې او ښځو د حقونو فعالې زیاته کړه:

"نوموړي هیوادونه د ګټو بنسټ پاله ډلو ملاتړ کوي ترڅو په افغانستان کې خپل نفوذ زیات کړي او د یو بل ګټې وننګوي."

**د ملی امنیتی ځواکونو عدم کار آیی:** همدارنګه په ننګرهار کې او په ځانګړی ډول بټی کوټ، اچین، هسکه مینه او نازیانو کې مخ په خرابیدونکی امنیتی حالت تر ډیره د ملی امنیتی ځواکونو د اغیزمنتیا نشتوالی پورې غوټه کړ. ځینو ګډونوالو ملی امنیتی ځواکونه د وسله والو مخالفینو سره د جګړې په نه کولو او یا د ژمنتیا په نشتوالی تورن کړل. ځینو بیا د ننګرهار په ولسوالیو کې د ناکاره ځواکونو اچولو ته اشاره وکړه. او نورو بیا ملی امنیتی ځواکونه او په ځانګړی ډول ملی پولیس په فساد کې ښکیل وګڼل او په دوی یې تور پورې کړ چې له خلکو بډې اخلی او د مجرمینو ډلې حمایه کوی. نو له دې امله چې کومه امنیتی خلاء رامنځته شوې ده، ددې لامل شوی چې د دولت وسله وال مخالفین او جنایی ډلې پیاوړې شی او په عین وخت کې د تښتونو، قتل، د ځمکو غصب، د کوکنارو کرکیله او له خلکو د عشر، ذکات او مالیاتو غیر قانونی ټولونې په برخه کې زیاتوالی راغلی دی.

**ضعیف حکومت داری، فساد او عدم پرمختګ:** اداری فساد، کمزورې ځایی حکومتداری، عامه خدماتو نشتوالی او د پرمختیایی پروژو او منابعو غیرعادلانه ویش په مختلفو شکلونو د شخړو او جګړو د زیاتوالی لامل شوی دی. په ولسوالیو کې ناامنی د کمروزې حکومتدارۍ پایله ده. د یو قومی مشر په وینا، په ځینو سیمو کې ځایی چارواکی د ولسوالۍ په څلورو دیوالونو پورې محدود دی.

اداری فساد د خدماتو نشتوالی او یا نابرابر ویش پورې وتړل شو. د مسجد یو امام په جلال آباد ښار کې د برښنا ویش د یوې روښانه بیلګې په توګه یاد کړ.

"د ښار هغه ساحې چې هلته جنگ سالاران، قوماندانان، سوداگر او چارواکي اوسیږي، برښنا لري. بلکې هغه ساحو کې چې دوی نشته، برښنا هم نه ده ورکړل شوې."

یو کروندگر ومنله او ادعا یې وکړه چې: د سوداگرو او ولایتي چارواکو ترمنځ معاملې د مافیا په څیر دي چې غُربت، بې کاري او نورې ستونزې ډیروي. هغه د شینوارو او خوگیاڼو ولسوالۍ د جرمونو د مرکزونو په توگه یادې کړې. یوې ښځې بیا د ولس د انزوا یا گوښه توب احساس څخه یادونه وکړه: هغه خلک چې په کلیو او ولسوالیو کې اوسیږي، هیر کړل شوي دي. د دوی اوازونه نه اوریدل کیږي. چې دا ډول ستونزو په خپل وار سره د دولت په وړاندې د خلکو حساسیت ډیر کړی دی او خلک یې د مخالفینو څخه ملاتړ ته اړ کړی دی.

**د رسنیو محدودول او دبیان آزادی:** د ناپییلو او خپلواکو رسنیو نه شتون هم د روانې شخړې د یو لامل په توگه په گوته شو. د یو ځایی ژورنالیست په وینا چې د ننگرهار پخوانی والی په گډون د سیاسی مشرانو څخه د ځینو ژورنالیستانو له خوا د بډو منلو جدی بې عدالتۍ رامنځته کړی دی او ملی گټې یې په خطر کې اچولی دی.

او په اخر کې یو قومی مشر د چارواکو د گمارلو پروسه تر پوښتنې لاندې ونیوه او استدلال یې وکړ چې په دې برخه کې د روڼتیا نه شتون او په ادارو کې د خپلوۍ پالنې دود ددې لامل شوی چې د زورواکو شخصی گټې وساتل شی، نه د ټولنې. هغه وویل:

## ۴. د سولې لپاره تگلاره

**د افغان ملي امنیتی ځواکونو پیاوړتیا او اصلاحات:** گډونوالو ټینگار وکړ چې د ټیکاو او امنیت په ټینگښت کې د ملی امنیتی ځواکونو رول اړین دی او له نړیوالې ټولنې یې په کلکه وغوښتل چې د امنیت د لیږد پروسې د وروستی پړاو په توگه د افغان امنیتی ځواکونو په تجهیز کې په ځانگړی ډول د هغوی سره د هوایی ځواک مرسته وکړی. د امنیتی ځواکونو د اصلاحاتو په برخه کې گډونوالو له هفغه فساد سره مبارزه اړینه وبلله چې د امنیتی ځواکونو د مشرتابه یا قوماندانانو په کچه وجود لری. دوی زیاته کړه چې په ملی امنیتی ځواکونو کې د فساد شتون تباه کوونکې پایلې لری او د وسله والو مخالفینو سره ددوی په مبارزه ناوړه اغیز کوی، سرتیری ملی احساس او روحیه له لاسه ورکوی او ځواکونو د جرمونو ځآله گرځی. دوی وویل چې د ملی امنیتی ځواکونو ځینې غړی د مخدره موادو په قاچاق، فساد او اختلاس کې ککړ دی. د یوې سیمه ایزې راډیو مشر وویل:

"ددې لپاره چې په ننگرهار کې جگړه پای ته ورسيږي، ملي امنيتي ځواکونه بايد له کلکې څارنې لاندې ونيول شي، ملاتړ يې وشي او تجهيز شي. حکومت بايد د امنيتي ادارو مشرانو پر ضد چې په فساد کې ککړ دي کلک تدابير ونيسي او د فساد عاملينو ته سزا ورکړي."

همدارنگه گډونوالو د پولې په اوږدو کې امنيت د دوامداره سولې ترلاسه کولو لپاره اړين وباله. ننگرهار ولايت د پاکستان له قبايلی سيمې سره چې د وسله والو مخالفينو خوندی پټنځای گڼل کيږی، اوږده گډه پوله لری. ددې پولې په اوږدو کې گڼې لارې شتون لری چې تر څار لاندې نه دی او په سيمه کې د وسله والو تگ راتگ او د وسلو ليږد ته لار هواروی. خلکو پر حکومت غږ وکړ چې د پولې په اوږدو کې دايمی پوستې واچوی او لويو لارو ته سرحدی او نور امنيتی ځواکونه وليږی چې د وسله والو کړنو مخه ونيسی. د وسله والو مخالفينو يو پخوانی غړی وويل:

د اچين په ولسوالۍ کې د باندر په نامه يوه دره ده چې له پاکستان سره گډه پوله لري. ټول هغه وسله وال مخالفين چې ننگرهار ته ځي، له دې لارې رانوځي. دوی وسلې او چاوديدونکي توکي راليږدوي. ځانمرگي بريدگر چې له دې لارې راځي د سرحدي پوليسو د يوې پوستې په واسطه اودريدای شي، خو يوه پوسته هم شتون نلري. مونږ له حکومته غوښتنه کوو چې د پولې په اوږدو کې دايمي پوستې جوړې کړي او ملي امنيتي ځواکونه واچوي.

د ملی امنيتی ځواکونو له خوا د عملياتو په جريان کې د ملکی وگړو مرگ ژوبلې ته پاملرنه او د هغې مخنيوی د خلکو د ملاتړ او په حکومت باندې د هغوی د باور پيدا کولو لپاره حياتی وگڼل شو. گډونوالو د افغان ځواکونو له خوا په کليو او ولسواليو کې په ځانگړی ډول بټی کوټ کې د چاپيزو عملياتو په لړ کې د ملکی مرگ ژوبلې په اړه خپله خواشينی څرگنده کړه.

په دې لړ کې، همدارنگه د سيمه ايزو يا محلی پوليسو د کړنو په اړه جدی انديښنې راپورته شوې، چې ځينو گډونوالو د مجرمينو ځاله وبلله. ځينې نورو بيا د محلی پوليسو پروگرام څخه ملاتړ وکړ او د ننگرهار ولايت نورو ولسواليو ته ددې پروگرام د غځولو غوښتنه يې کوله. يو پخوانی وسله وال وويل چې محلی پوليس بايد په اچين، بټی کوټ، هسکه مينه، حصارک، نازيان او شيرزاد کې هم وگمارل شی.

که د نوموړو ولسواليو لپاره محلي پوليس ومنل شي، نو امنيت کې به ښه والی راشي. د محلي پوليسو پياوړتيا په دې کې ده چې د ولس له غيړې راپورته کيږي، او مخالفين نشي کولی چې له دوی سره مخامخ شي. لکه څنگه چې تاسو پوهيږئ، هغه وخت چې مونږ د مخالفينو په ليکو کې ؤ، زمونږ لپاره

لوی خنډ محلي پولیس گڼل کیدل. مونږ باندې همیشه دوی بریدونه کول او په هغه ولسوالیو کې مو څه نشول کولای چې محلي پولیس یې درلودل.

همدارنگه گډونوالو په ولسوالیو کې د ملی امنیتی ځواکونو په ځانگړې ډول د ملی او محلی پولیسو تغیر او تبدیل یا گرځنده کول د شخصی او قومی دښمنیو په مخنیوی کې اغیزمن وگڼل. بلاخره گډونوالو غږ پورته کړ چې امنیتی سرچینې ددې پرځای چې د سیاسی مشرانو یا چارواکو لپاره وگمارل شی، باید هغو ټولنو ته ورکړل شی چې اړتیا ورته لری. یوه سیمه ایز ژورنالیست وویل چې:

ملي پولیس، سرحدي پولیس او د عامه نظم پولیس د چارواکو، جنگ سالارانو او ځایي سیاسیونو په چوپړ کې دي. مونږ د یوې ټولې ولسوالۍ لپاره د ۶۰ ملي پولیسو تشکیل لرو، خو د یو چارواکي، قوماندان او یو سیاسي مشر لپاره له ۲۰ زیات د شخصي امنیت په خاطر گمارل شوي دي. سرحدي پولیس باید د پولې په اوږدو کې دنده ترسره کړي، خو دلته په ننگرهار کې ډیری سرحدي پولیس د والي د قصر په ساتلو بوخت دي. ځینې ځایي چارواکي د سرحدي او عامه نظم پولیسو شخصي قطعي او کنډکونه لري. د بیلگې په توگه د مشرانو جرگې د ریس ورور د عامه نظم پولیسو څخه یوه قطعه د شخصي امنیت په خاطر گمارلې ده.

**د وسله والو ضد هڅو زیاتول:** د افغان ملی امنیتی ځواکونو د پیاوړی کولو او د وسله والو نښتو د اصلی لاملونو د لرې کولو سربیره د یاغیانو ضد هڅو پیاوړی کول اړین وگڼل شول. گډونوالو څرگنده کړه چې له پاکستان څخه د افغان کډوالو بیرته راستنول، د تروریزم ضد روښانه او اغیزمنو پالیسیو او ستراتیژیو جوړول او پلی کول او په وسله والو مخالفینو د مالی سرچینو بندول په ننگرهار او په ټوله کې د هیواد په کچه د سولې راوستو لپاره مهم گامونه دی چې باید اوچت شی. گډونوالو ټینگار وکړ چې له پاکستان څخه د افغان کډوالو بیرته راستنول باید د لومړیتوبونو په سر کې ځای ولری ځکه چې دوی د وسله والو مخالفینو لیکو ته هلته جذبیږی. د لعل پورې ولسوالۍ یو قومی مشر:

"په نړیوالې ټولنې او افغان حکومت غږ وکړ چې له پاکستانه افغان کډوال بیرته راولئ، ځکه چې دوی د وسله والو مخالفینو لیکو لپاره د استخدام غوره سرچینه گڼل کیږي."

د تروریزم او وسله والو ضد یوې روښانه او بشپړې پالیسۍ نه شتون د روانې شخړې لامل وگڼل شو. ځینو گډونوالو په حکومت غږ وکړ چې د استخباراتی مالوماتو د راټولولو تخنیکونه پیاوړی کړی، په ولسوالیو کې چانیز عملیات دوامداره کړی او له عملیاتو وروسته دا ډاډ ترلاسه کړی چې امنیتی وضعیت ښه شوی دی که څنگه؟ او همدارنگه په وسله والو

مخالفينو نظامی فشار راوړی تر څو سولې ته غاړه کيږدی. نو په دې ډول به د هغو ولسونو ستونزه حل شی چې د وسله والو مخالفينو ملاتړی نه دی خو ورسره ټکر نشی کولای او يا د زور له لارې دې ته اړ کيږی چې له هغوی سره لوجيستيکی مرستې وکړی. د ځوانانو يو استازی په حکومت غږ وکړ چې: په دا ډول سيمو کې د هغو قومي مشرانو ساتنه او ملاتړ وکړي چې د وسله والو مخالفينو سره ټکر کولای شي او يا هغوی ننگولای شي.

ځينو گډونوالو بيا ادعا وکړه چې په ننگرهار کې روانه جگړه د نړيوالو ځواکونو له امله ده، ځکه چې د دوی جگړه له وسله والو مخالفينو سره رښتينې او ثابته نه ده. د شيرزادو ولسوالۍ څخه د ځوانانو يو نماينده وويل:

> د نړيوالو ځواکونو د تروريزم ضد پاليسي روښانه نه ده. ځينې وخت دوی د وسله والو مخالفينو پر ضد ډير دقيق او برياليي بريدونه ترسره کوي. خو بيا ځينې وخت مونږ وينو چې وسله وال مخالفينو له خپلو وسلو سره شاوخوا گرځي او راگرځي او په عمومي لارو کې تلاشۍ اخلي، خو نړيوال ځواکونه پرې بريد نه کوي.

د خوگيانو ولسوالۍ يو قومی مشر د نړيوالو ځواکونو په ځانگړی ډول د امريکې پر متضادو سياستونو نيوکه وکړه چې له يوې خوا په افغانستان کې د ياغيانو پر ضد جگړه کوی او له بلې خوا پاکستان حمايه کوی.

> نړيواله ټولنه په ځانگړي ډول د امريکې متحده ايالات د پاکستان په وړاندې گام نه پورته کوي. پاکستان هغه هيواد دی چې وسله وال مخالفينو څخه ملاتړ کوي..... هيڅوک له دې څخه انکار نشي کولای چې پاکستان وسله وال او تروريزم څخه ملاتړ کوي. اسامه بن لادن په پاکستان کې يوې نظامي اکاډمۍ ته څيرمه پيدا شو. چې دا ډول کړنې د نړيوالې ټولنې او امريکا پر وړاندې بې اعتمادي رامنځته کوي.

د کوکنارو کرکيله، د مخدره مواد قاچاق او له خلکو څخه غيرقانونی ماليات اخيستل د وسله والو مخالفينو اصلی مالی سرچينې دی. پر دوی ددغو مالی سرچينو بندول د گډونوالو له خوا د سولې او امنيت لپاره اړين وگڼل شول. د ځوانانو يو نماينده وويل چې:

> وسله وال مخالفين د خپلو فعاليتونو لپاره ډيرې مالي سرچينې لري. د شيرزادو، حصارک، خوگيانو او شينوارو په ولسواليو کې وسله وال مخالفين د خلکو او د مخدره توکو قاچاقچيانو نه ماليات اخلي. په نوموړو ولسواليو کې ځينې معدنونه شتون لري او مخالفين يې هم استخراجوي. حکومت بايد دې ستونزو

ته پاملرنه زياته کړي او د مخدره توکو سره په مبارزه کې بايد جدي ګامونه پورته کړي.

**د سيمه ايزې حکومتدارۍ اصلاح:** زياتره خلکو د ټولټاکنو پروسې سربېره په سيمه ايزه حکومتدارۍ کې د پراخو اصلاحاتو غوښتنه وکړه او څرګنده يې کړه چې اداري فساد او په حکومتي ادارو کې خپلوۍ پالنې او اړيکو پر بنسټ چلند قومي، توکميزې او د ولسونو ترمنځ شخړې زيږوي. د اچين ولسوالۍ يو قومي مشر وويل:

> ددې لپاره چې په ننګرهار او په ټول افغانستان کې دوامداره سوله راولو، حکومت بايد له درغليو پاک او شفافه ټولټاکنې ترسره کړي. او ددې هدف ترلاسه کولو لپاره اړينه ده چې د ټاکنو په کميسيون کې پاک او غير حزبي افراد وګمارل شي. او همدارنګه ټولې رايې بايد په هر محل کې وشميرل شي.

همدارنګه د ډيالوګ ګډونوالو ټينګار وکړ چې د نا اهله او په اداري فساد کې ښکيلو چارواکو پرځای بايد ژمن او اهل افراد وټاکل شي. اوس مهال زياتره فاسد چارواکي له يوې ولسوالۍ بلې ته ليږل کيږي، خو ددوی په وړاندې جزايي اقدامات نه ترسره کيږي. همدارنګه ګډونوالو په ډيره تيزه لهجه د چارواکو په ناوړه چلند او غير اخلاقي کړنو نيوکې وکړې. دوی زياته کړه چې د چارواکو غير اخلاقي چلند ولسونه دېته اړ کوي چې له وسله والو مخالفينو سره همدردي ولري او د هغوی ملاتړ وکړي. د يو ځايي مسجد ملا امام څرګنده کړه چې:

> د ننګرهار پخواني والي، ولسوالان او ځينې نور چارواکي په اخلاقي فساد کې ښکيل دي او دا ډول کړنې زمونږ د دين او عنعناتو خلاف کار دی، او د حکومت پر ضد د ولس کرکه زياتوي.

د فساد ضد پاليسيو جوړولو سربېره، خلکو د اداري فساد د ريښو ويستلو او د پاکو او ژمنو چارواکو پر ګمارلو ټينګار وکړ.

همدارنګه خلکو د حکومت په بې ځايه اداري بيوروکراسۍ او اوږدو پروسه نيوکې درلودې. دوی وويل چې د حکومت اداري پروسې خلکو ته د ټولنيزو او اقتصادي پروژو او خدماتو په وړاندې کولو کې خنډ او ځنډ رامنځته کړی دی. يو ګډونوالي وويل چې حکومت بايد په اداري برخو کې د کاغذپرانۍ پرځای برښنايي سيستم رامنځته کړي. چې دا به په اداري پروسجر کې اسانتياوې رامنځته کړي او اوسمهال په ننګرهار ولايت کې دا ډول اسانتياوې شتون نه لري.

د مدني ټولنو نماينده ګانو په ننګرهار ولايت کې رواني شخړې او ناامنۍ د پارلمان غړو ترمنځ په موجوده سياليو او تربګنيو پورې غوټه کړې. د ننګرهار پوهنتون يو استاد وويل چې:

> د هیواد په کچه سیاسي بې ثباتۍ، د شخصي ګټو پر سر د حکومتي چارواکو او ځايي سیاستوالو ترمنځ اختلافاتو حکومتداري کمزورې کړې ده او وسله وال مخالفین يې پیاوړي کړي دي. په دې وروستیو کې د ننګرهار چارواکو او د پارلمان د غړیو ترمنځ اختلافات زیات شوي دي. دوی ټول ددې پرځای چې خلکو او ښې حکومتدارۍ لپاره کار وکړي، د یو بل په خرابولو مصروف دي.

په همدې ډول ځینو ګډونوالو بیا د قومی لانجو په حل کې د حکومت ناکامۍ ته ګوته ونیوه او وې ویل چې چارواکی د شخصی ګټو په خاطر د یوې او بلې ډلې ملاتړ کوی. دوی د بیلګې په توګه په اچین ولسوالۍ کې د علی شیرخیلو او سیپای ترمنځ شخړو څخه یادونه وکړه.

بالاخره لکه مخکې چې هم یادونه وشوه، خلکو د رسنیو خپلواکی د چارواکو او حکومت د حساب ورکونې لپاره مهمه وګڼله. دوی استدلال کاوه چې د ځایی چارواکو د اجراآتو په اړه د رسنیو راپور جوړول په په ادارو کې روڼتیا یا شفافیت رامنځته کړی او اداری فساد به راکم کړی.

**د قانون حاکمیت پیاوړتیا، د ټولنیز عدالت تأمین او د معافیت سیستم له منځه وړل:**
ګډونوالو د قانون حاکمیت پیاوړتیا، په یو ډول پر ټولو د قانون پلی کول او د ټولنیز عدالت تأمین په ننګرهار کې د سولې راوستلو لپاره مهمې وسیلې وګڼلې. د شیرزادو ولسوالۍ څخه د یوې مدنی ټولنې مشر وویل:

> حکومت باید قانون په ټولو باندې پرته له تبعیضه په یو ډول پلی کړي. تر ټولو لویه ستونزه په حکومت کې پراخه فساد او په جنګ سالارانو، زورواکانو او مالدارو افرادو باندې د قانون نه تطبیق دی.

د قانون حاکمیت راوستلو لپاره په عدلی او قضایی ارګانونو کې د اداری فساد پر ضد هر اړخیزه مبارزه اړینه وګڼل شوه. په جلال آباد ښار کې د یوې اتحادیې مشر وویل:

> ښارنوالۍ او محاکم یوازې د هغه چا ملاتړ کوي چې پیسې په لاس کې لري. د بیلګې په توګه زمونږ یو همکار د یو جنګ سالار سره د کور پر سر لانجه درلوده. جنګ سالار د هغه کور په زور نیولی ؤ. هغه د ملکیت ټول اسناد درلودل او درې محکمو د هغه په ګټه فیصله وکړه، خو بیا هم هغه کور ترلاسه نه کړ. هغه وطن پریښود او له طالبانو سره یو ځای شو او غواړي چې له جنګ سالار نه غچ واخلي.

خو سره ددې ګډونوالو داسې کوم وړاندیز نه درلود چې څنګه کولای شو په ننګرهار کې عدلی او قضایی ارګانونه پیاوړی کړو او اداری فساد ته د پای ټکی کیږدو.

**د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ ملاتړ:** ګډونوالو باکیفیته زده کړې، د ځوانانو لپاره د کارموندنې فرصتونو رامنځته کول او پرمختیایي پروژو او خدماتو ته مساوي لاس رسی او د هغوی عادلانه ویش، په ننګرهار ولایت کې ټیکاو او سولې لپاره مهم شرطونه وګڼل. د شیرزادو ولسوالۍ یو قومي مشر څرګنده کړه چې د باکیفیته زده کړو نشتوالی ددې لامل شوی چې زیاتره ځوانان د کانکور په ازموینې کې پاتې راشي او د هغوی لپاره کارموندنه ستونزمنه کړي او په پایله کې نوموړي ځوانان له وسله والو مخالفینو سره یو ځای شي.

> بې کاري ددې لامل شوې چې ځوانان له وسله والو سره یوځای شي. زمونږ ماشومان معاصرو زده کړو ته لاس رسی نه لري. د پوهنې ریاست چارواکي حزبي یا ګوندي پالیسۍ پرمخ وړي چې د زده کړې اصلي هدف له منځه وړي.

همدا ډول لکه مخکې هم یادونه وشوه، ګډونوالو د پرمختیایي پروژو او خدماتو په وړاندې کولو کې بې عدالتي او د خپلوۍ پالنې څخه شکایت درلود او ددې په اند دا ددې لامل شوی چې په هغو سیمو کې چې محرومه پاتې شوي دي، ناامنیو زور اخیستی دی. ګډونوالو خپل غږ پورته کړ چې پروژې او خدمات باید د اړتیا پر بنسټ وړاندې شي او هغه سیمې او ولسوالۍ چې اړمنې دي باید په لومړیتوب کې قرار ولري. په اچین ولسوالۍ کې یو پخواني وسله وال څرګنده کړه چې:

> د ننګرهار ولایت په ولسوالیو کې پرمختیایي پروژې په غیرعادلانه ډول ویشل کیږي. کله چې په کابل کې یوه پروژه تصویب شي نو په کامه، سره رود او ګوشتې ولسوالیو کې چې با امنه دي پلې کیږي. د پارلمان غړي په حکومت فشار راوړي چې پروژې ددوی په ولسوالیو کې پلې کړي. مونږ اړتیا لرو چې په نا امنه ولسوالیو کې پروژې پلې کړو، ترڅو د خلکو او ولس اعتماد ترلاسه کړو.

ځینو ګډونوالو په دولت غږ وکړ چې ختیځ ولایتونه باید په نړیوال سوداګریز مرکز بدل شي او ددې لپاره یې اړینه وګڼله چې ننګرهار ولایت باید له نړیوالو بازارونو سره ونښلول شي. دوی دې موخې ته د رسیدو لپاره افغان حکومت او نړیوالې ټولنې ته وړاندیز وکړ چې له ننګرهار ولایت نه د لغمان، نورستان او بدخشان له لارې د چین هیواد تر سرحده پورې یوه لویه سوداګریزه لاره جوړه کړي چې دا به په اسانۍ سره ختیځ د نړۍ له یو لوی اقتصادي ځواک چین سره ونښلوي. نو په دې اساس به هم سیمه په یو لوی نړیوال سوداګریز مرکز بدله شي، خلکو ته به کار پیدا شي او ټول ختیځ کې به اقتصادي پرمختګونه رامنځته شي او هم به په دې سیمه کې سوله او ثبات ټینګ شي.

**د ځمکو اصلاحات:** ګډونوالو د ځمکې غصب په قومي شخړو او د ځمکې مافیا پورې وتړلو. دا موضوع دلته نوره هم پیچلې شوې ده چې زیاتره لانجمنې ځمکې د دولت ملکیت دي. ګډونوالو پر حکومت غږ وکړ چې داسې یو نوی میکانیزم رامنځته کړي چې د

ځمکو لانجې حل کړي. نوی میکانیزم باید داسې وړتیا ولري چې د دولتی او شخصی ځمکې سره بیلې کړي او د ځمکو لپاره قانوني ملکیت وټاکي. همدارنګه ځمکې خپلو اصلي مالکانو ته وسپاري او د ځمکو غاصبینو ته سزا ورکړي. د کوز کنړ ولسوالۍ یو بزګر وویل چې:

> ددې لپاره چې د ځمکو پر سر قومي او نورې شخړې پای ومومي، حکومت باید یو هر اړخیز پروګرام تر لاس لاندې ونیسي چې دولتي او شخصي ځمکې مشخص کړي، د ځمکو مسلې د هیواد په کچه اصلاح شي او د ځمکو پر سر لانجې پای ته ورسوي.

**د سولې د پروسې پیاوړتیا:** ګډونوالو په مستقیم ډول د سولې پروسې په اړه وړاندیزونه وکړل او هغې د بریالیتوب لپاره یې یو لړ اړین عناصر په لاندې ډول په ګوته کړل:

ملي امنیتي ځواکونه باید په داسې ډول پیاوړي شي چې په وسله والو مخالفینو په لویه کچه نظامي فشار راوړي ترڅو دوی د سولې پروسې سره یو ځای کولو ته اړ کړي.

د سولې په پروسه کې د ښځو او نارینه وو، ځوانانو، قومي مشرانو، پوهنتون استادانو، لړګیو او د رواني جګړې قربانیانو په ګډون د مدني ټولنو د استازو له پراخ شرکت څخه ډاډ ترلاسه شي. د ښځو پر رول باندې په دې ډول ډیر ټینګار وشو چې ښځه د تورسرې په توګه ډیر درناوی لري او کولای شي چې وسله وال مخالفین قانع کړي چې د سولې له پروسې سره یو ځای شي. یوې ښځینه مدافع وکیلې وویل:

> مونږ د سولې په پروسه کې ځینې ښځې لرو چې په دولت کې یې کار کړی دی او د وسله والو مخالفینو لپاره هدف دي. ددوی ټاکنه تر ډیره سمبولیکه وه، ترڅو نړیوالې ټولنې ته وښیي چې د سولې په پروسه کې د جندر مساوات په پام کې نیول شوی دی. خو هغه ښځې چې له دولت سره یې کار نه دی کړی په غوره توګه کولای شي د دولت او وسله والو مخالفینو ترمنځ منځګړیتوب وکړي. که دوی لاړې شي چې له وسله والو مخالفینو سره خبرې وکړي، نو هغوی به یې هدف لاندې ونه نیسي ځکه چې تورسرې د افغاني دود او اسلامي شریعیت له مخې د درناوي وړ دي.

همدارنګه د جګړې د قربانیانو رول هم اغیزمن وګڼل شو. د نجونو د ښوونځی یوې ښوونکې څرګنده کړه چې:

> هغه خلک چې د رواني جګړې په پایله کې زیانمن شوي وي، د بیلګې په توګه هغه کورنۍ چې د کورنۍ غړي یې په هوایي بریدونو، چاودنو او یا ځانمرګو

بریدونو کې له لاسه ورکړي دي، کولای شي په اسانۍ سره وسله والو مخالفینو ته ورشي او ورسره مذاکرات وکړي.

په زړه پورې دا چې ځینو ګډونوالو په جګړه کې د ښکیلو غاړو ترمنځ د منځګړیتوب لپاره د نړیوالو سازمانونو رول ډیر مهم وګڼلو. د بشر حقونو خپلواک کمیسیون یوې ښځینه کارمندې وویل چې:

> هغه نړیوال سازمانونه چې د هیڅ غاړې ملاتړ نه کوي، کولای شي چې د دولت او وسله والو مخالفینو ترمنځ منځګړیتوب وکړي. د بیلګې په توګه د سره صلیب نړیواله کمیټه.

زیاتره ګډونوالو د سولې ولایتی شورا پر اوسنی جوړښت نیوکې وکړې او د هغوی فعالیتونه یې تر پوښتنې لاندې ونیول. دوی د شورا د اوسنی غړیو په وړتیا اندیښنه څرګنده کړه او استدلال یې کاوه چې هغوی د منځګړیتوب رول په اغیزمنه توګه نشی ترسره کولای. دوی له حکومته وغوښتل چې د شورا اوسنی جوړښت باندې بیا کتنه وکړی او غړی یې بدل کړی. ځینو بیا وړاندیز وکړ چې د سولې شورا هغو غړو پرځای نوی غړی وټاکل شی چې نه دی توانیدلی له خپلو ولسوالیو او سیمو څخه وسله مخالفین د سولې پروسې سره یو ځای کړی. نوی غړی باید د پخوانیو وسله والو، علماء کرامو، د ولسوالۍ شوراګانو له مشرانو، ځوانانو او ښځو څخه وی.

ګډونوالو همدارنګه د حکومت او وسله والو مخالفینو ترمنځ د مستقیمو خبرو اترو غوښتنه وکړه. د چپرهار ولسوالۍ کې د یو مسجد ملا امام وویل چی:

> د جګړې ښکیلې غاړې باید له یو بل سره خبرو ته کیني. دوی باید یو څه امتیازات له لاسه ورکړي او یو څه ترلاسه کړي. له نرمۍ پرته سوله شونې نه ده.

## ۵. د خلکو وړاندیزونه

**د افغان ملي امنیتی ځواکونو سمون او پیاوړتیا:** (۱) د امنیتی مسؤلیت د لیږد پروسې د ورستی پړاو په توګه نړیواله ټولنه باید افغان امنیتی ځواکونه باید په غوره توګه تجهیز په ځانګړی ډول د هوای ځواک د تجهیزاتو له پلوه؛ (۲) په ملی امنیتی ځواکونو کې شته فساد باید، عاملینو ته د سزا په ورکولو سره له منځه یوړل شی؛ (۳) له پاکستان سره د ګډې پولې امنیت د اوږدمهالې سولې لپاره اړین دی. په دې موخه باید د پولې په اوږدو کې دایمی پوستې جوړې شی او پر پوله د شته لویو لارو پر سر باید سرحدی او نور امنیتی ځواکونه واچول شی، ترڅو د وسله والو د تګ او راتګ مخه ونیول شی؛ (۴) په ملی امنیتی ځواکونو او حکومت باندې د ولس د اعتماد ترلاسه کولو لپاره دد ملی امنیتی ځواکونو له خوا عملیاتو په لړ کې د ملکی وګړو مرګ ژوبلې څخه مخنیوی اړین دی؛ (۵) په کلیو او

ولسوالیو کې د شخصي او قومي شخړو د مخنیوی په موخه د ملي امنیتي ځواکونو په ځانګړی ډول د ملي پولیسو او محلي پولیسو تغیر او تبدیل یا ګرځنده کول اغیزمن ثابتیدی شي؛ (۶) امنیتي منابع په ځانګړی ډول سرتیري او پولیس باید د اړمنو ولسونو د ساتنې په موخه وګمارل شي، نه د سیاسي مشرانو او چارواکو د ساتنې لپاره.

**د وسله والو ضد هڅو زیاتول:** (۱) له پاکستان څخه د افغان کډوالو بیرته راستنول، د تروریزم او وسله والو پر ضد د روښانه او اغیزمنې پالیسۍ جوړول، په وسله والو مخالفینو د مالي سرچینو لکه د کوکنارو کرکیله، د مخدره توکو قاچاق او غیرقانوني مالیاتو بندول په ننګرهار کې او په ټوله کې د افغانستان په کچه د سولې راوستلو لپاره مهم دي؛ (۲) حکومت باید د استخباراتي مالوماتو راټولو تخنیکونه پیاوړی کړي؛ (۳) د ملي امنیتي ځواکونو چاڼیز عملیات باید دوامداره وي او موخه یې باید په ولسوالیو کې تلپاتې امنیت او سوله وي، نه لنډمهاله او په وسله والو مخالفینو نظامي فشار زیات شي چې له سولې پروسې سره یو ځای شي.

**د سیمه ایزې حکومتدارۍ اصلاح:** (۱) د ټولټاکنو د پروسې په ګډون په سیمه ایزه حکومتدارۍ کې پراخه اصلاحات د ولسي، قومي او توکمیزو شخړو د پای ته رسولو لپاره اړین دي؛ (۲) اهل او ژمن افراد باید د نااهله او فاسدو سیمه ایزو چارواکو ځای ونیسي؛ (۳) د حکومت بې خرته اداري بیوروکراتیک پروسجر باید د بیاکتنې لاندې ونیول شي، څکه چې په ادارو کې کاغذپراني ولسونو ته د پروژو او خدماتو په وړاندې کولو کې ځنډ رامنځته کوي. ددې پرځای باید سیستم برښنایي شي، ترڅو ولس اړینې تکنالوژۍ ته لاس رسی پیدا کړي؛ (۴) د حکومت او چارواکو د حساب ورکونې لپاره د رسنیو خپلواکي اړینه ده. رسنۍ باید د چارواکو د کړنو په اړه راپور جوړولو ته پام زیات کړي چې دا به په خپل وار سره په ادارو کې شفافیت رامنځته کړي او اداري فساد کې به کموالی راشي.

**د قانون حاکمیت پیاوړتیا، د ټولنیز عدالت تأمین او د معافیت سیستم له منځه وړل:** (۱) د قانون حاکمیت د پیاوړتیا لپاره په عدلي او قضایي ارګانونو کې له فساد سره مبارزه مهمه ده.

**د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ څخه ملاتړ:** (۱) باکیفیته زده کړې، د ځوانانو لپاره د کارونو موندل، پرمختیایي پروژو او خدماتو ته مساوي لاس رسی او د هغوی عادلانه ویش، په ننګرهار کې د تلپاتې سولې او ټیکاو لپاره مهم دي؛ (۲) پروژې او خدمات باید د اړتیا ارزونې پر بنسټ ترسره شي. هغه ولسونه چې اړمن دي باید په لومړیتوب کې قرار ولري؛ (۳) ختیځ باید په نړیوال سوداګریز مرکز بدل شي او ددې لپاره باید حکومت او نړیواله ټولنه ننګرهار ولایت د لغمان، نورستان او بالاخره بدخشان له لارې له چین سره د یو ستر سړک له لارې ونښلوي.

**د ځمکو اصلاح:** (۱) حکومت باید د ځمکو د لانجو حل په موخه یو نوی میکانیزم جوړ کړی. دغه میکانیزم باید وکولای شي چې د شخصي او دولتي ځمکو بریدونو په ټاکلو سره قانوني مالکیت رامنځته کړي او ځمکې خپلو څښتنانو ته وسپاري او د ځمکو غاصبین په سزا ورسوي.

**د سولې د پروسې پیاوړتیا:** (۱) د ملي امنیتي ځواکونو پیاوړی کول ترڅو په وسله والو مخالفینو د نظامي فشار په راوړلو سره هغوی سولې کولو ته اړ کړي؛ (۲) د سولې په پروسه کې د ښځو او نارینه وو، ځوانانو، پوهنتون استادانو، قومي مشرانو، لړکیو او د جګړې د قربانیانو په ګډون د مدني ټولنو د استازو نماینده ګی او پراخه شرکت اړین دی؛ (۳) هغه نړیوال سازمانونه چې د هیڅ غاړې ملاتړ نه کوي، باید د جګړې د دواړو غاړو ترمنځ د منځګړیتوب رول ترسره کړي؛ (۴) د ولایتي سولې شورا جوړښت ته باید بیا کتنه وشي او غړي یې باید بدل شي. د شورا هغه غړي چې نه دي توانیدلي له خپلو سیمو او ولسوالیو څخه وسله وال له پروسې سره پخلا کړي، ګوښه شي. د هغوی پرځای باید نوي غړي لکه پخواني وسله وال، علماء کرام، د ولسوالۍ شوراګانو مشران، ځوانان او ښځې وټاکل شي.

# د کنړ ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

دسولی دا ولایتی نقشه دا د هغو مسایلو او سپارښتنو لنډیز دی چې د سولې په اړه د افغانانو خبرې اترې (ډیالوګ) د دوهم پړاو په ترڅ کې په کنړ ولایت کې د ترسره شویو سلا مشورو په پایله کې راپورته شوی دی. نوموړې سلا مشورې په کنړ ولایت کې د ۱۵۵ نفرو سره د ګروپی غونډو، انفرادی مرکو او د نظریاتو د ټولونې (سروې) له لارې ترسره شوې دی. ددې پروګرام ګډون کوونکی د حکومت د کارمندانو، د ټولنې د مشرانو، علماء کرامو، بزګرانو، ښوونکو، د مدنی ټولنو استازو او د سولې پروسې سره د یو ځای شوو طالبانو په ګډون د ټولنې له مختلفو سیاسی او ټولنیزو قشرونو څخه ټاکل شوی وو. تر ټولو مهمه دا چې، هڅه شوې د ښځو او ځوانانونظریات راټول شی ترڅو د ټولنې د هر اړخیز استازیتوب بیلګه اوسی.

دا خبرې اترې د سولې د پروګرام په اړه د افغانانو د ډیالوګ د دوهیم پړاو د یوې برخې په حیث ترسره شوی کوم چې د مدنی ټولنې د نږدې ۱۱ شبکو او د افغاانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون په ګډون  له خوا پیل شوی څو د نږدې ۴۵۰۰ عادی افغانانو سره مشورې ترسره کړی او د هر ولایت لپاره د سولې یوه طرح را منځ ته کړی.

## ۲. ولایتی انځور: جغرافیه، سرشمیرنه، او سیاسی شالید

کنړ ولایت د هیواد په شمال ختیځ کې پروت دی. په لویدیځ کې له لغمان، په شمال کې له نورستان، په سویل کې له ننګرهار او په ختیځ کې له ګاونډی هیواد پاکستان سره اوږده ګډه پولی لری. د ۴۳۳۹ کیلومتره مربع مساحت په درلودلو سره، کنړ ولایت په ټولیزه توګه د هیواد د خاورې دوه سلنه جوړوی. د ولایت ۹۰ سلنه غرونه، ځنګلونه او درې جوړوی او خلک یې په تیت او پرک ډول میشته دی.

د کنړ ولایت د مرکز اسعدآباد په ګډون ۱۵ ولسوالۍ لری چې له هغې ډلې شپږ (خاص کنړ، سرکانۍ، مروره، شیګل، دانګام او ناړۍ) ولسوالۍ یې له پاکستان سره ۲۶۰ کیلومتره په اوږدوالی ګډه پوله لری. د ګډې پولې په اوږدو کې ۱۲ لویې لارې شتون لری چې دغه ولایت د پاکستان د قبایلی سیمې او خیبر پښتونخوا ایالت سره نښلوی او د وسله والو مخالفینو لپاره، ولایت ته د اسانه ننوتو زمینه برابره کړې ده.

کنړ یو زراعتی ولایت دی. نژدې ۲۴۰۰۰ هکتاره زراعتی ځمکه لری چې ۱۸۰۰۰ هکتاره یې خړوبه شوې ده. د زراعتی تولیداتو سربیره، ځنګلات، مالداری، د معدنونو استخراج لکه کهربا، کونزایت، کرومایت او لاجورد د محلی عایداتو اصلی سرچینې دی. د چارتراشو قاچاق د غیرقانونی عاید ستره سرچینه تشکیلوی.

د کنړ ولایت نفوس د ۵۰۰۰۰۰ وګړو شخه لږ اټکل شوی دی چې ۷۰۰۰۰ هغه یې په مرکز اسعدآباد کې میشته دی. د توکمیز، قومی او ژبنیز جوړښت له مخې په کنړ ولایت کې ګڼې ډلې اوسی چې پښتانه یې اکثریت جوړوی چې په ګڼو قبیلو لکه صافی، سالارزی، مومند، مشوانی او نورو باندې ویشل شوی دی. د نورستانی او ګوجرو په ګډون ځینې نور لږکی لکه قندهاری، چالاسی، یوسفزی، کوهستانی، کوچی او الکوزی هم په کنړ ولایت کې میشته دی. د ولایت ۹۰ سلنه خلک په پښتو ژبه خبرې کوی. همدارنګه ځینې خلک یې په نورستانی ژبه (په غازی آباد کې)، پشه یی ژبه (نورګل کې) او په ګوجری ژبه هم ګړیږی.

د کنړ ولایت د انقلابونو د زیږنځای په نامه شهرت لری. ځایی خلک ادعا کوی چې د برطانویانو، روسانو او طالبانو پر ضد د مقاومت لومړنی خوځښتونه په دې ولایت کې پیل شوی دی. همدارنګه کنړ د بهرنیو تروریستی شبکو لپاره مصؤن پټنځای ګڼل کیږی. له پاکستان سره نه کنټرولیدونکې پوله او د ننوتو لپاره د ولایت پرانستې ساحې چې ډیرې سمڅې لری د یاغی ډلو د بریدونو لپاره تاکتیکی ګټې لری.

سیاسی خوځښتونه چې په اسلامی انګیرنو ولاړ دی لکه سلفیان په ځایی خلکو کې له ژور ملاتړ شخه برخمن دی. د اسلامی حزب شخه وروسته چې د ولایت تر ټولو بانفوذه سیاسی ګوند ګڼل کیږی، افغان ملت او اسلامی جمعیت لوی سیاسی ګوندونه دی. د دولت په وسله والو مخالفینو کې د ، القاعده، ځایی طالبان او پاکستانی طالبان یا تحریک طالبان پاکستان په کنړ ولایت کې خپل فعالیتونه ترسره کوی.

## ۳. د جګړې یا شخړې شننه: د شخړو ډولونه او سرچینې

د کنړ ځایی اوسیدونکو د روانې جګړې یو لږ ډولونه په ګوته کړل، خو د شخړو او امنیتی وضعیت په ارزونه کې د دوی نظریاتو له یو بل سره توپیر درلود. ځینو ګډونوالو په دې برخه کې د پرمختګ په یادولو سره وویل چې د نړیوالو نظامی ځواکونو د وتلو راهیسې یوه ډله وسله والو مخالفینو جهاد ته د پای ټکی کیښود او بیرته خپلو سیمو ته ستانه شول. د کنړ یو قومی مشر وویل:

> "د نړیوالو نظامي ځواکونه له وتلو وروسته، ډیرو مخالفو جګړه مارانو جګړه پریښوده او دوی پر دې عقیده وو چې نور د افغان ځواکونو سره جګړه مشروعیت نلري."

ولې نورو ګډونوالو بیا ادعا کوله چې د حکومت او افغان ملی امنیتی ځواکونو د کمزورتیا له امله امنیتی وضعیت خراب شوی دی، ځکه چې د ولایت په ډیرو سیمو کې د تګ راتګ آزادی راکمه شوې ده او د واکسیناسیون په ګډون د بشری مرستو په رسولو کې خنډونه د ناوړو پایلو لامل شوی دی.

**د شخړو ډولونه:** ګډونوالو په لاندې ډول د روانو شخړو یو لړ ډولونه راپه ګوته کړل:

- د دولت پلوه ځواکونو او مخالفو وسله والو ترمنځ روانې جګړې: ګډونوالو د یاغی ډلو یو لیست وړاندې کړ چې د دولت پلوه ځواکونو پر ضد جګړه کوی. لکه د افغانستان اسلامی امارت، اسلامی حزب، تحریک طالبان پاکستان، حرکت الانصار، تحریک نفاذ شرعیه، حزب المجاهدین، لشکر جنګوی، تحریک سلفیه او لشکر طیبه.
- په افغانستان کې د بهرنیو هیوادونو په ځانګړی ډول د پاکستان لاسوهنې: ډیری ګډونوال په دې اند دی چې تحریک طالبان پاکستان او او حقانی شبکه د پاکستان استخباراتی ادارې یا آی ایس آی په لارښوونه او استازیتوب جګړه پرمخ بیایی.
- د افغان امنیتی ځواکونو په ملاتړ د نړیوالو نظامی ځواکونو عملیات، په ځانګړی ډول د بې پیلوټه الوتکو هوایی بریدونه.
- د پاکستانی ځواکونو له خوا د توغندیو وارول: که څه هم د نوموړو بریدونو موخه وسله وال مخالفین دی، خو د کنړ ولایت په ځینو ولسوالیو لکه دانګام، مروره او سرکانو کې د ملکی مرګ ژوبلې او مالی زیانونو لامل ګرځی.
- شخصی او قومی خپل منځی دښمنۍ.
- ځایی سیاسی تربګنۍ: چې ډیری یې د اسلامی حزب او اسلامی جمعیت له مخالفتونو سرچینه اخلی.

**د شخړو سرچینې:** ګډونوالو په کنړ کې د شخړو د سرچینو یو پیچلی لړلیک را په ګوته کړ. د پوهنتون یو استاد وایی چې د چارتراشو قاچاق، د قیمتی کانو غیرقانونی راویستنه، په قضایی او نورو ادارو کې پراخه فساد، د قانون حاکمیت نشتوالی، د حکومتی چارواکو ناوړه او غیر اخلاقی کړنې، د سولې د هڅو څخه د علماء کرامو ویستل، او له پاکستان څخه راستنیدونکی کډوال چې زیاتره یې د مخالفینو پلوه دی، د روانې شخړې اصلی محرکې قوې ګڼل کیږی.

**فساد او معافیت:** اداری فساد په بار بار د ګډونوالو له خوا د شخړو د یوې سرچینې په توګه مطرح شوی دی چې د حکومت په ټولو اداری او امنیتی برخو کې یې نفوذ کړی دی. په کنړ کې د بزګرانو یوې ډلې ادعا کوله چې:

"په کنړ کې د جګړې تر ټولو ستر لامل په حکومتي ادارو کې اداري فساد دی".

دوی په چارواکو کې د زده کړو او وړتیاوو نشتوالی ته ګوته ونیوه او ادعا یې وکړه چې دوی د خپلوۍ پالنې پر بنسټ ګمارل شوی دی.

د ښوونکو، کورنیو ښځو، ډاکټرانو او د پوهنتون محصلینو په ګډون د ښځو یوې ډلې د معارف یا د پوهنې په سیستم کې د اداری فساد په اړه خبرې کولې. دوی وویل:

> "د پوهنې په ریاست، پوهنتون او ښوونځیو کې فساد زیات شوی دی. هغه زده کوونکي چې بډې ورکولی شي او یا یې خپلوان په حکومت کې په لوړو پوستونو کار کوي، کولای شي چې د کانکور په ازموینه کې بریالي شي. د پوهنتون فارغین چې بډې نشي ورکولای او یا په حکومت کې خپلوان نلري، نشي کولای چې حتی دندې ترلاسه کړي."

همدارنګه دوی د ښوونکو علمی سویه تر پوښتنې لاندې نیسی او وایی چې وړتیاوې یې تقریباً صفر دی. کله چې اداری فساد او د پوهنې ټیټ کیفیت سره یو ځای شی، نو بې سوادی او په پایله کې بې کاری زیږوی. ګډونوال دا ټول په مستقیم ډول له روانې جګړې سره تړلی ګڼی او استدلال کوی چې د بیکارۍ د کچې لوړوالی او د کاری فرصتونو نشتوالیددې لامل کیږی چې د ډیری ځوانانو لپاره د مخالفو وسله والو په لیکو کې کار د عاید پام وړ منبع وګرځی.

همدارنګه د ښوونکو او مدنی ټولنو له استازو سره په یوه ناسته کې په رسنیو یا مطبوعاتو کې د فساد شتون ته هم ګوته ونیول شوه او استدلال یې کاوه چې د ژورنالستانو له خوا د بډو اخیستل چې د چارواکو ناوړه کړنې ونه څیړی او راپور یې نکړی، ددې لامل شوی دی چې په کنړ کې د معافیت فرهنګ ته په پراخه کچه وده ورکړی.

**د مسلح قواوو لخوا د ملکی خلکو بشری حقونو تر پښښی کول:** په ټولیز ډول خلک د افغان ملی امنتی ځواکونو کړنې د روانې جګړې سرچینه ګڼی. ځینو ګډونوالو د افغان امنیتی ځواکونو چارواکی او قوماندانان په فساد تورن کړل او ادعا یې کوله چې دوی حکومتی تیل او پطرول د خپلو شخصی ګټو په موخه پلوری. ځینو بیا له امنیتی ځواکونو سره د ولس د کرکې او کینې یادونه وکړه چې د شپې د تلاشۍ د عملیاتو یا چاپو په پایله کې په ولس کې رامنځته کیږی اوپه ځینو حالاتو کې خلک مجبوریږی چې د وسله والو مخالفینو په لیکو کې ودریږی. په کنړ کې د یوې رسنۍ څښتن د یو ځایی اوسیدونکی بیلګه وړاندې کړه چې هغه په دولت کې کار کاوه او وروسته له هغې د مخالفینو سره یو ځای شو چې افغان امنیتی ځواکونو یې په شیګل ولسوالۍ کې په کور د شپې له خوا چاپه واچوله.

ځینو ګډونوالو ادعا وکړه چې نړیوال نظامی ځواکونه او افغان ملی امنیتی ځواکونه د ځینو خلکو له خوا چې خپلې شخصی او قومی تربګنۍ پالی، تیرایستل کیږی. یو ژورنالست وویل:

"دقومونو او کورنيو ترمنځ شخصي دښمنۍ چې د غلطو او ناوړه راپورونو سرچينې ګڼل کيږي د روانې شخړې له زياتيدو سره مرسته کوي. نړيوالو نظامي ځواکونو او افغان امنيتي ځواکونو ته د شخصي عقدو پر بنسټ غلط راپورونه ورکول کيږي."

د نړيوالو امنيتی ځواکونو کړنې د ځينو ګډونوالو له خوا د جګړې د سرچينې په توګه يادې شوې خو د ناستې په پايله کې د خلکو نظريات سره ويشلی وو. ځينو يې له پاکستان سره د پولې خوندی ساتلو او د مخالفينو د کړنو کمولو په موخه د بې پيلوټه الوتکو عملياتو او هوايی بريدونو څخه د يوې اغيزمنې وسيلې په توګه ننګه کوله. او ځينو يې بيا د ملکی مرګ ژوبلې لامل ګڼله چې په پايله کې د خلکو غوسه راپاروی.

**دبهرنی هيوادونو مداخلی:** د هندوستان، ايران او پاکستان لاسوهنې د خلکو له خوا په بار بار د جګړې د اصلی سرچينې په توګه مطرح کيدلې، په ځانګړی ډول د پاکستان پر وړاندې د خلکو نفرت څرګند ؤ. ګډونوالو د پاکستان څارګره اداره يا آی ايس آی د وسله والو مخالفينو په مستقيم ملاتړ او تمويل تورنه کړه او زياته يې کړه چې د پاکستانی ځواکونو له خوا د توغنديو وارول چې ګويا د مخالفينو پر وړاندې يې ترسره کوی د ملکی مرګ ژوبلې لامل کيږی او په ولس کې ويره خپروی.

**عدالت ته محدود لاس رسی:** د يو اغيزمن رسمی عدلی او قضايی سيستم نشتوالی هم د جګړې د يوې سرچينې په توګه وګڼل شو. سربيره پردې، ددوی په فکر طالبانو ددې تشې څخه ګټه پورته کړې او زياتره خلک د خپلو لانجو د غوڅولو په موخه دوی ته مخ اړوی. د کنړ يو قومی مشر يوه بيلګه وړاندې کړه. هغه د طالبانو له يوه غړی سره شخصی لانجه درلوده، سره له دې چې هغه يو حکومت پلوه مشر دی خو د رسمی محکمو د اغيز نشتوالی له امله يې خپله لانجه د غوڅولو په موخه د طالبانو محکمې ته يوړه. د طالبانو قاضی د اسلامی شريعت په رڼا کې خپله پريکړه د طالبانو د غړی نه، بلکې د قومی مشر په ګټه تمامه کړه. نوموړی قومی مشر استدلال کوی چې د طالبانو دا ډول کړنې په ولس کې د هغوی ملاتړ زيات کړی دی او د هغه په اند د دولت رسمی عدلی او قضايی سيستم زيانمن شوی دی.

په پای کې د دينی علماء کرامو په يوه ناسته کې اسلامی شريعت ته د حکومت د وفادارۍ نشتوالی د جګړې د يوې سرچينې په توګه په ګوته شو. دوی وويل:

"اوسنی حکومت يو اسلامي حکومت دی، ولې په اسلامي شريعت ولاړ نه دی. دغه حکومت د اسلامي اصولو په رڼا کې رامنځته شوی دی، خو اسلامي شريعت نه پلی کوي. مونږ په دې باور لرو چې که چيرته حکومت اسلامي شريعت پلی کړي، نه به جګړه وي او نه هم کومه شخړه."

## ۴. د سولې لپاره تګلاره

**د افغان ملي امنیتی ځواکونو سمون او پیاوړتیا:** ګډونوال په ټول ختیځ زون کې د امنیت راوستلو لپاره د کنړ ښه امنیت اړین ګڼی، ځکه چې کنړ له پاکستان سره نه کنټرولیدونکې پوله لری. نو په دې ډول د پولې په اوږدو کې د شته لارو او ګودرونو د څار په موخه د ملی امنیتی ځواکونو او پوله ساتو ځواکونو د ډیریدا غوښتنه وکړه. د مرورې ولسوالۍ یو بزګر په حکومت غږ وکړ چې:

"حکومت دې د پولې په اوږدو کې خپلو کړنو ته پام وکړي، ترڅو دې ولایت ته د وسله والو مخالفینو له ننوتو څخه مخنیوی وشي. مونږ له پاکستان سره نژدې ۲۴۰ کیلومتره اوږده پوله لرو چې په اوږدو کې یې نژدې ۲۶ لویې او کوچنۍ لارې وجود لري. ددوی له ډلې یې یوازې څلورو کې لکه غاښي (مروره ولسوالۍ) نواپاس (سرکاني)، بین شاهي (دانګام) او دوکالام (ناړۍ) کې سرحدي پولیس پراته دي، ولې دغه شمیره اغیزمنه نه ده. حکومت باید ددوی شمیر زیات کړي او امنیتي ځواکونه ستراتیژیکو لارو کې ځای پر ځای کړي."

همدارنګه ګډونوالو په افغان ملی امنیتی ځواکونو کې د اصلاحاتو راوستلو غوښتنه وکړه. دوی په خپلو سیمو کې د وسله والو مخالفینو سره په مبارزه کې او د مخالفینو او مجرمینو په نیونه او تعقیب کې د ملی امنیت ریاست او افغان ملی پولیسو د اغیزمنتیا نشتوالی ته ګوته ونیوه. د وټه پور ولسوالۍ یو کارګر داسې څرګنده کړه:

" په کنړ کې د ملي امنیت ریاست او ملي پولیسو کمزورتیا د مخالفینو د پیاوړتیا لامل شوی دی. دوی د مخالفینو پر وړاندې چې په ولسوالیو او کلو کې ازادانه تګ او راتګ کوي، هیڅ جدي اقدامات نه کوي. کله چې ملي امنیت او یا ملي پولیس د طالبانو کوم غړی ونیسي، وروسته له یو څو میاشتو خوشي کیږي. چې بیا طالب د هغه پولیس یا ملي امنیت کارمند د وژلو هڅه کوي چې نوموړی یې نیولی ؤ. نو په داسې حالاتو کې ملي پولیس او ملي امنیت د طالبانو له خوا د غچ اخیستو له ویرې د هغوی پر وړاندې عمل نه کوي."

ګډونوالو غوښتنه وکړه چې د ملی امنیت او ملی پولیسو په لیکو کې باید د نورو ولایتونو خلک وګمارل شی، ترڅو د سیاسی، قومی او جرمی تړاوونو پر بنسټ د خپلوۍ پالنې او فساد مخنیوی وشی او همدارنګه د وسله والو مخالفینو له خوا د ملی پولیسو او ملی امنیت له کارکوونکو څخه غچ اخیستنه ناشونی شی. په اسعدآباد کې یو پخوانی جهادی قوماندان په ملی امنیت او ملی پولیسو کې سیاسی اړیکی او خپلوۍ پالنې څخه یادونه وکړه:

"د کمونیست رژیم پخوانیو غړو ترمنځ چې په ملي امنیت ریاست او ملي پولیسو کې کار کوي، سیالۍ او تربګنۍ روانې دي. د ملي امنیت د زیاترو څانګو مسؤلین د پخواني خلق دیموکراتیک ګوند غړي دي."

همدارنګه غوښتنه وشوه چې د افغان ملی امنیتی ځواکونو په اخلاقو او مسلک باندې باید جدی کار وشی، چې په دې کې یو لړ مهم مسایل لکه غوره روزنه، د سرتیرو تجهیزول، د فساد پر وړاندې مبارزه او د امنیتی ځواکونو په رتبو کې د بې عدالتۍ له منځه وړل شامل دی. په مرکز اسعدآباد کې د نجونو د ښوونځی یوې مدیرې وویل:

"افغان ملي امنیتي ځواکونه باید په درنو وسلو سمبال شي او یا لږ ترلږه هغه وسلې ولري چې له طالبانو او یا نورو مخالفو وسله والو سره نه وي."

**د امنیت او ټیکاو ټینګښت:** د جګړې د هغو سرچینو د له منځه وړلو سربیره چې پورته یې یادونه وشوه، ګډونوال په کنړ کې تلپاتې سوله په یو لړ امنیتی اقداماتو پورې تړلې ګڼی. د بیلګې په توګه د قیمتی کانو، مخدره موادو او چارتراشو د قاچاق په ګډون د وسله والو مخالفینو د تمویل د ټولو غیرقانونی سرچینو بندول، په پاکستان کې د میشتو افغان کډوالو د مسلې لپاره یوه دایمی حل لاره لټول، د پاکستانی ځواکونو له خوا د توغندیو وارولو د بندولو په ګډون له پاکستان سره د یو امنیتی تړون پر سر خبرې اترې او ددې ترڅنګ د یوې منظمې او اغیزمنې ملی امنیتی پالیسۍ جوړول.

**د ښې حکومتدارۍ پیاوړتیا:** ګډونوالو د اداری فساد او په استخدام کې د خپلوۍ پالنې، په دولتی ادارو کې د لوړې کچې بیروکراسۍ (کاغذ پرانۍ) شتون او په دولتی دندو د ګمارنې په پروسه کې د روڼتیا د نشتوالی په ګډون د حکومتدارۍ اړوند یو لړ ستونزو څخه یادونه وکړه. د اداری فساد د مخنیوی په موخه د ولسمشر ۴۵مه ګڼه فرمان د پلی کیدو غوښتنه وشوه ترڅو وړ او د کار اهل کسان د غیرمسلکی چارواکو ځای ونیسی.

همدارنګه ګډونوالو له دولت څخه وغوښتل چې دوه ګونی او بې ګټې اداری چې مستقلې دی خو یوه دنده سرته رسوی له منځه یوسی او په اداراتو کې د مکافات او مجازات اصل پلی کړی ترڅو هغه چارواکی چې ښه دنده سرته رسوی مکافات شی او هغه چې په فساد کې ښکیل دی او ښه دنده سرته نه رسوی په سزا ورسول شی. نوموړی معیار کولای شی چې د څارنې یو بشپړ میکانیزم رامنځته کړی ترڅو د سیمه ایزې حکومتدارۍ او چارواکو په کړنو څارنه وکړی او له بله پلوه د پلان جوړونې سره مرسته وکړی. د وټه پور ولسوالۍ یو قومی مشر داسې څرګنده کړه چې:

"ولایتي چارواکي خپلو اړوندو ادارو یا مرکزي چارواکو ته د خپل ولایت د امنیت حقیقي انځور نه وړاندې کوي. دوی یوازې د خپلو دندو پر ساتلو

بوخت دي، نو له دندې د لرې کېدو له وېرې د ولایت ستونزې له مرکزي چارواکو سره نه شریکوي."

سربېره پردې، خلک غواړي چې دولت په سیمه ایزو ادارو کې د ځوانانو ونډه زیاته او وهڅوي. ددوی په اند دا کولای شي چې حکومتي ادارې پیاوړې کړي او د خلکو ونډه په سیمه ایزه کچه زیاته کړي.

ګډونوال همدارنګه له حکومتي چارواکو څخه غوښتنه کوي چې د خپلو ادارو له کونجونو څخه د ولسوالیو او ولس پر لور چې د خدماتو او سکون تږي دي، راووځي. چې دا اقدام به د مرکز او ولسوالیو د نښلولو سربېره، په له پامه غورځولو شویو خلکو کې د حکومت انځوراو حیثیت پیاوړي کړي او د حکومتي چارو او کړنو څخه به د عامه پوهاوي کچه لوړه کړي. یو کارګر وویل:

"حکومتي چارواکي او د مدني ټولنو بنسټونه باید هڅه وکړي چې خپل فعالیتونه لرې پرتو ولسوالیو او کلیو ته وغځوي. اوس مهال ټولې غونډې، ناستې او خبرې اترې د مرکز په کچه ترسره کېږي. که چیرې چارواکي کلیو او ولسوالیو ته لاړ شي او د ولس سره کېني، نو د خلکو او حکومت ترمنځ شته واټن به رالنډ کړي."

**د قانون حاکمیت او ټولنیز عدالت پیاوړتیا:** لکه وړاندې هم ترې یادونه وشوه، ګډونوالو په کنړ کې د عدلي او قضایي میکانیزمونو د کړنو په اړه جدي اندیښنې درلودې. نوموړي رسمي میکانیزمونه د ډېرو ځایي اوسیدونکو لپاره د لاسرسي وړ نه دي او یا په بله مانا نوموړي میکانیزمونه ډېر سُست، ګران او له اداري فساده ډک دي. یو ځایي کارګر یې پایله داسې بیانوي "په کنړ کې د خلکو اساسي حقونه خوندي نه دي". سره ددې چې د خلکو غوښتنه دا وه چې رسمي عدلي سیستم باید د فاسدو چارواکو د لرې کولو له لارې اصلاح شي، خو ګډونوالو ددې په اړه چې څنګه کولای شو په کنړ کې عدلي او قضایي ادارې پیاوړې کړو او په هغوی کې شته اداري فساد له منځه یوسو، کوم ځانګړي وړاندیز څرګند نه کړ.

**د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ څخه ملاتړ:** ګډونوال په کنړ کې باکیفیته معارف، د ځوانانو لپاره د کاري فرصتونو رامنځته کول، د پولې دواړو خواووته د سوداګرۍ په ګډون د ځایي کاروبار پیاوړي کول، د غیرقانوني کړنو سره مبارزه، د پرمختیایي پروژو او خدماتو عادلانه ویش او هغې ته مساویانه لاسرسي د سولې او ټیکاو لپاره اړین او بنسټیز توکي ګڼي. خو نوموړو موخو ته د رسیدو لپاره یو څو مهم وړاندیزونه مطرح شول. یو ځایي ژورنالیست په ولایت کې د صنعتي پروژو نشتوالي ته په اشارې د برښنا د یو بند جوړولو پروژې

وړاندیز وکړ. د هغه په نظر، نوموړې پروژه به په کنړ کې کاری فرصتونه رامنځته کړی او د ټول ولایت لپاره به دوامداره برښنا برابره کړی.

**د سولې د پروسې پیاوړتیا:** ګډونوالو د سولې پروسې په اړه په مستقیمه توګه خبرې وکړې او ددې پروسې د بریالیتوب په موخه یې یو شمیر اساسی فکتورونه په ګوته کړل چې ډیر اړین دی:

د سولې شورا ولایتی کمیټو په جوړښت او ترکیب کې په داسې شکل بدلون راشی چې په پراخه کچه د ښځو، ځوانانو، د مدلنی ټولنو غړو، قومی مشرانو، مذهبی مشرانو او علمای کرامو او د ولایتی شورا غړو استازیتوب پکې ډاډمن شی.

د یوې خپلواکې او دریمګړې ډلې ګمارل چې د جګړې ښکیلو غاړو ترمنځ منځګړیتوب وکړی. د پیچ درې ولسوالۍ د یو ځوان په نظر"د سولې شورا یوه خپلواکه اداره نه ده، بلکې د حکومت یوه برخه ده."

د سولې شورا د غړو هڅول چې د خپلو دفترونو څخه بهر راووځی او لرو پرتو سیمو ته سفر وکړی ترڅو د خلکو نظریات واوری او د سولې د اهمیت په اړه د عامه پوهاوی پروګرامونه په کار واچوی. د دانګام ولسوالۍ د ځوانانو یوې ټولنې مشر داسې څرګندونه وکړه:

> "د سولې شورا ولایتي کمیټه یوازې مرکز تر پوښښ لاندې لري. دوی خپلې هڅې هغو لرو پرتو ولسوالیو او کلیو ته نه غځوي چې هلته جګړه روانه ده. دوی د عامه پوهاوي کوم پروګرامونه نه لري چې د سولې او د سولې پروسې د اهمیت په اړه خلکو ته پیغام ورکړي."

باید ډاد ترلاسه شی چې د سولې پروسه یوه روښانه ستراتیژیکه اجنډا لری چې د افغان حکومت، نړیوالې ټولنې او نړیوالو نظامی ځواکونو ملاتړ له ځانه سره لری.

ددې ډاډ ورکول چې د سولې پروسې موخه د سولی راوستل او د وسله والو مخالفینو د لوړ پوړو او اصلی غړو بیرته راستنیدل دی.

له سولې پروسې سره د یو ځای شویو مخالفینو لپاره د کاری فرصتونو او زده کړو او په مُلکی ژوند کې ددوی شمولیت څخه پراخه ملاتړ.

ځینو ګډونوالو د حکومت او طالبانو ترمنځ د مستقیمو خبرو اترو غوښتنه وکړه او په قطر کې د طالبانو لپاره د دفتر پرانستل یې یو ښه ګام وګاڼه.

## ۵. د خلکو وړاندیزونه

**د افغان ملي امنیتی ځواکونو سمون او پیاوړتیا:** (۱) په کنړ کې ښه امنیت په ختیځ زون کې امنیت ډاډمنوی، ځکه چې دغه ولایت له پاکستان سره نه کنټرولیدونکې پوله لری. نو د پولی په اوږدو کې په شته لارو کې د ملی امنیتی ځواکونو او سرحدی پولیسو زیاتوالی ته اړتیا ده؛ (۲) په ملی امنیتی ځواکونو کې باید اصلاحات راشی. د ملی امنیت او ملی پولیسو ترمنځ ویش، ددې دواړو ادارو د غړو په ټاکنه کې خپلوی پالنه او فساد چې د ځایی سیاسی، توکمیز، قومی او جرمی ټراوونو پر اساس ترسره کیږی، جګړې ته لا زور ورکوی. نو د ملی امنیت او ملی پولیسو کارکوونکی باید د کنړ ولایت څخه نه وی؛ (۳) ملی امنیتی ځواکونه باید په مسلک او وظیفوی اخلاقو خپل ټینګار زیات کړی او ټول سرتیری باید په غوره توګه تجهیز او وروزل شی.

**د امنیت او ټیکاو ټینګښت:** (۱) په کنړ کې د یوې تلپاتې سولې ټینګښت په یو لړ مسایلو پورې تړاو لری. د بیلګې په توګه د قیمتی کانو، مخدره موادو او چارتراشو د قاچاق په ګډون د وسله والو مخالفینو د تمویل د ټولو غیرقانونی سرچینو بندول، په پاکستان کې د میشتو افغان کډوالو د مسلې لپاره یوه دایمی حل لاره لټول، د پاکستانی ځواکونو له خوا د توغندیو وارولو د بندولو په ګډون له پاکستان سره د یو امنیتی تړون پر سر خبرې اترې او ددې ترڅنګ د یوې منظمې او اغیزمنې ملی امنیتی پالیسۍ جوړول دی.

**د ښې حکومتدارۍ پیاوړتیا:** (۱) له اداری فساد څخه د مخنیوی په موخه د ولسمشر ۴۵مه ګڼه فرمان په بشپړه توګه پلی کول؛ (۲) دوه ګونی او غیر ضروری ادارې باید وتړل شی؛ (۳) مسلکی او وړ اشخاص باید د ناوړه او غیرمسلکی چارواکو ځای ونیسی؛ (۴) په اداراتو کې د مکافاتو او مجازاتو اصل پلی شی ترڅو هغه چارواکی چې ښه دنده سرته رسوی مکافات او هغه چې د خپلو دندو په سمه توګه سرته رسولو کې پاتې راغلی دی، په سزا ورسول شی. نوموړی معیار کولای شی چې د څارنې یو بشپړ میکانیزم رامنځته کړی ترڅو د سیمه ایزې حکومتدارۍ او چارواکو په کړنو څارنه وکړی او له بله پلوه د پلان جوړونې سره مرسته وکړی؛ (۵) ځوانان باید وهڅول شی چې په سیمه ایزه حکومتدارۍ کې ونډه واخلی. چې دا موخه د هڅونې او تشویق د یو پروګرام او یا د ځوانانو لپاره د ګمارنې د یوې پالیسۍ جوړولو له لارې ترلاسه کیدای شی؛ (۶) حکومتی ادراې او دفترونه باید خپل کارونه لرو پرتو ولسوالیو او کلیو ته وغځوی چې زیاتره یې خدماتو او کارونو ته تږی ناست دی.

**د قانون حاکمیت او ټولنیز عدالت پیاوړتیا:** (۱) په کنړ کې رسمی عدلی میکانیزمونه پڅ، ګران، له فساد ډک او زیاتره ځایی اوسیدونکو ته د لاسرسۍ وړ نه دی. په فساد کې

ښکیل چارواکی باید له دندو ګوښه شی او د قضایی او عدلی نظام په ماهیت کې سیستماتیک پرمختګونه رامنځته شی.

**د اسلامی شریعت پلي کول:** (۱) په کنړ کې د امنیت د ټینګښت او عدالت د تامین لپاره د اسلامی شریعت پلی کول یوه غوره وسیله ده؛ (۲) د اسلامی شریعت پلی کول د حکومت څخه د علمای کرامو ملاتړ د ترلاسه کولو په موخه یوه مهمه لاره ده، ځکه چې هغوی په خپل وار په خلکو او ولس کې د نفوذ او حیثیت څخه برخمن دی.

**د ټولنیز او اقتصادی پرمختګ څخه ملاتړ:** (۱) په کنړ کې باکیفیته معارف، د ځوانانو لپاره د کاری فرصتونو رامنځته کول، د پولې دواړو خواووته د سوداګرۍ په ګډون د ځایی کاروبار پیاوړی کول، د غیرقانونی کړنو سره مبارزه، د پرمختیایی پروژو او خدماتو عادلانه ویش او هغې ته مساویانه لاسرسی د سولې او ټیکاو لپاره اړین توکی دی؛ (۲) د برښنا د یو بند جوړول چې هغه په خپل وار وکولای شی کاری فرصتونه رامنځته کړی او له بله پلوه د ولایت لپاره دوامداره برښنا برابره کړی.

**د سولې د پروسې پیاوړتیا:** (۱) د سولې شورا ولایتی کمیټو په جوړښت او ترکیب کې باید بدلون راشی. په کمیټو کې په پراخه کچه د ښځو، ځوانانو، د مدلنی ټولنو غړو، قومی مشرانو، مذهبی مشرانو او علماءکرامو او د ولایتی شورا غړو شتون اړین دی؛ (۲) په جګړه کې د ښکیلو غاړو ترمنځ باید یوه خپلواکه او دریمه ډله منځګړیتوب وکړی؛ (۳) د سولې شورا غړی باید د خپلو دفترونو څخه بهر راووځی او لرو پرتو سیمو ته سفر وکړی ترڅو د خلکو نظریات واوری. او همدارنګه د سولې د اهمیت په اړه د عامه پوهاوی پروګرامونه په لاره واچوی؛ (۴) د سولې پروسه باید یوه روښانه ستراتیژیکه اجنډا ولری چې د افغان حکومت، نړیوالې ټولنې او نړیوالو نظامی ځواکونو ملاتړ له ځانه سره ولری؛ (۵) د وسله والو مخالفینو د لوړ پوړو او اصلی غړو سره سوله کول او د هغوی بیرته راستنیدل؛ (۶) له سولې پروسې سره د یو ځای شویو مخالفینو لپاره د کاری فرصتونو او زده کړو او په مُلکی ژوند کې ددوی شمولیت په موخه باید یو منظم پروګرام وجود ولری؛

# د لغمان ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه
دسولی دا ولایتی نقشه د هغو مسایلو او سپارښتنو لنډیز دی چې د سولې په اړه د افغانانو خبرې اترې (ډیالوګ) د دوهم پړاو په ترځ کې په لغمان ولایت کې د ترسره شویو سلا مشورو په پایله کې وړاندې شوی دی. نوموړې سلا مشورې په لغمان ولایت کې د ۱۱۶ نفرو سره د ګروپی غونډو، انفرادی مرکو او د نظریاتو د ټولونې (سروې) له لارې ترسره شوې دی. ددې پروګرام ګډون کوونکی د حکومت د کارمندانو، د ټولنې د مشرانو، علماء کرامو، بزګرانو، ښوونکو، د مدنی ټولنو استازو او د سولې پروسې سره د یو ځای شوو مخالفینو په ګډون د ټولنې له مختلفو سیاسی او ټولنیزو قشرونو څخه ټاکل شوی وو. تر ټولو مهمه دا چې، هڅه شوې د ښځو او ځوانانونظریات راټول شی ترڅو د ټولنې د هر اړخیز استازیتوب بیلګه اوسی.

د سولې لپاره دا محلی تګلاره د لغمان ولایتی انځور چې د هغه ولایت د جغرافیې، سرشمیرنې یا نفوسو او سیاسی شالید په اړه مالومات وړاندې کوی. د ولایت په کچه د روانې جګړې یا شخړې سرچینې او اصلی لاملونه راپیژنی. د ګډونوالو وړاندیزونه او سپارښتنې وړاندې کوی چې څنګه کولای شو د جګړې اصلی لاملونه له منځه یوسو. او د ګډون کوونکو نظریات را اخلی چې څنګه کولای شو ددوی په سیمو او لغمان ولایت کې سوله او ټیکاو ترلاسه کړو.

## ۲. ولایتی انځور: جغرافیه، سرشمیرنه، او سیاسی وضعیت
د مهترلام په ګډون، لغمان ولایت له شپږو ولسوالیو (الینګار، الیشنګ، بادپخ، دولت شاه او قرغه یی) څخه تشکیل شوی دی او نژدې ۴۳۰۸ کیلومتره مربع مساحت لریږ لغمان ولایت په ختیځ کې له کنړ، په لویدیځ کې له کاپیسا، په جنوب کې له ننګرهار، شمال کې له نورستان، شمال ختیځ کې له پنجشیر او په جنوب لویدځ کې له کابل سره ګډه پوله لری. د لغمان ولایت الینګار، الیشنګ او دولت شاه ولسوالۍ غرنۍ دی.

د لغمان ولایت د سرشمیرنې په اړه دقیقه احصایه په لاس کې نشته، خو ځایی چارواکو ددې ولایت نفوس نژدې ۸۰۰،۰۰۰ وګړیو تخمین کړی دی. ډیری وګړی یې پښتانه دی چې نژدې ۹۰ سلنه نفوس جوړوی او همدارنګه پّ دې ولایت کې پشه یی، تاجک او نورستانی هم میشت دی. پرته له دولت شاه چې ډیری وګړی یې پشه یان دی، نور په ټولو ولسوالیو کې پښتانه ډیری جوړوی. په لغمان کې د پښتنو نهه قبیلې ژوند کوی: عبدالرحیمزی، الکوزی، هودخیل، جبارخیل، نیازی، ناصر، صافی، سهاک او تره خیل. نورستانی او تاجک په ترتیب سره کټایی او پنجشیری قبیلې لری. د لغمان اوسنی والی ښاغلی فضل الله مجددی دی. په دې ولایت کې نژدې ۱۲ سیاسی ګوندونه فعال دی چې حزب اسلامی او جمعیت اسلامی یې ترټولو بانفوذه ګوندونه دی. نور فعال سیاسی ګوندونه یی دعوت اسلامی،

محاذ ملی،د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند او افغان ملت دی. لغمان ولایت په ولسی جرګه کې څلور چوکۍ لری چې درې یې نارینه او یوه یې ښځه ده. ددوی له ډلې دوه یې د حزب اسلامی، یو دعوت اسلامی او یو هم ا خ د ګ له ګوندونو دی.

په لغمان ولایت کې کرهنه، مالداری، چارتراش او د قیمتی کانو معدنونه د اقتصاد اصلی سرچینې ګڼل کیږی.

## ۳. د جګړې یا شخړې شننه: د شخړو ډولونه او سرچینې

په لغمان ولایت کې خلکو د شخړو یو لړ ډولونه په لاندې ډول په ګوته کړل. که څه هم ځینې ګډونوالو دا ومنله چې د امنیې قوماندان ښاغلی فضل احمد شیرزاد تر مشرۍ لاندې د محلی پولیسو په ګومارلو سره په امنیت کې ښه والی راغلی دی، خو سره ددې لاسته راوړنو چې په لغمان ولایت کې د تګ راتګ امنیتی محدودیتونه له منځه تللی، خو بیا هم نه دی توانیدلی چې وسله وال مخالفین وهڅوی چې د سولې له پروسې سره یوځای شی.

**د شخړو ډولونه:** په لغمان ولایت کې د ولس استازو په خپل ولایت کې د شخړو یو لړ ډولونه په لاندې ډول په ګوته کړل:

- **د دولت پلوه ځواکونو او وسله والو مخالفینو ترمنځ دوامداره جګړې.** لغمان ولایت ستراتیژیک موقعیت لری او وسله وال مخالفین کولای شی ګاونډیو ولایاتو لکه کاپیسا، پروان او کابل ته په اسانۍ سره لاسرسی ولری.
- **په افغانستان کې د بهرنیو هیوادونو په ځانګړی ډول د پاکستان لاسوهنه** او نیابتی جګړه چې د پاکستان استخباراتی اداره آی، ایس، آی یې د پاکستانی طالبانو او حقانی شبکې له لارې ترسره کوی.

**شخصی او قومی دښمنۍ:** ځایی سیاسی سیالۍ چې د حزب اسلامی او جمعیت اسلامی ترمنځ د مخالفتونو له امله لاپسې زیاتې شوی دی.

سربیره پردې، که څه هم د نړیوالو نظامی ځواکونو رول مخ په کمیدو دی، خو ګډونوالو هغوی د پخوانیو کړنو له امله د شخړې یوه سرچینه وګڼله.

**د شخړو سرچینې:** د افغان او نړیوالو نظامی ځواکونو له خوا د ملکی مرګ ژوبلې رامنځته کیدل او د لغمانیانو د ملاتړ په ترلاسه کولو کې پاتې راتلل د ګډونوالو له خوا په بار بار د جګړې د لاملونو په توګه په ګوته شول.

اداری فساد، کمزوری محلی حکومتداری، د عامه خدماتو نشتوالی او د منابعو غیرعادلانه ویش په مختلفو اشکالو جګړې ته زور ورکړ.

**د دولتی امنیتی ځواکونو ناکامی:** ګډونوالو نظر درلود چې د ملی امنیتی ځواکونو له خوا د بشری حقونو څخه د سرغړونو څخه مخنیوی د خلکو د اعتماد ترلاسه کولو او د سولې په رامنځته کولو کې اړین ګامونه ګڼل کیږی. همدا ډول د ملی امنیتی ځواکونو له خوا د ملکی مرګ ژوبلې د رامنځته کیدو مخنیوی هم په دې پوړې وتړل شول. د الینګار ولسوالۍ یو دینی عالم خپله اندیښنه داسې څرګنده کړه:

(په الینګار ولسوالۍ کې ملي امنیتي ځواکونو په خپلسري ډول هاوانونه واروي چې زیاتره په ملکي استوګنځایونو پریوځي او د ملکي مرګ ژوبلې لامل کیږي.)

ددې دینی عالم د وینا سره سم، دا ډول ملکی مرګ ژوبله ددې لامل کیږی چې ولسونه له مخالفینو سره یوځای شی.

د ولایتی شورا پخوانی مشر په اند چې د امنیتی ځواکونو پاتې راتلل او له نړیوالو نظامی ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د مسؤلیت ژر لیږد ددې لامل شو چې ځینې ځایی خلک له وسله والو مخالفینو سره یو ځای شی.

(په واقعیت کې مونږ خپلې ولسوالۍ او کلي وسله والو مخالفینو ته تسلیم کړل، ځکه کله چې ولایت د حکومت او نړیوالو نظامي ځواکونو په ولکه کې ؤ، حکومت د مخالفینو پر وړاندې مثبته پروپاګنډا ترسره نه کړه او زیاتې تیروتنې یې وکړې.)

دا ډول ستونزو، پرمختګ سُست کړی، د غربت کچه یې لوړه کړې او د بیکارۍ او بې سوادۍ لامل شوی دی.

ځینو بیا د لنډ مهاله نظامی عملیاتو پر پایلو اندیښنه څرګنده کړه. د معیوبینو د سازمان استاځی وویل چې د ملی امنیتی ځواکونو چاپیز عملیات زیاتره مؤقتی وی او وسله والو مخالفینو ته لاره هواروی چې د یوې سیمې څخه د امنیتی ځواکونو له وتلو وروسته بیرته راشی او د هغه چا په وړاندې چې له امنیتی ځواکونو سره یې مرسته کړې له غچه ډک اقدام ترسره کړی.

همدارنګه د محلی پولیسو له خوا د بشری حقونو څخه سرغړونې هم راپورته شوې. یو ځایی ژورنالیست د محلی پولیسو په قومی جوړښت باندې نیوکه وکړه او زیاته یې کړه چې دوی د خپلو ګټو پر بنسټ کړنې ترسره کوی او د قومونو او ولسونو ترمنځ د ټکړونو لامل کیږی.

**فساد ضعیفه حکومتد داری د خدمتونو نشتوالی او د سرچینو غیر عادلانه ویش:** همدا ډول د زده کړو د فرصتونو نشتوالی ددې لامل شوی چې زیاتره ځوانان له وسله والو مخالفینو له لیکو سره یو ځای شی. د ولایتی شورا د یو سلاکار په وینا چې د مخالفینو په

لیکو کې ګماریدونکې اشخاص د ۱۴ او ۲۵ کالونو ترمنځ عمرونه لري. د لغمان ولایت یو مدافع وکیل وویل چې:

(ځوانان د روانې جګړې خام مواد دي. ډېرې ځوانان بیکاره دي، نو په اسانۍ سره د جګړې په لیکو کې ګمارل کیږي.)

د خدماتو، پروژو او سرچینو په ویش کې اداري فساد شخصي او قومي شخړې رامنځته کړې دي. د مدني ټولنې یو فعال د ملي پیوستون پروګرام ته اشاره وکړه چې د هغې له لارې پیسې سیمه ایزو شوراګانو ته ورکول کیږي، ترڅو پرمختیایي پروژې پلې کړي. د قومي مشرانو له خوا د ملي پیوستون د پیسو غلا کول او یا د شورا د غړو د شخصي ګټو پر بنسټ ځینو سیمو ته د پروژو ځانګړې کول د ولسونو او قومونو ترمنځ لانجې ډیرې کړې دي.

**د رسمي عدلي قضایي میکانیزمونو نشتوالی:** د رسمي عدلي میکانیزمونو نه شتون په لغمان ولایت کې شخصي او قومي شخړې لاپسې ډیروي. رسمي عدلي میکانیزمونه لکه محکمې خلکو د لاسرسي وړ نه دي، اغیزمنې نه دي، سُستې او په فساد کې ککړې دي. نو ځکه لانجې او دعوې لاینحله پاتې کیږي او یا د معیوبینو د یوې ټولنې د استازي په وینا:

(پرته له دې چې د طالبانو د قاضیانو له خوا لانجې حل شي، بله لاره شتون نه لري).

**نا قانونه تجارت:** په لغمان ولایت کې غیرقانوني سوداګري لکه د قیمتي غمیو او د چارتراشو قاچاق د ځایي فاسدو چارواکو، جنایي ډلو او وسله والو مخالفینو لپاره مالي سرچینې جوړوي. همدارنګه دا سوداګري پر چاپیریال ناوړه اغیزې ښندي چې د ولس لپاره بدې پایلې لري، غربت زیاتوي او د خلکو عایداتي سرچینې بندیږي او په پایله کې د سیمې په پرمختګ د پانګې اچونې مخه نیسي.

## ۴. د سولې لپاره تګلاره

**د افغان ملي امنیتي ځواکونو اصلاح او پیاوړتیا:** زیاتره ګډونوالو تلپاتې سوله او امنیت د امنیتي ځواکونو په سمون او پیاوړتیا پورې غوټه کړ. چې په دې کې د امنیتي ځواکونو روزل او تجهیز په ځانګړې ډول د هوایي ځواک ملاتړ، د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي په موخه د امنیتي ځواکونو مسؤل ګڼل، وسله والو مخالفینو او جنایي ډلو سره مبارزې ته ژمن پاتې کیدل، د مسلکیتوب زیاتول او د لوړ رتبه کسانو له فساد څخه مخنیوی شامل دي. یو مدافع وکیل وویل:

(د ملي امنیتي ځواکونو د تمویل سربیره، نړیواله ټولنه باید زمونږ ځواکونو کړنې په جدي ډول تر څارنې لاندې ونیسي. په ملي امنیتي ځواکونو کې فساد

مخ په زیاتیدو دی. د ملي اردو، پولیس او ملي امنیت چارواکي د مخدره موادو په قاچاق کې ښکیل دي. تیل او وسلې غلا کیږي او بیا پلورل کیږي.)

ګډونوالو د ملی امنیتی ځواکونو او په ځانګړی ډول د محلی پولیسو د څارنې غږ پورته کړ. د یو غیردولتی سازمان مشر په مشخص ډول پر حکومت غږ وکړ چې:

(باید د ملي امنیتي ځواکونو لپاره د څارنې یو ملي میکانیزم رامنځته کړي چې د هغوی عملیات وڅاري).

د هغه په وینا دا ډول یو میکانیزم به د ملکی مرګ ژوبلې کچه راټیټه کړی، حسابدهی به زیاته کړی او د ولس سره به پیاوړې اړیکې رامنځته کړی.

د نړیوالو نظامی ځواکونو او ملی امنیتی ځواکونو په اړه د ګډونوالو نظریات سره ویشلی وو. ځینو ملی امنیتی ځواکونه کمزوری وبلل او د ټولو نړیوالو نظامی ځواکونو د وتلو څخه یې ملاتړ کاوه، ځکه چې دوی یې د جګړو اصلی سرچینه وګڼله او پر دوی یې تور پورې کړ چې د افغانستان پر وړاندې د پاکستان د ګټو ملاتړ کوی. ځینې نورو ګډونوالو د نړیوالو ځواکونو د هوایی ملاتړ غوښتنه وکړه او افغان ځواکونه یې وهڅول چې د ولسونو سره د اعتماد پُل جوړ کړی ترڅو د هغوی ملاتړ ترلاسه کړی. په ملی امنیتی ځواکونو کې اداری فساد د ولسی مخالفت د محرک او د جګړې د زیاتیدو د لامل په توګه په ګوته شو. ګډونوالو وویل چې د ملی پولیسو او ملی امنیت چارواکی د ځایی چارواکو او جنګ سالارانو سره نژدې اړیکی لری. دا اړیکې د اداری فساد او خپلوۍ پالنې لامل کیږی او په ځینو قضیو کې د جنایی شبکو معافیت ته لاره هواروی.

**د سیمه ایزې حکومتدارۍ او قانون حاکمیت پیاوړتیا او د اداري فساد سره مبارزه:** کمزورې حکومتداری او پراخ فساد په حکومت د بې باورۍ د اصلی لاملونو په توګه یاد شول. همدا ډول د توکمیز استازیتوب په اړه اندیښنې، ډیره بیروکراسی، پیچیده اداری پروسجر او د خپلوۍ پر بنسټ د چارواکو ګمارلو څخه هم یادونه وشوه. ګډونولاو په سیاسی نظام کې د بدلونونو په راوستلو او د فاسدو او ناوړه چارواکو په لرې کولو ټینګار کاوه. که څه هم ګډونوالو د خپلوۍ پالنې او اداری فساد د له منځه وړلو په موخه د حکومتدارۍ یوه غوره بیلګه وړاندې نه کړه خو دوی وویل چې دا ډول بدلونونه په لغمان ولایت کې د سولې او ثبات لپاره اړین دی. په الیشنګ ولسوالۍ کې د یوې مدرسې مشر د څارنې یو میکانیزم په دې ډول په ګوته کړ:

(یو خپلواک کمیسیون چې د مختلفو وزارتونو څخه تشکیل شوی وي، باید رامنځته شي چې حکومتي ادارو باندې څارنه کوي. دغه کمیسیون باید داسې کارمندان ولري چې د چارواکو غیرقانوني کړنو په اړه مالومات راجمعه کړي.)

همدارنګه ګډونوالو په چارواکو او سیاسیونو باندې غږ وکړ چې له خپلو دفترونو څخه راووځی او د ولسونو سره وګوری ترڅو د هغنوی نظریات او اندیښنې واوری. د قرغه یی ولسوالۍ څخه د کور یوې ښځې وویل:

(ملي او ولايتي پالیسۍ جوړولو څخه باید موخه دا وي چې د خلکو او حکومت ترمنځ واټن راکم کړي. چارواکي باید له خلکو سره کيني، ددوی اندیښنې واوري او نظریات یې په ذهن کې وساتي.)

همدارنګه د قانون حاکمیت او ټولنیز عدالت تامین د ثبات او سولې په راوستلو کې مهم وګڼل شول. بیا هم ګډونوالو د عدلی سیستم په ګډون، د اصلاحاتو غوښتنه وکړه. که څه هم ګډونوالو څرګنده کړه چې اصلاحات به محکمو ته دا وړتیا وبخښی چې لانجې په عادلانه، اغیزمنه او کم مصرفه توګه غوځې کړی، خو دوی ونشو کولای چې دې اهدافو ته د رسیدو لپاره او یا د اوسنی عدلی سیستم د بدیل په موخه پرته د مخالفینو د عدلی میکانیزمونو څخه کوم اغیزمن وړاندیزونه مطرح کړی.

**د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ تحقق:** ټولنیز او اقتصادی پرمختګ د ګډونوالو له خوا د سولې او ثبات لپاره اړین وګڼل شو. د پوهنې یا زده کړو د کیفیت ښه کول، د ځوانانو لپاره د کاری فرصتونو رامنځته کول، سرچینو ته مساوی لاسرسی لرل او د پرمختیایی پروژو عادلانه ویش کولای شی له حکومت څخه د خلکو ملاتړ په جذبولو کې او د وسله والو مخالفینو په لیکو کې د ځوانانو له یو ځای کیدو څخه په مخنیوی کې رول ولوبوی.

همدارنګه ګډونوالو په لغمان کې د کرهنې په پرمختګ کې د حکومت د پراخه پانګې اچونې او د اوبو د تولیدی استعمال غوښتنه وکړه. لغمان دوه د الینګار او الیشنګ سیندونه لری چې د اوبخور او برښنا د منبع په توګه ورڅخه ګټه پورته کیدای شی. د کرهنې په برخه کې پرمختګ به د ولایت عایدات لوړ کړی او ځوانانو ته به کاری فرصتونه رامنځته کړی. د ولایتی شورا یو سلاکار وویل:

(لغمان ولايت طبيعي سرچينې لري، چې باید ترې ګټه پورته شي. ښه اقليم او کرنیزه ځمکه لري. د ختیځ زون د تازه سبزۍ پنځوس سلنه په لغمان ولايت کې تولیدیږي. که حکومت ځايي کرنیز تولیداتو څخه ملاتړ وکړي، د عایداتو او پرمختګ لپاره به ډیره ښه وي.)

د کرهنې پرمختګ د هیواد په کچه د ځمکو د مالکیت په پیچلې مسلې پورې تړلی دی. ګډونوالو د چارواکو او جنګ سالارانو له خوا د ځمکې غصب ته ګوته ونیوه. د الینګار ولسوالۍ یو دینی عالم وړاندیز وکړ چې حکومت باید د ځمکو د اصلاحاتو یو داسې

پروګرام ترلاس لاندې ونیسی چې په هغه کې د ځمکو د لانجو جدی حل لپاره میکانیزم شامل وی، ترڅو ځمکې په زور سره راوګرځوی او خپلو مستحقینو ته یې وسپاری.

ځینو ګډونوالو د لغمان اقتصادی پرمختګ د چین هیواد پورې تړلی وګاڼه او وړاندیز یې وکړ چې داسې یوه لویه لاره جوړه شی چې ختیځ زون د لغمان له لارې له بدخشان ولایت او بیا چین هیواد سره ونښلول شی. دا لاره به سوداګری وغوړوی او د نورستان په ګډون ټول ختیځ زون به ترې ګټه پورته کړی.

**د سولې پروسې پیاوړتیا او د ځایي لانجو حل:** ګډونوالو د سولې ولایتی شورا د رول او اغیزمنتیا په اړه یو لړ اندیښنې او شکونه څرګند کړل. ځینو اشخاصو د شورا د غړو ژمنتیا تر پوښتنې لاندې ونیوه، او وې ویل چې د شورا زیاتره غړی دې پروسې ته د عایداتو د یوې وسیلې په توګه ګوری. همدا ډول ګډونوالو د سولې شورا د ځینو غړو څخه یادونه وکړه چې نوره دولتی دندې هم لری او په یو وخت کې څو ځایه معاش اخلی، چې ددوی په وینا باید له دندو ګوښه شی. ځینو ګډونوالو بیا د یوې هر اړخیزې پروسې غوښتنه وکړه چې پکې د ښځو، ځوانانو، مدنی ټولنې استاځو، ځایی شوراګانو غړیو او سیاسی ګوندونو پراخه غړیتوب وجود ولری.

ځینو ګډونوالو د سولې پروسې سره د یوځای شوو کسانو پر صداقت باندې شک وښود او څرګنده یې کړه چې زیاتره پخلا شوی کسان هغه ټیټ پوړی جنګیالی دی چې د اقتصادی، شخصی، قومی او یا جنایی غرضونو په دلیل یې جګړه کوله، نه د ایدیالوژیکو انګیرنو پر بنسټ. د ځینو ګډونوالو په عقیده دغه مسایل چې د مخالفو کړنې زیاتوی او جنګیالی هڅوی کولای شو په اغیزمنه توګه د لانجو د حل غیررسمی او عنعنوی پروسو له لارې له منځه یوسو، په هغه صورت کې چې د بې وسلې کولو یو بشپړ پروګرام له لارې حمایه شی. په مهترلام ښار کې د انجونو د لیسې سرمعلمې وویل:

> (د غیر مسؤولو وسله والو ډلو او خلکو د بې وسلې کولو لپاره باید یوه حقیقي او پاکه پالیسي ترلاس لاندې ونیول شي. په ډې ډې ار او ډایاک باندې په میلیونونو ډالر ولګول شول، خو اوس هم وسله وال خلک لرو. له یوې خوا حکومت د وسلو په ټولولو پیسې مصرفوي او له بلې خوا غیرمسؤولو ډلو ته د وسلو جوازونه ورکوي. حکومت باید د هیواد په کچه د بې وسلې کولو یوه بشپړه پالیسي ترلاس لاندې ونیسي.)

د وسله والو مخالفینو سره د مصالحې په اړه ځینو ګډونوالو د طالبانو او نورو ډلو سره د سولې د خبرو اترو ملاتړی وو او ځینو په قطر کې د طالبانو د دفتر پرانستنه د سولې پروسې لپاره نیک ګام وشمیره. یو ځایی دینی عالم په قطر کې د طالبانو د دفتر پرانستلو هرکلی وکړ او زیاته یې کړه چې دا یو نیک ګام دی او د سولې لپاره به کار ورکړی.

## ۵. د خلکو وړانديزونه

په لغمان ولايت کې د سولې او امنيت د ټينګښت په موخه، خلکو لاندې وړانديزونه درلودل.

**د افغان ملي امنيتي ځواکونو اصلاح او پياوړتيا:** (۱) ملی امنيتی ځواکونه بايد اصلاح او غښتلی شی. چې په دې کې د سرتيرو غوره روزنه او تجهيز (په ځانګړی ډول هوايی ملاتړ)، (۲) د ملکی مرګ ژوبلې په اړه د ملی امنيتی ځواکونو مسؤول ګڼل،(۳) د وسله والو مخالفينو او جنايی ډلو سره د مبارزې تجديد، (۴) د مسلکيتوب ډيرول او په امنيتی ځواکونو کی د فساد مخنيوی؛ (۴) ملی امنيتی ځواکونه په ځانګړی ډول ملی او محلی پوليس بايد ځواب ورکونکی شی. (۵) په ملی امنيتی ځواکونو کې بايد فساد په داسې ډول له منځه لاړ شی چې مرتکبين يې له دندو ګوښه او مجازات شی. دا ډول فساد د ولسی مخالفت اصلی محرک ګڼل کيږی.

**د سيمه ايزې حکومتدارۍ او قانون حاکميت پياوړتيا او د اداري فساد سره مبارزه:** (۱) حکومتی اداري او اداری پروسجر پراخه بدلونونو ته اړتيا لری. اداری پروسجر له حده زيات بيوروکراتيک، او بې له اړتيا پيچلی دی او د خپلوۍ پالنې پر بنسټ د چارواکو ګمارلو ته لار هواروی. يو خپلواک کميسيون بايد د څارنې د يو ميکانيزم په توګه رامنځته شی؛ (۲) چارواکی او سياسيون بايد له خپلو دفترونو راووځی او له خلکو سره وګوری ترڅو د هغوی نظريات او انديښنې واوری؛ (۳) رسمی عدلی ميکانيزمونه په ځانګړی ډول محاکم اصلاحاتو ته اړتيا لری، ترڅو ددې وړتيا پيدا کړی چې لانجې په اغيزمنه، عادلانه او ارزانه توګه حل کړی.

**د ټولنيز او اقتصادي پرمختګ تحقق:** (۱) د زده کړو د کيفيت ښه کول، د ځوانانو لپاره د کاری فرصتونو رامنځته کول، سرچينو ته مساوی لاسرسی او د پرمختيايی پروژو عادلانه ويش کولای شی له حکومت څخه د خلکو د ملاتړ په ترلاسه کولو کې، او د وسله والو مخالفينو په ليکو کې د ځوانانو يوځای کيدو څخه په مخنيوی کې مهم رول ولوبوی؛ (۲) د لغمان ولايت د کرهنې د پرمختګ په برخه کې پراخه پانګه اچونې او د اوبو په ګډون د طبيعی سرچينو څخه ګټه اخيستلو ته اړتيا ده. د ځمکو څخه ګټه اخيستنه د ځمکو پر مالکيت پورې تړلې مسله ده. حکومت بايد د ځمکو د ستونزو د هواری په موخه يو داسې پروګرام او ميکانيزم جوړ کړی چې د ځمکو لانجې په جديت سره حل او ځمکې خپلو مستحقينو ته وسپاری؛ (۳) يوه لويه لاره چې ختيځ زون د بدخشان ولايت سره او بالاخره له چين هيواد سره ونښلوی، جوړه شی. چې دغه لاره به سوداګری وغوړوی او د نورستان په ګډون ټول ختيځ زون به ترې ګټه پورته کړی.

**د سولې پروسې پیاوړتیا او د ځایي لانجو حل:** (۱) د سولې شورا هغه غړی چې نوره دولتی دندې هم لری، باید له دندو گوښه شی؛ (۲) د سولې هر اړخیزه پروسه باید رامنځته شی چې په هغه کې د ښځو، ځوانانو، مدنی ټولنو استاځو، محلی شوراگانو غړیو او سیاسی گوندونو پراخه گډون شتون ولری؛ (۳) هغه مسایل چې وسله وال مخالفتونه زیاتوی او جنگیالی هڅوی، کولای شو چې د لانجو د حل دودیزو او غیر رسمی پروسو له لارې په اغیزمنه توگه په داسې ډول له منځه یوسو چې د بې وسلې کولو د یو بشپړ پروگرام له لارې پیملاتړ وشی؛ (۴)  خلع سلاح (۵) د طالبانو او نورو مخالفو ډلو سره خبرې اترې د سولې او پخلاینې لپاره اړین او رغوونکی گامونه گڼل کیږی؛

# د نورستان ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

د سولی دا ولایتی نقشه د هغو مسایلو او سپارښتنو لنډیز دی چې د سولې په اړه د افغانانو خبرې اترې (ډیالوګ) د دوهم پړاو په ترڅ کې په نورستان ولایت کې د ترسره شویو سلا مشورو په پایله کې وړاندې شوی دی. نوموړې سلا مشورې په نورستان ولایت کې د ۵۰ نفرو سره د ګروپی غونډو، انفرادی مرکو او د نظریاتو د ټولونې (سروې) له لارې ترسره شوې دی. ددې پروګرام ګډون کوونکی د ولایتی شورا د غړو، د حکومت د کارمندانو، د ټولنې د مشرانو، علماء کرامو، د مدنی ټولنو استازو او د ځوانانو په ګډون د ټولنې له مختلفو سیاسی او ټولنیزو قشرونو څخه ټاکل شوی وو. تر ټولو مهمه دا چې، هڅه شوې د ښځو او ځوانانونظریات راټول شی ترڅو د ټولنې د هر اړخیز استازیتوب بیلګه اوسی.

دا مشوری  د سولې په اړه د افغانانو د ډیالوګ د دوهمی دورې د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون په ګډون د دیولسو مدنی ټولنو لخوا د ۴۵۰۰ افغانانو سره د مشوری په موخه او د ۳۴ دسولی ولایتی نقشی د جوړیدو په خاطر ترسره شوی دی .

## ۲. ولایتی انځور: جغرافیه، سرشمیرنه، او سیاسی وضعیت

نورستان ولایت د هیواد په شمال ختیځ کې پروت دی چې ۹۲۶۷ کیلومتره مربع مساحت لری. د بدخشان، کنړ، لغمان او پنجشیر ولایتونو په واسطه احاطه شوی دی او د پاکستان له هیواد سره ۱۶۰ کیلومتره اوږده ګډه پوله لری. نورستان له اووه ولسوالیو جوړ دی چې عبارت دی له برګیمټال، دوآب، کامدیش، منډول، نورګرام، وامه او وانټ وایګل. پارون یې مرکز دی چې د کنړ له لارې ورته لاسرسی شونی دی او له کابل څخه نژدې ۲۹۰ کیلومتره لرې دی. نورستان درې سترې درې لری: ختیځه، مرکزی او لویدیځه دره. ختیځه او مرکزی درې یې له کنړ سره او لویدیځه یې د لغمان سره د سرک له لارې نښلول شوې دی.

د نورستان د وګړو شمیر د ځایی چارواکو له خوا ۴۸۱۲۰۰ نفره تخمین شوی دی چې په پنځو قبیلو ویشل شوی دی: کټه (۶۵ سلنه)، کلشه (۲۰ سلنه)، وامایی (۱۰ سلنه)، پاسیو (۳ سلنه) او پشه یی (۱ سلنه). پاتې یوه سلنه یې د کوردر، ګوجر او پښتانه لږکی جوړوی.

د نورستان سیاسی شالید تر ډیره د یاغیتوب نه اغیزمن دی. د اویایمې لسیزې راهیسې دا ولایت د پولې له پورې غاړې د یاغیانو د کړنو لپاره دروازه ګڼل کیږی. په ۱۹۹۲ کال کې د ډاکټر نجیب الله د رژیم له سقوط څخه وروسته، لوی جهادی ګوندونه په دې ولایت کې فعاله وو.

د غرنۍ ساحې او ګوښه توب له امله، نورستان ولایت په ټول هیواد کې د اسلامی حزب د قوماندانانو لپاره خوندی پټنځای ؤ، په ځانګړی ډول په ۱۹۹۴ کال کې یې چې په کابل

کې ماتې وخوړه. له هغې راهیسې نورستان ولایت د سلفی خوځښت، افغانی او پاکستانی طالبانو، بهرنیو جنګیالیو او القاعده په ګډون د نورو یاغی ډلو لپاره د روزنې مرکز او خوندی پټنځای ګڼل کیږی.

## ۳. د جګړې یا شخړې شننه: د شخړو ډولونه او سرچینې

**د شخړو ډولونه:** په نورستان ولایت کې د ولس استازو په خپل ولایت کې د شخړو یو لړ ډولونه په لاندې ډول په ګوته کړل:

**شخصی او قومی شخړی:** په نورستان ولایت کې شخصی او قومی شخړې معمول دی چې د ملی امنیتی ځواکونو د نه شتون او یا په ولسوالیو کې د ملی پولیسو د کم شمیر له امله زیاتې شوی دی. دا امنیتی خلاء د یو کارنده عدلی او قضایی سیستم چې شخړې هوارې کړی، په نه شتون کې لا پسې زیاته شوې ده. چې له امله یې شخړې لاینحله پاتې شوی دی او یا هم د جرګو او طالبانو له خوا حل کیږی چې د بشری حقونو د سرغړونو لامل کیږی.

**د دولت او مخالفینو ترمینځ نښتی:** له پاکستان سره د نورستان اوږده پوله، د دولت او وسله والو مخالفینو لکه طالبان، تحریک طالبان پاکستان او حزب اسلامی ترمنځ د دوامداره جګړو لامل دی. په نورستان ولایت کې د نړیوالو نظامی ځواکونو او افغان ملی امنیتی ځواکونو د نه شتون له امله وسله وال مخالفین دغه ولایت د خوندی پټنځای په توګه کاروی او بهرنی جنګیالی لکه عرب او القاعده یې د نظامی روزنې د مرکز په توګه. ځینې ګډونوال په دې اند وو چې نورستان ولایت ځینو نورو ولایاتو لکه بدخشان، کاپیسه او لغمان ته د وسله والو د نفوذ او لاسرسی مهمه لار جوړوی، ترڅو حکومت بې ثباته کړی. همدارنګه وسله والو مخالفینو د ملکی وګړو، څارویو او حتی د هغه چا د استوګنځایونو پر ضد بریدونه ترسره کوی چې د حکومت ملاتړ کوی.

همدارنګه ګډونوالو له خلکو سره د ملی او محلی پولیسو د شخړو راپور ورکړ. چې دا په ولس کې د ځینو ملی او محلی پولیسو د فساد او جنایتونو په وړاندې د شته حساسیت پایله وه. یو ملا آمام یادونه وکړه چې ملی پولیس هره میاشت په زیاته اندازه تیل د شخصی ګټو په موخه پلوری چې دوی ته ورکول کیږی. د مدنی ټولنې یو استازی د معافیت څخه د شکایت په ترڅ کې خپله کیسه داسې بیان کړه:

> "د نورستان ولایت په نورګرام ولسوالۍ کې د پولیسو یو صاحب منصب ولسوالۍ ته څیرمه نژدې څلویښت متره لرې یو غریب سړی د شخصې شخړې په ترڅ کې وواژه. هغه د پولیسو له خوا ونیول شو او تر دوه ورځو په نظارت کې ؤ. خو وروسته هغه له ۱۲ میله وسلې سره یوځای وتښتیدو او له طالبانو

سره یو ځای شو. وروسته بیا ولسوال هغه ته بلنه ورکړه چې د سولې له پروسې سره یو ځای شي. اوس هغه د سولې له پروسې سره یو ځای شو او اوس هم د پولیسو صاحب منصب دی."

**د شخړو سرچینې:** د نورستان ولایت د ولس استازو په نوموړی ولایت کې د شخړو او جګړو یو لړ سرچینې په ګوته کړې. د بیلګې په توګه غُربت، د زیربناوو نه شتون، لومړنیو او اساسی خدماتو ته نه لاسرسی، اداری فساد، معافیت او د حکومت ناکاره ادارې. په ټول هیواد کې ورته ستونزې شتون لری، خو په ځانګړی د جغرافیوی لریوالی او ځمکنۍ ستونزو له امله نوموړی لاملونه په نورستان کې غوځ اغیز لری. یو مخور قومی مشر د نورستان ولایت جغرافیه په دې ډول تشریح کړه:

"که د دوآب ولسوالۍ یو اوسیدونکی وغواړي ددې ولایت مرکز پارون ته لاړ شي نو اړتیا لري چې له درې ولایاتو (لغمان، ننګرهار او کنړ) یا ۱۵ ولسوالیو نه تیر شي چې دا سفر څو ورځې اخلي."

**عدم انکشاف او بنیادی خدماتو ته نه لاس رسی:** نورستان ولایت ته نه لاسرسی او د ولایت په دننه کې د تګ راتګ اسانتیاوو نه شتون په دې ولایت کې پرمختګ ډیر اغیزمن کړی دی. زیاتره ماشومان د کارنده ښوونځیو او ښوونکو د نه شتون له امله په پاکستانی مدرسو کې زده کړې کوی او د یو قومی مشر په وینا چې سخت دریځی کیږی او له ځانه سره تاوتریخوالی راوړی. پاتې ماشومان بې سواده پاتې کیږی او د بې سوادۍ کچه یې زیاته کړې ده. همدارنګه په نورستان ولایت کې د کلینیکونو او روغتونونو نه شتون ددې لامل کیږی چې د نورستان خلک ګاونډیو ولایاتو ته سفر وکړی او د یو ملا امام په وینا کله کله یې ناروغان د سختو لارو په اوږدو کې خپل ژوند له لاسه ورکوی.

د نورستان جغرافیوی موقعیت او دوامداره بې امنیتی په دې ولایت کې حکومتداری اغیزمنه کړې ده. د ولایتی شورا زیاتره غړی په ننګرهار ولایت کې میشت دی او کله کله نورستان ولایت ته سفر کوی او دا ددې لامل کیږی چې له خپلو ولسونو سره اړیکه نلری.

ولایتی چارواکی چې په ولایت کې کار کوی، زیاتره یې په لویدیځه ولسوالۍ نورګرام کې میشته دی او هغه له پارون، مرکزی او ختیځو درو سره تماس نلری. د نورګرام ولسوالۍ څخه یو ځایی ژورنالیست وویل:

"په نورستان ولایت کې د پرمختګ په موخه هیڅ پانګه اچونه نه ده شوې. دا ډیر کالونو کیږی چې ګوښه شوی دی. او د حکومت پرځای، دښمنان نورستان ولایت ته ډیره پاملرنه لری"

**د اداری فساد سره مبارزه او د قانون حاکمیت څخه ملاتړ:** ګډونوالو څرګنده کړه چې اداری فساد او سزا څخه معافیت په حکومت د بې اعتمادۍ له سترو لاملونو څخه شمیرل کیږی. ددوی په وینا چې د اداری فساد سره مبارزه او په ټولو باندې د قانون یو شان پلی کول د همیشنۍ سولې لپاره اړین ګڼل کیږی. تر ټولو مهمه دا چې ګډونوالو ولایتی چارواکی په نورستان کې د خپلو شخصی ګټو په موخه د ناامنۍ په جوړولو او زیاتولو تورن کړل. د وامه ولسوالۍ څخه د مدنی ټولنو یو استازی وویل:

(زیاتره اوسني چارواکي په نورستان کې سوله نه غواړي. که چیرې په نوستان کې سوله او امنیت وای، نو له کابل څخه راغلي استازي او هیَت به په اسانۍ سره کولای شوای د ولایت حالت وارزوي او زمونږ چارواکي د خپلو شخصي ګټو له تعقیب څخه راوګرځوي. د مشرانو جرګې د شکایتونو د کمیسیون ډاکټر زلمي زابلي په مشرۍ یو هیَت له کابل راغلی ؤ او له نورستان څخه یې لیدنه وکړه. زیاتره خلکو هغه ته د امنیې قوماندان څخه شکایت وکړ چې هغه په اداري فساد کې ښکیل دی او د هر پولیس د میاشتني معاش څخه د میاشتې زر افغانۍ اخلي. ډاکټر زلمي ژمنه وکړه چې هغه به دا ستونزه د مرکزي چارواکو سره شریکوي، خو تراوسه هیڅ اقدام نه دی شوی.)

ګډونوالو څرګنده کړه چې هغه بودجه چې د حکومت له خوا د زیربناوو لکه سړکونو جوړولو ته ځانګړې شوې وه، زیاتره یې فساد له امله تری تم شوه او همدارنګه ځینې ډلې نورستان ولایت تلونکی لارې تړی او د لومړنیو توکیو لکه د اوړو بیې پورته ځی. د ملی امنیتی ځواکونو په نه شتون کې او یا د پولیسو کم شمیر ددې لامل شوی دی چې د مجرمینو ډلې ازادانه فعالیت کوی او په اختطاف، غلاء او د قیمتی کاڼو په قاچاق کې لاس لری.

ځینو ګډونوالو په نورستان ولایت کې د نړیوالو نظامی ځواکونو له خوا د هوایی بریدونو په وړاندې چې د ملکی وګړو د مرګ او ژوبلې لامل کیږی، غوسه څرګنده کړه.

همدارنګه ګډونوالو د سولې پروسې ناکامۍ ته ګوته ونیوه. دوی زیاته کړه چې د نورستان ولایت د سولې شورا زیاتره غړی په ننګرهار ولایت کې میشت دی او دا ددې لامل شوی دی چې په ولایت او په ځانګړی ډول په ولسوالیو کې د سولې شورا استازیتوب شتون نلری. ددوی په ونیا په ټول ولایت کې یوازې په نورګرام ولسوالۍ کې د سولې شورا هڅې بریالۍ دی، ځکه چې په ولسوالۍ کې د سولې شورا دفتر شتون لری. یو ځایی ژورنالیست وویل چې:

(په عمومي توګه د سولې ولایتي شورا هڅې ناکامې دي. زیاتره غړي یې نشي کولای چې نورستان ولایت ته سفر وکړي او له ځایي خلکو سره کیني، د هغوی

انديښنې او ستونزې واورې او يا وسله وال مخالفين د سولې پروسې سره د يو ځای کيدو لپاره را وبولي)

د سولې شورا يو غړی وويل چې د شورا هڅې واقعاً چې ناکامه دی. هغه زياته کړه چې:

(د سولې شورا د ناکامۍ يوازيني لامل دا دی چې دا يوه پروسه نه ده بلکې يوه پروژه ده. شورا د ځايي مشرانو او علماء کرامو سره اړيکه نلري. د سولې په اړه د عامه پوهاوي کومه پاليسي نه لري)

هغه همدارنګه د وسله والو مخالفينو د هڅولو لپاره د انګيزې نه شتون د سولې شورا په کار کې د لوی خنډ په توګه ياد کړ.

ځينو ګډونوالو په نورستان ولايت کې د دوامداره قومی او شخصی دښمنيو شتون د شخړو يوه بله سرچينه وګڼله. د حکومت ناکاری، د لانجو د حل په موخه د رسمی عدلی ميکانيزمونو نه شتون ددې لامل شوی دی چې په ولايت کې لانجې او شخړې لا پسې زياتې شی. ګډونوالو په ختيځ نورستان کې د کامديش او برګيمټال په ولسواليو کې د کوشتوز او کامديش د کليو ترمنځ د ځمکې او اوبو پر سر لانجو ته اشاره وکړه. دوی په حکومت باندې غږ وکړ چې په نورستان ولايت کې د امنيتی حالاتو هر اړخيزه ارزونه ترسره کړی ترڅو د شخړو اصلی لاملونه وپيژنی او په پايله کې ورته مناسبه حل لار وټاکی. د کامديش ولسوالۍ يو قومی مشر وويل چې:

(د کوشتوز او کامديش د کليو ترمنځ لانجه د طالبانو له دورې مخکې رامنځته شوې ده، خو تر اوسه حل شوې نه ده. د کامديش خلکو د کوشتوز کلي ته اور اچولی ؤ او ټول کلی سوزيدلی ؤ. اوسمهال د کوشتوز اوسيدونکي د هيواد نورو سيمو کې ميشت دي. دا لانجه بايد د تل لپاره حل شي ځکه چې په ختيځ نورستان کې شته وسله وال مخالفين او شخړې ددې لانجې په پايله کې رامنځته شوي دي)

## ۴. د سولې لپاره تګلاره

**امنيت او ياغيتوب: د پولو کنټرول او د ملي امنيتی ځواکونو اچول:** د ګډونوالو په اند د هيواد په کچه ټيکاو او امنيت په نورستان ولايت پورې اړه لری. له پاکستان هيواد سره د نورستان نه کنټروليدونکې پوله او په ولايت کې د ملی امنيتی ځواکونو نه شتون ددې لامل شوی چې ياغيان له دې لارې افغانستان ته داخل شی، او مخکې له دې چې په ګاونډی ولايتونو لکه بدخشان کې بريدونه ترسره کړی، په دې ولايت کې اکماليړی او نظامی روزنه ترلاسه کوی. ګډونوالو د حکومت او نړيوالې ټولنې شتون د وسله والو سره په مبارزه کې اړين وګاڼه. د کامديش ولسوالۍ يو ملا آمام وويل:

(نورستان ولایت له پاکستان سره د تګ راتګ نږدې ۲۵ لویې او وړې لارې لري چې یوه یې هم د ملي امنیتي ځواکونو له خوا نه څارل کیږي. پخوا به یوازې په کامدیش او برګیمټال ولسوالیو کې ناامني وه، خو اوس ناامني مرکزې او لویدځ نورستان ته هم رسیدلې ده. چې ددې اصلي لامل په تیرو لسو کالونو کې نورستان ولایت ته د مرکزي حکومت نه پاملرنه ده. په نورستان ولایت کې ملي اردو شتون نه لري او دوی د یو لنډ وخت لپاره راځي او بیا ډیر زر بیرته ځي.)

ددې لپاره چې د پاکستان هیواد څخه د وسله والو مخالفینو د نفوذ مخه ونیول شی، د نورستان ګډونوالو په حکومت غږ وکړ چې د پولې په اوږدو کې ګزمې وکړی او امنیت یې خوندی کړی، په ځانګړی ډول هغه لارې چې د وسله والو مخالفینو له خوا استعمالیږی. همدارنګه ګډونوالو د ملی امنیتی ځواکونو له خوا د چاڼیزو عملیاتو او ددې ولایت په ستراتیژیکو ساحو کې چې د وسله والو مخالفینو په ولکه کې دی، د دایمی پوستو د جوړولو غوښتنه وکړه. د کامدیش ولسوالۍ یو دینی عالم څرګنده کړه چې:

(د سولې راوستو لپاره ترټولو غوره او مهمه لار د پولې امنیت خوندي کول دي. حکومت باید د پولې په اوږدو کې امنیتي پوستو شمیر زیات کړي او هغه لارو ته چې د مخالفینو له خوا کارول کیږي، زیات شمیر ملي امنیتي ځواکونه ولیږي. په تیرو لسو کالو کې د کنړ ولایت په ناړۍ ولسوالۍ کې د بریکوټ لاره چې د کامدیش او برګیمټال ولسوالیو ته تللې ده، د مخالفینو په ولکه کې وه. حکومت باید چاڼیز عملیات ترسره کړي او په هر قیمت چې کیږي، نوموړې لاره پرانیزي.)

د ولایتی شورا د ریس په وینا چې دفاغ وزارت د نورستان ولایت لپاره د ملی اردو یو کنډک منظور کړی دی، ولې نوموړی کنډک په لغمان ولایت کې ځای پر ځای دی. د ګډونوالو په وینا چې دا په نورستان ولایت کې د یاغیانو سره د مبارزې په برخه کې د حکومت بې غورۍ یوه ښکاره بیلګه ده. ګډونوالو همدارنګه په ملی امنیتی ځواکونو په ځانګړی ډول ملی پولیسو کې د مسلکیتوب په اړه اندیښنه وښوده او د هغوی د مشرتابه د تشکیل، په پولیسو کې د بې قانونۍ، ناوړه کړنې، فساد او جرمونو په اړه خپل تشویش څرګند کړ. ګډونوالو په حکومت د پولیسو په برخه کې د پیاوړې څارنې غږ وکړ. د نورګرام ولسوالۍ یو دینی عالم وویل:

(په نورستان ولایت کې د پولیسو تشکیل ډیر ګډوډ او پیچلی دی. پرته له دې چې د پولیسو په اصلي تشکیل کې بدلون او سمون راشي، د ځینو پولیسو پرځای ځینې نور مقرر شوي دي. ځینې وخت چې کله یو پولیس ووژل شي او بیا د هغوی مور او پلار یا خپلوان د امنیې قوماندان ته راشي، نو ګوري چې د

پولیسو په تشکیل کې یې نوم نشته. ځکه چې د پولیسو اصلي تشکیل ډیر ځله د ځایي قوماندانانو له خوا بدل شوی وي، پرته له دې چې د کورنیو چارو وزارت ته راپور ورکړي.)

ګډونوالو وویل چې ځینې ملی پولیس د وسله والو مخالفینو سره یو ځای شول ځکه چې دوی ته له شپږو میاشتو څخه زیات معاش نه ؤ ورکړل شوی.

**په نورستان کې د هڅو زیاتول: د حکومت شتون او د مدنی ټولنو ملاتړ**

ګډونوالو څرګنده کړه چې نورستان ولایت د حکومت د ملاتړ او خدماتو د نه شتون له امله کړیږی. زیاتره حکومتی اداري او ولایتی چارواکی له نورستان ولایت بهر په کنړ، لغمان او ننګرهار ولایتونو کې فعالیت کوی. ګډونوالو په دې ټینګار کاوه چې په نورستان ولایت کې د حکومت فزیکی او سیاسی حضور ددې ولایت په پرمختګ او ثبات کې اساسی ګام ګڼل کیږی. هغه

ګډونوالو په حکومت او نړیوالې ټولنې غږ وکړ چې په نورستان ولایت کې دې حکومتی چارواکی د هغوی د کارونو د ارزولو له لارې حساب ورکونې ته اړ کړی او د مدنی ټولنې سازمانونو څخه چې د ګوتو په شمار هلته کار کوی،خپل ملاتړ زیات کړی. د نورګرام ولسوالۍ د ځوانانو یو استازی وویل چې:

(د مدني ټولنې سازمانونه کولای شي د حکومتي چارواکو په کارونو کې د روڼتیا او حساب ورکونې په موخه غوره رول ولوبوي. دوی کولای شي چې په نورستان ولایت کې حالات له نږدې وڅاري، ترڅو له حکومت او نړیوالې ټولنې سره د غوره حل لارو په رامنځته کولو کې مرسته وکړي او هغوی یې پلې کړي. مدني ټولنې همدارنګه کولای شي چې د حکومت او ولس ترمنځ واټن له منځه یوسي.)

**د لاسرسی ډاډمنول: بشری مرستې او د زون په کچه هماهنګی:** ناوړه سرکونه، غرنۍ لارې، د واورو اورښت، د وسله والو مخالفینو او مجرمینو د ډلو فعالیتونه، او کله کله د ملی امنیتی ځواکونو له خوا د لارو بندول په ټولیز ډول هغه لاملونه دی چې نورستان ولایت ته د لومړنیو توکیو لیږد او د بشری مرستو رسول ستونزمنوی. چې په پایله کې په عامو خلکو زښت زیات اغیز ښندی او د ښځو او ماشومانو د مړینې کچه زیاتوی. ګډونوالو په نورستان ولایت کې د روغتیا په برخه کې د پانګې اچونې او د زون په کچه د هماهنګۍ رامنځته کولو غږ وکړ، ترڅو په کنړ او لغمان کې روغتیایی اسانتیاوو ته د خلکو لاسرسی څخه ډاډ ترلاسه شی. همدا ډول د ملی امنیتی ځواکونو د ځای پر ځای کول ترڅو هغه لارې چې نورستان له ګاونډیو ولایتونو سره نښلوی، امنیت یې تامین کړی، او د

ګاونډيو ولايتونو د روغتيايي اسانتياوو ظرفيت زياتول چې له نورستان څخه د راوړل شويو ناروغانو درملنه وکړی شي.

**د پوهنې، ټولنيز او اقتصادي پرمختګ:** نورستان ولايت ته د لاسرسي په لار کې پراته خنډونه چې پورته مو يادونه وکړه، په دې ولايت کې زده کړو ته لاسرسی هم اغيزمن کړی دی، نو ځکه زياتره ماشومان اړ دي چې د زده کړو ترلاسه کولو په موخه پاکستان ته سفر وکړی. ګډونوالو څرګنده کړه چې په پاکستانی مدرسو باندې تمرکز کول د ځينو زده کوونکو د سخت دريځی لامل شوی دی او بيرته د وسله والو مخالفينو او يا د هغوی د خواخوږو په توګه راستنيږی. نو ځکه په نورستان ولايت کې په ښوونځيو او ښوونکو باندې پانګه اچونه د ځوانانو لپاره د کاری فرصتونو د زياتولو او همدارنګه د وسله والو مخالفينو په ليکو کې د ګمارلو راکمولو په موخه مهمې وسيلې وګڼل شوې. سربيره پر دې، د حرفوی زده کړو د برابرولو وړانديز وشو، کوم چې کولای شی هغه ځوانان چې د سخت دريځو نظرياتو سره له پاکستانه راستنيږی، اصلاح کړی او د هغوی لپاره کاری فرصتونه رامنځته کړی.

د نورستان ځمکنی جوړښت هم د پرمختيايي مرستو د غيرعادلانه ويش سبب شوی دی. پروژې يوازې په هغه ولسواليو کې ترسره کيږی چې لاسرسی ورته شونی دی، لکه د نورګرام ولسوالی. ولې لرې پرتې ولسوالۍ چې ډيرې اړمنې دی له ياده ويستل شوی دی.

همدارنګه نورستان د چارتراشو، د منرالونو او قيمتی کاڼو د کانونو او اوبو بډايه طبيعی سرچينې لری. د ترانزيت د لارې په توګه د نورستان ولايت خونديتوب او د رسمی پروسې له لارې د طبيعی سرچينو راويستل چې اوس د جرمی شبکو له خوا راويستل کيږی، د پانګې د جوړولو لپاره چې ددې ولايت په پرمختګ کې رول لوبولی شی، مهم وګڼل شول.

استازو وړانديز وکړ چې د نورستان ولايتی چارواکی بايد د نورو ولايتونو څخه وټاکل شی، ترڅو د خپلوۍ پالنې او د ځايی خلکو له خوا د فاسدو کارونو د ملاتړ مخنيوی سره مرسته وکړی.

**د قومی لانجو غوڅول:** ګډونوالو د قومی او شخصی دښمنيو په غوڅول ټينګار درلود. په نورستان ولايت کې د رسمی عدلی سيستم نه شتون ددې لامل شوی دی چې دا ډول لانجې دوام پيدا کړی او يا هم لاپسې زور واخلی. ځينې لانجې لکه په ختيځ نورستان (کامديش او برګيمټال) کې چې د کليو ترمنځ د طبيعی سرچينو لکه ځمکې او اوبو پر سر رامنځته شوې ده. دغه لانجې د حکومت پلوه او د حکومت ضد ډلو په وسيله لاپسې کړکيچنې شوی دی. دغه ډلې له بانفوذه افرادو له خوا د خپلو شخصی ګټو د ساتلو په موخه کارول کيږی.

**د سولې پروسې پياوړتيا:** ګډونوالو د سولې په ولاتي شورا نيوکه وکړه او هغه يې د پروسې پرځای يوه پروژه وګڼله. دوی د سولې شورا پر غړو غږ وکړ چې له خپلو دفترونو څخه د ولسواليو او کليو په لور ووځی او د خپلو کارونو په اړه عامه پوهاوی ترسره کړی. دوی همدارنګه د سولې شورا د غړيو ټاکنه سياسی وګڼله او د شورا غړی يې په پلوۍ تورن کړل او ترديې چې د دوی په وينا ځينې يې له وسله والو مخالفينو سره لار لری.

## ۵. د خلکو وړانديزونه

ګډونوالو په نورستان ولايت کې د سولې او امنيت د پياوړتيا په موخه لاندې وړانديزونه درلودل:

**امنيت او ياغيتوب: د پولو کنټرول او د ملي امنيتي ځواکونو اچول:** (۱) ملی امنيتی ځواکونه بايد له پاکستان سره د پولې په اوږدو کې ګزمې وکړی چې د پولې امنيت خوندی شی، په ځانګړی ډول هغه مهمې لارې چې مخالفين ترې ګټه اخلی؛ (۲) ملی امنيتی ځواکونه بايد چاپېز عمليات ترسره کړی او د نورستان په ستراتيژيکو سيمو کې چې د مخالفينو په ولکه کې دی او له ګاونډی ولايتونو لکه بدخشان، کنړ، لغمان او پنجشير سره نښتی دی، دايمی امنيتی پوستې جوړې کړی؛

**په نورستان کې د هڅو زياتول: د حکومت شتون او د مدني ټولنو ملاتړ:** (۱) په نورستان ولايت (نه په ګاونډی ولايتونو) کې د حکومت فزيکی او سياسی حضور د پرمختګ، پانګې اچونې، امنيت پياوړتيا، د حساب ورکونې او د ولسی استازيتوب لپاره اړين ګام ګڼل کيږی؛ (۲) حکومت او نړيواله ټولنه بايد د ولايتی چارواکو څخه حساب واخلی، په ځانګړی ډول د هغوی د کړنو دوامداره ارزونې له لارې؛ (۳) په نورستان ولايت کې شته مدنی ټولنې سازمانونو څخه بايد پراخه ملاتړ وشی او هغه مدنی ټولنې چې له ولايت نه بهر کار کوی، بايد نورستان ولسوالۍ ته لاسرسی پيدا کړی؛

**د لاسرسي ډاډمنول: بشري مرستې او د زون په کچه هماهنګي:** (۱) حکومت او نړيواله ټولنه بايد په نورستان کې په لومړنيو روغتيايی اسانتياوو باندې پانګه اچونه وکړی؛ (۲) د هيواد په کچه داسې هماهنګۍ ته اړتيا ده چې نورستانيان وکولای شی هغه روغتيايی اسانتياوو ته لاسرسی ولری چې په کنړ او لغمان کې شتون لری. په دې موخه بايد ملی امنيتی ځواکونه هغه لارې چې نورستان له ګاونډی ولايتونو سره نښلوی خوندی کړی او همدارنګه د هغو روغتيايی اسانتياوو ظرفيت لوړ کړی چې له نورستان څخه ورته ناروغان ليږدول کيږی.

**د پوهنې، ټولنيز او اقتصادي پرمختګ:** (۱) حکومت بايد په نورستان کې د ښوونځيو په جوړولو او د باکيفيته ښوونکو په روزلو پانګه اچونه وکړی. چې په دې ډول به پاکستانی

مدرسو ته د ماشومانو د لیږلو اړتیا راټیټه کړی او هم به د وسله والو مخالفینو او سخت دریځو ډلو کې د هغوی د ګمارلو کچه راکمه کړی؛ (۲) حرفوی زده کړې باید هغو ځوانانو ته چې له پاکستانه راستانه شوی دی او د وسله والو مخالفینو سره اړیکی لری، رامنځته شی چې دا به ددوی لپاره کاری فرصتونه هم زیات کړی؛ (۳) پرمختیایی مرستې باید د نورستان ټولو ساحو ته ورسول شی، او هغو سیمو ته باید لومړیتوب ورکړل شی چې ډیرې اړمنې دی؛ (۴) د قانونی لارو چارو په وسیله باید د طبیعی سرچینو په راویستلو پانګه اچونه وشی او ګټه یې په ځایی پرمختګونو ولګول شی؛

**د اداري فساد سره مبارزه او د قانون حاکمیت څخه ملاتړ:** (۱) د نورستان ولایت چارواکی باید له نورو ولایتونو څخه وټاکل شی. چې په دې ډول به د خپلوۍ پالنې او د ټولنې هغو شبکو باندې د اتکاء مخه ونیول شی چې اداری فساد څخه ملاتړ کوی.

**د قومي لانجو غوڅول:** (۱) رسمی عدلی میکانیزمونه باید غښتلی شی، ترڅو د قومی او شخصی دښمنیو له حل سره مرسته وشی.

**د سولې پروسې پیاوړتیا:** د سولې ولایتی شورا غړی باید ناپییلی وی. همدارنګه دوی باید دې ته تیار شی چې له خپلو دفترونو څخه د ولسوالیو او کلیو په لور ووځی او د خپلو کارونو په اړه عامه پوهاوی ترسره کړی او وسله مخالفین د سولې پروسې سره یو ځای کیدو ته وهڅوی.

# د بدخشان ولايت
# د سولې لپاره ولايتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

د سولې لپاره دغه ځایی طرح د هغو موندنو او مسالو لنډیز وړاندې کوی چې د بدخشان د ښاریانو لخوا د افغانانو د خبری اتری دټول هیواد په کچه ددوهم پړاو د برخی په توګه دیو لسو مدنی ټولنو لخوا د ۴۵۰۰ افغانانو سره د مشوری په موخه او د ۳۴ دسولی ولایتی نقشی د جوړیدو په خاطر ترسره شوی دی .

د بدخشان په ولایت کې د لسو متمرکزو ګروپونو بحثونه جوړ شول، چې په کې د جګړې څخه اغیزمنې شوې سیمې لکه د وردوج ا و جرم ولسوالۍ شاملې ذی. ټولټال ۲۴۴ افغانانو سره چې په کې ۶۹ تنه ښځې شاملې وې په دغو بحثونو کې ګډون درلود. د ژوندانه د بیلابیلو ډګرونو څخه خلکو په دغو بحثونو کې اشتراک وکړ: د ټولنې او کلیو مشرانو، کلیوالو، ښوونکو، دولتی مامورینو، د پولیس افسرانو، دینی عالمانو، د کورونو میرمنو، زده کوونکو، د قومی او مذهبی اقلیتونو استازو، بزګرانو، د پوهنتون استادانو، د مدنی ټولنې فعالینو ، د ښځو د حقونو فعالینو ، ځارنوالانو، کارګرانو .ډرایورانو، د شورا استازو او نورو په کې ګډون درلود .

## ۲. د ولایت انځور: جغرافیه، قومی ترکیب او سیاسی وضعیت

بدخشان د افغانستان په شمال ختیځه برخه کې پروت دی چې د تخار، نورستان او پنجشیر له ولایتونو سره پوله لری. دا د افغانستان یواځینی ولایت دی چې د دریو هېوادونو سره نړیوالې پولې لری: چین، تاجکستان، او پاکستان. بدخشان ۴۴۰۵۹ کلومتره مربع مساحت لری او نږدې ټول ( ۹۸.۸ ٪) غرنۍ سیمه ده چې د هندوکش او پامیر دغرونو په سلسله کې پروت دی او لوړوالی یې د سمندر له سطحې څخه۷۴۸۵ متره پورته دی. د خپل جغرافیایی موقعیت له امله یو له لېرې پرتو او کم پرمختللو ولایتونو څخه دی، او د دغه ولایت ځینې برخې د کال په ډیرو وختونو کې د سخت موقعیت ،موسم او د سړکونو د وضعیت له کبله د رسیدنې وړ نه دی. ولایت په ۲۸ ولسوالیو چې په کې د ولایت مرکز فیض آباد هم شامل دی ویشل شوی دی. د تاجکستان سره پوله د پنج د سیند په وسیله چې د آمو د سیند فرعی څانګه ده تشکیلوی.

د بدخشان د ولایت نفوس د یو ملیون وګړو پورې اټکل شوی دی. فیض آباد د ولایت مرکز دی چې نږدې ۱۰۰۰۰۰ اوسیدونکی لری. تاجک د دغه ولایت د نفوس اکثریت (۸۰٪) جوړوی. د دې نفوس څخه ۲۰ سلنه یې اسماعلیه ( اهل تشیع) دی چې د دغه ولایت په ختیځه سرحدی سیمه کې میشت دی. د واخان، اشکاشم، شغنان، زیباک ولسوالۍ او د درواز، یامګان او کران منجان د ولسوالیو ځینې برخې په افغانستان کې د اسماعلیه نفوس زیات تمرکز تشکیلوی. ازبکان ۱۰-۱۵ سلنه د نفوس ده چې زیاتره د ارګو او خاش په ولسوالیو کې میشت دی. د دې سربیره هلته ۱۴۰۰ قرغیزیان چې د واخان د

ولسوالۍ د پامیر په مرتفعو سیمو کې میشت دی هم ژوند کوی. نور قومی لږکیو کې هزاره ګان، پښتانه او بلوڅ راځی.

بدخشان د بیلابیلو سیاسی خوځښتونو مرکز و او په کې ملی سیاسی شخصیتونو سر را پورته کړی دی. په ۱۹۹۶ کال کې کله چې طالبانو کابل ونیو نو مجاهدینو تر مشرتابه لاندې د افغانستان اسلامی دولت د بدخشان ولایت ته ولیږدول شو او دغه ولایت تر ۲۰۰۱ کال پورې د شمالې ټلوالې پایګاه وه. نو له همدې کبله ده چې په دغه ولایت کې په سیاسی ډګر کې شمالی ټلواله چې په دولت کې کلیدی مقامونه په اختیار کې لری د همدغې ډلې کسان بر لاسی دی.

د ولایت سیاسی تحرکات په دې توګه زیاتره د جمعیت اسلامی د ډلو له خوا رهبری کیږی. د سیاسی لوبغاړو تر منځ ګروپی وفاداری د ګوندی نورو تړاونو څخه لوړې دی. حزب اسلامی د مرکزی بدخشان په ځینو برخو کې قوی دی په داسې حال کې چې ملت پرسته ګوندونه لکه ملی کانګره او ازاده ګان ځانته د پلویانو سیمې هم لری.

## ۳. د جګړې تحلیل: د جګړې ډولونه او انګیزې

د شخړې ډولونه چې د بدخشان د ولایت د اوسیدونکو له خوا لست شوی دی په هغو کې د طالبانو له خوا رهبری کېدونکی یاغیتوب، دجمعیت اسلامی او حزب اسلامی ترمنځ سیاسی رقابت، هغه شخړې چې د تریاکو په تولید او قاچاق پورې اړه لری ، د وریښمو د لارې پر سر شخړې، د منزالی موادو پر سر شخړې او همدارنګه هغه شخړې چې د فساد او د قانون د واکمنۍ د نشتوالی، بې وزلۍ او نور ټولنیزو عواملو څخه سرچینه اخلی شاملې دی.

ټول ګډون وال په دې نظر وو چې په بدخشان کې د دولت ضد عناصرو یاغیتوب یواځې په ۲۰۱۱ اویا ۲۰۱۲ کې پیل شو. د وردوج او جرم څخه ګډونوال وویل چې باغیتوب ددوی په ولسوالی ګانو کی یو د شخړی عامل دی . د وردوج په ولسوالۍ کې هغو جنګی کسانو چې په قوی توګه یې عقیدوی تړاو سره درلود ځانته یې په ژور محافظه کار چاپیریال کې ځای پیداکړ او د پخوانیو د ټیټې کچې د مجاهدینو د قوماندانانو چې اوس بې روزګاره دی د ناراضیتوب څخه یې ګټه پورته کړه. د وردوج د ولسوالی څخه یو تن ګډون وال و ویل:

> ″ زه د وردوج د ولسوالي څخه خپل پخواني مجاهدین پیژنم چې هغوي بې روزګاره دي او ژوند یې خورا تریخ دی. یو له هغوي څخه د طالبانو سره یوځای شو چې ځینې مالي ګټې تر لاسه کړي. دا ځکه چې چې ډیری پخواني جنګیالي بې روزګاره دي او په بې وزلۍ کې ژوند کوي.″

ګډون والو وویل چې په لومړی سر کې هلته یواځې ۲۰ شورشیان وو چې د دغې ولسوالۍ په څو کلیو کې فعال وو، خو دغه شمیره اوس تر ۴۰۰ څخه تر ۴۵۰ پورې پورته شوې ده. هغوی د دې تور ولګاوه چې هلته د یاغیتوب پراخه ستراتیژی وجود لری چې ولایت د تلو راتلو اساسی لارې کنترول کړی او ځانته مصوونه د ترانزیت لارې جوړې کړی چې له همدې ځای څخه منځنۍ آسیا هېوادونو ته تیر شی. د جرم په ولسوالی کې چې د وردوج د ولسوالی سره ګاونډ کې ده هم د دولت ضد عناصرو نفوذ کړی دی، فرغمونج، کیف، کاتیو،خوستاک او د جرم د ولسوالۍ نور کوچنی کلی د دولت ضد عناصرو په ولکه کې دی.

خلکو همدا ډول وویل چی د جمعیت اسلامی او حزب اسلامی رقابتونه یو د جګړی د لاملونه څخه پاتی شوی دی او څو مثالونه په همدی لړ کی وړاندی کړ چی رقابتونه په دی ولایت په تیکاو کی اغیزه اچوی دی . د تمرکز د بحثونو اکثریت ګډون وال په دې نظر وو چې جمعیت اسلامی او حزب اسلامی په بدخشان کې د خپل منځی شخړو اوږده سابقه لری، خلک په دې باور دی چې د جمعیت اسلامی او حزب اسلامی تر منځ تاوتریخوالی یوځل بیا په ۲۰۱۲ کال کې را څرګند شول. د حزب اسلامی دوه مشهور غړی د دولتی څوکیو لېږې شول. یو تن ګډون وال د ارګو د ولسوالی څخه چې هلته څه پیښ شول وویل:

" کله چې د حزب اسلامي ی غړی د ارګو د ولسوالي څخه تبدیل شو، نو د هغه پلویانو چې شمیرې د ۵۰۰ څخه زیات وو د ولسوال د دفتر په وړاندې مظاهره وکړه او ولسوال یې دې ته پرې نښود چې دفتر ته داخل شي. دغه بندیز تر اونیو دوام وکړ. دا یو د ګډوډۍ حالت و او خلک په دې اندیښنه کې وو چې کېدلای شي د دواړو مخالفو ګوندونو تر منځ وسله واله نښته پیل شي."

ټولو خلکو د ګاونډیو ولایتونو او هیوادونو سره د اقتصادی ګټو نښتو ته اشاره درلوده، چې معمولاً د وریښمو پر لاره په سوداګرۍ پورې اړه لری. هغوی په دې باور دی چې دغه اختلافاتو د دولت ضد عناصرو فعالیتونه راهڅولی دی چې د وریښمو د لارې تاسیسات چې بدخشان د تاجکستان او چین سره نښلوی او نوی پیل شوی دی سبوتاژ او مختل کړی. هغوی دا تایید کړه چې د بدخشان ځواکمن برخه وال په تیره بیا د ملی شورا غړی په دې کې علاقمندی لری چې ځینې ولسوالۍ بې ثباته کړی او د وریښمو د لارې د جوړیدونکو تاسیساتو لوری واړوی څو هغه د دوی د نفوذ د ساحو څخه تیر شی د دې پر ځای چې هغو ولسوالیو ته د سوداګرۍ فرصتونه را منځته کړی چې دغه سړک ورڅخه تیریږی. یو خاص تاکتیک دادی چې د ګاونډ ولسوالی بې ثباته کړی چې د سړک ساختمان د دوی په ځای کې وشی. خلکو د دې ادعا درلوده چې دپنجشیر د ولایت سیاسیون هم د وردوج په ولسوالۍ کې د شخړې په راپارولو کې دخیل دی او په دې فشار راوړی چې دغه سړک د سهیل د لارې د پنجشیر دوادۍ څخه او د کران منجان او زیباک د ولسوالیو څخه تیرشی. په پای کې د بدخشان خلکو دا واضحه کړه چې حتی پاکستان هم د

بدخشان په نا امنیو کې لاس لری: که چېرې د وریښمو لاره فعاله شی نود قراقروم د لویې لارې څخه د پاکستان او چین تر منځ سوداګری به اغیزمنه شی.

ګډون والو په دې موافقه وکړه چې د بدخشان ولایت له پخوا څخه حتې د شوروی د اشغال له مهاله د کانونو د شخړې سره مخ دی، په تیره بیا د لاجوردو د کانونو پر سر. د نورستان، پنجشیر او بدخشان د واک دلالان یو له بل سره د دغو کانونو د کنترول پر سر په جګړه وو. خلکو و ویل چې اوسنی حکومت په دې کې پاتې راغلی دی چې د کانونو استخراج په مرکزی توګه قانونمند کړی. د دې پر ځای د واک ځایی دلالان لکه د ملی شورا غړی، په دغه کاروبار کې شریک دی او محلی خلک ورڅخه ځکه کرکه لری چې دوی شتمن شوی دی په داسې حال کې د محل خلک د فقر د کرښې څخه ټیټ ژوند کوی او د روغتیایی پاملرنې ، تعلیم ، د سړک او نورو خدماتو د نه شتون څخه ځوریږی.

خلکو همدارنګه یو اضافی مثال هم وړاندې کړ چې د راغستان په ولسوالۍ کې د سروزرو یو کان د راپورونو له مخې د پارلمان د یو غړی له خوا کنترولیږی چې هغه یوه ناقانونه وسله واله ډله هم جوړه کړې ده ، چې خپل مخالفان هم دې ته راپاروی چې خپلې ملیشې ولری، چې دوی ورته د راغیستان په ولسوالی کې طالبان وایی. ګډون والو هم د دې ادعاوې درلودلې چې د ۳۰۰ څخه زیات وسله وال د کانونو په عملیاتو کې دخیل وو. د اشکاشم د ولسوالی څخه یو تن ګډون وال و ویل؛

" تیر کال د اشکاشم د ولسوالۍ څخه نږدې شپېرتنه د غران د لعلو د کان په سیمه کې د وسله والو کسانو له خوا چې د دغې ساحې څخه لعل را ویستل و وژل شول. دغو وژل شوو کسانو یوه قیمتي تیره میندلې وه او د همدغې تیرې لپاره دوي و وژل شول. "

د جرم د ولسوالی څخه ګډون والو و ویل چې د لاجوردو د کانونو پر سر شخړې درې تیرو لسیزو ته پراخیږی. په ۲۰۰۴ کال کې یوتن د پارلمان غړی د کانونو د ساتنې یو څانګه د پولیسو په قوماندانۍ کې جوړه کړه او هلته یې خپل ورور د دغې څانګې مشر وټاکلو او په دې توګه یې پر کان باندې خپل قبضه ټینګه کړه.

ټولو برخه والو د ولایتی ادارې د کارکردګۍ او رټیا په اړوند اندیښنه څرګنده کړه چې په کې چارواکی خپل ویجاړونکی نفوذ کاروی. هغوی وویل چې که څه هم اکثره د دولت ضد عناصرد بدخشان په ولایت کې په عقیدوی لحاظ د طالبانو سره نږدې نه دی ، په حکومت کې فساد او بې عدالتۍ عادی وکړی دې ته اړکړی دی چې د دولت ضد عناصرو سره یوځای شی او د خپلو مخالفینو څخه غچ واخلی.

ټولو ګډون والو د بدخشان په ولایت کې د کوکنارو کښت او د نشه یی توکو قاچاق د ناامنۍ د ستر لامل په توګه یاد کړ. هغوی وویل چې د کوکنارو کښت زیاتره د درایم په سیمه کې – چې د کوکنارو د کښت مرکز دی- او همدارنګه په کشم ،تیشکن او ارګو په بارانی سیمو کې کیږی. خلکو لوړ پوړی چارواکی او سیاسی نفوذ لرونکی کسان د تریاکو په کښت او نشه یی توکو په قاچاق تورن کړل. د فیض آباد څخه یو تن نارینه برخه وال وویل:

″ زه هغه لوړ پوړي چار واکي پیژنم چې هغوي د نشه يي توکو په قاچاق کې ښکیل دي خو زه يې نوموىه نه شم اخیستلای ځکه چې زه به د هغوي هدف وګرځم. دغه کسان د تریاکو د تولید او د نشه يي توکو د قاچاق په لړ کې خپلې ناوړه ګټې لري. دې سره د بدخشان د ځوان نسل ژوند ویجاړ شوی دی، خو هیڅوک هم د هغوي نوم نه شي اخیستلای.″

ځینو برخه والو هم د بې سوادۍ او د معیشت د سرچینو، بریښنا، ښوونځیو، د څښلو د اوبو ، او د سړکونو د تاسیساتو د نیمګړتیاوو او نشتوالی یادونه وکړه چې د بدخشان په ولایت کې د شخړې لاملونه او انګیزې دی.

## ۴. د سولې لپاره د لارې نقشه

د تمرکز د ډلو د بحثونو په لړ خلکو په بدخشان کې د شخړو د نوعیت په اړه هر اړخیزه پوهاوی وښود. هغوی د شخړې داخلی او باندنی عوامل او انګیزې یادې کړلې او سیاسی، اقتصادی، د نشه یی توکو اړوند، حکومتولۍ او ټولنیز عوامل یې چې هغه دشخړو داخلی او باندنی انګیزې تر اغیز لاندې راولی لړ لیک کړل. خلکو په بدخشان کې د سولې او ثبات لپاره د لارې محلې نقشې مخ ته کړې چې پر لاندې یو بل سره تړاو لرونکو څلورو موضوعاتی ساحو باندې یې تمرکز درلود.

**د محلي حکومتولۍ د ادارو تقویه کول:** د بحثونو ګډون وال په دې اند وو چې د دولت ماشینری په ولایتی کچه خورا کمزورې، غیر موثره او سیاسی ده. خلکو د دې شکایت درلود چې د حزب اسلامی او جمعیت اسلامی تر منځ سیالیو د عادی خلکو ژوند په منفی توګه اغیزمن کړی دی: دې سره هغه څه را و ټوکیدل چې ورته په عمومی صورت یاغیتوب وایی خو په واقعیت کې دا د سیاسی ډلو تر منځ د تاوتریخوالی ډکې سیالۍ دی. ګډون والو په ولایتی ادارې باندې تاکید وکړ چې سیاسی ګوندونو ته د دې یادونه وکړی چې دوی باید خپلو سیاسی کړنلارو ته پابند و اوسی او هغوی باید په دقیق ډول د یو بل د کړنلارې درناوی ولری او خپلې لانجې تر دې بریده ونه رسوی چېرته چې هغوی د خپلو اجنډاګانو د تعقیب په موخه په ولایت کې امنیتی ستونزې را ولاړې کړی. د کشم د ولسوالۍ د خومباک د کلی یو تن ګډون وال وویل؛

" زه پوهيږم چې حزب او جمعيت دواړه خپلواک ګوندونه دي. خو هغوي بايد د محلي خلکو ګټې هم په پام کې ونيسي. تير کال د دولت پلوه مليشا يو قوماندان په يوه ځانمرګي بريد کې و وژ ل شو. هغه ځکه و وژل شو چې هغه د هغه کلي څخه د جمعيت غړی و په داسې حال کې چې د هغه مخالفين د حزب اسلامي څخه وو."

ګډون والو د دې يادونه وکړه چې بدخشان د منرالونو د شتمنۍ څخه يو بډايه ولايت دی، خو د ولايت په کچه د کمزورۍ او غير اغيزمنې ادارې له امله د واک دلالانو ته د دې فرصت چمتو دی چې دغه زيرمې د خپل ځان په ګټه وکاروی. هغوی په دې باور دی چې دغو پېښو سرچينو د ګډوډۍ يو حالت رامنځته کړی دی: د واک محلی دلالان په ناقانونه توګه دغه منرالونه راباسی محلی اوسيدونکو ته په کې د کار زمينه نه برابروی او د تر لاسه شوو عايداتو څخه هيڅ ډول پيسې د محلی پرمختيا لپاره نه ورکوی. ځينې ګډون والو دا تاييد کړه چې دغه ډول حالت د حکومت او هېواد والو تر منځ د نباوريتوپ فضاء رامنځته کړې ده، چې دا د واک د محلی دلالانو کار دی. د جرم د ولسوالی څخه يو تن د ټولنې مشر وويل:

" طبيعي زيرمې د بيلګې په توګه لاجورد د خلکو په ځمکو کې دي، خلک د دې واک دولت ته ورکوي چې هغه د قانوني لارې را وباسي. موږ وليدل چې دغه طبيعي زيرمې په ناقانونه توګه استخراجيږي او د واک دلالان ورڅخه شخصي ګټه تر لاسه کوي. محلي ټولنې ته د کار فرصتونه نه برابريږي او د محلي ټولنې د پرمختيايي چارو لپاره پيسې نه مصرف کيږي. په نږدې راتلونکې کې خلک به د دغه ناقانونه استخراج په وړاندې ودريږي او هغه به ودروي. دا به په دغه ولايت کې نوې شخړه رامنځته کړي."

خلکو د دې يادونه وکړه چې د وريښمو لار يوه بخوانۍ لار ده چې افغانستان د چين سره نښلوی او داچې حکومت د دې لپاره اقدامات کړی دی څو هغه بيرته را ژوندۍ کړی. هغوی د دې څخه انديښنه درلودله چې د وريښمو لار په بدخشان کې د شخړې يو له لاملونو څخه دی. هغوی د دې غوښتنه درلودله چې ولايتی اداره بايد د دې لپاره اقدامات وکړی څو هلته امنيت ښه کړی او ولايت ته د باندې څخه د راننوتلو مخنيوی وکړی. د وردوج د ولسوالی څخه يو تن د کلی سپين ږيری په لاندې ټکو کې دغه مطلب څرګند کړ؛

" زه پوهيږم چې زموږ ځينې هېوادوال د وريښمو د لارې څخه خوښ نه دي چې هغه د وردوج د وادۍ څخه تيره شي. دغه هېوادوال د وردوج په ولسوالۍ کې تش په نوم طالبانو ته وسلې او مالي ملاتړ برابروي . د هغوي موخه داده چې د وريښمو لار د وردوج څخه بل لوري ته ستنه کړي. هغوي د خپلو ګټو

په فکر کې دي او زموږ حقوق تر پښو لاندې کوي. دا سمه نه ده. یو وخت به دغه اور د دوی د کور تر دروازو ورسیږي. ″

خلکو د تریاکو تولید او د نشه یی توکو قاچاق د بدخشان د ولایتی اداري لپاره د یوې آساسی ننګونې په توګه وښود. هغوی د دې دا استدلال درلود چې د ځواکمنو اشخاصو مداخلې او همدارنګه نا امنی او بې وزلی دغه مسله لا کړکیچنه کړې ده: بزګران غوره ګڼی چې کوکنار وکری ځکه چې د دې لارې هغوی د خپل معیشت لپاره ډیرې پیسې تر لاسه کوی. د دې د حل لاره داده چې د مخدره توکو سره د مبارزې پولیس په ولایتی کچه موثره شی . هغوی همدارنګه د دې وړاندیز وکړ چې باید د عامه پوهاوی داسې یو قوی کمپاین پر لاره واچول شی چې د تولید کوونکو او دهغوی د ماشومانو لپاره د نشه یی توکو قاچاق څومره زیان رامنځته کوی. د شهر بزرګ د ولسوالۍ څخه یو تن پلار و ویل:

″ زما زوي بې روزګاره و. هغه د ګټې لپاره بل هیڅ مهارت نه درلود چې د ځان او کورنۍ لپاره ګټه وکړي. هغه اړ شو چې یو څو کلوګرامه هیروین د افغانستان څخه تاجکستان ته ولیږدوي. هغه ونیول شو او د ډیرو کلونو په بند محکوم شوی دی. دلته ډیر زیات وګړي زما د زوي په څیر بې وزلي دي. حکومت باید چې د تریاکو د تولید مخه ونیسي او ستر کاروباریان بندي کړي. خو زه په دې پوهیږم چې دا کار نا شونی دی ځکه چې ډیری ځواکمن کسان په دې کې ښکیل دي. یواځې د غریبو زامن نیول کیږي ځکه چې هغوي هغه کسان دي چې نشه یي توکي قاچاق کوي او دا کار د دې لپاره کوي چې خپلو کورنیولپاره څه وګټي.″

**د بشری حقونو وده ، د قانون واکمنی او د معافیت پای ته رسول:** ګډون والو په ګډه د قانون د واکمنۍ د نه شتون څخه شکایت درلود او هغوی و ویل چې د واک هر دلال ځانته ساحه او ځانته مقررات جوړ کړی دی. خلک د خپلو بنسټیزو حقونو څخه محروم دی او هلته د قانون اغیزمن نقش نشته څو د دوی تحفظ وکړی. د راغستان د ولسوالۍ څخه د ښوونځی یو تن ښوونکی وویل؛

″ په ولسوالۍ کې ګډوډی ده. د پارلمان یوغړي خپله ملیشا لري او په ولسوالي کې د کانونو څخه سره زر راباسي. د هغه مخالفینو خپلې ملیشاوې د طالبانو په نوم جوړې کړي دي او سیمه یې په کنټرول کې نیولې ده. هغوي هم د کانونو څخه سره زر را ویستل غواړي. دغه ډول هغوي د خپلې ګټې لوبه تر سره کوي. دولتي اداري د دغو خلکو تر نفوذ لاندې دي. هلته د قانون واکمني نشته بلکې د یو څو ځواکمنو واکمني ده. ″

ګډون والو داسې باور درلود چې د بيا يوځای شوو[۱۳۵] کسانو ارزونه د ولايت د مقام اود ملی امنيت د رياست او پوليس له خوا د قناعت وړ نه ده. د دې ترڅنګ مدنی ټولنه او دبشري حقونو سازمانونه د ولسوالۍ په کچه فعال نه وو ځو چې جنګی مجرمين تشخيص کړی او د هغوی د بيرته يوځای کيدو په لړ کې اعتراض ولری. هغوی زياته کړه چې نو له همدې کبله د دولت ضد عناصر کولای شی په اسانۍ سره د سولې له بهير سره يوځای شی او د بيرته ادغام په صورت کې په پام کې نيول شوې ګټې تر لاسه کړی. عادی وګړی کيدلای شی په دې ونه پوهيږی چې معافيت څه شی دی او کيدلای شی چې د يو جنګی مجرم سره په پيوستون او همدردۍ کې راشی. ګډون والو د دې وړانديز وکړ چې د خلکو عامه پوهاوی ته زياته اړتيا ده څو هغوی د معافيت سره د کلی په کچه د مبارزې په اړه وپوهيږی. د ارګو د ولسوالی ښځه يو تن ښوونکی وويل؛

" خلک هغه مهال عدالت ګوري کله چې جنايت کوونکي د خپل جنايت له امله په سزا رسيدلی دی. معافيت بايد پاي ورسيږي او خلک بايد چې د هغو جنايت کارانو په وړاندې ودريږي چاچې په تير وخت کې جنايتونه تر سره کړي دي. معافيت ډير ناوړه عواقب لري؛ دا به مجرمينو ته د دې اخلاقي ملاتړ ورکړ ي څو دغه جرمونه بيا تکرار کړي. که چېرې هغه ته سزا ور کړل شي نو بيا به هيڅ يو د دې جرات ونه لري چې جرم تر سره کړي."

**د ټولنيزې او اقتصادی پرمختيا تقويه کول:** خلکو په دې ټينکار درلود چې معارف خلکو ته د هغوی د حقونو او مسووليتونو په اړه پوهه ورکوی، او هغوی ته د دې امکان برابروی چې ځانته کار پيدا کړی او پيسې وګټی. د ياوان د ولسوالی ښځه يو سړی وويل؛

" زده کړه خلکو ته روښانتيا ورکوي او هغوي ته دا فرصت برابروي چې يو مسلک تر لاسه او خپلې کورنۍ لپاره څه وګټي. په کليو کې، په زرګونو ځوانان بې روزګاره دي. هغوي هيڅ مصروفيت نه لري. هغوي يا خو افغان ملي امنيتي ځواکونو سره يوځاي کيږي او يا هم د دولت ضد عناصرو سره ځو په مالي لحاظ څه تر لاسه کړي. حکومت بايد چې دې ځوانو نارينه وو ته تخنيکي

[۱۳۵] پخوانی جنګيالی ددولت پخوانی ضد عناصر هغه کسان چی جګړه درولی وی او خپل خلکو سره د بيا پيوستون پروګرام له لاری لکه د افغانستان د سولی او يو ځای کيدنی برنامی لخوا يو ځای شوی وی . د بيا پيوستون د پروګرام له مخی هغه پخوانی جنګياليان چی تاو تريخوالی ته پايله کيژدی د افغنستان اساسی قانون ومنی د قانون سره سم ژوند وکړی او خپل رابطه د مخالفينو سره قطع وساتی دوی به خپلو خلکو سره يوځای شی د تعليم او کار موندنی دزدکړی او امنيتی حمايت کومکونو څخه هم برخه مند کيدای شی. د ملی امنيت د شورا او د دی آر کميسيون معلومات وګوری :
https://info.undp.org/docs/pdc/Documents/AFG/00060777_00060777_APRP_National%20Programme%20Document%202010%2006%2001.pdf

او مسلکي مهارتونه برابر کړي: میخانیکران، خیاطان او یا نور چې دا به هغوي ته د دې فرصت برابر کړي چې پخپله پیسې وګټي.″

**د سولې او پخلاینې د عام شموله پروسې ملاتړ:** ګډون والو دا څرګنده کړه چې په بدخشان کې د سولې پروسه په عادی خلکو دوه اړخیزې اغیزې کوی. خلک په دې پوه وو چې د سولې شورا ګانې دفترونه او پرسونل لری خو د هغوی د فعالیتونو څخه مطمن نه وو. د سولې د ټول شموله پروسې لپاره ګامونه نه وو پورته شوی او کوم نوښتونه نه وو. د فیض آباد څخه یوې ښځینه ښوونکې وویل؛

″ موږ په دې پوهیږو چې د سولې ولایتي شورا یو دفتر لري او کارمندان په کې کار کوي. زموږ په یاد نه دي چې هغوي ولسوالیو ته تللی وي او دسولې لپاره یې د ولسوالۍ په کچه کمپاین کړی وي. د وردوج ولسوالۍ ته هغوي د دولتي کار مندانو سره یو څو ځل ولاړل. د سولې ولایتي شورا باید خپل نوښتونه ولري هلته ولاړ شي او په ولسوالیو کې د طالبانو سره وګوري. د سولې د ولایتي شورا غړي دیني عالمان دي چې هغوي د طالبانو په وړاندې ښه پرسټیژ لري. دواړه هغوي په تیره کې مجاهدین وو. هغوي کولای شي چې دوي د سولې په بهیر کې شامل کړي خو په دې لړ کې هغوي اغیزمن نه دي. ″

## ۵. د خلکو وړاندیزونه:

د ګروپی بحثونو ګډون والو په بدخشان کې د چګړې د ختمولو لپاره لاندنی وړاندیزونه کړی دی:

**د محلي حکومتی موسساتو تقویه کول:** (۱) په حکومت کې اصلاحات را وستل. ټولې پریکړې باید د هیواد اود خلکو په ګټه وی نه داچې د یوځانګړی ګوند په ګټه؛ (۲) د استخدام او پرمختیا د فعالیتونو په لړ کې باید وړتیا او مستحق والی په پام کې وی. پریکړې نه باید د ګوند او قومی تعصب پر بنسټ ولاړې وی؛ (۳) حکومت باید د تریاکو د تولید او قاچاق د مخینوی لپاره مشخص او کوټلی ګامونه پورته کړی. د نشه یی توکو سره د مبارزې پولیس باید اغیزمن او باکفایته شی؛ (۴) د نشه یی توکو په تولید او قاچاق کې د دولتی کارمندانو د ګډون مخنیوی وشی. حکومت باید د فساد پر ضد د صفر زغم ولری او مفسدو چارواکو ته مثالی سزا ورکړی.

**د بشری حقونو، د قانون د حاکمیت وده او د معافیت مخنیوی:** (۱) د بشری حقونو په باره کې د عامه پوهاوی پروګرامونه باید په کلیو او لسوالیو کې پر لاره واچول شی؛ (۲) دینی عالمان، د ټولنې مشران ، ښځې، د سیاسی ګوندونو غړی، ځوانان او حکومتی مامورین باید را وبلل شی ځکه چې هغوی د پریکړې په کولو کې اساسی نقش لری او کولای شی

چې بشری حقونو ته وده ورکړی؛ (۳) مدنی ټولنه او د بشری حقونو د نور سازمانونو شبکې باید لېرې پرتو کلیو ته پراخې شی. (۴) ښځو ته باید د دې امکان ورکړل شی څو هغوی ذ ولسوالیو او کلیو په کچه په پریکړو کولو کې ونډه ولری. (۵) معافیت ختم کړی : د هغو یو ځای شویو کسانو بررسی کول چی په جګړه کی بربنده جرمونه کړی وی .

**د ټولنیزې او اقتصادی پرمختیا ځواکمنتیا:** (۱) ماشومان باید په بدخسان کې ښوونځیو ته رسیدنه ولری او په دغو ښوونځیو کې مسلکی ښوونکی باید پر کار وګومارل شی؛ (۲) حکومت باید بې روزګاره ځوانانو ته د ډونرانو په مرسته تخنیکی زده کړې برابرې کړی. په دې لاره به هغوی پر خپل ځان ولاړ وی او پر حکومت به بوج نه وی؛ (۳) د ولایت لرې پرمختللې سیمې هم باید چې په پر مختیایی پلانونو کې ونیولې شی؛ (۴) د ټولو طبیعی زیرمو استخراج باید د قانونمندو قراردادونو د لارې تر سره شی. د کانونو کمپنۍ باید محلی اوسیدونکی استخدام کړی او یو اندازه پیسې د دغې سیمې د پرمختیا لپاره ولګوی (سړکونه، کتنځی، ښوونځی)؛

**د ټول شموله سولې او پخلاینې د پروسې ملاتړ:** (۱) ښځې، ځوانان، قومی او دینی لړکی د حکومت له خوا تجرید شوی دی. د هغوی نظرې باید د سولې په پروسه کې شاملې شی. ددوی وړاندیزونه او پیشنهادات باید د سولی په یو ګټور پروسه کی شامل شی .

# د تخار ولایت
# د سولي لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

دسولی دا ولایتی نقشه د هغو خلکو د نظریو،مسایلو او موندنو پر بنسټ ولاړ دی چا چې د د تخار په ولایت کې د سلا مشورو د پروسې پر مهال د تمرکز د ډلې په خبرو اترو ، انفرادی مرکو او د نظریو په سروې کې ګډون کړی وو . دا مشورتی ناستی ، په افغانستان کی د سولی د خبرو اترو ددویمی مرحلی (جی ددی وروسته خبری اتری) نومول کیژی، هغه سر تا سری برنامه چی د ۱۱ مدنی ټولنی او د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون په ابتکار د ټول هیواد په کچه د ۴۵۰۰ عادی افغانانو څخه زیاته کسانو سره د مشوری په موخه د۳۴ ولایتی سولی نقشی ته دودی ورکولو په موخه ترسره شوی دی .

د تخار په ولایت کې د تمرکز د ډلې د خبرو اترو لس ناستې دایره کړی په کومو کې چې ۲۲۱ ګډونوالو برخه اخیستې وه (۱۰۷ نارینه او ۱۱۴ ښځې). ګډونوال د ژوند د بیلابیلو برخو څخه راغلی وو چې په هغو کې د کور میرمنې، د بشری حقونو مدافعین، د ښځو د حقونو فعالان، هنیوال، ښوونکی، زده کونکې،بزګران، د ټولنو مشران،دینی علما، د جګړې قربانیان، توقیف شوی کسان، بندیان، معیوب کسان، د ولسوالی د شورا غړی، روغتیایې کارکونکی او موټر چلونکی شامل وو.

## ۲. د ولایت پیژندنه: جغرافیه،سر شمیرنه او سیاسی شرایط

د تخار ولایت پ ۱۲۳۷۶ کیلو متر مربع ساحه ، او د ولایتی پلازمینې تالقان په شمول ۱۷ ولسوالیته پوښښ ورکړی دی . تخار ولایت په کال ۱۹۶۴ کې هغه مهال را منځ ته شو چې کله د قطغن ولایت په دریو ولایتونو یعنی بغلان،کندز او تخار وویشل شو. د ولایت تر نیمایې زیاته برخه (۵۶.۸ سلنه) غرنۍ یا نیمه غرنۍ سیمه ده په داسی حال کې چې د یو پر دری نه زیاته سیمه(۳۶.۷ سلنه) هواره سیمه ده.

د تخار د ولایت د وګړو شمیر نژدی ۹۰۱۹۰۰ تنه دی .[۱۳۶] دا ارقام په شمال ختیځه سیمه کی دا ولایت د وګړو د شمیر په حواله یو د ګڼ میشته ولایتونو څخه او په ملی کچه نهم ګڼ میشته ولایت حسابوی. د تخار د ولایت ۸۶ سلنه وګړی په کلیوالو سیمو کې او ۱۴ سلنه وګړی په ښارې سیمو کې اوسیږی. ازبکان د وګړو د (۴۴ سلنې) او تاجکان د (۴۲ سلنې) په درلودلو سره په ولایت کې واکمن دی، پښتانه(۱۰ سلنه)، هزاره،بلوڅ، پشه یې او ګوجر قومی لږکی ډلې جوړوی. د روستاق، چاه آب، هزار سموچاو فرخار ولسوالی فرقه یې شخړو له امله له ډیر مودې راهیسی متاثره شوی دی. که څه هم چې ځایې قومندانان په ټوله کې د دولتی چاروکو سره همکاری کوی، خو هغوی هڅه کوی په ولایت کې خپل نفوذ هم وساتی.

[۱۳۶] د مرکزی احصایی دفتر د ۲۰۱۱ کال

د تخار ولایت په ملی کچه د ډایاک په برخه کی د لاسته راړنو له امله یو مخکښه ولایت وه. د بې وسلی کولو د نوښتونو هر کلې شوی او په دې برخه کې چارواکو او ټولنو زیاته مرسته کړې: د ۲۰۰۱ کال څخه نیولی بیا تر ننه پورې، ځایې قومندانانو په ډیری لیوالتیا سره نږدی ۳۰۰۰ سپکې او درندې وسلې او ۱۰۰ ټنه مهمات سپارلې دی. خو د وسلو کیفیت، په خاص ډول د هغو تسلیم شویو وسلو کیفیت چې سپارل شوی د سوال وړ دی. د ۲۰۰۹ کال تر نومبر پورې، نهه ولسوالی د وسلو د شتون څخه پاکې اعلان شوی دی: په چاه آب، فرخار، نمک آب، بنگی او بهارک ولسوالیو کې اوس هم په رښتیا سره په ځینو قومندانانو د فعالو وسلو د ساتلو شک کیږی. په رستاق ولسوالی کې قومندانانو یواځې خپلې ۱۰ سلنه وسلې سپارلې او د نورو وسلو د سپارلو څخه یې ډډه کړی. د ۲۰۰۹ کال د نیمایې مودې څخه را په دې خوا، په هیواد او کندز کې د مخ پر زیاتیدونکې نا امنې له وجې د بې وسلې کولو پروکرام ځنډیدلې دی، خو یاغیان د سولې او پخلاینې[۱۳۷]د پروګرام سره یو ځای کیږې او خپلې وسلې دولت ته سپاری.

دوه محافظه کاره ګوندونه- جمعیت او جنبش د ولایت په سیاسی منظر حاکم دی. دا ګوندونه د یوځې سیاسی سازمانونو پاتې خاطرې دی چې په عمومی توګه د مکملو پایدارو سیاسی سازمانونو په نه بلکه د قومې کرښو په اوږدو کې را منځ ته شوی دی. دواړه ډلې د یوه بیل ماهیت د ننګونو سره مخې دی: د جمعیت قومندانان په کلکه په تخار ولایت کې د جنبش د نفوذ د ودې سره مخالف دی(دا په خاص ډول د ۲۰۰۴-۲۰۰۵ او ۲۰۰۹ کلونو د ټاکنو پر مهال لیدل شوی) خو جنبش ګوند بیا د ازبکو په اړه څوک چې په سیاسی لحاظ ویشل شوی، علاقه مند دی (۵۰ سلنه یې د جنبش،۳۰ سلنه یې د جمعیت، ۱۰ سلنه یې د شورا عدالت او ۱۰ سلنه یې د ملی کنګرې ملاتړ کوی). د جنبش ګوند نهه تنه نوماندان په ټاکنو کې ودارول، په دې سره د ګوند رایې وویشلې شوې چې په نتیجه کې یې یواځې یو نوماند پریالی شو.

د ۲۰۱۳ کال تر فبروری پورې[۱۳۸]، د ټولنو سره بیا یو ځای شوی ۱۰۴ تنه راجستر شوی. ځینې موضوعات هم را برسیره شول څکه هغه کسان چې را وړاندی شوی وو د پروګرام د

[۱۳۷] پخوانی جنګیالی ددولت پخوانی ضد عناصر هغه کسان چی جګړه درولی وی او خپل خلکو سره د بیا پیوستون پروګرام له لاری لکه د افغانستان د سولی او یو ځای کیدنی برنامی لخوا یو ځای شوی وی . د بیا پیوستون د پروګرام له مخی هغه پخوانی جنګیالیان چی تاو تریخوالی ته پایله کیژدی د افغانستان اساسی قانون ومنی د قانون سره سم ژوند وکړی او خپل رابطه د مخالفینو سره قطع وساتی دوی بـه خپلو خلکو سره یوځای شی د تعلیم او کار موندنی دزدکړی او امنیتی حمایت کومکونو څخه هم برخه مند کیدای شی. د ملی امنیت د شورا او د دی آر کمیسیون معلومات وګوری :
https://info.undp.org/docs/pdc/Documents/AFG/00060777_00060777_APRP_National%20Programme%20Document%202010%2006%2001.pdf

[۱۳۸] پخوانی جنګیالی هغه کسان د یچی د بیرته یو ځای کیدلو پروګرام له مخی یو ځای کیژی .

اړتیاوو سره برابر نه وو، د ګټه اخیستونکو د پیژندلو په برخه کې د فساد شتون هم مشاهده شوی. د امنیت په برخه کې د دولت لخوا د وړاندیز شویو ضمانتونو په برخه کی هم شکونه تر پوښتونو لاندې راغلې. عامه نظر هم د پروګرام د پایښت په اړه ملاحظات درلودل، او داسی تمایل یې نه دی ښودلی چې پخوانې یاغیان و منې او په تولنو کې یې مدغم کړی.

## د شخړو تحلیل: د شخړې ټمونې او انګیزې

**د شخړې ټمونې:** د تخار د خلکو سره چې د خلکو د ډیالوګ د دوهم پړاو پر مهال سلا مشورې ترسره شوی، هغوی د طالبانو تر رهبری لاندې یاغیتوب،سیاسی تشنج،د سیاسی ډلو تر منځ خپلمنځی سیالې، د مخدره توکوسوداکری/قاچاق، قومی تشنج، د دولت پلوه ملیشو شتون، معافیت، نشه یې توکې، د قدرت دلالان او جنګسالاران هغه اصلی لاملونه وبلل چې په تخارکې سوله او ټیکاو متاثره کوی.

که څه هم چې په تخار ولایت کې خلک د کلی امنیتی وضعیت په اړه راضی وو، خو هغوی بیا هم د طالبانو تر رهبری لاندې یاغیتوب ته د شخړې د مهم لامل په سترګه کتل. سره له دې چې د تخار په اشکمش ولسوالی کې یاغیان فعاله دی، په شمال ختیځ کې تخار ولایت ته د تر ټولو باثباته ولایت په سترګه کتل کیږی. د تخار په ولایت کې د تالقانو په ښار کې د بشری حقونو مدافع د امنیتې وضعیت په هکله وویل:

> ″د تخار په ولایت، د یو څو سیمو په استثنا چیرې چې لا هم د دولت ضد عناصر فعال دي امنیت بد نه دی. د بیلګې په توګه، د تخار د ولایت د اشکمش د ولسوالي ځینې برخې. د ولایت پاتې برخې پایدونکي دي.[139]″

ګډونوالو باور درلود چې د طالبانو تر رهبری لاندې یاغیتوب د نشه یې توکو څخه د لاسته راغلو پیسو له لارې چې په دې وروستیو کې یې شدت موندلی،تمولیږي. هغوی وړاندې دا ویلې چې محلی وګړی په ځینو سیمو کې لا هم د دې لپاره د طالبانو ملاتړ کوی چې د خلکو او دولت تر منځ واټن موجود دی. ګدونوال تینګار کوی چې ځینې خلک د اوسنی دولت په اړه شکمن دی او داسی فکر کوی چې طالبان ممکن بیا را څرګند شی نو له دې امله نه غواړی چې خپلې اړیکې د طالبانو سره خرابې کړی. د تالقانو څخه یوې ښځې وویل:

> ″د جګړې د دوام عمده لامل یاغیتوب،د یاغیانو سره د خلکو خواخوږي، او دولت او خلکو تر منځ د باور نه شتون دی. عادي افغانان د دې لپاره د یاغیانو

[139] په ۲۰۱۵ کال کی د تخار ولایت دایمی با ثبات حالت په ګاوندی ولایت کندز د امنیتی حالت د خرابیدو سره متاثره شوه . ددولت ضد عناصر خپل فعالیتونه د درقد، خواجه بهالدین، ینګی قلعه او خواجه غار څخه پراخ کړ.

ملاتړ کوي ځکه دوي باور نه لري چې افغان دولت په دوي د طالبانو څخه وژغوري.″

د شخړې بله بنه کومې ته چې خلکو اشاره کړې هغه د ازبکو او تاجکو تر منځ قومی تشنج دی او هغوی په دې باور دی چې قومی تشنج ته په سیاسی لحاظ لمن وهل کیږی. ځینې حتی باور لری چې قومی شخړې شایې تخار ولایت ډیر پې ثباته کړی او د طالبانو تر رهبریې لاندې یاغیتوب ته د شخړې د مهم لامل په توګه نه کوری. ځینی باور لری چې قومی شخړې د یوې شخړی په را منځ ته کیدو کې مرسته کوی. ازبک په تخار ولایت کې د اکثریت ادعا کوی او ځینی ګډونکونکی شکایت کوی چې د دوی داکثریت با وجود، ازبکان څنډې ته شوی او دوی په نا مناسبه ټوګه دولتی کرسی لاندی کړی دی . . یوه نارینه ګډونکونکی وویل:

″کیدای شي د تخار په ولایت کې قومي تشنج هر وخت په یوه لویه شخړه واوړي، دلته د قومي تشنج د پیل په هکله نښې موجودي دي. د تخار د ولایت زیاتره اوسیدونکي تجرید شوی دي او دوي ته باید په محلی حکومت کې پوره استازیتوب ورکړل شي او باید د هغوي شکایتونه واوریدل شي. که نه نو هر مخت ممکن د تخار په ولایت کې تشنخج پیل شي او بیا به شخړه بدتره شي.″

خلکو د ازبکو او تاجکو تر منځ د قومی تشنج له امله اوسنې ابهام او ناکراری ته اشاره کړی. خلکو باور درلود چې دواړه خواووی د یو بل مخالفې دې او شایې هڅې د بن بست سره مخامخې شی. قارجن ازبک احتجاج کونکی د تخار ولایت لپاره د یوه تن ازبک والی په ټاکلو سره څه نا څه تسکین شوی. ګډونکونکو همدارنګه د ازبکو او بلوڅو تر منځ په ینګی کلا کې او ازبکو او پښتنو تر منځ په جواجه بهاوالدین او د رقاد په ولسوالیو کې د مخ پر زیاتیدونکو قومی تشنج په اړه اندیښنې مطرح کړی، که څه هم چې دغه تشنج د ځمکو برسر د شخړو له امله دی. یوه نارینه ګډونکونکی وویل:

″که څه هم چې پښتانه د ځمکو د تصرف ټول قانوني اسناد لري، خو ازبکانو د هغوی ځمکي نیولې دي. محلي حکومت باید د قضایې ارګانونو پریکړې عملي کړی او پښتنو ته چې د دې سیمې اصلي اوسیدونکي دی خپلي ځمکې بیرته ورکړي. که چیری دولت په دې هڅو کې پاتې راځي نو حالات به بدتر شي.″

**د شخړې انګیزې:** د تخار خلک په دې نظر دی چې لاندی عناصر په تخار کی د شخړی عمده لاملونه دی : طالبان، د قدرت محلی دلالان،د ځمکې مافیا، د مخدره توکو سوداګرې/ترانزیت، دولت پلوه ملیشا، سیاسی سیالان، معافیت، افغان ملی پولیس، د کاری فرصتونو نه شتون،اداری فساد، د قانون کمزوری حاکمیت، نا لوستی ځوانان .

**د واک محلی دلالان:** خلکو اشاره وکړی چی د واک محلی دلالان ، د خپلو ګټو لپاره خلک استعمالوی. هغوی د خپلو ګټو او د هغه څه د ترلاسه کولو لپاره چې دوی یې غوښتونکی دی هر دول کار کوی. خلکو همدارنګه ویلی چې د قدرت دلالان په تخار کې سوله او ټیکاو نه غواړی ځکه چې هغوی خپلی کتی په خطر کې نه شی اچولای. د تالقان د ښار څخه یوې زده کونکې وویل:

"د قدرت داسې محلي دلالان شته څوک چې خپله سوکالۍ او لاسته راوړنې په قومي کرښو باندې د ملکي وګړو په ویشلو کې لټوي. موږ وایو چې دوي په خپله اوبه خړوي تر څو کبان پکې ونیسي. دا د قدرت دلالان دي چې خلک سره جنګوي."

خلکو همدارنګه ادعا کړی چې په تخار کې د مخدره توکو سوداګری او ترانزیت د ولایت د بې ثباته کولو یوه انکیزه ده او د دې څخه یوه اندازه پیسې یاغیانو ته ځې. هغوی ټینګار کوی چې د هیواد په شمال کې د مخدره توکو ۶۰ سلنه ترانزیت د تخار ولایت په څلورو ولسوالیو یعنی ینګی کلا،حواجه بهاوالدین،درقاد او چاه آب ولسوالیو کې ترسره کیږی. د درقاد دولسوالی څخه یوه نارینه ګډونکونکی شکایت وکړ:

"د مخدره توکو په سوداکری او ترانزیت کې مافیا ښکیله ده. د یاغیانو د ملاتړ نه پرته د مخدره توکو ترانزیت امکان نه لري او دا د یاغیانو لپاره له منفعت څخه ډکه سوداګری ده. د مخدره توکو سوداګری هغه پوتانسیل لري څو تخار ولایت نا ارامه کړي."

**په فساد ښکیل او غیر مسلکی پولیس:** د تخار په ولایت کې د تشنج بله انګیزه د خلکو په اند د ملی پولیسو شتون دی او دوی باور لری چې په تخار ولایت کې پولیس غیر مسلکې، په فساد ککړ او ښه نه دی روزل شوی. ګډونوال په دې باور وو چې د پولیسو د ملاتړ نه پرته د مخدره توکو سوداګری غیر ممکنه ده. تر څو چې پولیس په فساد ککړ وی، د مخدره توکو سوداګری به دوام ومومی. د تالقان د ښار څخه یوې ښځینه ګډونوالی په تاسف سره وضعیت څرګند کړ:

"د تخار په ولایت کې پولیس(افغان ملي پولیس) بې کفایته، په فساد ککړ او غیر مسلکي دي. هغوي مناسبو روزنو ته اړتیا لري. له هغه چې دوی په فساد ککړ دي دوي د مخدره توکو د سوداګري په اړه اقدامات نه کوي."

د فرخار ولسوالی څخه یو قومی مشر وویل:

؛"پولیسان ډیرې بدې اخلې او بیا د مخدره توکو سوداګری ته اجازه ورکوي. که څه هم چې تخار ولایت د تریاکو د کښت څخه یو پاک ولایت اعلان شوی، د

مخدره توکو لېږد د دې لارې څخه او په تخار ولایت کې د دې لپاره صورت مومي چې پولیس یې د مخدره توکو په سوداګرۍ کې ښکیل او په فساد ډېر ککړ دي. پولیس په نورو حقوقي قضیو او حتی د نیولو پر مهال هم بدې اخلي."

**د قانون کمزورتیا او په قضایی نظام کی فساد:** ګډونوال همدارنګه باور درلود چې د قانون د واکمنۍ نشتوالی د شخړې یوه اصلی انګیزه ده. دوی باور لری چې له هغه راهیسی چې قانون په ټولو وګړو په مساوی توګه نه دی تطبیق شوی، امنیتی حالت بدتر شوی دی. ګډونوال د تخار په ولایت کې د قضايي ارګانونو په هکله چې په فساد کې ښکیل دی انتقادی وو. د تالقان په ښار کې یوه مدافع وکیل وویل:

"هغه اصلي داخلي فاکتور کوم چې په تخار کې بې ثباتې را منځ ته کړي هغه د قضا کمزوری سیستم دی، خلک د دې لپاره د قضا په اوسني سستم باور نه لري چې دا سستم په فساد ککړ او نیمګړی دی."

**دولت پلوه ملیشی:** ګډونوالو باور درلود چې دولت پلوه ملیشاوې په حقیقت کې د قانون څخه ځانونه پورته بولې او یواځې هغو کسانو ته ځانونه مسول ګنی څوک چې پر دوی مسلط دی. د خواجه غار څخه یوه تن ګډونکونکی وویل:

" دغه وسله والې ملیشاوې هر وخت خلک تهدیدوی او زورويي. درولت باید دغه ډلې په وخت سره کنترول کړي. که دا کار تر سره نه شي نو بیا به دا ډلې د دولت مشروعیت وننکوي او د دولت په وړاندې یو جدي ګواښ را منځ ته کړي."

**د ځمکی ښخړی:** خلک ادعا درلود چې په تخار کې د ځمکو مافیا هڅه کوی ولایت د شخړی په حال کې وساتی تر څو دوی د خلکو جایدادونه ضبط کړی. له هغه ځایه چې د ځمکو اصلی مالیکین وینی چې منازغې د خبرو له لارې نه هوارېږی، نو ممکن هغوی حشونت ته لاس واچوی. د تالقان د ښار څخه یوه تن نارینه ګډونکونکی وویل:

"د ځمکو مافیا د خلو ملکیتونه نیولي. دولت باید اصلي مالیکینوته بیرته ځمکي وسپاري. که چیرې دولت په دغه چاره کې پاتې راشي، د ځمکلي اصلي مالک به د خپلي ځمکې د بیا ترلاسه کولو لپاره هر کوښښ وکړي حتی که هغه خشونت ته مراجعه هم وي."

**بی سوادی:** خلک باور درلود چې کیدای شی بې سواده یا نا لوستی ځوانان په تخار ولایت کې د ټیکاو په وړاندې یو جدی ګواښ را منځ ته کړی. خلکو د تالقانو په ښار کې د ورستیو لاریونونو بیلګې وړاندې کړی چیرې چې زیاتره ګډونوال بې سواده ځوانان وو چې د لاریون پر مهال را وپاریدل او محلی ملکیتونه یې ویجاړ کړل. ګډونوالو باور درلود چې له هغه ځایه چې ځوانان بې سواده او احساساتی برخورد کوی، نو کیدای شی د نورو خلکو

په واسطه د ولايت د بې ثباته کولو په موخه د هغوی څخه په اسانه توګه کار واخيستل شی.

**نا موفقه سولې او يو بيرته ځای کيدل:** خلک د سولې د ولايتی شورا او د افغانستان د سولې او پخلاينې د پروګرام د نقش په اړه انتقادی وو. خلکو د سولې د ولايتې شورا په تړاو خپله نا هيلې څرګنده کړی او همدارنګه يې باور درلود چې د سولې د ولايتې شورا غړی خپلواک نه دی او د محلی دلالانو او زور واکانو تر نفوذ لاندې دی او د دوی په پريکړو مسلط دی. دوی همدارنګه ويلی چې د سولې د ولايتی شورا غړی په دی نه دی توانيدلی چې د سولې په پروسه کې عوامو ته ځای ورکړی. د دې سربيره، ګډونوالو د سولې د ولايتې شورا د غړو د هغو پوچو وعدو په اړه چې د بيا مدغم شويو کسانو سره يې کړی وی جدې غبرګون ښودلې. د تالقانو په محبس کې يوه تن نارينه زندانې وويل:

> "موږ نه شو کولای په تخار کې سوله ولرو ځکه چې هر پوليس، څارنوال،قاضي او نور چارواکي هغه څه کوي چې دوي يې خوښوي. د هغوی يو هم د اساسي قانون مطابق پريکړې نه کوي. د بيلګې په توګه، د سولې ولايتي شورا په تخار کې ياغيانو ته دا وعدې ورکوی چې که چيرې تاسو د سولې د پروسې سره يو ځای شي او خبلي وسلې په ځمکه کيږدي نو و به بخښل شي، کله چې ځيني طالبان د سولې د پروسې سره يو ځای شي، بيا پوليس، څارنوالان او قاضيان هغوي په يو شمير قضيو کې دخليل بولي او هغوي تورن کړي. که چيرې دا هځې دا ډول دوام وومي هيڅوک به د سولې د پروسې سره يو ځای نه شي."

**ځورونکی رسم و رواجونه:** ځينی ګدونکوونکی ځورونکی رسم و رواجونه چی د تخار د بيلابيلو خلکو په مينځ کی ريښه غځولی ده ياد کړل . دوی وويل چی ځورونکی رسم او رواجونه په خاصه ډوګه جبری وادونه او د ښځو په مقابل کی تاو تريخوالی کولای شی د تخار ثبات متاثره کړی ځکه چی دا مسايل اکثرا د خلکو په مينځ کی تاو تريخوالی ته کښول کيږی.

## ۳. د سولې لپاره طرح

د تخار خلکو يو شمير فاکټورونه چې محلی انګيزې لری په ګوته کړی، او د دغو فاکټورونو لپاره د حل لارو موندل به او له هغه ځايه چې دا فاکټورونه د شخړې اصلی لامل دی په سيمه کې د سولې او ټيکاو د را منځ ته کولو په برخه کې موثر واقع شی. هغوی د محلي حکومت د ادارو په دننه کې د پياوړتيا او د اصلاحاتو د معرفی کولو، د مخدره توکو د سوداګری د مخنيوې، د قضايې ارګانونو او د سولې د ولايتی شورا د لا زياتی خپلواکې، د قومی شخړو د هوارې، د اداری فساد د له منځه وړلو، د مليشاګانو د بې وسلې کولو، د قانو ن د حاکميت د غښتلتيا، په دولتی نهادونو کې د شايستګی او وړتيا پر

اساس د استخدام، د معافیت د ختمولو، د بشري حقونو د ترویج، د وسله والو ملیشاوو د بې وسلې کولو او د ټولنیزې او اقتصادي پراختیا د ښه کولو لپاره د رښتینو هڅو یادونه کړې. ګډونوالو وړاندیزونه کړي چې په لاندې ډول خلاصه شوي دي:

**د حکومتولۍ،امنیت او ټیکاو بیاوړي کول:** په تخار ولایت کې خلکو ټینګار کړی چې د قدرت محلي دلالانو د حکومت مشروعیت ننګولی او حکومت باید د تخار د ولایت لرې پرتو سیمو ته هم خپل واک وغزوي. د فرخار دولایت څخه یوه تن نارینه ګډونوال شکایت وکړ:

"د قدرت محلي دلالان اکثرا د دولت صلاحیت ننګوي، او دوي هغه خپلې ملیشاګانې لري. محلي حکومت باید د خپل صلاحیت د غزولو لپاره رښتني هڅې ترسره کړي."

خلکو دا اصلاح یا چاره د افغان ملي امنتي ځواکوتو په تجهیز، د محلي نهادونو د نیرو او ځواک د تجدید او د قدرت په محلي دلالانو باندې د حکومت د اتکا په کمولو کې لټوله. هغوی یادونه کړې چې مدنې ټولنه او د ټولنو مشران د خلکو او محلي حکومت تر منځ د واټن په لرې کولو کې مهم رول لوبولی شي. د بهارک د ولسوالۍ څخه یوې ښځینه ګډونوالې وویل:

"سره د دې چې حکومت د مدنې ټولنې څخه کار نه دی احیستی، د تخار په ولایت کې مدنې ټولنه فعاله ده. حکومت باید د محلي حکومت او خلکو تر منځ د واټن د لرې کولو په برخه کې د مدنې ټولنې څخه د مرستې غوښتنه وکړي."

خلکو په تخار ولایت کې په افغان ملي پولیسو انتقاد کړی او ویلي یې دي چې هغوی په فساد ککړ، غیر مسلکي او بې کفایته دي. د مخدرو توکو سوداګري او لیږد د تخار ولایت د څلورو ولسوالیو له لارې ترسره کیږي او دا د افغان ملي پولسیو په دننه کې د اداري فساد د شتون له امله ممکن شوې دی. ګډونوالو وړاندیز کړی چې افغان ملي پولیس باید ښه مسلکي وروزل شي تر څو د پولیسو په دننه کې فساد له منځه لاړ شي او د مخدره توکو قاچاق پای ته ورسیږي. هغوی همدارنګه د هغو پولیسانو په اړه څوک چې د مخدره توکو د لیږد د لارو پر سر ځای پر ځای شویدي او له دغه ځایه د مخدره توکو سوداګری جریان لري د جدي نظارت غوښتنه کوي.

خلکو د افغان ملي اردو څخه رضایت درلود خو په تخار ولایت کې یې په افغان محلي پولیسو انتقاد درلود. خلک باور لري چې افغان محلي پولیس د وسله والو قومندانانو او جنګسالارانو تر نفوذ لاندې دي او افغان محلي پولیس په هغو ځایونو کې چیرې چې

دوی ځای پر ځای شویدی د سیمې د خلکو استازیتوب نه کوی. هغوی د افغان محلی پولیسو د استخدام په پروګرام کې د اصلاحاتو غوښتنه کوی څو ټول شموله وی او لا ښه استازیتوب وکولای شی. خلکو غوښتنه کړی چې کله افغان محلی پولیس د جرم مرتکب شی باید مسول وګڼل شی.

خلکو په تخار ولایت کې د نا قانونه وسله والو ډلو د بې وسلې کولو د پروګرام غوښتنه کړی خو تر څنګ یې تاکید کړی چې د ډاياګ پروسه باید غښتلې وی او خیالی نه وی. هغوی په دې باور دې چې د نا قانونه او دولت پلوه وسله والو ډلو بې وسلې کول به په ولایت کې سوله او ټیکاو را منځ ته کړی. د تالقانو په ښځینه محبس کې یوه ښځینه زندانی د ټولو ملیشاوو بې وسلې کول یوه ښه حل لار بولې:

"دلته موازي محلي دفاعی نوښتونه شتون لري چې کولای شي په اسانې سره ولایت بې ثباته کړي. دولت باید ټولې ښې او بدې ملیشاګانې بې وسلې کړي. دلته ښې او بدې ملیشې شتون نه لري بکله دا ټولې د شخړی اصلي لاملونه دي."

**د محلي بې طرفه ټولنو له لارې د قومي تشنج حلول:** خلکو په ښکاره د رایو په اتفاق ویلی چې په تخار ولایت کې د شخړې اصلی انګیزه مخ پ زیاتیدونکی قومی تشنج دی. هغوی په دی باور دی چې د سیاسی ارادې نه شتون،د سیاسی ګوندونو تر منځ سیالې، د نورو کسانو د سیاسی نظریو نه زغم او د روڼ اندو وګړو د تابعیت نه شتون قومې شخړو ته لار هواروې او دا ټولې بیا په یوه لویه شخړه اوړی. د تالقان په ښار کې د بشرې حقونو یوې فعالې وویل:

"خلک د خپلو سیمو څخه یواځې د قومي بنسټ پر اساس د جنګسالارانو ملاتړ کوي، فرق نه کوی چې هغوي څه سر ته رسوي. دغه میلان حالت لا له بده بدتروی او پایله یې د جګړې دوام دی."

ازبک ګډونوالو شکایت کړی چې که څه هم چې دوی په تخار ولایت کې اکثریت تشکیلوی، خو هغوی ته په سمه ییز حکومت کې پوره ونډه نه ده ورکړل شوې. هغوی په تخار ولایت کې د ازبکانو لپاره د لا زیاتو دولتی موقفونو غوښتنه کړې. په ټوله کې ګډونوالو په دې هوکړه کړې چې د رښتینو هڅو او ځایې او بې پرې منځګړو د معرفی کولو له لارې کیدای شی دې مسلې ته د حل لار پیدا شی. فرخار څخه یوه نارینه ګډونوال خپل نظر په لاندې ډول بیان کړ:

"د ازبکو او تاجکو تر منځ قومي تشنج موجود دی، کیدای شي دا شخړی د یوه بهرنې ارکان د را منځ ته کیدو له لارې چې په ترکیب کې یې بې پرې خلک، د بیلګې په توګه، د مدنې تولنې غړي او دنورو قومي ډلو څخه د ټولنو مشران

و،ي حل شي. هغوی باید ازبکان او تجکان سره کښېنوي او د منلو وړ یوه سوله ییزه حل ولټوي. د یوه ازبک والي په شتون کي نه شي کیدای دا مسله هواره شي، ځکه کیدای شی هغه خپله بې طرفې حفظ نه کړي.″

ځینې تاجک ګډونوال وړاندیز کوی چې دولت باید په تخار کې د وګړو نوې سر شمیرنه ترسره کړی ځکه چې دولت د نفوسو د سر شمیرنې ډیر پخوانې ارقام کاروی. هغوی باور درلود چې د ازبکانو هغه ادعا چې ګواکې دوی په تخار کې په اکثریت کې دی به په دې ډول ثابته شی. د تالقانو څخه یوه تاجک ګډونوال وویل:

″زه فکر کوم چې تاجک په اکثریت کې دي او ازبکو ته په دولتي ادارو کې کمه ونډه نه ده ورکړل شوې. د تخار په ولایت کې باید د نفوذو یوه نوې سر شمیرنه ترسره شي څو د ځایې وګړو رښتینې شمیرې معلومي شي. دا به زیاتو ستونزو ته د حل لار ومومي.″

**د بشری حقونو او د قانون د حاکمیت ترویج او د معافیت له منځه وړل:** د تخار ولایت خلکو د بشری حقونو او د قانون د ترویج او د معافیت د له منځه وړلو ملاتړ کړی او په دې باور وو چې بشری حقونه په سیمه کې د سولې او ټیکاو په را منځ ته کولو کې مهم رول لوبوی. د تالقانو د ښار څخه یوې ښځینه ګډونوالې د بشری حقونو اهمیت په دې الفاظو کې تشریح کړې:

″د بشری حقونو ساتنه او ترویج کیدای شي د عادي افغانانو یو شمیر ناخوالو ته د پای ټکې کیږدي. کله چې دولت د بشری حقونو درناوی وکړی او هغه ترویج کړی نو عادي افغانانو ته به دا احساس پیدا شي چې هغوي ته د انسانو په حیث کتل کیږي.″

خلکو د انتقالي عدالت ملاتړ وکړ او په دې باور وو چې د بشری حقونو د جدې سرغړونو مرتکبین باید تر عدلې تعقیب لاندې ونیول شی. د انتقالې عدالت پرته سوله نه شی جاری کیدلای. په تالقانو کې یو هتې وال پایښت لرونکې سولې او ټیکاو ته د رسیدو په موخه انتقالې عدالت د یوه وړاندې شرط په حیث بولی.

″کله چې جنګسالاران او نور هغه خلک څوک چې د بشری حقونوپه تیرو سرغړونو کې ښکیل دي عدات را کښ شي، په دې سره به سوله تامین شي. عادي وګړي به په عمومي توګه او ښځې او ماشومان به په خاص ډول د دغو جنایتکارانو او جنګسالارانو څخه د خوندیتوب احساس وکړي او هغوي به نور و نه شي کولای خلکو ته ګواښ پیښ کړی.″

د جګړې ښځينه قربانيانو هم د انتقالي عدالت غوښتنه کوله او هغوی وويل چې دوی يواځې جنګسالارانو او بشری حقونو د سرغړونکو د تيرو جرمونو له امله زوريږی. د تالقانو په ښار کې د جګړې يوې ښځينه قربانې وويل:

"زه معيوبه يم او زما معيوبيت ما ته هره ورځ هغه څه را يادوي کوم چې په ما تير شوي. يواځې انتقالي عدالت کولای شي زما په ټپونو مرهم کيږدي او بس. زه غواړم د بشری حقونو سرغړونکي د هغه څه لپاره چې دوي زما او د نورو کسانو په حق کې تر سره کړی مسول وګڼل شي. د دوي جرم بايد بې جزا پاته نه شي."

خلکو په ټوله کې د يوناما د هغو هڅو په اړه چې دا اداره يې د خلکو د غړونو د اوچتولو په برخه کې ترسره کوی تبصرې کړی ځکه چې يوناما کولای شی د عادی افغانانو غږونو ته وسعت ورکړی تر څو په مأ او نړيوالو کچو واوريدل شی. هغوی د يوناما له خوا له دوی سره د سولې د هڅو په اړه د خبرو اترو ستاينه کوی. د تخار په محبس کې يوې ښځينه زندانې وويل:

"سيمه ييز چارواکي او نور موږ ته د انسانانو په سترګه هم نه ګوري. هغوي حتی دا فکر هم نه کوي چې موږ د بشری حقونو څخه برخمن يوو ځکه چې موږ انسانان يوو. يوناما ما ته بلنه راکړه څو د سولې او بشری حقونو په همله له دوي سره خپلې نظريې شريکې کړم، د ا د تيرو شپږو کلنو په موده کې لومړی ځل دی چې زما څخه د سولې او هيواد په هکله نظر غوښتل کيږي، په دې سره زه فکر کوم چې زه يو انسان يم. د افغانانو د سولې د ډيالوګ په دغه پروګرام کې د ګډون له لارې،ما وکولای شوای چې د سولې په رابطه خپل نظر څرګند کړم. يوه ورځ په راشي چې زه له زندان څخه خوشې شم، زه يو سوله ييز افغانستان غواړم چيرې چې زما او نورو د بشری حقونو درناوی وي."

ګدونوالو د د ښځو په وړاندی د خشونت د کاهش او د ضررلرونکو عنعنوی فعاليتونو د مخنيوی په موخه ګډونوالو د اسلامی او بشری حقونو د لرليدونو له مخې د ښځو د حقونو په اړه د پوهاوی د کچې لوړول مهم بللی. د تخار په محبس کې يوې ښځينه زندانې وويل:

"د ښځو په وړاندې خشونت او ضررلرونکي فعاليتونه د ټولنې يوه برخه يعنی ښځې د سولې او ټيکاو د را منځ ته کولو په هڅو کې د فعالې برخې اخيستنې څخه راګرزوي. دغه ضررلرونکي عنعنوي فعاليتونه د اسلامي اصولو سره په ټکر کې دي."

د معافیت د ختمولو په اړه عمومی توافق موجود و او هغه کسان باید تر عدلی تعقیب لاندې ونیول شی څوک چې د بشری حقونو په جدې سرغړونو کې ښکلیل وو. هغوی ټینګار کړی چې عدالت ته د مرتکیبینو را کښول یواځې هغه مهال ممکن کیدای شی چې قضا خپلواکه، شفافه او غښتلې وی. د تخار د ټاکنو د خپلواک کمیسیون یوې ښځینه کارکونکې وویل:

"د بشری حقونو درناوی او د معافیت بشپړ ختمول به ټیکاو او پایښت لرونکې سولې ته لار هواره کړي. بشري حقونهعام شموله دي، کله چې درناوی یې یو وار وشي، ټولنه به مساوات غوښتونکې شي او دا به سولې ته لار هواره کړي. د معافیت کلتور باید په تخار کې پای ته ورسیږي ځکه چې جنګسالاران او جنایتکاران د معاقیت د میراث د شتون له امله مطمیین دي. کله چې هغوی په دې پوه شي چې نور نو معافیت نه شته، هغوي به په دې توګه د نویو جرمونو د ارتکاب څخه را وګرزي او هغوي به دا احساس پیدا کړي چې دوي ممکن د تیرو جرمونو د ارتکاب په خاطر تر عدلې تعقیب لاندې ونیول شي. د دې په خاطر چې یو لنډیز تیار کړو، د بشری حقونو درناوی او د هغو څخه برخمن کیدل او د معافیت له منځه وړل به تر زیاتې اندازې په تخار ولایت کې د سولې د تامین په برخه کې مرسته وکړي."

خلک د قانون حاکمیت او د قضایې ارکانونو خپلواکې او رونوالې ته د یوې نه خلاصون وړ رابطې په حیث ګوری. د خلکو په حواله، ټول وګړې باید د قانو ن په وړاندې مساوی وی او قضا باید د فساد مخه ونیسی. هغوی د تخار ولایت د قضایې سکټور په دننه کې د پراخ اداری فساد په اړه غبرګون ښودلی. د تالقان په محبس کې یوې ښځینه زندانې وویل:

"په تیرو وختونو کې د ټولنو مشرانو کولای شوای د خبرو اترو له لارې ډیر ستونزمن او پیچلې موضوعات حل او فصل کړي خو اوس د ټولنو مشرانو ته د مسلو د حل کولو اجازه نه ورکول کیږي. دولت وایې چې قضیې باید په تخار کې د ښارنوال دفتر او محاکمو ته راجع شی. زیاتره قاضیان او ښارنوالان په فساد ککړ دي. هغوي د دواړو ډلو څخه بډې اخلي او د هغوي دوسیې د کلونو لپاره ځنډیږي. فساد یو له هغو مهمو لاملونو څخه دي چې د سولې مخه نیسی."

د تخار خلکو وړاندیز کړی چې د یوې خپلواکې قضا جوړول او دې اداری ته د اصلاحاتو په راوستلو او د وړتیا درلودونکو کسانو په ګمارلو سره به د دې مسلې د هواره ولو لپاره یو ه موثره اصلاح او چاره و موندل شی. ځینو ګډونکونکو په قضا او نورو ارګانونو کې د ښځو په شمولیت تاکید کړی، او ښځو ته یې په دولتی سکټورونو کې د لا زیاتو کارې

فرصتونو د برابرولو غوښتنه کړی ځکه چې دوی فکر کوی ښځې په فساد کمې ککړی دی. د تالقان د ښار څخه یوه تن نارینه زده کونکی وویل:

"ښځې باید په ټولو ریاستونو کې په دندو وګمارلې شي. له کومه چې هغوی سوله خوښوي او ممکن په فساد کمې ککړې وی،هغوي باید په سیاست او دولتی دفترونو کې کار وکړي."

**د سولې د ولایتي شورا او د افغانستان د سولې او پخلاینې د پروګرام لپاره اصلاحات:** ګډونوالو د سولې د ولایتې شورا په کړنو او په تخار ولایت کې د دې شورا په لاسته راوړنو او په ټولیز ډول د افغانستان د سولې او پخلاینې په پروګرام انتقاد درلود. هغوی باور درلود چې د سولې ولایتې شورا په خپل کار کې خپلواکه نه ده او د هغوی پریکړې د قدرت د سیمه ییزو دلالانو تر نفوذ لاندې دی. د دې سربیره، د سولې ولایتی شورا د ټولنو سره د بیا ادغام شویو کسانو د ناخوالو د ځوابولو په موخه ډیر څه نه دی کړی. د تالقان د ښار څخه یوې ښځینه ښوونکې وویل:

"له هغه ځایه چې په تخار کې د سولې د ولایتي شورا غړي په هغه څه چې د قدرتمندو حلکو لخوا دوي ته وویل شي عمل کوي، خلک د سولې د ولایتي شورا څخه نا هیلي دي. هغوي په ولایت کې د قدرت د سیمه ییزو دلالانو د خوښی او امر پرته عمل نه کوي. د سولې د ولایتي شورا غړي باید په خپلو کارونو کې خپلواکه وي."

د تخار خلکو وړاندیز کړی چې د افغانستان د سولې او پخلاینی پروګرام باید اصلاح شی او د سولې ولایتی شورا زیاته خپلواکه شی ځکه چې زیات یاغیان د سولې او پخلاینې د پروسې سره یو ځای کیږی او هغه څوک چې د سولې له پروسې سره یو ځای کیږی هغوی د سولې د پروسې سره فریب نه کوی.

**د ټولنیزې او اقتصادي پراختیا تحقق:** د سلا مشورو د پروسې پر مهال، خلکو باور درلود چې د کاری فرصتونو برابرول،د معارف د شبکې ښه کول او توسعه د ولایت پراختیا هغه مهم فاکتورونه دی چې ممکن ولایت ته سوله راولی. د کاری فرصتونو د اهمیت د څرګندولو په اړه د بهارک د ولسوالی څخه د کور یوې میرمنې وویل:

"ځوانان د دې لپاره له یاغیتوب سره یو ځای کیږي چې هغوې هیڅ ډول کار نه لري. که چیرې د هغوي لپاره ښه کارې فرصتونه برابر شي نو هغوي به هیڅ کله هم د یاغیتوب سره یو ځای نه شي" .

خلکو ټینګ باور درلود چې نیستې باید له منځه یووړل شی او د دې لپاره یوه ممکنه لار دا ده چې ولایت د محلی عایداتو د را منځ ته کولو له لارې پرمختګ ومومی. هغوی په

عمومي توګه د خلکو او په خاص ډول د ښځو او ځوانانو لپاره د پانګونې او کارې فرصتونو غوښتنه کړې.

**د سولې د فعالينو ځوابول:** د تخار په ولايت کې خلکو د ځايي ميکانيزمونو او فعالانو د کارولو په موخه وړانديزونه کړي، کيدای شي دا په ولايت کې د تل پاتې سولې او ټيکاو د را منځ ته کولو په برخه کې ګټور واقع شي. دوی ټينګار کړی چې د ټولنې مشران،د مدنې ټولنې غړي، علما او ښوونکی د دولت او خلکو تر منځ د تشې د له منځه وړلو په برخه کې مهم نقش لوبولای شي او د باور جوړونې د تدبيرونو له لارې کيدای شي سوله په ولايت کې تامين شي. هغوی ادعا کړې چې د سولې پروسه بايد په سيمه ييزه کچه پر مخ يووړل شي او سيمه ييز مهم فعالين بايد د ټولې پروسې يوه برخه جوړه کړي. خلکو همدارنکه په تخار کې د سولې په پروسه کې د لړکيو د ښکيلتيا وړانديز هم کړی. د خواجه بهاوالدين د ولسوالی ښځه يوه تن نارينه ګډونوال وويل:

"موږ د مسلو د ځايي ميکانيزمونو له لارې د هغوی د حل په موخه پخوانی عنعنات لرو. کله چې د سولې په اړه خبری اتری او کومې هڅې وی نو دولت بايد په دې تړاو د سولې په خبرو اترو کې ټولو خلکو ته برخه ورکړي."

## ۴. د خلکو وړانديزونه:

د تمرکز د ډلو د خبرو اترو پر مهال، خلکو يو شمير خاص او عمومي وړانديزونه وړاندې کړل څو وکولای شي په تخار کې سوله او ټيکاو تامين شي. هغوی لاندې وړانديزونه کړي:

**د ټولو مليشاوو بې وسلې کول او د افغان ملي امنيتی ځواکونو پياوړی کول:** (۱) دولت بايد ټولې مليشاوی که هغه دولت پلوه يا نا قانونه وی بې وسلې کړی. د بې وسلې کولو پروسه بايد جزيې نه وی، دا پروسه بايد غښتلې او په ټوله مانا يوه شاملونکې پروسه وی او د مليشې هيڅ قومندان او د هغه مليشې بايد په وسلو سمبالې نه وی. د ډاياګ پروسه پايد دوام وموميِ؛ (۲) محلی حکومت بايد په سيمه کې د امنيت د را وستلو په موخه په هيڅ وجه د قدرت په محلی دلالانو او جنګسالارانو تکيه و نه کړی. دولت بايد د تخار ولايت ټولو سيمو ته خپل واک وغزوی؛ (۳) د افغان پوليسو په دننه کې بايد د فساد د مخنيوی په خاطر هڅې ترسره شی او هغه څوک چې په فساد کې ښکيل وی بايد تر عدلې تعقيب لاندې ونيول شی؛

**د قانون د حاکميت پياوړی کول او د فساد مخنيوی:** (۱) د قضا سکټور بايد خپلواک وی او بايد د قدرت د محلی دلالانو د نفوذ څخه پاک وی؛ (۲) په قضايې سکټور کې بايد فساد ختم شی. يوه بهرنې نظارت ته اړتيا ليدل کيږی تر څو هغه کسان چې په فساد کې ښکيل دی تر عدلی تعقيب لاندې ونيول شی؛

**د قومي او سیاسي تشنج ځوابول:** (۱) د قومي شخړو د هوارولو په موخه کومې چې ساسي دي باید هڅې ترسره شي؛ (۲) د ځمکو د شخړو هوارول کیدای شي په تخار ولایت کې د ځینو قومي شخړو د حل په برخه کې مرسته وکړي؛ (۳) لړکیو ته باید په سیمه ییز حکومت کې مناسب استازیتوب ورکړل شي؛

**د سولې په ولایتي شورا او د افغانستان د سولې او پخلاینې په پروګرام کې اصلاحات:** (۱) اړتیا لیدل کیږي چې د سولې په ولایتي شورا کې اصلاحات را منځ ته شي او باید شورا زیاته خپلواکه شي؛ (۲) د سولې ولایتي شورا نه باید د قدرت د سیمه ییزو دلالانو لخوا تر نفوذ لاندې راوستل شي او هغوی باید د خپلو اختیاراتو سره سم خپلې دندې پر مخ بوزي؛ (۳) د ټولنو سره ادغام شویو کسانو ته باید تشې وعدې ور نه کړل شي او د هغوی توقعات باید هغی کچې ته لوړ نه شي چې پوره کول یې نا شونې وي؛ (۴) د افغانستان د سولې او پخلاینې پروسه باید په داسې یوه طریقه اصلاح شي څو د ټولنو سره بیا یو ځای شوی کسان د پروسې څخه ناوړه ګټه پورته نه کړي؛

**د بشري حقونو او د قانون د حاکمیت ترویج او د معافیت خاتمه:** (۱) دولت باید د قانون حاکمیت پیاوړی کړي او قانون باید په ټولو وګړو په مساوي توګه پلې شي؛ (۲) معافیت باید خاتمه ومومي او هغه ټول کسان چا چې جرمونه ترسره کړي د عدالت میز ته راکښ شي؛ (۳) انتقالي عدالت باید پلې شي؛ (۴) د پوهاوي د لوړولو د بیلابیلو پروګرامونو د تنظیمولو له لارې باید د بشري حقونو ترویج ترسره شي. ضررلرونکي عنعنوي فعالیتونه باید له منځه یووړل شي.

**د ټولنیزې او اقتصادي پراختیا پیاوړې کول:** (۱) د ټولنو سره بیا یوځای شوي باید کاري فرصتونه ولري او د هغوی سیمې باید انکشاف ومومي؛ (۲) لړکې باید د انکشافي پروژو پر مهال په نظر کې ونیول شي؛ (۳) زیات ښوونځې باید پرانستل شي او موجوده کیفیت باید ښه شي.

# د بغلان ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه:

د سولې لپاره دغه ځایی طرح د هغو موندنو او مسالو لنډیز وړاندې کوی چې د بغلان د ښاریانو لخوا د افغانانو د خبری اتری دټول هیواد په کچه ددوهم پړاو د برخی په ټوګه دیو لسو مدنی ټولنو او د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون لخوا د ۴۵۰۰ افغانانو سره د مشوری په موخه او د ۳۴ دسولی ولایتی نقشی د جوړیدو په خاطر د افغانانو د ډیالوګ د بحثونو د مهمو موندنو یو لنډیز دی چې له یو شمېر ماهرانو، ځایی چارواکو ، د سولې او پخلاینې په برخه کې د نادولتی موسسو له کارمندانو سره د اوو متمرکزو ګروپی بحثونو، د نظریو د سروې او راهنمایی شویو مرکو په ترڅ کې لاس ته راغلی. دغه ډیالوګ له نږدې ۲۰۸ تنو سره تر سره کړی چې د ټولنې د مختلفو کچو استازی په کې شامل وو، لکه د قبیلو مشران، دینی علماء، بیرته راستنیدونکی (د حزب اسلامی او طالبانو پخوانی جنګیالی)، د مدنی ټولنې استازی، قانون پوهان، بزګران، د لیسو او پوهنتون زده کوونکی، ښوونکی، د کور میرمنې، معیوبین او دغه راز قومی لیږکی(ګوجر) استازی چې په بغلان کې میشته دی شوی دی .

د سولې لپاره د دې محلی طرحې هدف دا دی، چې په بغلان کې د شخړو د ځایی انګیزو یو ریښتینی تحلیل وړاندې کړی او په دې ولایت کې د دایمی سولې او ټیکاو د را وستلو سره د مرستې په موخه د حل مناسبې لارې په ګوته کړی.

## ۲. د بغلان د ولایت جغرافیه او دنفوس پیژندنه

د بغلان ولایت د هېواد په شمال ختیځ سیمه کې پروت دی چې ۱۷۱۰۹ کیلومتره مربع مساحه لری او مرکزی، شمالی او شمال ختیځې سیمې سره نښلوی، دغه ولایت ۱۵ ولسوالۍ لری او مرکز یې د پلخمری ښار دی. ولسوالۍ دا دی:

بغلان جدید، نهرین، خوست، دوشی. تالا و برفک، د هنه غوری، برکه، خنجان، فرنګ، پل حصار، بنو، دهساله، جلګه او ګزرګاه نور.

بغلان نږدې یو ملیون نفوس لری. پلخمری د ولایت مرکز دی چې نږدې ۱۵۰۰۰۰ نفوس په کې اوسی. تاجکان د نفوسو اکثریت جوړوی ( نږدې ۵۹ ٪) او پښتانه د نفوسو لوی اقلیت دی چې ۲۰ سلنه کیږی. هزاره ګان( اهل تشیع، د اسماعلیه فرقې په شمول) نږدې ۱۴-۱۵ سلنه کیږی، او ازبک- نږدې ۵-۶ سلنه دی. تاجکان په ټول ولایت کې خپاره دی ، زیاتره پښتانه د بغلان جدید په ولسوالۍ کې دی، هزاره ګان تر ټولو زیات په دوشی او تالابرفک ولسوالیو کې اوسیږی. ازبکان د بورکې په ولسوالۍ کې زیات اوسیږی. بغلان په شمال ختیځ کې د بدخشان وروسته دوهم ولایت دی چې په زیاته شیمره کې د اسماعلیه

فرقې وګړی ( نږدې ۴۰۰۰۰ ) کسان او په لږ شمیر کې ګوجر نږدې( ۴۰۰۰ تنه ) په کې اوسیږی.

**سیاسی او امنیتی جریانونه:** په بغلان کې امنیتی وضعیت د یوې ولسوالۍ تر بلې توپیر کوی. د پښتنو د میشت سیمې ( بغلان جدید ولسوالی او ډنډ غوری ولسوالۍ او د ډنډ شهاب الدین سیمې، د پلخمری ولسوالی) په ۲۰۰۹-۲۰۱۰ کلونو کې د دولت ضد عناصرو د فعالیت له امله کله چې طالبان دغو سیمو ته ننوتل اغیزمنې شوې، او دا تر یوې اندازې د حزب اسلامی د بې وسلې شوو او بې روزګاره قوماندانانو د نارضایتۍ له امله وه چې د دولت څخه یې درلودله. د نړیوالو ځواکونو د ځینو بریالیو عملیاتو له امله د دولت ضد ځینې عناصر له منځه ولاړل. افغان محلی پولیس له دې وروسته جوړ شول چې د ځینو دغو سیمو کنترول یې تر لاسه کړ، تر ټولو زیات د بغلان جدید او د دهنه غوری[140] په نا ارامو ولسوالیو کې. په ازبک میشته بورکه ولسوالۍ کې چېرته چې د رادیکال جندالله د کوچنی خوځښت ډلې اصلی مخربې ډلې دی چې د ازبکستان د اسلامی حرکت څخه ملاتړ تر لاسه کوی، وضعیت ناارامه دی. په تاجک میشتو سیمو کې لکه د اندراب د د رې، نهرین او جلګه کې امنیتی په وړاندې تهدیدونه د ناقانونه وسله والو ډلو څخه را پورته کیږی. په دغو ولسوالیو کې ډیری قوماندانانو متبادل سیستمونه جوړ کړی دی چې د دولتی ادارې ننګوی. د دولت مشروعیت لا هم د انګیرل شوی معافیت څخه چې جنایت کارانو ته ورکړل شوی دی او د هغو اړیکو له امله چې د محلی پولیسو چارواکو سره یې لری لا نور هم کمزوری دی. بغلان تاجکستان ته د نشه یی توکو د قاچاق لپاره د دهلیز په توګه لا هم د ننګونو سره مخ دی. د ولایتی چارواکو د کمزورتیا او یا هم د ارادې د نه درلودلو له امله چې په اغیزمن ډول د دغې ستونزې سره مقابله وکړی هغوی اکثره وخت په دې تورن دی چې په دې سوداګرۍ کې ښکیل دی.

په بغلان کې سیاسی وضعیت د ولایت د قومی جوړښت ښکارندویه دی؛ لکه د هېواد په نورو پاتې سیمو کې ډیری سیاسی ګوندونه په قومی لیکو چلیږی، جمعیت اسلامی ځواکمن ګوند دی چې د هغه غړی او ملاتړی زیاتره د تاجک اکثریت څخه دی چې پر محلی حکومت کې نفوذ لری او کلیدی سیاسی او نظامی مقامونه یې اشغال کړی دی. حزب اسلامی په پښتون میشتو سیمو کې لکه بغلان جدید ولسوالۍ کې نفوذ لری او د مسلط جمعیت اسلامی ګوند سره د سیالۍ اوږد تاریخ لری. د ملی پیوند ګوند چې زیاتره په اسماعلیه میشت دوشی ولسوالۍ کې فعال دی او د ملی جنبش ګوند چې زیاتره په

[140] په ۲۰۱۵ کال کی په عمومی ډوګه د بغلان امنیتی وضعیت په کندز کی د امنیتی منفی اغیزو له کبله متاثره شو. په خاصه ډوګه جګړی د پلخمری ، نوی بغلان ، تاله او برفک سیمو کی وشو او د بورکی ولسوالی د مخالفینو تر قوی اغیزی لاندی پاتی شو.

ازبک میشته بورکه ولسوالۍ کې نفوذ لری همدارنګه د دغه ولایت د نسبتآ فعالو سیاسی ګوندونو په توګه ارزول کیږی.

## ۳. د شخړو ډولونه

د متمرکز ګروپی بحث په ترڅ کې ګډون والو په ولایت کې څلور عمده ډول شخړې تشخیص کړیدی، لکه د طالب لخوا رهری شوی یاغیاتوب، د تاجکو او پښتنو تر منځ قومی شخړې او د جمعیت اسلامی او حزب اسلامی ګوندونو تر منځ سیاسی اختلافات او د ټولنو تر منځ عامې شخړې. چې د دغو شخړو تفصیل په لاندې ډول دی:

**د طالبانو تر مشرۍلاندې یاغیتوب:** د مشورو پر مهال ګډون والو د طالبانو تر مشرۍ لاندې یاغیتوب په دغه ولایت کې تر ټولو د تاوتریخوالې ډک شخړه وباله چې ورپسې د حزب اسلامی او جندالله د جنګیالیو هغه راځی. د خلکو د ډیالوګ ګډون والو د بغلان جدید په ولسوالۍ کې د ګاونډیو هېوادونو د مداخلې یادونه وکړه چې هغه سترې لارې چې شمال ختیځ او سهیل سره نښلوی او اوس مهال دغه لار د ایساف د لوژیستیکی تدارکاتو لپاره کارول کیږی بې ثباته کوی او په نومورې ولسوالۍ کې د روانې شخړې اصلی لامل ګڼل کیږی. په نتیجه کې لیدل کیږی چې طالبان هغو سترو لارو ته نږدې کیږی چې پلخمری د کابل او کندز سره نښلوی، چیرې چې د افغان ملی اردو د ځواکونو کتارونه د هغوی د بریدونو هدف ګرځی. هغوی په بورکه، بغلان جدید، دهنه غوری ، تالا و برفک او د دوشی په ولسوالیو کې امنیت مختلوی. خلک همدا راز د دې یادونه کوی چې د دولت ضد عناصرو/طالبانو په ځینو ځانګړو ولسوالیو او سیمو کې همدارنګه په زیاته پیمانه نا امنی را منځته کړې. د ټولنې یو تن مشر وویل:

> ˝ د بورکه ولسوالي له څلورو سیمو متشکله ده لکه- مرکزي بورکه، فالول، هزار – قاق او تنګي مرچ، په دې توګه خلک کولای شي چې د بورکې مرکز ته سفر وکړي، په داسې حال کې چې په نورو ساحو کې خلک تهدیږي. ددولت ضد عناصرو په دغه ساحه کې د محلي اوسیدونکو د حرکت ازادې محدوده کړی او هغوي ته یې اخطار ورکړی دی چې د ماسختن له لمانځه وروسته دخپلو کورونو ونه وځي او کله چې هم د باندې وځي باید څراغونه د ځان سره ولري.˝

**قومی شخړه:** د افغانستان د خلکو د ډیالوګ د دوهم پړاو د بحثونو پر مهال خلکو د ولایت د سترو قومونو ( تاجکو او پښتنو) د ډلو تر منځ د مزمنې سیالیو یادونه وکړه چې له امله یې نا امنی را ولاړه شوې ده. ګډون والو مشاهده کړه چې د تاجکو مشهور شخصیتونه ګمان کوی چې د دولت ضد عناصر د پښتون میشتو سیمو د پښتنو لخوا تقویه کیږی؛ نو ځکه ډیری هغه ولسوالۍ چې په کې پښتانه میشته دی د یاغیانو د قوی مرکزونو په توګه ګڼل کیږی. د دې سربیره، ګډون والو همدارنګه و ویل چې د تاجکو لوړ

پوړی کسان پر پښتنو سیاست والو د دې په خاطر مشکوک دی چې په دغه ولایت کې د زیاترو تاجکو با نفوذو څیرو په وژلو کې لاس لری. د بلې خوا د افغانستان د خلکو د ډیالوګ ځینې ګډون وال په قصدی توګه څنګ ته کړا ی شوی دی او دلیل راوړی چې د ولایت کلیدی امنیتی او سیاسی مقامونه د تاجکانو له خوا اشغال شوی دی چې هغوی په یو نه یو ډول غواړی پښتانه ګوښه ته کړی او په محلی واکمنۍ کې یې نقش راټیټ کړی. په دې توګه، د دغه ډول قومی شخړې تداوم کولای شی چې جګړه پراخه او ټولنه لا نوره هم نا آرامه کړی. لکه چې د ټولنې د بیلابیلو قشرونو د خلکو سره په بحثونو کې یې یادونه وشوه ، دغه ولایت د اکثریت تاجکو او د ستر قومی اقلیت پښتنو تر منځ د مزمنو اختلافونو/بې باوریو شاهد دی. د تاجکو د ټولنې یو مشر وایی:

" کله چې هم دلته د ترهګرۍ کومه پیښه وي لکه د ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو او یا هم د شمالي ایتلاف د کسانو یا د جمعیت اسلامي د غړو پر خلاف چاودنه ، نو داسېانګیرل کیږي چې یاغیان نه شي کولای د پښتنو د مشهورو کسانو د ملاتړ پرته د ترهګرۍ عمل تر سره کړي ".

د بحث پر مهال د افغان ډیالوګ ګډون والو و ویل چې د پښتون میشته ولسوالۍ بغلان جدید څخه تاجک میشته ولسوالۍ پلخمری ته دوه لسیزې تر مخه د ولایتې د مرکز لیږدول په دغه پخوانۍ ولسوالۍ کې د نا امنۍ د زیاتوالی او د پښتنو او تاجکو ترمنځ د قومی شخړې د تداوم بل لامل و. د بغلان جدید د ولسوالۍ څخه یو تن مخور پښتون مشر وویل:

" په افغانستان کې د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ له وخته د امنیتي لاملونو په پایله کې د ولایت مرکز په مؤقت ډول د پلخمري ښار ته ولیږدول شو، خو د وخت په تیریدو سره د واک د ځینو دلالانو د مداخلې له کبله هیڅا هم زموږ غوښتنې ته توجه و نه کړه، په دې توګه موږ به خپلې مبارزې ته دوام ورکړو څو زموږ غوښتنه ومنل شي. "

**سیاسي دښمنې:** د ګروپی بحثونو په ترڅ کې خلکو د جمعیت اسلامی ګوند چې زیاتره غړی یې تاجکان دی او د اسلامی حزب چې زیاتره غړی یې پښتانه دی تر منځ سیاسی شخړې یو له هغو مهمو شخړو څخه دی چې په دغه ولایت کې روانې دی. نوموړی ګوندونه په دغه اوږد مهاله شخړه کې یوله بل سره د جهاد له مهاله ( د روسیې اشغال) او وروسته د مجاهدینو له وخته یو له بل سره ښکیل دی. ګډون والو زیاته کړه چې د طالبانو د ماتې وروسته د ځواک تشه د جمعیت اسلامی له خوا ډکه شوه او وه یې کولای شول چې په سیمه کې خپل کنترول پراخه کړی او مهم دولتی مقامونه یې د ولایت او ولسوالیو په کچه ونیول. اسلامی ګوند چې د واکمنۍ له مقامونو څخه ګوښه شو هڅه یې

وکړه چې د یاغیانو سره اړیکی ټینګې کړی چې په دې توګه ولایت نا ارامه کړی او د حاکم ګوند لپاره په محلی کچه ننګونې راولاړې کړی. د پلخمری څخه یوه ژورنالست وویل:

"د جمعیت او حزب تر منځ سیالیو امنیت مختل کړی او ولایت یې لا نور نا ارام کړی. لوړ پوړو دولتي چارواکو( چې زیاتره یې جمعیتې سابقه لري ) د محلي حکومتدارۍ تشکیل انحصار کړی او په عین وخت کې هغوي غواړي چې د دغه ګوند د هژمونۍ او برلاسۍ لپاره د ولایت په سیاسي او امنیتي ادارو کې لا هم لاره هواره کړي."

**د ناقانونه وسله والو ډلو نفوذ:** د افغانانو د سولې د ډیالوګ اکثرو ګډون والو د سولې او ټیکاو په وړاندې د زیات شمیر نا قانونه وسله والو ډلو شتون ته اشاره وکړه چې د امنیت او سولې په وړاندې یې تهدید ګڼلی. هغوی خپلې اندیښنې د ناقانونه وسله والو ډلو په اړه د بحث په ګروپ کې څرګندې کړې او د دې خبرداری یې ورکړی چې په تیره بیا د بنو، پل حصار، ده ساله، خنجان، پلخمری، خوست او فرنګ، نهرین، خنجان او بغلان جدید په ولسوالیو کې د دغو وسله والو ډلو شتون د اندیښنې وړ دی. په داسې حال کې چې په نسبی لحاظ په ارامو ولسوالیو کې د ناقانونه وسله والو ډلو زیاتیدونکی کنترول د یوې جدی شخړې په توګه ګڼلو سره ګډون والو مرکزی حکومت ته وړاندیز درلود چې د ناقانونه وسله والو ډلو د بې وسلې کولو په لړ کې ټینګې ترسره کړی. د بغلان د ولایت د ده ساله د ولسوالۍ څخه یو تن ښوونکی وویل:

" نا قانونه وسله والې ډلې د بغلان د اوسیدونکو لپاره یو جدي سر خوږی دی؛ د هغوي شتون په ټول ولایت کې د پام وړ دي په تیره بیا د اندراب په دره کې. د هغوي څخه د لوړ پوړي دولتي چارواکي او د ولایت په کچه د ځینې نورو شتمنو او با نفوذو څیرو له خوا ملاتړ کیږي چې د دې سره هغوي په دې توانیږي چې د نسبې معافیت په لړلو سره عمل وکړي. ناقانونه وسله والو ډلو حتی خپل تشکیلات را منځته کړي دي چې ورسره د دولتي ادارو نفوذ کمیږي، خو د حیرانۍ وړ ده چې د دوي سره محلي چارواکي مرسته کوي."

**د جګړې انګیزې:** د بحث د ډلو د مباحثو په لړ کې خلکو د جګړې د اصلی لاملونو په توګه د طالبانو تر مشرۍ لاندې شورش، د مجرمانو لپاره معافیت چې زیاتره د قضایی ارګانونو له خوا ورکول کیږی، د واک څخه نا سمه ګټه اخیستل، افغان محلی پولیس، نا قانونه وسله والې ډلې یا دولت پلوه ځواکونه او د ځوان نسل لپاره د کاری فرصتونو نشتوالی وبلل. هغوی همدارنګه پدې ټینګار وکړ چې په اوس مهال کې بې روز ګاری د امنیت په پرتله تر ټولو ستره ستونزه ده، ځکه چې زیاتره ځوانان د دولت ضد عناصرو /

ناقانونه وسله والو ډلو له خوا استخدامیږی. خلک همدارنګه په دې اند وو چې افغان محلی پولیس یو بل تهدید دی او همدارنګه په ځینو حالاتو کې د بشری حقونو څخه د سرغړونو لامل کیږی. په پلخمری کې د ښځو د حقونو فعالې همدارنګه یادونه وویل:

" په پلخمري کې د افغان محلي پولیس غړي د بشري حقونو په سرغړونو کې ښکیل دي په تیره بیا په ځینو تښتونو، د خلکو څخه په جبر سره د عشر په راټولولو، د عامو وګړو په وهلو او ځورولو کې. دغه مسالې جګړه تقویه کوي او د عوامو تر منځ ناهیلي زیاتوي په ځانګړي ډول د هغو کسانو تر منځ چې د محلي پولیسو د تاوتریخوالي لاندې راغلي دي."

خلکو همدارنګه و ویل چې د قانون د انفاذ او قضایی ار ګانونو تر منځ رشوت او فساد د نا امنۍ لپاره بله محرکه ده او دا د خلکو او محلی حکومتی ادارو تر منځ د تشې د زیاتېدو لامل کیږی. هغوی یادونه وکړه چې دغه پدیده زیاته شوې ده او حتی د وخت په تیریدو سره د دولتی چارواکو تر منځ په تیره بیا د پولیسو، څارنولۍ او په نورو دفترونو کې زیاتوالی وموند. دولسوالۍ د پرمختیایی شورا یو تن غړی وویل:

" د دهنه غوري د ولسوالۍ په قضایي ار ګانونو کې فساد او خپلوي پالنه ده. که چېرې تاسو د څارنوالۍ او محکمې سره یوه قضیه ولرئ نو باید چې رشوت ورکړئ، او ددې پرته هغوي به دغې ستونزې ته رسیدګي ونه کړي. "

ګډون والو همدارنګه د دې لپاره خپل غږ پورته کړ چې جنایت کاران باید په علنی توګه مجازات شی او په تیره بیا هغوی چې د بشری حقونو څخه سرغړونې لری او د ملکی وګړو په وژنو، د عوامو په چور کولو او ځورولو کې ښکیل دی. هغوی همدارنګه د دې له امله خپله حیرانتیا جوته کړه چې دغه ډول مجرمین لا هم په کلیدی دولتی مقامونو کې دی او معافیت لری. د خنجان په ولسوالۍ کې د کور یوې میرمنې وویل:

" زما ۲۳ کلن ځوان زوی د جهادي قوماندانانو پخپل منځي جنګ کې د خنجان په ولسوالۍ کې ووژل شو، او زما اوس هم هغه ورځ را یادیږي، که څه هم مجرم پیژنم، خو زه هیڅ هم نه شم کولای؛ نو ځکه زه د حکومت څخه غواړم چې دغه شخص تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي."

د بغلان په ولایت کې د بحثونو په ترڅ کې خلکو د افغانستان د سولې او بیا ادغامولو د پروګرام څخه انتقاد درلود او هغه یې د سولې او پخلاینې لپاره غیر اغیزمن وبللو. هغوی وویل چې د سولې د ولایتی شورا اکثره غړی پخپله د مجاهدینو او طالبانو په دور کې د جګړې برخه وو. د بغلان جدید د ولسوالۍ څخه یوتن قومی مشر وویل:

"د سولې بهير اوس مهال په ولايت کې د هغو کسانو له خوا پر مخ بول کيږي چې هغوي د اوږد مهال لپاره په افغانستان کې د جګړې برخه وو او دا طالبانو ته د منلو نه ده. نو ځکه د دې غوښتنه کيږي چې د سولې مزاکره کوونکي بايد بې پرې وي په تيره بيا هغوي چې په دې ولايت کې په جګړو او شخړو کې ښکيل نه وو."

خلکو همدارنګه وويل چې د بغلان په ولايت کې د سولې د بهير نوښتونه زياتره د هغو لارښودونو سره چې د سولې د عالی شورا له خوا ترتيب شوی دی په سمون او تړاو کې نه دی . يو تن ژورنالست و ويل:

" د سولې د ولايتي شورا د غړو تمرکز په نا قانونه وسله والو ډلو باندې دی د دې پرځای چې په واقعي شورشيانو باندې وشي. که چېرې موږ يو شمير هغه کسان څو ک چې تر دې وخته پورې د سولې د بهير سره يوځای شوي دي و ارزوو زياتره يې نا قانونه وسله والې ډلې دي نه دا چې د دولت ضد عناصر يا طالبان وي. ما يو راپور درلود چې د ناقانونه وسله والې ډلې يو تن قوماندان چې د اندراب په دره کې متمرکز و د افغانستان د سولې او بيا ادغام د بهير سره درې ځل يوځای شوی دی. وروسته له دې چې د مالي مرستې ټولګه يې تر لاسه کړې ده د هغې وروسته بيا يې د حکومت مخالفت پيل کړی."

ګډون والو همدارنګه د دې يادونه وکړه چې بغلان تاجکستان او ازبکستان ته د نشه يی توکو د قاچاق لپاره يو دهليز دی. هغوی محلی چارواکی او د ولايتی کچې د واک دلالان په دې تورن کړل چې ددغه شان قاچاق کوونکو ملاتړ لری. د دوشی په ولسوالۍ کې خلکو د خصوصی امنيتی ارګانونو څخه د پلخمری او کابل پر لويه لاره د امنيت او ټيکاو د خرابوونکو په توګه انتقاد وکړ. يو تن قومی مشر وويل:

" د دوشي په ولسوالۍ کې په پراخه پيمانه د نا قانونه وسله والو ډلو، خصوصي کمپنيو، او د مخدره/نشه يي توکو د قاچاق چيانو حضور په واقعيت کې د امنيت د خرابۍ او شخړې د پراخيدو لاملونه دي."

## ۴. د سولې لپاره طرحه

د خلکو د ډيالوګ په ټولو بحثونو کې خلکو په پرلپسې توګه د هغو تشنجاتو په اړه خبرې وکړې چې د کورنۍ جګړې له وخته را ولاړ شوی او همدارنګه هغه چې د طالبانو او شمالی ايتلاف تر منځ د بغلان په ولايت کې را پيل شوی دی. د دې سره سره، د عدالت، پرمختيا د تامين او همدارنګه د خلکو مشروعو شکايتونو ته د رسيدګۍ په لړ کې د دولتی ادارو بې کفايتی يوه بله د يادونې وړ موضوع وه چې د ګډون والو له خوا وار په وار

راپورته شوه. هغوی همدارنګه د طالبانو یاغیتوب، نا قانونه وسله والې ډلې، افغان محلی پولیس، د ځوانانو بې روزګاری، معافیت او قومی شخړې د نا امنۍ د اصلی لاملونو په توګه وبلل.

**د حکومتولۍ او امنیتی ادارو تقویه کول:** خلکو همدا راز د حکومتی ادارو او امنیتی ارګانونو کمزورۍ ته اشاره درلودله په تیره بیا دې واقعیت ته چې خدمات په سمه توګه نه وړاندې کیږی. که څه هم یاد شوی فکتور د نا امنۍ او نا قانونه وسله والو ډلو د موجویت پایله ده، خو خلک همدارنګه د مرکزی حکومت څخه توقع لری چې دغې ستونزې ته رسیدګی وکړی. په بغلان کې د ناقانونه وسله والو ډلو ډیری قوماندانانو په تیره بیا د اندراب په دره کې متبادل سیستمونه رامنځته کړی دی چې هغه دولتی ادارې ننګوی. د دولتی ادارو مشروعیت لاهم د انګیرل شوی معافیت له امله چې مجرمینو ته ورکړل شوی دی او داچې دوی د ولسوالۍ د محلی پولیس افسرانو او ولسوال سره اړیکی لری کمزوری شوی دی. د اندراب د درې د ده ساله د ولسوالۍ څخه یو ښوونکی وویل:

> ″ دوه کاله کیږي چې زموږ د ارزنګان په ولسوالۍ کې د یو پل ساختماني چارې د محلي ناقانونه وسله والې ډلې د قوماندان له خوا درول شوي دي ځکه چې هغه د ساختماني شرکت څخه پیسې غواړي. سره له دې چې د ولسوالۍ چارواکي د دې څخه خبر دي خو هغوي هیڅ نه شي کولای.″

د پلخمری د ډنډ شهاب الدین څخه یو تن سپین ږیری د ده ساله د ولسوالۍ د ښوونکی خبره تایید او زیاته یې کړه:

> ″ د پلخمري د ولسوالۍ په ډیری سیمو کې د کلیو په شمول د نا امنۍ اصلی لامل د دولتي اجراییوي ادارو کمزورې حکومتولي او په قضایي ارګانونو کې خپل پالنه ده، لکه چې په لومړي سر کې خلکو هیله درلودله چې نوی حکومت به د دوي ستونزو ته رسیدګي ولري او ژوند به یې ښه شي، خو د هغوي دا هیلې پوره نه شوې. اساسي ستونزه هم د ناقانونه وسله والو ډلو شتون دی. ″

**په ولایت کې د ناقانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول:** د ناقانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول یوه بله د حل لار وه چې د سولې لپاره د افغانستان د خلکو د ډیالوګ ګډون والو یې وړاندیز درلود څو په دغه ولایت کې تل پاتې سوله او ټیکاو شتون ولری. د اندراب په دره کې د امنیتی وضعې د خرابتیا او د خلکو په تهدیدولو کې د ناقانونه وسله والو ډلو دخالت، د پرمختیایی پروژو په لاره کې خنډونه او د غلا او شوکې په موخه د لارو بندول هغه موضوعات وو چې برخه والو په پام کې ونیول او د دې لپاره یې وړاندیز وکړ چې نا قانونه وسله والې ډلې باید بې وسلې شی. د دې لپاره چې دغه موضوع ته

رسیدگی وشی ځینو ګېون والو وړاندیز وکړ څو افغان امنیتی ځواکونه په مېړنو وسلو سمبال شی، د قانون حاکمیت تقویه او انتقالی عدالت پلی شی څو چې مجرمین اود بشری حقونو ناقضین د عدالت منګولو ته وسپارل شی. د ده ساله ( د اندراب دره) د ولسوالۍ څخه یو تن ګېون وال وویل:

″ حکومت باید تصفیوي عملیات پیل کړي څو ټولې ناقانونه وسله والې ډلې چې د خلکو په تهدیدولو ، د بشري حقونو څخه په سرغړونو او په سیمه کې د پروژو د تطبیق په مخنیوي کې دخیلې دي بې وسلې کړای شي.″

**د بشري حقونو وده:** خلکو چې زیاتره یې د بشری حقونو فعالان ، ښځینه ښوونکې او زده کوونکی وو په عمومی صورت د بشری حقونو څخه او په ځانګړی ډول په سیستماتیکه توګه د ښځو د حقونو څخه د سرغړونو د زیاتوالی له کبله یې اندیښنه جوته کړه. هغوی د بشری حقونو څخه د سرغړونو او د جنسیت پر بنسټ د تبعیض یادونه وکړه چې هغه په پراخه پیمانه په بغلان کې شتون لری چې د سولې او ټیکاو په وړاندې اساسی خنډونه دی. په دې توګه د بغلان جدید څخه یوې ښځینه ښوونکې د بشری حقونو په باوری کولو باندې ټینګار وکړ:

″ د ناقانونه وسله والو ډلو چې د بشري حقونو څخه په سرغړونو او د ښځو په ډارولو او توهینولو کې ښکیلې دي د بې وسلې کولو ، د دیني شخصیتونو او ټولنې د مشرانو په ځینو ځانګړو هغو پروګرامونو او روزنو کې چې په محلي کچه د بشري حقونو اړوندې مسلې او د ښځو موضوعات څیړي ګډون ، د هغو نړیوالو موسسو د قوي څارنې چې د ښځو د حقونو د ساتنې او ودې لپاره کار کوي، او په پای کې په محلي کچه په مهمو سیاسي او ټولنیزو بهیر ونو کې لکه د سولې پروسه، ټاکنې او حکومتولۍ کې د ونډې درلودلو د لارې کیدلای شي چې د ښځو حقونه وده وکړي او د دې په پایله کې به یو سوله ییز داسې چاپیریال را منځته شي چې د خشونت څخه د ډک د اوسني وضعیت اوشرایطو ځای ناستي شي.″

خلک په دې باور دی چې د ښې حکومتولۍ لپاره موسساتی ظرفیت لوړول یو کلیدی فکتور دی چې په دې توګه بشری حقونه وده وکړی او د دې لارې پر محلی حکومتولۍ باندې د خلکو باور لوړ شی او د خلکو هغه شکایتونو او نارضایتیو ته د پای ټکی کښېښودل شی چې د کمزورو خدماتو او فساد له امله د شخړې لامل کیږی. هغوی د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی د هغو غمجنو تراژیکو پیښو یادونه وکړه چې زیاتره په لېرې پرتو سیمو کې رامنځته شوی دی ( لکه د نهرین او بورکه په ولسوالیو کې)، چې دا د ټولنیز اصطکاک/ شخړې لپاره زمینه برابروی، نو له همدې کبله؛ هغوی په محلی حکومت

غږ وکړ څو د بشری حقونو د ودې او ساتنې لپاره کار وکړی او د ښځو لپاره یو مصوون چاپیریال را منځته کړی چې هغوی وکولای شی د سولې او ټیکاو په را وستلو کې ونډه ولری. د پلخمری څخه یو تن ژورنالست وویل:

″ د دې لپاره چې په ولایت کې سوله او ټیکاو تقویه شي باید لاندي اقدامات تر سره شي: الف) د ناقانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول ، ب) د بشري حقونو تامین، ج) په دولتي ادارو کې د فساد له منځه وړل او، د) د بنیادي حقونو څخه د بشري حقونو په شمول د خلکو د پوهاوي د کچې لوړول.″

**د پښتنو او تاجکو تر منځ قومی شخړې ته رسیدګی:** ګډون والو وویل چې د تاجکو( ددغه ولایت اکثریت) او پښتنو( د دغه ولایت ستر اقلیت) تر منځ قومی شخړې لا هم را څرګندې شوې کله چې یو شمیر پخوانی تاجک جهادی قوماندانانو چې پخوا یې د طالبانو پر خلاف په ۱۹۹۰ کلونو کې مقاومت کړی وو د افغانستان د سولې او بیرته یوځای کېدنې پروګرام ته یې د یو داسې میکانیزم په توګه پام کړ چې د هغوی د قومی سیالانو او دودیزو مخالفینو لپاره لاره هواروی څو هغوی په محلی اداره کې نفوذ ولری. هغوی همدارنګه د پښتنو له اړخه ملاتړ کیدونکی شورشیان د دې مسوول بولی چې نږدې ټول د تاجکو با نفوذه کسان چې په هدفی وژنو کې له منځه تللی دی دغه وژنې دوی له خوا ترسره شوی دی. پښتنو ګډون والو په تاجکانو انتقاد وکړ چې اقلیتونه یې ګوښه کړی او هغوی نه شی کولای چې په محلی کچه حکومتی مقامونه ولری. هغوی همدارنګه یو شمیر تاجک شخصیتونه په دې تورن کړل چې جنایت کارانو او متخلفینو ته یې ځای ورکړی چې هغوی په سیستماتیکو جرمونو او تخریبونکو اعمالو کې دخیل دی. هغوی په دې ټینګار درلود چې یو شمیر ناقانونه وسله والې ډلې په کراتو کراتو حکومتی مشروعیت د اندراب (د اندراب د درې) په کچه تر ننګونو لاندې راولی چې د تاجکو بانفوذه د واک د دلالانو ملاتړ ورسره دی. د ټولو یادو واقعیتونو په رڼا کې بې شمیره داسې وړاندیزونه د ګډون والو څخه راغلل چې په سیاسی حل، ټولنیز عدالت، او د قومی شخړو په مناسبه توګه هوارولو یې ټینګار درلود. د بغلان جدید د ولسوالۍ څخه یو تن سپین ږیری و ویل:

" له بده مرغه زیاتره وسله وال غله او جنایتکاران د هغو نا قانونه وسله والو ډلو له خوا چې د اندراب په دره کې اوسیږي ملاتړ کیږي، هغوي( تاجک نا قانونه وسله والې ډلې) د ټولو بې نظمیو او جرمونو عاملین دي."

**د سولې په ولایتي شورا کې اصلاحات:** یو شمیر زیاتو ګډون والو د سولې د ولایتی شورا د ځینې غړو د بې پرې والی په اړه اندیښنه جوته کړه او استدلال یې درلود چې د سولې د ولایتی شورا زیاتره غړی د پخوانۍ شمالی ایتلاف قوماندانان دی چې هغوی په ۱۹۹۰ کلونو کې د طالبانو د رژیم په وړاندې مقاومت کولو . هغوی زیاته کړه چې طالب یاغیان

په پخپلو پخوانیو دښمنانو باور ونه کړی چې دا مهال په ولایت کې د سولې بهیر پرمخ بیایی.

د بغلان جدید د ولسوالۍ څخه یو تن د ټولنې مشر وویل:

" د سولې د خبرو بهیر د پخوانۍ شمالي ایتلاف د قوماندانانو له خوا رهبري کیږي چې هغوي د طالبانو سره اوږدمهاله خصومت لري. نو ځکه زه فکر نه کوم چې پر هغوي به د دولت ضد عناصر باور ولري. په دې توګه دغه په اصطلاح پخلا کوونکي هغه فرصت طلبه ناقانونه وسله والې ډلې دي نه داچې محافظه کاره طالبان وي. زما له نظره محلي حکومت باید د سولې د ولایتي شورا تشکیل منحل کړي او د دغو فرصت طلبو کانګیسترانو پرځای بې طرفه کسان او همدارنګه د ټولنې با نفوذه مشران وټاکل شي."

**په محلي پریکړو کې د علماوو، د کلیو د مشرانو او مدنی ټولنې شاملول:** یو شمیر ګډون والو د محلی اداري په پریکړو کې د علماوو، د ټولنې د مشرانو او مدنی ټولنې په شاملولو ټینګار درلود چې هغوی دې ټکی ته اشاره درلودله چې د تاوتریخوالی او جګړې د پراختیا یو لامل د مشهورو دینی شخصیتونو( علماوو) او د ټولنې د مشرانو او همدارنګه د مدنی ټولنې چې وکولای شی د دولت ضد عناصر په دې متیقن کړی چې د سولې د بهیر سره چې په کې سیاسی پروسه لکه په محلی کچه د سولې مزاکرات هم په کې شامل دی سره را یوځای شی، چې د هغوی ګوښه کول او په چارو کې نه شاملول ددې لامل دی. په عین وخت کې هغوی د حکومت څخه غوښتی دی چې د نورو هغو بیلابیلو موضوعاتو لپاره چې د سولې او امنیت سره تړاو لری د دوې مشورې او ونډه په پام کې ونیسی. د دوشی د ولسوالۍ څخه یو تن ښوونکی وویل:

" د سولې او ټیکاو د ټینګښت لپاره ولایتي اداره باید د دیني عالمانو او د ټولنې د مشرانو همکاري د ځان سره ولري، هغوي چې کولاي شي په سیمه کې په هغو کسانو نفوذ ولري چې د سولې او امنیت په وړاندې خنډونه راپورته کوي ".

**د ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا عملي کول:** خلکو په اتفاق سره وویل چې د بغلان په ولایت کې د ټولنیزې او اقتصادی پرمختیا د ښه والی په موخه بدلونونو ته اړتیا ده څو په ترڅ کې یې داسې چاپیریال رامنځته شی چې په دغه سیمه کې د سولې او ټیکاو د را وستلو سره مرسته وکړی. هغوی و ویل چې د کاری فرصتونو رامنځته کول، دبې وزلۍ له منځه وړل او ښې زده کړې کولای شی چې په دغه ولایت کې د ټیکاو لپاره زمینه برابره کړی او ځوانان د دې څخه وژغوری چې د یاغیانو سره یوځای شی. د پلخمری څخه یو تن

دينی عالم په داسې حال کې چې د ځوانانو لپاره يې د کاری فرصتونو د رامنځته کولو د مفکورې يې ملاتړ درلود و ويل:

″ د شخړې بيلا بيل اړخونه د ناقانونه وسله والوډلو او د دولت ضد عناصرو په شمول زموږ د ځوانانو د کاري فرصتونو نه درلودلو څخه په ګټنې سره هغوي استخداموي . موږ يوه ستره مقوله لرو چې شيطان بې روزګاره کسان استخداموي.″

## ۵. وړانديزونه

د ګډون والو وړانديزونه په لاندې عمومي څلورو کتګوريو کې ترتيب شوی دی:

**الف: د سولې د ولايتی شورا په تشکيل کې اصلاحات:** له هغه ځايه چې د سولې د ولايتی شورا اوسنی زياتره غړی د پخوانۍ شمالی ټلوالې قوماندانان دی او د افغانستان د خلکو د ډيالوګ د ګډون والو په نظر بې طرفه نه دی، نو ځکه هغوی وړانديز درلود چې د هغوی پرځای بې پلوه بانفوذه شخصيتونه چې د ۱۹۹۰ کلونو په جګړو کې د طالبانو سره ښکيل نه وی پاتې شوی، وټاکل شي.

**ب: ښه حکومتولي:** (۱) خلکو د قانون پر واکمنۍ او خلکو ته د خدماتو د رسولو لپاره د دولتی ادارو په تقويت چې د سولې لپاره د مرستندويه عامل په توګه تاکيد درلود؛ (۲) په عين وخت کې ګډون والو شايسته سالاری او د کاری وړتيا پر بنسټ په دولتی ادارو کې استخدام لازمی وبللو. هغوی دغه موضوع د سولې او ټيکاو لپاره بل ممد فکتور وبللو؛ (۳) د سولې په بهير کې د دينی عالمانو، ښځو او د مدنی ټولنې د موسسو شاملول بله موضوع وه چې د افغانستان د خلکو د ډيالوګ د بحثونو په لړ کې را پورته شوه، خلکو ددې ملاتړ درلود چې دينی عالمان او ښځې په يقينی توګه کولای شی چې په هېواد کې د هميشنۍ سولې د تامين په لار کې مهم رول ولوبوی؛ (۴) د ازادو او منصفانه ټاکنو ترسره کول او د قومی شخړو ( د تاجکو او پښتنو تر منځ ) هوارول نورې هغه د حل لارې وې چې د ګډون والو له خوا يې وړانديز وشو څو د بيلابيلو قومونو تر منځ د ولايت په کچه يو والی راشی او د دې مخنيوی وشی چې ياغيان د دې شخړو او کړکيچونو څخه ګټه واخلی او يوه قومی ډله د بلې قومی ډلې په مقابل کې را وپاروی.

**ج: د افغان امنيتی خواکونو تجهيز:** (۱) د افغان ملی امنيتی ځواکونو ( افغان ملی اردو، افغان ملی پوليسو او د ملی امنيت رياست) تجهيزول بله موضوع وه چې د خلکو له خوا راپورته شوه چې د دې سره په ولايت کې د سولې او ټيکاو لپاره زمينه برابريږی.

**د: د ناقانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول:** (۱) د ناقانونه وسله والو ډلو چې په زياتره نسبتآ با امنه ولسواليو کې يې امنيت خراب کړی دی او د حکومت مشروعيت يې تر

پوښتنې لاندې راوستلی دی بې وسلې کول، چې دغه اقدام د ګډون والو له خوا په دغه ولایت کې د پایښت لرونکې سولې لپاره د اساسی عامل په توګه وګڼل شو.

**د بشری حقونو وده:** (۱) د بشری حقونو وده بله هغه موضوع وه چې د ګډون والو له خوا راپورته شوه داچې تاوتریخوالی له منځه ولاړ شی او پر ښځو باندې د خشونت مسلط دغه اوسنی شرایط باید په یوه سوله ییز چاپیریال واوړی چې په دغه شان شرایطو کې هغوی وکولای شی د سولې او ټیکاو سره مرسته وکړی؛ (۲) خلکو همدارنګه د انتقالی عدالت پر مساله ټینګار درلود؛ داچې د بشری حقونو ناقضین د عدالت منګولو ته وسپارل شی او ددې پخلی یې درلود چې جنایت کاران او ناقضین باید معافیت ونه لری؛ (۳) د محلی پولیسو غړی او نا قانونه وسلوال باید دبشری حقونو د نقض په وړاندی ځواب وینکی ووسی او بی وسلی شی.

# د کندز ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. سریزه:

دا سیمه ییزه طرحه د کندوز ولایت د ۲۶۳ هغو اوسیدونکیو په څرګندونو ولاړه ده چې په کندوز کې یې په ګروپی خبرواترو، ځانګړیو مرکو او د نظرپوښتنې په سروېګانو کې برخه اخیستې وه. د سولې د خبرو اترو ددې بهیر ملاتړ او څارنه د افغان مدنی ټولنې د ۱۱ مدنی ټولنو او همدارنګه د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون لخوا په ګډه تر سره شوه. د خبرو اترو لس ګروپی غونډې په کندوز کې تر سره شوې چې په هغو کې ۱۷۸ سړیو او ۸۵ ښځو برخه اخیستې وه. په ګډون کووونکیو کې دژوند د بیلا بیلو اړخونو خلکو لکه د مدنی ټولنې فعالینو، مېرمنو، د بشری حقونو ملاتړ کوونکیو، د ښځو د حقونو ملاتړ کوونکیو، هڅیوالو، ښوونکیو، زده کوونکیو، بزګرانو، قومی مشرانو، دینی علماوو، بیځایه شویو، له بهر نه را ستن شویو افغانانو، د سیمه ییزو شوراګانو غړیو، روغتیایی کارکوونکو او ډریورانو ګډون کړی وو. د کندوز ولایت له اوه ولسوالیو څخه په پینځو کې د خبرو اترو ګروپی غونډې ترسره شوې. د امنیتی ستونزو له امله چاردرې او دشت ارچې ولسوالیوته تګ ناشونی وه او له همدې امله د نومړیو ولسوالیو اوسېدونکی کندوز ښار ته د غونډو لپاره را وبلل شول. په دې ډول د کندوز د مشورې په دې پروسه کې د کندوز د اوه واړو ولسوالیو خلکو غړ شامل دی.

## ۲. د کندوز ولایت ځانګړنې: جغرافیه، سر شمېرنه او سیاسی تړاو

کندوز ولایت د افغانستان په شمال ختیځه برخه کې په یو ستراتیژک ځای کې پروت دی چې د تخار او بدخشان ولایتونو او همدارنګه د تاجکستان له لارې د مرکزی اسیا مارکیټونو ته د دروازې حیثیت لری. کندوز له بغلان، تخار، بلخ او سمنګان ولایتونو سره ګډه پوله لری. داچې کندوز زرخیزه زراعتی مځکه لری نو پخوا یې د افغانستان د کندو (ګدام) نوم خپل کړی وو. کندوز ۷۲۸۰٫۷ کیلومتره مربع پراخوالی لری چې په څلورو کې درې برخې یې هواره مځکه ده او لس سلنه یې غرونه او غونډۍ جوړوی. کندوز ولایت د مرکز په ګډون په اوه ولسوالیو ویشل شوی دی.

د کندوز د وګړیو شمېر له یوه میلیون نه زیات اټکل شوی. د کندوز ښار د نوموړی ولایت مرکز دی او شاوخوا ۳۰۰،۰۰۰ اوسېدونکی لری. په کندوز ولایت کې ۳۴٪ پښتانه، ۲۰٪ تاجک، ۱۸٪ اوزبک، ۱۷٪ ترکمن، ۱۰٪ هزاره او ۱٪ نور قومونه ژوند کوی. د اوسېدونکیو ۶۹٪ په کلیو او پاتې نور ۳۱٪ یې د ښارونو په مرکزونو کې استوګنه لری. هغه مهم قومونه چې په کندوز کې اوسیږی پښتانه، تاجک، سادات، هزاره، ازبک، ترکمن، عرب، کوچیان او بلوچ دی. په کندوز کې د پام وړ شمېر کوچیان هم ژوند کوی. د ملګرو ملتونو د مهاجرینو په وینا د افغانستان په شمال ختیځه سیمه کې کندوزکې ترټولو ډیر کوچیان دی چې په ټول هیواد کې د شمیر له مخې څلورم ځای لری. د ۲۰۰۲ کال د مارچ له

میاشتې د ۲۰۱۳ کال د دسمبر تر میاشتې ۱۰۶،۸۹۳ کورنیو له ډلې څخه ۵۰،۲۶۸ کورنۍ چې شمال ختیځ ته یې کوچ کړی وو، د یو څه مودې لپاره په کندوز کې مېشت شول.

په کال ۱۹۹۷ کې کندوز د طالبانو لخوا ونیول شو او تر ۲۰۰۱ کال پورې د هغوی تروتلو پورې د دوی په ولکې کې پاتې شو. سره له دې چې د جمعیت اسلامی ګوند په کندوز کې د یوه بر لاسی سیاسی ګوند په توګه شتون درلود خو بیا هم د سیاسی توپیرونوله امله شخړې ندی تر سترګو شوې.. سره لدې چې جهادی ډلې د کندوز په سیاست کې برلاسې پاتې شوې خو پدې کې پاتې راغلې چې خپل سیاسی نظامی جوړښت په سیاسی ادارو بدل کړی او پدې هم ونه توانېدل چې د ولسواکه استازیو په توګه ځانونه څرګند کړی. په کندوز کې جهادی ډلو څه ناڅه د خلګو ملاتړ له لاسه ورکړ. جمعیت اسلامی د یوه برلاسی جهادی ګوند په توګه په کندوز کې پاتې شو او سترې دولتی څوکۍ د هغوی د پلویانو په واک کې دی.

د ۲۰۱۳ کال په لومړیو کې وسله وال ځواکونه دشت ارچی، چاردرې، امام صاحب ولسوالیو او همدارنګه د خان آباد ولسوالۍ ځینو برخو ته راستانه شول چې په نوموړیو سیمو کې یې ناکراری رامنځ ته کړه. اوس مهال په دشت ارچی ولسوالۍ کې د وسله والو ځواکونو تمرکز په لویدځې او شمالی سمیو کې دی خو په چاردرې ولسوالۍ کې خواره واره شوی دی. د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې وسله والو ځواکونو د امام صاحب ولسوالۍ د ځینو سیمو په نا امنه کولو کې ونډه درلوده.

پاتې نورې دوه ولسوالۍ علی آباد او قلع زال په اوسنی وخت کې په ارام دی. خو په قلع زال کې ۳۰۰ سی آی پی چې تشکیل یې د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر په میاشته کې له منځه لاړ، د سیمی د خلکو په مالی کومک اوس هم په سیمه کې فعال دی. چارواکی د دوی په بې وسلې کولو او یا د سی آی پی په سیمه ییزو پولیسو اړولو کې ناکامه شول. او تر هغې راهیسی دوی د سیمو په ټولنو یو بوج دی ځکه دوی (خلک) معاشونه نه شی ورکولی.

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه اولاملونه

**د شخړې ډولونه:** د کندوز خلکو چې د سولې له پاره د افغانانو د خبرو اترو په دویم پړاو کې ورسره مشوره شوې وه، داسې ځینې عناصر او لوبغاړی په ګوته کړل چې سوله یې اغیزمنه کړې ده او شایی سوله خرابه کړی. ددوی په اند په کندوز ولایت کې د طالبانو وسله وال مخالفت، د دولت پلوه وسلاوالو ملیشو شتون، له میراثه ورته پاتې معافیت، د سیمه ییزو پولیس او ملیشو پر سر د څارنې نشتوالی او د ملیشو د قومندانانو او جنایی عناصرو تر منځ روانه سیالی هغه اصلی لاملونه دی چې د کندوز سوله او ثبات باندې اغیزه کولای شی.

برخه وال په دې باور وو چې د طالبانو په مشرۍ وسله وال مخالفت د کندوز ولایت سولې او ثبات له سخت ګواښ سره مخاخ کړی دی. طالبان په دشت ارچې او چاردرې په ولسوالیو کې او همدارنګه د کندوز د مرکز په ځینو سیمو کې شتون لری. دشت ارچې تر ټولو ډیره ناامنه ولسوالۍ ګڼل کیږی او ځینې سیمو ته یې ان دولتی چارواکی هم نه شی تللی. دا چې وسله وال مخالفت په دشت ارچې کې ډیر قوی دی، دلیل یې دادې چې د هغه ځای خلک له مخالفو جنګیالو نه ملاتړ کوی او همدردی ورسره لری. د دشت ارچې یو قومی مشر وویل:

" د سیمې ځینې خلک له جنګیالو سره همدردي لري او دوي ته ډوډۍ او د پټیدلو له پاره خوندي ځایونه ورکوي. ځینې کسان اړ دي چې جنګیالو سره مرسته وکړي خو ځینې یې په خپله ارزو لري چې داسې وکړي چې د خپلو سیمو په ټولنه کې خپل مقام وساتي."

ګڼون کونکو سیاسی سیالۍ د کندوز ثبات له پاره غټ ګواښ ونه باله. همدارنګه په اوس وخت کې قومی کړکیچ د کندوز سولې ته کوم ګواښ نه دی او په دا دومره کچه هم نه دی چې شخړه ترې جوړه شی. ټول ښاریان په سوله کې ګډ ژوند سره کوی اود دې حقیقت له امله ګډون کونکو کندوز د کوچنی افغانستان په نوم یاد کړ او هلته د ډیرو قومونو خلک په همغږۍ سره اوسیږی. د دشت ارچې ولسوالۍ یو تن وویل:

" په سیمه کې د مختلفو قومونو خلک د ورونو او خویندو په شان په سوله کې وخت سره تیره وي. عموماً همدا چاروکي دي چې قومي کړکیچ ته لمن وهي."

خو ځینې ګډون کونکی په دې باور وو چې د راتلونکی افغان سیمه ییزو پولیسو تشکیل کې پښتنو ته ځای نه ورکول او د خان آباد په ولسوالۍ کې ډیری تاجک ملیشو شتون کیدای شی قومی کړکیچ منځ ته راولی.

ګډون کونکو شکایت وکړ چې کورنۍ او شخصی شخړې په تیره بیا د ښځو او د جنکیو له کوره د تیښتې قضیې، په زوره ودونه او په بد ورکونه ډیر وخت په ټولنه کې د شخړې سبب شی که چیرې سیمه ییزې ټولنې او چارواکی یې په وخت حل نه کړی. ستونزه هغه وخت را پیدا کیږی چې کله یوه جینۍ د یو بل قوم هلک سره وتښتی. د جینۍ کورنۍ ډیر وارې د جینۍ بیرته ورکولو غوښتنه کوی، او د (هلک کورنۍ) لخوا انکار د سیمه ییزو شخړو سبب کیدای شی. که څه هم د غیرت په نامه د ښځو وژنې قضیې په ټولنه کې د بدنامۍ له امله پټې ساتل کیږی، خو ګډون کونکو د داسې قضیو راپورونه ورکړل چې په هغو کې یا جینۍ او یا جوړه (هلک او جینۍ) سره تښتیدلی او بیا د کورنۍ د ابرو په خاطر یې وژلی دی.

ګډون کونکو د طبی منابعو او ناانډوله پرمختګ سره تړلې شخړو ته اشاره وکړه او دوی په دې باور دی چې ځینې سیمو سره پرمختیایی مرستې ډیرې شوی دی او ځینې نورې بیا بیخی له پامه غورځول شوی دی. افغانانو سړیو او ښځو شکایت وکړ چې په ټول کندوز کې پرمختیای مرستې هغو سیمو سره شوی دی چې وسله والې جګړې پرې کوم اغیز نه دې کړی. دا ډول فساد په کابل کې د ځینو بارسوخه کسانو د ارزوګانو له امله منځ ته راغلی دی. د قلعه زال یو تن قومی مشر وویل:

"ډیرې پرمختیایي مرستې د امام صاحب ولسوالۍ سره کیږي او دا یوازې له دې امله چې دا ولسوالي د کا بل په پارلیمان کې خپل نماینده ګان لري. د بیلګې په توګه د کندوز او امام صاحب ولسوالۍ تر منځ ډیره لنډه لاره ده خو ددې لار جوړول بې بیخي له پامه غورځولې دي او یو بل اوږد سرک یې پوخ کړی ده. داسې ځکه وشول چې د امام صاحب زور واکان غواړي چې د دوي د مځکې بیه چې د اوږد سرک په غاړه پرته ده، لوړه شي."

د دشت ارچی او چاردرې ګډون کونکو په کلکه غوښتنه وکړه چې پرمختیای مرستې باید د جګړې په نه شتون ولاړې نه وی. دوی په دې باور وو چې وسله والې جګړې لومړنی تاسیسات اغیزمن کړی دی نو له دې امله اوسنۍ ناامنی باید د پرمختیایی مرستې د انکار له پاره دلیل نه شی. د دشت ارچې ولسوالۍ یو قومی مشر وویل:

"دا زموږ ګناه نه ده چې زموږ ولسوالۍ ناامنه ده. زموږ ولسوالۍ سره یواځې له دې امله پرمختیایي مرستې نه دي شوې چې ناامنه ده. زموږ زیان دوه چنده دي، لومړی دا چې زموږ په ولسوالۍ کې بې ثباتي ده او دویم دا چې موږ پرمختایي مرستې نه دې تر لاسه کړې. په کار داده چې پرمختیایي مرستې ناامنه ولسوالیو ته ورکړی شي. له امنه ډکو ولسوالیو د پرمختګ له پاره هر ځوک کار کولای شي خو باید چې ناامنه ولسوالیو د پرمختګ له پاره هڅې وشي."

خلکو دا هم وویل چې د مځکې په سر جنجال په جګړه بدلیدلی شی خو د هغې برسیره په کندوز کې د مځکې جنجالونه د نورو ولایتونو په شان بد نه دی. جنجال په څړځایونو د کنترول، د بیرته راستا نه شویو کډوالو ډیری، د دولتې مځکې په نښه نه کیدنه او ناقلین (دا داخلی کډوال دی چې په لس ګنو کلنو پخوا له ختیځو ولایتونو څخه کندوز ته راوړل شوی وو) په سر راپورته کیدای شی. ګډون کوونکو د د خلکو له خوا او د دولت له خوا د مځکو د ضبط او غصب د ځینې قضیو کیسې وکړې چې کیدای شی د جګړې لامل وګرځی. د کندوز په عسقلان کلی کې د مځکې په اړوند په یوه قضیه کې، د د کډوالو او راستانه کیدونکو ریاست غوښتل چې د بیرته راستنیدونکو او د کډوالو د اوسیدو له پاره په هغه

کلی کې یوښار ګوټی جوړ کړی. خو د سیمې پښتنو او ایماق اوسیدونکو لاریون وکړ او دعوه یې وکړه چې دوی د هغې مځکې اصلی اوسیدونکی دی. دا جنجال بیا د شخړو د حل کولو غیر رسمی میکانیزم په وسیله حل شو. په کندوز کې یو قومی مشر وویل:

″دولت باید د مځکې او همدارنګه د څړځایونو په سر شخړو د حل له پاره کلک ګامونه واخلي. په قلعه زال کې او د کندوز په نورو سیمو کې څړځایونه شته. د یو قوم په اند څړځایونه ددوي ملکیت دی او یواځې ددوي څاروي کولای شي هلته وځري او نور قومونه بیا باور لري چې د دوي ملکیت دی. دولت باید جوړ جاړی او نه کړي او د مځکې په سر د شخړو د حل له پاره یو رسمي میکانیزم جوړ کړي.″

برخه والو وویل چې له دې امله چې کندوز یو زرعی ولایت دی، د اوبو ویش په تیره بیا په وچ او تود پسرلی او اوړی کې د شخړې اصلی وجه ده. دوی ادعا وکړه چې د بزګرانو حاصلات د خراب او نا منظم اوبو ویش له امله وچیږی. دوی په دې باور دی چې سیمه ییز زورواکان د اوبوه ډیره برخه د خپل ځان له پاره کاروی. همدارنګه د کاریزونو کمزوری سیستم د لرې پرتو سیمو بزګرانو له پاره دا سخته کړې ده چې دوی دې خپلې مځکې اوبه کړی. ګڼون کوونکی په دې باور دی چې د کندوز ډیرخلک بزګران دی، نو د اوبو ناسم ویش له امله کیدای شی شخړه رامنځ ته شی. د چاردرې ولسوالۍ یو بزګر وویل:

″موږ یو متل لرو چې وایي د کاریز په سر کې پروت غریب د کاریز په اخر کې له پراته شتمن څخه ډیر شتمن دی. په بل عبارت، هغه خلک چې د کاریز په سر کې اوسیږي نو هغوي ته ډیرې اوبه رسیږي اوهغو ته لږې اوبه رسیږي چې د کاریز اخیرنۍ برخې سره نژدې اوسیږي. دا کیدای شي د جګړې لامل شي ځکه چې د ځینې خلکو مځکو ته اوبه نه رسیږي. بله یوه ستونزه مځکو ته ډیرې اوبه ورکول دي ځکه چې ځینې بزګران نه پوهیږي چې څومره اوبه وکاروي. ″

**د شخړې لاملونه:** ګډون کونکو وویل چې طالبان، افغان سیمه ییز پولیس، دولت پلوه ملیشې، پخوانی سی آی پی (د لومړنی تاسیساتو د ساتنې پروګرام)، سیمه ییز زورواکان، له جزا خلاصون، د کار د فرصتونو کمی، پراخ فساد او د زده کړې لږ اسانتیاوې په کندوز کې د شخړې اصلی لاملونه دی.د شخړې تر ټولو لامل په هکله ویل کیږی چې د طالبانو په مشرۍ وسله وال مخالفت دی چې سولې او ثبات ته بی جدی ګواښ پیښ کړی دی. ګډون کونکو وویل چې وسله والې ډلې حتې په وړو جرمونو دسیمې خلکو ته سختې سزاګانې ورکوی. د دشت ارچې ولسوالی یو مشر وویل:

"وسله والې ډلې خلکو ته سختې سزا ګانې ورکوي. له محکمې پرته د اعدامونو داسې ډېرې بیلګې شته چې خلک یې په دې شک وژلي چې افغان ملي امنتي ځواکونو ته جاسوسي کوي (او یا خبر ورکوي). ښځې قتل کړې شوې دي او په دوي تورونه لګیدلی دي چې له کوره تښتیدلې دي. ان داچې یوه وړه سرغړونه هم د سختې سزا لامل کیدای شي. وسله والې ډلې دلته په خپل سر پریکړې کوي. دوي په یو وخت کې د شاهد او قاضې کردار ادا کوي. دوي موږ عادلانه محکمې ته نه پریږدي."

په کندوز کې د وسله والو ډلو په هکله ویل کیږی چې دوی همیشه خلک تهدیوی او دوی خلک د خواړو او پناه په ورکولو او ان د وسلې په رانیولو مجبوروی. له دې انکار ډېر وخت د سخت غچ لامل کیدای شی. د چاردرې د ولسوالۍ یو ښوونکی داسې وویل:

"وسله والې ډلې د خلکو کورونو ته او ځینې وخت ان د شپې ورځې. تاسې اړ یې چې دوي ته خواړه او پناه ورکړی. او که داسې دې ونه کړل، نو بیا بله ورځ به یې کور درته الوزولی وي. خلک له وسله والو ډلو سره احتیاط کوي او اړ دي چې دوي ته خواړه او سرپناه ورکړي. موږ همیشه په دې جنجال کې یو چې ددوي ارزوګانې ومنو او که د دوي غچ له پاره انتظار وباسو.د دواړو د انتخاب پایلې زیان رسونکي دي."

ګډون کونکو د طالبانو په شمول په وسله والو ډلو نیوکه وکړه چې د خلکو د تګ راتګ ازادی بی محدوده کړې ده. د دولت او د موسّسو کارمندان چې د نورو په پرتله معاشونه بی زیات دی، مجبور کړلی شوی دی چې وسله واله ډلو ته پیسې ورکړې، یا ورته کالی او یا بوټان واخلی او ځینې وخت ان وسلې ورته مهیا کړی. د کندوز یو قومی مشر وویل:

"په ځینو سیمو کې خلک د شپې له خوا خپلو پټیو ته نشي تللی او ځینې ان له خپلو کورونو څخه هم نشي وتلی. وسله والې ډلې د شپې له خوا ګربندیز لګوي. همدارنګه دوي معاش لرونکي او شتمن خلک مجبوروي چې بوټان، کالي او وسلې ورته واخلي. دوي ډېر وخت عشر ټولوي او د سیمې خلک مکلف دي چې دوه وارې عشر پرې کړي. یو وارې وسله والو ډلو ته او بل وار دولت پلوه ملیشو یا افغان سیمه ییز پولیسو ته یې ورکړي."

د دولت پلوه ملیشو شتون د کندوز ثبات له پاره یو بل غټ ګواښ وبلل شو. ګډون کونکو په ټینګه وویل چې دولت پلوه ملیشې د خان آباد په ولسوالۍ او د کندوز په مرکز کې د خلکو په ځورولو، تهدیولو، عشر ټولو، غلا کولو، شکنجه کولو، د بشری مرستو چور کولو، پرمختیایی پروژو د مخه نیولو او ان په قتلونو کې شامل دی. ګډون کونکی په دې باور وو چې دا ملیشې په ازادنه ټول خپل کارونه ترسره کوی خو دولتی چارواکو ته راپور ورکوی

او زورواکان کولای شی چې خپلې ملیشې د دولت په چوکاټ کې راولی. خلکو په کلکه وویل چې د ملیشو شمیر او طاقت کې زیاتوالی راغلی او له دې امله دوی د قانون نه ځان لوړ بولی. ګڼون کونکی په دې اند وو چې د ملیشو دا قومندانان ولایتی چارواکو سره د مرکز په کچه کلکې اړیکې لری. دا ډول اړیکې ډیر وخت له دې امله دی چې قومندانانو او ولایتی چارواکو د جهاد په دوره کې د یو رهبر د قومندې لاندې جنګیدلی وو. د ګډون کونکو په نظر د کابل په کچه لوړپوړه چارواکی د ملیشو ددې بد نامه قومندانانو مستقیم او پټ ملاتړ کوی او دوی بیا په سیمه کې د خپلو ګټو او د قدرت کې د پاتې کیدو په خاطر په دې قومندانانو باندې اتکا کوی. د خان آباد ولسوالۍ یوې ښوونکې وویل:

"دا ملیشې ګروپونه له یوبل سره تړلي دي. ځینو ته یې ان څوک لاس هم نه شي ور وړلی. په خان آباد کې ډیرې سیمې شته او هر قوماندان تر خپل واک لاندې ځانګړې سیمه کنترولوي. دا ملیشې د جګړه مارانو او د زورواکانو د خپلو شومو ګټو له پاره ساتلې دي او په راتلونکو ټاکنو کې به ترې کار واخلي."

د کندوز، خان آباد او دشت ارچی ولسوالیو ګډون کونکو شکایت وکړ چې د دولت پلوه ملیشو شتون د دوی ولسوالۍ ناامنه کړې دی. که څه هم په دشت ارچې ولسوالۍ کې ملیشې کمې دی، خو بیا هم د نور ولسوالیو ملیشې په اسانۍ سره دشت ولسوالۍ ته لاس رسی لری. ګډون کوونکو ادعا وکړه چې د وسله والو ملیشو غړو خپله وفاداری بدلوی او کله یې هم چې خوښه شی او د خپلې هوسای په خاطر له وسله وال مخالفت سره یو ځای کیږی. ګډون کوونکی په دې باور وو چې د وسله والو ملیشو شتون د خلکو په منځ کې ویره را پیدا کړې ده او ان ده چې ډیرو د قتلونود کسات لړۍ ته یې لمن وهلی. د خان آباد ولسوالۍ یو مشر وویل:

"په نوره نړۍ کې شنه سیمه ځان سره مرغۍ او ښکلا راولي، خو په کندوز کې، شینوالی له ځان سره دولت پلوه ملیشې او مخالفین راولي. دولت پلوه ملیشې له خلکو څخه په ښیرازه سیمو کې عشر ټولوي او مخالفین په شنه سیمه کې پټیږي."

په خان آباد ولسوالۍ کې د اقتاش سیمه ډیره زرخیزه او د ګډون کونکو په اند هلته د سیمې خلک د ملیشو تر رحم لاندی اوسیږی. د ځمکې زرخیزوالی د ملیشو له پاره یوه انګیزه ده. یو مشر چې د حالاتو نه یې سر ټکاو، وویل:

"موږ د ملیشې د قومندانانو د لومبړۍ سلا نه پرته ان د خپلو لوڼو او زامنو ودونه، نه شو کولای ځکه چې زموږ د اولادنو د یو قوماندان سره واده د هغه سیال قوماندان په قاروي. موږ اړ یو چې د ځمکې په راکړه ورکړه کې له دې

قومندانانو څخه پوښتنه وکړو او دا قومندانان د راکړې وکړې په وخت کې ډیره برخه غواړي.″

ګډون کونکو د افغان سیمه ییزو پولیسو د سرغړونو په هکله خپل نظرونه څرګند کړل او په اندیښې سره یې وویل چې افغان سیمه ییزو پولیسو ددوی د ستونزو درمان نه دی بلکې د دوی ستونزې یې نورې هم زیاتې کړې دی. افغان سیمه ییز پولیس پرته له خان آباد او قلعه زال پرته، د کندوز په نورو ټولو ولسوالیو کې مقرر شوی دی. ګډون کونکو د د افغان سیمه ییزو پولیسو د چاڼ په پروسه باندې ګوته ونیوله او ادعا یې وکړه چې د افغان سیمه ییزو پولیسو په کتارونو کې هغه کسان نیول شوی دی چې جنایی سابقه لری او له بشری حقونو څخه یې سرغړونې کړې دی او دوی یې اوس بې ګناه بولی. د ګډونکو په نظر افغان سیمه ییز پولیس په سمه توګه چاڼ او یا تربیه شوی نه وو او په دشت ارچې، امام صاحب او د چاردرې په ولسوالیو کې او همدرانګه د کندوز په مرکز کې یې ناوړه جرمونه کړی دی او د بشری حقونو څخه یې بدې سرغړونې کړې دی. ګډون کونکو په ناامیدۍ سره وویل چې افغان سیمه ییزو پولیسو ملکی وګړی ځورولی، تهدید کړی، شکنجه کړی، نیولی، ژوبل کړی او وژلی دی. د دشت ارچې یو تن ښوونکی وویل:

″د افغان سیمه ییزو پولیسو پروسه د سیمې د جګړه مارانو او د نورو بارسوخه کسانو په لاس کې وه. دوي په دې پروسه کې داسې کسان ونیول چې په ټولنو کې تر خلک خوښ نه وو او په پخوا کې په ناوړه جرمونو او د بشري حقونو په سرغړونو کې ککړ وو. موږ چې د سیمي خلک یو، راسره هیڅ مشوره نه دي شوې. د داړه مارانو له ډلې نه به موږ څه تمه ولرو؟ دوي پخوا کې هم جنایت کاران وو او په افغان سیمه ییزو پولیسو کې له شامیلدو وروسته، ددوي ټولو اعمالو ته یې قانوني بڼه ورکړله.″

خلکو د کندوز د ناامنۍ یوې بلې وجې ته چې د امنیتې لیږد نه وروسته په کندوز کې د افغان امنیتې ځواکونو عملیات دی، اشاره وکړه. په عمومی ډول خلکو د افغان ملی اردو نه شکایت ونه کړ که څه هم د چاردرې ولسوالۍ خلکو وویل چې د افغان ملی اردو ډزو په مځکنیو نیښتو کې ملکی وګړو ته تلفات رسولی دی. د عملیاتو په ترڅ کې د افغان سیمه ییزو پولیسو او دولت پلوه ملیشو له خوا د ناسم چلند راپورونه ورکړلی شول او د دشت ارچی ولسوالۍ خلکو او د کندوز مرکز د ځینې کلیو خلکو وویل چې که چیرې افغان امنیتې ځواکونه په داسې ډول عملیاتو ته دوام ورکړی چې د خلکو د ځورونې لامل شی، نو دوی به بیا یا سیمه پریږدی او یا به د وسله وال مخالفینو سره یوځای کیږی. خلکو په کندوز کې په عملیاتو کې د دولت پلوه ملیشو په عملیاتو کې له کارولو نه شکایت هم وکړ او دوی ولیدل چې دې ملیشو خلک لوټ کړل. که دا دود همداسې پاتې شی، نو دا

حالات به عادی افغانان د غچ اخیستو په خاطر دې ته مجبور کړی چې په وسله وال مخالفت لاس پورې کړی. په دشت ارچې کې د چپاو د عملیاتو یو قربانی دا سې وویل:

″د تلاشۍ د عملیاتو په ترڅ کې دولت پلوه ملیشو زما ټول کور لوټ کړ. افغان ملي پولیسو او اردو یواځې د خیر په غونډۍ ناست وو او موږ د دوي په مخ کې لوټ شو. ملیشو زما زوی سخت وواهه او زموږ د کور له ښځو یې گاڼه او کالي واخیستل. دولت ولې د افغان ملي امنیتي ځواکونو په ځای وسله والې ملیشې کاروي؟ زما کورنۍ ته یې بې عزتي ورسوله او زه په دې سوچ کې یم چې د غچ اخیستو له پاره له طالبانو سره یو ځای شم.″

یو بل لامل چی د بی ثباتۍ لامل شوی دی دا انگیرنه ده چې د کندوز پښتانه کې له وسله وال مخالفت سره تړی. پښتنو برخه والو ادعا وکړه چې له چې د مخالفو جنگیالو د جنایتونو سزا دوی ته ورکول کیږی. څرنګه چې د دوی (پښتانه) او مخالف جنګیالی له یو قوم څخه دی، نو د افغان دولتی ځواکونو د عملیاتو او د نیونې ټول زور د سیمې له پښتنو نه باسی. دې کار د دولت او د سیمې د پښتنو تر منځ واټن زیات کړې دی. د دشت ارچې څخه یو تن قومی مشر وویل:

″کله هم چې کومه چاودنه وشي او یا طالبان په کومه پوسته برید وکړي، نو افغان ملي او سیمه ییز پولیس راځي او هغه ټول کلي چې پښتانه په کې اوسیږي، تلاشي کوي او پښتانه نیسي. په دوي دا تور لگوي چې دوی طالبان دي او یا طالبانو پلویان دي. پښتنو ته طا لبانو د جنایتنو سزا ورکول کیږي.″

د کندوز خلکو د ملی امنیت په ریاست باندې پړه واچوله چې دولت پلوه ملیشې یې جوړکړې او له ځارنې پرته یې ورته وسلې ورکړې. د خان آباد ولسوالۍ او د کندوز مرکز خلکو وویل چې ملی امنیت په قصداً د جمعیت اسلامی په وخت کې دا ملیشې بیرته فعالې کړې چې دوی له جنګیالو سره وجنګوی. د کندوز یو تن قومی مشر وویل:

″همدا امنیت ملی وو چې دې ټولو ملیشو ته یې ددې له پاره وسلې ورکړې چې(مخالف) جنگیالي له سیمې اوباسي. ملي امنیت دوي اوس هم د جنگیالو مکننه برید په خلاف کاروي. په عمل کې ملي امنیت ددې ملیشو بې وسلې کولو له پاره ډیر کم او یا هیڅ هم نه دي کړي.″

ګډون کوونکو بې کاری په کندوزکې د شخړې یو مهم لامل وباله او دوی په دې بار وو چې که خلکو ته کارونه پیدا کړای شی، نو دوی سره به بیا د سولې خرابولو له پاره وخت نه وی. ګډون کوونکو په دې باور وو چې هغه څوک چې په کار ګومارل شوی دی، دوی به خپله ښیرازی په ثبات او سوله کې وینی او وسله وال مخالفت کې به ځان شامل نه کړی او نه به

په دویم وار بیرته ورسی. د دوی سپارښتنه دا وه چې خلکو ته باید د کار نور فرصتونه هم پیدا کړی شی. د علی آباد ولسوالۍ یو قومی مشر دې خبرې ته داسې اشاره وکړه:

"موږ یو مشهور متل لرو چې وایې د بیکاره سړي په مغزوکې شیطان ځاله جوړوي. د ستونزې اصلي لامل بیکاري ده او بیکاري له امله خلک وسله وال مخالفت خوا ته ځي."

ډیر ګډون کونکو فساد د شخړې یو غټ لامل وباله. دوی په کلکه وغوښتل چې فساد له ځان سره ډیرې ناخوالې او نهیلی راوړی. ګډون کونکو وویل چې د فساد ځالې په کندوز کې ډیرې ژورې دی او دوی باید د یو ډیر واړه کار له پاره هم بډې ورکړی. د دوی په اند کاغذ بازی د فساد له پاره لا نوره ډیره لاره برابره کړې ده ځکه چې خلک ګړندی خدمتونه غواړی او دوی اړ دی چې د هغو خدمتونو لاس ته راوړلو له پاره بډې ورکړی. د کندوز ولایت یو تن قومی مشر وویل:

"فساد د کندوز په هر حکومتي اداره کې کې پریمانه دی. دولتي مامورین له عادته مجبور دي او بډې اخلي. مشتریان اړ دي چې د یو کوچني کار له پاره هم بډې ورکړي. چې بډې ور نه کړې، نو کار دې نه کیږي. لږ تر لږه د طالبانو د رژیم په وخت کې ډیر ښه وو ځکه چې په وخت کې فساد نه و."

د ګډون کونکو په نظر د زده کړو د اسانیتاو کمی په کندوز کې د شخړې یو غټ لامل دی. دوی څرګنده کړه چې ښوونځی لږ دی او په ټولګیو کې د زده کونکو شمیره ډیر زیات دی. دوی دې ته اشاره وکړه چې په کندوز کې د کافی مدرسو نشتوالی یو له ډیرو مهمو لاملونه څخه دی. یو څو مدرسې شته خو سمې مجهزې نه دی او ځینې یې له دولت سره راجستر شوی نه دی. خلک اړ دی چې خپل ځوانان په مدرسو کې د درس زده کولو له پاره پاکستان ته ولیږی او کیدای شی هلته د سخت دریځو له خوا ورته سخت دریځی درسونه ورکړل شی. دا ځوانان چې بیرته کندوز ته راستانه شی، بیا په سیمه کې د خپلو نویو زده شویو نظرونو په اساس بې ثباتی پیدا کولای شی. ګډون کونکو غوښتنه وکړه چې په عصری زده کړو سمبالې نورې مدرسې باید په کندوز کې جوړې شی. دوی په کلکه غوښتنه وکړه چې په کلیوالو سیمو کې باید ښوونځی پرانیزل شی او ټول ورته لاس رسی ولری او داچې ښوونځی او د زده کړو نورې ټولې موسسې باید ښې مجهزې وی. دوی په کار ده چې سمې ودانۍ، لابراتوارونه، کتابتونه او پوره چوکۍ ګانې ولری . د کندوز پوهنتون یوې زده کونکې وویل:

"که چیرې موږ کافي مجهزې مدرسې ولرو، نو زده کونکي به بیا د زده کړې له پاره همسایه هیوادونو لکه پاکستان ته به نه ځي. هغه زده کړې چې زده کونکو ته ورکول کیږي، د هغې په کیفیت باندې باید جوړجاړی ونه شي.

پوهنتونه، ښوونځي او مدرسې هغه ځایونه دي چیرته چې زده کونکو ته روزنه ورکول کیږي. که چیرې د زده کړې کیفیت ښه وي، نو موږ به له سولې سره مینه لرونکي ځوانان ولرو. خو د کندوز ځینې مدرسې چې له دولت سره راجستر شوې نه دي، باید راجستر شي ځکه چې دا ښایې د ولایت ثبات ته یو ګواښ شي. د مدرسو تعلیمي نصاب باید د دولت له خوا تصویب شوی وي. ″

## ۴. د سولې له پاره طرحه

په کندوز کې د خبرواترو برخه والو ځینې داسې سیمه ییز لاملونه په ګوته کړل چې دوی حلول به په سیمه کې بې ثباتی له منځه یوسی او سوله به راولی. د پایدارې سولې له پاره لاملونو کی د سیمه ییزو دولتی ادارو مضبوطول او اصلاحاتو راوستل، د ملیشو په کلکه توګه بې وسلې کول، د فساد مخ نیول، د سیمه ییز پولیسو ځواب ورکول، د قانون حاکمیت، د لیاقت او وړوالی په بنسټ په دولتی ادارو کې وظیفو ته نیول، د بشری حقونو څخه ملاتړ کول، د معافیت کلتور، د خلکو او دولت تر منځ د واټن کمول او د اجتماعی او اقتصادی پر مختګ لا ښه کولو له پاره رښتینې هڅې شاملې دی. د لاملونو دا لیست بشپړ نه دی. ګډون کوونکو ځینې سپارښتنې لرلې چې لنډیز یې په لاندې ډول دی:

**د حکومت او د افغان ملي ځواکونو پیاوړی کونه او د حکومت د کنټرول زیاتونه:** د کندوز خلکو په ټینګار سره وویل چې په کندوز ولایت کې سوله او امنیت شونی دی خو دولت باید په ولایت کې د خپل کنترول د ساتلو په خاطر ډیرې هڅې وکړی . ګډون کوونکو د دولت مشروعیت په اړوند پوښتنې وکړې او وویل چې دولت د کندوز د مرکز څخه د باندې واک نه لری. دوی ادعا وکړه چې په دولت کې د ننه دولتونه دی او د سیمه ییزو زورواکانو، د وسله والو ملیشې قومندانانو او جګړه مارانو د دولت مشروعیت او واک ته ستونزې جوړې کړې دی. د علی آباد د ولسوالۍ یو تن دې مسلې ته داسې اشاره وکړه:

> ″ داسې زورواکان او جګړه ماران شته چې یواځینۍ موخه یې خپل شخصي اهداف دي. دوي د دې له پاره شخړې پیدا کوي او جنګ کوي چې خپلې ګټې او روپۍ تر لاسه کړي او خپله ډله مشهوره کړي. دوي د سولې له پاره کومه ځانګړې اجنډه نه لري خو دوي په خپلو سیمو کې نفوذ لري ځکه چې د سیمې خلک ډار شوي دي او دولت هلته واک نه لري. ددوي ګټې د شخړې په اوږدلو کې خوندي دي. ″

دوی په دې ټینګار وکړ چې په کندوز ولایت کې پالنګر زوروا کان شته چې د دولت مشروعیت ته یی ستونزې پیدا کړې دی. دا زورواکان خپلې ملیشې لری او ان ده چې سیمه ییزحکومت د دوی ملیشې د مخالفینو په ضد کاروی. دوی په کلکه له دولت وغوښتل چې د ملیشې قومندانو سره خپلې اړیکې وشکوی او ددې پر ځای دې د افغان

ملی ځواکونه په وسلو سمبال کړی چې دولت نور په دې غیر رسمی وسله والو ملیشو باندې متکې نه شی. د کندوز د پوهنتون یو زده کونکی وویل:

"دولت له سپکاوي ډکو ملیشو سره خپل ملاتړ ختمول نه غواړي ځکه چې دا ملیشې د (مخالفو) جنګیالیو په ضد کارولی شي. دا ملیشې معاشونه نه لري او خپلې وسلې هم لري نو د دولت له پاره دا ډیره اقتصادي ده او ددې په پرتله په افغان ملي ځواکونو ډیر مصرف کیږي."

خلک د ملی اردو نه خوښ وو او په دې یی ټینګار کاوو چې افغان ملی ځواکونه باید د تلاشی عملیاتو کې برخه واخلی او دولت پلوه ملیشې باید د تلاشۍ عملیاتو کې برخه وانخلی. نو له همدې امله به د سیمې خلک د افغان ملی ځواکونو په رهبرۍ مخته وړونکو عملیاتو نه ملاتړ وکړی، خو دولت پلوه ملیشو په مشرۍ د تلاشۍ عملیات به نور هم وسلوال مخالفت ته لمنه ووهی ځکه چې دوی ملکیان ځوروی، ډاروی او لوټ کوی. دوی دا هم په کلکه وغوښتل چې سیمه ییز دولت باید په دولت پلوه ملیشو او په سی آی پی باندې د تلاشۍ په عملیاتو کې اتکا ونه کړی.

خلکو په یوه خوله وویل چې په ولسوالیو او لرې پرتو سیمو کې د موثر واک د مسلې او د دولت د مشروعیت له پاره روڼ، ځواب ورکونکی، اغیزه ناک او په اسانۍ سره ورته لاس رسونکی سیمه ییز دولت ډیر اړین دی. خلک د سیاسی تړاو، قومی او خپلوۍ پالنې په اساس په دولتی دندو ګومارل کیږی. دوی په یوه خوله سپارښتنه وکړه چې د لیاقت او وړتیا په بنسټ په دندو ګومارل ددې مسلې په ځای حل دی.

### د خلکو او دولت ترمنځ د لیرې واټن نږدې کول

له ولسوالیو څخه ګډون کوونکو خلکو او دولتی مامورینو په تیره بیا د ولایت په کچه تر منځ د زیاتیدونکی واټن په اړوند ګیلې وکړې. خلکو وویل دوی دا ارزو وه چې کاشکې یی د خپل ولایت د مامورینو سره یې لیدنه کړې وای چې خپل مشکلات او د هغو د حل په اړوند یې ورسره خبرې کړې وای، خو دوی له پاره د هغوی لیدنه ډیره مشکله وه. دا تش ځای بیا په ډیره اسانۍ سره د مخالفینو له خوا ډک شو ځکه چې خلک ډیر په اسانه توګه مخالفینو ته لاس رسۍ لری. د دشت ارچی ولسوالۍ یو قومی مشر په خواشینۍ سره وویل:

" پینځه میاشتې کیږي چې موږ د دشت ارچي سپین ږیري هڅه کوو چې د کندوز والي سره ووینو، خو په لیدلو یې بریالي نه شوو. کله چې یو څوک خپل والي نشي لیدلی، نو دا څنګه ممکنه ده چې حکومت سره دې مرسته وکړي او خپل نظر ور سره شریک کړي ؟ والي تر مقرریدولو نه تر ننه پورې دشت ارچې ته سفر ونه کړ، که څه هم نوموړی په کال کې له پینځو کرتو څخه ډیر د

بهرني هیوادنو په سفر ځي. که چیرې چارواکي زموږ غږ وانه وري او په شکایتونو مو غور ونه کړي، نو بیا دا ناشونی ده چې موږ دې د دولت سره په سیمه کې د امنیت او ثبات په راوستلو کې مرسته وکړو.″

ځینې ګډون کوونکو د دولت دا هڅه وستایله چې په کندوز ولایت کې یې د ( د خلکو پولیس) په نامه پولیس جوړ کړل چې موخه یې د خلکو او د پولیس تر منځه د لا ډیرې همکارۍ او رابطې پیدا کول وو. خو د ګډون کوونکو په اند ( د خلکو پولیس) لا ډیر په ابتدایی مرحله کې دی. د ګډون کوونکو وړاندیز دا وو چې باید یو داسې پلیټ فارم جوړ شی چې د هغې له لارې د سپین ږیری، عالمان او هر ډول خلک په اسانۍ سره له سیمه ییزو چار واکو سره ووینی او خپلې ستونزې ورسره شریکې کړې او مثبت او منفی نظرونه ورکړی. داسې دوه اړخیزې رابطې د والی په څو وار ولسوالۍ ته د تګ په وجه هم شونې دی او ګډون کوونکو په اند دا به د سیمې خلکو ته د دوی د غږ د اوریدلو له پاره یوه لاره برابره کړی.

ګډون کوونکو شکایت وکړ چې نه کابو کیدونکی فساد او له واکه ناوړه استفاده د ناامنی مهم لاملونه دی. د دوی په اند یو مسول ، شفاف سیمه ییز دولت د یو باندینی څارنې ارګان په موجودیت کې دا مسلې له منځه وړلی شی او دا ډول هڅې به سوله او ثبات منځ ته راولی. یو تن د چار درې ګډونوال وویل:

″ په دولتي ادارو کې په تیره په عدلي ارګانونو کې فساد د ټولو ستونزو مور ده. خلک دا غوره ګڼي چې خپلې قضیې د طالبانو محکمو ته ور وړي ځکه دهغوي په محکمو کې فساد نشته. که دولت وغواړي چې خلک د دوي سیستم ته خپلې قضیې ور وړي نو دولت ته په کار دي چې فساد له منځه یوسي.″

**د بشری حقونو تقویت، د قانون سرلوړی او د معافیت له منځه وړل:** ګډون کوونکی په دې باور وو چې د تلپاتې سولې او امنیت له پاره د بشری حقونو تقویت ډیر مهم دی. که څه هم لږ ګډون کوونکی په دې باور وو چې د بشری حقونو ملاتړی یوازې د ښځو حقونو په هکله خبرې کوی خو ګڼ شمیر ګډون کوونکو د بشری حقونو پلویان وو. د کندوز د پوهنتون یوې زده کونکې د سولې په پروسه کې د بشری حقونو د اهمیت په اړوند وویل:

″دا خبره سمه نه ده چې یوازې ناامني د وسله وال مخالفت سبب کیږي. نور لاملونه هم شته او له هغو څخه یو یي د بشري حقونو څخه سرغړونه ده.″

د امام صاحب د والسوالۍ یو قومی مشر په انتقالی عدالت تاکید وکړ او وویل:

"مور یوازې هغه وخت د سولې خاوندان کیدای شو کله چې انتقالي عدالت، د قانون حاکمیت او د بیان ازادي وي."

ګډون کوونکو په سیمه ییزو پولیس باندې انتقاد وکړ او وویل چې سیمه ییز پولیس د بشری حقونو ناوړه سرغړونو کې ککړ دی، حال دا چې سیمه ییز پولیس په ډیره کمه توګه چاڼ شوی دی او ډیر کم روزول شوی دی. د دوی دلیل دا و چې که چیرې سیمه ییز پولیس د عادی افغانانو د حقونو درناوی وکړی، نو خلک به دې ته لیواله شی چې سیمه ییزو پولیسو سره مرسته وکړی او دا به په سیمه کې د سولې او ثبات له پاره ګټور وی.

د خان آباد ولسوالۍ ګډون کوونکو د خان آباد په ولسوالۍ کې د د سیمه ییزو پولیسو په مقرولو سره یوسم دوی باید سم ددوی چاڼ وکړی چې د وسله والو ملیشو ځای سیمه ییز پولیس ونیسی. سیمه ییزو پولیسو د هیواد په نورو ولایتونو او د بغلان ولایت په شمول ډیر مهم نقش لوبولی دی. خو خلکو دا ویره لرله چې خان آباد ولسوالۍ کې د سیمه ییزو پولیسو د استخدام پروسه به وسلا والو ملیشو بدنام قومندانان ځان ته کش کړی. ګډونکوو ویره وښوده چې که داسې وشی نو حالات به ډیر کړکیچن شی او په ملکیانو باندې به دا ډیرې بدې اغیزې ولری. د خان آباد انکشافی شورا یو غړی وویل:

"خان آباد سیمه ییزو پولیسو ته ډیره اړتیا لري. خو که چیرې د غورچاڼ پروسه سمه نه وي، نو په خان آباد کې به همدا بدنام او زورور د ملیشو قومندانان سیمه ییزو پولیسو ته خپله لاره هواره کړي. نو دوي به د سیمې د خلکو تهدیول او ځورول بیا د ځان له پاره قانوني بولي او دا دلیل به وړاندې کوي چې د افغانستان دولت دوي ټاکلي دي."

د ګډون کوونکو په اند د سیمه ییزو پولیسو د ستونزې حل ددوی په سم انتخاب، د بشری حقونو د روزنې، د جنګ واضح مقررات، ټینګه څارنه او په حساب ورکونې باندې راڅرخی. دوی په دې ټینګار وکړ چې له افغان سیمه ییزو پولیسونه باید د بشری حقونو څخه د سرغړونو په هکله پوښتنه وشی.

د کندوز ډیر افغانان هم په دې باور وو چې د حساب ورکونې او سمې څارنې نشتوالی د سزا نه د تښتې (معافیت) کلتور دایمی کوی. دوی په یو غږ وویل چې د بشری حقونو سرغړونکی باید محکمې ته کش کړی شی چې نور د بشری حقونو سرغړونې ته تشویق نشی. دوی ډیرې داسې قضیې په ګوته کړې چې په هغو کې هم د سیمه ییزو پولیسو غړو او وسلوالو ملیشو په کرتو له بشری حقونو څخه سرغړونه کړې او تر پښو یې لاندې کړې دی ځکه دوی په دې پوهیږی که هرڅه کوی نو ددوی له پاره معافیت شته. که چیرې ددوی له پاره دا معافیت نه وی، نود سیمه ییزو پولیسو غړو به دومره جرات نه و کړی چې دا ډول ناوړه جرمونه یې کړی وی. د کندوز برخه وال په دې باور دی چې د دې حل

د قانون په کلک حاکمیت او د سیمه ییزو زور واکانو د مداخلې مخه نیول دی. په کندوز کې د پوهنتون یو زده کوونکی وویل:

سیمه ییز پولیس او نورې وسله والې ملیشې له لوړ پوړو مامورینو سره کلکې اړیکې لري او دوی په دې پوهیدلي دي که دوی هر ډول جرم هم اوکړي نو دوی به څارنوالۍ ته ونه سپارل شي. د معافیت دا کلتور دوی ډاډمن کړي دي چې له بشري حقونو څخه سرغړونه وکړي او دوی په دې هم پوهیږي چې څوک یې څارنوالۍ ته نشي کش کولای.

د بشري حقونو سرغړونو ډیرې قضیې د غیر رسمي عدلي سیستم له لارې اواریږي ځکه چې په قضا کې د ننه رشوت د خلکو رسمي عدلي سیستم ته د نه تللو سبب کیږي. د قلعه زال یو تن ګډون کوونکي وویل:

"په کندوز کې د فساد کچه ډیره لوړه ده. هغه کسان چې غواړي د پوهنې په ریاست کې ځان ته کار پیدا کړي، نو ددوي څخه د بډو غوښتنه کیږي. قومي مشران جدي قضیو لکه قتل کې منځګړیتوب کوي او ددوي له خوا اواریږي. دا ټول قضیې د محکمې مخ نه ویني ځکه چې خلک په دې پوهیږي چې په قضایي سیستم کې فساد دی. فساد ته باید د پای ټکی کیښودلی شي خو تر اوسه په دې اړه هیڅ هم نه دي شوي."

**د ځینې توکمیزو ډلو ګوښه کونه:** د چاردرې او دشت ارچې ولسوالیو پښتون ګډون کوونکي ډیر ویریدلي وو او ویل چې په پښتنو باندې دا تور لګیږي چې دوی له مخالفو جنګیالو سره مل دي او دوی دا ادعا وکړه چې مخالفو جنګیالو د جنایتونو سزاګانې دوی ویني. څرنګه چې د سیمې پښتانه او مخالف جنګیالي له یو قوم څخه دي، نو د افغان دولتي ځواکونو د عملیاتو او د نیونې ټول زور د سیمې له پښتنو نه باسي. له دې امله د دولت او د سیمې پښتنو تر منځ واټن زیات شوی دی. پښتون ګډون کونکو افغان امنیتي ځواکونو ته د یو پیغام وړاندیز درلود او هغه دا وو چې جرم یو شخصي عمل دی او یو کس په دې دلیل بندي کیدای نشي چې دده او د مجرم قوم او ژبه یو شان دي. د چاردرې ولسوالۍ یو تن زده کوونکي وویل:

"که څوک غواړي چې سوله او ثبات راولي، نو پښتنو او طالبانو ته دې په یوه سترګه نه ګوري. ټول پښتانه طالبان نه دي او دولت باید دا فرق وکړي او په دې باید پوه شي چې په هر قوم کې ښه او بد خلک شته."

د دشت ارچې ولسوالۍ پښتانه او د قلعه زال ترکمن ګډون کونکو شکایت وکړ چې دوی په خپلو ولسوالیو کې له دولتي دندو څخه شاته پاتې شوي دي. د قلعه زال ولسوالۍ یو تن قومي مشر وویل:

"د قلعه زال ولسوالۍ اتیا سلنه اوسیدونکي ترکمن دي، خو دولتي مامورین د بیلګې په توګه ولسوال، قاضیان او نور له نورو قومونو څخه ګومارل شوي دي."

د دشت ارچې یو تن پښتون قومی مشر د قلعه زال قومی مشر سره ورته نظر لری او وای:

"په دشت ارچې کې پښتانه اکثریت دي، خو په دولت کې د دوو نه زیات پښتانه مامورین نشته. پاتې نور ټول مامورین له نورو توکمیزو ډلو څخه دي او پښتانه یواځې پاتې شوي دي."

د پښتنو په اند ددې حل جامع او په وړوالی ولاړد ګومارلو سیستم دی ځکه په دې ډول به نه اکثریت ټولنې او نه به نورې یواځې پاتې شی.

**د وسلوالو ملیشو او پخوانی سی آی پی CIP (د لومړنی تاسیساتو د ساتنې پروګرام) بې وسلې کول:** د مشورې په دې پروسه کې، ګډون کونکو د غیرقانونی، دولت پلوه ملیشو او د سی آی پی په نوم د ملیشو بې وسلې کولو تاکید وکړ او په دې ډول په سیمه ییز زورواکانو او جګړه مارانو باندې د دولت تکیه به هم کمه شی. دا ګام به ددې ډلو هغه نفوذ هم کم کړی چې دوی یې په دولت لری او په دې ډول به د ولسوالیو په کچه سوله او ثبات ټینګ شی. خلکو د ټولو وسله والو که غیر قانونی وی او که دولت پلوه، د بې وسلې کولو غوښتنه وکړه. د چار درې د یو تن ازبک مشر وویل:

"که دولت سوله غواړي، نو ټولې وسله والې ډلې باید بې وسلې شي. د بې وسله کولو دا تګلاره باید د تیر په شان تش په نامه نه وي."

ځینې ګدون کونکی په دې نظر وو چې سولې او ثبات ته تر ټول ډیر خطر د وسله والو ملیشو لخوا دی او طالبان ددوی نه وروسته په دویم ځای دی. د خان آباد د شورا یو غړی وویل:

" ټولې وسله والې ډلې بې وسله کړه، نو زه تاته دا په ډاډ سره ویلي شم چې په خان آباد کې به سوله تل پاتې شي."

د قلعه زال ولسوالۍ ګډون کونو د سی آی پی د هغه کردار چې په قلعه زال ولسوالۍ کې یې سوله راوستلې ده، ستاینه وکړه. خو د نورو ولسوالیو کسان په دې باور دی چې له دې برسیره چې سی آی پې له منځه تللی، دوی به د خلکو له پاره یو ګواښ وی. د دوی غوښتنه دا وه چې یا خو دې سی آی پی، بې وسلې کړای شی او یا د په سیمه ییزو او یا ملی پولیسو کې شامل کړای شی. د کندوز یو تن وویل:

"سي آي پي د خپل پاېښت له پاره عایداتو ته اړتیا لري او دوي په خپل اهمیت هم پوهیږي. دوي په ډېره اسانۍ سره د قلعه زال دولت لاندې کولای شي. دوي خلک ځوروي او وخت په وخت خپل ښکار بدلوي."

**د ټولنیز او اقتصادی پرمختګ په اهمیت پوهیدل:** په کندوز ولایت کې دشت ارچې یوه ډیره وروسته پاتې ولسوالی ده. که څه هم ګډون کونکو د ځینو ټولنیز او اقتصادی پرمختګ ستاینه وکړه، دوی په یو غږ د فقر له منځه وړلو، د پرمختیایی پروژو پلی کیدلو، د کار موقعې پیدا کولو او د نورو ښوونځیو او مدرسو جوړولو غوښتنه وکړه. د امام صاحب د ولسوالۍ یوې ښځې وویل:

" فقر له ځان سره ټولې بدمرغۍ راوړي. خلک د فقر له امله وسله وال مخالفت کې شاملیږي."

ګډون کونکو په دې ټینګار وکړ چې دولت باید نورې مدرسې جوړې کړی نو بیا به دوی خپل ماشومان د زده کړې له پاره پاکستان ته نه لیږی. دوی په دې باور وو چې ډیر هغه ماشومان چې په پاکستانې مدرسو کې داخل شوی دی، ورته د سخت دریځی درسونه ورکول کیږی او وروسته دوی بیا د مدرسو د فارغت څخه وروسته، وسله وال مخالفت کې ځان شاملوی.

د ګډون کونکو په باور ټولنیز او اقتصادی پرمختګ په ټول اړخونو کې د سولې او امنیت په راوستلو کې ډیر مهم دی. که څه هم کندوز اوله درجه ولایت دی خو د پرمختګ له پاره یې ډیر لږ کار شوی دی. د قلعه زال والسوالۍ یو ښوونکی وویل:

"په قلعه زال ولسوالۍ کې کوم د پام وړ پرمختګ نه دی لیدلی شوی. که څه هم د بریښنا ستنې د قلعه زال څخه تیریږی، خو لا تر اوسه بریښنا نه لری. په دې ولسوالۍ کې ډیر ثبات شته، خو له هغې سره سره د دې عمومی سرکونه لا پاخه شوی نه دی.

**د افغانستان د سولې او عادی ژوند ته د راستنیدو پروسې (APRP) او د سولې عمومی پروسې غزول او اصلاح کول:** ځینې ګډون کونکو د اې پی آر پی (د افغانستان د سولې او عادی ژوند ته د راستنیدو پروسه) په پروسې انتقاد وکړ او ادعا یې وکړه چې ډیر د ټیټې کچې جنګیالیو دې پروسې کې اشترا ک کړی دی. ددوی وړاندیز دا و چې د اې پی آر پی پروسه د ټینګ کولو له پاره باید مثبت ګامونه واخیستلی شی چې دا پروسه د جعلکاری څخه وژغوری. که نه نو خلک به د ګټو لاس ته راوړو له پاره په دې پروسه کې ځانونه شامل کړی. ګډون کونکو وړاندیز وکړ چې د اې پی آر پی پروسه او د عامه اګاهی کمپاین باید ولسوالیو ته هم وغزول شی. د امام صاحب ولسوالۍ یو تن زده کونکی وویل:

"خلک د سولې د پروسې په هکله پوهه نه لري ځکه چې دولت د سولې په اړوند اخیستل شویو ګامونه څخه خلک په سمه توګه نه دې خبر کړي. بر سیره پر دې، د سولې دا ډول هڅې باید ولسوالیو ته هم وغزول شي."

ګډون کونو د سولې ولایتی شورا باندې هم سخته نیوکه وکړه او وویل چې عادی خلکو لکه عالمانو سره مشوره نه ده شوی او عالمان د مخالفینو د سولې پروسې ته په تشویق کولو او شاملو کې مهم کردار لوبولای شی. د چاردرې ولسوالۍ یو تن وویل:

" دولت باید د سولې په پروسه کې ټول شامل کړي. دوي باید عادي افغانانو سره مشوره وکړي او په ګډه همکاري وکړي چې سوله راولي. د سولې په پروسه کې باید د ملایانو، عالمانو او نورو سره مشوره وشي."

## ۵. د خلکو سپارښتنې

د مشورتی ډلو د خبرو اترو په وخت کې ګډون کونکو په کندوز کې د دوامه داره سولې او ثبات په هکله ځینې ځانګړې او عمومی سپارښتنې لرلې. ددوی ځینې سپارښتنې په لاندې ډول دی:

**ټولې وسله والې ډلې بې وسلې کړئ او د افغان امنیتی ځواکونه تقویه کړئ:** (۱) دولت باید ټولې ملیشې که دولت پلوه وی او که نورې وی، بې وسلې کړی. د بې وسلې کولو هڅه باید تش په نامه نه وی او ډیره کلکه او جامع وی او د ملیشې هیڅ یو قومندان او د ملیشې یو کس هم باید مسلح پاتې نه شی. د ډیاک پروسه باید په اغیزناک ډول ادامه ومومی؛ (۲) سیمه ییز دولت باید په دولت پلوه ملیشو باندې اتکا ونه کړی او دوی سره ټولی اړیکې باید وشکوی. دولت باید افغان ملی پولیس، افغان ملی اردو او افغان سیمه ییز پولیس تقویه کړی چې له مخالفینو سره جنګ وکړی او باید د مخالفینو په خلاف دولت پلوه ملیشو څخه کار وا نخلی؛ (۳) دولت د عملیاتو په وخت کې باید یواځې افغان ملی ځواکونه وکاروی او دولت پلوه ملیشې او نورې ورته باید د تلاشۍ په عملیاتو کې برخه وانخلی؛ (۴) افغان سیمه ییز پولیس باید په سمه توګه چاڼ او وروزل شی. سیمه ییز پولیس کې نوی شامل کسان باید د غورچاڼ یو دیموکراتیک میکانیزم څخه تیر شی چې سیمې مشران باید په کې شامل وی او له دوی سره مشوره وشی.

**افغان امنیتی ځواکونو څارنه او ځواب ورکونه:** (۱) دولت باید په کلکه توګه افغان امنیتی ځواکونه په تیره بیا افغان سیمه ییز پولیس وڅاری. افغان سیمه ییز پولیس باید د هغو جرمنو چې دوی کړی وی، ځواب ورکړی او دوی باید له قانونی تعقیب نه ډډه ونه کړی.

**د دولت او د سیمه د خلکو تر منځ د واټن کمونه:** (۱) باید هڅې وشی چې د دولت او د خلکو تر منځ غټ واټن را کم کړی. باید داسې لارې جوړې شی چې د هغې له امله د عام خلکو نظرونه په اسانه ډول سره له دولتی اداره سره شریک کړی؛ (۲) باید دینی عالمانو سره مشوره وشی ځکه چې دوی دولت او د خلکو ترمنځ واټن کمولو کې مهم رول لوبولی شی؛ (۳) والی باید ډیر وارې ولسوالیو ته سفر وکړی او د سیمې له خلکو سره ووینی او د هغوی غږ واوری.

**د بشری حقونو پر مخ بیونه، د قانوم حاکمیت او معافیت ته د پای ټکی کیښودنه:** (۱) دولت باید د قانون حاکمیت تقویه کړی او قانون باید په ټول تبعه باندې په یو ډول پلی شی؛ (۲) د معافیت جاری کلتور ته باید د پای ټکی کیښودل شی او ټول هغه کسانو چې جرمونه یې کړی دی.، باید محکمې ته کش کړای شی. د دولت پلوه ملیشو قومندانان، د دوی ملیشه او افغان سیمه ییز پولیس چې په ناوړو بشری حقونو سرغړونو تورن دی، باید څارنوالی ته وسپارل شی؛ (۳) د بشری حقونو پرمخ بیونې له پاره باید د عامه خبر تیا هڅې وشی او د ټولنې له مختلفو اقشاروڅخه لکه دینی عالمان، ځوانان، نالوستی، د ټولنې مشران او د دولت مامورین هم پکې شامل شی؛

**د ټولنیز او اقتصادی پرمختیا تقویه کول:** (۱) ښاری او کلیوالې سیمې باید ودانې شی او پرمختیای مرستې باید په برابر ډول وویشل شی. هغه ولسوالۍ چې د وسله والې جګړې له امله اغیزمنې شوی دی باید په لومړیتوب سره ابادې شی؛ (۲) د ښونې ملی رسمی سیستم باید تقویه شی او ډیرې مدرسې جوړې شی چې د کندوز زده کونکی پاکستان ته د زده کړې له پاره تللو ته اړ نه نشی؛ (۳) د ( سولې له پروسې) سره یو ځای شوی خلکو ته باید د کار موقعې پیدا شی؛

# د سمنګانو ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

د سولې لپاره دغه ولایتی طرحه د هغو مهمو موندنو او مسایلو یو لندیز وړاندې کوی کومې چې د سمنگانو د ولایت د عادی افغانانو د نږدې ۱۵۰ نارینه وو او ښځینه وو لخوا مطرح شوی. د افغانستان د مدنې ټولنې د مجتمع ملاتړ د یوناما د بشری حقونو د څانگې لخوا کیږی، او د ۲۰۱۳ کال د جون او نومبر په میاشتو کې یې په سمنگانو ولایت کې د متمرکزو گروپی مباحثو پنځه ناستې دایرې کړیدی. د متمرکزو گروپی مباحثو گډونوالو د عامه سکتور د کارکونکو، د ټولنې د مشرانو، بزگرو، ښوونکو، علماوو، د ټولنو سره د بیا یو ځای کیدونکو کسانو (د دولت ضد عناصرو پخوانې جنگیالې)[۱۴۱] او د مدنې ټولنې د استازو په گډون ټولنیز او سیاسی متنوع شامنظرونه وړاندې کړی دی. د سلا مشورو دغه لړې د سولې په اړه د افغانانو د ډیالوگ د دوهم پړاو د یوې برخې په حیث ترسره شوه، دا پروکرام د هیواد په کچه د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون په گډون د مدنې ټولنې د ۱۱ شبکو لخوا پیل چې موخه یې د هیواد په کچه د ټولټال ۴۵۰۰ عادی افغانانو سره د مشورو ترسره کول او د سولې لپاره د ۳۴ ولایتی طرحو جوړول دی- د هر ولایت لپاره یوه طرحه ده، دا پروگرام (له دې وروسته: د خلکو د ډیالوگ په نوم یادیږی).

د سولې لپاره د دې ځایی طرح موخه د شخړې د محلی انگیزو د یوه جامع تحلیل او همدارنگه د سمنگانو په ولایت کې د پایښت لرونکې سولې او ټیکاو سره د مرستې په موخه د مناسبو عملی حل لارو د تشخص وړاندی کول دی.

## ۲. ولایتی انځور: جغرافیه،جمعیت پیژندنه او سیاسی زمینه

د سمنگانو ولایت ( له دې وروسته سمنگان) د کابل ښار شمال په ۳۱۰ کیلو مترې کې د هیواد په شمالې سیمه کې پروت او په غرب کې د بلخ، په شرق کې د بغلان، په شمال شرق کې د کندز او په جنوب شرق کې د سر پل د ولایتونو سره گډې پولې لری. پلازمینه یې د ایبک ښار ده.

د سمنگانو د ولایت د وگړو شمیر ټولټال ۳۵۰۴۰۰ کسان دی. په دې ولایت کې تاجکان واکمنه نژادې ډله ده چې د نفوسو شمیر یې ۴۰-۴۳ سلنې تر منځ دی، ازبکان په د وهم ځای کې دی او د وگړو شمیر یې د ۳۰-۳۵ فیصدو تر منځ دی او په پای کې د هزاره وگړو شمیر د ۱۵-۲۰ فیصدو تر منځ دی. د ولایت د وگړو پاته برخه د تاتارو، پښتنو او عربو د لږکیو ډلو څخه جوړه شوې.

[۱۴۱] پخوانی جنگیالی، پخوانی دولت عناصر چا چې د جگړو څخه لاس اخیستی او د بیا راستنیدنې د پروگرام په مرسته د خپلو ټولنو سره یو ځای شوی، د بیلگې په توگه، د افغانستان د سولی او بیا یو ځای کیدنې پروگرام.

کرنه د اقتصادی فعالیت مهمه سرچینه ده او د ولایت نږدې ۹۵ سلنه وګړې په کرنه متکی دی. مالداری، د کوچنې کچې سوداکری او باغداری د خلکو د عایداتو مهمې سرچینې دی. غنم، جوار، کچالو او میوی (د بادامو، انګورو او خټکو په شمول) اصلی کرهنیز توکې دی.

ویل کیږې چې د سمنګانو ولایت د مینرالونو او طبی زیرمو د شتون له امله یو غنی ولایت دی. د دره صوف بالا، دره صوف پایین او روی دو اب ولسوالیو کې د سکرو کانونه موجود دی. یو شمیر شخصی تصدی او سوداګر د سکرو د کانونو په پروژو کې ښکیل دی چې موخه یې د دې کانونو د سرچینو استخراج دی. د سکرو د استخراج د یوې سمې پالیسې د نه شتون له امله، یو شمیر زیاتې شخصی تصدی ګانې او سوداګر د دې ستونزې سره مخ دی. یاد ولایت د مرمرو د کانو زیرمې هم لری او یو شمیر سوداګر د مرمرو په استخراج کې هم ښکیل دی او د هیواد نورو برخو ته یې استوی.

لکه د هیواد د نورو برخو په څیر، په سمنګانو کې هم سیاسی چاپیریال ایډیالوژیکی نه بلکه پر انفرادی اشخاصو او نژاد را څرخې. په یو شمیر زیاتو مواردو کې د یو مشر څخه د خلکو ملاتړ د نژادی خواخوږی پر بنسټ کیږی. په ولایت کې د یوې فعالې مدنې ټولنې د نه شتون له امله ښکاره سیاسی فعالیتونه نه تر سترګو کیږی. په ولایت کې نسبی مثبت امنیتی وضعیت او د جرمونو کموالی د سیاسی لرلید له نظره غولونکی دی او د ځانې سانسور یوه لویه برخه له پامه غورځوی. د بیلابیلو ګوندونو یو شمیر داسی استازی هم شته چې په اصلی کوندونو پورې تړاو نه لری خو هغوی ډیر فعال نه دی.[142] د افغانستان د شمالی سیمې سره په مطابقت کې د سمنګانو د ولایت سیاست تر ډیره بریده د پخوانیو جهادی ګوندونو له خوا اداره کیږی. په ۱۹۷۹ کال کې په افغانستان کې د روسانو د مداخلې په تعقیب، په ولایت کې یو شمیر سیاسی ګوندونه، د بیلګې په توګه، اسلامی جمعیت، اسلامی حرکت، اسلامی ملی وحدت او حرکت انقلاب اسلامی ګوندونه را څرګند شول. په اوس حال کې په سمنګانو کې دوه ستر سیاسی ګوندونه یعنی جنبش ملی اسلامی افغانستان(جنبش) چې ملاتړ یې په اصل کې د ازبک توکمه ډلې له خوا کیږی او جمعیت اسلامی افغانستان(جمعیت) چې ملاتړ یې په اصل کې د تاجک توکمه ډلې له خوا کیږی، د یاد ولایت په سیاسی ډګر حاکم دی. په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د رژیم د نسکوریدو وروسته، د جنبش ګوند د مرحوم نفوذ لرونکی جنبش قومندان او په پارلمان کی د یاد ولایت د پارلمانی غړی احمد خان سمنګانی په واسطه(د ۲۰۱۲ کال په جون کې په یوه ځانمرګې برید کې ووژل شو) و توانید چې په ولایت خپله ولکه ټینګه کړی، د ۲۰۰۵ کال په ټولټاکنو کې یاد ګوند په ولایتی شورا او د افغان پارلمان ولسی جرګه کې زیاتره څوکۍ وګټلې. د دې په تعقیب، د جمعیت ګوند د ۲۰۰۹ کال په ټولټاکنو کې په

[142] یوناما، د سمنګانو ولایتی انځور، د ۲۰۱۴ کال فبروری

ولایتی شورا کې زیاتی څوکۍ د ځان کړی. زیاتره تحلیل کونکی په دې نظر دی چی د جنبش د دوو مشرانو - د مرحوم احمد خان سمنگانې او عبدالرشید دوستم[۱۴۳] تر منځ د اختلافاتو له وجی په یاد ولایت کې د جمعیت په محبوبیت کې زیاتوالی راغلی.

د ۲۰۰۹ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې، په یاد ولایت کې ښاغلی کرزی د عبدالله په پرتله ډیرې رایې ترلاسه کړی، د راپورونو سره سم ښاغلی کرزی د یو شمیر تاجک رایو په گډون د ازبکو ، پښتنو او هزاره گانو اکثریت رایې تر لاسه کړی. په تیرو کې جنبش په ولایتی شورا کې مطلق اکثریت درلود، خو اوس حالات بدل شویدی. جنبش هڅه کوی تر څو د ولسوالې او کلې په کچه خپل نفوذ پراخ کړی، د خلکو د را جلبولو په موخه جمعیت اوس په تدریج سره د یوې سیستماتیکې سیاسی ستراتیژې سره خپل حرکت ته دوام ورکوی.[۱۴۴] د ملی محاذ گوند، د محقق وحدت گوند او د جمعیت اسلامی گوند ځانگې دم گړۍ په سمنگانو ولایت کې دفترونه نه لری. اوس یواځې د جنبش گوند په سمنگانو کې ولایتی دفتر لری او په دې ورستیو کې یې په ځینو نورو ولسوالیو کې هم دفترونه پرانیستی دی.[۱۴۵]

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ځمونې او محرکات

**د شخړې ځمونې او محرکات:** د خلکو سره د مباحثو پر مهال د سمنگانو د ولایت د اوسیدونکو سره یو لړ سلامشورې ترسره شوې او یو شمیر هغه فاکتورونه یې پیژندلی کوم چې په ولایت کې شخړو او ځایې منازعو ته لمن وهی او د هغوی په سیمو کې سوله او ثیکاو متاثره کوی ، د بیلگې په توگه، د طالبانو تر رهبری لاندې یاغیتوب، نا قانونه وسله والې ډلې، بې کارې، په پاکستانې مدرسو کې د مذهبی مشرانو د روزنې له لارې د راډیکالیزم خپرول، اداري فساد، د شمالي ټلوالې د پخوانیو ډلو تر منځ سیاسی سیالې ، د قومونو تر منځ شخړې او د ټولنو تر منځ شخړې.

**د سمنگانو په ولایت کې یاغیتوب:** د افغانستان په نږدې هر یوه ولایت کې، د سمنگانو په شمول، یاغیتوب سوله او ثیکاو د خطر سره مخامخ کوی. د متمرکزو گروپی مباحثو گډونوالو ویلی چې د ولایت په یو شمیر برخو کې، په خاص ډول په هغو سیمو کې کومې چې د بغلان د ولایت سره گډه پوله لری یاغي ډلو د خلکو ورځنی ژوند د گواښ سره مخ کړی.

"د سمنگانو په ولایت کې د یاغیانو فعالې ډلې شتون نه لري. کله چې افغان ملي امنیتي ځواکونه د بغلان په ولایت کې د دولت د عناصرو د ډلو په

[۱۴۳] یوناما، د سمنگانو ولایتی انځور، د ۲۰۱۴ کال فبروری
[۱۴۴] یوناما، د سمنگانو ولایتی انځور، د ۲۰۱۴ کال فبروری
[۱۴۵] یوناما، د سمنگانو ولایتی انځور، د ۲۰۱۴ کال فبروری

وړاندې پوځې عملیات ترسره کوي نو د دولت ضد عناصرو جنګیالي (ګاونډ سیمو ته) پناه وړي."[١٤٦]

د متمرکزو گروپی مباحثو ګډونوالو د یوې داسې خاصې بیلګې یادونه وکړه کله چې د بغلان په ولایت کې د دولت ضد ځایې عناصرو د سمنګان ولایت په شرق کې خوندی پناه ځایونو ته پناه یووړه.

"څه موده وړاندې افغان ملي امنیتي ځواکونو په ګاونډ بغلان ولایت کې د دولت ضد عناصرو په وړاندې پوځې عملیات ترسره کړل. دولت ضد عناصر د سمنګان ولایت د ایبک ولسوالي د تای- خونک سیمې ته وتښتیدل. بیا، افغان ملي امنیتي ځواکونو د دولت ضد عناصرو د ډلو په وړاندې په سمنکان او بغلان ولایتونو کې ګډ پوځې عملیات ترسره کړل او سیمه یې د دولت ضد عناصرو د شتون څخه پاکه کړه."[١٤٧]

د متمرکزو گروپی مباحثو ګډونوالو ادعا کړې چې طالبان د سمنګان ولایت په پښتون میشتو سیمو، ګاونډ ولایت بغلان، د بیلګې په توګه، بیساقل کلی، په تای خونک کې، چې په اصل کې د استوګنې یوه ازبک میشته سیمه ده خوندی پټنځایونه او ملاتړ لری. د راپورونو سره سم، د بغلان ولایت څخه د دولت ضد عناصرو جنګیالیو پښتون میشته ټولنې، د بیلګې په توګه د ګاو دره سیمه د ځان لپاره د ساتنې په موخه کارولی. د بغلان ولایت د دولت ضد عناصرو لپاره په سمنګانو ولایت کې د پښتنو خواخوږی او ملاتړ ښایې د هغه نژادی محرومیت نتیجه وی چې یو شمیر زیات پښتانه یې احساسوی او ور څخه متاثره شوې.

د دې سربیره، د متمرکزو گروپی مباحثو ګډونوالو د هغو ځایې انفرادی کسانو په اړه څوک چې په پاکستانی مدرسو کې روزل کیږی او د سیمې په جوماتونو او غیر رسمی مدرسو کې د ملایانو او ښوونکو په حیث دندې ترسره کوی او د هغو اسلامی اصولو زده کړی ورکوی کوم چې د یاغیانو لپاره ملاتړ برابروی ، خپلې اندښنې څرګندې کړی.

"د طالبانو زیاتره ملاتړي او خواخوږي د دیني مدرسو هغه مشران دي څوک چې د طالبانو د ملاتړ په موخه ځایې خلک روزي. د دیني مدرسو زیاتره مشرانو پاکستان ته ځې او هلته روزنې ترلاسه کوي. هغوی بیا د سمنکانو ولایت ته راستنیږی او په مدرسو کې تدریس ورکوي."[١٤٨]

---

[١٤٦] د لوړو زده کړو په انستیتیوت کې لکچر ورکونکی، ایبک ښار، سمنګان ولایت

[١٤٧] د ټولنې مشر، ایبک ولسوالی، سمنګان ولایت.

[١٤٨] د ټولنې مشر، خرم سر باغ ولسوالی، سمنګان ولایت.

په ډله ییزو مباحثو کې ګډونوالو ومنله چې ځینې وسله والې یاغی ډلې شته چې په ایدیالوژیکی لحاظ دې ته نه دی تیار چې د افغان حکومت په ضد وجنګیږی یا له طالبانو، حزب اسلامی یا یوې بلې وسله والې ډلې سره تړلې وی. د دوی موخه دا ده چې د افغان حکومت شتون او د هغه خپلواکی وځپی او خپلو موخو ته ځان ورسوی. د دوی په موخو کې په ټولنو باندې د ولکې ساتل هم شاملیږی، څو عشر (ناقانونه مالیه) او د ځایی حاصلاتو یو پر لسمه برخه حاصلات راغونډ کړی. که دا ډول وسله والې ډلې بې وسلې او منحل نه شی، دوی به نور ځواک او پیاوړتیا تر لاسه کړی. دغه ډلې کمزورې او بې نظمه دی، خو که طالبان او نورې منظمې یاغی ډلې دوی په لویو منظمو سیمه ییزو یاغی ډلو بدلې نه کړی.

"د نیستي او بې کاري له امله یو شمیر زیات ځایې خلک د شپې لخوا له کورنو را وځي او غلاوي کوی. هغوي طالبان نه دي، خو کله چې د داسې جنایې ډلو په هکله طالبان پوه شي نو هغوي په خپلو ډلو کې په دندو ګماري. داسي جنایې ډلې ترجیح ورکوی تر څو د دولت ضد عناصرو له لیکو سره یو ځای شي، هغوی ته وسلې، مهمات او پیسې ورکول کیږي او په دې سره هغوی نور قدرت تر لاسه کوي. نو په دې سره د هغوی مصونیت تظمینیږي، په خاص ډول [که هغوی د سولی او بیا یو ځای کیدنې د پروګرام] سره یو ځای شي."[۱۴۹]

د دی سربیره، ځایی پخوانې قومندانان څوک چې د ځایې دولتی چارواکو له خوا په رسمعیت نه دي پیژندل شوې او په شخړو کې ښه نه ګنل کیږی، اکثرا د دولت مخالفت د دې لپاره کوی چې د هغه څه ادعا وکړی چې دوی یې په حقه د ځان بولی. په دې سره هغوی هم په سمنګانو کې د یاغیتوب سره مرسته کوی. کله چې د دوی غوښتنې پوره شی نو بیا هغوی په خپلو ټولنو کې د سولی او په ټولنو کې د مدغم کیدو د پروګرام سره یو ځای شی.[۱۵۰]

"یو څو کاله وړاندې په سمنګانو ولایت کې یو جهادی قومندان د خپلو افرادو سره غره ته پورته شو او د سمنګان ولایت په خرم و سرباغ ولسوالې کی یې د

---

[۱۴۹] ځایی کلیوال، د حضرت سلطان ولسوالی، سمنګان ولایت

[۱۵۰] د افغان سولی او بیا یو ځای کیدنی د پروګرام مطابق، هغو پخوانیو جنګیالیو چا چې د خشونت څخه لاس اخیستی او د افغانستان اساسی قانون او د قانون حاکمیت یې منلی او همدارنګه یې د دولت ضد عناصرو د ملاتړ څخه لاس اخیستی، هغوی به د خپلو ټولنو سره یو ځای شی. د هغوی سره به د معارف، حرفوی روزنو، ساتنې او امنیت په برخه کې مرستی وشی.د ملی امنیت، ډی او آر کمیسیون، د افغانستان د سولې او پخلانیې پروګرام ته په لاند ې پته مراجعه وکړئ:
https://info.undp.org/docs/pdc/Documents/AFG/00060777_00060777_APRP_National%20Programme%20Document%202010%2006%2001.pdf

افغان ملي امنيتي ځواکونو په وړاندې جگړه پيل کړه. د نوموړي قومندان ډله دومره غښتلې نه وه چې د جگړې په ډگر کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو په وړاندې مقاومت وکړي. او هميشه په تيښته وو. ما دا هم اوريدلي چې له هغه وروسته چې د طالبانو د کويټې شورا دوي ته يو شمير مهمات ورکړل دوی په سمنگانو ولایت کې یو شمیر تروریستي کړنې هم تر سره کړې. بیا د یاد قومندان وراره د ولايتي چارواکو سره تماس ونيو او د دولت سره یې یوه معامله وکړه. دولت د ځايي قومندان وراره د خورو و سر باغ د ولسوالی د پوليسو مشر و ټاکه. بیا، یاد قومندان د افغان سولی او بیا یوځای کیدنې د پروگرام سره یو ځای شو."[151]

د متمرکزو گروپی مباحثو د گډونوالو په حواله، یو شمیر سیاسی گوندونه او شخصیتونه یا خو په سیاسی لحاظ د جنایې پوځې ډلو ملاتړ کوی یا خو په هغو سیمو کې چیری چې د دوی سیاسی گټې نغښتې دی جنايې ډلې را منځ ته کوی تر څو په یو شمیر سیمو کې د دولت کنترول او صلاحیت د گواښ سره مخ کړی. یو شمیر موقتی پیښې د جنایې وسله والو ډلو لپاره دا ډول ملاتړ را منځ ته کوی او بیا د یاغې ډلو په نوم تماميږی.

"هغه څوک چې په افغانستان کې سیاسی حرکتونه او سازمانونه رهبری کوی، د خپلو سیاسی موخو د ترلاسه کولو په هدف د نژادی، ژبنيزو او سیمه ییزو اختلافاتو څخه کار اخلی. داسې پروگرامونه چې د طالبانو او دولت ضد عناصرو په نوم تمام شی، د همداسې سیاسی مشرانو له خوا تنظیمیږی څو د هغوی د سیاسی گټو د په پام کې نیولو په خاطر په سمنگانو او د افغانستان په نورو سیمو کې - په خاص ډول د ټولټاکنو څخه وړاندې موده کې امنيتی وضعیت د گواښ سره مخامخ کړی. هر څه په کابل کې پلان او تنظيم شوې او د ټولنې د مشرانو او کليوالو څخه د دې پروگرامونو د تطبیق په برخه کې کار اخیستل کیږی."[152]

"د تیرو پارلماني ټاکنو څخه وړاندې (د ۲۰۱۰ کال د سپټمبر په ۱۸ ) د سمنگانو د ولايت په زيراکې سیمه او د کښته دره صوف په ولسوالې کې یو شمیر یاغې ډلې د دې لپاره را منځ ته شوې څو په سیمه کې امنيتي وضعيت خراب کړي. مخدوم رحيم الله، د پارلمان د څوکۍ لپاره یوه ځايي نوماند د رايو د مرکزونو د امنیت د خوندي کولو مسولیت په غاړه واخیست. د دې په نتیجه کې نوموړی وتوانيد چې په سيمه کې د ځان لپاره تر ټولو زياتې رايې خپلې کړي. نوموړی

[151] د ځایې لیسې ښوونکی، خرم و سرباغ ولسوالی، سمنگان ولایت.
[152] د ټولنې مشر، ایبک ښار، سمنگان ولایت.

په تیرو پارلماني ټاکنو کې (د ۲۰۰۵ کال د سپټمبر په ۱۸ ) هم نوماند وه خو بریالی نه شو."[۱۵۳]

**بې کاری:** په سمنګانو کې بې کارې د یاغیتوب د یوه بل محرک په توګه پیژندل شوې او ورځ تر بلې په ډیریدو ده. په زرګونو هلکان او نجونې د لیسو، د لوړو زده کړو د انستیتیوتونو او پوهنتونونو څخه فارغ شوې خو د کارې فرصتونو د نه شتون له امله د کار مارکیټ ته نه شی ننوتلای. ځایی حکومت دې ته تمایل ښیې، چې د ځایې استخدام په ځای د نورو ولایتونو څخه کارګران په دندو ګماري، چې دغې چارې د کار حالت نور هم بدتر کړی. سربېره پر دې، زیاتره وګړی په غیر میخانیکی کرنه چې زیات حاصلات نه ورکوی، بوخت دی. طالبان د افغان ملی پولیسو د معاشونو په پرتله زیات معاشونه ورکوی، ځکه نو یو شمیر کیلوال د مالی دلایلو لپاره د طالبانو سره یو ځای کیدو ته زړه ښه کوی:

ځینې کلیوال په کال کې د دریو میاشتو لپاره د ځمکې په وړو ټوټو کار کوی، له هغه وروسته بیا هغوی کار نه لری او پیسې یې هم ور خلاصی شی. د دې په خاطر چې د خپلو کورنیو مالي ملاتړ وکړی، هغوی پله چاره نه لری، ځی د طالبانو سره یو ځای کیږی او د هیواد په بیلابیلو شمالی سیمو کې د افغان ملی امنیتی ځواکونو په وړاندی جنګیږی. بې کارې په هره ټولنه کې د جنایت د میزان د زیاتوالي لپاره یو ستر لامل دی. په ځای د دې چې زما ماشومان د لوږې څخه وځوریږی ښه به دا وې چې د یو چا کور لوټ کړم. هیڅوک هم د یوه جنایت کار په توګه دې نړۍ ته نه دی راغلی. دا د ټولنې او ژوند جبر دی چې یو څوک جنایت ته مخه کوی."[۱۵۴]

**د ښې حکومت ولې او د قانون د حاکمیت نه شتون: د شمالي ټلوالې د ډلو په منځ کې سیاسی سیالې او قومی منازعې:** په سمنګانو کې درې عمده سیاسی ګوندونه شتون لری- جمعیت ملی اسلامی افغانستان(جمعیت)، حزب وحدت اسلامی مردم افغانستان(د افغانستان د خلکو د اسلامی اتحاد ګوند)(وحدت)، او جنبش ملی اسلامی افغانستان(جنبش) او یوه بله سیاسی ډله ( د احمد خان د ملاتړو) کومه چې په خاص ډول په ځایې شخړو کې ښکیله ده. دا سیاسی ګوندونه د قومی کرښو پر اساس خپل فعالیتونه پر مخ بیایې، تاجک په ترتیب سره د جمعیت، ازبک د جنبش او هزاره د وحدت ګوندونو ملاتړی دی. په سمنګانو کې سیاسی ګوندونه خپل نفوذ او صلاحیت د پخوانې جهادی قومندانانو، ټولنو د مشرانو او نفوذ لرونکو مذهبی اشخاصو په واسطه اعمالوی. په وروستیو لسیزو کې، د سمنکانو ولایت د قوم پر اساس د شخړو او حتی وسله

[۱۵۳] د مدنې ټولنې ښځینه فعاله، ایبک ښار، سمنګان ولایت.
[۱۵۴] ځایې کلیوال، ایبک ښار، سمنګان ولایت.

والو شخړو له امله متاثره شوی چې په نتیجه یې د وګړو په منځ کې دوامداره قومی شکایتونه را منځ ته کیږی. د سیاسی ګوندونو چارواکی د دې قومی شکایتونو څخه په ګټې اخیستنې ځای وګړې د خپل ملاتړ لپاره بسیجوی، په هغو خپل نفوذ ساتی او په دې توګه د خپل جغرافیایې وسعت اندازه پراخوی.

"جنبش، جمعیت او د احمد خان ملاتړې په ایبک ښار او شاوخوا سیمو کې د مساوي نفوذ څخه برخمن دي، وحدت په روی دو آب او دره صوف بالا ولسوالیو کې نفوذ لري. دا سیاسي ډلې په سمنکانو ولایت کې قومي بنسټونه لري. د سمنکانو د ولایت جمعیت د دریو سترو قومونو یعني تاجکو ازیکواو هزاره ګانو څخه جوړ دی. حکومتي چارواکي د شخړې د هغه اړخ څخه ملاتړ کوي کوم چې د هغه یا هغې د قومي ډلې یا سیاسي ایتلاف سره اړخ ولګوي. څکه نو په سمنګانو کې د خلکو او ځایي چارواکو تر منځ هر وخت تشنج را منځ ته کیږي. په سمنګانو ولایت کې هیڅ افغان سیمه ییز پولیس شتون نه لري. که څه هم، د دولت پلوه ملیشو قومندانان چې د یوې او یا بلې سیاسي ډلې سره خواخوږي لري موجود دي. د دولت پلوه ملیشو قومندانان په وسلو سمبال دي، خو هغوي خپلې وسلې د یاغیانو او یو بل په وړاندې نه کاروي. هغوي ادعا کوي چې وسلې یې د خپلې ساتنې لپاره د ځان سره ساتلې دي. د دولت پلوه ملیشو قومندانان د شخړو څخه د خپلو سیاسي ګټو د ترلاسه کول په برخه کې کار اخلي. هغوي هر وخت د قومي یا نژادي اختلافاتو د ډیرولو له لارې د خلکو په منځ کې د خپل نفوذ د زیاتیدو کوښښ کوي."[155]

د دولت پلوه ځواکونو قومندانان معمولا د دولت ضد عناصرو د ډلو په وړاندې په دښمنیو کې ځانونه نه ښکیلوی، خو په نومونه یې ډول د ځانونو سره وسلې لیږدوی او د خپلې ساتنې لپاره وسلو ته لاسرسی لری. څکه نو دوی کولای شی د ټولنو غړی وګواښې او په دې توګه دخلکو مخه ونیسی څو په راتلونکې وخت کې و نه کولای شی د قومندانانو د لارښوونو او پریکړو په وړاندی له ځانه مقاومت وښې. په ځایې کچه د خلکو درې ډلې موجودې دی چې د ټولې ټولنې په استازیتوب د پریکړو د نیولو صلاحیت لری: ۱. شتمن ځایې خلک، (زمیندار، مالدار او شتمن سوداګر)، چا ته چې په ټولنه کې د اربابانو او ټولنې د مشرانو خطاب کیږی، ۲. پخوانې جهادی قومندانان(د بیلګې په توګه، د دولت پلوه ملیشو قومندانان)، او ۳. ځایې مذهبی مشران(ملایان او د جوماتونو ملا امامان). په لرې پرتو سیمو کې دغه ډلې د قدرت دلالان دی او اکثرا د ولایتی، سیمه ییزو او داخلی سیاسی ګوندونو او سیاسی اشخاصو له خوا د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره د هغوی سره اړیکې

[155] ځایې ټولنې مشر، د دره صوف بالا ولسوالی، سمنګان ولایت.

نیولې کیږی. قومی تعصب د ځایې خلکو د بسیجولو او بیلابیلو سیاسی موخو د ترلاسه کولو لپاره مهم فاکتور دی:

"په سمنگانو ولایت کې د قدرت دلالان د خپلو سیاسي موخو د ترلاسه کولو لپاره قومي اختلافات کاروي."[156]

په سمنگانو کې ټولټاکنې د سیاسی سیالیو او قومی تشنج یو موقتی محرک و.

" سیاسي مشران دغه دولت پلوه ملیشه یې قومندانان د بیلابیلو ټولنو تر منځ د اختلافاتو د را منځ ته کولو په خاطر کاروي، او د خپلو سیاسي موخو د تر لاسه کولو په خاطر د قوم، ژبې او مذهبې اختلافاتو د کارولو څخه د خپلو ولایتي، پارلماني او ولسمشریزو نوماندانو د ملاتړ په برخه کې گټه پورته کوي. د دغو سیاسي مشرانو لپاره د خلکو سیاسي حقونه(د رایې حق، د انجمنونه تاسیس، لاریونونو او احتجاجونو ترسره کول) تر هغو د منلو وړ دي چې د هغوي د مشرانو سیاسي گټې له خطر سره مخ نه کړي".[157]

د متمرکزو گروپی مباحثو گډونوالو مشاهده کړی چې کله بلاخره ټولټاکنې پای ته ورسیږی په ځایې ټولنو کې قومی شکایتونه مخ په زیاتیدو شی او د هر ورځې په تیریدو سره لا پراخیږی. هغوی په دې اند دی چې د هغوی په ټولنو کې قومی تشنج د شخړو عمومی او اوږد مهاله سرچینې دی.

" د سمنگانو په ولایت کې سیاسي گوندونه د قومي ډلو تر منځ په خاص ډول د ټولټاکنو څخه وړاندې موده کې قومي اختلافونو ته لمن وهي. ځایې قومندانان او د ټولنو مشران بیا د دوو کلیو په منځ کې یا د یوه کلي د خلکو په منځ کې د قومي تشنج په کارولو سره رایه ورکونکي د قومي کرښو پر اساس بسیجوي څو یوه یا بل کاندید ته رایه ورکړي."

د متمرکزو گروپی مباحثو د گډونوالو په حواله، د هغوی د سیاسی گوندونو او سیاسی ملاتړو څخه د دولتی لوړ پوړو چارواکو وفاداری او طرفداری د سیاسی گوندونو تر منځ د سیالیو او قومی منازعو یو بل محرک دی. دولتی چارواکی، د بیلگې په توگه، والی، ولسوال، د ولایت او ولسوالۍ په کچو د افغان ملی پولیسو منسوبین، د د ولتی ریاستونو د ولایتی او ولسوالیو د کچو رییسان د سیاسی گوندونو له خوا ټاکل کیږی او ملاتړ یې د سیاسی گوندونو او همدارنگه د قدرت د لالانو له خوا کیږی. په پای کې، دا ډډول دولتی چارواکی خپلې دندې د هغو سیاسی گوندونو په گټه چې د دوی ملاتړ یې کړی، ترسره کوی. په

[156] د عالی لیسې زده کونکی، ایبک ښار، سمنگان ولایت.
[157] د لوړو زده کړو د ځایې انستیتیوت څخه یو تن نارینه لکچر ورکونکی، ایبک ښار، سمنگان ولایت.

داسی حال کې چې سیاسی گوندونه قومی بنسټ لری، دولتی چارواکی د دغو قومی ډلو د غړو ساتنه هم کوی.

"په سمنګان ولایت کې زیاتره مهم دولتي چارواکي د یوه یا بل ګوند له خوا په دندو ګمارل شوي. ځکه نو دغه دولتي چارواکي باید د اړوندو سیاسي ګوندونو غوښتنو ته په مثبت ډول ځواب ووایي. د دې سربیره، دولتي کارکونکې د هغوي د قومیت او سیاسي خواخوږۍ پر اساس ټاکل کیږي. هغه خدمتونه چې دولتي چارواکي د خپلو سیاسي ګوندونو د غړو په واک کې ږدي، په دې سره سیاسي ګوندونه په ټولټاکنو کې لا زیات ملاتړ تر لاسه کوي."[158]

د دې په نتیجه کې، ځایې خلک د قانون د حاکمیت د درناوی یا د محلی حکومت د بې طرفې په اړه شکمن دی. ځکه نو هغوی هڅه کوی د خپلو اړوندو قومی ډلو څخه د حکومتی چارواکو سره رابطه ونیسی تر څو قانونی او مدنې شخړې هوارې کړی. ځکه نو ورځ تر بلې د سمنګانو په ولایت کې اداری فساد مخ پر لوړیدو دی. ګډونوال په دې باور دی چې ځایې خلک نه شی کولای په سیاسی ګوندونو خپل نفوذ وساتی، ځکه چې هغوی په سمنګانو ولایت کې د دولت څخه زیات ملاتړ تر لاسه کوی. ځایې خلک د ښې حکومتولۍ، د قانون د حاکمیت، ساتنې، بشری حقونو څخه د برخمن کیدو تمه نه شی کولای، ځکه چې دولتی چارواکی د خپل صلاحیت څخه ناوړه ګټه پورته کوی څو ډاډ حاصل کړی چې د هغوی سیاسی ګوندونو د هغوی سیاسی موخې خوندې کوی.

"دا د ځایې ټولنو لپاره یو ستونزمن کار دی چې سیاسي ګوندونه او د هغوي مشران تر خپل نفوذ لاندې راولي، په خاص ډول کله چې دولتي چارواکي د دغو ډلو له خوا په دندو ګمارل شوې وي. د بیلګې په توګه، د سمنګانو والي د جنرال دوستم له خوا ټاکل شوی. د دې علاوه، جنرال دوستم د یو شمیر ولایتي ریاستونو رییسان هم په خپله ټاکلې. د ولایت په کچه ټولې څوکۍ د سیاسي ډلو د نفوذ پر اساس ویشل شوې. ځکه نو موږ د چارواکو څخه د ښې حکومتولۍ د معیارونو، قانون د حاکمیت او د بشري حقونو د تطبیق تمه نه شو کولای."[159]

ګډونوالو په خاص ډول د محلی حکومت د چارواکو څخه شکایت کړی چې هغوی نه غواړی شخړې په دایمی توګه هوارې شی، او په ځای یې د اوږد مهاله شخړو د هوارولو لپاره د موقتی او غیر قانونی روشونو څخه کار اخلی. د بیلابیلو ولایتی ادارو او د شخړو د هوارولو

[158] د مدنې ټولنې فعال، ایبک ښار، سمنګان ولایت.
[159] د ایبک د ښار څخه یو تن مشر، سمنګان ولایت.

د خاصو اختیاراتو سربیره، د هغوی د سیاسی طرفداری په نتیجه کې، دولتی چارواکې ، په خاص ډول والی، د کمیسیونونو د جوړولو هڅه کوی څو شخړې هواری کړی.

"هفه دولتي چارواکي څوک چې د يوه او یا بل گوند سره خواخوږي لري هم اکثرا کوښښ کوي تر څو هغه اختلافات چې د ټولنو تر منځ موجود دي هوار کړي. دغه ډول چارواکي د خپلو سیاسي او مالي گټو د خوندي کولو مسلې ته زیات لیوال وي. هغوی د محلي خلکو د گټو د ساتلو په پام کې دومره نه وي. د دې علاوه، د موقتي حل لارو په لټه کې وي. د بیلگې په توگه، د سمنگانو د ولایت د پیروز نقشیر په ولسوالۍ کې د کلیوالو د شخړې او د بلخ ولایت د چارکینټ او مارمول د ولسوالیو په حواله، حکومتي چارواکو غونډې دایرې کړي، د موضوع په اړه یې خبرې اترې ترسره کړي او د کلي څخه ولاړل. هییت د محلي خلکو سره ولیدل او د هغوي د پخلاینې هڅه یې وکړه. هو، خلک به د داسې ناستو پر مهال هرو مرو وایې چې دوي د يو بل سره په سوله کې ژوند کوي، خو آیا ستونزه هواره شوې؟ نه، شخړه لا هم دوام لري. حل لار موقتي وه."[١٦٠]

**د وسله والو ډلو له خوا سرغړوني:** علاوه پردې، گډنوالو باور درلود چې د دولتی چارواکو له اړخه سیاسی تعصب د دولت پلوه ملیشه یې قومندانانو چې د خپلو اړوندو سیاسی گوندونو سره خواخوږي لری معافیت تقویه کوی او په نتیجه کې د جنایې ډلو د معافیت لپاره لار هواره وی. که څه هم چی د دولت پلوه ملیشه یې قومندانانو په وړاندې په خپله په سمنگانو ولایت کې د کوم فعال یاغیتوب څرک نه تر سترگو کیږی ، خو بیا هم هغوی وسلې او وسله والې ډلې لری. حکومتی چارواکو دغه ډلې بې وسلی نه کړی او دا د محلی خلکو په وړاندې، څوک چې نه شی کولای د هغوی د پریکړو په وړاندې اعتزاض وکړی، یو گواښ دی.

"زموږ په ولایت کې افغان سیمه ییز پولیس شتون نه لري. دلته دولت پلوه ملیشه یې قومندانان موجود دي چې هغه بیا په خپل ذات کې دومره غښتلي نه دي. هغوی ادعا کوي چې خپلې وسلې د خپل خوندیتوب او امنیت لپاره کاروی. کیدای شي د هغوي وسلې د محلي خلکو لپاره همیشه یو گواښ وي. دولت دغه دولت پلوه ملیشه یې قومندانان نه بې وسلې کوي. هغوی د طالبانو په وړاندی جگړه هم نه کوي."[١٦١]

[١٦٠] د سمنگانو د ولایت د پیروز نقشیر د ولسوالۍ څخه یو تن د ټولنې مشر.
[١٦١] د لوړو زده کړو د انستیتیوت یو تن نارینه زده کونکی او د مدنې ټولنې فعال، ایبک ښار، سمنگانو ولایت.

د دې سربېره، محلي حکومتي چارواکي یا خو جنایي ډلې نه نیسي او یا یې د لوړو پوړو دولتي چارواکو د مداخلې وروسته خوشې کوي، دا په خپل ذات کې په ولایت کې د مخ پر زیاتیدونکي جنایت سره لا مرسته کوي.

"د دولت په دننه کې معافیت د اداري فساد او سیاسي خواخوږي زیږنده ده." کله چې یوه جنایي ډله نیوله کیږي او یا پیژندل کیږي، په کابل او سمنګانو کې د قدرت یو شمیر دلالان د مداخلې هڅه کوي څو د جنایي ډلې د تورنو کسانو د نیولو مخه ونیسي."[١٦٢]

**د طبیعي زیرمو ناقانونه او بې کنتروله کیندنه/استخراج:** د افغانستان د ډبرو د سکرو د دوو سترو کانونو په شمول چې یو یې په دره صوف بالا او بل یې په روی دو آب ولسوالیو کې دی، د سمنګانو ولایت د طبې زیرمو له لحاظه یو شتمن ولایت شمیرل کیږي. د تیرو څلورو لسیزو راهیسې، د دغو دوو سترو کانو پر سر کنترول د سیاسي ګوندونو او د هغوی د اړوندو محلي ملیشه یې قومندانانو تر منځ شخړو او سیاسي سیالو ته لار هواره کړې.

"د سمنګانو د ولایت د دره صوف بالا په ولسوالۍ کې د کرنیزو ځمکو او د ډبرو د سکرو پر سر د دوو کلیو تر منځ شخړه روانه ده. د ۲۰۰۸ کال په مارچ کې، د شاباشک او شیخانو د کلیو ټولنو په دواړو کلیو کې د ځمکو ادعا کوله او په یو بل یې د بیلچو او تبرو وارونه وکړل چې په نتیجه کې یې پنځه تنه سخت ټپیان شول. بیا د دواړو کلیو د ټولنې استازو د دره صوف بالا د ولسوالۍ د ولسوال دفتر ته مراجعه وکړه. د سمنګان د ولایت د سمنګانو د ولایتي شورا او پارلمان غړو د ټولنې د دواړو استازو سره ناسته دایره کړه. په غونډه کې پریکړه وشوه چې د ډبرو د سکرو کان د دواړو کلیو تر منځ په مساوي توګه وویشل شي. له هغه را وروسته اوس هر کلی د خپل استحقاق مطابق کان استخراجوي او له هغه را په دیخوا د دوي تر منځ کومه فزیکي شخړه نه ده را منځ ته شوې."[١٦٣]

دا کانونه په دوامداره، ناقانونه او غیر فني توګه را ایستل کیږي. د دغو کانونو د را ایستلو دا ډول بې کنتروله میتودونه په جدي توګه د محلي خلکو حقونه تر پښو لاندې کوي. قراردادیان تنکي ماشومان په کمو معاشونو په دندو ګماري. طبي کارپوهان د احتمالي خطرونو یا په کانونو کې د کارکولو د اغیزو په هکله څیړنې نه تر سره کوي.

[١٦٢] د ټولنې مشر، د دره صوف بالا ولسوالي, سمنګان ولایت.
[١٦٣]

" دولت پلوه ملیشه یې قومندانان، د ټولنې مشران او د هغوي سیاسي مشران چې د کانونو کیندنې کوي د کارگرانو خوندیتوب او روغتیا ته پام نه کوي. د دې تر څنگ، کارگرانو ته د زیات کار لپاره کمه ورځنۍ مزدورې ورکول کیږي."[١٦٤]

د قدرت ځینې محلی دلالان څوک چې په عین وخت کې د دولت لوړ پوړی چارواکې هم دی په سمنگانو ولایت کې د کانونو کیندنې کنترولوی.

"د قدرت دغه دلالان او د هغوي استازې د کارگرانو حقونو ته ډیر کم او یا هیڅ درناوی نه لري. دغه کارگران د مرگونو ناروغیو څخه چې په کانونو کې د کار کولو څخه را منځ ته کیږي، رنځ وړي. د سمنگانو ولایت په روی دو آب ولسوالي کې د سکرو د یوه کان په پیښه کې یو شمیر کارگران ووژل شول او یو شمیر نور ټپیان شول. دولت د پیښې په تړاو هیڅ ډول څیړنه نه ده کړې او نه یې د پیښې په تړاو څوک تر عدلې تعقیب لاندې نیولې."[١٦٥]

د ډبرو استخراج شوې سکاره د ایبکو د ښار یا مزار شریف او بلخ ولایتونو له لارې د هیواد نورو ولایتونو ته لیږدول کیږی.

**د ټولنې په دننه کې شخړې:** گډونوالو د ټولنې پر بنسټ یو شمیر خاصې شخړې، په کومو کې چې دوه یا د دوو څخه زیاتې ټولنې ښکیلې وی، په گوته کړې . د شخړو په تکراری سرچینو کې د خړوبونې اوبه، د څښاک اوبه، ځمکه او کورنۍ وقار شامل دی. عنعنوی ارزښتونو ته د ټولنیزو شخړو د یوه ستر لامل په حیث کتل شوې. کله چې دوه ټولنې د هغوی د ښځینه غړو په تړاو په شخړو کې ښکیلې وی، کورنۍ ژر په خشونت لاس پورې کوی او جنایې عملونه ترسره کوی. د دغو جنایې عملونو زیاتره برخه په لرې پرتو سیمو کې پېته ساتله کیږی. د قربانیانو کورنۍ د مرتکبینو په اړه دولت ته د دې په خاطر شکایت نه کوی ځکه چې هغوی انتقام اخیستلو ته د بایللې/له لاسه تللې وقار او عزت د اعادې کولو د یوې وسیلې په حیث گورې. دغه ډول شخړی احتمالا زیات وخت نیسی او اکثرا دوه یا د دوو څخه زیاتې ټولنې پکښې ښکیلې وی.

"د بیلگې په توگه، څه وخت د مخه، یوه ځوان هلک د یوې پیغلې نجلې سره د سمنگانو د ولایت د ایبک ښار په زوابې کلي کې اړیکې درلودې. هلک په ښوونځې کې و. کلونه وروسته نجلۍ بل چا ته واده شوه. وروسته، هلک د نجلۍ میړه ته په تلیفون وهلو پیل وکړ او هغه ته یې د واده څخه وړاندې د

[١٦٤] د ټولنې مشر، د دره صوف بالا ولسوالی, سمنگان ولایت.
[١٦٥] د مدنې ټولنې فعال، ایبک ښار، سمنگان ولایت.

ځان او د هغه د ښځې تر منځ د اړيکو په هکله خبر ورکړ. د څو ورځو لپاره هلک لا درکه و. وروسته د هغه مړی په کرونده کې وموندل شو. هغه اته ځايه په چاړه وهل شوی و. پېښه نه ده څېړل شوې او د پېښې په تړاو هم مر تکيبين نه دي نيول شوې. د متوفی کورنۍ ادعا کوي چې د نجلۍ او د هغې د ميړه کورنۍ د هغوی د زوی په وژلو کې لاس لري. لکه څنګه چې د افغانستان په هر کلي کې دا يوه معمولې خبره ده، د متوفی کورنۍ او د هغوي خپلوان ښايې په قوی احتمال سره د خپل زوی د مړينې غچ واخلي."[١٦٦]

د ګډونوالو په حواله، د ځمکو پر سر شخړې هم د اشتراکی شخړو د را منځ ته کيدو يو مهم لامل دی. د سمنګانو د ولايت د ولسواليو تر منځ او د ګاوندی ولايتونو، د بيلګی په توګه، د بلخ، بغلان او نورو ولايتونو تر منځ د سرحدونو حدود په ښکاره ډول نه دي تعيين شوې. څکه نو، ټولنې په يو شمير ګاونډ ولسواليو کې اکثرا د څړ ځايونو په تړاو په خپلو منځونو کې شخړې لری. د بلخ ولايت د چارکنټ په ولسوالې کې ځينو محلی قومندانانو چې ملاتړ يې د وحدت ګوند له خوا کيږی د يو شمير څړ ځايونو کنترول په لاس کې اخيستی او د پيروز نقشير د ولسوالۍ وګړو ته اجازه نه ورکوی چې په سيمه کې د هغوی څاروی و څری. د پيروز نقشير د ولسوالۍ اوسيدونکی بايد د وحدت د ګوند قومندانانو ته د څړ ځايونو څخه د استفادې په موخه په بدل کې څاروی ور ګړی. د پيروز نقشير د ولسوالۍ اوسيدونکو په دې وورستيو کې د موضوع په هکله د سمنګان ولايت ولايتې اداري دفتر ته شکايت سپارلی.

"افغان ملي امنيتي ځواکونو چې رهبري يې د سمنګانو د ولايت د افغان ملي پوليسو له خوا کيده د پورته يادې شوې موضوع په هکله يوه څېړنه ترسره کړه خو په مقابل کې د چارکنټ د ولسوالې قومندانانو له ځانه مقاومت وښود. څکه نو، وسله واله شخړه را منځ ته شوه چې د دوو ساعتونو لپاره يې دوام وکړ. د سمنګانو د ولايت افغان ملي پوليسو اوه تنه ونيول خو په کابل او بلخ کې د دولتي چارواکو د مداخلتونو له امله د يوې اونۍ په دننه کې له بنده خوشې شول. د بلخ او سمنګانو په ولايتونو کې د محلي حکومت چارواکو د پيښې د څېړلو په موخه سيمې ته هييت واستاوه."[١٦٧]

د سياسی ګوند استازو يا د قدرت دلالانو هم په نورو طبيعی زيرمو کنترول ساتلی.

د سمنګانو ولايت د پيروز نقشير په ولسوالۍ او د بلخ ولايت په چارکنټ او مارمول ولسواليو کې خلک د سرحدونو پرسره په يوه اوږده منازعه کې ښکيل دی. د دغو دريو

[١٦٦] د سمنګانو د ولايت د ايبکو په ښار کې د مدنې ټولنې يوه ښځينه غړې.
[١٦٧] کليوال، پيروز نقشير ولسوالۍ، سمنګانو ولايت.

ولسوالیو تر منځ څړ ځایونه دی او د دغو دریو ولسوالیو خلک خپل څاروی په دغه سیمه کې پیایې. ځایې خلک، معمولا پخوانې قومندانان او اربابان د داسې څړځایونو څخه د استفادې پر سر د یو بل سره په شخړو کې ښکیلیږی.[۱۶۸]

"موږ د خپلو ځمکو د ادعا کولو رسمي قبالې لرو. دا زموږ قانوني ملکیتونه دی، خو د هغوي ملاتړې( د بلخ ولایت د چارکینټ او مارمول د ولسوالیو خلک ) زموږ څخه زیات غښتلي او بانفوذه دي، ځکه نو هغوي زموږ ځمکي غصب کړیدي. نږدې پنځه میاشتې د مخه، د یوې وسله والې نښتې په پایله کې د هغوي یو تن کلیوال ووژل شو. په څیړنو او راپورونو کې جوته شوه چې متوفی د بلخ د ولایت د چارکینټ او مارمول د ولسوالیو د وګړو له خوا وژل شوی. دولت د پیښې په تړاو څوک نه دې نیولي. دولت کمزوری دی او د پیښې په حل کولو کې پاتې راغلی."[۱۶۹]

**بې ځایه کیدنه:** د سمنګانو په ولایت کې بې ځایه کیدنې ته د شخړې د یوه محرک په حیث کتل کیږی چې د ځمکې پر سر شخړې هم تحریکوی او همدارنګه قومی او سیاسی خواخوږی لا پراخوی. د دې سربیره، ګډونوالو ادعا کړې چې د قدرت محلی دلالان هڅه کوی تر څو د خپلو سیاسی ګټو د تر لاسه کولو لپاره وضعیت د ځان په ګټه وکاروی. د بیلګې په توګه، تاجکانو ته په سیمه کې د اصلی اوسیدونکو ، او هزاره ګانو ته په سیمه کې د نویو ورغل شویو کسانو په سترګه کتل کیږی، دا دواړه ډلې د خرامو سر باغ په ولسوالې کې د ځمکې پرسر په شخړه کې ښکیل دی. یوه ځایې کس وویل چې:

"د بدخشان د ولایت څخه د هزاره ګانو یوه ډله د سمنګان ولایت د خرامو سر باغ ولسوالې ته بې ځایه شوه. هغوي زموږ ځمکې غصب کړې. نږدې درې میاشتې وړاندې تشنج پراخ شو او هزاره ګانو یوه امیندواره ښځه ووهله او مړ ماشوم یې وزیږید. د دې سربیره، هغوي زموږ څلور-پنځه کلیوال هم ووهل. خو له بده مرغه، د هزاره ګانو مشران، کریم خلیلي(د اسلامي اتحاد د وحدت اسلامي ګوند) یا محمد محقق(حزب وحدت اسلامي مردم افغانستان)(د افغانستان د خلکو د اسلامي اتحاد کوند) د دغو هزاره کانو ملاتړ کوي.[۱۷۰]"

د خرامو سرباغ د ولسوالی څخه د یوه بل ګډونوال په حواله، د ولسوالی د پولیسو مشر ته د نښتې د پیښیدو په اړه اطلاع ورکړل شوه خو ژر یې اقدام و نه کړ. کلیوال وویل چې:

[۱۶۸] ستر زمیندار او د رمو شتمن مالکین

[۱۶۹] د سمنګانو د ولایت د پیروز نقشیر د ولسوالې څخه د ټولنې مشر.

[۱۷۰] محلی مشر، خرامو سر باغ ولسوالې، سمنګان ولایت.

"موږ د پولیسو مشر ته وویل چې د خلکو د دوو ډلو تر منځ نښتې ته ځواب ووایې، نومړی موږ ته په ځواب کې وویل چې افغان ملي پولیس د خپلو موټرو د چلولو لپاره اړین تیل نه لري. نښته په یوه بجه پیل او افغان ملي پولیس بله ورځ په ۰۰: ۸ بجو د پیښې صحنې ته را ورسیدل. دولت کمزوری دی او په سیمه کې د شخړو په وړاندې د چارواکو له خوا نه غبرګون د نا امني او بې ثباتې سره مرسته کوی."[۱۷۱]

## ۴. د سولې طرحه

د متمرکزو ګروپی مباحثو ګډونوالو د پورته یادو شویو شخړو او ستونزو د حل لپاره د یو شمیر ریښتینو حل لارو وړاندیز وکړ، چې په اساسی ډول پر راتلونکو کلیدی برخو تمرکز کوی .

دوی د دې سپارښتنه وکړه، چې د دولتی چارواکو د ګمارنې پر مهال، مسلکیتوب او د اړینو زده کړو درلودل باید تر ټولو بنسټیز شرایط وی :

"دولتي کارمندان باید د هغوي د وړتیا او مسلکیتوب له مخې وګمارل شي، نه د هغوي د سیاسي او قومي اړیکو له مخې، دغه چاره په ځانګړي ډول د دولتي ادارو لکه د څارنوالي او قضاء څانګو او په محکمو کې د قاضیانو د ګمارنې لپاره خورا مهمه ده. دولتي مقامات نه باید د پیسو په بدل کې وپلورل شي، ځکه کله چې اشخاص پر مشخصو دولتي مقامونو د ګمارنې لپاره پیسې ورکوي، هغوي خپل خدمتونه هم پلوري. په داسې یوه حالت کې بیا اداري فساد د قانون په انفاذ او قضایي ارګانونو کې یو نه منع کیدونکی فکتور وي. کله چې په پراختیایي او سیاسي مقاماتو کې دولتي چارواکي د هغوي د سیاسي اړیکو پر بنسټ نه، بلکې د هغوي وړتیا او زده کړو پر بنسټ وګمارل شي، نو کولای شي، چې ځایي خلکو ته خدمت ترسره کړي. یوازې په دغه صورت کې ځایي ټولنې کولای شي، چې د هر سیاسي ګوند د غړي د ترسره کیدونکو سیاسي او پراختیایي لاسته راوړنو څخه ګټه پورته کړي ".

سر بیره پر دې، ګډونوالو د دې سپارښتنه وکړه، چې طبیعی زیرمې باید په مسلکی ډول وکیندل شی :

"په سمنګانو کې زیات شمیر طبیعي زیرمې شتون لري. اوس مهال دغه ټول کانونه په غیر مسلکي ډول کیندل شوي. که چیرې حکومت دغه کانونه په سم ډول استخراج کړی، زیات شمیر افغانانو ته به د کار زمینه برابره او له دغې لارې به یې زیات شمیر بې روزګاره د عاید ترلاسه کولو وسیلې پیدا کړي " .

[۱۷۱] کلیوال، د سمنګانو د ولایت د خرامو د سرباغ ولسوالی.

په ولايت کې د بې روزگارۍ د لوړې کچې اړوند، گډونوالو د دې وړانديز وکړ، چې حکومت او شخصي سکتور بايد فابريکې جوړې کړي، څو د ځايي وگړو لپاره کارې فرصتونه رامنځ ته شي :

"حکومت په افغانستان کې د بې روزگارۍ د له منځه وړلو تر ټولو لومړنۍ مسووله اداره ده. د دې لپاره چې کاري فرصتونه رامنځ ته کړای شي، حکومت بايد زياتې فابريکې جوړې او شخصي سکتور په دغه ولايت کې د زياتو فابريکو جوړولو ته وهڅوي. کله چې ډيرې فابريکې شتون ولري، زيات کاري فرصتونه هم رامنځ ته کيږي. کله چې خلک کار ولري او په مالي لحاظ وکولای شي د خپلو کورنيو د ملاتړ لپاره د عايد منبع ولري، دوي همدارنگه کولي شي له حکومت څخه هم ملاتړ وکړي. د دري يو شعر دی، چې وايي: "خدا آن ملتی را سروری داد =که تقديرش به دست خويش بنوشت". کله چې موږ خواړه، جامې او کور ولرو، نو کولی شو، چې د سياست او خپل ملت د سوکالۍ په اړه فکر وکړو. موږ کار ته اړتيا لرو".

سر بيره پر دې، حکومت نه بايد د پروژو او پروگرامونو پر ناکامولو باندې پيسې ولگوي، پر ځای يې بايد د قانون د واکمنۍ پر تحقق سرچينې مصرف کړي .

"حکومت دمگړۍ د افغانستان د سولې او پخلاينې پر پروگرام زياتې پيسې لگوي، کوم چې په ټولنو کې معافيت لا پسې زياتوي. د دې پر ځای، حکومت بايد دغه پيسې په هيواد کې له جنايتکارۍ سره د مبارزې لپاره وکاروي. که چيرې افغان ملی پوليس جنايي ډلې ونيسي او هغوی د خپلو جرمونو لپاره محاکمه او مجازات کړي، ځايي خلک به نور له هغوی و نه ويريږي. له هغې وروسته به دغه جنايي ډلې د دې وړتيا و نه لري چې له دولت ضد عناصرو سره يو ځای شي او په سمنگانو ولايت کې بلواگرۍ زياته کړي ".

"زه ډاډه يم، چې په افغانستان کې د ځمکې د غصب په اړه قوانين شته. داسې حکومتي ادارې شته چې په ځانگړې ډول د ځمکې له غصب سره د مبارزې لپاره جوړې شوې. د دغو دولتي ادارو چارواکي بايد دغه شخړې وڅيړي او په گوته کړي، چې د ځمکې څښتن څوک دی. د ځمکو غاصبين بايد د نورو خلکو د ملکيت د غصب په تور محاکمه شي".

## ۵. د خلکو سپارښتنې

د متمرکزو گروپي مباحثو پر مهال، د سمنگانو ولايت څخه افغان نارينه وو، ښځينه وو او ځوانانو په خپل ولايت کې د پايښتونکې سولې او ثبات راوستلو لپاره راتلونکې کليدي سپارښتنې وړاندې کړې:

(۱) د ځایی حکومت د کاری بې پلویتوب یقینی کول: د دولتی چارواکو گمارنه باید د اړوندې زده کړې او مسلکیتوب پر بنسټ وی، د قومی، سیاسی یا نورو اړیکو پر بنسټ له کوم توپیر پرته؛ (۲) د طبیعی سرچینو د کیندلو مناسب مقررات، چې وکولای شی د دې ډاډ رامنځ ته کړی، چې د کارگرانو حقونو ته درناوی وشی؛ د دې یقینی کول، چې طبی کارپوهان په کانونو کې د هغوی د کار کولو د اغیز گواښونه څاری؛ (۳) ځایی وگړو ته د کاری فرصتونو د برابرولو د یوې وسیلې په څیر د فابریکو پر جوړونه پانگوونه، کوم چې به له دولت ضد عناصرو سره د ځایی وگړو د یو ځای کیدو په مخنیوی کې یو بې ساری اغیز ولری؛ (۴) د قانون د واکمنۍ تحقق، هغې ته بشپړ درناوی او تطبیق؛ (۵) د نا قانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول، د دې ډاډ تر لاسه کول چې د دغو ډلو هغه غړی، چې د افغانستان د سولې او پخلاینې له پروگرام سره یو ځای کیږی، له معافیت څخه نه دی برخمن شوی؛ (۶) د اړوند جنایی ډلو سرغړونکی غړی په مناسب ډول محاکمه او مجازات شوی؛ (۷) د دې ډاډ تر لاسه کول، چې جوماتونه او مدرسې د راډیکالو نظریو د خپرولو او له بلواگری سره د خلکو د یوځای کیدو د هڅولو لپاره نه دی کارول شوی؛ (۸) چارواکی باید په مناسب ډول او خپل وخت سره شخړو ته رسیدگی وکړی، پرته له دې چې د ښکیلو خواوو قومی یا سیاسی اړیکی او تړاو په پام کې ونیسی؛ (۹) په ښکاره ډول د مختلفو هغو لانجمنو سیمو د حدودو معلومولو په گډون، چې د شخړو لامل کیږی، د ځمکو او اوبو پر سر د شخړو حلول؛ (۱۰) د عمومی شخړو د مخنیوی په موخه، د هغو قضیو حلول، چې عنعنوی ارزښتونه رانغاړی.

# د بلخ ولایت
# د سولي لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پېژندنه

د سولې د لارې دا ولایتي نقشه د هغو مهمو موندنو او مسلو یو لنډیز وړاندې کوي کوم چې د تمرکز د ډلې په خبرو اترو کې، د انفرادي مرکو او نظریو په سروې کې د سلا مشورو د پروسې پر مهال د نږدې ۲۰۰ عادي افغان وګړو سره کوم چې د بلخ په ولایت کې اوسیږي مطرح شوي. ګډونکو د عامه سکټور د کارکونکو،د ټولنې د مشرانو، بزګرانو، ښوونکو، د مدني ټولنې د غړو، مذهبي علماوو او پخوانیو طالبانو[۱۷۲] په ګډون متغیر ټولنیز او سیاسي شامنظرونه وړاندې کړل. دا سلا مشورې د سولې د پروګرام په اړه د افغانانو د ډیالوګ د دوهم پړاو د یوې برخې په حیث ترسره شوي کوم چې د مدني ټولنې د ۱۱ شبکو پواسطه پیل شوي څو وکولای شي د څه ناڅه ۴۵۰۰ عادي افغانانو سره سلا مشورې تر سره کړي او د ۲۰۱۳ کال تر پایه د سولې لپاره ۳۴ محلي طرحې- د هر ولایت لپاره یوه- را منځ ته کړي.

د سولې لپاره د دغې محلي طرح موخه د مختلفو محلي شخړو او همدارنګه د مناسبو عمل وړ حل لارو پېژندل دي څو وکولای شي په بلخ ولایت کې د پایداري سولې او ټیکاو د برابرولو په برخه کې مرسته وکړي.

## ۲. د ولایت پېژندنه: جغرافیه،احصایه او سیاسي شرایط

د بلخ ولایت د هیواد په شمال کې پروت دی چې نږدې ۱۶۸۴۰کیلو متره مربع مساحت لري، په شرق کې د کندز او سمنګانو د ولایتونو او په غرب کې د جوزجان د ولایت او په جنوب غرب کې د سرپل د ولایت سره پوله لري. د بلخ د ولایت په شمال کې ترکمنستان،ازبکستان او د تاجیکستان هیوادونه موقعیت لري. دا ولایت په ۱۵ اداري ولسوالیو ویشلی چې مرکز یې مزار شریف دی.

د بلخ د احصایې د دفتر او د ملي امنیت د ریاست د اټکل له مخې د بلخ په ولایت کې نږدې ۳۰۵۲۰۰۰ وګړي یا د هیواد د وګړو ټولټال ٪۹ سلنه وګړي اوسیږي. د مزار شریف ولسوالۍ د وګړو د تجمع له لحاظه د بلخ ولایت تر ټولو زیات نفوس لرونکې ولسوالي ده چې نږدې ۱۸۰۰۰۰۰ کسان په کې اوسیږي، د دې په تعقیب د ده دادي ولسوالي چې

---

[۱۷۲] پخواني جنګیالي ددولت پخواني ضد عناصر هغه کسان چې جګړه درولې وي او خپل خلکو سره د بیا پیوستون پروګرام له لارې لکه د افغانستان د سولې او یو ځای کیدنې برنامې لخوا یو ځای شوي وي . د بیا پیوستون د پروګرام له مخې هغه پخواني جنګیالیان چې تاو تریخوالې ته پایله کېږدي د افغانستان اساسي قانون ومنې د قانون سره سم ژوند وکړي او خپل رابطه د مخالفینو سره قطع وساتې دوی به خپلو خلکو سره یوځای شي د تعلیم او کار موندنې دزدکړې او امنیتي حمایت کومکونو څخه هم برخه مند کیدای شي. د ملي امنیت د شورا او د دی آر کمیسیون معلومات وګورئ :
https://info.undp.org/docs/pdc/Documents/AFG/00060777_00060777_APRP_National%20Programme%20Document%202010%2006%2001.pdf

۱۸۰۰۰۰ وګړی، بلخ ولسوالی، ۱۵۰۰۰۰ وګړی ،چمتال او دولت اباد ولسوالی( دواړه ۱۳۰۰۰۰ وګړی) کلدار او مارمول ولسوالی دی(دواړه د ۲۷۰۰۰ څخه کم وګړی لری). د نږدی ۴۶٪ تاجکو،۱۵٪ ترکمنو،۱۰٪ ازبکو، ۱۲٪ هزاره وو. ۷٪ عربو او ۱۰ ٪ پښتنو په درلودلو سره، د بلخ ولایت د نژادی ترکیب له لحاظه متنوع ولایت دی.

د بلخ ولایت یوه ډیره پیچلی سیاسی منظره لری. د بلخ ولایت تر ډیره بریده د نژادی انګیزو پر اساس اداره او ویشل شوی دی. د بلخ په ولایت کې مهم سیاسی ګوندونه د اسلامی جمیعت ګوند، د اسلامی جنبش ګوند، د اسلامی وحدت ګوند، د اسلامی حرکت ګوند او اسلامی ګوند دی. په اوس حال کې د اسلامی جمعیت ګوند د والی عطا محمد نور سره د حکومتی اداری د قوی واک له امله د اسلامی جمیعت ګوند په واک کې دی. یاد ولایت همدارنګه د خوځنده او مخ پر ودی مدنی ټولنې د شتون څخه چې په اوس حال کې د یوه ټولنېز حرکت په حیث راڅرګندیږی ګټه پورته کوی او د سیاسی ټیکاو،د قانون د حاکمیت، بشری حقونو او پراختیا په برخو کې د پام وړ مرسته کوی. په افغانستان کې د مخ پر خرابیدونکی امنیت او سیاسی بی ثباتی سربیره، د بلخ په ولایت کې د امنیت او ټیکاو نسبتا لوړه کچه شتون لری او دا تر زیاتی اندازی د والی د توان او کنټرول له امله د سیالو سیاسی ډلو تر منځ چې دم ګړی په ولایت کې شتون لری د تعادل ساتل دی.

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې نمونې او انګیزې

**د شخړې نمونې:** د بلخ د خلکو سره چې د خلکو د ډیالوګ د دوهم پړاو پر مهال سلا مشورې ترسره شوی، هغوی د یو شمیر داسې زیاتو شخړو او محلی شخړو سناریوګانی تشخیص کړی کوم چې د هغوی په سیمو کې سوله او ټیکاو ، د طالبانو تر رهبری لاندې د یاغیتوب، د شمالی ټلوالی په منځ کې د نظر د بیلوالی د سیاسی سیالی- د ۱۹۹۰ لسیزی پرمهال د طالبانو په وړاندې د جګړو، خپلمنځی نژادی شخړو او د ټولنو تر منځ خپلمنځی شخړو په شمول اغیزمن کوی.

خلکو په عمومی توګه د بلخ په ولایت کې د سولې او ټیکاو په وړاندې د طالبانو تر رهبری لاندې یاغیتوب ستر ګواښ په ګوته کړی او په دې ورستیو کلونو کې یې زیاترو ولسوالیو ته نفوذ کړی. که څه هم چې د یاغیانو شمیر محدود او د انګیزو په حواله یو شان ته نه دی، خو د یاغیانو ډلو زیاتی شبکی جوړی کړی او د بلخ د ولایت د ۱۵ ولسوالیو څخه یې په دریو کې خپل دایمی شتون ساتلی. خلکو راپور ورکړی چې د چاربولک، چمتال او شولګری ولسوالی د طالبانو سنګرونه دی او هغوی له دغو سیمو څخه په نورو ولسوالیو کې د حکومت پلوه ځواکونو په وړاندې وخت نا وخته بریدونه ترسره کوی.

د هيواد د نورو سيمو برعکس، د بلخ په ولايت کې افغان ملی امنيتی ځواکونو ته د امنيتی مسوليتونو د ليږد په درشل کې د ياغيتوب د حرکت اندازه کمه شويده. د چاربولک د ولسوالی د پراختيايی شورا يوه غړی وويل:

" اوس زموږ په ولسوالۍ کې امنيت به نسبي توګه ښه شوي دی او خلک کولای شي په ازاده توګه له يوه ځايه بل ځای ته ولاړ شي او خپل کارونه سر ته ورسوي. طالبان نه شي کولای د تلاشی پوستی جوړی کړی، عادي افغانان ووژنی، توقيف او و يې ځوروي او زموږ ماشومان کولای شي ښوونځيو ته ولاړ شي."

د نورو نا امنو ولسواليو خلکو هم ورته احساسات منعکس کړی. خلکو په امنيتی وضعيت کې دغه ډول ښه والی موخيزو هوايی بريونو ته چې د نړيوالو ځواکونو،د افغان ملی امنيتی ځواکونو،د پوځی عملياتو او د افغان سيمه ييزو پوليسو د زيات شتون او نورو حکومت پلوه مليشايی ځواکونو لخوا ترسره کيږی، منسوب کړی. له چمتال ولسوالی څخه يو تن چې د ټولنې سره بيا يو ځای شوی دی وايی:

" طالبان په يوه خاص کور او کلی کې نه پاته کيږي ځکه چې هغوي د هوايي بريدونو او د شپنيو عملياتو څخه ويريږی. هغوي همدارنګه د ورځی لخوا په مکرر ډول نه شي کولای د کليو په دننه کې حرکت وکړي ځکه چې شاوخوا ډير سيمه ييز پوليس دی."

د سولې وړاندېزونه، که څه هم چې شفاف او ځواب ويونکی نه دی، د افغانستان د سولې او بيا يوځای کيدنی د پروګرام لخوا په حکومت او سيمه ييزو پوليسو کې په موقفونو کې د بيا مقررولو وړانديز شوی، همدارنګه اقتصادی فرصتونو هم د ياغيانو د ډلو قومندانان او د نظام پياده سرتيری تير ايستلی څو د حکومت د پخلاينی د پروګرام سره يو شی او په دې توګه د ياغيتوب ظرفيت کمزوری کړی څو و نه شی کړای هغه کسان استخدام کړی چې د کومی ايديلوژی پربنسټ نه وی تحريک شوی.

د خلکو په ګمان، د ياغيتوب د اړوند شخړې سره نږدی تړلی مسله د منفی سياسی سياليو شتون و چې د شمالی ټلوالی د ډلو تر منځ د قدرت او سرچينو پر سر د موجود و کوم چې د تيرو دښمنيو او سياليو څخه سرچينه اخلی- او بيا په ۱۹۹۰ لسيزه کې د طالبانو په وړاندې جګړې کومو چې په سيمه کې په جدی توګه سوله او ټيکاو زيانمن کړ چې په نتيجه کې يې عادی افغانان ووژل او ټپيان شول. د بلخ د PCC يو تن غړی وايی:

"زما په اند په دې ولايت کې تر ټولو ستره ستونزه د سياسي ډلو تر منځ چا چې په ۱۹۹۰ لسيزه کې د يو بل او طالبانو په وړاندې جګړې کړې د فرقه ای جګړو او منفي سياسي سياليو شتون دی. د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو تر منځ، موږ

د پښتنو ټولنو په وړاندې او همدارنګه د جنبش او جمیعت د ملیشاګانو تر منځ د فرقه ای جګړو د پراخ پوځی کمپاین شاهدان یوو. دواړو پیښو د ټولنو ویجاړیدو او د بی ګناه خلکو وژنو او ټپی کیدو ته لار هواره کړه."

د دې حقیقت په درک کولو سره چې د بیلابیلو ډلو د ملاتړو تر منځ د وسله والی فرقه ای شخړې میلان د لوړی کچی وسله والی جګړې څخه ځایی شخړو ته را ټیټ شوی دی، خو بیا هم دا د ټولنې په کچه یو جدی جلا کونکی ځواک دی او دی په خپل وار د طالبانو د یاغیتوب سره مرسته کړې. د چهار کینت د ولسوالی د پراختیایی شورا یوه تن غړی وویل:

"زموږ په ولسوالي کې د شخړې مهم لامل پخوانی فرقه ای دښمنی او جګړې دی. دغو مسلو خلک ویشلی دی.ځینی د حکومت پلوه ځواکونو سره یو شول او ځینی نور یې بیا د طالبانو سره مله شول. د دې نښتو په پایله کې یو زیات شمیر کسان مړه او ټپیان شول."

د خلکو په ګمان د فرقه یی شخړې بل اړخ د هغو لږکیو نژادی ډلو تر منځ کوم چې د بلخ په ولایت کې ژوند کوی د تشی زیاتوالی دی. دا باید په یاد وساتو چې زیاتره سیاسی ډلی د ځانګړو نژادی ډلو څخه خپلې انتخاباتی حوزی تشکیلوی او د انفرادی توقعاتو په درلودلو سره د نژادی اجنداګانو پر بنسټ عمل کوی. په هر حال، داسې نه ښکاری چې فرقه ای شخړه دی په ټولنېزه کچه د نژادی توپیر د جدی حالتونو لامل شوی وی. د بلخ پوهنتون یوی ښځینه زده کونکی په مشخصه توګه وویل:

"نژادی شخړه یواځی په سیاسي ډګر کې موجوده ده. سیاسیون خلک د تفرقه واچوه او حکومت وکړه د روش له لاری تنظیموي هغوي د نورو نژادی لږکیو ډلو عادي وګړي ګواښی. خو په ټولنېزه کچه خبره بله ده، خلک د یو بل سره په سوله او همغاړیتوب کې ژوند کوي او دا د دې حقیقت څرکندونه کوي چې د بیلابیلو شامنظرونو خلک په یوه ټولنه کې د یو بل سره ژوند کوي او د بیلابیلو قومونو تر منځ په خپل منځ کې ودونه کوي."

خلک دا خبره هم تاییدوی چې د ټولنې په دننه او د ټولنو تر منځ اجتماعی شخړې د هغوی په سیمو کې د یاغیتوب او نا امنی یوه بله مهمه سرچینه ده. که څه هم چې ځایی ټولنېزی منازغی اکثرا د هغو مسلو په تړاو چې د ځمکې، اوبو او پراختیایی مرستو او همدارنګه د کورنۍو او شخصی دښمنیو په شمول چې د سرچینو په کنترول پوری تړلی وی را منځ ته کیږی خو دا د وسله وال خشونت لپاره لار هواره وی او په زیاتره مواردو کې د خلکو د وژنو او ټپی کیدو باعث کیږی. د نورو لاملونو تر څنګ، د عامه څړځای او خصوصی ځمکو پر سر شخړې د بلخ په ولایت کې عامه ده. د چهار کینت د ولسوالی څخه یوه تن نارینه ګډونوال وویل:

"د ځمکو پر سر شخړې زموږ په ټولنو کې د خشونت یوه مهمه سرچینه ده. په دې ولایت کې په زور او نا قانونه توګه په زرهاوو ایکړ شخصي او عامه ځمکې ضبط شوي دی. موږ د سمنګانو د ولایت د فیروزنخجیر د ولسوالي د خلکو سره د ځمکې پر سر یوه لویه شخړه لرو، او د دې پیښی په نتیجه کې زموږ د قوم یو تن وژل شوي او زیات شمیر ټپیان شوي دی. دا ستونزه د سمنګان ولایت سره په پوله نورو ولسوالیو ته هم غځیږی."

د بلخ په ولایت کې د کرنیزو او څښاک د اوبو پر سر منازعه د ټولنېزو شخړې عادی بڼه ده او په یو شمیر زیاتو مواردو کې، د وسله والی شخړې د یوه محرک ځواک په حیث عمل کوی. هغه خلک چې د سیند کښته خوا ته ژوند کوی شکایت کوی چې هغوی هغه اندازه اوبه د کومو چې دوی مستحق دی نه تر لاسه کوی، د دې په نتیجه کې هغوی نه یواځی خپل حاصلات له لاسه ورکوی بلکه د څښاک اوبه هم په بیه اخلی. د دولت اباد د ولسوالی څخه یوه تن وویل:

"موږ سږ کال خپل ټول حاصلات له لاسه ورکړل ځکه چې د سیند د پورته غاړی خلکو زموږ ټولی اوبه ګرزولی او اوس هم د څښاک اوبه په بیه اخلو." یا حکومت د دې کار د ترسره کولو اراده او توان نه لري یا سیمه نا امنه ده او یا هغوي د افغان سیمه ییزو پولیسو ملاتړ د ځان سره لري. موږ په دې هکله هیڅ نه شو کولای ځکله چې موږ په وسلو سمبال نه یوو."

خلکو همدارنګه شکایت کړی چې کورنۍ او شخصی شخړې، په خاص ډول هغه شخړې چې د اجباری ودونو څخه راولاړیږی اکثرا ټولنېزو شخړو ته لار هواروی. که چیرې دی شخړو ته د ځایی چارواکو او د ټولنې د مشرانو لخوا په سمه توګه ځواب و نه ویل شی نو بیا په خونړیو جګړو اوړی او په نتیجه کې یې جدی ټپی کیدنی را منځ ته کیږی او کله نا کله د هغو کسانو ژوند هم اخلی ځوک چې په شخړو کې ښکیل وی. د خلم د ولسوالی څخه یوه تن ځوان زده کونکی وویل:

"اجباري ودونه،د کورنیو شخړو د حل په موخه په بد کې د نجونو ورکول یا د هغوي د خوښی پرته په زور د ځوانو نجونو ودول ډیری له خطره ډکی پایلې لري. زما په ولسوالي کې، داسې کړنی په یو شمیر زیاتو ټولنېزو شخړو اوښتی او وسله والو شخړو ته یې زمینه برابره کړی چې په نتیجه کې یې دواړو خواوو ته خلک وژل شوي او ټپیان شوي."

**د شخړې محرکات:** د سلا مشورو د پروسې په جریان کې، د شخړې د اصلی لاملونو په اړه د خبرو اترو په ترڅ کې خلکو د شخړې د تحرکانو دوه مهمی کټګوری ګانی په ګوته کړی، د بیلګی په توګه:(۱) د پراخ اداری فساد او د واک څخه د ناوړه ګټې اخیستنی په شمول

د شخړې جوړښتيز لاملونه، د نه بدليدونکی معافيت او د پايداره ټولنيز او اقتصادی پرمختګ نه شتون. خلک باور لری چې پورته ياد شوی فاکتورونه د شخړې د دوام او همدارنګه د خلکو د ناخوښی، د قانون د حاکميت او د بشری حقونو د ساتنی د کمزوری اصلی لاملونه دی، او (۲) د شخړو مستقيم لاملونه کوم چې پروسو، پيښو او پرګرامونو ته راجع کيږی او د کمی مودی لپاره واقع کيږی او د شخړې په ډاينميکونو باندې اوږد مهاله اغيزی پريږدی، د بيلګې په توګه د افغانستان د سولی او پخلاينی پروسه ، افغان سيمه ييز پوليس او راتلونکی ولسمشريزی او ولايتی شوراګانو ټاکنی.

د شخړې په اړه د جوړښتيزو لاملونو په هکله د بحث کولو په هکله، خلکو راپور ورکړی چې په وګړو او سيمه باندې د مشروع کنترول د غځولو، د خلکو د ژوند د ساتلو او د قانون د حاکميت د تامينولو په برخه د ځايی حکومت ناکامی او پاته راتلل د بلخ په ولايت کې د نا امنی او بی ثباتی اصلی لامل دی. د حکومت نا سم عمل د حکومتی ادارو په دننه کې د مشروعيت جدی تشی را منځ ته کړی چې دا په اصل کې د پراخ اداری فساد او د واک څخه د ناوړه کارونی په نتيجه کې را منځ ته کيږی. خلک باور لری چې فساد او د واک څخه ناوړه ګټه اخيستنه په ټوليز ډول په حکومت او ټولنه کې يوه لويه ستونزه ده چې بيلابيل شکلونه لری او د پورته څخه کښته ترسره کيږی. د نهر شاهی ولسوالی څخه د ټولنې يوه تن مشر څرګنده کړه:

″فساد د سرطان د ناروغی په شان ده او د يوې قاعدی په حيث منل شويدی. ره ټينګ باور لرم او ډاډه يم چې دلته هر يو زما سره موافق دی چې دغه بدمرغه پديده زموږ په ټولنه کې د شخړې اصلي لامل دی.″

خلکو راپور ورکړی چې په حکومتی ادارو کې واسطه،بډی او اختلاس يو عادی کار ګرځيدلی. حکومتی ادارو ته چې د فساد په وړاندې د مبارزی دنده سپارل شوی يا خو نه دی توانيدلی او يا اراده نه لری چې د اداری فساد په وړاندې کوټلی ګامونه واخلی. خلکو راپور ورکړی چې د ټولنې په کچه اداری فساد د حکومتی د جوړښت د باندې د ټولنې په کچه هم موجود دی. د بلخ د پوهنتون يوی ښځينه زده کونکی وويل:

″اداري فساد زموږ په ټولنه کې يو عام کار دی. دحکومت په دننه کې واسطه او حمايتی سياست يو عادي کار دی. د حکومت په دننه کې ټول کليدی موقفونه د هغو کسانو لخوا ځوک چې په يوه خاصه سياسي ډله پوری تړاو لري، نيول شوي دی. که غواړی ستا غړ واوريدل شي نو بيا بايد په حکومتي دفترونو کې بډې ورکړي. هغه حکومتي ادارې چې بايد د اداري فساد په وړاندې مبارزه وکړي يا خو نه دي توانيدلې او يا په خپله په فساد کې ښکيلې دي. خلک د دې حالت سره بايد تر څو ژوند وکړي.″

خلکو همدارنګه ادعا کړې چې د هر ډول جرم لپاره معافیت- هغه جرمونو چې پخوا او یا اوس ترسره شوی- په یوه نورم بدل شوی او د خلکو او حکومت تر منځ یې لوی واټن را منځ ته کړی او په ځینو مواردو کې شخصی دښمنیو او غچ اخیستلو ته زمینه برابروی. خلک په دې باور دی چې پولیس، قضا او د عدلی تعقیب ارګانونه د نورو په پرتله د معافیت د ترویج په برخه کې زیات مسول دی او مرتکیبین د خپلو اعمالو په جزا نه رسوی. د چهاربولک د ولسوالی د ټولنې یوه تن مشر وویل:

"که چیرې تاسو د پولیسو، قضايي قوه او د عدلي تعقیب د ریاستونو سره یوه جنایی دوسیه ولري، او تاسو بډی ورکړی او یا د زورورو خلکو سره اړیکی ولرئ، هغوي به تاسو پریږدی چې ولاړ شي. له دی وروسته قربانی شخص په دې اړه څه کولو ته اړ کیږي او که قربانی شخص ځواک ولري نو وسلی ته لاس اچوي. زیاتره خلک څوک چې د طالبانو پلوي کوي په دې موخه چې خپل شخصي غچ واخلي د طالبانو سره پاتی کیږي او یا هغه مجرمین چې هڅه کوي د سولې د پروسې سره د یو ځای کیدو په خاطر حکومت اړ باسی څو د هغوي لپاره عفو اعلان کړی."

خلکو راپور ورکړی چې د بلخ په ولایت کې د ټولنیز او اقتصادی پرمختګ نه شتون د شخړو اصلی سرچینه ده. ګډونوالو په ټولیز ډول څرګنده کړی چې د سواد ټیټی کچی او د کاری فرصتونو نه شتون په حکومت باندې د هغوی اعتماد زیامن کړی او دی د ټولنې په دننه او د ټولنو تر منځ شخړو ته لار هواره کړی. د بلخ اوسیدونکی باور لری چې د هغوی په ولایت کې د ښوونې او روزنې د یوه غښتلی سیستم نه شتون لویه ستونزه ده. هغوی دلیل وړاندې کړی چې نا لوستی خلک په ډیره اسانی د یاغیانو د ډلو لخوا جذب کیږی او د ښوونې او روزنې د یوه موثره سیسټم په نه شتون کې، خلک غواړی خپل ماشومان پاکستان ته د مذهبی زده کړو د حاصلولو په موخه مدرسو ته ولیږی چیرې چې هغوی ته د راډیکال اسلام زده کړی ورکول کیږی. د بلخ د پوهنتون یوی ښځینه څیړونکی وویل:

" د بلخ په ولایت کې د هغو وګړو په منځ کې چې په ولسوالیو کې اوسیږی د سواد نه شتون یوه جدي ستونزه ده. یو شمیر زیات ځوانان ښوونځیو ته نه ځی او هغه کسان چې ښوونځیو ته ځی ښې زده کړی نه ترلاسه کوي. خلک لا هم خپل ماشومان پاکستان ته د مذهبي زده کړو د حاصلولو په خاطر لیږی."

د نیستی بد شرایط او د کاری فرصتونو نه شتون د بلخ په ولایت کې د شخړو اصلی لامل بلل شوی. خلکو تاکید کړی هغه تجرید شوی ټولنې چې زیات وزګار وګړی لری یاغیتوب ته زیات متمایل وی. د عایشه افغان عالی لیسی یوی ښځینه ښوونکی وویل:

"نیستمنی ټولنې او وزګاره ځوانان په ډېره اسانی د طالبانو لخوا غولول کیږي. زیاتره کسان چې د طالبانو تر څنګ جنګیږی غواړی په اجتماعی سرچینو کې د پام وړ برخه ولري او یا د دې په خاطر چې یو څه پیسې تر لاسه کړي څو ځانونه او خپلې کورنۍ تغذیه کړي."

د بلخ په ولایت کې د شخړې د فوری لاملونو په هکله، خلک ادعا کوی چې د افغانستان د سولی او پخلاینی پروسه د دې پر ځای چې د شخړې د هواری لپاره کومه حل لار ومومی شخړه له بده لا بدتره کوی. خلک په دې باور دی چې د افغانستان د سولی او پخلاینی پروسه د هغو کسانو لخوا اداره کیږی څوک چې د شخړو په دوام کې د خپلې شخصی ګټو تامین وینی. یوه پخوانی جهادی قومندان وویل:

"زه د سولې په اوسنی پروسه باور نه لرم دا ځکه چې دا پروسه د هغو کسانو لخوا رهبری کیږي څوک چې پخوا د شخړې یوه برخه وه، نو که چیرې سوله تامین شي هغوي به زیات څه له لاسه ورکړی."

خلکو د دې حقیقت په اړه اندیښنه څرګنده کړی چې د افغانستان د سولی او پخلاینی پروسه د خپل اختیاراتو او ماموریت خلاف،په داسې یوی پروژی بدله شوی چې د حکومت لخوا رهبری کیږی ، په خاص ډول، دوی ځکه اندښنه لری چې امنیتی موسسات په دې پروسه کې زیات ښکیل دی او پروسه یې تر کنترول لاندې نیولی چې دا په خپله د سولې پروسه د یاغیتوب ضد د یوی وسیلې په حیث له اهمیته غورځوی او همدارنګه د هغوی ولایت ته د سولې په راوستلو کې د عادی خلکو د پام وړ ګډون تر پوښتنی لاندې راولی. د نهر شاهی ولسوالی د ټولنې یوه مشر وویل:

"د سولې پروسه ځکه اغیزمنه نه وه چې رهبری یې د خلکو لخوا نه کیده. موږ نه پوهیږو چې هلته څه جریان لري او هغه خلک چې د سولې د پروسې سره یو ځای شوي څوک دی. د یاغیانو د قومندانانو سره د سولې معامله همیشه د امنیت د ملی ریاست او پولیسو لخوا ترسره کیږي."

خلکو په اقتصادی فرصتونو،په عمومی عفو او د واک په موقفونو کې په بیا ګمارلو، د بیلګې په توګه د افغان سیمه یزو پولیسو په چوکاټ کې د راستنیدونکو کسانو په ګمارلو تاکید کړی او د افغانستان د سولی او پخلاینی پروسه د لاسرسی او پراختیایی پروژو د یاغیتوب تر رهبری لاندې شخړې ته دوام ورکړی، په دې سره یو شمیر زیات کسان چې بیلابیلی انګیزې لری هڅول کیږی څو د حکومت په وړاندې وسله واخلی. د مدنی ټولنې یوی ښځینه فعالی وویل:

"په دې ولایت کې د سولې پروسه د شخړې یو مهم لامل دی. کله چې هغوي د حکومت سره سوله وکړي یو شمیر زیات کسان د طالبانو سره د پیسو د ترلاسه کولو په موخه یو ځای کیږي، او جنایتکاران د سولې د پروسې سره د یو ځای کیدو وروسته د پروسې څخه د ګټې په اخیستو عفو ترلاسه کوي. جنګسالاران هم د سولې پروسه د دې لپاره کاروي څو په ټولنو خپل کنټرول ټینګ کړی."

خلکو څرګنده کړی چې د هغوی د امنیت څخه د ډاډ حاصلولو او د کاری فرصتونو د برابرولو په شمول او په مناسبه توګه د راستنیدونکو کسانو د وضعیت د معامله کولو په برخه کې د افغانستان د سولی او پخلاینی بروسی پاته راتللو یو شمیر پخوانی جنګیالی اړ ایستی څو د یاغیتوب سره بیا یو ځای شی او په دې سره یو شمیر زیات علاقه مند او سوله خوښونکی یاغیان بی پریکړی پاتی شوی او په دې سره د بلخ په ولایت کې د یاغیتوب شبکه پیاوړی پاتی شوی. د چمتال په ولسوالی کې د طالبانو یوه بخوانی سرتیری څوک چې کور ته د بیرته تګ په لاره ووژل شو- که څه هم د خلکو په ډیالوګ کې د ګډون په خاطر نه- دی واقعی دا څرګنده کړه:

"زه د سولې له پروسې سره د یو ځای کیدلو له امله پښیمان یم. د حکومت سره د همکاری د پیل راهیسې، زه په خپل ژوند کې کوم بدلون نه وینم. هغوي زما سره ژمنه وکړه چې هغوي به ما ته کار راکوي او یا به می د افغان سیمه ییرو پولیسو په چوکاټ کې په کار وګماری خو د هغوي هیڅ وعدی رښتینی نه وي او زه اوس نه شم کولای خپل کلی ته بیرته ولاړ شم څکه ویره لرم چې طالبان به زما څخه غچ واخلي. حکومت زه وغولولم او زه یې خوشی کړم."

په شخړه کې د افغان سیمه ییزو پولیسو د نقش په اړه خلکو کلک انتقاد کړی. هغوی د یو شمیر زیاتو پیښو یادونه کړی په کومو کې چې د افغان سیمه ییزو پولیسو قوماندانانو او سرتیرو د وژنو،اجباری نیونو،شکونو او ناقانونه مالیاتو په شمول د خلکو د بشری حقونو په سرغړونو تورن دی. خلکو همدارنګه تاکید کړی چې د هغوی د نقش او اختیاراتو بر خلاف، افغان سیمه ییزو پولیسو اکثرا د ټولنو په دننه او د ټولنو تر منځ په شخړو کې ښکیل وی او په دې توګه مخالفه ډله د خپلو ګټو د ساتلو په خاطر د طالبانو سره یو ځای کیږی. د شولګری د ولسوالی یوه تن زده کونکی وویل:

"افغان سیمه ییز پولیس په خپله په شولګره ولسوالۍ کې یوه ستونزه ده. زه کولای شم د یو شمیر زیاتو حالتونو بیلګې وړاندې کړم په کومو کې چې د افغان سیمه ییزو پولیسو چلند خلک دی ته اړ ایستی څو د طالبانو څخه مرسته وغواړی."

## ۴. د سولې لپاره طرح

په بلخ ولایت کې د متمرکزو ګروپي خبرو اترو په ټول جریان کې، خلکو په عمومي توګه زمینې ته مختص شوې د سولې جوړونې یو شمېر ځایي ترسره شوې عملي نوښتونه پېژندلې چې موخه یې د شخړې د اصلي لاملونو ځواب ویل دي خو دا نوښتونه د ځایي حکومتي ادارو تر پیاوړې کولو او د اصلاحاتو تر را وستلو،د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا د پرګرامونو تر زیاتولو، د خلکو پواسطه د ځایي شخړې او منازعاتو د حل د ترسره شویو میکانیزمونو او د سولې او پخلاینې په پروسه کې د عادي خلکو د پام وړ ګډون تر ترویج او همدارنګه د سولې تر تخریب کونکو پورې محدود نه دي. د اوږد مهاله سولې لپاره د خلکو ریښتینې او عملي وړاندېزونه په عمومي ډول د لاندې څلورو مرتبطو موضوعاتو لاندې راځي:

**د حکومت داري، امنیت او ټیکاو پیاوړتیا:** خلکو په عمومي توګه باور درلود چې په بلخ ولایت کې د پایداري سولې او ټیکاو د را منځ ته کولو حل لار د ځایي حکومتي ادارو د کنترول او مشروعیت څخه د ډاډ حاصلولو په مسله پورې تړاو لري. خلکو په عمومي توګه د کنټرول نه شتون او د مشروعیت بحران په حکومتي ادارو کې بې کفایتي ته منسوب کړې څو حکومتي اداري په موثره توګه خپل ځواک وکاروي او دا په خپل ذات کې د وګړو د کنترول او په سوله ییزه توګه د ځایي شخړو د ځوابویلو په برخه کې مهم فاکتور دی. خلکو تاکید کړی چې د حکومتي ادارو په دننه کې د مشروعیت بحران هم په اصل کې د خپریدونکې اداري فساد، د واک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې او د واک د ځایي دلالانو او په حکومت کې د جنګسالارانو د شتون څخه را پیدا کیږي. د نهر شاهي د ولسوالۍ څخه د ټولنې یوه مشر خبرې اترې په لاندې ډول خلاصه کړې:

> "زموږ په سیمو کې د شخړې د دوام لامل د حکومت نه شتون دی څو دا معلومه کړي چې په کلیو کې څه روان دي...د بیلګې په توګه، حکومت په ستونزو خبر دی یا خو چارواکي نه غواړي کوم اقدام ترسره کړي او یا خو د دې ستونزو د هواري لپاره کوټلي ګامونه نه اخلي... ولې زموږ په سیمو کې طالبان موجود دي؟ ځکه چې حکومت نه شي کولای هغوي ونیسي او یا په سیمه کې د حکومت شتون نه لري څو هغوي ونیسي."همدارنکه د عالي لیسې یوې ښځینه ښوونکې وویل:"په دې ولایت کې حکومت خلکو ته نه بلکه جنګسالارانو ته مسول دی. "

د موثره کنټرول او مشروعیت د نه شتون ستونزې ته د ځواب ویلو په خاطر، د ساختار او مسلکي بشري سرچینو له لحاظه،خلکو د فعالو حکومتي ادارو د را منځ ته کولو او غځولو وړاندیز کړی او دا باید د ملي او نړیوالو فعالینو لپاره چې د بلخ په ولایت کې د حکومت

جوړولو په پرګرامونو کې ښکیل دی یو ګډ هدف وی. د شولګری د ولسوالی د ځوانانو د شورا د یوه تن نارینه غړی نظریی چې د دې مسلی په هکله یې د خلکو د نظریو موافقه منعکسه کړی:

"زه د یوه غښتلی،په مناسبو سرچینو او پرسونل سمبال او مجهز حکومت په را منځ ته کولو باور لرم، په بلخ ولایت کې د دوامداری سولې د تامین څخه د ډاډ حاصلولو په موخه دا باید د مرکزی حکومت او نړیوالی ټولنې تر ټولو مهمه دنده وي."

پداسی حال کې چې د ملکی ځایی حکومت په خپلواکی، په خاص ډول د ولسوالی په کچه، ټینګار کوو،خلکو د افغان ملی پوځ، افغان ملی پولیسو او افغان ملی سیمه ییزو پولیسو په شمول د ملی امنیتی ځواکونو د ظرفیت لوړولو په اړه عمومی توافق درلود چې د سولې او ټیکاو لپاره اړین دی. خلکو د افغان ملی پوځ په ځواکونو د اعتماد لرلو په اړه خبر وکړی خو په یو شمیر مواردو کې یې د افغان ملی پولیسو او افغان سیمه ییزو پولیسو د فاسد او ناوړه چلند په اړه شکایتونه کړی. سره له دی، خلکو باور درلود چې د تمویل کونکو لخوا یو شمیر تمویل شوی پروګرامونه او د خلکو تر رهبری لاندې د ټولنو د سولې جوړونی نوښتونه، د بیلګی په توګه، د GIZ د ټولنو پر بنسټ د پولیسو پروګرام او د کلیو په کچه د سولې او پراختیا شورا د خلکو او افغان ملی پولیسو د ځواکونو تر منځ د تشی او اعتماد د ځوابولو په برخه کې ګټه ور وه. خلکو راپور ورکړی چې دغو نوښتونو د چارواکو سره د افغان ملی پولیسو د ستونزو د مطرح کولو په برخه کې د یوه عامه فورم په حیث او هم د داسې پوتانسیل په درلودلو سره چې وکولای شی د افغان ملی پولیسو د ګمارنې لپاره د ټولنې د بررسی د یوه میکانیزم په حیث وکارول شی، کار کړی.

"موږ د چهارکینت په ولسوالي کې د ټولنې یوه شورا درلوده چیرې چې په منظمه توګه به مو د ولسوال، د پولیسو د مشر او د مدني ټولنې د استازو سره لیدنی ترسره کولی څو په ستونزو خبری وکړو. دا د خلکو او چارواکو د ښکیلتیا په موخه یوه ډیره ګټه وره وسیله وه...د دې فورم له لاری موږ کولای شوای په خپله ولسوالي کې ډیری ستزی حل کړو."

د مشورو د پروسې پر مهال، خلکو تاکید کړی چې د ناقانونه وسله والو ډلو او نورو حکومت پلوه وسله والو ملیشاوو بی وسلی کول د قدرت د ځایی دلالانو او جنګسالارانو د نفوذ د منخنیوی لپاره ډیر مهم دی او په دې سره به د ولسوالی په کچه سوله او ټیکاو پیاوړی شی. نو د دې لپاره خلکو د بلخ په ولایت کې په کلکه د ناقانونه وسله والو ډلو د بی وسلی کولو د دوامِ غوښتنه کړی. د ده دادی د ولسوالی د پراختیایی شورا یوی ښځینه غړی وویل:

"د ناقانونه وسله والو ډلو د بې وسلې کولو پروسه باید تمدید او پلې شي ځکه چې دا پروسه په بلخ ولایت کې د یوې خپلواکې اداري او ملي امنیتي ځواکونو لپاره ډیره مهمه ده."

د مشروعیت د بحران په هکله په خبرو اترو کې خلکو په عمومي توګه باور درلود چې د یوه حساب ورکونکې، شفاف او اغیزمن ځایي حکومت درلودل د بلخ په ولایت کې د پایدارې سولې د تامین لپاره ضروري دی. خلکو په عمومي توګه د فاسدو حکومتي چارواکو د لیرې کولو لپاره د ندبیرونو او د ځایي حکومتي کارکونکو د وړ والي پر بنسټ د مقرریو په شمول د ځایي حکومت د اصلاحاتو د پروګرامونو د کامیابه پلي کولو پر سر ټینګار کړی. د بلخ د پوهنتون یوې ښځینه زده کونکې د خلکو نظریې په لاندې ډول خلاصه کړې:

"د حکومت لپاره بدې او واسطې د سرطان د ناروغۍ په شان خطر لري... فساد مشروعیت اغیزمن کوي او په حکومت باندې د خلکو اعتماد له منځه وړي...د حکومت لخوا پراخ اصلاحات په دې ولایت کې د سولې او ټیکاو د تامین په موخه یو وړاندې شرط دی."

خلکو ټینګار کړی چې د اړوندو حکومتي ادارو د ظرفیت لوړول، د بیلګې په توګه، د نظارت د عالي دفتر، د څارنوالۍ د ریاست او قضایه قوه او په حکومتي ادارو کې د خلکو د نظارت څخه ډاډ د اداري فساد د له منځه وړلو او د واک څخه د ناوړه ګټه اخیستنې په برخه کې اړین دي. د مزار شریف د ښار د ټولنې یوه مشر وویل:

"په دې ولایت کې د اداري فساد څخه د له منځه وړلو یواځنۍ لار د فساد په وړاندې د مبارزې د غښتلو او سپیڅلو ارګانونو شتون دی... خلک باید په خپلو سیمو کې د دولتي او نا دولتي سازمانونو په کړنو د نظارت توان هم ولري."

**د بشري حقونو او د قانون د حاکمیت ترویج او د معافیت له منځ وړل:** د سلا مشورو د پروسې په جریان کې، خلکو په عمومي توګه باور درلود، که چیرې غواړو چې د بلخ په ولایت کې پایداره سوله او ټیکاو را منځ ته شي د بشري حقونو د ودې او ساتنې، د قانون د حاکمیت د کچې لوړول او د معافیت له منخه وړل باید د جکومت،مدني ټولنې او نړیوالې ټولنې ګډ هدف وي. د خلم د ولسوالۍ د ځوانانو د شورا د یوه تن نارینه غړي نظریو د خلکو عمومي افکار په لاندې ډول خلاصه کړي دي:

"که چیرې هغوي د خپلو ټولو بشري حقونو څخه برخمن وي نو خلک به ولې د خپل حکومت په وړاندې وسلې ته لاس کوي...د قانون حاکمیت او د

معافیت مخنیوي کولای شي دا ملت د ۱۹۹۰ لسیزی د تیارو ورځو څخه وژغوری.″

خلکو د بشری حقونو د مفکوری او تصور په وړاندې د مخ پر زیاتیدونکی دښمنی په اړه ژوری اندیښنی مطرح کړی ځکه چې دی مفکوری ته د لویدځ څخه یوی وارد شوی مفکوری په حیث کتل کیږی او په ځینو مواردو کې د اسلام او افغانی شرایطو سره په ټکر کې راځی. خلک ټینګار کوی چې دا ډول منفی احساسات د بشری حقونو څخه د کم درک په وجه را منځ ته کیږی. ځکه نو، ګډونوالو په عمومی توګه د بشری حقونو د پوهاوی د پروګرامونو په کیفیت او د هغوی د شمیر د زیاتوالی غوښتنه کړی څو د افغان زمینی سره په موافقت کې د بشری حقونو او د ښځو د حقونو مفکوره معرفی کړی. د ده دادی د ولسوالی څخه یوی ښځینه ګډونوالی وویل:

″ځینی خلک د بشري حقونو سره د دې لپاره مخالفت کوي ځکه چې هغوي داسې انګیری چې دا د دوي د ارزښتونو سره په ټکر کې دی... ستونزه په بشري حقونو کې نه بلکه په دې کې ده چې بشري حقونه څنګه معرفی شوي...بشري حقونه د ښوونې او روزنې،خوړو،کار، خوځښت د ازادی او داسې نورو شیانو په اړه دی... د ښځو د حقونو په اړه د قران پاک مقررات هغه څه دی چې بشري حقونه یې د ښځو د حقونو په اړه وایی.″

خلکو په عمومی توګه د بلخ په ولایت کې د پایښت لرونکی سولې د ترلاسه کولو د یوی وسیلی په حیث د قانون د حاکمیت د تامین او د معافیت د ختمولو غوښتنه کړی. خلکو په لوی اکثریت سره وړاندیز وکړ چې د قانون د انفاذ او قضایه قوه د ادارو د اصلاحات د هغو هڅو په مرکز کې واقع شی چې موخه یې د شفافو،حساب ورکونکو او اغیزمنو دولتی ادارو را منځ ته کول دی، په خاص ډول، د حقوقی اصلاحاتو په حواله او د بلخ د ولایت په لیری پرتو سیمو کې د قضایه قوه د نهادونو او حقوقی اصلاحاتو په حواله، دتیرو ۱۰ کلنو په ترڅ کې د عدلی چارو په سکټور کې د مثبتو لاسته راوړنو په تصدیقولو سره، خلکو یو شمیر داسې ساحی چیرې چې زیاتی پاملرنی ته اړتیا لیدل کیږی په ګوته کړی، خو دا په بلخ ولایت کې د قضایه قوی د کلیدی کارکونکو د بررسی او عامه نظارت پوری محدود نه دی. د چمتال د ولسوالی یوه نارینه ګډونکونکی وویل:

″دا ډیره مهمه ده د هغو کسانو شالیدونه چې د عدلي تعقیب په ریاست،قضا، او پولیسو کې په دندو ګمارل کیږي په سمه توګه چک او کنترول شي څو خلک پوه شي چې هغوي څوک دی او د هغوي په ټاکلو کې ونډه ولري.″

په پای کې خلکو څرګنده کړه چې تدبیرونه، د جامع قوانینو د جوړولو په شمول او همدارنګه د موسساتی او طرزالعملی تعدیلونو چې موخه یې د عدلی سکټور د نهادونو

په دننه کې د واک څخه د ناوړه کارونی او اداری فساد په وړاندې مبارزه ده، د يادو نهادونو د خپلواکی څخه د ډاډ حاصلولو په برخه کې يو مهم فاکټور دی او له همدی امله د بلخ په ولايت کې د معافيت د مخ پر زياتيدونکی کلتور د مخنيوی په برخه کې مهم دی. د عايشی افغان د عالی ليسی يوی ښځينه ښوونکی وويل:

"د عدلي سکټور په دننه کې د اداري فساد او واک څخه د ناوړه ګټی اخيستنی له امله مجرمين په اسانه تښتی او په بلخ ولايت کې د دې ستونزې سره د مبارزی په خاطر غښتلو طرزالعملونو ته اړتيا ليدله کيږي."

**د ټولنېزی او اقتصادی پراختيا تحقق:** د سلا مشورو د پروسې په جريان کې،خلکو په عمومی توګه باور درلود چې د ښوونې او روزنې د پياوړتيا،د کاری فرصتونو رامنځ ته کول او د انکشاف په برخه کې د مساوی لاسرسی په شمول د اقتصادی او ټولنېزی پراختيا په برخه کې د لمس وړ پرمختګ په بلخ ولايت کې د پايداری سولې د را منځ ته کولو لپاره مهم دی. د پوهنتون ښځينه ښوونکی د خلکو نطريی په لاندې ډول خلاصه کوی:

"د ښوونې او روزنې په سيستم کې قوي پانګونه او د پراختيايي مرستو څخه د ګټی اخيستنی په برخه کې برابری او د کارونو را منځ ته کول به په دې ولايت کې دوامداره سوله را منځ ته کړی."

خلکو په عمومی توګه يادونه کړی چې د ښوونې او روزنې د يوه فعاله او اغيزمن سيستم جوړول،د زيربنا او د درسونو د کيفيت دواړو له لخاظه بايد د حکومت او نړيوالی ټولنې د لومړيتوبونو په مرکز کې واقع شی. خلکو څرګنده کړی چې د پام وړ زيربنا به د زياتو زده کونکو د ځايولو د مسلی او همدارنګه په ښوونځيو کې د زده کونکو د ګنه ګوڼی د ستونزې د هوارولو د مسلی سره هم مرسته وکړی. د ښوونې او روزنې د ښه کيفيت څخه د ډاډ حاصلولو په موخه د ښوونکو د ظرفيت د را منځ ته کولو او د زده کونکو د زمينی او ظرفيت سره سم د تدريسی نصاب د را منځ ته کولو اړتيا ليدل کيږی. د بلخ د پوهنتون د حقوقو د پوهنځی يوی ښخينه ښوونکی وويل:

"کورنۍ غواړی په پاکستانی جوماتونو او مدرسو کې په خپلو ماشومانو غير رسمی زده کړی ترسره کړی چيرې چې د هغوي اولادونو ته افراطی زده کړی ورکول کيږي او کيدای شي د هغوي ماشومان د ياغيانو لخوا په اسانی وغولول شي... که چيرې په ښوونځيو کې کافی ځای او ښه ندريسی نصاب تدريس شي بيا به خلک خپل ماشومان د زده کړو لپاره پاکستان ته و نه ليږی او ښوونځی به په ورځی کې دری ځله ماشومانو ته تدريس و نه کړی."

خلکو د نظر عمومی توافق درلود چې په بلخ ولایت کې به د کاری فرصتونو را منځ ته کول، په خاص ډول د ځوان نسل لپاره، د سولې او ټیکاو په اړه پایدونکی اغیزی ولری. هغوی تاکید کړی چې نسبی سولې او ټیکاو،کلیدی جغرافیایی موقیعت،ښی زیربنا او غښتلی بشری سرمایی بلخ ولایت ته یو داسې قوی پوتانسیل ور په برخه کړی ځو د یوه پر مخ تللی اقتصاد په حیث را څرګندی شی. خلکو څرګنده کړی چې د کرنی په برخه کې پایداره پانګونه، د بیلګې په توګه،د څمکې توسعه او د اوبو لګونی وړ سیستم به د کلیوالی اقتصاد د غوړولو سره مرسته وکړی. هغوی وړاندې هم یادونه کړی چې شخصی او دولتی تصدی ګانی د بیلګې په توګه، د نساجی تولید، د ممیز پاکولو، غوړیو تولید او لبنیاتو کارخانی هم کولای شی کاری فرصتونه را منځ ته کړی په دې شرط چې د هغوی ملاتړ د حکومت لخوا وشی. د عالی لیسی یوی ښخینه ښوونکی وویل:

″ځوانان په دې خاطر چې کار نه لري د طالبانو سره یو ځای کیږي... حکومت باید په دې برخه کې پانګونه وکړي او د تجرید شویو ټولنو او وزګاره ځوانانو د زړونو او فکرونو د ترلاسه کولو له لاری باید په کرنه او تولیدی کارخانو کې پانګونه وکړي.″

خلکو همدارنګه یادونه کړی چې د ټولنېزو شخړو زیاته برخه اکثرا د پراختیایی مرستو د مساوی لاسرسی د مسایلو پر سر را ولاړیږی. هغوی استدلال کړی چې په حکومت کې د سیاسی اړیکو او د هغوی د نژاد پرته، ټول وګړی د پراختیایی مرستو د مساوی ویش څخه برخمن دی او ټولنېزی شخړې هغه وخت حل کیدلای شی چې حکومت او نړیوال تمویل کونکی ځواب ورکونکی تدبیرونه خپل کړی ځو د اړتیاوو د ارزونی او د پراختیایی پروژو څخه د خلکو د نظارت په شمول د پراختیایی مرستو د مساوی ویش څخه ډاډ حاصل شی. یوه ښځینه ګډونواله چې د مزار شریف په ښار کې ژوند کوی خبری اتری داسې خلاصه کړی:

″زموږ په سیمه کې سړکونه نه دی سفالت شوي او موږ کافی مرستی نه تر لاسه کوو... او په هغو سیمو کې چیرې چې زورواکی ژوند کوي ساختمانی چاری جریان لري... دا د دې لپاره چې موږ نیستمن یوو او د یوه بل ولایت څخه راغلی یوو.″بل ګډونوال وویل:″ زیاتره شخړې زموږ په سیمو کې د سرچینو د نامساوي ویش پر سر دی...زورواکی د پراختیایي مرستو زیاتره برخه ترلاسه کوي او کمزوری له پامه غورځی.″

**د سولې د فعالینو او تخریب کونکو ځواب ویل:** د سلا مشورو د پروسې په جریان کې، د عادی خلکو – د نارینه وو،ښځو، ځوانانو او لږکیو ډلو د پراخ ګډون څخه د ډاډ حاصلولو په موخه خلکو زیات تاکید کړی او دا د سولې او پخلاینی د هری پروسې د کامیابی لپاره اړین دی. خلکو باور درلود چې د مدنی ټولنېو ښځو او په عنعنوی توګه د ټولنې د تجرید شویو

برخو پراخ ګډون د سولې او پخلاینې د پروسې د عام شمولوالي او مالکیت لپاره ضروري دی. څکه نو، خلک د بلخ په ولایت کې د سولې په شورا کې د مدني ټولنې او ښځو پراخ ګډون غوښتنه کوي. د نهر شاهي د ولسوالۍ څخه د ټولنې یوه نارینه مشر وویل:

″د سولې او پخلاینې پروسه یواځې هغه وخت بریالۍ ده چې عادي خلک مخکښه رول ولوبوي او هر څوک دا فکر وکړي چې هغوي د پروسې برخه دی.″ د مدني ټولنې بلې فعالې وویل:″ښځې باید د سولې او پخلاینې په پروسه کې غښتلې نقش ولوبوي... جګړه ښځو ته بې شماره تلفات اړوي او کله چې هغوي خپل زامن له لاسه ورکړي نو هغوي د اوږدمهاله کړاو سره مخ شي.″

خلکو وړاندېز کړی چې د بلخ اوسیدونکي د خلکو تر رهبرۍ لاندې د شوراګانو له طریقه د شخړو او ځایي شخړو د حل او ځوابولو لپاره غښتلي عنعنه لري. هغوی په عمومي توګه باور لري چې د شخړو د حل د داسې ځایي میکانیزمونو را منځ ته کول به د یوه سیاسي او ټولنېز چاپیریال په حیث په کوم کې چې عادي خلک وکولای شي د سولې لپاره په یوه رغونکي ډیالوګ کې د یو بل او ښکیلو ډلو سره ښکیل شي کار وکړي. د بلخ د ولسوالۍ د ټولنې یوه مشر وویل:

″د بلخ ولسوالي د جغرافیا او د وګړو د تنوع له لحاظه ډیره لویه ولسوالي ده. بیلابیلې نژادي ډلې د یو بل سره په سوله کې ژوند کوي. دا د دې لپاره ده چې موږ د ولسوالي د کچې شورا را منځ ته کړې او له دې لارې خپلې ستونزې هواره وو.″د خلم د ولسوالي د ځوانانو د شورا بل ګډونوال وویل: ″د سولې ځایي شورا ګانې د سوله ییزو خبرو اترو له لارې ځایي شخړې حل کولای شي.″

خلکو په کلکه د سولې د تخریب کونکو د منفي نفوذ سره د معاملې په خاطر، د بررسۍ چې بنسټ یې په عیني خصوصیاتو، ولاړ وي دفاع کړې. کله چې د هغوی څخه و پوښتل شول چې بررسي په کومو خصوصیاتو ولاړه وي،خلکو په عمومي ډول د بلخ د ولایت د سولې د کمیټې د مدني ټولنې د غړي د خبرو یادونه وکړه:

″هغه څوک چې د سولې د پروسې رهبري کوي باید افغان و اوسي، سپیڅلی و اوسي او باید د جنګي جرمونو او د بشریت په وړاندې د جرمونو په شمول د جرمونو په ارتکاب تورن نه وي.″

## ۵. د خلکو وړاندېزونه

د سلا مشورو د پروسې په جریان کې،د بلخ په ولایت کې د شخړې د اصلي لاملونو د ځواب ویلو په اړه په یوه رغونکي ډیالوګ کې د حکومت، نړیوالو فعالینو او مدني ټولنې سره د ښکیلتیا په منظور،خلکو لاندې عمومي وړاندېزونه تجویز کړل:

**د ځایي حکومتي ادارو پیاوړتیا:** (۱) داډ حاصل شي چې مناسب اصلاحات او د ظرفیت جوړوني پروګرامونه را منځ ته شي څو د ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت لوړ شي او وکولای شي د مشروع لاري اجباري ځواک وکاروي، دا باید تر زیربنایي پراختیايي پروګرامونو، د افغان ملي پولیسو او افغان ملي سیمه ییزو پولیسو په دننه کې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې تر تدبیرونو پوري محدود نه شي،د بیلګې په توګه د ټولنې د پولیسو د پروګرامونو په حیث، د افغان سیمه ییزو پولیسو لپاره د ټولنې د بررسي میکانیزمونه او د ناقانونه وسله والو ډلو د بې وسلې کولو پروګرام، او؛ (۲) د وګړو او ځایي حکومت تر منځ د اعتماد د تشې د ځواب ویلو په موخه د عادي خلکو او ملکي دولتي نهادونو تر منځ د لا زیات ډیالوګ څخه ډاډ حاصلول.

**د بشري حقونو او قانون د حاکمیت ترویج او د معافیت له منځه وړل:** (۱) د حکومتي چارواکو، د ځوانانو د ډلو، سیاسي ګوندونو،د ټولنو د مشرانو او مذهبي مشرانو په شمول،د پوهاوي د لوړولو د کمپاینونو له لارې چې موخه یې د ټولنېزو ډلو د پراخ طیف پوښښ دی د بشري حقونو د مفکورې، په خاص ډول د ښځو د حقونو په اړه د چارواکو او ځایي ټولنو د پوهاوي د لوړولو څخه ډاډ؛ (۲) د قانون د حاکمیت لپاره د درناوي ضمانت، د موسساتي اصلاحاتو د نوښتونو او د هدف وړ ظرفیت د جوړولو د پلي کولو له لارې د معافیت د سیستم له منځه وړل او همدارنګه په عدلي سکټور کې د فاسدو او ناوړه چارواکو د لرې کولو په شمول د عدلي سکټور په اړه تمرکز، د وړتیا پر بنسټ د ګمارنو څخه ډاډ،د لوړ پوړو چارواکو بررسي او عام نظارت؛ (۳) د نظارت د عالي اداري، د عدلي تعقیب د ریاست او قضایه قوه په شمول د فساد په وړاندې د مبارزې د ملي ادارو د ظرفیت لوړول.

**د ټولنېزې او اقتصادي پراختیا پیاوړتیا:** (۱) د ښاري او کلیوالي پراختیايي نوښتونو چې موخه یې د ښوونې او روزنې د ملي رسمي سیستم او همدارنګه د کاري فرصتونو را منځ ته کول وي د پلي کیدو ملاتړ، او؛ (۲) پراختیايي مرستو ته د ځایي ټولنو د مساوي لاسرسي څخه ډاډ او د هغوی په سیمو کې په دې د خلکو توانول څو د پراختیايي پروژو څخه نظارت وکړي.

**د سولې او پخلاینې د پروسې د جامعیت ملاتړ:** (۱) د میکانیزمونو د شتون څخه ډاډ حاصل شي څو د ښځو، ځوانانو او نژادي لږکیو د ډلو په شمول په عنعنوي ډول د تجرید شویو ډلو د نظریو حاصلول او د هغوی ښکیلتیا، او د تل پاتې سولې د ترلاسه کولو لپاره د ټولو ولایتونو په پلانونو کې د دغو نظریو ځایول؛ (۲) د سولې او پخلاینې د مسلو په تړاو او همدارنګه د ټولنې د شکایتونو د حل کولو د پروژو تسهیل او د پوهاوي د کچې د اوچتولو له لارې د حکومت او خلکو تر منځ د اعتماد د تشې د له منځه وړلو په موخه د

مدنی ټولنې ملاتړ؛ (۳) د سولې او پخلاینی د پروسې په اړه د تخریب کونکو د منفی نفوذ د مخنیوی د میکانیزمونو د اتخاذ څخه ډاډ، د هغو خلکو بررسی څوک چې د سولې د پروسې مشری کوی او د جنګی جرمونو او د بشریت په وړاندې د جرمونو په اړه د معافیت نه زغم.

# د جوزجان ولايت
# د سولي لپاره ولايتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

دا راپور د هغو مهمو موندنو او مسایلو یو لنډیز وړاندې کوي کومې چې د تمرکز په شپږو ګروپي مباحثو، ۱۲ انفرادي مرکو او د نظریو په ۲۶ سروې ګانو کې د جوزجان ولایت د عادي افغانانو د نږدې ۱۴۴ ګډونوالو (۸۰ نارینه وو او ۶۴ ښځینه وو) لخوا د خبرو اترو د پروسې پر مهال په جوزجان ولایت کې مطرح شوي. د متمرکزو ګروپي مباحثو په ګډونوالو کې د ټولنې مشران، پخوانې جنګیالي، د مدني ټولنې سازمانونه،د سولې د ولایتي کمیټې غړي، وزګار خلک، خبریالان، د کور میرمنې، بې ځایه شوې کسان، د ولایتي شورا غړي، با نفوذه اشخاص، علما، د ولسوالیو د پراختیایي شورا مشران، د نا دولتي سازمانونو غړي، هټیوال او داسي نور کسان شامل وو. د سلا مشورو دغه لړې د سولې په اړه د افغانانو د ډیالوګ د دوهم پړاو د یوې برخې په حیث ترسره شوه، چې له دې وروسته د خلکو د ډیالوګ په نوم یادیږي. دا پروګرام د هیواد په کچه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په ګډون د مدني ټولنې د ۱۱ شبکو لخوا پیل چې موخه یې د هیواد په کچه د ټولټال ۴۵۰۰ عادي افغانانو سره د مشورو ترسره کول او د سولې لپاره د ۳۴ ولایتي طرحو جوړول دي- د هر ولایت لپاره یوه طرحه ده.

د سولې لپاره د دې ځایي طرحې موخه د شخړې د محلي انګیزو د یوه جامع تحلیل او همدارنګه د جوزجان په ولایت کې د پایښت لرونکې سولې او ټیکاو سره د مرستې په موخه د مناسبو عملي حل لارو د تشخص وړاندې کول دي.

## ۲. ولایتي انځور: جغرافیه،جمعیت پیژندنه او سیاسي زمینه

**جغرافیه:** جوزجان د هیواد د شمالي ولایتونو څخه یو هغه ولایت دی چې د کابل شمال شرق ته په ۶۰۰ کیلو متری کې پروت دی. دا ولایت ټولټال ۱۱۷۹۸ کیلو متر مربع ساحه احتوا کوي او مرکز شبرغان یې د مزار شریف غرب ته په ۱۳۰ کیلو متری کې پروت دی. دا ولایت په ۱۱ ولسوالیو ویشل شوی چې ټولټال ۴۵۰ کلي لري،(د نومونو او موقیعتونو لپاره په پوښ باندې نقشې ته مراجعه وکړئ). جوزجان ولایت د دریو نورو ولایتونو یعنې، په شرق کې د بلخ، په جنوب کې د سر پل او په غرب کې د فاریاب د ولایتونو سره ګډه پوله لري. جوزجان همدارنګه په شمال کې د آمو سیند له لارې د ترکمنستان سره نړیواله پوله لري(په سیمه کې تر ټولو لوی سیند) چې پولې ته نږدې تیریږي.

د جوزجان ولایت توپوګرافي تر زیاتې اندازې هواره او په میدانونو پوښلې ده. د ولایت ټولټال دوه/دریمه برخې ځمکې نیمه وچې ځمکې احتوا کوي، خو په عین حال کې د خړوبونې لپاره د اوبو د دوامداره کمښت او موسمي سیلابونو او ناسمې زهکشی له امله ډیر متاثیره کیږي. د ولایت جنوب طرف سیمه لا غرنۍ کیږي. د جوزجان ولایت د سیند د کچې څخه د ۳۳۰ او ۶۵۰ میترو تر منځ پروت دی.

**جمعیت او قومی/نژادې ترکیب:** د احصایې د مرکزې دفتر په حواله (۲۰۱۲)، په جوزجان کې ټولټال ۵۱۲۱۰۰ تنه وګړي، نږدې ۲۶۰۶۰۰ نارینه او ۲۵۱۵۰۰ ښځې اوسیږی. د ولایت نږدې ۷۹ سلنه وګړي په کلیوالو سیمو او ۲۱ سلنه په ښارې سیمو کې اوسی. په یاد ولایت کې بیلابیلې قومې ډلې، د بیلګې په توګه، ازبک، ترکمن، پښتانه، تاجک او هزاره ګان اوسیږی.

د جوزجان په شمالی او شرقی ولسوالیو کې، په تیره بیا په خامیاب، قرقین، مینګاجیک، مردیان او آقچه ولسوالیو کې زیاتره ترکمنان اوسیږی. په درزآب، قوش تیپه او فیض آباد کې زیاتره ازبکان اوسیږی، پښتانه(په تیره بیا کوچیان) د قوش تیپې په هوارو سیمو کې، د خواجه دو کوه، آقچه او درزاب کې چې د دشت لیلې برخې دی، اوسیږی. یو شمیر عرب بیا په شبرغان، فیض اباد او خانیقه کې اوسیږی.

**اقتصاد طبیعي زیرمې او تولید:** په ولایت کې زیاته نیستې او بې کارې موجوده ده. په ولایت کې طبیعی زیرمې، د بیلګې په توګه، ګاز،نفت، سلفر، د ډبرو سکاره او د ډبرو غمې موجود دی خو دغو زیرمو ته یا په سمه توګه انکشاف نه دی ورکړل شوی او یا لا تر اوسه نه دې کیندل شوي. د ګاز برابرولو یو نوې مرکز- تخته شوې طبیعی ګاز(CNG)، د ۲۰۱۲ کال په می میاشت کې په شبرغان ښار کې پرانیستل شو. دا په هیواد کې تر ټولو پرمختللی مرکز دی چې د نقلیه وسیلو لپاره د مایع پطرولیم نفتو پر ځای طبیعی ګاز برابروی. کیدای شی دا د چاپیریال ساتنې په ډګر کې یو مهم ګام و شمیرل شی. دا پروژه د یو ایس ای ډی له خوا د ۲. ۷ میلیونو امریکایې ډالرو په ارزښت تمویل شوې او په ورځ کې د ۲۰۰۰۰ میټریک ټنه ګازو د تولید ظرفیت لری.

**د ځمکې مالیکیت او کرنه:** اټکل کیږی چې ټولټال ۸۵ سلنه ځمکه یواځې د ۱۵ سلنه وګړو ملکیت دی. د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کلونو د خطر او زیامنتوب د ملی ارزونې په حواله، یواځې ۲۲ سلنه کلیوال خلک ځمکو ته لاسرسی لری. دا په هیواد کې له کابل وروسته په جوزجان کې (۱۶ سلنه) ځمکو ته کم لاسرسی ښیې. د ټولټال ۲۰۰۰۰ هیکتاره بارانې او ۱۰۰۰ هیکتاره ځنګلې ځمکو په شمول، په مجموعی ډول، کرنیزه ځمکه ۲۱۵۷۵۳ هیکتاره ده. غنم، غلجات، وربشی، پنبه، تیل لرونکې دانې، خټکې، کونځلې او انګور د دې ولایت عمده کرنیز تولیدات دی. جوزجان د کوکنارو څخه پاک ولایت دی.

**سیاسي ارزونه او حکومتولي:** په جوزجان کې سیاسی وضعیت د جنبش ملی اسلامی افغانستان (جنبش) د ګوند سره تړلی دی او خپل ملاتړ د ازبک نژادې ډلې او د هغوی د مشر عبدالرشید دستم څخه تر لاسه کوی. په ولایت کې د جنبش له خوا د یواځنې ګوند د حاکمیت څخه کلونه وروسته، نور سیاسی ګوندونه، د بیلګې په توګه، جمعیت ملی اسلامی افغانستان(جمعیت اسلامی یا جمعیت) او اسلامی ګوند په تیرتیب سره د تاجک او

پښتون نژادې ډلو څخه قاطع ملاتړ ترلاسه کوی، یاد ګوندونه په دې توانیدلی چې په ولایت کې اساس او بنسټونه جوړ کړی. جنبش په ولایت کې د قدرت پر سر د خپلمنځې مبارزو څخه متاثره شوی دی.

## ۳. د شخړې ارزونه: د شخړې نومونې او محرکات

### د شخړې نمونې

**د طالبانو تر رهبرۍ لاندې یاغیتوب:** د خبرو اترو د پروسې پر مهال، په جوزجان ولایت کې د طالبانو تر رهبرۍ لاندې یاغیتوب ته په عمومی ډول خلکو د سولې او ټیکاو په وړاندې د یوه ستر ګواښ په حیث کتلې.

د سروې د مودې پر مهال خلکو په اټکلې توګه وویل چې په جوزجان ولایت کې د ۱۰۰۰ او ۱۳۰۰ تنو تر منځ وسله وال طالبان فعال دی. د طالبانو اکثریت اوسیدونکی محلی خلک، په خاص ډول د ټیټې رتبې خلک دی. هغوې د بې کارې یا د دولت له اړخه په کارونو کې د پاتې کیدو او د خدمتونو د نه رسولو او نا هیلې له وجې د طالبانو د لیکو سره یو ځای شویدی. د یو شمیر پاکستانی شورشی مشاورینو، هلمندې او کندهاری طالبانو او همدارنګه د یو شمیر نورو وسله والو ډلو سربیره چې د فاریاب،سر پل، بلخ او جوزجان په ولایتونو څخه دی، د ایډیالوژې پر اساس یو شمیر محدود طالبان هم شتون لری.

د ټولو شپږو متمرکزو ګروپی مباحثو ګډونوالو(ښځو او نارینه وو) د رایو په اتفاق تایید کړه چې د ۲۰۰۵ کال راهیسې هر کال په جوزجان کې امنیتی وضعیت په خرابیدو و. اوسنۍ امنیتی وضعیت ناوړه ښودل شوی.

ټول ګډونکونکی په شبرغان ښار کې د یوې ښځینه ښوونکې د دې نظر سره موافق و:

> ″ په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د رژیم تر نسکوریدو وروسته، د موقت حکومت په پیل کې د څلورو او پنځو کلونو لپاره امنیتي وضعیت ښه و. د هغه را وروسته په جوزجان کې امنیتي وضعیت په تدریج سره په خرابیدو شو. په اوس حال کې امنیتي وضعیت ډارونکی او د ورځې په تیریدو سره د خرابوالې لور ته روان دی. حکومت یواځې په مرکزې ولسوالیو محدود کنترول لري.″

د جوزجان په ولایت کې د طالبانو تر ټولو لوی مرکز په دشت لیلی کې چې یوه پراخه صحرا ده، شتون لری، یاده سیمه فاریاب، سر پل او جوزجان ولایتونه د یو بل سره نښلوی. دا سیمه د تپو، غرونو، لوړو او ټیټو کندو په درلودلو سره یو ښه ستراتیژیک موقعیت لری او د ګوریلایې جګړو لپاره ډیر مناسب دی.

زیاتره خلک د جوزجان د قوش تېپې او درز اب ولسوالیو ته د ډېرو نا امنه ولسوالیو په سترګه ګوري. دا ولسوالۍ په جغرافیایې لحاظ د دشت لیلې سره ګډه پوله او یا د دشتی لیلی برخې دی.

د درز آب د ولسوالې څخه د کلی یوه مشر وویل:

" په ۲۰۱۲ کال کې د ولسوالۍ افغان ملي امنیتي ځواکونه په تیری کوونکې حالت کې وو خو کال وروسته هغوی دفاعي حالت ته راغلي. په ۲۰۱۲ کال کې د ولسوالۍ پولیس قادر وو چې د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې(د قوش تېپې د ولسوالۍ غربي برخې او د درز آب ولسوالې) د جوزجان د ولایت د پولیسو د همکاري څخه پرته ګزمه وکړي. خو اوس د ولسوالۍ پولیس نه شي کولای په سیمه کې د مرستې پرته ګزمه وکړي. د تیرو دریو-څلورو میاشتو په جریان کې د قوش تېپې د ولسوالۍ د نورو برخو امنیت خراب شوی. د ولسوالۍ افغان ملي امنیتي ځواکونه یواځې د ځان او په ولسوالۍ کې د دولتي ریاستونو چې د ولسوالۍ په مرکز کې واقع دي امنیت برابروي."

**د قدرت محلي دلالان:** خلکو ویلې د طالبانو تر رهبرۍ لاندې د یاغیتوب سربیره،د قدرت محلی دلالان هم په بې امنۍ او بې ثباتې کې ښکیل دی.

ګډونوالو وویل چې، په جوزجان ولایت کې د دولت او افغان ملی امنیتی ځواکونو د کمزورتیا له امله د قدرت محلی دلالان د قانون څخه د باندې عمل کوی:

" د جنرال دوستم دوه ساتونکې څلور ورځې وړاندې په قره کینت کلې کې چیرې چې د افغان ملي پولیسو یوه پوسته یواځې ۵۰۰ میتره د پیښې د صحنې څخه لرې پرته ده، ووژل شول. وژل شوي کسان د جنبش دوه پخوانې قومندانان وو. دا روښانه نه ده چې د جنبش یاد قومندانان د شخصې دښمنې په خاطر وژل شوي او یا د قتل تر شا د طالبانو لاس دی. مرتکیبین د پیښې د صحنې څخه په تیښته بریالي شوې. د جنرال دوستم نورو سرتیرو او ساتونکو د شکرک افغانیه او حسن تابین په کلیو (پښتون میشته سیمو) یرغل وکړ چې په نتیجه کې یې د نارینه وو، ښځو، مشرانو او ماشومانو په ګډون ټول اوسیدونکي کلک ووهل. په داسې حال کې چې د جنرال دوستم د دوو ساتونکو وژل د خواشینې وړ خبره ده، خو دا هم د منلو وړ نه ده چې د پیښې په تړاو بې ګناه خلک ووهل شي. وهل شوي کسان د پیښې عاملین نه وو. د افغان ملي پولیسو، افغان ملي اردو او حکومت په شتون کې د ولایت په مرکز کې د بې ګناه خلکو وهل په دې مانا ده چې په ولایت کې د قانون

حاکمیت شتون نه لري، حکومتولي کمزورې او افغان ملي امنيتي ځواکونه بې وسه دي."

بل ګډونوال دا پیښه د قومی تعصب سره تړلې وبلله. هغه وویل چې د جنرال دوستم د ځواکونو له خوا د پښتون میشته ټولنو په وړاندې سخت غبرګون د قانون د حاکمیت په وړاندې بې اعتنایي ښې او دا همدارنګه د لږکیو ډلو په وړاندې د ژور تعصب له امله ده.

"هغه درې تنه چې په دې پیښه کې ټپیان شوې وو (په یاده پیښه کې د جنرال دوستم د ساتونکو له خوا ټپیانې شوې وې)، ښځې وې چې د درملنې په موخه په روغتون کې بسترې وې. کله چې خلک د زورواکو په لومه کې تپ شې، نو هیڅوک د هغوي مرستې ته نه را دانګي. دا د قومي تعصب له امله ده- په جوزجان ولایت کې د دغې با صلاحیته ډلې منطق دا دی چې موږ ازبک او اکثریت یوو. تاسو پښتانه او لږکي یاست، موږ هغه څه سرته رسوو کوم چې زموږ خوښ وي. قومي تبعیض په جوزجان ولایت کې د نا امنې یو مهم فاکتور دی."

په جوزجان ولایت کې یو شمیر ګډونوالو د قدرت د محلی دلالانو د تدریجې غښتلتیا په هکله، کوم چې د شمال د نورو ولایتونو په پرتله د زیاتوالې په حال کې دی، اندیښنې څرګندې کړې، چې دا په خپله د خلکو حقونو په منفی توګه متاثیره کوی.

د مدنې ټولنې د سازمان یوه تن غړې وویل:

"موږ په جوزجان ولایت کې(د کورنیو جګړو پر مهال) د بدغونی حالت څخه تیر شوې یوو، ځکه چې دې ولایت د نورو ولایتونو په پرتله زیات محلي قومندانان درلودل. څلورو قومندانانو په یوه سړک واکمنې کوله، عادي خلکو د څلورو حکومتونو څخه اطاعت کاوه. څلور ډوله افغانۍ په دوران کې وې (جنبشي، دولتي، نمره بالا او نمره پایین). اوس بیا د داسې محلي قومندانانو شمیر په زیاتیدو دی او دا د خلکو په منځ کې بیا ډار خپروي."

بلې ښځینه ګډونوالې وویل:

"دغه قومندانان لا هم قدرت لری او یو شمیر خلک کنترولوي. خلک د هغوي له اجازې پرته یو ګلاس چای هم نه شي څښلای. هغوي اوس هم په غیر مستقیم ډول موږ کنترولوی او موږ تر فشار لاندې نیسي. هغوي خلک اړ باسي څو د هغوي لپاره ډوډې او اوبه برابري کړي."

**قومي/سیاسي ویش او سیالي:** ګډونوالو وویل چې په جوزجان ولایت کې قومی تبعیض، نا سالمې سیاسی سیالې ګانې او د جنرال دوستم او ولایتی چارواکو تر منځ د همکاری نه

شتون هم نا امنې را منځ ته کوی او د انکشافی کارونو مخه نیسی. د دغې ستونزې د هوارې په موخه د مرکزی حکومت له خوا د نه اقداماتو د نیولو په خاطر دغه حالت لا بدتر شوی دی.

یوه نارینه راډیو آپریټر/چلونکې وویل:

"په جوزجان ولایت کې واک د جنبش ګوند په لاس کې دی او یاد ګوند هڅه کوي تر څو په ولایت کې پرمختیایي پروژې پر مخ بوزي، خو مرکزي دولت توجه نه کوي. کیدای شي جنبش ګوند په ایډیالوژیکي لحاظ د مرکزي حکومت مخالف او یا د حکومت سره په تقابل کې وي. ایا دا د جوززجان د محلي خلکو تیروتنه ده؟ ایا دا د هغو کلیوالو خلکو څوک چې ښو سړکونو، روغتیایې مرکزونو، هایډرو انرژي یا اوبو ته لاسری نه لري، او په لرې پرتو سیمو کې ژوند کوي، تیروتنه ده.

له بلې خوا د شبرغان یوه اوسیدونکی پر جنرال دوستم د محلی چارواکو سره د نه همکاری په خاطر انتقاد وکړ:

" د ولایتي چارواکو سره د جنرال دوستم له خوا د نه روغې جوړې پالیسې یو شمیر ستونزې را منځ ته کړې. جنرال دوستم د ولایتي چارواکو سره هیڅ ډول همکاري نه کوي. حتی که ولایتي چارواکې هم په جوزجان کې د نوموړې له قوم څخه انتخاب شي بیا هم نوموړی د هغوي ملاتړ نه کوي. که چیرې ولایتي چارواکي د نورو ولایتونو څخه انتخاب شي، هغه به د هغوي سره روغه جوړه و نه کړي."

د بشری حقونو یوې ښځینه فعالې وویل، په ولایت کې د قوم او ډاینمیکونو په هکله اندیښنې شخړو ته لار هواره وی:

" په جوزجان ولایت کې د شخړو مهم لاملونه قومي تبعیض او سیاسي شخړې دي. هغه څوک چې د قانون درناوی کوي خو د ځینو ډلو په پلویتوب کار نه کړي د دولتي دندې څخه ګوښه کیږي. خو هغه مامور چې د ځینو ډلو په پلویتوب نا قانونه کړنې ترسره کوي په خپلو دندو پاته کیږي. دا یوه لویه ستونزه ده. کیدای شی سیاسي سیالې هم په ولایت کې د شخړو لامل شي: څو ورځې وړاندې خلکو د لسو ورځو لپاره لاریون وکړ- ځینو د والي په پلویتوب لاریون وکړ او ځینو بیا د هغه د ګوښه کیدو غوښتنه کوله. دې کار به جوزجان ولایت کې یو بحران را منځ ته کړ."

**د ځمکو او اوبو پر سر شخړې:** ګډونوالو د ځمکو پر سر د شخړو په هکله راپور ورکړی، په خاص ډول په دشت لیلې کې، چیرې چې دا لانجې په اوږدو شخړو اوښتې او لا هم نه دې حل شوې:

یوه دینی عالم وویل:

"د افغانستان د پخوانې پادشاه ظاهر شاه له وخت راهیسې، او بیا د تیرو ۲۰ کلونو راهیسې، دشت لیلې یوه دولتي ځمکه وه او د یوه څړ ځای په توګه کاریدله. کوچیانو او نورو خلکو به په دغو ځمکو کې خپل څاروي پوول. دغه دولتي ځمکې د زورواکو او یا د هغو کسانو له خوا چا چې د زورواکو، قوماندانانو او یا ولایتي چارواکو سره اړیکي لرلې، اشغال شوې. یو شخص چې زور لري کولای شي په ۲۰۰۰ هیکتاره ځمکه غنم وکري. که چیرې د دې ډلو (د زورورو او کمزورو ) تر منځ نښته ونښلې، د زورورو چا چې زیاته ځمکه غصب کړي ملاتړ کیږي او کمزوري چې کمه ځمکه ترلاسه کوي تر عدلي تعقیب لاندې نیول کیږي."

د ولایتی شورا غړی وړاندې وویل:

"دلته ځکمه یو پیغور دی. دغه کوچیان دلته د نورو ولایتونو څخه د میشتیدنې په موخه راغلي او د جوزجان د خلکو ځمکې (د دشتي لیلي ځمکې) یې لاندې کړې، خو نن ورځ د جوزجان خلک خپلې ځمکې بیرته غواړي. دا یوه جدې ستونزه ده چې تر اوسه نه ده حل شوې."

د ولایت د اوبو سرچینې د سرپل او ۱۸ نهر د سیندونو څخه تامینیږی. په فیض اباد ولسوالی کې د ولسوالۍ د انکشافی شورا مشر وویل:

"د جوزجان ولایت د فیض اباد او بلخ ولایت د چمتال د ولسوالیو تر منځ د اوبو پر سر شخړه موجوده ده. د فیض اباد د ولسوالۍ اوبه د بلخ د ولایت د ۱۸ نهر د سیند اوبه دي. کله چې اوبه په کمیدو شي او په فیض اباد کې ځمکې اوبو ته اړتیا پیدا کوي نو د بلخ خلک اوبه بندوي. کله چې د بارانونو او سیلابونو په وخت کې د اوبو کچه لوړه شي نو بیا هغوي د سیند اوبه خوشي کوي چې په نتیجه کې په فیض اباد ولسوالې کې ځمکې او کورونه له منځه ځي."

ګډونوالو وویل چې د جوزجان ولایت د سر پل د ولایت سره ورته ستونزه لری.

**د شخړې محرکونه:** د جوزجان په ولایت کې ناامنې دوه، یعنی داخلی او بهرنې فاکټورونه لری. په داخلی فاکټورونو کې چې د ګډونوالو له خوا پیژندل شوې لاندې موارد، یعنی بې

کارې او نيستی، په دولتی ادارو کی مخ پر زياتيدونکی ادارې فساد، د قانون د حاکميت نه شتون، بې عدالتی، کمزورې حکومتولې، کمزورې افغان ملی امنيتی ځواکونه، د جګړې اقتصاد، د ټولنيز ګډون نه شتون،قومی تبعيض او نا سالمې سياسی سيالې شاملې دی.

بهرنې فاکټورونه د ګډونوالو له خوا په لاندې ډول خلاصه شوې دی: په جوزجان او نورو ولايتونو کې د دولت ضد عناصرو تر منځ اړيکې او د پاکستان او نړيوالې ټولنې له خوا مداخلتونه.

**نيستې او پراخه بې کارې:** د سلا مشورو د پروسې په جريان کې، خلکو نيستې او پراخې بې کارې ته د شخړې د اصلې محرکاتو په حيث کتلې. اکثرو ګډونوالو په دوامداره توګه ويلی تر هغو چې د عادی افغانانو په اقتصادی حالت کې ښه والی را نه شی دوامداره سوله نه شی تر لاسه کيدای. هغوی ويلی چې اکثرا خلک د بې کارې او يا د دولت له اړخه د خدمتونو د نه رسولو او نا اميدی له امله د طالبانو سره يو ځای شوی.

د پوهنتون يوه تن پروفيسور وويل:

> ″زموږ زياتره ځوانان د ليسو، پوهنتونونو او مدرسو څخه فارغ شوې دي، خو نه شي کولای په مارکيټ کې د ځان لپاره کار ومومي. موږ د دغو ځوانانو د استخدام په موخه په جوزجان کې صنعت او فابريکې نه لرو. د معارف او اطلاعاتو او فرهنګ رياستونه دومره ظرفيت نه لري چې د دومره شمير بې وزګاره کسانو لپاره کارې زمينې برابرې کړي. که چيرې کارې فرصتونه را منځ ته شي او د عايداتو د را منځ ته کولو په موخه پروژې تاسيس شي، نو ځوانان به د ټولې ورځې په پرتله د طالبانو سره د کار کولو او د د يوې تيارې راتلونې د منلو پر ځای د نيمې ورځې لپاره په فابريکو کې کار کولو ته زړه ښه کړي.″

د قوش تيپې د ولسوالۍ څخه يوه ځايې شخص وويل:

> ″په درز اب او قوش تيپه ولسوالېو کې ټولنه د کښت لپاره ډيره ځمکه لري، خو په تيرو پنځو شپږو کلونو کې د نه اورښت له امله، هغوي نه دي توانيدلې ښه حاصلات تر لاسه کړي، په دغو دوو ولسواليو کې نور کارې فرصتونه نه شته چې له امله يې نږدې ۴۰-۵۰ سلنه ځوانان د کار په لټه کې ايران او پاکستان ته ځې، او هغه څوک چې دغو ځايونو ته نه شي تلای هغوی بيا د دولت ضد عناصرو سره يو ځای کيږي، ځکه چې دولت ضد عناصر کم تر کمه هغوي ته څه نا څه ورکوي.″

د خواجه دو کوه د ولسوالې څخه د کلې يوه تن مشر ورته ارزونه درلودله:

"د خواجه دو کوه په ولسوالۍ کې خلک په رښتیا د ستونزو سره مخ دي. د خواجه دو کوه د ولسوالۍ څخه نږدې ۵۰۰۰ کسان چې عمرونه یې د ۱۹ او ۴۰ کلونو تر منځ وو د کابل،پکتیا او جلال اباد ولایتونو ته د معماري په خاطر کوچیدلي دي او نور بیا د افغان ملي پولیسو سره په نورو ولایتونو کې یو ځای شویدي. یو شمیر زیات کسان یا خو د ماینونو په چولو کې ټپي یا وژل شویدي او نور بیا ترې تم شویدي. که چیرې فابریکې و رغول شي نو ځوانان به د کار مصونیت تر لاسه کړي."

**خپریدونکی اداري فساد/واسطه او د قانون د حاکمیت نه شتون:** خپریدونکی اداري فساد، په خاص ډول د قانون د پلې کونکو چارواکو په منځ کې، هغه مهمه مسله ده کومه چې د خبرو اترو د پروسو پر مهال مطرح شوې. د ګډونوالو په حواله، دا د دې باعث کیږي چې عادی خلک د دولت څخه واټن ونیسی او د دولت ضد عناصرو سره یو ځای شی. لاندې د یوه پخوانې جنګیالي نظر دی څوک چې د اداري فساد په خاطر د طالبانو سره یو ځای شوی:

"زه په فیض اباد ولسوالۍ کې د یوه افغان سیمه ییز پولیس په حیث دنده ترسره کوم. ما د دولت ضد عناصرو د یوې ډلې سره نږدې یو کال کار وکړ. خلک د اداري فساد په خاطر د دولت څخه واټن نیسي. د بیلګې په توګه، زه د یوې حقوقي ستونزې د هوارولو په خاطر د ولسوالۍ مرکز ته ولاړم، خو زه یې توقیف کړم. هغوي د ۲۰۰۰۰۰ افغانیو (۴۰۰۰ امریکایي ډالرو) په بدل کې زما د خلاصون لپاره د یوه ضمانت په حیث د بډو غوښتنه وکړه. ما کوښښ وکړ چې پیسې پور کړم خو بریالی نه شوم. ما یواځې وکولای شوای ۱۶۰۰۰۰ افغاني (۳۲۰۰ امریکایي ډالره) برابر کړم او و مې نه شوای کولای پاتې ۴۰۰۰۰ افغانۍ برابرې کړم. هغوي زه د تیلفون له لارې ډاروم‌ څو پاتې پیسې دوي ته وسپارم خو که چیرې زه دوي ته پیسې ور نه کړم نو دوی به بیا ما د ضمانت کونکو کسانو په مرسته دوباره احضار کړي. ما د خپلې ښځې ګاڼې خرڅې کړي او د دوي لپاره مې نورې پیسې برابرې نه کړي. د پاته پیسو د نه برابرولو په خاطر د دولت ضد عناصرو د یوې ډلې سره یو ځای شوم. بیا ما د حکومت په وړاندې د خلکو په تحریک کولو پیل وکړ او هغوي ته به مې ویل چې د ولسوالۍ د کچې حکومت په فساد ککړ دی. ما حکومت او د کلي مشرانو ته زموږ کلي او نورو شاخوا کلیو ته د ننوتو اجازه نه ورکوله. بیا طالبانو ما ته د خاصو خلکو د وژلو دنده وسپارله، هغوي په دې سره غوښتل زما په وړاندې یوه جنایي دوسیه جوړه کړي څو په راتلونکې کې د حکومت سره یو ځای نه

شم. زه د طالبانو په خصمانه نيت پوه شوم او د سولې له پروسې سره يو ځای شوم.″

يو شمير ګډونوال دا خبره منی چې په رياستونو او لوړ پوړو چارواکو کې فساد شتون لری.

د ولايتی شورا يوه تن غړي وويل:

″د حکومت په دننه کې تر ټول په فساد ککړ په خپله وزيران دي. د نړيوالې ټولنې کمه برخه پيسې په کوچنيو پروژو مصرفوي خو زياته برخه يې په فساد ککړو وزارتونو حيف و ميل کړې.

دولتي فساد څنګه کار کوي، په لاندې ډول دی: کله چې په يوه ولايت کې کوم ښوونځی جوړيږي، ولايت دا صلاحيت نه لري چې په مستقيم ډول د ساختماني شرکت سره قرارداد وکړي. د معارف وزير د ساختماني شرکت سره تړون کوي او وزارتونه خپل خپلوان په دندو ګماري.″

د بشری حقونو يوې فعالې وويل:

″ما ته داسې يو مورد معلوم دی چې د طالبانو د يوه ورور ښځې خپلې ګاڼې د جهاد د تمويل په موخه خرڅې کړي. دا په دې مانا ده چې د طالبانو په منځ کې داسې کسان هم شته چې ټينګه عقيده لري. هغوي د معاش او پيسو لپاره کار نه کوي، زياتره خلک د ادارې فساد او د عدالت د نه شتون په خاطر د طالبانو ليکو ته ځي. بايد يادونه وشي چې د دولتي عدلې سيستم په پرتله د طالبانو عدلي سيستم غښتلی دی. د طالبانو په سيستم کې، هيڅوک د قانون څخه پورته نه دی، هيڅوک نه شي کولای د طالبانو د قانون څخه تيښته وکړي.″

يو تن ښوونکی:

″زموږ څارنوالان بډې اخلي خو د طالبانو هغه بډې نه اخلې. د کارکونکو اوسط معاش ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ ده په داسی حال کې چې د ښوونکو معاش يواځې ۵۰۰۰ افغانۍ ده. زما خپلوان د طالبانو سره دي. زه هم د طالبانو سره وم خو زه د طالبانو د سيستم سره نه وم. موږ هم د دولت په اړه بې وسه يوو: قانون شته،پوځ او بيلابيل دولتي رياستونه شتون لري، موږ دولت ته رايه ورکوو، موږ د قانون حاکميت غواړو. دولت بايد د قانون د انفاذ په ادارو کې ادارې فساد له منځه يوسي. دا د خلکو توقعات دي.″

د جوزجان ولايت د معارف په رياست کې د ادارې فساد شتون هغه جدي اندېښنه وه چې د خبرو اترو په ټولو پروسو کې مطرح شوه: د جوزجان اوسېدونکو باور درلود چې د معارف د يوه غښتلې سيستم په نه شتون کې او د جوزجان ولايت په معارف رياست کې د ادارې فساد شتون په جوزجان کې د معارف سيستم لا نور کمزوری کړی دی. ګډونوالو باور درلود چې نا لوستی کسان په اسانی سره د ياغې ډلو له خوا تير ايستل کيږی.

د خواجه دو کوه د ولسوالۍ څخه د کلي يوه مشر وويل:

"د شخړې اصلي فاکټور بې سوادي ده. نږدې ۷۰ سلنه خلک بې سواده دي. نا لوستی سړی د يوه ړانده شخص په شان وي. ړانده کسان په اسانې سره د تيارو طرف ته سوق کيدای شي."

د مورديان د ولسوالۍ څخه يوه تن ځايي شخص وويل:

"هغه ښوونکي چې په ازموينو کې پاته راغلي د بډو له امله په دندو ګمارل شوي. کله چې د نظارت او تحليل ټيم د معارف د کيفيت د ارزولو په موخه ښوونځيو ته مراجعه کوي، هغوي د ښوونکو کورونو ته ځي او د هغوي سره د غرمې او شپې ډوډې خوري. هغوي د خلکو سره د معارف په برخه کې د هغوي د ستونزو په هکله خبرې نه کوي. تر هغو چې زموږ خلک د سواد له نعمته برخمن نه شي، دوي به په دې پوه نه شي چې څه قانوني او څه قانوني نه دي."

**د ټولنيز ګډون نه شتون** لاندې فاکټورونه، د بيلګې په توګه، په جوزجان ولايت کې قومی تبعيض، خپلولې پالنه، د يووالې نه شتون او غير سالمې سياسی سيالې د شخړې مهم لاملونه دی.

د يوې عالې ليسې مدير وويل:

"کله چې يوه خاصه قومې ډله کومه سياسي ډله را منځ ته کوي او په دولت کې لوړ موقفونه خپلوي، نو بيا کوښښ کوي د خپلې قومې ډلې څخه ملاتړ وکړي. دغه په ولايت کې د ټولنيز او سياسي مشارکت په حقونو هم منفې اغيزې شيندي. اوسنۍ وضعيت عادلانه نه دی او دا د شخړې لامل کيږي."

"د جوزجان په ولايت کې په دولتی ادارو کې تولنيز مشارکت کمزوری دی. که چيرې د يوې ادارې رييس پښتون وي، معاون يې بايد ازبک وي، يا يې بايد معاون پښتون وي، او د نورو واحدونو مشران بايد د نورو قومې ډلو استازې وي. خو په جوزجان کې- که چيرې رييس ازبک وي، کارکونکي ټول ازبکان

وي. ″ که چيرې رييس هزاره وي، کارکونکي ټول هزاره وي. د دولتي اداره څخه يې خپلې کورنۍ جوړي کړي دي.

**د جنگ اقتصاد:** د ټولو متمرکزو ګروپی مباحثو په جريان کې خلکو ادعا کوله چې په ولايت کې د سولې د تامين په لار کې تر ټولو لوی خنډ د جګړې اقتصاد دی. هغوی استدلال کاوه چې د ځينو با نفوذه فعالينو لپاره د شخړې موجوده حالتونه اقتصادی ګټې زيږوی.

″ که چيرې سوله تامين شي، هغه خلک چې په جګړه کې ښکيل دی هغوي به خپلې عايداتې سرچينې له لاسه ورکړي. ځکه نو دا خلک زموږ په ولايت کې سوله نه غواړي- هغوي جنګ خوښوي.″

يوې ښځينه ښوونکې وويل:

″د چا ګټې چې په جګړه کې نغښتي وی هغه سوله نه خوښوي. هغوي دعوه کوي چې د سولې غوښتونکي دی خو په حقيقت کې سوله نه خوښوي. بيلکې په لاندې توګه دي: په فساد ککړ کسان په لوړو موقفونو کې په دندو ګمارل شوې، د تدارکاتو يا ساختمانې چارو لوې شرکتونه چلوي. د دې سربيره، هغه کسان چې لاسونه يې د بې ګناه خلکو په وينو ککړ دي ( د مثال په ډول، هغه چا چې جنګې جرمونه او يا د بشريت په وړاندې جنايتونه ترسره کړي ) هغوي سوله نه خوښوي.″

د ولايتی شورا يوه تن غړی هم دا مسله چې ولې ځينې کسان جنګ ته د عايداتو د يوه فرصت په سترګه ګوری تشريح کړه ، په خاص ډول په يوه داسې چاپيريال کې چيرې چې کارونه کم وی.

″د طالبانو يو قوماندان چې تورن امرالله نوميږي د ټولنو څخه عشر او زکات (نا قانونه ماليات) ټولوي. نوموړې خپل کسان راټول کړل تر څو د هغوي څخه پوښتنه وکړي چې دولت خپلو سرتيرو ته څومره معاش ورکوي. د نوموړې سرتيرو په ځواب کې وويل چې د مياشتې ۸۵۰۰ افغانۍ. نو بيا تورن هغوي ته د کال ۱۲۰۰۰۰ افغانۍ معاش ورکړ.″

**د دولت ضد عناصرو په واسطه تهديد:** ګډونوالو ادعا کړې چې د اقتصادی فاکتورونو پرته، که چيرې هغوی د طالبانو سره يو ځای نه شی په ځينو مواردو کې خلک په مرګ ګواښل شوې.

د درزاب د ولسوالې څخه يوه تن پخوانې قوماندان وويل:

"طالبانو موږ په مرګ وګواښلو که موږ هغوي ته ټوپکونه او کلاشنیکوفونه و نه پیرو. موږ له ډاره د هغوي له پاره د ۱۲۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت ټوپکونه او کلاشنیکوفونه وپیرل. زیاتو کسانو د هغوي لپاره ټوپکونه را ونیول. بیا موږ د یوې مودې لپاره د هغوي لپاره کار وکړ. هغوي زموږ سره ښه چلند درلود او موږ ته یې اوبه او ډوډې را کوله او په منظم ډول یې د میاشتې له ۸۰۰۰ تر ۱۰۰۰۰ افغانۍ راکولې. اوس طالبان خلکو ته د میاشتې ۲۵۰۰۰ افغانې ورکوي. د سولې پروسې خلکو ته یوه اندازه پیسې ورکړې خو دومره نه لکه طالبانو."

**د دولتي فعالینو په واسطه سرغړونې:** د دولت ضد عناصرو سره د خلکو د یو ځای کیدو یو بل فاکټور د ځایي حکومت له خوا د خلکو سره ناوړه سلوک ښودل شوی چې دې مسلې ته هم بیلابیلو ګډونوالو اشاره کړې.

"خلک د دولت د ځورونکې سلوک څخه په تنګ راغلي او له دې امله د دولت ضد عناصرو سره یو ځای شوي. د بیلګې په توګه، د درز اب په والسوالۍ کې د مدرسو څخه خلک ایستل شوې او بېرې او سرونه یې په عام محضر کې خریيل شوې، خلک په دې کار سره په غصه شوې او په نتیجه کې د طالبانو سره یو ځای شوې."

یوه تن ښوونکې وویل:

"زموږ خپلوان د طالبانو سره د پیسو په خاطر نه دې یو ځای شوي. حتی شتمن خلک د طالبانو سره د ملي امنیت د ادارې له خوا د ځورونو په خاطر له طالبانو سره یو ځای کیږي."

**د کافی امنیت نه شتون:** د ټولو متمرکزو ګروپی مباحثو په جریان کې خلکو په ډاګه کړې چې افغان ملی امنیتی ځواکونه د پرسونل او سرچینو له لحاظه د بحران سره مخ دی او نه شی کولای په خاص ډول د ولسوالې د دومره زیاتو وګړو لپاره پایښت لرونکی امنیت برابر کړی:د خواجه دو کوه د ولسوالې څخه یوه تن استازې وویل:

"د خواجه دو کوه په ولسوالې کې د افغان ملي پولیسو نه شتون یوه مسله ده. امنیتي حالت په خرابیدو دی. موږ د ولسوالې د پولیسو په ریاست کې ۱۶-۱۷ افغان ملي پولیس لرو. څنګه کیدای شي ۱۷ تنه افغان ملي پولیس د ۱۹ کلیو امنیت تامین کړي، ګزمې ترسره کړي او د ۵ کیلو متره لوې لارې امنیت وساتي. دولت ضد عناصر د ۵ کیلو مترو په واټن کې زموږ د ولسوالې څخه لرې دي. خلک په رښتیا په ویره کې ژوند کوي. پولیس همیشه ادعا کوي چې پولیس هر وخت، شپه او ورځ د خلکو په خدمت کې دي، په داسې حال کې چې

پوليس نه شي کولای پخپله د ځان لپاره امنيت ټينګ کړي، نو څنګه کيدای شي د نورو خلکو لپاره امنيت تامين کړي. زموږ ښوونکې د خپل امنيت په اړه انديښمن دي. دولت ضد عناصر د خلکو سره ناوړه چلند کوي. د پوليسانو تشکيل د ولسوالۍ د امنيت د برابرولو لپاره کافی نه ده.″

د دې سربيره، د ټولو شپږو متمرکزو ګروپی مباحثو په جريان کې خلک په جوزجان ولايت کې د افغان سيمه ييزو پوليسو څخه ډير نا خوښ وو.

يوه با نفوذه شخص وويل:

″افغان سيمه ييز پوليس يوازي د خپل ځان ساتلو لپاره د ځان سره وسلې ليږدوي.″

د ښوونځې يوه تن شاګرد وويل:

″د اربکيانو،محلې قومندانانو او جنګسالارانو په شمول يو شمير وسله والې ډلې په مستقيم ډول د مخ پر زياتيدونکو نا امنيو سره تړاو لري، موږ تجربه کړې.″

د درزاب د ولسوالۍ څخه د کلې يو تن مشر:

″ د درزاب د ولسوالۍ په اقسای کلې کې طالبان او افغان سيمه ييز پوليس دواړه په محلي خلکو فشار اچوي تر څو د مخالف اړخ سره طرف و نه نيسي. خلک د دې وضعيت څه په تنګ شول او د ولسوال څخه يې د افغان سيمه ييزو پوليسو د بنديدو غوښتنه وکړه.″

**د سولې غير موثره پروسه:** د افغان سولې او پخلاينې د پروګرام مطابق، د محلې حکومت د سولې اجنډا دا ده چې د دولت ضد عناصرو ته د سولې د پروسې سره يو ځای کيدو او ياغيتوب ته د خاتمه ورکولو په خاطر کارې فرصتونه او حرفوی روزنې برابرې کړی.[۱۷۳] ګڼون کونکو خپلې انديښنې په داګه کړې او ويلې يې دی چې دا وعدی له درواغو ډکې او عملې نه دی. هغوی ادعا کړې چې کله دولت ضد عناصر د سولې د پروسې سره يو ځای شی نو هغوی ته يواځې يوه چوپانه او ۲۰۰۰۰ افغانۍ ورکول کيږی، دا کافی نه ده او هغوی بيرته د دولت ضد عناصرو سره يو ځای کيږی. د ولايت په کچه د سولې د پروسې

[۱۷۳] د افغانستان د سولې او پخلاينې د پروګرام مطابق، هغه پخوانې جنګيالې څوک چې د خشونت څخه لاس اخلی، د افغانستان اساسی قانون منی، د قانون په حاکميت کې ژوند کوی، د دولت ضد عناصرو ملاتړ نه کوی او د هغوی سره اړيکې شلوی ، کولای شی په خپلو ټولنو کې مدغم شی. د هغوی سره بـه د معارف او حرفوی زده کړو، ساتنې او امنيت په برخه کې مرستې وشی. د ملی امنيت شورا، د ډی او آر کميسيون ، د افغانستان د سولې او پخلاينې پروګرام وګوری، د ۲۰۱۰ کال جولای. په لاندې پته د لاسرسی وړ ده:

مسول ارګان یعنی د سولې ولایتی شورا ته د یوه سمبولیک ارګان په سترګه کتل کیږی. د حکومت سره د تړاو په خاطر ګډونوال د سولې د ولایتی شورا خپلواکې او د ادارې فساد او خپلولې پالنې له امله د بیا یو ځای کیدنې د پروسې موثریت تر پوښتنې لاندې نیسی.

په جوزجان ولایت کې د سولې د ولایتی شورا او د دې شورا د غړو موجوده خصوصیات، د کومو په اړه چې د خبرو اترو په جریان کې خبرې وشوې، د لاندې اقتباسونو له لارې خلاصه شوې:

د پوهنتون یو تن استاد:

"د سولې ولایتي شورا یو سمبولیک ارګان دی. د یوه داسې سمبولیک ریاست اړتیا نه لیدله کیږي چې خلک و غولوي."

د پوهنتون یوه ښځینه زده کونکې:

"د سولې د ولایتی شورا غړی د دولت کارکونکی دی. هغوی د سولې په هکله د پوهاوی لپاره وخت نه لری ځکه چې هغوی د خپلو دولتی کارونو سره بوخت وی او یا د خپلو لوړ پوړو چارواکو څخه ویره لری. د دې سربیره، د زورواکو خپلوان د سولې د ولایتی شورا د غړو په حیث په دندو کمارل شوې. دا به ښه وې که چیرې د سولې د ولایتی شورا غړی په خپلواکه توګه وټاکل شی."

د مدني ټولنې یو تن غړی:

"د سولې د ولایتي شورا د غړو د انتخاب لپاره د معیارونو یوه مجموعه موجوده ده. والي او د کښته کچې نور چارواکي په دې چارو کې مداخله کوي او په معیارونو سترګې پټوي. هغوي خپل دوستان، خپلوان، د سیاسي ګوند غړي، همکاران او داسې نور په دندو ګماري. ځکه نو د سولې د ولایتي شورا غړي نه شي کولای د سولې یوه کامیابه پروسه پر مخ بوزي- په دې خاطر چې هغوي لازم مهارتونه نه لري. کله چې د سولې د ولایتي شورا غړي ټاکل کیږي نو د عادی افغانانو نظریې نه پوښتل کیږي."

د شبرغان ښار یو تن اوسیدونکی:

"د سولې موجوده ولایتي شورا ته طالبان د دولت د یوه ارګان په سترګه ګوري. ځکه نو، د سولې د ولایتي شورا په غړو کې باید څه نا څه بدلون راشي."

د سولې د پروسې د یوې برخې په حیث، د بیا رغونې او حرفوی روزنو د پروژو په اړه د خلکو نارضایتی د لاندې اقتباسونو له لارې تشریح شوې:

"د حرفوي روزنو یو شمیر پروګرام کونکو د سولې جوړونې د بودیجې د کارولو لپاره هڅې ترسره کړې. ټولټال ۱۲۰ تنه روزل شوي. نږدې ۴۰ سلنه ګډونکونکي په شرایطو برابر کسان نه وو، هغوي یا خو د دولتي کارکونکو خپلوان او یا هغه کسان وو چې په اصل کې موجود نه وو او نومونه یې ثبت شوي وو او اختصاص شوې پیسې یې اخیستې وي. دا حالت د ځایي حکومت د فشار له امله را منځ ته شوی. د حکومت کارکونکو او د هغوي کورنیو ته نه بلکه د دولت ضد عناصرو او د هغوي کورنیو، د شهیدانو، معیوبو او نیستمنو خلکو د کورنیو غړو ته په اصل کې باید لومړیتوب ورکړل شي."

د جوزجان د ولایتی شورا یوه تن غړی څوک چې د قوش تپې د ولسوالۍ څخه استازیتوب کوی، وویل:

"دوه کاله پخوا، د کار او ټولنیزو چارو د ریاست رییس موږ ته د قوش ټپې او درزاب په ولسوالیو کې د سولې د پروسې د یوې برخې په حیث، د یوې حرفوي پروژې چې ارزښت یې ۲۸۰۰۰۰ امریکایي ډالره وو اطلاع راکړه. څه موده وروسته، د کابل څخه د نظارت یوه هییت زموږ( د سولې د ولایتي شورا) څخه وپوښتل چې په قوش تپه او درزاب ولسوالیو کې کومه حرفوي پروژه فعاله ده. موږ (د درزاب او قوش تپې د ولسوالیو څخه دوه تنه استازي) د هیڅ ډول پروژې څخه خبر نه وو. هییت موږ ته یو تفاهم لیک را ښکاره کړ چې د ولسوال له خوا څخه د حرفوي پروژو د فعالیت د تصدیق په موخه لیکل شوی و."

د یوه تن بل ګډون کونکی په حواله:

"د سولې د پروسې د بودیجې څخه، یو ښوونځی د درزاب ولسوالۍ د مغولو په کلي او بل ښوونځی د قوش تپې د ولسوالې د شیر بک په کلي کې جوړ شوی. دا حرفوي پروژه چې لګښت یې ۲۱۰۰۰۰ امریکایي ډالره ده، د ولایتي شورا له خوا تمویل او د کار او ټولنیزو چارو د ریاست له خوا تطبیق شوې، دا پروژه بریالۍ نه وه او د فساد ښکار شوه. همدارنګه د کلیو د پراختیا د ریاست له خوا د یوې بلې زیربنایي پروژې په برخه کې پاته راتللو چې تمویل یې د سولې د ولایتي شورا له خوا ترسره شوی و چې موخه یې د دوو سړکونو (د غلجې خاني څخه تر قازیل ایاض او د مصر اباد څخه تر چوباش) د کیفیت ښه کول وو، موږ دې ته اړ کړو چې په دې هکله شکایت درج کړو. د ارزونې په موخه یو هییت سیمې ته راغی خو هیڅ یې ترسره نه کړل. فکر کوم هییت ته یې بډې ورکړې."

خلکو د دولت ضد عناصر په هکله څوک چې د سولې له پروسې سره یو ځای شوی، د مالې سرچینو او کارې فرصتونو په اړه چې د ټولنو سره د بیا یو ځای کیدونکو سره په نظر کې نیول شوې بیلابیل نظرونه وړاندی کړل.

بیلابیلو ګډونکونکو ادعا کوله چې دوی شاهدان دی او د لاندې بیان سره یې توافق ښکاره کړی:

"یو شمیر خلک چې په اصل کې د دولت ضد عناصر نه وو د سولې د ولایتي پروسې سره یو ځای شول او خپل زاړه ټوپکونه یې ور وسپارل او هغه پیسې یې تر لاسه کړي کومې چې د سولې د ولایتي شورا له خوا دوي ته په نظر کې نیولې شوې وي."

ګډونوالو دا نظر هم شریک کړی چې د سولې د ولایتی پروسې سره زیاتره یو ځای شوې کسان په اصل کې ایدیالوژیکی تحریک شوې یاغیان نه بلکه هغه کسان وو چې د بې کارې له وجې په اجباری ډول له یاغیانو سره یو ځای شوی وو.

د دې سربیره خلکو ادعا کړې چې د سولې ولایتی شورا د مدغم شویو پخوانیو یاغیانو سره د کارې فرصتونو او ملی ملاتړ د برابرولو په برخه کې په خپلو وعدو کې پاتې راغلی چې په نتیجه کې یې مدغم شوې کسان بیا د دولت ضد عناصرو سره یو ځای کیږی.

"هغه دولت ضد عناصر چې د سولې له پروسې سره یو ځای شوې هغو ته ویل شوې چې د سولې له پروسې سره د یو ځای کیدو په بدل کې به هغوي ته مالي ملاتړ ورکړل شي. ځکه نو هغوي د سولې له پروسې سره یو ځای کیږي. کله چې هغوي (مدغم شوې یاغیان) حقیقت په سترګو ویني چې د هغوي سره مرستې نه کیږي، هغوي بیا د دولت ضد عناصرو سره یو ځای شي. هغوي ته باید غلطې وعدې ور نه کړل شي."

**بهرنۍ مداخله:** د سلا مشورو په جریان کې افغان نارینه وو او ښځو وښودله چې پاکستان د افغانستان په وسله واله شخړه کې په مستقیم ډول ښکیل دی.

د مینګاجیک د ولسوالی څخه یوه تن ځایي نارینه وویل:

" په پاکستان کې مدرسې اصلي فاکټور دي. یو شمیر ځوانان د دیني زده کړو د تر لاسه کولو لپاره پاکستان ته ځي خو په عوض کې هغوي ته د طالبانو او ځانمرګې بریدګرو زده کړې ورکوي."

د درزاب د ولسوالې څخه یوه تن مشر وویل:

"دا څرګنده ده چې په جوزجان کې طالبان د پاکستان سره مستقیه اړیکه لري. د بیلګې په توګه، مولوي نعمت چې یو تن مفتي دی د طالبانو د سترې

محکمې د رییس په توګه کار کوي او په جوزجان کې د طالبانو یو لوړ پوړی غړی دی. هغه په منظم ډول پاکستان ته ځي او هلته د څو میاشتو لپاره اوسیږي. هغه به د هغه ځایه څخه هرومرو لارښونې تر لاسه کوي."

## ۴. د سولې ځایي طرح

په جوزکان ولایت کې د متمرکزو ګروپي مباحثو په جریان کې، خلکو د زمینې سره د اړوندو او محلي نوښتونو وړاندیز وکړ چې موخه یې په ولایت کې د اصلي لاملونه ځوابول وو. خو دا نوښتونه د دولتي ادارو تر پیاوړې کولو او اصلاح کولو، د امنیتي ادارو د ظرفیت تر ښه کولو ، د اداري فساد او خپلولۍ تر له منځه وړلو، د قانون د حاکمیت څخه تر ډاډ حاصلولو، د خلکو په واسطه د سولې او پخلاینې د یوې خپلواکې او موثرې پروسې تر غښتلتیا او توانمند کولو او د سولې او پخلاینې په پروسه کې د عادي افغانانو تر ښه ګډون او تر اقتصادي او ټولنيزې پراختیا پورې محدود نه دی. د اوږمهاله سولې لپاره د خلکو ریښتنې او عملي نوښتونه په عمومي ډول د لاندې څلورو مرتبطو موضوعاتو لاندې راځي.

**د حکومتولې، امنیت او ټیکاو پیاوړي کول:** خلکو وویل چې په جوزجان ولایت کې د پایدارې سولې او ټیکاو د را منځ ته کولو لپاره اساسي فاکتور د حسابورکونې او د محلي دولتي ادارو د مشروعیت څخه ډاډ حاصلول دی. خلکو د دولت د مشروعیت نه شتون، کمزورې حالت، د امنیتي ارګانونو د ظرفیت د را منځ ته کولو په برخه کې نا کارایي ته تر څو په موثره توګه امنیت او د قانون حاکمیت را منځ ته کړی او همدارنګه د قدرت د محلي دلالانو او جنګسالارانو په واسطه د دولتي واک او نفوذ څخه ناوړې استفادې ته اشاره کړې.

د سلا مشورو په جریان کې چې کومې اندیښنې مطرح شوې یوه هم په ولسوالۍ کې د ولسوالۍ د وګړو په پرتله د افغان ملي پولیسو د کم شمیر شتون دی:

"په ځینو خاصو ولسوالیو کې د پولیسو شمیر د یوې خاصې سیمې په پرتله ډیر کم دی. د بیلګې په توګه، په یوه ولسوالۍ کې د پولیسو شمیر د ۲۰-۲۵ تنو پولیسو تر منځ دی، په داسې حال کې چې د وګړو شمیر د ۶۰۰۰۰ او ۸۰۰۰۰ کسانو تر منځ دی. څنګه کیدای شي دومره کم پولیس د دومره زیاتو کسانو لپاره مناسب امنیت برابر کړي؟ د پولیسو د پیاوړتیا په مسله (د پرسونلو او تجهیزاتو په حواله) همیشه خبرې شوې او په دې هکله وړاندیزونه وړاندې شوې خو تر اوسه په دې اړه کوم اقدام نه دی ترسره شوی. په داسې حال کې چې په لرې پرتو او سرحدي سیمو کې د لا زیاتې قوې لپاره ټینګه اړتیا لیدل کیږي، له بله پلوه د افغان ملي امنیتي ځواکونو قوت په ښارونو او لرې پرتو سیمو کې په کمیدو دی." (د دولت یو تن کارمند)

خلکو سپارښتنه کړې چې دولت باید افغان سیمه ییز پولیس او ناقانونه وسله والې ډلې له منځه یوسي او په ځای یې د دولتي ځواکونو په ځواکمنتیا تمرکز وکړي.

د یوه ګډونوال په حواله،

"افغان سیمه ییز پولیس ۳۰ سلنه ګټور او ۷۰ سلنه مضر دي. د هغوي د شتون لپاره هیڅ ډول اړتیا نه لیدل کیږي. بهتره ده د افغان سیمه ییزو پولیسو په ځای افغان ملي امنیتي ځواکونه پیاوړي شي. افغان ملي امنیتي ځواکونه د دولت د ملا د تیر حیثیت لري- که چیرې د دولت د ملا تیر شل وي، نو بیا به دولت وړتیا و نه لري."

سربیره پر دې، ګډونوال په دې نظر وو چې د سولې په ولایتي شورا کې باید اصلاحات راوستل شي، ځکه چې هغوی وایې دا "د پیسو ضایع کول دي." هغوی ادعا کوي چې یوه اندازه زیاتې پیسې د هر ډول لاسته راوړنو پرته په دې نوښت لګیدلې دي، او د هغوی په اند دا پیسې باید د افغان ملي امنیتي ځواکونو په پیاوړتیا ولګول شي.

د شخړې د محرکاتو سره په سمون کې چې د ګډونوالو له خوا پیژندل شوې د واک څخه ناوړه ګټه اخیستنه او د دولتي فعالانو له خوا ترسره شوې سرغړونې شاملې دي. د دولت په دننه کې د سیاسي مداخلت او خپلولۍ سره د مبارزې په خاطر، خلک په دولت کې د حسابورکونې او اصلاحاتو غوښتنه کوي.

د درزاب د ولسوالۍ د سر دریا د کلي څخه یوه تن مشر وویل:

"دولتي چارواکي د خلکو سره په ځانګړې ډول د علماوو سره ناوړه چلند کوي. دا لامل شوی چې خلک د دولت څخه واټن ونیسي. له دې وروسته، باید دولت د خلکو په وړاندې خپل چلند ته بدلون ورکړي او باید د خلکو په خدمت کې و اوسي."

د خامیاب د ولسوالۍ څخه یو تن ځایې شخص:

"کله چې موږ په دولت کې شایسته سالارۍ ولرو، موږ به سوله ولرو. دا په دې مانا چې خلک باید د راوابطو او بډو پر اساس نه بلکه د وړتیا پر اساس په دندو وګمارل شي."

**د بشري حقونو ترویج،د اداري فساد، بې عدالتي، معافیت او د قانون د حاکمیت د نشوتوالي سره مبارزه:** د خبرو اترو د پروسې په جریان کې خلکو عمومي باور درلود چې د بشري حقونو ترویج او ساتنه، د قانون د حاکمیت ښه کول او د اداري فساد او معافیت په وړاندې مبارزه باید د دولت په لومړیتوبونو کې ځای ولري تر څو په ولایت او هیواد

کې په ترتیب سره پایښت لرونکې سوله تامین شی. لاندې اقتباسونه په دې هکله د خلکو نظریې او سپارښتنې را نغاړی.

"که چیرې د مشرتابه په کچه مهم کسان وټاکل شي خو په خپله صادق او د اخلاقو څښتن نه وي او په بدل کې د نورو حقونه تر پښو لاندې کړي او د بشریت په وړاندې په جرمونو او جنګې جرمونو کې ښکیل وي، نو هیڅ وخت به ریښتنې سوله تامین نه شي. سوله د پروپاګندې، خپرونو او اعلانونو له لارې نه تامینیږي..."

د شبرغان د ښار ښځه د ښوونځي یو تن ښوونکې د عدالت د تامین لپاره د اصلاحاتو غږ پورته کړ:

"تر هغو چې اصلاحات را منځ ته نه شي عدالت نه شي تامینیدلای. که چیرې موږ د اصلاحاتو یوه ښه بیلګه و نه لرو ، دولت ضد عناصر به د سولې له پروسې سره یو ځای نه شي. د دې لپاره چې د جوزجان په ولایت کې سوله تامین شي دا به ښه و ي چې موږ ځینې اصلاحات را منځ ته کړو."

خلکو د بشری حقونو د درناوی او د بشری حقونو د سرغړونو لپاره هم د حساب ورکونې غوښتنه کړې:

"هغو کسانو چا چې پخوا خلک وژل، اوس په واک کې دي او لا هم په معافیت سره د خلکو وژلو ته دوام ورکوي، هغوي اوس هم په قدرت کې دي. خلک اوس هم د دې کسانو، د بیلګې په توګه، د قدرت د ځایې دلالانو او سیاسي مشرانو په مرحمت باندې ژوند کوي. موږ پوهیږو چې که چیرې اصلي مرتکیب (یوې پیښې ته په ارجاع سره په کومه کې چې یو تن زورور چارواکی ښکیل و) ونیول شي نو نوموړی به په ډیر قوي باور د زورواکو له خوا په ټیلفون را خوشی شي. تر هغو چې خدای و نه غواړي، زه فکر نه کوم چې زموږ مشران به سوله راولي."

خلکو ادعا کړې چې کوم دولتی چارواکی چې په یوه ولایت کې جرم ترسره کړی، دسزا ورکولو په ځای په بل ولایت کې په لوړو موقیفونو مقرریږی.

خلکو د ادارې فساد سره د مبارزی په خاطر لاندې رښتنې سپارښتنې په کومو چې تر زیاتې اندازې د ګډونوالو له خوا هوکړه شوې، وړاندې کړې.

د مدنې ټولنې یو تن استازې وویل:

"د دې په خاطر چې د اداري فساد سره مبارزه وشي، د ولايتي کادرونو د موقيفونو لپاره بايد د کار په لايحه کې د اخلاقي اړتياوو يوه مجموعه يو ځای شي. همدارنګه د کارې تجربې تر څنګ، ريښتنولې هم ډيره مهمه ده. د نوموړې د اخلاقي سلوک او صداقت تر څنګ، د نوماند د کرکټر او کارې زمينې ارزونه او څيړنه او داسي نور شيان ... هم ډير اړين دي. د پوليسو د رياست او يا محکمې مسول شخص بايد وړتيا او اخلاقي ارزښتونه ولري. د دې کار په نتيجه کې به اړونده څانګه هم د داسی کسانو په استخدامولو سره وکولای شي خپل کارونه په موثر ډول پر مخ بوزي. که چيرې د ادارې مشر په فساد ککړ وي نو د رياست ټولې څانګې به د ادارې فساد له امله په منفې توګه اغيزمنې شي."

ګډونوالو د هغو ټولو کسانو څوک چې په ادارې فساد کې ښکيل دی، د هغوی د اقتصادی او سياسی موقيفونو د نه په پام کې نيولو سره د څيړنو او حسابورکونې غږ کړی:

"کله چې د ادارې فساد په هکله د يوه عادې کارمند په وړاندې چې کمې پيسې يې هم اخيستي وي، شکايت وشي، په هغه عدالت جارې شي. خو کله چې د يوې سترې تعميراتي کمپنۍ په هکله چې په ميليونونو ډالر يې اختلاس کړې وي، شکايت وشي، هيڅ ډول څيړنې نه ترسره کيږي. ولې؟ دا په دې خاطر چې وزارتونه، واليان او نور چارواکي په دې سترو تعميراتي قراردادونو کې ښکيل وي."

يوې ښځينه مدافع وکيلې د ادارې فساد په وړاندې د مبارزې د قانون د پلې کيدو غوښتنه وکړه:

"د نا امنې او بې ثباتې اصلي لامل د قانون د حاکميت نه شتون، په خاص ډول د ادارې فساد په وړاندې د مبارزې د قانون نه تطبيق دی ، د بيلګې په توګه، د پيسو منځلو قانون. موږ زيات قوانين لرو خو ټول سمبوليک دي او نه دي پلې شوې. هغه څوک چې بايد قانون تطبيق کړي هغه په خپله قانون نقضوي. په خپله چارواکي او قضا قوانين نقضوي. د پيسو د منځلو د قانون نه پلې کول په جوزجان او د هيواد په نورو ولايتونو کې امنيت او ټيکاو له خطر سره مخ کوي. هغو کسانو چې پخوا يواځې يوه هټۍ درلوده اوس په هيواد دننه او بهر کې يو شمير شرکتونه لري. د هغوی څخه پوښتنه نه ده شوې چې دوی دا دومره ډيرې پيسې له کومه کړې. د يوې مدافع وکيلې په حيث، ما داسې يوه دوسيه هم چې په هغو کې د پيسو منځل شامل وي، نه ده ليدلې.

نږدې ټولو ګډونوالو د معارف د ریاست د رییس په هکله شکایت درلود. ګډونوالو داسې بیلګې وړاندې کړې چې په شبرغان ښار کې د ښوونکې یوه څوکۍ په ۱۰۰۰ امریکایې ډالره او په وسلوالیو کې د ښوونکې یو څوکۍ په ۳۰۰ امریکایې ډالرو پلورل شوې.

**د سولې د پروسې پیاوړتیا:** د دې په خاطر چې د سولې د ولایتی شورا او د سولې د پروګرامونو د کمزورتیاوو څخه کوم چې د سولې د تامین او د بیا ادغام چارې مختلوی، مخنیوی وشی، ګډونوالو د خپلواکې او د شمولیت څخه د ډاډ حاصلو په خاطر د سولې د پروسې د اصلاحاتو لپاره د ریښتینو نوښتونو وړاندیز کړی.

ګډونوالو د سولې د ولایتی شورا د خپلواکې څخه د ډاډ حاصلو او د دولت ضد عناصرو له خوا د دې پروسې د منلو په موخه ټینګار کړی:

"د سولې د ولایتي شورا غړي دولتي چارواکي دي (د بیلګې په توګه، د سولې د ولایتي شورا رییس). هغوي د ډار او د دولت ضد عناصرو له خوا د نه منلو په وجه د دولت ضد عناصرو سره خبرې نه شي کولای. د سولې ولایتي شورا باید خپلواکه او د هیڅ سیاسي ګوند سره نه وي تړلې. دولتي چارواکي باید د شورا غړیتوب و نه لري. د سولې د ولایتي شورا غړي باید مشران،ملایان او علما، څوک چې طالبانو ته لاسری لري، وي: د جوزجان طالبان د کندهار او هلمند د طالبانو څخه توپیر لري. دلته طالبان ځایي طالبان دي. ځکه نو باید دلته خلک د ځایي طالبانو سره ستونزې و نه لري، ځکه چې موږ ژبه او نور ګډ شیان لرو."

د درزاب د ولسوالۍ څخه یوه تن پخوانې قومندان د بیا یو ځای کیدنې د پروګرام د نه بریالیتوب او همدارنګه د ټولنې سره د بیا یو ځای کیدونکو کسانو له پاره د کارې فرصتونو د برابرولو په هکله خپلې اندیښنې څرګندې کړې. نوموړې د بیا یو ځای کیدنې د پروګرام د لا ښه کیدو غوښتنه کړې:

"ما د جوزجان ولایت په درزاب ولسوالۍ کې د نږدې یو نیم کال لپاره د یوه طالب په حیث د طالبانو سره کار وکړ. بیا زه په دې پوه شوم چې طالبان ښه نه دي. په ۱۳۹۰ کال کې، زه د ۲۸ نورو طالبانو سره د سولې د پروسې سره یو ځای شوم او خپلې وسلې مو په ځمکه کیښودې. دولت موږ ته یواځې یوه چوپانه او ۲۰۰۰۰ افغانۍ چې ۳۰۰ امریکایې ډالره کیږي، راکړي. زما څلور تنه سرتیرې د افغان سیمه ییزو پولیسو په لیکو کې په دندو وګمارل شول خو زه و نه ګمارل شوم. زه په شبرغان ښار کې په یوه کرایې کور کې اوسم او نه شم کولای د کور کرایه ورکړم. د طالبانو څخه د پریکون او د دولت سره د یو ځای کیدو په خاطر زه په درزاب ولسوالۍ کې خپل کور ته نه شم ستنیدلای. زه په

ریښتیا د خپل ټوپک په سپارلو ډیر پښیمانه یم، که چیرې ما نه وای سپارلی او پلورلای مې وای اوس به ما د هغه څه په پرتله چې ما ته دولت راکړي ډیر څه درلودلای. د بیا راستنیدونکو کسانو لپاره هیڅ کار او معاش نه شته. هغوي څنګه کولای شي خپل ژوند ته دوام ورکړي؟ دا د سولې د پروسې تر ټولو کمروزې نکته ده."

په دې حواله، ګډونکونکو د بیرته ستنیدونکو لپاره د اوږد مهاله کارې فرصتونو په را منځ ته کولو ټینګار کړی. دښځو د چارو د ریاست رییس وویل:

"د بیرته ستنیدونکو کسانو لپاره د اوږدمهاله کارې فرصتونو را منځ ته کول مهم دي. هغوي ته یواځې لنډ مهاله معاشونه ورکول کیږي. یواځې پخوانیو جنګیالیو ته، معاشونه ورکول کیږي خو سرتیرو ته نه ورکول کیږي. که چیرې پخوانیو جنګیالیو ته دندي برابرې نه شي، هغوي ممکن د طالبانو سره بیا یو ځای شي. د کارې فرصتونو د نه شتون له امله ځینې بیرته د طالبانو سره یو ځای شوو."

ځینې ګډونوال په جوزجان ولایت کې د سولې ولایتی شورا ته د یوې سمبولیکې شورا او د مالې سرچینو د ضایع کولو په سترګه ګورې او غوښتنه یې وکړه چې د سولې مالې سرچینې دې په عملی اقدامونو ولګولې شی تر څو دولت ضد عناصر د د سولې له پروسې سره یو ځای کیدو ته وهڅوی. یوه با نفوذه شخص وړاندیز وکړ چې:

"د دې ادارې له تاسیس څخه، موږ د سولې د ولایتي شورا کومې لاسته راوړنې نه دې لیدلې. دا به بهتره وای چې دا مالې سرچینې یې په تصفیه خانو او فابریکو لګولې وای، نو په دې سره به کارې فرصتونه را منځ ته شوې وای. د کارې فرصتونو په شتون کې به دولت ضد عناصر د سولې له پروسې سره یو ځای شوې وای."

د دې سربیره، خلکو د سولې او پخلاینې د پروسو په زمینه کې د پخوانې ولسمشر د ځانګړو فرمانونو له مخې د سخت دریځو طالبانو د خوشی کیدو په اړه اندیښنې مطرح کړې. ګډونوالو ویلې چې د دې په خاطر چې بیلابیلې قومی ډلې یا د پارلمان غړی چا چې د ولسمشر د ټاکنو د کمپاین په درشل کې (د ولسمشریزو ټاکنو لپاره چې د ۲۰۱۴ کال د اپریل په ۵ ترسره شوې) د نوموړې څخه ملاتړ کړی وو، خوشاله وساتی د یو شمیر خاصو دولت ضد عناصرو د خوشی کولو په تړاو ځانګړې فرمانونه صادر کړی. د ادعا سره سم دغو کسانو په سیمه کې خپل فعالیتونه له سره پیل کړی او امنیتی وضعیت یې لا هم له بده بدتر کړی.

د مدنې ټولنې یوه تن فعال وویل:

″د دولت اباد په ولسوالۍ کې (فاریاب ولایت،ګاونډ جوزجان) د قومندان عبدالبصیر په ګډون شپږ طالبان ونیول شول او د څرخې پله په زندان کې واچول شول. نوموړی د فاریاب ولایت د یوه تن استازي او د پارلمان د غړي په منځګړیتوب ازاد شو څو د دولت اباد په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو سره بیا یو ځای شي، او د سیمې په امنیتي حالت منفي اغیز واچوي. په لسګونو دولت ضد عناصر چې د درزاب په ولسوالۍ کې فعال وو د منځګړیتوب له لارې له بنده خوشي شول. د دې په خاطر چې بیلابیلې قومي ډلې یا د پارلمان غړي چا چې د ولسمشر د ټاکنو د کمپاین په درشل کې (د ولسمشریزو ټاکنو لپاره چې د ۲۰۱۴ کال د اپریل په ۵ ترسره شوې) د نوموړې څخه ملاتړ کړی، خوشاله وساتي د یو شمیر خاصو دولت ضد عناصرو د خوشي کولو په تړاو ځانګړې فرمانونه صادر کړي.″

**د پوهاوې د لوړولو د پروګرامونو ترسره کول:** د خبرو اترو د پروسې په جریان کې، زیاتره خلک په دې نظر وو چې د مدنې ټولنې سازمانونه او علما کولای شی د سولې په نوښتونو کې دولت ضد عناصر په فعاله توګه ښکیل کړی- د ولت ضد عناصرو سره ناستې ترسره کړی او هغو ته د سولې د پروسې سره د یو ځای کیدو بلنه ورکړی. لاندې د څو اقتباسونو بیلګې دی:

د بشری حقونو فعاله:

″زما له نظره د مدنې ټولنې سازمانونه، هغه چې په کار بلد دي او په بې پرې توګه فعالیت کوي او په کوم ګوند پورې هم تړاو نه لري د منځګړې کونکو په حیث مثبت رول لوبولای شي. ښځینه غړي کولای شي د پوهاوي چارې پر مخ بوزي او د دولت ضد عناصرو د ښځو او میندو سره ووینې او هغوي ته قناعت ورکړي چې د هغوي نارینه خپلوان د سولې له پروسې سره یو ځای شي.″

د پوهنتون استاد:

″موږ اوس هم په خپلو ټولنو کې ډیر مهم او با نفوذه کسان څوک چې په یوه اواز میلیونونه کسان را ټولولای شي، لرو. د بیلګې په توګه، انجنیر نسیم، کولای شي د درزاب ولسوالۍ ټولې ټولنې بسیجې کړې یا په موردیان ولسوالۍ کې مولوي مرادي. او که چیرې جنرال دوستم په خلکو غږ وکړي، د ځوانانو او سپین ږیرو په شمول به ټول خلک د هغه سره یو ځای شي. موږ نه شو کولای د دغو مهمو خلکو د مرستې بغیر سوله تامین کړو. که چیرې مرکزي دولت یو

میکانیزم را منځ ته کړي او د دغو مهمو اشخاصو سره سلا مشورې ترسره کړي بیا به سوله تامین شي. که نه نو، خلک به په ډلو وویشل شي. د خلکو یوه ډله به یو مسیر او بله ډله به بل مسیر تعقیب کړي. کیدای شي شخړې نورې هم اوږدې او له بده بدترې شي او سوله هیڅ کله تامین نه شي."

ګډونوالو همدارنګه وړاندیز کړی چې د ځایي با نفوذه اشخاصو د پوهاوی د لوړولو ډلې دې د ولسوالۍ په کچه هم را منځ ته شی: د سولې د ارزښت، اهمیت او پایلو په اړه خلکو ته ښوونه او روزنه ور وښيي او د جګړې د پایلو په اړه خلک حساس کړی. که چیرې دا پروګرام د جوماتونو د لوډسپیکرونو له لارې پر مخ یووړل شی دغه فعالیتونه باید ټولې ولسوالۍ تر پوښښ لاندې ونیسی او د ټولنو اکثریت وګړې به د دې پروګرام څخه ګټه پورته کړی.

"علما او ملایان په جوماتونو کې مهم رول لوبوي. دواړه ډلې، دولت ضد عناصر او دولت، د جوماتونو څخه د پروپاګندې په حیث کار اخلي. دولت ضد عناصر جوماتونه د دې لپاره کاروي څو خلک وهڅوي چې د دولت کارکونکي ، څوک چې دوي فکر کوي کافر دي، ووژني. موږ غوښتنه کوو چې د سولې په اړه پوهاوی دې په اسلام کې د سولې له ارزښتونو سره یو ځاي شي. روڼ اندې ملایان باید غوره شي، څکه چې هغوي یواځې کولای شي ټولنې ته نجات ورکړي."

**د ټولنیزي- اقتصادي پراختیا او ټولنیز عدالت تحقق:** اکثرو خلکو په دوامداره توګه ویلی چې په جوزجان کې به تل پاتې سوله تر هغو تامین نه شی چې نیستې له منځه نه وی تللی، کارې فرصتونه نه وی را منځ ته شوې،د معارف په سیستم بیا له سره کتنه نه وې شوی او د دې اصل په منلو سره چې زیاتره خلک د بې کارې، نا امیدی او یا د دولت له خوا د خدمتونو په برابرولو کې د پاتې راتلو په خاطر نا امیده شوې، ټولنیزه- اقتصادی پراختیا به تحقق و نه مومی. د جوزجان خلک باور لری چې د عادی خلکو اقتصادی ژوند په په دریج سره ښه شی که چیرې لاندې سپارښتنې پلې شی.

"موږ په (جوزجان کې) ګاز او نفت لرو. که چیرې زموږ د ګازو او نفتو د استخراج لپاره زیربنایي پروژې جوړې شي کارې فرصتونه به را منځ ته شي او د ټولنو او دولت په شتمنیو کې به ښه والی راشي. زموږ جوماتونه، ښوونځې، سړکونه او پولونه به د همدې عایداتې پروژو د تر لاسه شوېو عایداتو څخه و رغول شي."

د ولایتی شورا یوه تن غړي وویل:

″موږ په جوزجان ولایت کې بریښنا نه لرو. موږ د افغانستان څخه د باندې بریښنا را واردو خو دا زموږ د اړتیاوو لپاره بسنه نه کوي. په جوزجان کې د ګازو څاه ګانې او توربینونه موجود دي. ولې د ګازو د څاه ګانو او توربینونو د بیا فعالولو لپاره پانګونه نه کیږي؟ که چیرې په دې برخه کې پانګونه وشي نو خلک به بریښنا او کارې فرصتونه ولري.″

په جوزجان کې د ټولنیز- اقتصادی وضعیت د ښه کولو په موخه خلکو د پراختیایې نوښتونو لپاره لاندې عملی سپارښتنې برابرې کړې.

**د افغان ګاز تصدی او د ګازو او نفتو د تفوصاتو بیا فعاله کول:** د علماوو د شورا یو تن غړي وویل:

″نږدې ۲۰-۳۰ کاله د مخه موږ دوه فابریکې درلودلې. یوه، د افغان ګاز تصدي او بله د ګازو او نفتو تفوصات و. په دې فابریکو کې نږدې ۱۰۰۰۰ کسان په کار بوخت وو. دواړه فابریکې او هغه خام مواد چې په دې فابریکو کې کارول کیږي، لا هم شتون لري.″

د باشو کوه،جرقودوق او جنت خان کلپو کې د ګازو د څاه ګانو څخه ایستنې

د جرقودوق په سیمه کې د طبیعی ګازو څاه ګانې موجودې دی. ګډونوالو استدلال کړی چې که چیرې د یادې سیمې د پراختیا ، د کیندنو، استخراج او د ګازو د څاه ګانو د ترمیم په شمول کومه پروژه موجوده وای نو دا به په هیواد کې د میتانو د ګاز د داخلی سرچینو د کارولو له لارې د بریښنا د تولید لومړنۍ پروژه وای. په داسې حال کې چې د ولایت اړتیا د ۶۰-۷۰ میګاواټو تر منځ ده، ممکن دا پروژه ټولټال ۲۰۰ میګاواټه بریښنا تولید کړی او کیدای شی نور ولایتونه پاته بریښنا و کاروی.

د ځایې شورا یوه تن مشر وویل:

″د ۱۳۷۲-۱۳۸۰ کلونو تر منځ د باشوکوه،جرقودوق او جنت خان په کلیو کې د ګازو یو شمیر څاه ګانې موجودې وې. د قوش تپې او درزاب د ولسوالیو په هر کور کې ګاز موجود و. شبرغان ښار او مزار شریف ته هم تر ۱۳۸۰ کال پورې له همدې ځایه څخه ګاز ته. خو اوس خلک د لرګیو په ځای د ځارویو د خوشایو څخه کار اخلي. یوه بوجۍ یې په ۳۰۰ افغانیو پلورل کیږي. دولت باید د خلکو د ژوندانه د ښه کولو لپاره تصفیه خانه او د ګازو فابریکه جوړه کړي. تر څو به دولت د نړیوالې ټولنې څخه د خیرات تمه کوي؟ د ځایې ټولنې د

یوه غړي په حیث باید ووایم چې ټولو خپل امیدونه له لاسه ورکړي. خلک وایې چې اصلا دولت شتون نه لري."

د گازو او نفتو د فابریکو عادی کاریگر باید د جوزجان د ولایت د اوسیدونکو څخه په دندو وگمارل شی.

د نا دولتی سازمانونو یوې ښځینه کارکونکې وویل:

"په داسې حال کې چې د نفتو او گازو د استخراج په برخه کې بنگالیان او چینایان په دندو گمارل شوې ، خو زموږ عادي خلک د ځان لپاره کار او حتي ډوډي نه شي پیدا کولای. حتی عادي کاریگر هم د هیواد څخه د باندې را وستل شویدي."

یوه ځایې تن وویل:

"دا څرگنده ده چې په جوزجان کې موجوده ستونزې د نیستې او بې کارې له امله را منځ ته کیږي. اکثریت خلک چې د دولت ضد عناصرو سره یو ځای کیږي کارونه نه لري او پیسو ته اړتیا لري. له بده مرغه، هیڅوک هم د دې ستونزې د هوارولو په هکله فکر نه کوي او یواځې په دې فکر کوي چې خپله شتمنې څنگه زیاته کړې او همدارنگه هغه خلک په دندو وگمارې چې د دوي سره مرسته کولای شي. په داسې حال کې چې ځایې خلک په خورا زیاته نیستې کې ژوند کوي، د نفتو د استخراج فابریکه چې په جوزجان ولایت کې تاسیس شوې د کابل، ننگرهار او نورو ولایتونو څخه عادي خلک په دندو گماري."

د دې په خاطر چې پورتنیو مسایلو ته ځواب وویل شی، خلکو لاندې سپارښتنې مطرح کړې: دولت باید د گازو او نفتو د استخراج لپاره فرعی جوړښتونه جوړ کړی او د کانونو په قانون له سره کتنه وشی- او همدارنگه ډاډ حاصل کړی چې د کانونو د استخراج شرکتونه ۴۰ سلنه ځایې وگړې په دوندو وگماری او نور ۴۰ سلنه مسلکی کسان (تخنیکی کارمندان او یا هغه خلک چې تخصص لری او په دې برخه کې مهارتونه ولری) د نورو ولایتونو څخه په دوندو وگماری.

د جوزجان ولایت په سلطان ابراهیم کلی کې د بریښنا د بند ترمیم/ جوړول.

"په او س حال کې د ترکمنستان هیواد موږ ته په لوړه بیه ډیره کمزورې بریښنا را کوي. د دې په ځای چې دولت د ترکمنستان هیواد ته د بریښنا لوړ کلنې لگښتونه ورکوي، دا به بهتره وي چې دولت د سلطان ابراهیم په کلي کې د بریښنا بند جوړ کړي. په دې سره به د ټول ولایت لپاره بریښنا برابره شي او همدارنگه به وکولای شي د کلي او دشت لیلي د دشتو لپاره اوبه برابري کړي."

**د آمو او بالا مرغاب د سیندونو څخه د خړوبونې د سیټمونو جوړول.**

"د دولت له خوا د نا سمو وعدو ورکول او د خلکو د اړتیاوو د معلوموللو په برخه کې د دولت پاته راتلو دې ته زمینه برابره کړې چې خلک د دولت څخه واټن ونیسي. د بیلگې په توگه، خلک په جوزجان ولایت کې د نیستې څخه رنځ وړي. خلکو ته ځو ځو واره وعدې ورکړل شوې چې د آمو او بالا مرغاب د سیندونو څخه به جوزجان ولایت ته اوبه راوستلې شي. موږ په دې اړه د پخوانې ولسمشر کرزي سره ځو ځله ولیدل او زموږ سره یې د اوبو د برابرولو په هکله وعدې وکړې. اوسه چې په دې خبره پنځه کاله اوړې د دولت له خوا په دې هکله کوم اقدام نه دی ترسره شوی. هغه ځه ته چې اړتیا ده هغه د ۵۰۰ مترو په واټن د ځمکې کیندل دي تر څو د بالا مرغاب د سیند څخه اوبه تر لاسه شي."

(د مدنې ټولنې استازی)

"د دې سربیره چې د آمو سیند د دغو کلیو څخه په خورا کمه فاصله کې موقعیت لري د جوزجان ولایت ټولټال ۱۲۸ کلي د کرنې او څښاک اوبو ته لاسرسی نه لري. د خړوبونې د سیسټم د نه شتون له امله، موږ د آمو د سیند د اوبو څخه گټه نه شو پورته کولای. موږ د خړوبونې د سیسټم په اړه د افغانستان ملي شورا ته ځو ځو واره مکتوبونه استولي خو په دې هکله یې زموږ غوښتنه نه ده منلې. په دې هکله تر اوسه کوم اقدام نه دی شوی.

**د آمو سیند په شاخوا کې د استنادې دیوال جوړول.**

"د آمو سیند هر کال په قرقین او خام اب ولسوالیو کې یو زیات شمیر ځمکې له منځه وړي. زه ویره لرم چې یوه ورځ به د قرقین او خام اب ولسوالۍ د آمو سیند لاندې کړي. د دغو پیسو کمه اندازه د استنادې دیوال په جوړولو چې ښه کیفت هم نه لري لگیدلې. پاته میلیونونه ډالر د فساد ککړو چارواکو جیبونو ته تللي."

**د خواجه دو کوه په ولسوالي کې د سیلبرونو جوړول (چې موخه یې د سیلابونو تنظیم او د جایدادونو د له منځه وړلو څخه مخنیوی دی).** د خواجه دو کوه په ولسوالې کې څلور کلې چې ډیر جمعیت هم لری هر کال د مارچ او جون په میاشتو کې د سلابونه د خطر سره مخ کیږی. سیلابونه نږدې ۱۰۰۰۰ هیکتاره کرنیزې ځمکې، غنمو او د خلکو کورونو ته زیان رسولی. موږ په وار وار د اکشن ایډ او دولت څخه د سیلبورونو د جوړولو غوښتنه کړې خو په دې اړه تر اوسه کوم اقدام نه دی ترسره شوی. که چیرې سیبورونه

جوړ شی، ۱۰۰۰۰ هيکتاره ځمکه به د سيلابونو له خطر څخه ورغورل شی، په دې سره به زيات کارې فرصتونه را منځ ته او خلک به د نيستې څخه وژغورل شی.

**د سيند په شاخوا کې د استنادې ديوالونو جوړول او په فيض اباد ولسوالۍ کې د څاه ګانو کيندل.**

″موږ په خپلو ولسواليو کې څاه ګانو ته اړتيا لرو، دلته د څښاک اوبه نشه. موږ اړتيا لرو چې دوه- درې ساعته مزل وکړو تر څو د سيند څخه د څښاک اوبه راوړو.″

″ملګرو ملتونو په ولسوالۍ کې يو شمير څاه ګانې کيندلې دي، دا څاه ګانې ډير ټيټ کيفيت لري او د څه مودې په تيريدو سره بيا کار نه کوي.″

″د فيض اباد په ولسوالۍ کې سيند موجود دې او موږ ور څخه هر کال د کرنې لپاره کار اخلو. د سيند په شاخوا کې د محافظتي ديوال جوړولو ته اړتيا ليدله کيږي.″

**په ولايت کې د فابريکو جوړول:** د آقچې د ولسوالۍ څخه يوه تن مطرح شخص وويل:

″د آقچې په ولسوالۍ کې د څارويو د پوستکو د منځلو، پروسس او وارداتو يوه فابريکه موجوده وه خو هغه غير فعاله شوې وه. د غاليو د اوبدلو فابريکه هم د آقچې په ولسوالۍ کې غير فعاله شوې. جوزجان د نورو ولايتونو په پرتله ډير زيات کانونه لري. که چيرې فابريکې له سره ورغول شي دا به نه يواځې د جوزجان د خلکو اړتياوې بلکه د ټولو افغانانو اړتياوي پوره کړي.″

**د قوش تېپې-درزاب د ولسواليو د سړک بيا رغول:** د قوش تېپې څخه د کلی يوه تن مشر وويل:

″د قوش تېپې او درزاب د ولسواليو تر منځ سړک ډير خراب دی. د دې سړک اوږدوالی يواځې ۹۵ کيلو متره دی. د پارلمان غړو د دې سړک د ترميم څو څو واره وعدې کړې خو تر اوسه يې په دې هکله کوم اقدام نه دی کړی. دا سړک د پخوانې ولسمشر حامد کرزي د دوو دورو واکمنې په جريان کې و نه رغول شو.″

**د دولت له خوا بايد پانګه وال تشويق او د هغو ملاتړ وشی:** د خام اب د ولسوالی څخه يو تن مطرح شخص وويل:

″دولت د پانګه والو مرسته او ملاتړ نه کوي، د هغوی څخه په بدل کې د بډو غوښتنه هم کوي. زما يو خپلوان چې په پاکستان کې اوسيږی جوزجان ته راغی

او پريکړه يې وکړه چې دلته يوه فابريکه جوړه کوې، کارونه را منځ ته کړي او خلکو ته خدمت وکړي. هغه ۵۰۰ هيکتاره ځمکې ته اړتيا درلودله. هغه پلان درلو چې په خپله فابريکه کې ۵۰۰۰ خلکو ته دندې برابري کړي. هغه دلته د يوې مياشتې لپاره تم شو او کوښښ يې وکړ چې د فابريکې لپاره ځمکه تر لاسه کړي خو پوه شو چې د دې کار د ترسره کولو لپاره بايد بډې ورکړي. هغه سټړی شو او ماته يې وويل چې زه دلته د فابريکې د جوړولو لپاره راغلی وم نه د دې لپاره چې خلکو ته بډې ورکړم، او بيا له دې ځايه ولاړ.″

د پوهنتون يوه پروفيسور وويل:

″په جوزجان ولايت کې د ښځو او ماشومانو لپاره کوم ټولنيز پارک او د ساعتېري ځای نشته. کيدای شي د سولې په خاطر د يوه پارک جوړول ښه پيل وي، ځکه د ټولو قومي ډلو ماشومان به سره يو ځای وي، د يو بل سره به لوبې وکړي او د ماشومتوب څخه به د منلو فرهنګ زده کړي. دا مهم نه ده چې دا پارک خصوصي او يا دولتي وي، مهمه دا ده چې موجود وي.″

**د يووالې، پيوستون، د قومی تبعيض او خپلولۍ او نا سالمو سياسی سياليو له طريقه د ټولنيز مشارکت پياوړتيا:** د مدنې ټولنې يوې ښځينه غړې وويل:

″له بده مرغه چې چارواکي د يووالي او پيوستون لپاره کم کار کوي. موږ په هيواد کې د قومونو د يووالي او پيوستون په تړاو هيڅ ډول طرحې نه لرو. دا يوه لويه ستونزه ده. په افغانستان کې د جوزجان ولايت په شمول بايد يو داسې پروګرام جوړ شي چې د خپلولۍ پالل له منځه يوسي. موږ د خپلولۍ پالنې ډيرې منفې پايلې تجربه کړې.″

## ۵. د خلکو سپارښتنې

د سلا مشورو د پروسې پر مهال، په جوزجان ولايت کې خلکو د شخړو او ځايي منازعو د هوارولو لپاره لاندې سپارښتنې وړاندې کړې:

**د بشری حقونو ترويج، د ادارې فساد، بې عدالتی او معافيت مخنيوی او د قانون د حاکميت نه شتون:** (۱) د هغو کسانو لپاره د نه معافيت غوښتنه څوک چې د بشری حقونو د جدې سرغړونو مرتکب شوې؛ (۲) د ولسمشريزو فرمانونو د صادرولو له لارې د طالبانو د توقيف شويو کسانو له وخته وړاندې د بند څخه د نه خوشی کولو غوښتنه؛ (۳) د ادارې فساد، خپلولې پالنې او بې عدالتی سره مبارزه او د قانون د عدالت نه شتون. د ادارې فساد په وړاندې د مبارزې د قانون پلې کول، په خاص ډول د پيسو منځلو قانون او د جنايې قانون مقررات؛ (۴) د دينی مشرانو او نورو مطرحو ځايې مشرانو او همدااړنګه د

مدنې ټولنې د سازمانونو په شمول د سیاسی مداخلتونو څخه د سولې د ولایتی شورا د خپلواکې او اصلاحاتو څخه د ډاډ حاصلول؛ (۵) د ښځو د حقونو او د سولې د رجحانونو په شمول د پوهاوې او د بشری حقونو ساتنه او ترویج؛ (۶) د قومی تبعیض او خپلولې پالنې د له منځه وړلو له لارې د ټولنیز مشارکت پیاوړتیا؛

**د امنیت تامینول:** (۱) په خاص ډول په ولسوالیو او ولایتی سرحدی سیمو کې د شمیر او تجهیزاتو په حواله د افغان ملی پولیسو پیاوړې کول؛ (۲) د ځایې حکومت د ملاتړ په موخه د ځایې خلکو تشویقول او د هغوی په سیمو کې د یاغیانو د اډو څخه مخنیوی؛ (۳) په دولت د خلکو د اعتماد را منځ ته کول؛ (۴) په پاکستان د فشار واردول تر څو د یاغیانو لپاره د خوندې پټنځایونو او ملاتړ څخه لاس واخلی؛ (۵) د قدرت د ځایې دلالانو او نا قانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول؛

**د اقتصادی پرمختګ او ټولنیز عدالت تحقق:** (۱) د ګازو تولید ته انکشاف ورکول- د افغان ګاز تصدی او د نفتو او ګازو د تفوصاتو بیا فعاله کول او په سلطان ابراهیم کلی کې د برښنا د بند ترمیم او جوړول، د باشوکوک،جرقودوق او د جنت خان په کلیو کې د ګازو د څاه ګانو فعالول او د استخراج د چارو پر مخ وړل؛ (۲)  په کارې فرصتونو کې د ښه والې راوستل، د فابریکو بیا فعاله کول، د بیلګې په توګه، پیکل پست، عادی کارګرانو ته ځوک چې په کانونو کې د ګازو او نفتو په کیندنه بوخت دی د دې ډاډ ورکول چې د جوزجان ولایت اوسیدونکی به په کانونو کې په دندو وګمارل شی؛ (۳) د کانونو په قانون له سره کتنه وشی- څو ډاډ حاصل شی چې د کانونو د استخراج شرکتونه ۴۰ سلنه ځایې وګړې په دوندو وګماری او نور ۴۰ سلنه مسلکی کسان (تخنیکی کارمندان او یا هغه خلک چې تخصص لری او په دې برخه کې مهارتونه ولری) د ولایت څخه د باندې په دوندو وګماری؛ (۴) د کرنیز انکشاف د غښتلتیا په خاطر د خړوبونې د سیستم جوړول کوم چې د طبیعی ذیرمو څخه کار اخلی: د آمو او بالا مرغاب د سیندونو پواسطه د خړوبونې د سیستمونو جوړول او د آمو سیند او د فیض اباد په ولسوالې کې د سیند په شاخوا کې د استنادې دیوالونو جوړول؛ (۵) د خواجه دو کوه په ولسوالې کې د زیربنا جوړول تر څو له دې لارې وکولای شی د خلکو جایدادونو ته چې د سیلابونو له امله د دوامداره خطر په معرض کې قرار لری کوم زیان و نه رسیږی؛ (۶) د جوزجان په ولایت کې د یوه تفریحی او ټولنیز پارک جوړول څو ټولنیزه-قومی مفاهمه لا ښه او تشویق کړی؛ (۷) پراختیایې مرستو ته د ځایې ټولنو د مساوی لاسرسی څخه ډاډ او د هغوی په سیمو کې د پراختیایې پروژو څخه د نظارت په موخه د خلکو د وړتیاوو ښه کول؛

# د سرپل ولایت
# د سولي لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

دسولی دا ولایتی نقشه د هغو مهمو موندنو او مسایلو یو لنډیز وړاندی کوی کوم چې په متمرکزو ګروپی مباحثو، انفرادی مرکو او د نظریاتو په سروی کې مطرح شوی او د سرپل په ولایت کې د نږدې ۱۳۵ کسانو سره د سلا مشورو د پروسې پر مهال ترسره شوی چې په هغو کې د ټولنې مشران،بزګر،ښوونکی، د مدنې ټولنې استازی، دینی مشران او هغه (پخوانی طالبان) چې د ټولنو سره مدغم شوی شامل وو. دا خبرې اترې د سولې د پروګرام په اړه د افغانانو د ډیالوګ د دویم پړاو د یوې برخې په حیث ترسره شوی کوم چې د مدنی ټولنې د نږدې ۱۱ مدنی ټولنی او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون له خوا پیل شوی څو د نږدې ۴۵۰۰ عادی افغانانو سره مشورې ترسره کړی څو د ۳۴ ولایتونو لپاره د هر ولایت لپاره د سولې یوه طرح را منځ ته کړی.

د سولې لپاره د دې ځایی طرح موخه د شخړې د محلی انګیزو د یوه جامع تحلیل او همدارنګه د سرپل په ولایت کې د پایښت لرونکې سولې او ټیکاو سره د مرستې په موخه د مناسبو عملی حل لارو د تشخص وړاندی کول دی.

## ۲. ولایتی انځور: جغرافیه،جمعیت پیژندنه او سیاسی زمینه

د سرپل ولایت د افغانستان په شمال کې د پلازمینې کابل په ۶۰۳ کیلو متری کې پروت دی. دا ولایت په شمال کې د جوزجان، په شرق کې د بلخ، په شمال شرق کې د سمنګانو، په جنوب کی د غور، په جنوب شرق کې د بامیانو او غرب کې د فاریاب د ولایتونو سره ګډه پوله لری. په دې ولایت کې ټولټال ۵۵۶ کلی موجود دی او دا ولایت ټولټال ۱۶۳۸۵ کیلو متره مربع ساحه احتوا کوی.

د سرپل ولایت د پلازمینې یعنی ښار په شمول، د ولایت د وګړو شمیر ټولټال ۷۱۱۶۰۰ تنه دی، د دې له جملې ښځه ۳۴۸۰۰۰ تنه نارینه او ۳۶۳۰۰۰ تنه ښځې دی. ازبک، تاجک او هزاره ګان هغه درې ستړې نژادی ډلې دی چې د ولایت د وګړو عمده برخه جوړوی. په دې ولایت کې یو شمیر ایماق، پښتانه، بلوچ او عرب هم استوګن دی. د دې ولایت د وګړو نږدې ۷۴ سلنه په کلیوالی سیمو کې او نږدې ۲۶ سلنه یې په ښارې سیمو کې اوسیږی. د وګړو تراکم یې په کیلو متر مربع ساحه یواځې ۴۳ تنه دی.

د راپورونو سره سم، دا ولایت د طبعی سرچینو او منرالونو په درلودلو سره، د بیلګې په توګه، ګاز، تیل، سلفر، د ډبرو د سکرو او قیمتی ډبرو یو شتمن ولایت دی. خو بیا هم، په اوس حال کې د دغو سرچینو د اکتشاف یا استخراج په موخه د حکومت له اړخه هیڅ ډول داسی هڅې چې وکولای شی د بیکاری او نیستی د کچو په را کمولو کې مرسته وکړی نه دی ترسره شوی. د پانګونې او چانډ ځایونو نه شتون د هغه پوتانسیل مخ نیسی چې موخه یې د دولتی عایداتو لوړول دی. په سرپل کې خفیفه صنایع کمې دی. د قره قل

پوستکي زیاتره د ګوسفندی او سوزمه کلا په ولسوالیو کې تولیدیږي. په سرپل ښار او بلخ آب ولسوالۍ کې د غایلو اوبدل ډیر شهرت لري. د سرپل په ښار کې غالۍ، ګاڼې او پټوګان هم جوړیږي.

لکه د هیواد په نورو برخو کې، سیاست د ایدیالوژۍ یا تنظیم شویو سیاسي ګوندونو د کرښو په امتداد کې موسساتي شکل نه دی اختیار کړی، بلکه په ولایت کې د انفرادي مشرانو یا مطرح کسانو په شاخوا کې را څرخي. په زیاترو مواردو کې، دا شایستګي یا وړوالی نه بلکه د شخص قومي تړاو دې چې د خلکو ملاتړ تعیینوي.

دوه ستر سیاسي ګوندونه،یعنی جنبش او جمعیت د سرپل د ولایت سیاسي چاپیریال کنترولوي. په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د رژیم د نسکوریدو وروسته، د جنرال عبدالرشید دوستم تر مشرتابه او لارښود لاندې په ټول ولایت کې جنبش خپل نفوذ پراخ کړ. که څه هم چې د ۲۰۰۹ کال په ټولټاکنو کې ولایت د جمعیت اسلامي ګوند د بیا فعاله کیدلو د فعالیتونو شاهد و او په ولایتي شورا کې یې د جنبش په پرتله زیاتي څوکۍ د ځان کړې. یو شمیر تحلیلونه وړاندیز کوي چې په ولایت کې د جنبش په دننه کې د درزونو او اختلافاتو شتون د جمعیت د بیل فعاله کیدو د مسلې سره مرسته کړی. د ۲۰۰۹ کال د ولایتي شورا د ټاکنو پایلې جوتوي چې د جنبش نفوذ په ولایت کې مخ په کمیدو و، په داسې حال کې چې د ولایت په سیاست کې جمعیت خپل نفوذ په چټکۍ سره ښه کړی. د هزاره ګانو سیاسي ګوندونه هم په ولایت کې فعال دي. حزب وحدت اسلامي مردمي افغانستان، حزب وحدت اسلامي افغانستان او اتحاد ملي افغانستان د هزاره ګانو عمده ګونونه دي. په ولایتي شورا کې د هزاره ګانو څلور غړي دي، د حزب وحدت مردمي افغانستان دوه غړي او نور دوه ګوندونه هر یو، یو غړی لري.

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ټمونې او محرکات

### د شخړې ټمونې:

**دطالبانو تر مشرۍ لاندې یاغیتوب:** د خبرو اترو د پروسې په جریان کې، د سرپل ولایت اوسیدونکو ویلي چې د سرپل د ولایت په ځینو سیمو کې د طالبانو تر رهبرۍ لاندې یاغیتوب زیات شوی او کیدای شي افغان ملي امنیتي ځواکونه ونګوي. د ولایت غرنۍ سیمې یاغیانو ته د پټیدو په موخه زیات ځایونه برابروي او د مخامخ جګړې امکان له منځه وړي. د طالبانو لوړ رتبه مشران لا هم په پاکستان کې اوسیږي، دا په سرپل ولایت کې د هغوی د خوندیتوب په تړاو د هر ډول ډار نه پرته د یاغیانو لپاره ستراتیژیک لارښود برابروي. خلکو راپور ورکړی چې په دې ورستیو کې د کوهستاناتو، او سرپل د ولسوالۍ د شیرام کلي او د صیاد د ولسوالۍ صوفک کلي ته د طالبانو د سیمو په سترګه ګوري. د طالبانو د یاغیتوب زیاتره بریدونه له دغو یادو سیمو څخه د افغان ملي امنیتي

ځواکونه په وړاندې ترسره کیږی او پدې سره په ولایت کې د یاغیتوب د عملیاتو د فعالیتونو زیاتیدو ته لار هواروی. د حکومتی ځواکونو د هدف نیولو په موخه د طالبانو لخوا د ماینونو ښخول د کارول شویو پوځی تاکتیکونو یوه عمده برخه ده او دا کله نا کله د ملکی تلفاتو لامل ګرځی.

د کوهستاناتو د ولسوالی څخه یوه مشر وویل:

"زه په شیرام کلي کې چې په بشپړ توګه د طالبانو تر ولکې لاندی دی ژوند کوم. د ټولو طالبانو د جملې څخه ۵۰ سلنه ځایې استخدام شوی طالبان دي او پاتې ۵۰ سلنه هغه طالبان دي چې په اصل کې د پاکستان څخه راغلي دي. زموږ په کلي کې دغه ټول میشت طالبان د هغوي د مشرتابه څخه چې د پاکستان په کویټه کې میشت دي لارښود ترلاسه کوي."

د کوهستاناتو د ولسوالی یوه مشر وویل:

"زه لیک لوست نه شم کولای او د کوهستاناتو د صوفک د کلی استازیتوب کوم، زموږ په کلي کی طالبانو موجود دي او هغوي زموږ کلی کنټرولوي او زموږ په کلي کې دولت هیڅ ډول شتون نه لري. طالبان زموږ په کلي کې د پراختیایې کارونو څخه ملاتړ نه کوي او د ملکي کسانو تلفاتو ته هیڅ ډول پاملرنه نه کوي. په دې ورستیو کې، یو ۱۲ کلن هلک د طالبانو لخوا د ښخ شوی ماین د چولو په نتیجه کې چې موخه یې د دولتي ځواکونو په نښه کول وو، ووژل شو. د جنازې په مراسمو کې زه ډیر خپه وم او خپل احساسات می نه شوای کنټرولولای، او په پای کې وغږیدم؛ طالبان څنګه کولای شي یو ماشوم چې مور یې د ۱۲ کلنو لپاره ساتلای وي، د یوي مور زړه ټپي کړی او ماشوم یې ووژنې؟!؛

د سوزمه کلا د ولسوالي څخه یوه مشر وویل:

"د طالبانو نفوذ زیات شوی، په سرپل کې د هغوي تر کنټرول لاندې سیمه د اندازی له لحاظه پراخه شوې. هیڅا باور نه شوای کولای چی طالبان به د سرپل په یو شمیر سیمو کې خپل نفوذ زیات کړي."

لکه د هیواد په نورو برخو کې، د نړیوالو پوځی ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د امنیتی مسولیتونو لیږد په وار وار یا پړاونو کې انتقال شو، خلکو باور درلود چې د ولایت د مرکز په سطحه د یاغیتوب په فعالیتونو کې د پام وړ کموالی نه دی راغلی. د بیلګې په توګه، یاغیان په ولایت کې د نړیوالو ځواکونو د وتلو وروسته د دښمن په لیکو کې د نفوذ او د لا زیات لاسرسی د تر لاسه کولو لپاره مخ پر زیاتیدونکی بریدونه پیل کړی. د تیرو دوو

کلونو راهیسی د یاغیتوب په فعالیتونو کې زیاتوالی راغلی او دا ممکن هغه څه ته اشاره وکړی چې ګویا افغان ملی امنیتی ځواکونه د امنیتی لیږد په برخه کې هومره بریالی نه وو. خو بیا هم د یادونې وړ ده چې د ننګونو سربیره، د افغان ځواکونو په شمیر کې د دې لپاره زیاتوالی راغلی څو د یاغیتوب په وړاندې جګړه وکړی. د سرپل او جوزجان تر منځ په لویه لار د پولیسو یو شمیر امنیتی پوستې جوړې شوې او همدارنګه په لرې پرتو ولسوالیو کې افغان سیمه ییز پولیس ځای پر ځای شوی. په دې حواله، د یوې ښځینه ښوونکی، د سرپل د ښار څخه د یوه تن نارینه او د ګوسفندی د ولسوالی څخه د یوه بل شخص بیانونه راغونډ شوی دی کوم چې د نورو شیانو تر څنګ بیانوی:

د سرپل د ښار څخه ښځینه ښوونکې:

"ناامني حتی د ولایت په مرکز کې مخ پر زیاتیدو ده، طالبان حتی کولای شي د والي دفتر ته نږدې یوې عالي لیسي ته اور واچوي."

د سرپل د ښار څخه یو تن:

"زموږ امنیتي ځواکونه باید تجهز او تقویه شي، ځکه چې امنیتي ځواکونو د بشری زړه په حیث د بدن هرې ژوندی حجرې ته د آکسیجن څخه د مالامالې وینې د رسیدو دنده لري."

د ګوسفندې د ولسوالی څخه یو تن نارینه:

"د امنیت په نه شتون کې به خلک د خپلو اساسي حقونو څخه برخمن نه شي. کافی نه ده چې ښوونځي ولرو، بلکه امنیت ته اړتیا ده څو د هغوي څخه ګټه پورته کړو."

د یوه مثبت یاددښت په حیث، خلکو باور درلود چې افغان سیمه ییز پولیس د یاغیتوب په وړاندې دیر موثره دی. که څه هم چې خلک په دې نظر وو چې د افغان سیمه ییزو پولیسو شمیر باید زیات شی او د سرپل نورو سیمو ته ولیږل شی، خو هغوی دا اندیښنه هم درلودله چې ممکن هغوی د دوی په وړاندې امنیتی خنډونه جوړ نه کړی.

د صیاد د ولسوالی څخه یوه تن وویل:

" زموږ د ولسوالی د صوفک کلی په بشپړ ډول د طالبانو تر کنترول لاندې وو، خو کله چې افغان سیمه ییز پولیس په صیاد کې ځای پر ځای شوو، کلی د طالبانو څخه پاک شو. موږ اوس په صیاد کې ښه امنیت لرو، موږ اوس په سیمه کې د جنبش او جمعیت ګوندونو څخه افغان سیمه ییز پولیس لرو چې په مساوی توګه د یاغیتوب په وړاندې مبارزه کوی."

د کوهستاناتو د ولسوالی څخه یوه تن مشر راپور ورکړی چې:

"موږ د افغان سیمه ییزو پولیسو د ځای په ځای کولو د نوښت ملاتړ کوو څو زموږ په ولایت کې لا ښه امنیت تامین کړی. افغان سیمه ییز پولیس خپل ژوند په خطر کې اچوی تر څو د طالبانو د فعالیتونو په وړاندې زموږ کلی وساتی. تر هغه چې دوی په کافی اندازه سمبال وی، هغوی به د جګړې پوره توان ولری."

**قومی تاو تریخوالی او دواک د محلی دلالانو سیاسی رقابتونه:** دوه عمده سیاسی ګوندونه، یعنی جنبش او جمعیت د سرپل په سیاسی چاپیریال واکمن دی. عبدالرشید دوستم په سرپل کې تر ټولو با نفوذه سیاسی څیره پاتې شوې او په خپله نژادی ډله ازبکانو او همدارنګه هزاره ګانو،تاجکو، ایماقو او عرب ټولنو اغیز لری. همدارنګه، ځینی نور سیاسی شخصیتونه هم څوک چې پخوانی جهادی شامنظرونه لری په سرپل کې شکیل دی.

د سرپل د والی د دفتر یوه پخوانی کار کونکی وویل:

"زموږ ازبکان دوستم ته د خپل مشر په سترګه ګوري. نوموړی نه یواځې په ازبک نفوذه سیمو بلکه په هزاره، تاجک، ایماق او عرب ټولنو هم سیاسي کنترول او نفوذ لري. خلک د نوموړي څخه اطاعت او د هغه درناوی کوي، حتی که دوستم هغوي ته ووایې چې خپلو ښځو ته طلاق ورکړي نو هغوي به د دې کار په ترسره کولو کې زړه نا زړه نه شي."(یادونه: دا د وړاندې نه د تیارې شوې مرکې یوه برخه وه چې د بشري حقونو څانګې د ویاند سره درلوده)

**د ځمکو پر سر منازعې:** د خبرو اترو ګډون والو راپور ورکړی چې په سرپل کې د ځمکو پر سر منازعه ډیره پیچلې مسله ده، او د موجوده رواني شخړی سره ډیره مرسته کوی. د دولتی چارواکو په دننه کې د فساد شتون او همدارنګه د سیاسی علاقمندی نه شتون د مسلې د مخنیوی په خاطر دا ناشونی کوی چې په موثر او عادلانه ډول د ځمکو او ملکیتونو پر سر شخړې هواری کړی. دا ډول شخړې اکثرا د بیلابیلو قومی ډلو تر منځ واقع کیږی چې د ځمکو پر سر اوږدو منازعو ته لار هواروی. د ځایې غښتلو قومندانانو شتون او په پارلمان کې د سیاسیونو حضور او همدارنګه د هغوی د سیاسی مداخلتونو له امله او د اړوندو چارواکو سره د توطیو جوړولو له لارې عدلی ارګانونه اکثرا غیر موثره ثابت کړی.

د کوهستاناتو د ولسوالی څخه یوه تن مشر وویل:

"زموږ د ولسوالي د نیمایې برخې اتکا په کرنه ده او موږ ټول بزګران یوو. یاده ځمکه د بیلابیلو قومي ډلو تر منځ ویشل شوې او دا نژادي قومونه بیا د

بیلابیلو ځایي غښتلو قومندانانو څخه جوړ شوي، څکه نو، دلته تل د ځمکې پر سر د ویش په هکله شخړی موجودې وې. زموږ دولت د دې شخړو د هوارولو په برخه کې تر اوسه کومې بریاوې نه دي تر لاسه کړې.″

خلکو راپور ورکړی چې په سرپل کې شخړې او زیان لرونکې دودیزې کړنې د دې لامل شوې چې یو شمیر زیاتې ښځې د کورنې خشونت څخه په مکرر ډول زیانمنی شی. د اجبارې او د وخت نه مخکې ودونو، لوړ جهیز، د بدل ودونه، جنسی تیرې او د خشونت نور ډولونه د کورنې خشونت مهمی بیلګې دی. د دغو فعالیتونو زیاتره برخه د کورنیو په دننه کې ترسره کیږی. خلک د ښځو په وړاندې د خشونت په برخه کې زیاتوالی د معافیت د کلتور د شتون د مسلې سره منسوبوی. د ښځو د حقونو په اړه د لا زیات پوهاوی را منځ ته کولو ته اړتیا لیدل کیږی .

د سنګ چارک د ولسوالۍ څخه یوه تن وویل چی:

″دا په پارلمان کې زموږ د ولایتي شورا غړي دي څوک چې تل په حقوقي او عدلي سیستم کې مداخله کوي، هغوي د خپل سیاسي واک په کارولو سره خپلې قضیې په خپله ګټه حل کوي. هغوي تل خلکو ته دا پلمه کوي چې هغوي په سرپل کې د ټولنې لپاره مهم او ګټور دي، خو موږ پوهیږو چې هغوي ډیر ککړ خلک دي.″

**د شخړې محرکات:** د خبرو اترو د پروسې پر مهال، خلکو په سرپل کې په ښکاره اداری فساد ته د ښه امنیت، پراختیا او حکومتداری په وړاندې د یوه لوی خنډ په سترګه کتلې.

**دسولی غیر موثر او ضعیفه پروسه:** خلکو ویلی چې دوی په سرپل کې د سولې او پخلاینې د پروسې له طریقه د سولې په پروسه کې د انکشاف لپاره کم توقعات لری. د دې علت دا دی چې د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام د حکومت د سیاسی غوښتنو پر بنسټ را منځ ته شو او دې د سولې په پروسه منفی اغیز پرې ایښې. د بیلګې په توګه، خلکو ټینګار کړی چې د ولایتی سولې پروسه د یوه پخوانې جنګسالار لخوا چې په عمر زوړ دی پر مخ وړل کیږی او ښایې هغه وړتیا چې د سولې پروسه په جدې توګه پر مخ بوزی و نه لری. د جنګسالار د شامنظر په درلودلو سره به د یاغیانو سره د سولی د خبرو پیل یو ستونزمن کار وی او دا ممکن د سرپل په ولایت کې د سولې د پروسې په وړاندې یو خنډ وی. په عمومی ډول، په دې موافقه شوی چې د نویو کارکونکو او مشرتابه له لارې د سولې د ولایتی شورا په تشکیل باندې له سره غور وشی.

د سرپل د ښار د ښځو حقونو یوې فعالې وویل:

"د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام نه باید په سرپل کې د سولې د بریالیتوب سره ، په خاص ډول په هغو سیمو کې کومې چې د دولت ضد عناصرو تر کنټرول لاندې دي، مرسته وکړی. د سولې او ټیکاو د راوستلو په خاطر د یو شمیر هڅو او لګول شویو سرچینو سربیره، پایله مثبته نه و. ښایې مناسب پلان او روښانې اجنډا شتون نه درلود."

د سنګ چارک د ولسوالی څخه یوه تن مشر وویل:

"د سولې د ولایتي شورا د جوړیدو راهیسي، تر اوسه پورې یواځې ۶۶۵ تنه یاغیان د ملي امنیت د ریاست، افغان ملي پولیسو، والي او د سرپل د ولایت د خلکو په فعال ملاتړ د سولې د خبرو سره یو ځای شویدي او په دې کې د سولې ولایتي شورا هیڅ نقش نه دې لوبولی. موږ په ریښتیا داسې چا ته چې فعال، بې پری او په رښتیا د دې توان ولري چې دا پروسه پر مخ یوسي، ضرورت لرو. لکه څنګه چې دا د شخړې د دواړو خواوو لپاره د اهمیت وړ ده، هغه باید غیر سیاسي شخص وي او د هیڅ ډلې سره تړاو و نه لري. د طالبانو سره د سولې خبرو ته داخیلیدل کوم اسانه کار نه دی، دا ښو خپلمنځې اړیکو ته اړتیا لري."

**اداری فساد او د قانون د حاکمیت نه شتون:** د خبرو اترو د پروسې له لارې خلکو راپور ورکړ چې د قانون حاکمیت کمزوری دی،ځکه نو په سرپل ولایت کې پراخ اداری فساد، نا امنی او بې ثباتی ته لار هواروی. په ټولو ولسوالیو کې ولایتی سیمه ییز حکومت کمزورې دی او نه شی کولای عدالت او د بشری حقونو میکانیزمونه پلی کړی. د عدالت او قانون پلی کونکی افسران اکثرا نه شی کولای دا ډاډ حاصل کړی چې قضیې په عادلانه ډول او د قانون سره په سمون کې حل فصل شی. خلک په دې باور دی چې اداری فساد او د واک څخه ناوړه ګټه اخیستنه د حکومتی سیستم په دننه کې موسساتی شوی او د پورته څخه کښته ترسره کیږی.

د سرپل ښار څخه یوې ښځې وویل:

"دا یواځې د دولت ضد عناصر نه دي چې په سرپل کې نا امني را منځ ته کوي ، بلکه حکومت هم چې په فساد ککړ او شل دی په سرپل کې نا امني را منځ ته کوي . د بیلګې په توګه،اړوندو چارواکو ته د بډو د ورکولو پرته څوک نه شي کولای تذکره تر لاسه کړي."

د سنګ چارک د ولسوالی څخه یو تن وویل:

"چا ته چې قانون امانت سپارل شوی هغه تر ټولو زیات قانون تر پښو لاندې کوي. موږ داسې څارنوالان او قاضیان لرو څوک چې یواځې د ټیټې درجې د

جرمونو په تړاو عدالت پلی کوي، خو هغه کسان چې په جدي جرمونو تورن دي مسول نه ګڼل کیږي. د قانون د انفاذ دا کارکونکي په عدلي سیستم کې د ادعا شوې اداري فساد او پټې پریتوب د نه شتون له امله د جرم مرتکیبینو ته ترجیح ورکوي.″

خلکو راپور ورکړی چې په سرپل کې په دولتی ادارو کې تر ټولو عام، فاسد او ناوړه عمل بډی دی. په ولایت کې تر ټولو فاسد چارواکی څارنوالان او قاضیان دی. که څه هم چې دولت په دې وروستیو کې د فساد په وړاندې د مبارزې ځانګه پرانیستی، یا خو نه ده توانیدلې او یا نه غواړی د فساد په وړاندی جدې اقدامونه ترسره کړی. د دې تر څنګ، د راپور سره سم فساد په ټولنه او د حکومت د جوړښت څخه د باندې موجود دی. دا یې د محلی شخص لپاره په یقین سره اسانه کوی چې بډی ورکړی، او دا یو عام کار دی. ځکه نو، په یو شمیر نورو قضیو کې، د مقرراتو په پرتله اړیکو ته ترجیح ورکول کیږی.

د ګوسفندی د ولسوالی څخه د کلی یو تن مشر وویل:

″تر هغه چې تاسو اړوندو چارواکو ته پیسې ور نه کړئ ستاسو شکایت به ژر پروسس نه شي. که چیرې تاسو بډې ور نه کړئ نو بیا به تاسو ۲ یا ۳ میاشتې انتظار باسئ تر څو ستاسې شکایت پروسس شي. دا عمل په ډراماتیک ډول د یوه عام فعالیت په حیث دود شوی دی.″

د بلخ آب د ولسوالی څخه یو تنه مشر وویل:

″هغه څه چې په بلخ آب کې عام دي هغه د مقرراتو په پرتله اړیکو ته ترجیح ورکول دي. دا هغه وخت پیښیدای شي چې کله تاسو د چارواکو سره مستقیمې او غیر مستقیمې اړیکې ولرئ او په دې سره هغوی د حکومتې واک په کارولو سره ستاسو ملاتړ وکړي.″

**عدم حسابدهی او انتقالی عدالت:** خلکو همدارنګه د حسابورکونې د مسلو د ځوابولو په هکله چې د دریو لسیزو جګړو څخه را ولاړې شوې د حکومت د ناکامی په اړه خپلې اندښنې مطرح کړی. خلک اندیښنه لری چې مرتکیبین تر احتساب لاندې نه دې نیول شوی، دا په خپله د اوسنې دولت د مشروعیت په وړاندې یو خنډ دی، ځکه نو، دا د خلکو او دولت تر منځ ژور واټن را منځ ته کوی. د جنګې جرمونو قربانیان د یوه جامع ملی مشورتې رامنځ ته شوې میکانیزم او انتقالی عدالت د ستراتیژیکانو له لارې د عدالت غوښتنه کوی، ښکارې چې حکومت د خلکو په غوښتنو غوږونه کاڼه اچولی. خلک باور لری چې پولیس،څارنوالان او محکمې د مساوی عدالت د تامین، د قوانینو د انفاذ لپاره اصلی اساسی اسباب دی.

د صیاد د ولسوالی څخه یوه تن مشر وویل:

"د انتقالي عدالت په برخه کې د پاته راتللو مسلې په سرپل کې د اوسنۍ وسله والې شخړې سره مرسته کړې. د جنګې جرمونو مرتکیبینو ته سزا نه ده ورکړل شوې، هغوی ازاد دي او هر څه کولای شي. که څه هم چې په لومړیو کې موږ ته د انتقالي عدالت د شریکباڼو لخوا انګیزه راکړل شوې و چې د جنګې جرمونو په اړه خبرې وکړو او په دې سره به د جنګې جرمونو مرتکیبین د عدالت منګلو ته وسپارل شي. خو موږ پوهیږو چې کله حضرت محمد(ص) کعبه فتح کړه، نو بیا نوموړي خپلو کسانو ته لارښونه وکړه چې د هغه پخوانیو بریدګرو ته سزا ور نه کړي او په بدل کې هغه نوموړي عفو کړو، زموږ ولسمشر هم ورته عمل وکړ."

**د ښځو د تاوتریخوالی په مقابل کی د معافیت کلتور:** خلکو د تشویش په درلودلو سره وویل چې که چیری د بشری حقونو وضعیت بهتر نشی خلک به د طالبانو څخه وغواړی چې په دغو قضایاوو کی مداخله وکړی .

سرپل د ښار یوې ښځې وویل:

"په دې ورستیو کې ما دیوې ۸ کلنې یتیمې نجلې د قضیې په اړه چې یوه زوړ سړي ته د ۵۰۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې د هغې د کورنۍ لخوا اړ ایستل شوې وه، واوریدل. څنګه چې نجلې واده شوه، په هغې د خپل میړه لخوا جنسي تیرې شوی او له کوره شړل شوې. دا د هغه جهیز په وړاندې د میړه له خوا غچ اخیستل او د غوصې ښکاره کول و کوم چې میړه د نجلې کورنۍ ته ورکړی. په یوه بله قضیه کې، په دې وروستیو کې یوه زاړه سړي د ۲۶۰۰۰ امریکایې ډالرو په ورکولو سره د یوې ۱۶ کلنې نجلې سره واده وکړ."

د سرپل څخه یوې ښځې وویل:

"دا طالبان دي چې په موږ یې دا جامې تحمیل کړي، هغوی وایې چې ښځې باید د سر نه تر پښو پورې په چادري کې ځان ونغاړي او موږ یې د خپل نارینه محرم نه پرته د کور څخه د وتو څخه منع کړې یوو. دا هماغه طالبان دي چې یو شمیر زیاتې نجونې یې د ښوونځیو څخه را ګرزولې وي."

د صیاد د ولسوالی څخه یوه تن مشر راپور ورکړی چې:

"هغه څوک چې د قوانینو څخه سرغړونه کوي هغه کسان دي چې قوانین جوړوي. موږ زیات قوانین لرو خو یواځې یو څو یې د ښځو په وړاندې د خشونت په قضیو پلې شوي. زموږ عدلي چارواکي په فساد ککړ دي."

**بې سارې نیستې:** د سرپل د ټولنې د اکثرو وګړو په منځ کې بې سارې نیستې او د کارې فرصتونو نه شتون د بې ثباتې او نا امنی عمده مرسته کونکی فاکټورونه دی. خلکو ټینګار کړی هغه تجرید شوی ټولنې کومې چې کارې فرصتونه نه لری د یاغیتوب د نفوذ د خطر په معرض کې دی.

د سنګ چارک د ولسولی څخه یوه مشر وویل:

"زه به دا ووایم چې نیستي د هغو ننګونو د کومو سره چې موږ نن مخ یوو یو لامل دی، موږ زیاتره د دولت ضد عناصرو سره د دې لپاره یو ځای شوي یوو چې د پیسو د تر لاسه کولو او د خپلو نیستمنو کورنیو لپاره د خوراک برابرولو په موخه د هر اړخ په وړاندې جګړه وکړو. ځکه نو، زموږ ولایت د خپل جغرافیایې موقعیت له امله دریمه درجه ولایت دی. ځکه نو، زموږ ولایت د نورو لومړیو او دوهمو درجو ولایتونو په پرتله انکشاف نه دي کړې."

خلکو همدارنګه اطلاع ورکړې چې په داسې حال کې چې ټولنیزه پراختیا نه شی کولای سوله تضمین کړی، شایې دا اقلا په محلی سطحه د شخړې کچه را ټیټه کړی. په سرپل کې اوسنۍ شخړه د انکشاف لپاره یوه اړتیا خلاصه کوی چې باید د شخړې په وړاندې حساس وی، اړتیا لیدل کیږی چې حکومت کارې او ښوونیز فرصتونه را منځ ته کړی. د سرپل خلک باور لری چې د معارف د یوه ښه سیستم نه شتون د هغوی په ولایت کې یوه جدې ستونزه ده. هغوی دلیل وړاندې کوی چې د یاغیانو ډلې په آسانې سره کولای شی نا لوستی خلک وغولوی.

د سرپل د ښار څخه یوې ښځې وویل:

"فرض کړئ تاسو یو یاغي یاست، تاسو چا ته د دوو افغانیو وړاندیز کوئ او هغه ته وایاست چې په ټولنه کې د الله اکبر نارې ووهي، نو هغه به دا کار وکړي، ځکه چې دا نا لوستي او غریب خلک په دې نه پوهیږي چې په کوم لور روان دي. هغوي یواځې غواړي په دغو پیسو د خپلو کورنیو او ماشومانو مرسته/تغذیه وکړي. په سرپل کې د میشتو وګړو په منځ کې بې سوادي یوه جدې ستونزه ده."

د بلخ آب د ولسوالی څخه یوه تن نارینه وویل:

"کله چې تاسو لیک لوست نه وي کړی، تاسو یو نوښتګر کس نه یاست. کله چې حکومت د یوه کلي کنټرول له لاسه ورکړي په هغه کلي کې بې سوادی موجوده وي، طالبان په آسانې سره کولای شي هغه کلی تر نفوذ لاندې راولي. کله چې

طالبان خلکو ته د ۱۰۰ افغانیو وړاندیز وکړي، او د دې لپاره چې خپلې کورنۍ تغذیه کړی، هغوي به په دې کار کې له ځانه تردد ښکاره نه کړي.″

خلکو جوته کړی چې په سیمه کې مخ پر زیاتیدونکې ناامنۍ د چین هیواد د پطرولیمو د نړیوال شرکت لخوا د کارونو د ځندولو د مسلې سره چې موخه یې په سرپل ولایت کې د دولت لپاره د تیلو استخراج او ویش و، تړاو لری. یاد شرکت په لومړیو کې د سرپل په ولایت کې د یو شمیر زیاتو خلکو لپاره د کاری فرصتونو وړاندیز کړی وو، خو د امنیتی لاملونو په خاطر یې ځان له صحنې ویوست.

″موږ شتمن نه یوو خو موږ ټول کار ته اړتیا لرو، دا زموږ حق دی او د خپل اصل له وجې باید ځنډې ته نه شو. موږ وینو چې دا زموږ د دولت لخوا ځرګند قومي غفلت دی.″

خلکو ټینګار کړی د دې په خاطر چې کار په موثره توګه تنظیم شی نوې ځوانان دی د زاړه حکومت د کار کونکو پر ځای په دندو وګمارل شی. یو شمیر دغه کسان د تیرو ۳۰ کلونو راهیسې په ورته موقفونو کار کوی او نه دی تبدیل شوی. هغوی باید دندې پریږدی او د نوی نسل لپاره ځای تش کړی.

د بلخ آب د ولسوالی څخه یوه تن وویل:

″...د دولتي ادارو په دننه کې باید د کارمندانو د استخدام په پروسه له سره کتنه وشي، که چیرې یو شخص د کار کولو لپاره ډیر زوړ وي، نو هغه باید خپل کار داسې یو چا ته وسپارې چې هغه ځوان او د استعداد خاوند وي. موږ په محلي حکومت کې داسې کسان لرو چې د تیرو ۳۰ کلونو راهیسې په ورته موقفونو او کچو کې کار کوي.″

**د انکشافی پروګرامونو نه شتون:** د سرپل د خلکو لپاره اوبه په زیاتیدونکې توګه د یوې جدې اندښنې په حیث را ځرګندیږی. ګډونوالو ځرګنده کړه چې د ځښاک او خړوبولو د اوبو کموالی په مستقیمه توګه په اقتصادی پراختیایې مسلو او په عمومی ډول د کورنیو په معیشت منفی تاثیر اچوی. خلکو شکایت کړی چې دولت د ولسوالیو په کچه د اوبو د مسلې د هوارې په موخه کمه توجه کړې او د ملی پیوستون د پروګرام کومی موثره پروژې نه دې تطبیق شوی څو دې مسلې ته د حل کومه لار ومومی. خلکو ټینګار کړی چې اوبه د کرنې او نورو داخلی اړتیاوو لپاره دیری مهمی دی. بزګران نیستمن دی،دا به ډیره ستونزمنه وی چې دوی په خپله دا ستونزه هواره کړی، ځکه نو، د غذایې مصونیت او نورو اړوندو اړتیاوو په حواله به دوې د اوبو کموالی لا زیات زیانمن کړی.

د سرپل د ښار څخه یوې ښځې وویل:

″کله چې زه تیر کال په کوهستاناتو کې وم، نو ما ولیدل چې خلک د ځښاک د اوبو ... د کموالي څخه په جدې توګه ځوریدل. دولت د دې مسلې د هوارې لپاره هیڅ کوم اقدام نه دې کړی. کوهستانات د شخړې څخه تر ټولو زیاته متاثره شوې سیمه ده.″

د بلخ آب د ولسوالی څخه یوه تن وویل:

″موږ په ولسوالیو کې د اوبو ستونزه لرو، موږ د دولت څخه غواړو دې مسلی ته د حل لار پیدا کړي. دولت باید اوس ځان ثابت کړي چې د خپلو اتباعو خیال ساتي، که نه نو، خلک به په حکومت خپل باور له لاسه ورکړي او په پای کې به د طالبانو ... سره یو ځای شي.″

**بهرنی مداخلی:** خلک په عمومی ډول باور لری چې د سرپل په ولایت او ټول هیواد کې اوسنی نا امنی پخوا هم او اوس هم د ګاونډیو هیوادونو، د مثال په توګه د پاکستان او ایران د سیاسی مداخلتونو له امله را منځ ته شوې. د سرپل خلک په دې باور دی چې د افغانستان ګاوندی هیوادونه په دې قادر دی چې د هیواد د ټیکاو او انکشاف سره په هر پړاو کې مرسته وکړی یا هغه مختل کړی. ځکه نو، د یوې سیمه ییزې ستراتیژې د جوړولو په موخه باید د حکومت لخوا جدې اقدامات ترسره شی څو د مخدره توکو د سوداګری او د وسلو د لیږد مخه ونیسی، دې نه یواځې د شخړې سره مرسته کړی بلکه دې د افغانستان د دولت ټولنیزه سوکالې، ښه حکومتداری او ټیکاو بې سیکه کړی دی.

د ګوسفندی د ولسوالی څخه یوه تن وویل:

″په سرپل کې نا امني د دوو خنډونو سره تړلې ده، لومړی، پاکستاني طالبان زموږ د نیستمنو او نا لوستو خلکو څخه ناوړه ګټه پورته کړي او د اسلام په نوم یې جنګوي، هغوي ته وایې که چیرې ځانمرګی برید ترسره کړې نو ستاسي ځای به په جنت کې وي، او دوهم، د پاکستان او ایران لخوا زموږ د دولت په داخلي چارو کې مداخلت، د مخدره توکو د سوداګري ملاتړ او هغه ته اجازه ورکو ل دي.″

د صیاد د ولسولی څخه یوه تن وویل: "زموږ دولت په سیستماتیک ډول په اثبات رسولې چې د پاکستان په وړاندې د ځان څخه دفاع نه شی کولای، که څه هم چې پاکستان په وار وار ویلی چې هغه زموږ دښمن دی. هغه زموږ ماشومانو ته د بنسټ پالنې اسلامی روزنې برابروی، هغوی زموږ ماشومانو ته د ځانمرګی بریدونو د ترسره کولو روزنې ورکوی."

د سنګ چارک د ولسوالی څخه یوه تن وویل:

"زه په خپله ولسوالي کې زموږ د دوو دښمنو هيوادونو يعني پاکستان او ايران د استخباراتي کارکونکو د شتون شاهد يم. هغوي دلته د سياسي او پوځي اطلاعاتو د شريکولو له لارې زموږ په ولايت کې د خپلو هيوادونو لپاره کار کوي. ولې زموږ دولت په دې هلکه څه نه شي کولای؟."

د سوزمه کلا د ولسوالی ځخه یوه تن وويل:

"زموږ په ولسوالي کې د ټولو طالبانو مالي او سياسي ملاتړ د پاکستان لخوا څخه کيږي. پاکستان لا هم زموږ د ماشومانو لپاره مدرسې جوړوي او زموږ ماشومانو ته ورښې چې افغانان کمونستان دي او بايد د هغوي په وړاندې جهاد وشي. يو ۱۳ کلن هلک چې د مخه په قاچاقي ډول پاکستان ته وړل شوی و او هلته يې په مدرسه کې زده کړې ترسره کړې، په دې ورستيو کې سرپل ته خپل کور ته راستون شوی. کله چې د يوه طالب په حيث جنګيده، پدې وروستيو کې زما په ولسوالي کې په جګړه کې ووژل شو."

د کوهستاناتو د ولسوالی څخه یو تن:

"پاکستان به هيڅکله هم زموږ په هيواد کې د سولې تامين ته غاړه کښې نه ګږدی. زموږ دولت د سولې په پروسه کې پرته له دې چې پوه شي د چا سره معامله وکړي، ښکيل شوی."

**د سولی او ملی پراخ روغی جوړی د پروسی څخه اطمينان حاصلول:** د بشريت په وړاندې د جرمونو د ارتکاب لپاره نه بايد ټولو ياغې ډلو ته عفو وشی، په عمومی توګه موافقه شوې چې علماوو او مشرانو ته بايد استثنا په نظر کې ونيوله شی ځکه چې هغوی د طالبانو او دولت تر منځ په سرپل کې د خبرو اترو په ښه موقف کې واقع دی. مذهبی مشران کولای شی د خبرو اترو د ليوالتيا د زياتولو په برخه کې مرسته وکړی، نو له دې امله دوی د سولې رغولو او سولې جوړونې په برخه کې مهم نقش ولوبوی.

د سنګ چارک د ولسوالی یوه تن مشر وويل:

" موږ باور لرو چې زموږ عالمان او مشران د دولت او دولت ضد عناصرو تر منځ د سولې په خبرو اترو کې مهم رول لوبولای شي. همدارنګه، زموږ عالمان بايد پوه شي او په مهارت سمبال شي تر څو هغوي وکولای شی د پوهاوې کچه لوړه کړي او د خپلو خطابو پر مهال خلک د سولې او ټيکاو په لور وهڅوي."

د صياد د ولسوالی څخه یوه تن وويل:

"د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام د حکومت تر رهبرې لاندې یوه پروژه ده، موږ ویره لرو که چیرې زموږ علما او مشران د سولې په دا ډول خبرو اترو کې ښکیل شي، دوي به د دولت ضد عناصرو باور له لاسه ورکړي. په زیاترو قضیو کې د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام په دې نه دې توانیدلی چې د سولې د خبرو اترو پر مهال د ټولنو سره د مدغم شویو کسانو سره خپلې وعدې سر ته ورسوي، ځکه نو د هغه موقف بې اعتباره کوي."

## ۴. د سولې طرح

په سرپل ولایت کې د خبرو اترو پر مهال، خلکو د سولې جوړونې یو لړ نوښتونو پیژندلې وو چې موخه یې د شخړې د مهمو لاملونو ځواب ویل وو. په دې نوښتونو کې دا لاندې موادر شامل وو: د ټولنیزو او اقتصادی پروګرامونو ترویج،د عادې خلکو لپاره د لا زیاتو کاری فرصتونو را منځ ته کول،د قربانیانو لپاره د عدالت د تامین په موخه د فساد له منځه وړل، ښوونې او روزنې ته لاسرسیی او په ولایت کې د سولې او پخلاینې په پروسه کې د عادې خلکو د بشپړ ګډون څخه ډاډ. خلکو په ولایت کې سولې او ټیکاو ته د رسیدو په موخه، نسیتې، فساد، د معارف او اشتغال نه شتون ته د عمده خنډونو په حیث کتلې، ځکه نو، دا په سرپل کې د نا امنې او همدارنګه د قانون د حاکمیت د نه شتون سره مرسته کوی.

**د بشري حقونو، قانون د حاکمیت ترویج او د معافیت مخنیوی:** د خبرو اترو پر مهال، خلکو د دولتی کارکونکو او عامه وګړو په منځ کې د حساسیت او توجه د ایجادولو له لارې د بشری حقونو د درناوی کلتور د را منځ ته کولو او ترویج په هکله په کلکه ټینګار کړی. د سرپل ولایت په کلیو/ولسوالیو کې د میشتو کارکونکو په اړه په خاص ډول ځانګړی ټینګار شوی. په ولایت کې د مدنې ټولنې او بشری حقونو کم فعالان موجود دی او دا په منفی توګه د بشری حقونو نظارت او راپورول متاثره کوی. دا د سولې او ټیکاو په مسلو مستقیم اغیز اچوی.

د سرپل د ښار یوه تن نارینه وویل:

"بشري حقونه باید د عدالت سره یو ځای تامین شي. که چیرې عدالت تامین نه وي نو بیا بشري حقونه هیڅ مانا نه لري. که چیرې د یو چا په حقونو تیرې شوی وي، موږ په یقین سره د عدالت او سولې لپاره هیڅ هیله نه لرو."

د ګوسفندی د ولسوالی یوه تن مشر وویل:

"موږ په خپل ولایت کې د بشري حقونو د پرمختګ په اړه څه نه وینو. یوناما خپل دفتر تړلی او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د دایمي

دفتر د نه شتون له امله په کافي توګه فعال نه دی. موږ ويره لرو که چيرې ځوک زموږ په حقونو، په خاص ډول په فساد ککړ چارواکي تيرې وکړي ځوک به زموږ د حقونو څخه دفاع کوي. دغه په فساد ککړ چارواکي به يواځې هغه وخت عدالت پلی کړي که چيرې د بشري حقونو سازمانونه د هغوي نظارت وکړي."

خلکو همدارنګه د بشری حقونو د مفکورې د مخ پر زياتيدونکی نا سم تفسير د تمايل په هکله چې ګويا دا د غربې فرهنګ لخوا په موږ يوه تپل شوی مفکوره ده هم انديښنې په ډاګه کړی. د ولايت په مرکز کې چيرې چې تر يوې اندازې لوستی خلک اوسيږی هغوی په بشری حقونو باور او د هغو درناوی کوی، خلک د سرپل د ولايت په کليوالو سيمو کې د خپلو بشری حقونو څخه کم برخمن دی. د هيواد د نورو ولايتونو په پرتله، د سرپل ولايت د بشری حقونو د ټينګولو او ترويج په برخه کې کمزوری دی. په ولايت کې د مدنې ټولنې د سازمانونو او د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کميسيون د محدودو عملياتو نه شتون تر يوې اندازې پورې د دې پديدې په اړه مالومات وړاندې کوی. د پوهاوې د نه شتون له امله، ښځې په ياد ولايت کې د ډيرو متاثره شويو ډلو له جملې څخه دی.

د سوزمه کلا څخه يوه تن مشر وويل:

" د سرپل په ټولنه کې د بشري حقونو مفکورې خپل اعتبار له لاسه ورکړی. خلک باور لرې چې دا يو غربې نوښت دی او د اسلامي ارزښتونو او اصولو سره په ټکر کې دی. زموږ ملايان هغه لومړي کسان ځوک چې په عام محضر کې لومړی خبرې کوي، بايد لومړي کسان وي چې د بشري حقونو په اړه پوهه تر لاسه کړي."

د سوزمه کلا څخه يوه بل تن مشر وويل:

"د سرپل په ولايت پورې تړلې زموږ په ولسوالي کې د بشري حقونو لا زياتې پاملرنې ته اړتيا ليدل کيږي. د داسې روښونو په مرسته، نارينه بايد په دې پوه شي چې ښځې هر وخت د خشونت په وړاندې اواز اوچتولای شي او د حقوقي مرستې غوښتنه کولای شي."

د کوهستاناتو د ولسوالی څخه يوه تن نارينه وويل:

"زموږ په ولسوالي يعنی کوهستاناتو کې ښځې په دوامداره توګه د خشونت څخه زوريږي. زموږ په ولسوړالي کې خلک د سواد څخه دومره بې برخه دي چې هيځوک هم د بشري حقونو په مانا نه پوهيږي."

د کوهستاناتو د ولسوالی څخه یوه تن بل نارینه وویل:

”موږ د بشري حقونو مخالف نه یوو، ځکه چې بشري حقونه د اسلام سره په تضاد کې نه دي. موږ بشري حقونو ته د سولې او بشري وقار د ساتلو په برخه کې د یوې مثبتې اصطلاح په نظر ګورو. هغه څه چې بشري حقونه وایې هغه دا ده چې هیڅوک باید و نه ځورول شي او دا هغه مفکوره ده چی اسلام ۱۴۰۰ کاله وړاندې تشریح کړې.“

## ۵. د خلکو سپارښتنې:

په ټولو ګروپی بحثونو کی د سرپل خلک وړاندیز وکړ چی په دی ولایت د دایمی سولی رسیدو لپاره دولت او بین المللی ټولنی لانډی کارونه په لار واچوی:

**د تعلیم اوتربیی وډه:** (۱) په ټولو ترسره شویو خبرو اترو کې، خلکو غوښتنه کړې چې د یوې معیاری وسیلې په حیث معارف ته لاسرسی باید زیات شی څو په دې توګه په ولایت کې د امنیت په شمول د ټولو اړوندو مسلو په اړه خلک حساس شی. (۲)خلکو په کلکه وړاندیز کړې چې د پرانیستو ښوونځیو په شمیر، د زده کونکو په شمیر او په خاص ډول د نجونو د شمولیت په شمیر کې دې زیاتوالی راشی، ځکه چې د نوی نسل لپاره د ښوونې او روزنې د امکاناتو برابرول د ولایت د پایدارې پراختیا لپاره ضروری ده.

**امنیت: (۱)**خلکو وړاندیز کړی چې حکومت باید پدې قادر وی چې د ولسوالی په هغو سیمو کې چیرې چې د حکومت ضد عناصر تر ډیره بریده فعال دی، د افغان سیمه ییزو پولیسو او ښځو د شمیر په برخه کې د زیاتوالی په شمول د پام وړ پوځې شتون وساتی.

**د سولې جامع پروسه:** (۱) په سر پل کی د سولی د پروسی څخه اطمینان حاصلول (۲) د ولایتی سولی شورا اصلاح کول (۳) د سولې په پروسه کې د عنعنوی مشرانو په ځانګړې توګه د علماوو(مذهبی علماوو) او د ټولنو د مشرانو مهم نقش .

**د بشری حقونو ساتنه: (۱)** د نظارت او حسابورکونې دولتی میکانیزمونه باید تقویه شی څو د بشری حقونو د شکایتونو د عادلانه او بې پری تحقیقاتو له لارې، په خاص ډول د ښځو په وړاندې د خشونت د موضوعاتو په اړه د ملکی کسانو ساتنه وکړی. (۲) باید د بشری حقونو په اړه د ټولنو او ولایتی چارواکو په منځ کې ترویجې او د حساسیت جوړونې پروګرامونه ترسره کړی.

**پراختیا:** (۱) د ملی پیوستون پروګرامونه تقویه شی. کله چې د سرپل په ولایت کې د کلیو د پراختیا مسله را منځ ته کیږی نو د ملی پیوستون پروګرام دا توان لری چې موثره او زیربنایې پایلې ولیږدوی.(۲) خلک باید د ټولنو د اقتصادی بیارغونې د پیژندلو،پلانولو او تنظیمولو په چارو کې په موثره توګه ښکیل وی.

**کارې فرصتونه:** (۱) د ځوان نسل لپاره د کارې فرصتونه را منځ ته کول به په سرپل ولایت کې د سولې او ټیکاو سره مرسته وکړی. ګډونوالو د حکومت لخوا د هغه روان تمایل په اړه اندیښنې مطرح کړی چې غواړی زاړه او کم مهارت لرونکی خلک په دندو وساتی. دا کار د هغو ځوانانو په وړاندې د کارونو مخه ډب کوی څوک چې ښه مهارتونه لری. (۲) حکومت باید ژرترژره داسی پروګرامونه معرفی کړی چې موخه یې د نویو ځوانانو د ګمارلو له لارې څوک چې د زړو کارکونکو په پرتله په ښه موقف کې دی او په ښه توګه کولای شی کارونه ترسره کړی، تبدیلول دی.

# د فارياب ولايت
# د سولې لپاره ولايتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

د سولې لپاره در افغانانو ډیالوګ د دوهم پړاو د یوې برخې په حیث د فاریاب ولایت مدنی ټولنې د متمرکزو ډله اییزو بحثونو پنځه ناستی (دوه ځانګړی ناسی د ښځو لپاره) د فاریاب ولایت د میمنې په ښار کې تر سره کړی. دسولی دا ولایتی ټګلاره د ۱۵۲ (۸۳ تنی ښځی او ۶۹ تنه نارینه) تنو عامو وګړو نظریات څرګندوی چې د فاریاب په ولایت کې د ټولنې د بیلابیلو کټګوریو څخه: د دینی عالمانو، ټولنې مشرانو، بانفوذه مشرانو، د مدنی ټولنې استازو، د سولې د شورا غړو، د ټولنې سره ادغام شوی کسانو، د پوهنتون استاذانو، ښوونکو، ژورنالستانو، زده کوونکو، د انجو کار کوونکو، بااثره ښځی، ښځینه ماهرو کارکوونکو او د کور د میرمنو په ګډون، استازیتوب کاوه. دا راپور هغه انګیرنې وړاندې کوی کوم چې د فاریاب په ولایت کې عام وګړی د وسله والی شخړی، د هغې د اصلی انګیزو او بالقوه اصلی فعالینو په هکله یې لری. د سولې لپاره د روانی مداخلی په اړوند د ګډونکونکو نظریات د دوی لخوا د سولې د لاسته راوړلو لپاره د حل د بدیلونو سره یو ځای په پای کې بیان شوی. همدا ډول د سولی دا ولایتی نقشه د متمرکزو ډله ییزو بحثونو وړاندیزونه هم بیانوی چې د فاریاب په ولایت کې په څه ډول ټیکاو تر لاسه او تلپاتی سولی راوستلی شی.

دا مشورتی غونډی د سولی په هکله د افغانانو د خبرو اترو ( چی ددی څخه وروسته خبرو اتری نومول کیژی) ددویم مرحلی د یو ی برخی په ټوګه د ۱۱ مدنی ټولنو او د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون لخوا د ۴۵۰۰ عادی افغانانو څخه زیاتې کسانو سره د سولی د ۳۴ محلی نقشی د برابرولو په موخه تر سره شول .

## ۲. ولایتی انځور: جغرافیه،وګړ پیژندنه او سیاسی اوضاع

د فاریاب ولایت د افغانستان د شمال زون په لویدیزه څنډه کې موقعیت لری، د لویدیز او شمال لخوا د ترکمنستان هیواد سره،د ختیز لخوا د جوزجان او سرپل ولایتونو سره، د سهیل لخوا د غور ولایت سره او د سهیل- ختیز لخوا د بادغیس ولایت سره پلی لری.

د فاریاب ولایت مرکز د میمنی ښار کابو ۴۳۰ کیلومتر د کابل په شمال- لویدیز او کابو ۲۳۰ کلیو متره د مزارشریف په سهیل-لویدیز خوا کې موقعیت لری. دغه ولایت ۱۵ ولسوالی لری.[۱۷۴] د دغه ولایت ځمکنۍ اراضی د هندوکش د غرونو څخه چې د فاریاب ولایت په سهیلی سیمه کې واقع شویدی پیل او د فاریاب ولایت شمالی هاواره دښتو پوری غزیدلی دی. په دغه ولایت څلور فصلیزه سیندونه جریان لری؛ د قیصار،میمنه، المار او

[۱۷۴] د میمنه ښاروالی، خان چهار باغ، قورغان، اندخوی، قرمقل، دولت آباد، شیرینتګاب، خواجه سبز پوش، بیلچراغ، ګرزیوان، کوهستان، پښتونکوټ، المار او قیصار. د غورماچ ولسوالی په بادغیس پوری تړلی ولسوالی ده خو د ۲۰۰۸ کال د دسمبر په میاشت کې د ولسمشر د فرمان پر بنسټ د فاریاب د ولایت لخوا اداره کیږی.

ګرزيوان سيندونه. دغه سيندونه په عمومی ډول سره د چينو، بارانی اوبو او اوبه شوی واورو څخه تغذيه کيږی چې په ژمی، پسرلی او د منی موسمونو په پيل کې د اوبو څخه ډک بهيږی. د پښتونکوټ په ولسوالی کې د ميمنې د سيند پر سر د سرحوض په نامه مصنوعی د اوبو بند شتون لری.

د معلوماتو پر بنسټ د دغه ولايت نفوس د ۱۷۰۰۰۰۰ تر ۲۰۰۰۰۰۰ پوری وګړی تخمين شوی.[۱۷۵] دغه شمير وګړی چې د ټول هيواد د نفوسو کابو ۳،۸۲ سلنه جوړوی، د فارياب ولايت د نفوس له پلوه د افغانستان د ګڼ شمېرو و ولايتونو په لست کې په اتمه شمېره کې راځی.[۱۷۶] د وګړو زياتره شمېره (۸۱،۸) سلنه په کليوالی سيمو کې ژوند کوی.[۱۷۷] د فارياب ولايت ګڼ شمېر مهاجرين (مهاجرين او داخلی بيځايه شوی کسان) لری. په دغه ولايت کې کابو ۹۴۲۹۹ تنه مهاجرين[۱۷۸] ژوند کوی چې کابو د دغه ولايت ۹،۹ سلنه نفوس تشکيلوی.[۱۷۹]

که څه هم د يوه نوی او د باور وړ قومی ترکيب په هکله معلومات شتون نلری، خو داسی فکر کيږی چې د دغه ولايت زياتره وګړی ازبکان، ورپسی تاجکان/ايماق، پښتانه او کوچيان، ترکمنان، عرب او د هزارګانو لږکی وی.[۱۸۰] ازبکی تر ټولو پراخه (اکثريت په دغه ژبه غږيږی) د ويلو ژبه ده چې ورپسی دری او پښتو ژبې کارول کيږی.[۱۸۱] په ۲۰۰۷ کال کې د کوچيانو شمېره کابو ۶۸۹۰۰ تنه اټکل شوی چې د دغه ولايت د ټول نفوس ۷،۳ سلنه جوړوی.[۱۸۲] د ولايت عمده مذهب سنی اسلام دی چې د ګوتو په شمېر شيعه کورنی هم شته.[۱۸۳]

د وګړو د اکثريت عايد د کرهنې او مالداری څخه ترلاسه کيږی چې په هغه پسی غير کرهنيز کارونه، سوداګری او خدمتونه او د لاسی صنايع فعاليتونه دی. د اقتصاد عمده

---

[۱۷۵] د ملی خطر او زيانمنيدنې تحليل، ۲۰۱۱، دغه خپروندويه نشريه چې د ASGP/UNDP لخوا تمويل شوی، پرمختيايی پروژی او د فارياب ولايت د واليانو کارونه په بحث نيسی.

[۱۷۶] د ملی خطر او زيانمنيدنی تحليل ۲۰۰۷/۸

[۱۷۷] د ملی خطر او زيانمنيدنی تحليل ۲۰۰۷/۸

[۱۷۸] ۲۰۰۲ – ۲۰۰۷ د مهاجرينو او داخلی بيځايه شويو کسانو شمېری چې د مهاجرينو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کميساری لخوا وړاندی شوی.

[۱۷۹] د مهاجرينو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کميساری لخوا د مهاجرينو شمېر تيار شويدی او په ملی خطر او زيانمنيدنی تحليل ۲۰۰۷/۸ کی د فارياب د وګړو تخمين

[۱۸۰] د شمال زون د فارياب ولايت د يوناما د ۲۰۰۸ کال ولايتی انځور، اصلی سرچينه معلومه نده.

[۱۸۱] د کليو د بيا جوړونی او پراختيا وزارت ولايتی انځور.

(http://www.mrrd.gov.af/NABDP/Provincial%20Profiles/Faryab%20PDP%20Provincial%20profile.pdf)

[۱۸۲] د ملی خطر او زيانمنيدنی تحليل ۲۰۰۷/۸

[۱۸۳] د يوناما د ۲۰۰۸ کال ولايتی انځور پر بنسټ ۲۵ شيعه مسلمان کورنی په ميمنه کې ژوند کوی.

سکتورونه کرهنه، مالداری، صنعتی توليدات او طبيعی زيرمی دی. عمده کرهنيز محصولات چې د مصرف کولو او هم مارکيټ لپاره توليديږی غنم، اوربشی، الياف، کنجد، مالوچ، هندوانی، خټکی، انگور او نوری ميوی/ مغزيات لکه پسته، بادام، ناک، گيلاس، مڼی، بهی، زردآلو او توت دی. مالداری هم د کارولو/خرڅولو او مصرف کولو (غوښه)، بارکشی، ترانسپورت او د مالداری اړوند محصولاتو د توليد لپاره (کڅ، لبنيات، څرمين محصولات لکه د قره قل پوستکی) لپاره کارول کيږی. د دغه ولايت د لويو توليداتو کچه نسبتاغټه ده خو د غاليو، کمبلو او لاسی صنايع توليداتو کچه کوچنی ده. د ولايت او ولسواليو په مرکزونو کې ترکاڼی، ولډينگکاری، ترانسپورت (لارې او ټکسی)، کور جوړونی او پرچون مصرفی توکې عام سوادگری او دندی گڼل کيږی. د فارياب ولايت مالگه، د مرمرو ډبری او د معدنی سکاره طبيعی زيرمی لری چې تر دی مهاله په بشپړ پيمانه ندی توليد شوی.

## ۳. د شخړې تحليل: د شخړې ډولونه او انگيزې

### د شخړې ډولونه:

**د طالبانو تر مشری لاندی جگړی:** د فارياب په ولايت کې تر سره شوی په ټولو پنځگونو متمرکزو ډله اييزو بحثونو کې د گډونکوونکو اکثريت د طالبانو تر مشری لاندی بلواگری په فارياب ولايت کې د سولې او ټيکاو په روانو ننگونو کې عمده لامل تشخيص کړيدی. د مشوره شويو اکثريت کسان پدی آند وو چې د خپل جغرافيايی موقعيت له امله چې د شمال د زون د ننوتلو د دروازې په حيث گڼل کيږی، د فارياب ولايت تل خو په ځانگړی ډول په تيرو دوو وروستيو لسيزو کې د بيلابيلو وسله والو ډلو تر منځ د وسله والی شخړی شاهد وو. د برخه والو زيات شمير د غورماچ ولسوالی په فارياب کې تر ټولو نا امنه ولسوالی مشخص کړی چې د فارياب ولايت ته د بلواگری د دروازوی په ډول گڼل کيږی. دولتی ضد عناصر په غورماچ ولسوالی کې توانيدلی چې خپل نسبی کنټرول او اغيزه گاونډيو ولسواليو لکه قيصار او المار ته هم وغځوی او په دغو ولسواليو کې يو شمير زيات کلی د خپلی ولکی لاندی راولی. د دی برسيره دولتی ضد عناصر توانيدلی چې خپل فعاليتونه د فارياب نورو ولسواليو ته لکه پښتونکوټ او دولت آباد ته هم وغځوی.

د مدنی ټولنې يوې ښځينه غړې وويل:

> ”مونږ په فارياب ولايت کې نسبې ښه امن درلود خو له بده مرغه د هرې ورځې په تيريدو او د بيلابيلو دليلونو له امله امنيتي وضعه خرابيږي. همدا اوس په فارياب کې زياتره سيمې د طالبانو تر کنټرول لاندي دی او د خلکو او حکومت تر منځ يو ستر واټن ايجاد شويدي.“

د فارياب ولايت د غورماچ، قيصار او المار په ولسواليو کې د دولتی ضد عناصرو فعاليتونه د افغانستان د ملی امنيتی ځواکونو پر جګړييز مورال او همدارنګه په نسبې ډول پر امنو ولسواليو باندی ناوړه اغيزه کړيده. د دی په پايله کې عام وګړو د افغانستان پر ملی امنيتی ځواکونو باندی خپل باور او اعتماد له لاسه ورکړيدی.

د ګرزيوان په ولسوالی کې د ښځينه شورا يوې غړی وويل:

> ″که چېرې مونږ تېر کال د نن سره پرتله کړو، امنيتی وضعه د هرې ورځې په تېريدو سره خرابيږي. طالبان په کراره سره د دولت طرفدار ځواکونه له کليو څخه شړي او په پر له پسې ډول سره په دغو کليو کې ګزمه ګرځي. په ځينو سيمو کې د دولت طرافدار ځواکونه قصداً د طالبانو سره جګړه نکوي. ځايي خلک د هرې ورځې په تېريدو سره پر افغان ملي امنيتی ځواکونو باندي خپل اعتماد له لاسه ورکوي.″

**ناقانونه وسلوالی ډلی او ډله ييز رقابتونه:** د طالبانو تر مشری لاندی د بلواګری بر سيره د فارياب ولايت د اوږدی مودی لپاره د تنظيمی شخړو ځای وو. د طالبانو د حکومت د راپرزيدو وروسته دغه ولايت د شمال زون د بل هر ولايت په پرتله اوږده وسله واله تنظيمی جګړه تجربه کړيده. د ۲۰۰۹ کال راهيسې پخوانې ناقانونه وسله واله ډلې د حکومت د طرفدارو ميلشو په ډول بيا بسيج شويدی تر څو د فارياب په ولايت کې د مخ پر زياتيدو بلواګری پر ضد جګړه وکړی. پدی ډول سره دغه قومندانان يو ځل بيا په پراخه پيمانه په دغه ولايت کې څرګنده ونډه لاسته راوړه. د دوی ځينی کسان د افغان ځايی پوليسو او يا هم د مهمو تاسيساتو د پوليسو تر پروګرام لاندی تنظيم شول او ځينی نور يی په کليو او يا هم د ولسواليو په مرکزونو کې چېرته چې پوليس امنيتی پوستی لری د کومکی ځواکونو په ليکو کې منسجم شويدی. د دولت طرفدارو دغو مليشو څخه دا تمه کيږی چې هغه مهال د افغان ملی امنيتی ځواکونو ملاتړ وکړی کله چې د دوی د امنيتی پوستو پرسونل نشی کولای په خپلواک ډول سره د طالبانو ډله ايېز بريدونه په شا وتمبوی. د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۳ کلونو تر منځ زيات شمېر پخوانی قومندانان او د هغوی کسان د افغان ملی پوليسو لخوا ګمارل شويدی او د بلواګری پر ضد جګړه کې يې مهم رول لوبولی. خو په عين وخت کې د دولت طرفدارو مليشو په صفت د پخوانی قومندانانو بيا بسيجول پخوانی پټ ځايی شخړی (دواړه شخصی او تنظيمی) يو وار بيا پيل شوی. دغې مسالې د بلواګری پر ضد د جګړی ننګونی او پيچلتيا لا نوره هم زياته کړی.

د يو ښوونځی ښوونکی وويل:

> ″د فارياب په ولايت کې زياتې ډلې لکه طالبان، اربکيان، ناقانونه وسله واله ډلې، افغان ملي پوليس او ځايي پوليس جګړه کې ښکيل دي. پخواني جهادي

قوماندانان او با نفوذه مشران د دغو ډلو څخه يو شمېر کسان په قانوني او يا هم غيرقانوني وسلو سمبال کړيدي. جګړه يا خو د طالبانو او نورو وسله واله ډلو ترمنځ ده او يا هم د غير طالبانو وسله والو ډلو د خپل منځي جګړې دي."

**قومي دښمنی او د محلی زورواکو په مينځ کی رقابتونه:** ګډونکوونکو د فارياب په ولايت کې د جګړې يو شمېر نور ډولونه هم تشخيص کړيدی چې پدی ډول دی: قومي شخړی چې د ټولنو تر منځ د کليدی سياسی شخصيتونو او دولت ضد عناصرو په ملاتړ او مداخلې سره رامنځته کيږی؛ د ځايی قدرت د دلالانو تر منځ شخړی چې د عايد او سرمايی د توليدی فعاليتونو د کنترول کولو لپاره رامنځته کيږی؛ او هغه جګړی چې د قدرت د دلالانو ترمنځ په ټولنه کې د خپلی اغيزی او رسوخ د پراختيا لپاره کيږی.

د پوهنتون يو پروفيسور:

"د قدرت د دلالانو تر منځ شخصي منازعي چې غواړي خپل اغيزه وساتي، ځايی منازعې چې لامل يي بيسوادي او جهالت دی (په ځانګړي ډول د هغو ټولنو تر منځ چې په کليو کې ژوند کوي) د فارياب په ولايت کې تر ټولو مهمي اندېښني دي. په تېرو نږدې وختونو کې د دولت ضد عناصر د قيصار په ولايت کې زيات شمېر کورونه وسوځول. د دغه کار عمده دليل د ټولنو ترمنځ منازعه وه. دغه منازعه د حکومتي چارواکو د بيغورۍ له امله رامنځته شوه."

**د شخړی انګيزې:** ګډونکونکو د فارياب په ولايت کې د شخړې درې عمده انګيزی تشخيص کړيدی: (۱) د ځايی دولتی چارواکو لخوا ناسمه اداره او منجمنټ، په فارياب ولايت کې د افغان ملی امنيتی ځواکونو د چارواکو په ګډون، او د ښی حکومتداری د قانون حاکميت او امنيت په کار کې، د اداری فساد او ظرفيت نشتوالی له امله، د دوی پاتی راتلل؛ (۲) سياسی دلايل (د فارياب ولايت د جغرافيايی موقعيت چې شمال زون ته د ننوتلو د دروازی په حيث دی، د زيات شمېر سياسی تنظيمونو په ګډون چې د تېرو پيښو را برسيره شوی دښمنی له يو بل سره لری)؛ او (۳) ټولنيز - اقتصادی تشې (د ساری په ډول بيوزلی، بيکاری، بيسوادی، په عامو وګړو کې د خپل حقونو او مسؤليتونو په اړه د پوهاوی نشتون او د ولايت په ځينو برخو کې د کوکنارو کښت). په همدي ډول ګډونکوونکو خپل باور داسي بيان کړ چې سوله او ټيکاو د فارياب په ولايت کې تامين کيداشي که چېري ياد شويو ننګونو ته رسيدګي وشي.

**پراخ اداری فساد او دسولس او روغی جوړی د پروسی سستوالی:** د ګډونکوونکو اکثريت د اړوندو رياستونو ځايی چارواکو باندی، د فارياب ولايت د سولی د ولايتی شورا په ګډون، د پراخ اداری فساد له امله نيوکه وکړه. ګډونکوونکی پدی باور وو چې د عام وګړو او ځايی دولتی چارواکو تر منځ د نارضايتی اصلی عامل اداری فساد دی. ګډونکوونکو

ياده کړه چې اداری فساد د قدرت د ځايی دلالانو لپاره د اغيزی او معافيت ترلاسه کولو لپاره يو لار ده. همدارنګه دغه پديده د بی عدالتی او بيکاری لامل هم ګرځی.

يو دينی عالم وويل:

"د جګړې اصلي لامل، په ځانګړي ډول د ولسواليو په کچه، حکومتی (ځايي اداره) ده. د فارياب په زياترو ولسواليو کې ځايي چارواکي خپلې دندې په سمه توګه نه اجرا کوي، هغوي په بيسارې ډول سره په فساد ککړ دي. کله چې د قدرت يو دلال د عام سړی ځمکه غصب کړي نو ځايي چارواکي د عام سړی شکايت ته غوږ نه نيسي. د ساري په ډول دوه د قدرت دلالان د قيصاري او جناب په نومونو (دواړه د پارلمان غړی دي) د قيصار په ولسوالي کې پريکړه کوونکي کسان دي. دوي د قيصار ولسواالي په دوو برخو ويشلي. د ولسوالي چارواکي نه شي کولاي او يا هم نه غواړي چې د دوي په پريکړو کې مداخله وکړي."

زيات شمېر ګډونکوونکو دا توضيح کړه چې په څه ډول په اړوندو رياستونو کې اداری فساد په نيغه د عامو خلکو پر ژوند باندی، په ځانګړی ډول کله چې پرمختيايی پروژی د اداری فساد له امله تعليق شوی وی، ناوړه اغيزه کوی.

يوه ژورنالست وويل:

"ستره مساله چې وسله واله جګړي ته لمن وهي او د خلکو او حکومت تر منځ واټن رامنځته کوي، اداری فساد دی. د کار ګمارلو پروسه په فساد ککړه ده؛ د ولايت په کچه خلک کابل ته ځي او دولتي موقفونه په پيسو رانيسی. کله چې دوي موقف اشغال کړل نو بيا مجبور دي چې د خپل موقف د ساتلو لپاره د کابل د چارواکو پخاطر بډي واخلي. مرکزي حکومت نشي کولاي د فارياب په ولايت کې پر پرمختيايي پروژو باندي تمرکز وکړي، د ساري په ډول د المار په ولسوالي کې د اوبو بند او د حلقوي سړک د قير کولو چاري د اوږدي مودي راهيسي تعليق شويدي. د فارياب په ولايت کې خلک داسي فکر کوي چې د حکومت ځيني عالي رتبه چارواکي نه غواړي چې دغه پروژي پلي شي."

د افغانستان د سولې او بيا ادغام په پروګرام کې اداری فساد په فارياب کې د متمرکزو بحثونو د ډلو د ګډونکوونکو لپاره يوه بله اندېښنه وه. زيات شمېر ګډونکوونکو ياده کړه چې د فارياب په ولايت کې د سولې پروسه، د سولې په شورا کې د اداری فساد او د سولې د شورا د غړو د ناسم ټاکلو، تر اغيزی لاندی راغلی. د مدنی ټولنې يوه غړی وويل:" د سولې پروسه د حکومتی چارواکو او ځينو د قدرت دلالانو لپاره يوه پروسه نه بلکی يوه

پروژه ده. د سولې د شورا زيات غړی فاسد او د اعتماد وړ خلک ندی." ځينی ګدونکوونکی پدی باور وو چې د افغانستان د سولې او بيا ادغام پروګرام د جنايتکارانو لخوا په ناسمه توګه کارول کيږی تر څو خپل معافيت تامين کړی. دغه مساله به تر هغه مهاله دوام وکړی چې د څارنې پروسه او د شکايتونو د حل ميکانيزم په شفاف ډول سره کار ونکړی. د ځينو ګډونکوونکو د وينا پر بنسټ کومی ډلی چې د سولې د پروسی سره يو ځای شويدی دوی د دولت ضد عناصرو اصلی ډلې ندی.

د مدنی ټولنې يوې ښځينه غړې وويل:

″حکومت بايد د افغانستان د سولې او بيا ادغام پروګرام ودروي ځکه مصالحه کوونکو ته پيسي ورکول عادي وګړي هڅوي چې جرمونه تر سره کړي او له طالبانو سره يو ځاي شي او بيا مصالحه وکړي او پيسې او معافيت تر لاسه کړي.″

ځينو ګډونکوونکو چې د متمرکزو بحثونو په ډلو کې برخه اخيستی وه په فارياب کې د افغانستان د سولې او بيا ادغام په پروګرام کې د اداری فساد شتون تاييد کړ. دوی اصرار کاوه چې دا ډول اداری فساد د دی لامل شوی چې يو زيات شمېر د دولت ضد عناصر ډلی کوم چې د سولې د پروسې سره د يو ځای کيدلو نيت او اراده درلوده خو جګړی ته ادامه ورکوی.

د فارياب يو ادغام شوی کس وويل:

″مونږ ځکه پريکړه وکړه چې د سولې د پروسي سره يو ځاي شو تر څو وکولاي شو د پرمختيايي پروژو په پلي کولو کې رغنده ونډه واخلو، خو له بده مرغه مونږ ته دغه چانس ميسر نشو. په فارياب ولايت کې د سولې شورا په بشپړ ډول سره په فساد ککړ دی. کله چې د سولې د پروسي سره يو ځاي شوم ما۱۰۰ ميله وسله له ځانه سره راوړه خو مخکي له دي چې د رسنيو په وړاندي وغړيږم، ځيني دولتي چارواکو له ما وغوښتل چې د رسنيو په وړاندي ووايم چې ما يوازی ۷۱ ميله وسله له ځانه سره راوړي. دا پدي مانا ده چې زما ۲۹ ميله وسله ثبت او زيرمه شوي نده: د سولې د شورا غړو او دولتي چارواکو هغه له ځانه سره اخيستي و. په همدي ډول زمونږ ځيني نوي وسلي د زړو او غيرفعالو وسلو سره بدلې شوي وې.″

ځينی نور ګډونکوونکی وويل که څه هم د فارياب ولايت د سولې او بيا ادغام پروژه د ښه مالي وضعيت څخه برخمن دی خو ډيره په کراره عمل کوی او تر اوسه پوری کومه ستره لاسته راوړنه نلری. د يوې انجو ښځينه کارکوونکی وويل:

″کوم کسان چې د سولې د پروسې سره يو ځاي کيږي وروسته بېرته د طالبانو سره يو ځاي کيږي. اصلي عامل يې بيکاري ده. د سولې شوراى يا خو نوره هم تقويه شي او يا هم بايد له منځه ولاړشي. د سولې د شورا غړى ټولې په فساد ککړ دي. مونږ ټول پوهيږو چې عام وګړي له زړو او ناکاره وسلو سره راځي او د سولې د پروسې د ښه والي ځخه ګټه اخلي.″

زيات شمېر ګډونکوونکو وويل چې مصالحه کوونکو د حکومتی چارواکو او امنيتی موسسو ځخه کافی ملاتړ نه ترلاسه کوی. لامل يی د خونديتوب او تحفظ نشتون دی. امنيتی انديښنی د دی لامل شوی چې مصالحه کوونکی د فرصتونو په لټه کې شی او د دولت ضد عناصرو ډلو سره بېرته يو ځای شی. د طالبانو يوه پخوانی غړی وويل:

″مونږ (۷۱) تنه د فارياب ولايت د سولې د شورا په همکاري د سولې د پروسې سره يو ځاي شوو. که څه هم مونږ د حکومتي چارواکو لخوا کوم ملاتړ تر لاسه نکړ خو د فارياب حکومتي کارکوونکی زمونږ څخه ټمه لري چې کوم څه چې د سولې د شورا لخوا تر لاسه کوو هغه د دوي سره وويشو. زمونږ لپاره يوه اندازه پيسې تخصيص شوي چې د هغه سره کور کرايه کړو: دوي زمونږ څخه غواړي چې دغه پيسې د دوي سره وويشو. په فارياب کې ما دوه کورونه درلودل. ما دغه دواړه کورونه د خپلو ماشومانو د نفقي لپاره خرڅ کړل. مونږ مناسبه تنخوا نلرو. حتی چې زمونږ ځيني کسان د افغانستان د ملی امنيتي ځواکونو لخوا شکنجه شول. که پوليس زمونږ امنيت تامين کړي مونږ وسلې ته اړتيا نلرو. که مونږه وسله غوښتله نو مونږ کولاي شواي د فارياب په ولايت کې رانيسو او يا د پاکستان ځخه راوړو. حکومت جنګ سالاران بيا په وسلو سمبال کړي چې زمونږ ساتنه وکړي خو زمونږ د ځان ساتني لپاره وسله نه راکوي. زمونږ سره دا امکانات نشته چې د دولت ضد عناصرو سره بيا يو ځاي شو او که چېرى وکولاي شو نو يو ځاي کيږو.″

**دددولت پروو قواوو معافيت:** زيات شمېر ګډونکوونکو دا ياده کړه چې د دولت طرفدارو مليشو ناسمی کړنی (د عادی وګړو ځورونه، د افغان ملی پوليسو/جنايی جرمونو آمريتونو په کار کې مداخله، اخاذی، ناقانونه ماليه، پخپل سر توقيفونه، وهل ټکول، جبری کارونه او پر ځايی خلکو باندی نوری اضافی مسؤليتونه اړول) وسله واله شخړی ته لمن وهی. دغه کار د دی لامل شوی چې عادی وګړی په خپلو کليو کې د طالبانو راتګ ته ښه راغلاست ووايی. په فارياب ولايت کې د ولايتی شورا يوه غړی وويل:

"د وسله والو ډلو شته والي چې خلک ځوروي عام وګړي بېزاره او بد بينه کړيدي. دا مساله دوي ته فرق نکوي چې د طالبانو تر کنټرول لاندي واوسي او که د ناقانونه وسله والو ډلو."

د ناسمه کړنو برسيره په فارياب کې د دولت طرفداره ځينی ډلې د طالبانو سره اړيکې لری او د دواړو خواوو، حکومت او طالبان، څخه پيسی اخلی. د دی په پايله کې د دولت ضد عناصر کولای شی په اسانی سره د افغان ملی پوليسو پر پوستو باندی ډله ييز بريدونه وکړی. دا هم د افغان ملی امنيتی ځواکونو پر جګړييز مورال باندی ناوړه اغيزه کوی. د ښځو د حقونو يوه فعال وويل:

"د حکومت ځيني طرفدار قومندانان لکه اربکيان د طالبانو سره اړيکه لري او کله ناکله طالبانو ته د افغان ملی امنيتي ځواکونو او د افغان ملي پوليسو د پوستو په هکله محرم معلومات ورکوي. دغه کار د دولت ضد عناصرو سره مرسته کوي چې د افغان ملي پوليسو پر پوستو باندي ډله ييز بريدونه تر سره کړي."

د فارياب د ولايت څخه د نړيوالو پوځی ځواکونو وتل او د افغان ملی امنيتی ځواکونو د ظرفيت نشتوالې هم په فارياب ولايت کې سترې امنيتی تشې ګڼلې شويدی. د ګډونکوونکو زيات شمېر ياده کړه چې د نړيوالو پوځی ځواکونو بی وخته وتل د افغان ملی امنيتی ځواکونو او عامو وګړو پر روان باندی ناوړه اغيزه کړيده. دغه مساله د دولت ضد عناصر ډلو لپاره يوه ستره لاسته راوړنه ګڼل کيږی ځکه چې په غير مستقيم ډول سره د دوی ليکی پياوړی کوی.

د فارياب ولايت د ښځو شورا يوې غړې وويل:

"د فارياب ولايت څخه د نړيوالو پوځي ځواکونو وتل د فارياب په ولايت کې د دولت ضد عناصرو ډلي روحيه پياوړي کړيده. د دوي د وتلو راهيسي د دولت ضد عناصر توانيدلي چې ډيري سيمي خپل تر کنټرول او اغيزی لاندي راولي."

**سياسی لاملونه:** په ټولو متمرکزو ډله ييزو بحثونو کې ګډونکوونکو سياسی دليلونه هم په فارياب ولايت کې د روانی شخړی تر شا يو لامل وبلل. دوی پدی اړوند دوه بنسټيزی مسالې رابرسيره کړې (۱) د فارياب ولايت جغرافيايی اهميت او (۲) په تېرو دېشمنيو کې راښکيل د زيات شمېر سياسي ګوندونو او تنظيمونو شتون. دا خبره ياده شوه چې په تېرو دوو لسيزو کې د فارياب ولايت بی شمېره وسله والی شخړی تجربه کړی چې د بيلابيلو ډلو تر منځ، دساری په ډول د راز راز سياسی تنظيمونو ته د وفادارو وسله والو کسانو ترمنځ، (طالبان د شمالی ټلوالې پر ضد، طالبان د افغان ملی امنيتی ځواکونو پر ضد) ترسره

شوی. د جګړی اکثره خواوو تل دا هڅه کوله چې د فاریاب په ولایت کې خپل شتون وساتی.

د مشرانو د یوی شورا مشر:

"بیسوادي او بیکاري کومه نوي پدیده نده. د تېر وخت راهیسي مونږ داسي پدیدي درلودې خو موږ د یو بل سره جګړه کې ښکیل نه وو. جګړه پر مونږ باندي تحمیل شوي. د وسله والې جګړي اصلی جرړي په افغانستان کې ندي. ځینې ګاونډي هیوادونه زمونږ د هیواد په چارو کې لاسوهنه کوي. که مونږ وغواړو او که و نه غواړو دغه وسله واله جګړه به په راتلونکي کلونو کې هم شتون ولري."

د یو پوهنتون استاد:

"ځیني وختونه سیاسي کسان او پالیسي جوړونکي، په قصده او یا غیر قصدي ډول سره، وضعیت خرابوي. د ساري په ډول دوي خلکو ته ګواښ کړي وو چې په ۲۰۱۴ کال کې کله چې نړیوال پوځې ځواکونه د افغانستان څخه ووځي طالبان به بېرته قدرت تر لاسه کړي. دغې مسالې د دولت ضد عناصرو روحیه تقویه کړي او په عادي وګړو کې د ډار سبب شویدی."

ځینې ګډونکوونکو په دی باور وو چې د سیاسې دلیلونو په خاطر طالبان توانیدلی چې خپل نفوذ په دولتی دفترونو کې، د امنیتی سکتور په ګډون، زیات کړی او دوی د دولتی لوړ پوړو چارواکو ملاتړ له ځانه سره لری. یوې ښځینه ښوونکې وویل:

"طالبان د ځینو لوړ پوړو دولتي چارواکو ملاتړ له ځانه سره لري. حکومت (د دولتي امنیت ریاست) پر هغو کسانو باندي چې په ښکاره ډول سره خلک هڅوي چې د طالبانو سره یو ځاي شي هیڅ ډول کنټرول نلري. د ساري په ډول سخت دریزه دیني عالمان او یا ملایان په ځانګړي ډول د جمعي د لمانځه پر مهال د طالبانو فعالیتونه په داسي یوه طریقه تاییدوي چې زمونږ ځوان نسل هڅوي تر څو د طالبانو سره یو ځاي شي."

**تبعیض او د اقتصادی و اجتماعی وډی نه شتون:** زیات شمېر ګډونکوونکو اقتصادی او ټولنیز فکتورونه هم د فاریاب په ولایت کې د روانی وسله والی شخړی د اصلی لاملونو په ډول رابرسېره کړل. زیات شمېر ګډونکوونکې بیوزلی، بیکاری، بیسوادی او همدارنګه د ځایی خلکو او دولتی چارواکو تر منځ ژبنیز، قومی او ځایی تبعیضونه ته د وسله والی شخړی د بنسټیزو دلیلونه په ډول ګوته ونیوله. د فاریاب ولایت د ښوونکو د روزنی د مرکز یوه استاد وویل:

″زما په نظر د فارياب په ولايت کې د رواني وسله والي شخړي اصلي دليلونه بيوزلي، بيکاري، په دولتي اړوندو رياستونو کې د اداري فساد شتون، د ټولنو په سر کې او يا په دولتي موقفونو کې د قدرت د دلالانو شتون، بيسوادي، په مخدره توکو د ځوانانو اعتياد، د کليدي سياسي ډلو تر منځ ژبنيز، جغرافيايي او تنظيمي توپيرونه، د شخصي، کورني او ځايي منازعو شتون او د سولې د رامنځته کولو لپاره د سولې په ډګر کې د کارکوونکو افرادو کې د ارادي او ژمنتيا نشتون فکتورونه دي.″

## ۴. د سولې لپاره د لار نقشه

بر سېره پر دی چې د متمرکزو بحثونو په ټولو پنځګونو ډلو کې د فارياب په ولايت کې د شخړی انګيزی تشخيص شوی، ګډونکوونکو واقعی سپارښتنی هم وړاندی کړې چې د سولې د رامنځته کولو په موجوده هڅو کې تشو ته رسيدګی وکړی. د ګډونکوونکو زياتره برخې په فارياب ولايت کې د وسله والی شخړی د کمولو لپاره دا لاندی درېګونو پيش شرطونو باندی اصرار کاوه: (۱) د سولې د شورا په ګډون د ځايی دولتی نهادونو پياوړی کول؛ (۲) په امنيتی سکتور کې ظرفيت رامنځته کول او د حکومت د طرفدارو مليشه ای ډلو بې وسلی کول: (۳) د مدنی ټولنو او عامو وګړو تر منځ د همکاری له لارې ټولنيزه اقتصادی پراختيا او د افغانستان د سولې او ادغام د پروګرام ملاتړ کول.

**د ځايی دولتی نهادونو پياوړی کول:** د متمرکزو ډله ييزو بحثونو په ټولو پړاونو کې ګډونکوونکو د فارياب په ولايت کې د شخړی اساسی لامل د پراخ اداری فساد له امله کمزوره حکومتداری تشخيص کړه. دوی تاکيد کاوه چې اکثره حکومتی چاوراکی، د ولسوالی او ولايت په کچه د قضايی چارواکو په ګډون، په بېسارى ډول سره په اداری فساد ککړ دی او کافی کاری ظرفيت نلری چې خپل کار تر سره کړی. زيات شمېر کسان خپلې دندې د يو فاسد سيستم له لارې تر لاسه کوی: په همدی دليل ده چې ځايی حکومتی چارواکی ندی توانيدلی خلکو ته ښه حکومتداری او د قانون حاکميت وړاندی کړی. دغه پديده دا هم واضح کوی چې ولی ځينی ځوانان د دولت ضد عناصرو ډلو سره يو ځای کيږی او نه غواړی چې د سولې د پروسی سره يو ځای شی. زياتره ګډوونکونکو د خلکو په واسطه د ولايت والی او ښاروال د ټاکلو څخه خپل ملاتړ څرګند کړ. په همدی ډول دوی د ځايی دولتی ادارو څخه وغوښتل چې د قانون حاکميت، عدالت (بشری حقونه) او د اداری فساد او مخدره توکو پر ضد واقعی مبارزه خپل په سترو لومړيتوبونو کې شامل کړی. بيا يوازی د دی لارې کيدای شی چې د فارياب په ولايت کې د افغانستان د سولې او بيا ادغام پروګرام تشديد شی.

د يو پوهنتون استاد:

"که مونږ ادعا کوو چې د فارياب په ولايت کې د شخړي اصلي لاملونه بهرني دي، نو زه فکر نه کوم چې موږ وکولاي شو د فارياب د ولايت لپاره د سولې او مصالحي کومه نوي ستراتيژي طرحه کړو. مونږ بايد پر هغو داخلي فکتورونو باندي فکر وکړو کوم چې په دغه ولايت کې د وسله والي شخړي اور ته لمن وهي. دغه داخلي فکتورونه عبارت دي له: کمزوره حکومتداري، اداري فساد او فاسد دولتي چارواکي. دا هغه کليدي فکتورونه دي کوم چې د خلکو او حکومت تر منځ واټن رامنځته کوي. حکومت (ولايتي لوړ پوړي چارواکي) د دولتي نهادونو د پياوړتيا لپاره بايد اړين تاديبی ګامونه واخلي. هغوي بايد د فساد پر ضد واقعی مبارزه وکړي."

**د سولی د پروسی اصلاح او د هغه پراخوالی:** ځينی ګډونکوونکو په دی باور وو چې د افغانستان د سولې او بيا ادغام په پروګرام او د سولې په شورا کې سمون راويستل کيدای شی ځايی اداری سره مرسته وکړی چې خپل له لاسه ورکړی اعتبار بېرته تر لاسه کړی او د فارياب په ولايت کې د دولت ضد عناصرو ډلی وهڅوی چې د سولې د پروسې سره يو ځای شی.

د مدنی ټولنی يوه غړې وويل:

"د سولی د شورا په تشکيل کې بدلون راوستل اړين دی. اړتيا ده چې نړيوال متخصصين لکه د سولې مشاوران په ملي کچه او د امکان په صورت کې په ولايتي کچه تعين او مقرر شی. همدارنګه ټول هغه پخواني قومندانان او د قدرت دلالان کوم چې د ولايتي سولې د شورا د غړې په حيث کار کوي بايد د بيطرفو مشرانو او با نفوذه کسانو سره تعويض شي."

ځينی ګډونکوونکو د افغانستان د سولې او بيا ادغام د پروګرام د بديل لپاره سپارښتنې وکړې چې په دی کار سره ځايې دولتی ادارو ته نور اعتبار ورکړی او د دولت ضد عناصر وهڅوی چې پر ځايی حکومت باندی اعتماد وکړی او د سولې د پروسی سره يو ځای شی. دوی وويل چې د فارياب په ولايت کې ځينی دولتی ضد عناصر د افغان ملی امنيتی ځواکونو پر ضد جګړه کوی ځکه چې دوی پر ځايی حکومت باندی باور نلری او فکر کوی چې دا يو لاس پوځی رژيم دی. دغه د دولت ضد عناصر په دی آند دی چې د دغه رژيم پر ضد د دوی جګړه جهاد دی. ځايی حکومت بايد د با نفوذو کسانو او د اعتماد وړ دينی عالمانو څخه کار واخلی تر څو دوی په ځايی اداره او د سولې په شورا کې د سمون د پلی کولو پيغام نورو ته ورسوی. د دولت ضد عناصر به په غير مستقيم ډول سره د سمون دغه پيغام په جوماتونو کې د لمانځه وروسته تر لاسه کړی.

په فارياب کې د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون ولايتی مشر:

"د سولې د شورا له لارې د کار کولو د موجوده تګلارې لپاره د بديل حل دا دی چې د ديني عالمانو څخه کار واخيستل شي. دوي کولای شي په آساني سره خلکو ته د سولې او مصالحې په هکله د حکومت پلان تشريح کړي. د دولت ضد عناصرو زياتره برخه په دې دليل جګړه کوي چې دوي فکر کوي دا اوسني حکومت اسلامی حکومت ندی او يو لاس پوڅي رژيم دی. ديني عالمان (ملا امامان) دا ظرفيت لري چې تشريح کړي چې دا حکومت اسلامي حکومت دی څکه چې د سولې او مصالحې دروازې تل خلاصې پريښي دي."

يو شمېر ګډونکوونکو ياده کړه چې د فارياب په ولايت کې د بلواګرۍ اصلي عامل بيوزلی او بيکاری ده نو څکه ځايی حکومت کولای شی د کرهنی د ميکانيزه کولو له لارې دی مسالې ته تر يو حده پوری رسيدګی وکړی. د ټولنې يوه مشر وويل:

" د کرهنې د سکتور د ميکانيزه کولو له لارې ځايي حکومت کولای شي بيوزلي کروندګر وهڅوي چې خپل پر ځمکه باندې کار وکړي او د طالبانو سره يو ځاي نشي."

د فارياب په ولايت کې د سولې او مصالحې په وړاندې ستر خنډ، چې د زيات شمېر ګډونکوونکو لخوا تشخيص شوی، د سولې په پروسه کې د عامو خلکو او مدنی ټولنو نه شاملول ګڼل کيږی. دا مساله د فارياب په ولايت کې د افغانستان د سولې او بيا ادغام د يو مهمې کمزورتيا په ډول تشخيص شوی. ګډونکوونکو د دی مسالې په اهميت باندی ټينګار وکړ او په اوږده بحثونو کې وويل چې په څه ډول عام وګړی او د مدنی ټولنو ډلی کولای شی د سولې په پروسه کې شامل کړای شی. د يوې انجو کارکوونکی وويل:

"د ولايت په کچه د سولې شورا درلودل کومه بده خبره نده. خو له بده مرغه د فارياب په ولايت کې دغه پروسه بريالی نه و څکه چې د سولې شورا په فساد ککړه ده او د پروژو زياتره بودجه د سولې د شورا د غړو جيبونو ته ځي. د دغه شورا غير ضروري مصارف بايد ودرول شي. د سولې د شورا غړې بايد د بانفوذو، تحصيل کړو او با تجربو خلکو له منځ څخه وګمارل شي. د دولت ضد عناصر ځيني ډلی نه غواړي چې د سولې د پروسې سره يو ځاي شي څکه چې د فارياب په ولايت کې د سولې د شورا غړی ناسم کسان دي"

د مدنی ټولنې يوه غړی يو شمېر اندېښنی رابرسيره کړ:

" مرکزي حکومت هيڅکله هم د دولت ضد عناصرو په هکله يو روښانه تعريف ندي ارايه کړي. موږ (عام وګړي) مسلح مخالفين او وسله واله جنايي ډلی يو له بله نشو توپير کولاي. د دې برسيره د مرکزی حکومت د ناسمو او

غير واضح پاليسيو له امله چې د دولت ضد عناصرو سره د مبارزې په ډګر کې خپلې کړې د دې لامل شوې چې عام وګړې پر حکومت او افغان ملي امنيتي ځواکونو باندې خپل باور او اعتماد له لاسه ورکړې."

**د افغان ملي امنيتی ځواکونو ځواکمنول او د دولت طرفدارو مليشه ای ډلو بی وسله کول:** په ټولو متمرکزو ډله ييزو بحثونو کې د ګډونکوونکو تر ټولو ستره انديښنه په افغان ملی امنيتی ځواکونو کې د ظرفيت نشتوالی و. افغان ملی امنيتی ځواکونو کې کمی او کيفی تشی لا تر اوسه شتون لری چې دا تشی د فارياب د ولايت څخه د نړيوالو پوځی ځواکونو د وتلو څخه مخکی بايد ډک شوی وای. د ګډونکوونکو زياته برخې يادونه وکړه چې کافی پرسونل او تجهيزات او همدارنګه د افغان ملی امنيتی ځواکونو ظرفيت لوړول کولای شی پدغه ځواکونو باندی د عامو وګړو اعتماد بيا احيا کړی. دغه کار به د عامو وګړو روحيه هم پياوړی کړی. د يو پوهنتون استاد وويل:

" د افغان ملي امنيتي ځواکونو ظرفيت لوړول او دوي په مناسبو تجهيزاتو سمبالول، د ناقانونه وسله والو ډلو بې وسلې کول، د ځايي رسنيو له لارې د خلکو هڅول چې د تروريستانو په مقابل کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو څخه ملاتړ وکړي، د خصوصي سکتور د هڅولو لپاره تحفظ او ملاتړ آماده کول، د سترو زيربنايي پروژو د پلی کولو لپاره يو ښه امنيتي پلان جوړول (د فارياب ولايت څخه تر هرات ولايت پوري حلقوي سړک قير کول او د الماړ په ولسوالۍ کې د اوبو د بند د جوړولو په ګډون) او د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره مناسبي لوړې تنخواګاني د فارياب په ولايت کې د سولې او ثبات د تر لاسه کولو لپاره مهم عملی ګامونه ګڼل کيږي."

د افغان ملی امنيتی ځواکونو د ظرفيت لوړولو لپاره پروګرامونه او د دوی مناسب تجهيزول بر سېره ګډونکوونکو د دولت د طرفدارو مليشو، کوم چې ادعا کيږی چې دوی په خپلو کليو کې خلک ازار او اذيت کوی، پر بی وسلی کولو اصرار درلود. ګډونکوونکو خپل د اعتراض غږ د پخوانی ناقانونه وسله والو ډلو د قوماندانانو د بيا بسيجولو په ضد راپورته کړ کوم چې ځينی يی د دفاع خودی تر ابتکار لاندی او نور يی د افغان ځايی پوليسو په ليکو کې بيا بسيج شوی. دوی ياده کړه چې د دغو قوماندانانو اکثريت په تېر وخت کې د جنايی جرمونو په ترسره کولو متهم دی چې بايد محاکمه شی. له دی امله ګډونکوونکو د دغو قوماندانانو د چټکی بې وسلی کولو سپارښتنه وکړه. د پوهنتون استاد وويل:

"د ځايي پوليسو قوماندانان پخواني جنګسالاران دي. دوي په تېر وخت کې زيات جنايی جرمونه کړي او اوس هم ځايي ټولنې د اخاذيو له لارې (ناقانونه

ماليه اخيستل) څوروي، د پوليس په کار کې مداخله کوي او خودسرانه توقيفونه او وهل ټکول کوي. په همدي دليل سره د ټولنې خلک دوي نه خوښوي او د طالبانو عدلي موازی سيستم ته لومړيتوب ورکوي.″

**اقتصادی - ټولنيزه پراختيا:** د ګډونکوونکو زياته برخه پدی باور و چې د اداری فساد له امله کمزوری حکومتداری، بی عدالتی، د قانون د حاکميت نشتوالی او امنيتی اندېښنی د افغان حکومت اعتبار ته زيان رسولې او د فارياب په ولايت کې عام وګړی پر ځايی ادارو باندی اعتماد نکوی. دوی په حکومتداری کې تشی تشخيص کړی او سپارښتنی وړاندی کړی چې په څه ډول د ځايی حکومت اعتبار يو وار بيا احيا شی او خلک له خپل حکومت څخه ملاتړ وکړی. د مدافع وکيلانو د ټولنې يوه غړی وويل:

″په تېره لسيزه کې حکومت د زيربنايي پروژو په ډګر کې لږ کار تر سره کړی. د دي پر ځاي چې مونږ د اوبو د بند پروژه بشپړه کړو د ګاونډيو هيوادونو څخه بريښنا پېرو. د دې پرځاي چې خپل کرهنيز سيستم ميکانيزه کړو د بهر څخه غنم وارده وو. د مرکزي حکومت په پلان جوړولو او ستراتيژي کې داسي تشي د عامو وګړو پر ژوند باندي منفی اغيزه کړې.″

همدا ډول ګډونکوونکو ياده کړه چې د فارياب ولايت زيات شمېر دولتی چارواکې د تېرو لسو کلونو راهيسی په دندو ګمارل شوی چې اصلاً د دغه ولايت څخه ندی. د دوی لومړيتوب دا دی چې خپلې سياسی او تنظيمی ګټی پر مخ بوزی نه دا چې د فارياب ولايت د خلکو د ګټو لپاره کار وکړی. د لوړ پوړو دولتی چارواکو لخوا ژبنيز او ستمی توپېرونه د فارياب په ولايت کې د پرمختيايی پروژو مخه بنده کړی. په دغو پروژو کې د الماړ په ولسوالی کې د اوبو د بند جوړول او د حلقوی سړک قير کول کوم چې د فارياب ولايت زيات شمېر ولسوالی د شمال او لويديزی حوزو سره نښلوی شاملی دی. د اوږدی مودی لپاره د دا ډول پروژو تعليق د مخ پر زياتيدونکی بيکاری اصلی جړری او د دولت ضد عناصرو سره د ځوانانو يو ځای کيدو لامل شوی.

د ښوونځی ښوونکی وويل:

″ځايي چارواکي بايد نارينه او ښځو ته د کارموندنې مساوي امکانات مهيا کړي. لازمه ده چې د قومي توپېرونو او د قانون څخه د سرغړونو د پايته رسولو لپاره اړين تاديبی تدبيرونه تر لاس لاندي ونيول شي. د خلکو په منځ کې ملي يوالي بايد د دولتي چارواکو لخوا د عملی ګامونو په اخيستلو سره په مساوي ډول سره د پرمختيايي پروژو د پلي کولو له لارې چې د فارياب د ټولو ولسواليو ګټې تامين کړي، پياوړي شي.″

ګډونکوونکو وویل چې د فاریاب ولایت خلک پدی باور دی چې ځایی حکومت ندی توانیدلی خصوصی سکتور لپاره ملاتړ او تحفظ آماده کړی. د دی په پایله کې د بلخ ولایت په ګډون د شمال زون د نورو ډیرو ولایتو په پرتله په فاریاب کې په خصوصی سکتور کې لیږ پانګونه شوې. د فاریاب ولایت وګړی د ځایی دولتی اداری څخه دا غوښتنه لری چې دغه کار خپل د ماستر پلان په لومړیتوب کې شامل کړی. یوه روغتیایی کارکوونکی وویل:

" د خصوصي سکتور څخه د ځايي حکومت ملاتړ ډير مهم دی. دا به د ښځو په ګډون عامو وګړو ته د کارموندنې امکانات برابر کړي. "

## ۵. د خلکو سپارښتنی:

د فاریاب په ولایت کې د متمرکزو ډله ییزو بحثونو پر مهال، ګډونکوونکو د فاریاب په ولایت کې د شخړی د اصلی انګیزو ته د رسیدګی پخاطر دا لاندی سپارښتنی وړاندی کړی.

**د ځایی دولتې نهادونو پیاوړی کول:** (۱) د ولایت والی او ښاروال باید د خلکو په ذریعه د ولایت په کچه د دیموکراتیکو ټاکنو له لارې وټاکل شی؛ (۲) د عامه سکتور سمون، د ظرفیت جوړولو د پروګرامونو او د حکومتی کارکوونکو د تنخواګانو زیاتیدلو په ګډون، اړین دی؛ (۳) په دولتی پوستونو کې د ګمارولو پروسه باید شفافه او رقابتی وی چې په هغه کې د فاریاب اوسیدونکو مناسبو کاندیدانو ته لومړیتوب ورکړ شی؛ (۴) ځایی حکومت باید د اداری فساد، قومی توپیر او د کوکنارو د کښت سره د مبارزی په ډګر کې عملی او کوټلی ګامونه واخلی.

**د سولی او ملی پخلاینی د پروسی تقویت:** (۱) د ولایتی سولې په شورا کې غړیتوب ته باید بیا کتنه وشی (د شورا ناسم غړی باید د تحصیل کړو، بیطرفو، د باور وړ او با نفوذو کسانو سره تعویض شی؛ (۲) د سولې د شورا په غړیتوب کې د نیکو او بیطرفو کسانو تعینول به عادی وګړو ته د سولې او پخلاینې په پروسه کې د شاملیدو امکان ورکړی. دغه کار به د خلکو په منځ کې د ځایی چارواکو درناوی زیات کړی؛ (۳)د بیا یو ځای کیدل پروګرام او روغی جوړی باید د عادی خلکو او مدن یټولنی لخوا مخ ته بیوړل شی (۴) عدالت باید د محکمې په وړاندی د جنګی جنایتکارانو د محاکمه کولو له لارې تامین شی؛

**د افغان ملي امنیتی ځواکونو ځواکمنتیا او د حکومت طرفدارو ملیشه ای ډلو بی وسلي کول:** (۱) په افغان امنیتی سکتور کې کمی او کیفیتی تشی باید د نوی پرسونل د ګمارلو، د تجهیزاتو برابرولو او د ظرفیت جوړولو د پروګرامونو د ارایه کولو له لارې رفعه شی؛ (۲) د حکومت طرفدارو میلشه ای ډلو او ناقانونه وسله والی ډلی باید بې وسلی شی؛ (۳) د پرمختیایی پروژو د پلی کولو لپاره یو هراړخیز امنیتی پلان ته اړتیا شته؛ (۴) د افغان ملی

امنیتی سکتور کې سمون اړین دی. دغه سمون باید لاسته راوړنی وستایې، خیانت ته سزا ورکړی او د ترفعیاتو او تنخواګانو د زیاتولو لپاره یوه مناسبه تګلاره ولری؛

**ټولنیز اقتصادی پرمختیا او د مدنی ټولو او عامو وګړو د شاملولو له لارې د افغانستان د سولې او بیا ادغام د پروګرام پیاوړی کول:** (۱) د تعلیق شویو پروژو چټک پلی کول اړین دی. په لومړیتوب کې د المار په ولسوالی کې د اوبو د بند جوړول او د حلقوی سړک پروژه چې پورته یاده شوه شامل دی؛ (۲) د کار موندنی په سکتور کې نه تبعیض باید تنفیذ شی. د فاریاب وګړی او په ځانګړی ډول ځوان قشر د کار موندنی برابر امکانات مستحق او ورته اړتیا لری چې د ژبې او یا قوم پر بنسټ تبعیض پکې شتون ونلری؛ (۳) د خلکو تر منځ ملی یووالی او پیوستون د حکومت د چارواکو لخوا د اسانتیاو او ټولنیزو خدمتونو، د روغتیا، روزنی او د ښښاک د اوبو په ګډون د برابر لاس رسی له لارې باید پیاوړی شی؛ (۴) ځایی حکومت باید د ناوړو دودیزو کړونو پر ضد مبارزه کې ګامونه واخلی؛ (۵) د انفرادی عاید د لوړولو لپاره اړتیا ده چې زراعت میکانیزه شی. په دغه کار سره به د ولایت، زون او ملی کچه اقتصاد هم تقویه شی.

# د بادغيس ولايت
# دسولي لپاره ولايتی لار نقشې

## ۱. پیژندګلوی

دسولې په هکله دا ولایتی نقشه د کلیدی موندنو او مسلو لنډیز دی چې د متمرکزو ډلو تر منځ د بحث، د تفصیلی مرکو ، د نظریاتو د سروې ګانونو دلارې د ۱۷۰ عامو افغان وګړو سره د مشورو پر مهال چې د بادغیس په ولایت کې اوسېږی تر لاسه شوی دی وړاندې کیږی. په ګډون والو کې د بیلابیلو ټولنیزو ډلو او سیاسی شالیدونو څخه استازیتوب کوونکی نارینه او ښځینه چې په کې دولتی کارمندان، د ټولنې مشران، بزګران، ښوونکی، د مدنی ټولنې استازی ، دینی عالمان او په ټولنه کې مدغم شوی پخوانی یاغیان شامل وو. دغو مشورو د افغانستان د خلکو د سولې په هکله د خبرو اترو د پروګرام (چې ددی څخه وروسته په دی سند کی د خبری اتری تر نامه یادیژی)د دوهم پړاو دیوې برخې په توګه صورت وموند چې د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون په ګډون د۱۱ مدنی ټولنو په نوښت د ۴۵۰۰ څخه زیاتو عادی افغانانو سره د ۳۴ ولایتی د سولی نقشی د سریو په موخه جوړې شوې وې.

د سولې د دغې محلی دطرحې موخه داده چې تر ممکنه بریده د شخړې محلی محرکات په هر اړخیز لحاظ تحلیل او همدارنګه مناسبې د حل عملی لارې چارې تشخیص کړی چې د بادغیس په ولایت کې سوله او ټیکاو ټینګ او ویې ساتی.

## ۲. د ولایت انځور: جغرافیه، ډموګرافي او سیاسی وضعیت

بادغیس د افغانستان د لویدیځ د سیمې شمالی برخه ده او ۲۱۸۵۸ کلومتره مربع مساحت لری. هغه د هرات، غور، او فاریاب د ولایتونو سره پوله لری او د ترکمنستان سره نړیوال سرحد لری. دغه ولایت شپږ ولسوالۍ لری- بالا مرغاب، قادیس، جوند، ابکمری، مقر، او قلعه نو. د ولایت اداری مرکز د قلعه نو ښار دی، چې د قلعه نو په ولسوالۍ کې واقع دی. د غورماچ ولسولی پخوا د بادغیس برخه وه خو اوس د فاریاب د ولایت سره تړلې ده.

پښتانه، تاجک، ازبک، ترکن، بلوڅ، او هزاره هغه اساسی قونه دی چې په دغه ولایت کې اوسیږی. د ټول افغانستان په څیر د نفوسو کره شمېرې نشته. تقریباً د بادغیس ولایت نفوس د ۶۲٪ تاجک، ۲۸٪ پښتانه، ۵٪ ازبک، ۳٪ تر کمن، ۱٪ هزاره او ۱٪ بلوڅ دی.تاجکان د ولایت اکثریت تشکیلوی، په داسې حال کې چې پښتانه دوهم ستر اقلیت دی. پښتانه د بالا نرغاب او مقر په ولسوالیو کې اکثریت دی او تاجکان د نورو څلورو ولسوالیو کې اکثریت دی. ازبکان زیاتره د باغک په وادی کې چې قلعه نو ته نږې ده او د مقر په ولسوالۍ کې اوسیږی. هغوی په سمه توګه په محلی اداره کې استازیتوب لری. ترکمنان د بالا مرغاب د ولسوالۍ په موریچاق په وادۍ کې محدود دی. بلوڅ د ولایت د ټول نفوس ۱٪ ده او د مقر د ولسوالۍ په قرقچ کلی کې اوسیږی.

### ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه او محرکات

**د شخړې ډولونه:** ګډون والو طالبان، قومي شخړې، نا قانونه وسله والې ډلې ، د افغان ملي امنیتي ځواکونو کمزوري حضور اود ګاونډیو هېوادونو مداخلې د بادغیس په ولایت کې د بې ثباتۍ او جګړې د رامنځته کېدو د اصلي لاملونو په توګه یاد کړل.

ګډون والو وویل چې د طالبانو له اړخه رهبري کېدونکي شورشیان په ولایت کې دولتي اداري او همدارنګه د عامه خدماتو نادولتي موسسې (انجوګان) چې د روغتیا، اوبو رسولو او د مرستې د نورو موسسو لپاره کار کوي تر برید ونو لاندې نیسي. په قادیس، بالامرغاب او مقر ولسوالیو کې طالبان د کلیوالو سیمو کنترول لري او هر هغه څه چې غواړي ترسره کوي یې. افغان امنیتي ځواکونو ته د لیرد د بهیر په تعقیب طالبان په دې وتوانیدل چې په ډیرو کلیو کې په تیره بیا د بالا مرغاب او مقر په ولسوالیو کې ولري. د طالبانو خینې ډلې همدارنګه په قومي شخړو کې دخیلې دي او د خپلې قبیلې څخه کله چې د نورو قبیلو تر برید لاندې راشي ملاتړ کوي.

د بادغیس په ولایت کې د عادي خلکو په وینا، طالبان د دې ادعاء لري چې د هغوی جګړه دیني ده او داچې هغوی یواځې د خلکو د ښیګڼې لپاره کار کوي. د قادیس څخه د پوهنتون یو استاد وویل:

> " طالبان ادعاء لري چې د افغانستان حکومت د اسلام داصولو مطابق نه دی. هغوي د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونوسره ځکه جنګ کوي چې دولت اسلامي احکام نه تعقیبوي. [خو] زه د طالبانو په خبرو باور نه لرم ځکه چې هغوي یواځې د خپلو ګټو لپاره جنګ کوي نه داسلام لپاره." .

ځینو خلکو وویل چې د ولسوالۍ په کچه محلي خلک په دې نه پوهیږي چې طالبان په حق دي او که دولت. د هغوی لپاره علماء د ا مسوولیت لري چې خلک په دې پوه کړي چې څه شي سم دي. د بې ثباتۍ یو له نورو عواملو څخه په ولسوالۍ کې د طالبانو څخه د محلي خلک ملاتړ دی چې هغوی طالبانو ته خواږه او د اوسیدنې ځای برابروي. د ډله ییزو بحثونو یو تن برخه وال په دې باور دی چې :

> " په واقعیت سره په بادغیس کې د خلکو له نظره هغوي په داسې یو دریځ کې نه دي چې پوهاوي لوړ کړي او د علماوو او اسلامي پوهانو څخه غواړي چې د خلکو پوه کړي. خو د بده مرغه علماء او اسلامي پوهان په فعالانه ډول په دې پروسه کې ونډه نه اخلي څو د خلکو خبرتیا په مناسب ډول زیاته کړي."

ځینې برخه وال همدارنګه په دې باور وو چې طالبان هم په ولسوالیو کې د نشه یی توکو قاچاق ملاتړ کوی او بیا همدغه قاچاق کوونکی پخپل وار د دوی ملاتړ کوی. په ولسوالیو کې د طالبانو سره د عادی خلکو همکاری اجباری ده. ګډون وال په دې باور دی چې طالبان زیاتره غواړی د خلکو سره د قاچاق او نشه یی توکو په لړ کې ژورې اړیکی ولری. هغوی ادعاء کوی چې طالبان غواړی د خلکو احساسات په بیلابیلو لارو لاو منحرف کړی چې په دې کې د جهاد څخه د هغوی تفسیر هم شامل دی.

د جګړې بل ډول چې د باد غیس په ولایت کې د ګډون والو له خوا تشخیص شوی دی هغه په قبیلوی مسلو ولاړ دی. دغه ډول جګړه زیاتره د طالبانو د ماتې وروسته را منځته شوې ده. د طالبانو د تسلط پر مهال حکومت د پښتنو قبیلو څخه د نورو قومی ډلو او قبیلو په وړاندې ملاتړ درلود. ځینې ګډون وال په دې باور وو چې حکومت هم بې پرې نه دی او د ځانګړو قبیلو او قومیتونو څخه د نورو قبیلوی او قومی ډلو په وړاندې ملاتړ کوی. د بالامرغاب څخه یو محلی مشر وویل:

"یو وخت موږ په بادغیس کې ثبات درلود. بیا وروسته د حکومت چارواکو په کلیوالو سیمو کې د خلکو په ډارولو پیل کړه او دغو خلکو د حکومت په وړاندې مقاومت پیل کړ او د کندهار او ایران څخه د ددولت ضد عناصرو له خوا یې ملاتړ کیدلو. اوس هغوي د امنیت او ټیکاو لپاره ستره ننګونه ده. حکومت باید ملي وي او نه دا چې په قبیلوي ګټو ولاړ وي. پښتانه په دې باور دي چې د بادغیس په ولایت کې غیر پښتانه په ځواک کې دي او هغوي پښتانه نه خوښوي . حکومت د خلکو د بیلا بیلو کتګوریو ترمنځ تبعیض کوي."

د حکومت د اقداماتو د تورونو څخه صرف نظر ګډون والو د بادغیس په ولایت کې وویل چې قبیلوی مشران د خلکو کوچنۍ ډلې جوړوی څو د خپلو قبیلو څخه ملاتړ وکړی، د محلی مشرانو څخه وسلې تر لاسه کوی څو د نورو قبیلو په وړاندې وجنګیږی. ځینې وختونه د دغو وسله والو دفاعی ګروپونه د طالبانو سره یوځای کیږی څو د افغانستان د ملی امنیتی ځواکونو په مقابل کې وجنګیږی. د مدنی ټولنې یو غړی په دې باوردی چې :

" د قبیلې مشران د خپل ځان په ګټه انفرادي ډلې جوړوي. د قبیلو تر منځ شخړې بیا وروسته تر دې بریده زیاتیږي چې هغوي د دولت ضد عناصرو ( طالبانو) سره په غرونو کېیوځای کیږي."

ګډون والو وویل چې ددغو ستونزو څخه ځینې هغه مهال راپورته وشې کله چې محلی اداري پریکړه وکړه چې د یوې مشخصې قبیلې یا قومیت څخه په ولسوالۍ کې ملاتړ وکړی او مقابله قبیله دې ته اړباسی چې د بې عدالتۍ له وجې غرونو ته پورته شی.

**د شخړې محرکات:** د ډله ییزو بحثونو ، انفرادی مرکو، او د سروې د فورمو د ډکولو پر مهال ګډون والو د طالبانو یاغی ډلې (د ګاونډیو هېوادونو ایران او پاکستان د ملاتړ په شمول)، محلی جنګ سالاران، او هغه سیاست وال چې د ولتی ځوکی په لاس کی لری او یاد یو اداره مشری کوییه ګډون د دولتی ادارو چې په کې ولایتی شوراګانې او ملی شورا شامل دی او همدارنګه نا قانونه وسله والې ډلې چې د قبیلوی ستونزو له امله ر امنځته شوی دی د جګړې د اصلی محرکو او لاملونو په توګه تشخیص کړل.

**د طالبانو تر مشری لاندې یاغیتوب:** طالبان په بادغیس کې د هغوی د سقوط کال (۲۰۰۱) وروسته په درې کالو کې بیرته وسله وال شول. دغلته په بادغیس کې درې ډوله طالبان دی ، لومړی دول هغوی دی چې د عقیدوی مسلو له امله جنګیږی او دکویټې دشورا[۱۸٤] او ایران له خوا یې ملاتړ کیږی ځو د افغانستان د ملی امنیتی ځواکونو او نړیوالو نظامی ځواکونو په وړاندې وجنګیږی. دوهمه ډله هغه طالبان دی چې په لومړی سرکې دقبیلوی شخړو له امله رامنځته شوی دی. دریېمه ډله هغه طالبان دی چې هغوی د حکومت د کمزورۍ او بې عدالتۍ له امله ریښې کړی دی.

د لومړۍ ډلې طالبانو په اړه ، [ یو تن ګډون وال وویل: ]

″ د دولت ضد عناصر ( طالبان) په افغانستان کې د بهرنیانو حضور نه خوښوي. نو تر هغې چې بهرنیان په افغانستان کې پاتې کیږي نو جګړه به پای ونه لري. ″

ګډون والو همدارنګه طالبان په دې متهم کړل چې هغوی په دې اړه چې د خلکو د ښېګڼې لپاره جنګ کوی دروغ وای او زیاته یې کړه چې هغوی په واقعیت کې د اسلامی ارزښتون لپاره کار نه کوی. د ګډون والو په وینا ګاونډی هېوادونه همدارنګه د بې روزګاره ځوانانو په مالی لحاظ ملاتړ کولو او دې ته هڅولو کې چې د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامی ځواکونو پرخلاف وجنګیږی قوی رول لوبوی.

د قادس د ولسوالۍ څخه یو تن مشر وویل:

″ هر یو پخپله ګټه کار کوي ، ځینې یې د ګاونډیو هېوادونو لپاره کار کوي، ځینې یې د محل د خلکو څخهنا قانونه مالیه راټولوي. د دولت د ضد عناصرو هیڅ یو یې هم د اسلامي احکامو له مخې نه جنګیږي. هغوي د ګاونډیو هېوادونو ملاتړ تر لاسه کوي ځو چې تاسیسات له منځه یوسي. هغوي پیسې تر لاسه کوي او شورش پر مخ بیایي. ″

[۱۸٤] د مخالفو جنګیالیو سازمان چی د طالبانو د مشرانو څخه جوړ شوی دی او د پاکستان په کویته بلوچستان کی میشت دی. دا شورا په ۲۰۰۱ کال وروسته د اسلامی امارت د سقوط څخه جوړ شو.

ګڼون والو په بادغیس کې دطالبانو د بیا راپیدا کیدو په لړ کې ډیرې مفکورې درلودلې. ځینې یې په دې باور وو چې د تعلیم نشتوالی او د بې روزګارۍ فرصتونه د یاغیتوب لپاره یو لامل دی. د قادس د ولسوالۍ څخه یوتن مشر وویل:

" لکه چې ما وویل ډیری وګړي بې روزګاره او بې تعلیمه دي، نو ځکه د دولت ضد عناصرپه دیرې آسانۍ سره پر هغو اغیز کوي. سیاسي ګوندونه همدارنګه د دغه حالت څخه ګټه پورته کوي څو ځینې خلک وهڅوي او ملاتړ یې کړي چې ددولت پرضد وجنګیږي. "

ډیری ګډون والو په دولت د فساد او د حکومتی خدماتو د رسیدو په لړ کې د اوږد پروسیجر له امله لږه باورمندی وښووله. هغوی همدارنګه د افغانستان په دولتی عدالتی سیستم کې د واقعی عدالت نه شتون دنورو لاملونو په ترڅ کې د یو لامل په توګه چې محلی وګړی اړ کیږی د یاغیانو سره یوځای شی په ګوته کړ. د ولسوالیو څخه ډیری ګډون والو د طالبانو د غیر رسمی عدالتی سیستم ته ترجیج ورکوله چې هر ډول بیړنۍ ستونزې حل کوی. د قلعه نو د ولسوالۍ څخه یو تن اوسیدونکی وویل:

" بل لامل [ چې خلک د طالبانو ملاتړ کوي ] هغه کمزورې حکومتولي ده. خلک چې کله د حکومتي فعالیتونو سره مخ کیږي نا هیله کیږي او هغوي بیا د طالبانو محکمو ته ورځي."

**ناقانونه محلي وسله والې ډلې:** د خلکو لا هاند له مخی د شخړې دوهم لامل د ناقانونه وسله والو ډلو شتون دی. دا ډلې د قومی کرښو پر بنسټ را منځ ته شوی او رهبری یې د پخوانیو مجاهدینو یا جنګسالارانو لخوا کیږی. دوی په ظاهر کې د حکومت ملاتړې دی او په ځایې خلکو د طالبانو د نفوذ او بریدونو مخه نیسی. خو دوی په ورته وخت کې په بادغیس کې د شخړې او خشونت محرکات دی.

ځینې وخت دا ناقانونه وسله والې دلې د خلکو څخه عشر(ناقانونه مالیات) ټولوی، هغوی خلک په اجباری توګه د وسلو یا نور ملاتړ د برابرولو په خاطر اړ باسی. د دې سربیره، هغه جهادی قومندانان څوک چې په حکومتی جوړښتونو کې قوی ملاتړ لری هڅه کوی په کلیوالو سیمو کې د خپل شتون او نفوذ د ساتلو په خاطر د ادعاوو سره سم خپل قومی خلک بیا په وسلو سمبال کړی. د کلا نو ښار یوه تن ځایې اوسیدونکی د یوې مفصلې مرکې په ترڅ کې وویل:

" په ریښتیا چې زه نه شم کولای ووایم څوک ملامت دي، خو زه کولای شم د غیر مسولو او جا طلبو کسانو شتون تصدیق کړم څوک چې پخوا جهادي قومندانان وو او په اوس حال کې د تقاعد سربیره په حکومت کې قوي نفوذ

او شتون لري. اوس چې دوي د قدرت څخه ګوښه شوي خو بیا هم غواړي ویجاړې را منځ ته کړي او د خپلو ګټو لپاره موضوعات پیچلې کوي. د امنیتي حالت په ښه کیدو سره به نور حکومت دوي ته ضرورت پیدا نه کړي او و به نه شي کولای په حکومت کې د ځان لپاره کار پیدا کړي ځکه چې دوي زیاتره بې تعلیمه کسان دي."

د طالبانو په څیر، دغه ناقانونه وله والې دلې هم د حکومت د عدلی رسمی سیستم لپاره یوه ننګونه ده. په یو شمیر زیاتو سیمو کې محلی جنګسالاران په سیمه کې د خپل نفوذ او شتون د څرګندولو لپاره په غیر رسمی توګه قضیې حل و فصل کوی. د کلا نو ښار یوه تن محلی مشر په لاندې ډول تصدیق وکړ چې:

"په بادغیس کې د ناقانونه وسله والو ډلو شتون د نا امني دوهم فاکټور دی، هغوي یواځې خلک ځوروي. هغوي خلکو ته اجازه نه ورکوي د خپلو ستونزو د حل کولو لپاره دولت ته مراجعه وکړي."

د بادغیس د ولایت په ولسوالیو کې نا قانونه وسله والې ډلې د عادی افغانانو لپاره په یوه ننګونه اوښتې. شریکبانو ویلی چې د جاوند په ولسوالی کې ځایې خلک د محلې جنګسالار د اجازې پرته خپلو زامنو ته ودونه نه شی کولای او خپلې لونې هم د هغوی د اجازې پرته نه شی ودولای چې معمولا د اجباری نقدو پیسو ورکړې ته ضرورت لری. د جاوند د ولسوالی څخه یوه تن اوسیدونکی چا چې د یوه نړیوال نا دولتی سازمان سره دنده ترسره کوله وویل:

"د هغوي هر یو(جنګسالاران) یواځې د خپلو ګټو په هکله فکر کوي او خلک د ډلو سره یو ځای کیدو ته اړ باسي چې دا بیا وروسته د نا امني لامل کیدای شي. هغوي یواځي په سیمه کې د خپل قدرت د زیاتولو او د نفوذ د غځولو په فکر کې دي."

د ګډونوالو په حواله، د جنګسالارانو شتون خلک د هغوی د اساسی حقونو د برخمن کیدو څخه راګرزوی. یو شمیر دغه جنګسالاران او د ناقانونه وسله والو ډلو قومندانان په لوړو حکومتی موقفونو کې همزمانه شتون لری او په عین حال کې په ولسوالیو کې د فعالو ناقانونه وسله والو ډلو کنترول په لاس کې لری. دا د ځایې کنترول د ساتلو په برخه کې مرسته کوی خو په عین وخت کې دا ډاډ هم حاصلوی چې دوی ته د حکومت د یوه مهم شریکبانې په حیث کوم چې د هغوی د رسمی موقفونو ساتنه کوی، وکتل شی.

## ۴. د سولې طرح:

ګډونوالو په بادغیس کې د شخړې اصلي ریښې او لاملونه پېژندلې دي. هغوی د افغانستان په داخلي چارو کې د ګاونډیو هیوادونو لخوا د مداخلې د پای ته رسولو په موخه، د ریښتینو پریکړو او اقدامونو د ترسر کولو په اړتیا،د یاغیتوب په وړاندې د مبارزې د یوه موثره پروګرام په را منځ ته کولو، د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا څخه په یقیني کولو، د سولې د پروګرام په بیا کتنه او د یوه نوې جوړښت په را منځ ته کولو چې په سر کې یې پاک او متعهد کسان موجود وي، دقانون د حاکمیت په پلي کولو او د دې په خاطر چې په ولایت کې شخړې ته د پای ټکې کیښودل شي د مخ پر زیاتیدونکې اداري فساد په له منځه وړلو او همدا رنګه د ګاونډي ملکونو د مداخلې د پای ته رسیو په خاطر ټینګار کړی.

**د یاغیتوب په وړاندې د موثرې مبارزې مشرې:** د ګډونوالو په حواله،په بادغیس کې د سولې د تامین په اړه تر ټولو مهم ګام د یاغیتوب په وړاندې د موثره مبارزې ترسره کول دي. ګډونوال باور لري چې افغان ملي امنیتي ځواکونه باید په مناسب ډول و روزل شي او باید د ملي ارزښتونه ساتنه وکړي. هغوی ټینګار کوي چې د افغانستان حکومت باید د دولت ضد عناصرو په وړاندې د یاغیتوب ضد پوځې عملیات ترسره کړي او همدارنګه په بادغیس کې د سولې او ټیکاو د راوستو په موخه د هغو کسانو په وړاندې هم عملیات ترسره کړي څوک چې د حکومت ضد عناصرو ملاتړ کوي. د ګډونوالو په حواله، د سولې په وړاندې بل خنډ قضایې سیستم دی. هغوی ناهیلې ښکاره کړې او وایې چې کله افغان ملي امنیتي ځواکونه حکومت ضد عناصر د مناسبو شواهدو سره یو ځای توقیف کوي محکمې هغوی خوشي کوي یا هغوی ته د کمې مودې بند سزا ورکوي چې دا د افغان ملي امنیتي ځواکونو مورال ته زیان رسوي. ګډونوال باور لري چې دا ډول پایلې په قضایې سیستم کې د خپریدونکې اداري فساد له امله را منځ ته کیږي.

**عامه اقتصادي او ټولنیزه پراختیا:** لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه زیاتره ګډونکونکی په دې باور دي چې د کار نه شتون هغه مهمه ننګونه ده کومه چې ځوانان د یاغیتوب سره یو ځای کیدو ته هڅوي. هغوی سپارښتنه کوي چې دولت باید په ځانګړې توګه د ځوانانو لپاره کارې فرصتونه را منځ ته کړي، هغوی مصروف وساتي او ډاډ حاصل کړي چې هغوی کولای شي معاش ترلاسه کړي او د ځان لپاره روزي پیدا کړي. هغوی همدارنګه سپارښتنه کړي چې نړیواله ټولنه هم باید په ولایتونو کې فابریکې جوړې کړي څو له دې لارې خلک وکولای شي خپلو کورنیو ته امکانات برابر کړي، اقتصاد ته انکشاف ورکړي او د ګاونډیو هیوادونو څخه پر وارد شویو توکو خپله اتکا را کمه کړي. د خلکو د ډایلوګ د خبرو اترو په ډله کې یوه تن ګډونکونکی د افغانستان د دولت او نړیوالې تولنې څخه وغوښتل:

"د کارې فرصتونو لپاره باید لار هواره کړي تر څو خپلو ورځنیو فعالیتونه ته وده او د هغو ملاتړ وکړي."

هغوی همدارنګه په بادغیس کې د بریښنا د لوړې بیې(یو کیلو واټ پریښنا په ۴۵ افغانیو) په هکله هم یادونه کړې. هغوی یادونه کړی چې په هرات ولایت کې خلک د دې مقدار ۱۰ سلنه بیه ورکوی. دا اختلافات د اقتصادی ودې مخه نیسی او له وړاندی دې ته د شخړې د یوه محرک په حیث کتل شویدی.

**د پاکو او ژمنو کسانو لخوا د سولې د پروګرام پر مخ وړل:** ګډونوالو په ښکاره د افغان سولې او پخلاینې په پروګرام د اعتماد نه شتون څرګند کړی. هغوی ادعا کړې چی د سولې د پروسې سره د څه نا څه ۱۵۰۰ دولت ضد عناصرو د یو ځای کیدو سربیره امنیتی وضعیت لا هم بې ثباته ده. هغوی باور لری چې د سولې د پروسې سره اکثرا یو ځای شوی کسان ریښتنی دولت ضد عناصر نه بلکه کلیوال خلک و چې د محلی حکومت لخوا په دې خاطر را غونډ شوی و چې په باد غیس کې د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام ته مثب انځور ورکړی. هغوی همدارنګه وویل چې د افغانستان د سولې او پخلاینې د پروګرام غړی نه شی کولای کلیو ته ولاړ شی. هغوی زیاتره د کلا نو ښار د باندې نه ځی او یواځې په غونډو کې ګډون کوی. د خکلو د ډایلوک په خبرو اترو کې د مدنې ټولنې یوه تن ګدونکونکی وویل:

"د سولې پروسه کولای شي د مدنې ټولنې سره ښې اړیکې جوړوې کړي او کولای شي د دولت ضد عناصرو لوړ پوړي غړي د سولې په پروسه کې استخدام کړي خو نه شي کولای هغوي په پروګرام کې وساتي او یا یې د دولت ضد عناصرو سره د یو ځای کیدو څخه را وګرزوي. د سولې پروسه د خلکو سره ښې اړیکې نه لري، هغوي د قومونو سره د هغوي په ولسوالیو کې لیدنې نه ترسره کوی."

ګډنوالو باور درلود چې د ۳۵ کلنې شخړې پر مهال ګاونډیو هیوادونو په خاص ډول پاکستان او ایران د افغانانو سره خپلې دښمنې ته دوام ورکړی او د هیواد د اقتصاد او د پوځې جوړښتونو د له منځه وړلو لپاره یې ډیر څه ترسره کړی. هغوی باور لری چې ایران او پاکستان دولت ضد عناصرو ته روزنې برابروی او هغوی د افغان ملی امنیتی ځواکونو په وړاندې جګړې ته هڅوی، ښوونځې له منځه وړی، د ښځو او نجونو د معارف مخه نیسی او خلک د خپلو حقونو تر لاسه کولو ته نه پریږدی. هغوی باور لری چې دا د نړیوالې ټولنې مسولیت دی تر څو ډاډ حاصل کړی چې ګاوندی هیوادونه د افغانستان په داخلی چارو کې مداخله و نه کړی، خو د افغانستان حکومت هم باید د داسې مداخلو سره د مبارزې په برخه کې جدې و اوسی.

**د ملګرو ملتونو د نقش په اړه اضافي نظریې:** د بادغیس د ولایت ځخه ګډونوالو ټینګار کړی چې ملګری ملتونه، په خاص ډول یوناما کولای شي په افغانستان کې د سولې د تامین په برخه کې رول ولوبوي. هغوی د ملګرو ملتونو ځخه غوښتنه کړی ځو د سولې او پخلاینې د پروګرام په تړاو د افغانستان د حکومت سره مرسته وکړی. هغوی همدارنګه باور لری چې په افغانستان کی د ملګرو ملتونو د استازې په حیث، یوناما کولای شي د افغانستان په ګاونډیو هیوادونو فشار راولی تر ځو د افغانستان په داخلی چارو کې د مداخلې ځخه لاس واخلی. د مقر د ولسوالۍ ځخه یوه تن بزګر وویل:

"په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې پلاوی-یوناما- باید د بررسی، مشاورت او ښه او پیاوړي حکومت لپاره د لارښور د برابرولو په برخه کې د افغانستان د حکومت لپاره د یوه کلیدي لوبغاړی په حیث وي."

ګډونوالو په ټوله نړیواله ټولنه، په خاص ډول په ملګرو ملتونو غږ کړی چې د حکومتی او ټاکنیزو نیمګړتیاوو سره د مبارزې په برخه کې د افغانستان د حکومت مشورې او ملاتړ ته دوام ورکړی او هغو ستونزو او ننګونو ته د کومو سره چې هیواد مخ دی حل لارې پیدا کړی. د آب کمری د ولسوالۍ ځخه یوه تن پولیس وویل چې:

"موږ په سیمه کې د سولې او امنیت د راوستلو په برخه کې د نړیوالې ټولنې د نقش ستاینه کوو خو موږ سپارښتنه کوو چې یوناما دې د مرکزي حکومت سره د نږدې کار کولو له لارې داسې حل لارې ومومي چې د هیواد ځخه د شخړې لمن ټوله شي. په داسې حال کې چې موږ په خپل ولایت کې لا هم ځوریږو، موږ د یوناما ځخه غوښتنه کوو چې د حکومت د کمزورو نکتو په اړه دې د افغان حکومت لارښوونه وکړي."

## ۵. د ګډونوالو سپارښتنې

**د اصلاحاتو ځخه ملاتړ او د سولی او بیا یو ځای کیدو د پروسی پراخول:** (۱) دولت باید د سولې او پخلاینې د پروسی لپاره وفادار او بې پری خلک په دندو وګماری ځو د سولې د یوې شفافې پروسې ځخه ډاډ حصل شی او همدا رنګه دولت باید ډاډ حاصل کړی هغه کسان چې د سولې د پروسې سره یو ځای کیږی ریښتینی طالبان وی او د یاغیتوب سره د یو ځای کیدو مخه یې ونیسی.

**د امنیت وده ، د محلی حکومتداری تقویه کول او د قانون حاکمیت:** (۱) د افغانستان حکومت باید په ښکاره او ریښتیا د اداری فساد مخه ونیسی او د عامه سکتور، پولیس او قضا د کارکونکو د اصلاح او د هغوی د مسلکي ظرفیت د لوړولو په موخه ریښتینې ګامونه واخلی؛ (۲) حکومت باید د استخدام تبعیض امیزه فعالیتونو ته د پای ټکې کیږدی؛

(۳) دولت باید چې د ولسوالیو امنیتي وضعیت د امنیتي مسلکي پرسونل د عملیاتونو د زیاتېدلو له لارې ګړندي کړیږي؛ (۴) د افغان وسله وال امنیتي ځواکونه باید په ولسوالۍ ګانو کې د طالبانو د شتون دپاکولو په خاطر عملیاتونه ګړندي کړي؛ (۵) دولت باید اطمینان حاصل کړي چې ټول امنیتي ځواکونه مسلکي شي؛ (۶) د بادغیس په ولایت کې باید ټول غیر نا قانونه وسله وال ډلې په دوامداره توګه بې وسلې شي او د هغوی وسلې باید راغونډې شي؛ نړیوالې ټولنې باید خاص ډول د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت جوړولو او اقتصادي پراختیا په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي؛

**اقتصادي او اجتماعي وړې:** (۱) حکومت باید د کارونو په را منځ ته کولو په خاص ډول په ولایت کې د فابریکو په جوړولو تمرکز وکړي او خلک مشغول وساتي؛ (۲) دولت باید د ښوونکو او روزونکو د ظرفیت د ښه کولو له لارې د افغان ماشومانو لپاره د معارف د سکټور کیفیت لوړ کړي؛ (۳) دولت باید د سړکونو او تراسپورتي شبکو د رغولو غړ کړې چې دا شایې د بادغیس لپاره ښه اقتصادي فرصتونه را منځ ته کړي؛ (۴) دولت باید د لارې او انتقالاتي شبکې ته چې په بادغیس کې غتي اقتصادي فرصتونه تشویق کوي وډه ورکړي؛ (۵) دولت په بادغیس کې د بریښنا د لوړي بیې په خاطر د ګاونډي هیوادونو څخه د بریښنا د واردولو په هکله نظر واچوي؛

**د ګاونډیو هیوادونو د مداخلې مخه نیوی:** (۱) نړیواله ټولنه باید د افغانستان په کورنیو چارو کېد څو ګاونډي هیوادونه د مداخلې مخه ونیسي او همدارنګه د افغانستان د حکومت څخه غوښتنه کوي څو ملګرو ملتونو ته په دې هکله شکایت وکړي.

**دخلکو مسولیت:** (۱) د باد غیس خلکو په خاص ډول ځایي مشرانو او مذهبي علماوو هم خپل مسولیت پیژندلی څو د حکومت سره د امنیت او پراختیا په حواله مرسته وکړي؛ (۲) هغوی په ځایې خلکو غږ کړي څو د حکومت ضد عناصرو مخه ونیسي او د هغوی د ولسوالیو څخه په افغان ملي امنیتي ځواکونو بریدونه ترسره نه کړي او د طالبانو او نورو یاغې ډلو سره د ځوانانو د یو ځای کیدو مخه ونیسي. ځایې خلک په خاص ډول په ولسوالیو کې باید خپل ماشومان ښوونځیو ته و لیږي. هغوی په دیني علماوو غږ کړي څو خلکو ته لارښونه وکړي تر څو خپل ماشومان ښونځیو ته ولیږي، د سولې هڅو ته دوام ورکړي او د افغانستان د حکومت ملاتړ وکړي.

# د هرات ولایت
# د سولي لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پېژندنه

دا دسولې ولايتی نقشه کې د هغو کليدی موندنو او مسلو لنډيز دی چې په ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې د هرات په ولايت کې د ۱۵۰ عامو وګړو سره د انفرادی مرکو او د هغوی د نظرياتو د سروې ګانو په ترڅ کې د مشورو د بهير د لارې تر لاسه شوی دی. په ګډون والو کې د بيلابيلو ټولنيزو ډلو او سياسی شاليدونو څخه استازيتوب کوونکی چې په کې دولتی کارمندان، د ټولنې مشران، بزګران، ښوونکی، د مدنی ټولنې استازی ، دينی عالمان او په ټولنه کې مدغم شوی کسان( پخوانی طالبان)، چې نږدې ۴۵ سلنه په کې ښځينه برخه والې وې شامل وو. مشورو د افغانستان د سولې لپاره د خلکو د ډيالوګ د سولې د پروګرام د دوهم پړاو د يوې برخې په توګه صورت وموند چې د مدنی ټولنې د ۱۱ شبکو له خوا پر لاره اچول شوی دی څو د ۴۵۰۰ عامو افغانانو سره د دې لپاره مشوره وکړی چې د ۳۴ ولايتونو لپاره د سولې د لارې محلی نقشه/طرحه جوړه کړی- د هر ولايت لپاره يوه.

د سولې د محلی لارې د دی نقشی موخه داده چې تر ممکنه بريده د شخړې محلی محرکات تحليل او همدارنګه مناسبې د حل عملی لارې چارې تشخيص کړی چې د هرات په ولايت کې سوله او ټيکاو ټينګ او ويې ساتی.

## ۲. د ولايت انځور: جغرافيه، ډموګرافۍ او سياسی وضعيت

هرات د افغانستان درېيم لوی ولايت دی، د هېواد په لويديځ کې پروت دی ، ټوله ساحه يې ۵۳۵۶۵ کلومتره مربع ده او د فراه، غور،او بادغيس د ولايتونو سره پوله لری. دغه ولايت همدارنګه د ايران سره په لويديځ او ترکمنستان سره په شمال کې پوله لری. دغه ولايت په ۱۵ ولسواليو او دهرات په ښار چې اداری مرکز دی ويشل شوی دی، چې د ۱۲ ناحيوڅخه متشکل دی.

د هرات ولايت ۱۷۴۴۷۰۰ ميشت نفوس لری چې ۲۹۰۷۸۳ کورنيو ته رسيږی. که څه هم په پراخه پيمانه د دې فکر کيږی چې نفوس کېدلای شی د داخلی مهاجرت له کبله له رسمی شميرو دوه برابره زيات وی . د هرات ښار ته نږدې د نفوسو د تجمع زيات شمير د انجيل، شينډنډ، ګذرې، کشک رباط سنګی، پشتون زرغون، ګلران او غوريانو په ولسواليو کې وی. د هرات ولايت همدارنګه د کوچی وګړو نفوس هم لری چې شمېرې يې د موسم له لحاظه تفاوت کوی. د ژمی په موسم کې ۴،۱ سلنه د ټولو کوچيانو چې په هرات کې پاتې کيږی په ۱۶۶ ټولنو (کليو) کې اوسيږی. د دغو درې پرڅلورمه برخه يې په لنډ واټن کې مهاجرت لری ، ۱۲٪ يې د اوږد واټن برخه ييز کډوال او ۱۳ ٪ يې هستوګن دی.

د هرات اوسيدونکی په عمومی صورت د فرهنګی دودونو په لحاظ پرمختللی دی چې د ښه تعليم په درلودلو سره هغوی د نور هېواد سره په توپير کې دی. د هرات ۷۲٪ نفوس لکه چې ويل کيږی په کليوالی سيمو کې ميشت دی او ۲۸٪ يې په ښارونوکې دی. دغه شميرې

کېدلای شی چې په اوس مهال کې د هرات ښار ته د زیاتې شمیرې خلکو د هجوم له امله متفاوتې وی. د دغه ولایت ٪۹۸ سلنه په دری او پښتو خبرې کوی او ۹۷،۷ ٪ کلیوال پرې خبرې کوی. هغه ژبې چې پاتې وګړی پرې خبرې کوی هغه ترکمنی او ازبکی ژبې دی.

افغانستان ته د لویدیځ د لوری د ننوتو د دروازې په توګه هرات دټرانسپورت یو ستر مرکز دی او د افغانستان یو له سترو سوداګریزو ښارونو څخه دی. مالیه او محصول د ورځې د ۲۵۰۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰۰۰ امریکایی ډالرو پورې رسیږی چې داد وارداتو او صادراتو څخه لاسته راغلی عواید دی. نږدې ٪۴۰ ټول وارداتی مالونه په اسلام قلعه کې د ایران له پولې راځی. دا د هېواد داسې برخه ده چې ایران، پاکستان او منځنۍ آسیاته سړکونه سره دلته جلا کیږی. یو یې د کندهار د لارې په سهیل کې د پاکستان د چمن پر لور ځی، بل یې په شمال کې د کشک د لارې تر کمنستان ته او دریېیم یې اسلام قلعه ته.

هرات د صنعتی مارکیټ د لارې د خود کفایې پر لور اساسی ګامونه پورته کړی دی چې د هرات د صنایعو پارکونو ډېری خصوصی پانګه وال راجلب کړی دی چې په هغو کې ځینې نړیوالې کمپنۍ هم شتون لری، چې هغوی هلته فابریکې جوړوی. په تیر مهال کې نږدې ۶۰۰ فابریکې فعالې وې، که څه هم په وروستیو وختونو کې یواځې ۱۶۲ یې فعالیت لری. دا زیاتره په سیمه کې د امنیتی وضعیت د ویجاړتیا له امله ده چې ورسره د نړیوالو ځواکونو په هکله اطمنان نشته[۱۸۵].

جمعیت اسلامی یوله جهادی ګوندونو څخه دی چې ویې کولای شول په هرات کې د کمونیستی رژیم د ماتې په لړ کې د خپل رول په ترسره کولو سره پراخه نفوذ ولری[۱۸۶].

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه او لاملونه

**د شخړې ډولونه**: د مشورو پر مهال د هرات خلکو هغه شخړې چې یوې له بلې سره یې تړاو درلود د طالبانو د یاغیتوب، سیاسی شخړو ، د قومی او قبیلو تر منځ د شخړو په شمول تشخیص کړی دی.

[۱۸۵] د ۲۰۱۵ کال د جنوری له میاشتی څخه راهیښی ناتو خپل د کومکی فوجونو بنه په غیر جګړه ییز ماموریت ( د افغان امنیتی ځواکونو د ښوننی همکاری او مشوره ورکول ) ته راووښت . د ناتو د دوامدار حمایت ماموریت مقر په کابل کی دی او همدا رنګه یو د هغه د څلور منطقوی مرکزونه په هرات کی ده . ( د زونونو د مرکزونو په غیر په مزار شریف - کندهار او لغمان ) . د عسکرو په شمیرکی د پام وړ کمښت راغلی ده لکه څرنګه چی د ۲۰۱۵ دسامبر میاشت را هیښی د \ایدار حمایت د قوا و شمیره تر ۱۲۹۰۵ کس ته چی د ۴۲ هیوادنو عسکر په کی ګډون لری کیږی . لاندی ادرس ته مراجعه کولای شی :
*http://www.rs.nato.int/troop-numbers-and-contributions/index.php, last accessed 6 March 2016.*

[۱۸۶] د کمونیستی رژیم د شکست څخه وروسته په۱۹۹۲ کال کی د مجاهدینو قوا تر دری نیم کاله پوری په هرات کی حاکم وو وروسته په ۱۹۹۵ کال کی د طالبانو لخوا له واک نه لری کړل شوی . په هر حال د طالبانو د قواوو د شرلو څخه وروسته په ۲۰۰۱ کال کی مخکنی جهادی قوماندانان یو ځل بیا واک تر لاسه کړل .

**د طالبانو له خوا رهبری کېدونکی یاغیتوب:** که څه هم د هېواد د نورو برخو په څیر هرات شخړه کې راښکیل ولایت نه دی، برخه والو د افغانستان د دولت پر ضد د طالبانو له خوا یاغیتوب په دغه ولایت کې د شخړې د مهمو ډولونو له جملې تشخیص کړی دی. ګډون والو دا مشاهده کړې ده چې د دولت ضد عناصرو بیلابیلې ډلې د طالبانو تر نامه لاندې سره راټولې دی[187]. هغوی د دولتی ځواکونو سره د جګړې لپاره مشترک هدف لری خو کله چې جګړه پای وومی نو دهغوی ترمنځ یو والی پای ته رسیږی. د هغو خلکو سره چې مشورې شوی دی په پراخه پیمانه په دې باور دی چې یاغیان د ګاونډیو هېوادونو له خوا دې ولایت ته را استول شوی دی او د دوی ریښې یې بل ځای کې دی. د هرات د پوهنتون د یو استاد له نظره:

″ دلته یوه ... تپل شوې جګړه روانه ده. د طالبانو او دولت تر منځ شخړه یوه له [تپل شوو جګړو] څخه ده. طالبان په اصل کې د افغانستان څخه نه دي، هغوي د نورو هېوادونو څخه دي او د دې لپاره را استول شوي دي چې د هغوي د ګټو لپاره وجنګيږي.″

د تمرکز د ډلو ګډون والو دا ولیدل چې د طالبانو د ماتې سملاسی وروسته خلکو په بشپړې ازادۍ کې ولسوالیو ته سفرونه کول. اوس هغوی د ولسوالۍ له مرکز څخه د یوه کلومتر څخه زیات په مصوونیت سره سفر نه شی کولای او حکومت د دې ځواکمنتیا نه لری چې وضعه کنترول کړی. خلکو د نا قانونه مالیو او همدارنګه د تهدیدونو او ډارونو څخه چې .....؟ له خوا کیږی شکایت درلود. که څه هم د هرات ښار په نسبی لحاظ ښه پرمختګ لری خو ولایت پیچلی دی. داسې ولسوالۍ لکه ګلران د حکومت د محدود کنترول او د هغې د اوسیدونکو د قوی محافظه کارانه احساساتو له امله مشهورې دی.

د شینډنډ دولسوالۍ د یوه بزګر په وینا، ″ طالبان د دولت سره سازش نه کوي او نه غواړي جګړه ودروي ځکه چې هغوي دولت او اساسي قانون نه مني. په کليو او ولسوالۍ کې دا د نارينه وو حق دی چې ښځې و وهي او قضيې د دوي د خوښې مطابق تعقيب کړي. د کليو خلک او مشران د نجونې ښوونځي څخه حمايت نه کوی او په اصل کې دښځو لپاره زده کړې هيڅ نه غواړي.″

[187] په ۲۰۱۴ کال کی د افغانانو د سولی دخبری اتری د مشوری را په دی خوا ځینی نـوی انکشـافات د طالبـانو د خوزښت په مینځ کی را مینځ ته شوی دی چی د هرات طالبان هم د هغی څخه اغیزمنـد شـوی دی .د ۲۰۱۵ پـه جولای میاشت کی د طالبانو د وفات شوی رهبر ملا عمر د مړینی افشا کیدل د طالبانو پـه مینـځ کـی د انشـقاق لامل شو . د طالبانو د نوی مشر په حیث د ملا اختر محمد منصور تا کنه د اسلامی امارت د عالی شورا په نامـه د ملا رسول په نامه د طالبانو د ځینی رهبرانو سره په شیندند کی د جګړی لامل شو. په ۲۰۱۵ کال کـی پـه شـیندند کی د رقیبو ډلو په مینځ کی د جګړی رپورتونه ورکول شوی دی . دا نوی انکشافات په هرات کی پر شـته کـړکیچ برسیره د امنیتی وضعیت پر لا خرابیدو اضافه شول .

دا هم یو واقعیت دی چې حتی د هرات دښار په ۲۰ کلومترۍ کې د شاوخوا ولسوالیو ځینې برخې د اداري د حدودو د باندې دی یانې د طالبانو/یاغیانو تر کنترول لاندې دی، لږ تر لږه د شپې له خوا، چې په کې د ګذرې د ولسوالۍ ځینې برخې شاملې دی. سره له دی چی عادی هراتیان دا منی چې د دولت او د یاغیانو تر منځ د هېواد او د خلکو د کنترول پر سر مبارزه روانه ده ، په داسې حال کې چې عام خلک ځوریږی او دا واضح کړل چی دا عام و ګړی دی چی سختی باسی .

د هرات څخه د یوې ښځینه خدمې په وینا ، ″ د دولت ضد عناصر، طالبان، چې ځانونه مسلمانان بولي ځانمرګي بریدونه کوي ، بې ګناه وګړي، نارینه، ښځې او ماشومان وژني.... د دولت ضد عناصر د شخړې اصلي عاملین دي چې د افغانستان په دولت باندې په تسلط سره یې د خپل ځان څخه وضع شوي مقررات او قواعد پلي کړل.″

لکه د هېواد د نورو برخو په شان د هرات خلک، په تیره بیا هغوی چې د هرات له ښار څخه لېرې په ولسوالیو کې اوسیږی د طالبانو له خوا د یاغیتوب د واقعیت سره هره ورځ مخ دی. په داسې حال کې چې د دوی ډیری یې کولای شی چې د ولسوالیو مرکزونو او دولتی موسسو ته ورشی، هغوی اکثره وخت دې ته اړ دی چې د جنګې اړخونو تر منځ ژوند وکړی، او د دې لپاره چې ژوندی پاتې شی نو اړ دی چې د دواړو سره همکاری ولری.

د یوه بزګر له خولې، ″ د ولسوالیو خلک د دولت ضد عناصرو( طالبانو) سره تماس لري. له هغه ځایه چې سیمه غیر مصوونه ده نو هغوي اړ دي چې د طالبانو سره وي څو د دوي د کورنۍ وساتي. د یو بزګر په حیث زه دا مرکه د ملګرو ملتونو له خوا د ملاتړ شوي نوښت لپاره کوم، خو کله چې خلکو ته دا جوتیږي چې ما مرکه کړې ده نو هغوي به ما و وژني.″

د هرات اوسیدونکی نه یواځې د جنګیدونکو اړخونو تر منځ په متقابلو نښتو کې وژل کیږی بلکې همدارنګه د ملکیانو پرخلاف د مستقیمو تهدیدونو له امله چې ورته ویل کیږی چې د دولت سره د همکارۍ څخه لاس په سر شی چې د نه منلو په صورت کې هغوی د تښتونو، ځورونو، تهدیدونو او ډارونو سره مخ کیږی. د بده مرغه د هرات په ښار او خواو شا ولسوالیو کې په منظمه توګه د افرادو هدفي وژنې صورت نیسی، چې په کې پر موټر سایکلونو سپاره کسان اکثره وخت سلنسر لرونکې تومانچې کاروی. همدارنګه دلته داسې پیښې هم کیږی چې په هغو کې دولت پلوه ځواکونه د یاغیانو د کورنیو څخه د غچ په موخه د ولایت په هغو ډیری سیمو کې چې شخړې په کې را ولاړیږی د هغوی د بریدونو په تعقیب اقدامات کوی.

**سیاسی شخړه:** په دغه ولایت کې د شخړې بل ډول د بیلابیلو سیاسی لو بغاړی او د دقانون ماتونکی تر منځ دی چې د هرات د ولایت د وګړو او سرچینو د کنترول لپاره متحرک دی. هرات د ایران سره د سرحدی سوداګرۍ زیاته برخه کنترولوی او د مشروعې او غیر قانونی سوداګرۍ د دواړو لپاره ډیر سودمند دی.

د واک زورواکان د قانونی رسمی ادارو او هم د خپلو ملاتړو د لارې د نفوذ لپاره سره سیالی کوی. هغه ډلې چې د هر یوه شخص سره تړلې دی او یا هم د نورو با نفوذه افرادو سره په اړیکه دی په دې تورن دی چې په تیره لسیزه کې یې د تاوتریخوالی او ډارونو اقدامات په هرات کې ترسره کړی دی. په عین وخت کې قانون ماتونکی دا باوری کوی چې هغوی په دولتی ادارو کې د خپلو پلوی او ملاتړ کونکو خلکو استازیتوب کوی. عادی خلک د دوی تر منځ را ښکیل دی. د هرات خلکو د دې یادونه کوله چې سیاسی شخړه د ځواک د یوه یا بل اړخ په استازیتوب د نورو له خوا تر سره شوې د ځواک دغو دلالانو ته یې د دې زمینه برابره کړې چې خپل نفوذ او ځواک وساتی.

د پوهنتون د یوې محصلې په وینا:

″ اقتصادي بحران یو بل لامل دی چې د شخړولامل ګرځی. دلته په هرات کې ځینې وسله والې ډلې دي چې د د ولت د وزیرانو په ګټه کار کوي، شخړې را ولاړوي او پیسې ګټي؛ دا ځکه چې دلته دعوایدو کومه سرچینه نشته څو د هغوي لګښتونه پوره کړي. دلته همدارنګه ځینې نورې ډلې [ ملاتړي] د ګاونډیو هېوادونو څخه دي او د هغوي د ګټو لپاره کار کوي او ډیرې پیسې تر لاسه کوي. ټولې دغه[ مسالې] بیرته حکومت ته راجع کیږي چې هغه وضعه نه شي کنټرولولای.″

د زنده جان په ولسوالۍ کې یو دولتي کارمند وایي، ″ قانون ماتونکی او جنګ سالاران د بې ثباتۍ اصلي لامل دي. هغوي د ډیرو کلونو لپآره د شخړې په رامنځته کولو کې ښکیل دي ځکه چې دوي ته ګټې رسیږي.″

هغه ګټې چې د ګډون والو له خوا توضیح شوی دی هغه د سیاسی واک او ملاتړو شبکو سره تړاو لری چې د ځواک دلالان یې د دغه ډول فعالیتونو څخه تر لاسه کوی. په عین وخت کې ځواب ویونکی په دې نظر دی چې ګاونډی هېوادونه هم د واک د دغو دلالانو څخه کار اخلی څو خپلې ګټې چې ځینې وختونه د تاوتریخوالی سره یوځای دی وساتی. د هرات عام وګړی او همدارنګه دولتی کارمندان همیشه ګاونډی هېوادونه په هرات کې په تاوتریخوالی کې په لاس لرلو تورنوی، چې اکثره وخت د ځواک د محلی دلالانو سره په همکارۍ کې وی چې هغوی هم په حکومت کې فعاله دی.

لکه چې د محلی شورا یوه غړی توضیح کړه:

" قانون ماتونکی ولسوالۍ او کلي کنترولوي چیرته چې هغوي د ګاونډیو هېوادونو سره اړیکي لري. هغوي د دې لپاره پیسې تر لاسه کوي چې په سیمه کې د حکومت د حضور مخالفت وکړي. د هریرود سیند یو له دغو ستونزو څخه دی . د ایران حکومت د دولت ضد عناصرو ته پیسې ورکوي څو هغوي د سلما د بند [ساختمان] ودروي ځکه چې د سلما د بند په تکمیلدو سره ایران به د اوبو د نشتوالی سره مخ شي. د غوریانو په ولسوالۍ کې هلته د دولت د ضد عناصرو درې ډلي دي چې هغوي د ایران لپاره کار کوي، د دې لپاره چې د دولت پر ضد وجنګېږي هغوي معمولاً د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو باندې بریدونه کوي او یا هم محلي مشران اختطافوي. "

ګڼون والو اباور درلودله چې په هرات کې د زور واکان د خپل ارتباط له مخې تر یوې ټاکلې کچې بې ثباتی ساتي. د بې ثباتۍ او هغو ساحو چې په کې د حکومت کنترول نشته پرته به د وی د دې توان د لاسه ورکړی چې نفوذ او ځواک ولری او هغه به کمزوری شی.

**قومی او قبیلوی شخړې:** هرات یو متنوع ولایت دی چې قومی او قبیلوی شخړې په کې د یوې بلې نږدې سیمې څخه توپیر لری. په سهیل کې د شینډنډ په ولسوالۍ کې د تاجکو او پښتنو تر منځ شخړه، د پښتنو قبیلو او د خیلونو او کورنیو ترمنځ شخړه دا واضح کوی چې د کوم لوری وګړی به وکولای شی چې په پراخه پیمانه په شخړه کې را شامل شی. په هرات کې تاجکان، پښتانه، هزاره، ترکمن، ازبک او کوچی قومونه میشت دی. د بیلابیلو قومی ډلو تر منځ د ځواک ویش د اصطکاک یوه منبع ده او دغه ډول شخړې رامنځته کوی.

د زنده جان د ولسوالۍ د یوتن دولتی کارمند په وینا:

" زما په ولسوالۍ کې قومي ستونزې د شخړې بل لامل دی. پښتانه د تاجکانو سره خوښ نه دي او تاجکان نه غواړي چې پښتانه دې په واک وي. د افغانانو تر منځ د اتفاق او انعطاف نشتوالی، بې وزلي او کمزورې حکومتولي هغه نور لاملونه دي چې د زنده جان په ولسوالۍ کې یې تاوتریخوالو او بې ثباتۍ ته زمینه برابره کړې ده. ځینې خلک د سیاسي دلایلو له وجې جنګېږي، او ځینې د دې لپاره چې بې روزګاره دي او ځینې نور یې د قومي مسلو له امله په جنګ کې ښکیل دي. "

د اتنیکی ډلو تر منځ د شخړې سربیره، د هرات ولایت د قومی ډلوټپلو دننه او د قبیلو او خیلونو تر منځ د شخړې سره مخ دی. په ختیځه ولسوالی، چشت شریف کې اساسی شخړه

د چشتی او پهلوان قبيلو تر منځ ده، که څه هم دواړه تاجکان دی او په عمومی صورت د دولت پلويان دی. د دغو قبيلو تر منځ شخړه لس کلونه وړاندې هغه مهال رامنځته شوه چې يوې ميرمنې د يوې قبيلې د سړی څخه طلاق واخيست او د بلې قبيلې د سړی سره يې واده وکړ. د محلی سرچينو په وينا د دوه سوه څخه زيات کسان د دغې شخړې وروسته په نښتو کې وژل شوی دی.

> د ګلران په ولسوالۍ کې د شخړې د توضيح په اړوند د هرات د پوهنتون استاد و ويل، ″ قبيلوي جګړه په ميراث کې را پاتې شوې شخړه ده او لا تر اوسه د نوي نسل له خوا ادامه لري. هغوي هڅه کوي چې د خپلو تيرو نسلونو د کسانو غچ واخلي او د دې احساس کوي چې بايد مسلح وي او جګړه وکړي. دغه ډول جګړه د قانون د واکمنۍ د نشتوالي او کمزوري دولتي سيستم له امله چې نه شي کولای لانجې حل کړي رامنځته کيږي. د ګلران په ولسوالۍ کې بلوڅو او عليزايي، جمشيدي او نورزايي قبيلو وسلې تر لاسه کړي او يوه دبلې په مقابل کې جنګيږي. ولې حکومت د وضعيت پوښتنه نه کوي او يا دا چې دغه قضيه تعقيب او حل کړي؟ دهغوي جګړې او شخړې نور بې ګناه خلک متاثر کوي او نورو نا قانونه وسله والو ډلو ته اجازه ورکوي څو د طالبانو تر نامه لاندې شخړې راپورته کړي.″

حتی په کليو کې هم د پرمختيايی پروژو د منفعتونو د تر لاسه کولو پر سر شخړې راپورته کيږی. دغه ډول د ګټو تر لاسه کول چې انګيرل کيږی هغه په برابره او عادلانه توګه نه دی ويشل شوی د مشترکو خصوصياتو لرونکو ډلو تر منځ محلی شخړې راپورته کوی. د ګډون والو د وينا له مخې دا کولای شی چې ځينې وختونه له پامه غورځول شوی وګړی د دولت ضد عناصرو سره د يوځای کيدو پر لوری بوځی.

د کرخ د ولسوالۍ څخه يو تن ښوونکی توضيح کړه:

> ″ په ولسوالۍ کې پرمختيايي پروژې د شخړې بل لامل دی، ځکه چې پيسې د کلي مشر او دهغه کورنۍ ته ورکول کيږي. که چيرې د کلي مشر د پروژې په اړه پوه نه وي نو هغه به ستونزې را ولاړې کړي. هغه کسان چې د پروژې لپاره د محافظينو په توګه کار کوي مسلح دي او هغوي د دې په اړخ کې نور ناقانونه کارونه کوي. هلته يوه پروژه وه چې د کلي د خلکو لپاره پيل شوې وه او د خواړو لپاره د کار په نوم وه، خو دغه پروژه د کلي د مشرانو ترمنځ ويشل شوې وه، د دې پرځاي چې اړتيالرونکو خلکو ته ورکړل شوې وای. خلک نه شي کېدلای ارام کښيني او دلته بله لاره نشته څو د دغه ډول بې عدالتۍ مخنيوی وشي. هغوي د حل يوه لاره لټوي څو چې خپله برحقه ونډه تر لاسه کړي. کله

چې هغوي د دولت ملاتړ ونه لري نو هغوي به هڅه کوي څو د دولت له ضد عناصرو سره یوځای شي څو ورسره مالي مرستې تر سره شي.″

دبده مرغه قبیلوی او قومی شخړه یواځې د هرات د ولایت په ولسوالیو پورې محدودیت نه لری. په تیره لسیزه کې داسې ناوړه نښتې او شورشونه وو چې د هرات په ښار کې په کې مختلفې ټولنې ښکیل وې، چې د ټولنې د مشخصو غړو له خوا هڅول کیدلې څو په ټولنو کې سرسخت او افراطی عناصر منسجم کړی. په داسې حال کې چې په ښار او دهغه په نږدې خواو شاکې وضعیت په تیرو څو کلونو کې ارامه دی، خلکو او ټولنو هغه وګړی له یاده نه دی ویستلی چې په دغه ډول پیښو کې ژوبل او یا هم وژل شوی دی. د بده مرغه د دقانون ماتونکی سره د اړیکو له امله د هغو کسانو ډیری یې چې په دغه ډول اقداماتو کې ښکیل دی د رسمی عدالتی سیستم په چوکاټ کې نه دی مجازات شوی.

**د شخړې محرکات:** کله چې په دې اړه بحث کیږی چې په هرات ولایت کی د شخړې لاملونه څه دی، ګډون والو لومړی د ګاونډیو هېوادونو نفوذ، بې وزلی او د تعلیم نشتوالی، د معافیت فرهنګ په نښه کړی دی او بیا یې د ځواک دلالانو، قومی او قبیلوی شخړو او سیاسی علاقه مندی ته اشاره کړې ده. د تمرکز د ډلو د بحثونو او مرکو پر مهال ډیری ګډون والو د دې مسلو د هغو لاملونو په توګه یادونه کړې چې د هرات په ولایت کې شخړه راپاروی او هغه تشدیدوی.

**د بهرنیو دولتونو مداخلې:** د ګډون والو سره په هر بحث کې هغوی د بهرنیو ځواکونو د نفوذ مسله په هرات کې د شخړې د اصلی لامل په توګه راپورته کړې چې ورسره ددولت ضد ډلې، جرمی ډلې، او هغه بهرنی اجنټان چې د بیلابیلو تخریبی موخو لپاره په دغه ولایت کې کار کوی شامل دی. ډیری ګډون والو د سیمې او ګاونډیو هېوادونو یادعا وکړه او داچې په ولایت کې د دې ګنې اوازې دی چې د هرات په ولایت کې د دولت ضد عناصر کله چې هم وغواړی نو د لویدیځ پر لور د درملنې او روزنې لپاره ځی. ځینو ګډون والو همدارنګه د دې یادونه وکړه چې افغان ځواکونه او نظامی کتارونه د دولت ضد عناصرو او طالبانو تر بریدونو لاندې راغلی دی او د امریکې د متحده ایالاتو ځانګړی ځواکونه تر برید لاندې نه دی راغلی او د دې څخه دا نتیجه اخیستل شوې چې دلته کیدلای شی چې ددې ځواکونو او یاغیانو تر منځ کوم سازش وجود ولری. په دې توګه د هرات ډیری خلک په دې باور دی چې د جګړې اصلی محرکه هغه لاملونه دی چې د دوی د ټولنو څخه دباندې دی.

یوې ښځینه ښوونکې توضیح کړه:

″ د جګړې فعالین د ګاونډیو هېوادونو اجنټان زموږ د هېواد په ولایتونو ، ولسوالیو او کلیو کې فعال دي. هغوي فعال شوي او د ولایتونو ، ولسوالیو او

کليو کنترول يې د کليو د مشرانو او ديني عالمانو له خوا د لږو پيسو د لګولو د لارې تر لاسه کړی دی. ځينې يې د طالبانو تر نوم او ځينې يې د نا پيژندل شوو [ بې نومه] ناقانونه وسله والو ډلو د لارې، اونور يې د نورو ډلو سره چې په ظاهره د حکومت سره کار کوي خو تر شا بيا د دولت ضد عناصرو ملاتړ کوي فعاليت کوي. که چيرې مورډ لږ شا ته وګورو، دومره ډير اوږد مهال ته هم نه؛ يواځې د خپلو پلرونو او ميندو وختونو ته که نظر وکړو وضعيت څه بل ډول و. هغوي به مورډ ته ويل چې د هغوي په وختونو کې مختلفې قبيلې لکه هزاره، ازبک، تاجک، پښتون، او يهودان په يوه سيمه کې سره اوسيدل. هغوي د يوځاي اوسيدلو لپاره سره هيڅ ډول ستونزه نه درلودله. خو د داخلي جګړې له مهاله او له هغه وخته چې ايساف په افغانستان کې ځاي پر ځای شوی دی نو قبيلوي او قومې جګړې پيل شوي دي. ″

په داسې حال کې چې محلی خلک د ګاونډيو هېوادونو منفی نفوذ ته ګوته نيسی، هغوی همدارنګه دا څرګندوی چې باندنی فعالين د وړاندې څخه د موجودو شخړو څخه ګټه اخلی او د قبيلو تر منځ د لانجو او بې باورۍ څخه استفاده کوی.

د پی جی ايس ټی د يوتن کارمند په وينا:

″ ګاونډی هېوادونه د محلي قبيلو تر منځ شخړې راولاړوي څو هغوي يوله بل سره د کوچنيو شيانو پر سر وجنګوي. د دې پايله داده چې قبيلې د د ولت ضد عناصرو سره يوځای کيږي او غرونو ته پورته کيږي. هره شخړه د يوه کوچني ځای څخه چې ورته کلي ويل کيږي پيل کيږي. د کشک رباط سنګي په ولسوالۍ کې د کلي د يوتن مشر خپلوانو وسلې را ونيولې څو د خپلو کورنيو ساتنه وکړي، کله چې هغوي وسلې تر لاسه کړې نو ځواکمن شول او ورو ورو د طالبانو سره يوځای شو او غرونو ته پورته شول.″

دا نظر چې بهرنی فعالين په فعالانه ډول د ياغيانو سره مرسته کوی ډيرخپور دی. که څه هم ځينو ځواب ويونکو د دې يادونه درلودله چې د دولت ضد عناصر د شوکو او " عشر" او نور جرمی فعاليتونو دلارې پيسې تر لاسه کوی، هغوی ګاونډيو هېوادونو ته د وسلو او تمويل د اساسی سرچينې په توګه اشاره درلودله.

د يوې ښځينه دوکاندارې په وينا، ″ دلته ډيرې وسله والې ډلې دي چې د طالبانو په نوم فعالې دي. څوک پوښتنه کولای شي چې هغوي څوک دي، او د چا لپاره کار کوي؟ په دې ورځو کې هغوي ډير فعال دي او ښار[ هرات] ته رسيدلي دي. هغوي له ګاونډي هېوادونو څخه وسلې تر لاسه کوي. ″

په پایله کې ځینو ګډون والو وویل چې دا به غوره وی چې که افغانستان د بهرنیانو پر مخ وتړل شی. د ګذرې د ولسوالۍ څخه د یو تن محلی کس په وینا:

″ جنګ او جګړه به د سیمې د هېوادونو څخه پیل شي او د هېواد، ولایتونو، ولسوالیو او کلیو ته به پراخه شي. نو په دې توګه لومړی باید د افغانستان دروازې د بهرنیانو په وړاندې وتړلې شي چې هغوي د دې فرصت ونه مومي څو هغوي د افغانستان څخه د خپلو ګټولپاره کار واخلي.″

**بې وزلي او د تعلیم نشتوالی:** د هرات د یوه ښځینه ښوونکې په حواله:

″ په افغانستان کې هر څو ک چې ډېر ځواک او پیسې لري کولای شي چې د خلکو د اقتصادي کمزورۍ له امله محلي چارې کنترول کړي. هغوي د هر څه کولو توان لري که چیرې هغوي یو ملاتړی ولري چې یوه پیسه ورکړي.″

که څه هم د هرات ښار او د هرات ولایت د ټول افغانستان په پرتله په نسبی لحاظ شتمن ولایت دی، د وروستیو کلونو غوړیدونکی اقتصاد اوس مخ په ځوړ دی. د هغه اوسیدونکو راپور ورکړ چې په لسګونو زره د کار ځایونه هغه مهال له لاسه و وتل کله چې صنایع د هرات له صنعتی پارک څخه و وتلې او خصوصی پانګونه ډېره زیاته کمه شوه. لکه چې پورته وویل شول په هرات کې په ۲۰۱۳ کال کې د صنعتی فابریکو شمیره د ۶۰۰ څخه چې پورته شمیره وه ۱۶۲ ته راټیټه شوه.( ددغی رپوت د جوړیدو په وخت کی ) دې سره په محلی اقتصاد باندې ډېره تنګسیا راغله او د عادی افغانانو لپاره د کار او روزګار فرصتونه کم شول. د حیرانۍ وړ نه ده چې ګډون والو د اقتصادی رکود او دتعلیم د نشتوالی څخه د هرات په ولایت کې د جګړې د اساسی محرکو په توګه یادونه وکړه. د یاغیانو سره د یوځای کیدو په صورت کې خلکو ته پیسې او وسلې په لاس ورځی.

د کور د یوې ښځینه خدمې په وینا:

″ خلک وسلې تر لاسه کوي او غرونو ته پورته کیږي[ تر څو وسله والو سره یو ځای شی ] ، دا ټول څه د دې لپاره دي چې د ژوندانه اړتیاوې پوره کړي. اساسي لامل چې د جګړې د دوام سبب ګرځي هغه بې روزګاري ده.″

ګډون والو حکومت په دې ملامت کړ چې خلکو ته یې د کار فرصتونه نه دی برابر کړی او اقتصادی سوکالی یې نه ده باوری کړې. خلک په مکرره ټوګه اکثره وخت د دې شکایت کوی چې ځوانان اړ دی چې ګاونډیو هېوادونو ته د کار لپاره ولاړ شی، زیاتره ایران ته. هغوی هلته په قانونی او ناقانونه توګه ځی او اکثره وخت په افینو روږدی بیرته راځی. نور یې د کوچنیو جرمونو او تښتونو په ژوند بوختیږی، په تیره بیا محلی سوداګر او دهغوی ماشومان تښتوی، چې دغه ډول پیښې د بده مرغه په ولایت کې زیاتې دی. بله تراژیکه او ناوړه

پیښېدنه د افغانستان د ملی امنیتی ځواکونو او دولتی هغو کار مندانو چې په دندو کې نه دی او نورو عامو وګړو هدفی وژنې دی. د ځینو په وینا دا د کرایه شوو کسانو کار دی. هغه غوره شوی میتود چې د مجرمینو او یاغیانو له خوا یو شان کارول کیږی هغه د دوو کسانو له خوا د یوه موټر سایکل څخه کار اخیستل دی. هغه کس چې تر شا سپرلۍ ده د تومانچې په وسیله چې سلنسر لری قربانی تر هدف لاندې نیسی او چلونکی په چټکۍ له سیمې تښتی. د دغه میتود څخه د دې لپاره کار اخیستل کیږی چې د افغانستان د ملی امنیتی ځواکونو هغه منسوبین چې په دندو کې نه دی، مشهور ملایان، او ان داچې ځوانې میرمنې چې په نا سم چلند تورنې دی ټپی کوی او وژنی یې.

د هرات څخه د کور د یوې خدمې په وینا:

> ″ بل لامل بې وزلې ده چې خلک دې ته اړ باسي څو د دولت ضد عناصرو سره یوځای شي او د خپل ځان او کورنۍ د ورځنیو لګښتونو لپاره پیسې وګټي. حکومت نه شي کولای د اقتصادي بحران مخه ونیسي او خلک د پیسو د تر لاسه کولو لپاره هر څه کوي. د دې لپاره چې پیسې وګټي ځینې خلک ګاونډیو هېوادونو ته کډوال شوي دي او ځینې نور بیا نا قانونه کارونه کوي لکه غلاګانې ، تښتونې او د بې ګناه وګړو وژنه.″

که څه هم د اقتصاد نزول د هرات ښار او ناحیې په نږدې ګاونډ کې اغیزمنې کړی دی، په ولسوالیو کې د اقتصادی او تعلیمې فرصتونو نشتوالی د اقتصادی فعالیت څخه لا زیات د عادی خلکو پر ژوند باندې تاثیر لری. په داسې ولسوالیو کې لکه فارسی. ګلران، او کشک کهنه او همدارنګه په مرکزی ولسوالیو کې ځوانان یا خو تعلیمی فرصتونو ته هیڅ او یا هم محدود لاس رسی لری. دګډون والو په وینا داچې ځوانان د کار موندلو قابلیت له لاسه ورکوی دا وضعیت همدارنګه د هغوی د ژوندانه عمومی لاره اغیزمنوی.

د ګلران د ولسوالۍ د یوتن سپین ږیری په وینا:

> ″ د جګړې اساسي لامل او برخه بې سوادي ده. د ښار د یوتن ځوان او د ولسوالۍ او کلي د یو ځوان تر منځ ډېر زیات توپیر دی. کله چې ځوانان د تعلیم څخه لېرې وي هغوي نه شي کولای د ښو او بدو تر منځ توپیر وکړي. هغوي یواځې د جنګ کولو په اړه فکر کوي او دا ورته یواځینۍ لاره وي چې د دولت له ضد عناصرو سره یوځای شي.″

**کمزورې دولتی ادارې او د قانون د حاکمیت نشتوالی:** ګډون والو دا څرګنده کړه چې حکومت د دې توانمندی نه لری څو ځانګړې ډلې تر کنترول لاندې راولی او نا ارامه حالات قابو کړی. موجودې قبیلوی او ټولنیزې تشې چې په کې دولتی کنترول محدود دی د دې

لپاره زیاته زمینه برابروی چې لانجې رامنځته شی چې دغه لانجې بیا د دخیلو خواوو د قناعت له مخې نه حل کیږی او لا هم پیچلې کیږی.

د پوهنتون د یوې ښځینه محصلې په وینا:

" په یوه زیان منونکې هېواد لکه افغانستان کې چېرته چې با ثباته دولت نشته، چېرته چې د قانون حاکمیت نشته، چېرته چې ټولنیز زغم نشته، او چېرته چې د خلکو تر منځ برابري شتون نه لري، هر ډول واحد حرکت کوم چې د نورو حقوق تر پښو لاندې کوي کولای شي ستره شخړه رامنځته کړي. په یوه هېواد کې چېرته چې د قانون حاکمیت وي هر شخص په حکومت باندې د ځان د ساتنې لپاره تکیه کوي څو د ظلم او فشار مخنیوی وکړي."

د حکومت دا کمزوری چې محلی شخړې هوارې کړی او پرې نه ږدی چې هغه په سترې شخړې واوړی لکه چې د ډیرو کلونو د جګړې د میراث په توګه او په هرات کی د واک د مشهورو قانون ماتونکو د نفوذ له امله یې چې فکر کیږی. په عین وخت کې که څه هم د هرات خلکو دا څرګنده کړې ده چې حکومت د دې توانمندی نه لری چې محلی شخړې هوارې کړی، یا خو دا د حکومت د ارادې د نشتوالی له امله دی او یا هم داچې په رسمی عدلی سکتور باندې د خلکو بې باوری ده. رسمی عدالتی سیستم په دې نا توانه دی چې مدنی او جنایی قضیې په داسې توګه حل کړی چې شریکبانی دا درک ونه لری چې رسمی عدالتی سیستم معافیت هڅوی. د عمومی کمزورۍ سربیره ګډون والو د حکومت دا ناکامیانې هم په فساد او خپل پالنې پورې وتړلې.

د کرخ د ولسوالۍ څخه د ښوونځی یوې ښوونکې چې څنګه محلی فعالین د حکومت او د دولت ضد عناصرو سره په تړاو کې دی او معافیت تر لاسه کوی توضیح ورکړه چې، " د کرخ په ولسوالۍ کې په واقعیت کې طالب نشته، ټولې شخړې د خلکو دخپل منځ څخه را ولاړیږې چې هغه قبیلوي او سیاسي شخړې دي. یوه ژوندۍ بیلګه یې دا ده چې : د شخړې ټول رامنځته کوونکي او د دولت ضد عناصر یو له بل سره په تړاو کې دي. دغلته د کلي یو مشر دی چې هم د حکومت او هم د دولت له ضد عناصرو سره په تماس کې دی. د کلي مشر ۳۰۰۰ وسله وال کسان لري او حکومت نه شي کولای د هغه سره مقابله وکړي. د هغه یو تن وسله وال دوه ملکیان و وژل، خو هیڅوک په دې برخه کې څه نه شي کولای. د حکومت سیستم د خپل پالنې او نژاد پرستۍ سیستم دی. دا وده کوي او ریښې یې ډیرې ژورې غځیدلي دي."

د قانون د حاکمیت نشتوالی هم په شخصی او هم د قبیلې په کچه شخړې زیاتوی او یوه ډله دې ته هڅوی څو د یاغیانو سره یوځای شی. لکه د نورو حالاتو په څیر چې پورته یې یادونه وشوه هغه شکایتونه چې په سمه او عادلانه توګه حل شوی نه وی کولای شی د

خلکو پراخه ډلې پردۍ کړی. دا انګیرنه چې فساد او یا هم خپل پالنه د جنایی مسلو د حل لپاره کارول کیږی د ګډون والو تر منځ عامه وه. فساد په زیاته پیمانه او د ادعاوو له مخې د عدالتی سیستم د پالیسۍ څخه واخله د څارنوالانو او قاضیانو پورې په ټولو کچو کې شتون لری. حتی که رشوت او ارعاب د یوې مشخصې قضیې په حل کې رول نه لری خو دلته په دغه سیستم باندې باور لږ دی. د ؛دونوالو د خبرو سره سم د دې وضعیت سره په ولایت کې د تاوتریخوالی او غچ اخیستنو لړۍ پیل کیږی.

د پنځوو ماشومانو یوې مور ددې په اړه چې څنګه معافیت په رسمي عدالتي سیستم کې د نور معافیت لپاره زمینه برابروي، وویل ″ شخړې د محلي ستونزو او د عدالتي سیستم د نشتوالی پایله ده. په یوه کلي کې دوو قبیلو خپل منځي نښته پیل کړه چې په کې یوتن ووژل شو. په سیستم کې د بشپړ فساد له امله د قتل قضیه تړل شوې او مظنون له بنده خوشې شوی دی. په دې توګه بل اړخ نه شی کولای دا ومني، خپل دوستان را بولي څو د دولت ضد عناصرو سره یوځای شي، او د غچ اخیستنې په موخه یوه ډله جوړوي. اوس هغه باوری دی څکه چې د هغه سره د طالبانو له خوا ملاتړ کیږي او په دې توګه پرته له ډاره به نورې ناقانونه کړنې ترسره کوي. ″

**قومی او قبیلوی شخړې:** ډیری قومی ډلې چی په هرات کی میشته دی په نورو قبیلو او خیلونو ویشل شوی دی او دبده مرغه په تیرو لسو کلونو کې هرات د شیعه ګانو/سنیانو د تاوتریخوالی ډګر و. د واک اصلی دلالان په سیمه کې د تاجکو او پښتنو او همدارنګه په قومی ډلو کې دننه د نورو قبیلو سره په اړیکو کې دی، چې په ولایت کې قومی او قبیلوی شخړې لا نورې هم پیچلې کوی[ لاندې وګورئ]. که څه هم قبیلوی مسلې چې د شخړې لامل کیږی اکثره وخت د یوې محلی مسلې څخه پیل کیږی، چې هغه ځمکه، شتمنی او یا هم د ناموس مسلې دی.

د هرات څخه د یوهنتون د یوه تن استاد په وینا:

″ هغه محلي ستونزې چې د شخړو لامل کیږي هغه په قومي او قبیلوي تنګ نظریو ولاړې دي ، لکه د تاجکانو د هزاره ګانو سره او د هزاره ګانو د تاجکانو او نورو قومونو سره. په هغو سیمو کې چیرته چې هزاره قبیلې اوسیږي نجونې نه شي کولای چې د تاجک هلک سره واده وکړي. که چیرې هزاره نجلۍ د یو تاجک هلک سره د هزاره ګانو په سیمه کې ولیدله شي نو دواړه هلک او نجلۍ وژل کیږي. ″

ګډونوال توضیح ورکړل چی دغه ډول شخړې اوږدیږی او حل یې ستونزمن وی، په تیره بیا کله چې وینه توی شی. که څه هم دغه ډول شخړې ډیری وخت محلی بڼه لری او حتمی

نه ده چې په پراخو سياسی مبارزو واوړی، خو ځينې وخت داسې پيښيږی. د دغه وصعيت يوه ځمونه په شينډنډ کې د پښتنو قبيلو تر منځ شخړه وه. شخړې د قبيلو او خيلونو تر منځ او حتی د کورنيو په منځ کې را ولاړيږی چې په کې يوه خوا د ملی او يا هم محلی پوليسو اړخ ګرځی او بله يې د ياغيانو اړخ نيسی. دغه ډول شخړه لازمی ده چې په پراخه پيمانه د ډلو تر منځ د نښتې لامل ګرځی او ورته جنګيالی برابريږی چې غواړی وسله واخلی، چې هغه هم د حکومت يا هم د ياغيانو څخه تر لاسه کوی، خو په واقعيت کې ريښې يې د ځان د ساتنې پورې رسيږی. که څه هم کيدلای شی چې پراخه او غټه شخړه پای ته و رسی، خو د ګډون والو له نظره د قبيلوی شخړو لپاره د دايمی حل لارې پيدا کول ستونزمن دی.

> د يوې ښځينه دوکاندارې په وينا ، ″ د شخړې جوړښتونه د دوو ډلو تر منځ په مبارزه ولاړ دي، لکه د دوو ډلو، دوو نژادونو، دوو قبيلولکه محمد زايانو او نورزايانو تر منځ شخړه. لوړ پوړي چارواکي لکه حکومت نه شی کولای چې شخړه قابو کړي او دا نسل په نسل دوام کوي. ″

**د سياست والو او دقانون ماتونکی نفوذ:** د افغانستان لويديځه سيمه او په ځانګړی ډول د هرات ولايت د سياست والو ، پخوانيو او اوسينو ترمنځ د سياليو ډک ځای دی، چې هغوی پخپل وار اکثره وخت د دقانون ماتونکی سره تړاو لری چې د جهاد له دورې څخه سرچينه اخلی. ګډون والو په وار وار و ويل چې سياست والو او قانون ماتونکی د دولت ضد عناصرو او با نفوذه حکومتی چارواکو سره اړيکی درلودل او د هغوی د نفوذ څخه يې کار اخيست څو د شخړې اور بل وساتی. هغه عمومی تيوری چې ګډون والو پرې تکيه کوله هغه دا وه چې په سيمه کې د شخړې د لړ تر لږه کچې د موجوديت سره د محل اوسيمې د واک دلالان د دې لپاره مطمن دی چې په حکومت ( په رسمی او غير رسمی ډول) کې ځای لری ځکه چې هغوی محلی اعتبار او د واک جوړښتونه په لاس کې لری چې په وسيله يې شخړه قابو کولای شی.

> د پوهنتون د يوې ښځينه محصلې په وينا، ″ د بده مرغه په افغانستان کې که چېرې يو جهادی مشر د پامه لېرې شي نو هغه ډيرې ستونزې را ولاړولای شي. دغې ډلې د شوروي اتحاد پر ضد د جهاد په په پايله کې شهرت موندلی. هغوي همدارنګه تلاش کوي چې اطمينان حاصل کړی چی د ټولنې په شته سياسي معادله کې بايد له پامه ونه غورځول شي. ″

هر څومره چې افغانی ټولنه پرمخ ځی دغه ډول لوبغاړی چې د جهاد د بې نظمۍ او داخلی جګړو په دورو باندې متکی دی څو داسې سيمې تر خپل کنترول لاندې ولری چې له هغه ځايه په ملاتړ او د محدود دولتی کنترول د لارې خپل نفوذ وساتی. سياست وال او

قانون ماتونکی د ا د ځان لپاره باوری کوی چې د دوی پلویان باید د ولسوالۍ او ولایتی مقامونو په سر کې وی، چې د دې سره د قانون حاکمیت اغیزمن او معافیت رامنځته کیږی[ پورته وګورئ]. له هغه ځایه چې دوی هڅه کوی څو د خپلو بیلابیلو پلویانو د لارې په دولتی برخو کې خپل نفوذ وساتی، عمومی بې ثباتی چې د دغه حالت څخه رامنځته شوې ده حکومت کمزوری کوی، په تیره بیا په محلی کچه، او دا د شخړو د رامنځته کیدو سره مرسته کوی. سیاست والان او د واک دلالان همدارنګه د مختلفو ډلو سره د ملاتړ د لارې د سولې د هلو ځلو مخه نیسی.

د پی جی ایس ټی د یوه تن کارمند په وینا:

" د محلي خلکو لکه دیني او د کلي د مشرانو نفوذ ډیر اغیزمن وي، په تیره بیا د سولې په را وستلو کې. خو ځینې وختونه د محلي مشر منځګړتیا موثره نه وي. د بیلګې په توګه دوه قبیلې چې په کې د دولت ضد عناصر وو، د چشتي او د پهلوان قبیلې وې [ د چشت په ولسوالۍ کې] . دچشتي قبیلې سره د یو وزیر ملاتړ و او د پهلوان د قبیلې سره د پارلمان د یوه غړي ملاتړ. محلي مشران و وژل شول ځکه چې هغوي غوښتل د دوي ترمنځ سوله وکړي؛ هغوي د دغو ډلو له خوا نه منل کیدل."

د دې سربیره ګډون والو د دې ادعاء درلودله چې کله ولسوالان تبدیل او یا هم له دندو ګوښه شول، هغوی د نوو ولسوالانو لپاره ستونزې راولاړې کړې څو پر هغوی باندې د خلکو باور کم کړی. ګډون والو همدارنګه ادعا درلود چې محلی او ولایتی چارواکی د ګاونډیو هېوادونو سره اړیکی لری او د دې په موخه د هغوی څخه پیسې تر لاسه کوی څو چې امنیت ټکنی کړی. لکه د نورو ډیری ستونزو په څیر چې پرې د ګډون والو له خوا بحث شوی دی د سیاست والو او د واک د دلالانو موضوع او د شخړې محرکات د شخړې د نورو لاملونو سره اوبدل شوی دی.

## ۴. د سولې لپاره طرح

د هرات په ولایت کې د تمرکز د ډلو په بحثونوکې نږدې ټولو په عمومی صورت یو لړ زیات داسې اړخونه تشخیص کړی دی چې هغه کېدلای شی په دې زمینه کې د سولې د جوړولو د نوښتونو لپاره محلی محرکات وی چې موخه یې د شخړې اساسی لاملونو ته رسیدګی وی چې په کې د سولې او پخلاینې د بهیر اصلاح، د حکومتولۍ د تشې ډکول او د داسې ټولنې باوری کول شامل دی چې د قانون د واکمنۍ په چوکاټ کې وی، د اقتصادی او پرمختیایی فرصتونو پراختیا او په ولایت کې د بهرینو دولتونو د نفوذ مخنیوی شامل دی چې یواځې په دې پورې محدود نه وی. که څه هم په ولایت کې د بهرنیو دولتونو د نفوذ مخنیوی کول په اصل کې یوه محلی او ولایتی مسله نه ده، خو د دې

یادونه مهمه ده چې د مشورو پر مهال داد هغوی لومړی غبرګون و . د دې یادونه د پام وړه ده چې د هرات ولایت دوه نړیوالې پولې لری.

**د سولې او پخلاینې د بهیر اصلاح او پراخول:** برخه والو په پرلپسې توګه دې واقعیت ته اشاره درلودله چې د سولې اوسنی بهیر چې د افغانستان د سولې او پخلاینې د پروسې د پروګرام له لارې پر مخ ځی د هرات په ولایت کې پخپله اصلی دنده کې چې محلی پخلاینه ده پاتې راغلی. د سولې د محلی شورا غړی په دې تورن دی چې د ځان، د دقانون ماتونکی یا هم د سیاست والو د منافعو لپاره کار کوی.

د پوهنتون یوتن زده کوونکی و ویل:

> ″ زه حیران یم چې څنګه امنیتي [ لوبغاړي] ځواکمن شول، د دولت ضد عناصر ( طالبان) د افغانستان څخه په یوه شپه کې وشړل شول، او بله ورځ بیرته را وستل شول. افغانستان ګڼه شمیره کې د دولت ضد عناصر ولیدل څو ک چې د دولت سره پخلا او د سولې له بهیر سره په ظاهره توګه یوځای شول، خو د امنیت په لړ کې هیڅ ښه والی نه دی راغلی. د افغانستان د سولې او پخلاینې د پروسې پروګرام د خلکو لپاره واقعي غبرګونونه او ملاتړ نه برابروي. د افغانستان د سولې او پخلاینې د بهیر د پروګرام غړي زیاتره د سیاسي ګوندونو سره تړلي دي.″

که څه هم ډیری برخه والو په دې اړه بې باوری وښودله چې ایا دغه پخلا شوی پخوانی یاغیان په واقعی توګه یاغیان وو او یا هم یواځې وسله وال کسان وو چې غوښتل یې د سولې په بهیر کې د شمولیت د لارې مادی ګټې تر لاسه کړی، نورو بیا د سولې د اوسنیو نوښتونو ناکامی په دې کې وښووله چې دیو ځای شوی یاغیانو لپاره د کار متبادل فرصتونه یې نه دی برابرکړی.

د شینډند د ولسوالۍ څخه یو بزګر و ویل:

> ″ حکومت د ډیرو شیانو ژمنې کړي دي خو د پرمختیایي پروژو او د یوځای شوو کسان لپاره د پروژې په اړه چې کله هغوي د افغانستان د سولې پخلاینې د بهیر له پروګرام سره یوځای کیږي هیڅ نه دي کړي. هغوي اړ دي چې د خپلو کورنیو د ساتنې لپاره یوه لاره پیدا کړي.″

د کار د متناسب بدیل د پیدا کولو لپاره نا کامی په پرلپسې توګه د سولې د بهیر په وړاندې د یوې ننګونې په توګه راپورته شوه. دا د شخړې د پراخه اقتصادی اړخ لپاره بله متداخله موضوع ده. د دې سربیره چې دا یقینی کړا ی شی چې جنګیالی بیرته جنګ ته

شامل نه شی نو پراخه اقتصادی امکانات به هم د دې باور راولی چې نور کسان هيڅکله هم د ياغيانو سره يوځای نه شی.

د سولې پروسه په ټولو برخو کې زيات شفافيت ته اړتيا لری، چې په دې کې د سمو خلکو استخدام او د هغوی د بې پريتوب ثابتول په کار دی. برخه والو همدارنګه د ولايتی او ملی کچې د سولې د شوراګانو د غړو غوراوی تر پوښتنې لاندې ونيو، او د دې يادونه يې وکړه چې د هغو څخه ځينې يې يا خو د طالبانو ډير پخوانی دښمنان وو او يايې هم داسې محلی شبکې نه درلودلې چې دهغو د لارې ياغيانو ته ورسيږی.

د ملايانو او دينی عالمانو څخه د پوهاوی په برخه کې کار اخيستل د ګډون والو تر منځ د ټولو مشترک وړانديز و. په عين وخت کې ځينو ګډون والو د دې په اړتيا ټينګار درلود چې مدنی ټولنه، ښځې او دښځو ډلې د دينې عالمانو سره يوځای شی څو د وړاندې تګ لپاره د سولې پيغام د اوږد مهالې زده کړې او پرمختيا برخه وګرځوی.

د کور د يوې ښځينه خدمې په وينا:

> ″ محلي منځګړي، د کلي مشران او ديني عالمان د شخړو په حل کې اغيزمن رول لري، خو دا په دې پورې تړاو لري چې هغوي څه ډول کار کوي. که چېرې هغوي د خپلو خلکو او د هيواد او کلي د ګټو لپاره کار وکړي، نو هغوي کولای شي چې د خلکو په منځ کې ډيرې پيچلې شخړې حل کړي، خو که هغوي د بل چا لپاره کار کوي نو هغوي به ستونزې د خپلو بادرانو لپاره حل کوي. ″

په دې توګه د هرات خلکو د سولې د ملاتړ په بهير کې د ټولنې د ټولو برخو او قشرونو نقش ته اشاره درلودله، دا اوس د افغانستان په حکومت پورې اړونده ده څو داسې يو معقوله لار غوره کړی چې دغه ټول غړونه د سولې او پخلاينې په بهير کې ورګډ کړی، او د ټولنې د ټولو کچو مناسب ګډون يقينی کړی چې په کې ميرمنې او د مدنی ټولنې استازی شامل وی.

يوتن سپين ږيری و ويل:

> ″ په ولسواليو کې مورږ دوه کټګورۍ محلي مشران لرو، د هغوي څخه ځينې يې د خپلو ګټو لپاره کار کوي او بله ډله هغه خلک دي څوک چې د خلکو لپاره کار کوي. دوهمه ډله د محلي خلکو تر منځ شهرت لري حتي د دولت ضد عناصرو تر منځ، خو حکومت د هغوي سره مرسته نه کوي. که چېرې حکومت د مشرانو دغه ډلې ملاتړ وکړي نو هغوي به پخپلو ولسواليو کې د تبليغ او دفاع لپاره اغيزمنې وي. ″

**د اغیزمن دولتی کنترول او د قانون د واکمنۍ پراخول:** بله عمومی لر لید د برخه والو ترمنځ د اغیزمن حکومتی کنترول او په تول هرات کی د قانون د حاکمیت باوری کول و. برخه والو اکثره وخت د هغه معافیت په اړه ویل چې ناقانونه وسله والې ډلې( IAGs) او با نفوذه کسان ورڅخه د رسمی عدلی او دقانون د انفاذ د ادارو دننه برخمن دی. ځینو نورو مختلفې نورې ډلې وشوولې چې په حکومت او یا هم په پولیس کې دی چې د رسمی دندو داجراء پر مهال یې خپلو او یا هم د خپلو قبیلو ګټو لپاره کار کوی . هغوی همدارنګه د دې یادونه وکړه چې حکومت د ولایت په ډیرو سیمو کې په اغیزمنه توګه حضور نه لری. ځینو د دې شکایت وکړ چې د افغانستان دمحلی پولیس نوښت په ځینو مشخصو سیمو کې د دې پرځای چې شخړه قابو کړی د شخړې اور ته یې لمن وهلې. بله عمومی انګیرنه دا وه چې فساد د ټولنې په هره کچه شتون لری او د هغه د ریښو ویستل د دې لپاره مهم دی چې اغیزمن دولتی کنترول باوری شی چې دا به پخپل وار د دې سره مرسته وکړی څو شخړې را قابو کړای شی.

د پوهنتون د یوې ښځینه محصلې په وینا:

" دا په ریښتیا سره ډیره ستونزمنه ده چې په افغانستان کې د شخړې د حل لپاره وړاندیزونه وشي ، ځکه چې حکومت نږدې په بشپړ ډول په فساد ککړ دی. لا هم دلته ځینې لارې چارې شته چې هغه په افغانستان کې د اوسنیو شخړو د حل په لاره کې مرسته کولای شي. تر هرڅه د مخه حکومت باید خپله دنده ترسره کړي څو د خلکو تر منځ برابري راولي. هغه باید خلکو ته دهېوادوالو او اتباعو په نظر وګوري او نه د لاس لاندې کسانو په توګه. د قانون واکمني ډیری ستونزې هوار ولای شي. که چیرې یوه کوچنۍ ستونزه شتون ولري نو د قانون د واکمنۍ د لارې هغه په اسانۍ سره هواریدلای شي، خو کله چې حکومت دا ونه کړي نو دا په واقعیت کې ستونزمنه ده چې شخړې پاي ته ورسولې شي یا لږ ترلږه داچې راکمې شي."

په یوه داسې حالت کې کله چې خلک د پراخه فساد په اړه خبرې کوی نو دا په بشپړه توګه د حیرانۍ وړ نه ده چې ځینې برخه والو د طالبانو د دورې په اړه مثبت نظرونه درلودل، او ویل یې چې لږ تر لږه هغه مهال سوله وه او داچې قانون په اغیزمنه توګه پلی کیدلو. د هرات د ولایت په محبس کې یو تن زندانی، او یوتن داخلی بیځایه شوی کس چې په اصل کې د فاریاب څخه و ویل:

" که چیرې موږ اسلامي قانون پلي کوو نو دلته به هیڅ شخړه او نا امني نه وي. افغان طالبان او د افغانستان خلک کولای شي په هېواد کې سوله را ولي. "

د فساداو احتساب موضوع نه یواځې د قضاء او رسمی محلی اداري لپاره یاده شوه. خلکو همدارنګه د دې یادونه وکړه چې بې پریتوب باید د سولې د پروسې پورې هم وغځول شی. په داسې حال کې چې خلک د مانا لرونکې سولې د هغه بهیر په حق کې وو چې وکولای شی یاغیان بیرته اصلی جریان ته راولی، هغوی همدارنګه په دې اړه حساس وو چې د قربانیانو د حقونو ساتنه باید وشی. برخه والو د دې یادونه وکړه چې د پخلا شویو یاغیانو څخه تحقیقات نه دی شوی او د هغو جرمونو په اړه وربانديې دعوه نه ده اقامه شوې چې دوی هغه مهال چې یاغیان وو ترسره کړی دی او په دې توګه په عمل کې یو ډول معافیت رامنځته شوی. ډیرو ګډون والو فساد، د حکومت د کنترول نشتوالی او معافیت د شخړې د محرکاتو په توګه، په حکومت کې اصلاحات، د فساد له منځه وړل، او د قانون د پلی کولو تقویه د سولې په لار کې ډیر مهم وبلل.

د مشورو پر مهال یوسپین ږیری په حیرانۍ سره و ویل:

" قانون د بریښنا مزی دی په یوه سیمه کې هر ځای غځول شوی، خو رڼا تر هغې نشته او تیاره ده څو پورې چې بریښنا په کې خوشې نه شي . د قانون حاکمیت د بریښنا مزی دی او د قانون پلي کول بریښنا ده چې هغه به هر ځاي روښانه کړي. "

مهمه ده چې ګډون والو ددې احساس درلود چې حکومت باید هغو ننګونو ته توجه ولری چې د هرات خلک ورسره همیشه مخامخ دی او د هغوی نظریات د پرمختیا د پلانولو او سولې د نوښتونو لپاره په پام کې ونیسی. د هغوی له نظره یو اغیزمن حکومت چې په کې نه یواځې اغیزمن حکومتی خدمات او کنترول شامل وی، بلکې هغسې حکومت چې د هېوادوالو د اړتیاوو په وړاندې غبرګون ولری. لکه چې د ګذرې د ولسوالۍ څخه یوتن مشر و ویل:

" حکومت باید د عادي وګړو نظریاتو ته غوږ شي، ځکه چې ډیری ستونزې ګاللی دی او د دغې کتګورۍ دخلکو لپاره راولاړې شوې دي او هغوي د شخړو اصلي قربانیان دي. "

**د تعلیمی او اقتصادی فرصتونو پراخول:** د ټولو موضوعاتو ترمنځ ګډون کوونکو د دې احساس درلود چې د اقتصادی فرصتونو او مانا لرونکی تعلیم شتون د یاغیتوب د سختۍ په وړاندې اساسی اقدام دی. د بیلابیلو قشرونو خلکو د دې اړتیا یادونه وکړه څود دې امکانات زیات شی چې خلک په ثبات او اقتصادی سوکالۍ کې ژوند وکړی او یاغیتوب ته ماتې ورکړل شی.

د هرات څخه د پوهنتون استاد وایی:

" حکومت د دولت د ضد عناصرو سره په جنګ کولو تمرکز کړی دی. هغویخپل مسوولیت د خلکو د حمایت د لاس ته راولنی لپاره هیره کړی ده - کله چې خلک د ستونزو سره مخ وي هغوي هڅه کوي چې یو ملاتړی پیداکړي. هغوي به د دولت ضد عناصرو ( طالبانو) سره یوځاي شي [ که طالبان یې ملاتړ وکړي]. که چېرې خلک د کار فرصتونه ولري او پخپلو کارونو کې مصروف وي نو هغوي به د دولت ضد عناصرو سره وجنګیږي او ورسره به یوځای نه شی."

ګډون والو همدارنګه په دولت غږ وکړ څو زیربنایی او جوړښتی پروژې لکه سړکونه، پلونه، لویې لارې، د بریښنا بندونه او د اوبه خور پروژې د معیشت د انکشاف او د هرات د اقتصادی ودې او کار د فرصتونو د زیاتولو د وسیلو په توګه پراخې کړی. د کار د فرصتونو د نشتوالی له امله لکه چې هرات د صنعتی پارکونو کاروبار او فابریکې د لاسه ورکړی دی او همدارنګه په بهرنۍ پانګو نه کې کمښت راغلی دی، ځینو ګډون والو د دې اړتیا یادونه وکړه چې محلی صنعت لا پراخه کړی او د حکومت په هغه رول یې چې د کار د فرصتونو په لړ کې یې باید ولوبوی تاکید درلود.

د پی جی ایس ټی د کارمند په وینا:

" د اقتصاد کچه باید پورته شي، د بیلګې په توګه که چېرې حکومت د منزالونو د را ویستلو او فابریکو کار پرمخ بیایي، د خلکو ۹۰ سلنه کیدلای شي په دغه کار کې مصروف شي. "

لکه چې پورته یې یادونه وشوه ګډون والو اقتصادی پرمختګ اود کاری فرصتونو شتون د دې لپاره اړین وباله چې دا باوری کړی چې هغه کسان چې ممکنه ده په جنګ لاس پورې کړی د یاغیانو سره د یوځای کیدو پر ځای باید واقعی بدیلونه ولری، او دا باوری شی چې هغه یاغیان چې په ټولنه کې مدغم شوی دی د دې لپاره نور مادی مشوقونه نه لری چې بیرته جګړې ته مخه کړی. د ټیکاو لپاره راتلونکې لاره د ګډون والو له نظره ولسوالیو ته د حکومت د کنترول، په کلیو الو سیمو کې د واقعی پرمختیا او په کمی او کیفی لحاظ د تعلیم د فرصتونو د زیاتوالی سره تړاو لری.

د ګذرې د ولسوالۍ څخه د یو تن سپین ږیری په وینا:

" د تیرو کلونو په پرتله په هغو ولسوالیو کې چې ښار ته نږدې پرتې دي د شخړو کچه راکمه شوې ده. د دې لامل د تعلیمي کورسونو موجودیت، د سولې د بهیر فعالیتونه، او د بشري حقونو په اړوند معلومات دي- دې سره خلک خپلو بشري حقونو ته د رسیدو لپاره ځانونه ازاد احساسوي. که چېرې

خلک د سولې د پروسې په اړه پوه وي نو هغوي به دا زده کړي چې څنګه سوله وساتي."

ګډون والو په تفصيل سره د دې يادونه درلودله چې که څه هم هلته په سلګونو ځوانان چې د پوهنتون څخه ليسانس سند لرى بې روزګاره دی، ولې د کار په ځايونو کې هغه کسان ځای پرځای کيږی چې تعليم نه لرى خو اړيکی لرى. د اقتصادی او تعليمی فرصتونو د پراخوالی سره سره هغوی په حکومت غږ کوی څو د استخدام په بهير کې شفافيت لوړ کړی.

**د نړيوالو اړيکو سمونه:** ګډون والو استدلال درلود چې نړيواله ټولنه کولای شی په دې کې مرسته وکړی چې د افغانستان په کورنيو چارو کې د ګاونډيو هېوادونو د لاس وهنو مخه ونيسی. هغوی ملګرو ملتونو ته سترګې پر لار دی چې د دولتو تر منځ د اړيکو او د ګاونډيو هېوادونو د مداخلو سره اړوندې مسلې حل کړی او د افغان حکومت څخه يې غوښتنه درلودله چې په دې برخه کې اقدام وکړی. هغوی په حکومت غږ وکړ څو په افغانستان کې کاری فرصتونه زيات کړی څو چې ځوان هراتيان دې ته اړ نه وی چې ايران ته د کار په موخه ولاړ شی چې له هغه ځايه ډيری يې په ترياکو روږدی بيرته راستنيږی.

په عين وخت کې هغوی همدارنګه د حکومت له خوا د ايساف او لويديځو هېوادونو سر د امنيتی ترتيباتو په اړه يادونې درلودلې چې د ګاونډيو سره د مخالفت لامل دی. د پی جی ايس ټی د کارمند په وينا:

" د ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۱۵ پورې د شخړو شميره زياته وه، له هغې وروسته د څه مودې لپاره راټيټه شوه خو په اوس ورځو کې د نړيوالو امنيتي ځواکونو د وتلو او ولسمشرۍ د ټاکنو سره بيرته زياته شوې ده [ د ۲۰۱۴ انتخاباتو ته راجع ده ] . د جګړې د زياتوالي لامل د ګاونډيو هېوادونو مداخلې دي. افغانستان د لويديځو هېوادونو سره نظامي تړونونه لاسليک کړل، چې دا د ګاونډيو هېوادونو نه خوښيږي. هر څومره چې افغانستان دې ته ادامه ورکوي نو د نا امنۍ کچه به هم پورته کيږي. په دغه ډول جګړه ييزو او ستونزمنو حالاتو کې خلک نه شي کولای د خپلو بشري حقونو څخه برخمن و اوسي او عدالت پايماليږي. "

د ستراتيژيکو مسلو سربيره ګډون والو همدارنګه په حکومت باندې غږ وکړ څو په سرحد کې امنيتی وضعه سمه کړی. هغوی په دې نظر دی چې هرات د ايران سره دپولې او د هېواد د نورو برخو سره د ارتباطاتو له امله په تيره بيا په زياته پيمانه د پولې د دواړو غاړو د فعاليتونو له امله اغيزمن شوی دی.

د کوهسان د ولسوالۍ څخه د شورا يو تن غړي د دې وړانديز وکړ چې:

″ سرحدي پولې بايد د مافيا پر مخ وتړلې شي . يو څو ورځې تر مخه نږدې ۱۳۰۰ کلوګرامه چاوديدونکي توکي د دې لپاره استول شوي وو چې د سلما بند [ يو هايدرولوژيکي پروژه چې د هرات په ختيځ کې د هند د حکومت له خوا تمويل شوې ده ] تخريب کړي. دا کيدلای شي چې د ګاونډيو هېوادونو څخه ليږدول شوي وي چې موخه يې د افغانستان په کورنيو چارو کې مداخله ده، ځکه چې هغوي نه غواړي چې افغانستان خپلواک وي، او له بلې خوا هغوي د دولت د ضد عناصرو سره مرسته کوي. سوله تر هغه مهاله ممکنه نه ده څو پورې چې وسلې د بې مسووليته کسانوسره موجودې وي [ د هغوي په وړاندې اقدام وشو] څوک چې په سرحدي سيمو کې د دولت د ضد عناصرو او ګاونډيو هېوادونو ساتنه او ملاتړ کوي″ .

ګډون والو همدارنګه د ملي يو والي د نشتوالي چې د ګاونډيو هېوادونو له خوا کارول کيږي يادونه وکړه. هغوی پر حکومت غږ وکړ څو د دې لپاره اقدام وکړي او دا باوري کړي چې قبيلوی او قومی تفرقې د ګاونډيو هېوادونو له خوا ونه کارولې شی، په عين حال کې يې د دې يادونه وکړه چې د افغانستان ملی امنيتی ځواکونه بايد لا نور مسلکی شی. د غوريان د ولسوالۍ څخه يو محلی کس و ويل:

″ حکومت بايد د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو تر منځ د هر ډول قبيلوي مسلو څخه مخنيوي وکړي او د دې اجازه ور نه کړي چې ګاونډيان زموږخلک په قبيلو او قومونو و ويشي.″

که څه هم د شخړې ريښې محلی سرچينې لری ، ګډون والو د دې يادونه درلودله چې محلی وضعيت د دې امکان برابروی څو بهرنيان د هغه څخه پخپله ګټه کار واخلی.

## ۵. د خلکو وړانديوزونه

په هرات ولايت کی د مشورو په بهير کې خلکو لاندنی عمومی وړانديزونه د دې لپاره درلودل څو حکومت، نړيوال لوبغاړی او مدنی ټولنه په يوه جوړونکی ډيالوګ کې را شامل کړی چې د هرات په ولايت کې د جګړې اصلی لاملونو ته رسيدګی وشی:

**د اصلاحاتو ګړندی کول او د سولی د پروسی پراخول:** (۱) د سولې ولايتی بهير کې بايد اصلاحات راشی څو دا باوری شی چې هغه کسان چې په دغه پروسه کې دخيل دی پرته له سياسی مداخلې او يا يوی خاوته ځانګړی علاقه مندی لری؛ (۲) قبيلوی مشران، ملايان، اسلامی پوهان او دټولنې د پرمختيايی شوراګانو غړی بايد منسجم کړای شی څو د سولې لپاره د داد خواهی له لاری ګډون ولری؛ (۳) د خلکو لپاره داسې شرايط برابر شی څو

هغوی د حکومت سره په همکارۍ کې د سولې د مدافعې او تبلیغ لپاره کتله ییز خوځښت پیل کړی څو " دغه دایره با ثباته شی"

**د دولتی بنسټونو تقویه کول:** (۱) په اغیزمنه توګه د فساد او د مافیا د ډلو او د دقانون ماتونکی سره مجادله وشی؛ (۲) باور حاصل شی چی خپل پالنه او هغه طرفداری چې په قومیت ولاړه وی باید پای ومومی او متخلفین باید د حکومت له خوا مجازات شی؛ (۳) اطمینان حاصل شی چی د دولت په څوکیو کې تعلیم یافته او لایق اشخاص مقرر شی او بې تعلیمه کسان باید د تعلیم یافته کسانو د مقررۍ د لارې تعویض شی؛ (۴) د قانون واکمنی تقویه او قانون باید پلی شی، د جدی جرمونو لپاره معافیت پای ته ورسول شی او د " د معافیت فرهنګ" له منځه ولاړ شی؛ (۵) خلع سلاح او د غیر مسوولو دلو کسانو څخه وسله راټوله شی؛ (۶) د قدرت عادلانه ویش او ټولنیز عدالت څخه اطمینان حاصل شی (۷) اطمینان حاصل شی چی د خلکو او حکومت تر منځ اړیکی سمې شی، او داچې خلکو ته هېوادوالو په څیر وکتل شی نه د لاس لاندې افرادو په توګه؛

**اقتصادی او اجتماعی ودی:** (۱) د محلی خلکو لپاره د کار امکانات برابر شی څو هغوی دې ته اړ نه شی چې د یاغیانو ملاتړ وکړی او یا هم ورسره یوځای شی؛ (۲) حکومت باید په زیربنایی پروژو تمرکز ولری څو لېرې پرتو ولسوالیو سره ارتباط رامنځته او ګڼ شمیر محلی خلک استخدام شی؛ (۳) د افغانستان د طبیعی زیرمو ( د ډبرو سکاره، غاز، او منرالی شتمنی) ساتنه وشی او تر ي ګټه پورته شی او ورسره دا باوری شی چې دعوایدو څخه یې د هېواد د ننه ګټه اخیستل کیږی؛ (۴) نړیواله ټولنه باید د ادارو او موسسو د ظرفیت د لوړولو په برخه کې قوی تمرکز ولری، د تعلیم د پراختیا او د کرهنې او د کاری فرصتونو د رامنځته کولو په لړ کې ملاتړ وکړی؛

**د بشری حقونو وده:** (۱) په کلیوالو سیمو کې د رسنیو، سیمینارونو، یا ورکشاپونو د لارې د بیلابیلو مسلو په اړه په تیره بیا د هغوی د بشری حقونو په اړه دخلکو خبرتیا تقویه شی؛

**د ګاونډی هیوادونو د مداخلی مخنیوی کول:** (۱) د نړیوالې ټولنې سره د ګاونډی هېوادونو په شمول د تعامل لپاره یوه ښه او روښانه بهرنۍ پالیسی چمتو کړی؛ (۲) د افغانستان په کورنیو چارو کې د ګاونډو هېوادونو د مداخلی مخنیوی وشی؛

# د فراه ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

دسولی دا ولایتی نقشه د فراه ولایت د ۱۴۳ افغان عادی خلکو (شل فیصده ښځینه ګدونکوکو) د مهمو څرګندونو او مسایلو خلاصه ده چی د ګروپی بحثونو- ژورو مرکو او سروی فورمونو په ترڅ کی څرګند شوی دی. ګدونوالو د بیلابیلو ټولنیز او سیاسی پس منظر په درلودلو سره د خصوصی سکتور کارکونکو ، قومی مشرانو ،بزګرانو او ښوونکو ،د مدنی ټولنو استازو، دینی عالمانو او بیا یو ځای شویو شورشیانواستازیتوب یی کاوه.

دا مشورتی غوندی د سولی په هکله د افغانانو د خبرو اترو ( چی ددی څخه وروسته خبرو اتری نومول کیږی) ددویم مرحلی د یو ی برخی په توګه د ۱۱ مدنی ټولنو او د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون لخوا د ۴۵۰۰ عادی افغانانو څخه زیاتې کسانو سره د سولی د ۳۴ محلی نقشی د برابرولو په موخه تر سره شول .

د سولی د رسیدو لپاره دا سمیه ایزه نقشه په فراه ولایت کی د شخړو د تجزیی او څیړنی هر اړخیزه لاره، د بیا یو ځای کیدولپاره ملموسه لاری چاری او د سولی او ثبات د دوام لپاره مناسبه لاری چاری وړاندی کونکی ده.

## ۲. ولایتی معلومات

فراه ولایت د څه سربیره ۴۸،۰۰۰ کیلومتره مساحت په درلودولو سره ، په افغانستان کی څلورم ولایت بلل کیږی چی د هرات (په شمال کی) ، غور ولایت(په شمال شرق) کی، نیمروز ولایت(جنوب کی) ، هلمند ولایت (جنوب شرق کی) او د ایران هیواد یی په غرب کی پروت دی. همدارنګه فراه ولایت د افغانستان د غربی او جنوبی حوزو د دروازی په توګه بلل کیږی.

فراه ولایت په یولسو اداری واحدونو ویشل شوی دی : بالابلوک او خاک سفید ولسوالی په شمال کی،د فراه ښار د مرکز په توګه، بکوا ولسوالی په جنوب کی،قلعه کاه او شیب کوه ولسوالی په غرب کی، پرچمن ولسوالی په جنوب شرق کی ، ګلستان ولسوالی په جنوب شرق کی، اناردره ولسوالی په شمال غرب کی، لاش او جوین په جنوب غرب او د پشت رود ولسوالی په مرکز کی موقعیت لری.

ددی ولایت تخمین شوی نفوس د ۸۰۰،۰۰۰ تر ۱،۰۰۰،۰۰۰نفرهټکل شوی چی ۹۰٪ نفوس یی په کلیو او ولسوالیو کی ژوند کوی. په دی ولایت کی په دواړو (پښتو او دری) ژبو خبری کیږی چی دری ژبه د اکثره حکومتی چارو او غربی میشتو ولسوالیو کی کارول کیږی. او پښتو ژبه د شرقی ولسوالیو اصلی ژبه بلل کیږی.

ویل کیږی چی پښتانه ددی ولایت ۷۵% نفوس جوروی ، چی ډیر یی نورزی(چی خپله نورزی هم په ۱۵کوچینیو طایفوباندی ویشل کیږی)، وروسته یی بارکزی او علیزی دی. پاتی نفوس یی تاجیک (۱۰%)،ایلات ،مغول ،بلوڅ او سید قومونه جوړوی.[۱۸۸]

همدارنگه فراه ولایت یو څه اندازه کوچیان هم لری چی نفوس یی د موسمونو په لړ کی تغیر کوی.د قومونو او قبایلو د ریاست په وینا تر ۱۱۰،۰۰۰ کوچیان په وړی کی فراه ولایت ته کوچ کوی.چی اکثریت یی پشت کوه ،اناردره او فراه مرکز ته تګ راتګ کوی.

همدارنگه ده هټکل په اساس ۱۰۰،۰۰۰ فراهیان د اقتصادی ستونزو له امله په ایران که د مهاجرت ژوند کوی. ډیر فراهیان هم هرات ته تللی دی چیری چی اقتصادی فرصت ډیرتره دی.

## ۳. د شخړی تحلیل: ډولونه او محرکونه

**د شخړو ډولونه:** د سلا مشوری د پروسی په ترڅ کی ،ګډونوالو د شخرو هغه پراخه لړی ډولونه یی تشخیص کړل چی په شدیده توګه په فراه ولایت کی د سولی او پرمختګ باندی تاثیر لری په ګوته کړل. دیر مهمه شخړه په ولایت کی د طالبانو چی د دولت د مخالیفینو رهبری په لاس کی لری او د دولت ملاتړ ځواکونو تر مینځ روانه ده، چی د نوی حکومت د رامینځته کیدو وروسته دا شخره پیل شوی ده. ګډونوالو په دی باور وو چی د یادشویو ګروپونو تر مینځ جګړی نوری مینځنی ،قومی ،مافیا/سازمان لرونکی جرمونه ، او همدارنګه هغه لاملونه چی افغان سیمه ایز پولیس هم پکښی شکیل دی را مینځته کړیدی.

سره د دی چی، د جنګ اصلی لامل د ګدونوالو لخوا لکه چی پورته یی هم یادونه وشوه، د طالبانو په رهبری د شورشیانو ګروپونو او د افغانستان ملی امنیتی ځواکونو ترمینځ شخړه ده. لکه څرنګه چی د فراه څخه یو مدافع وکیل داسی وویل:

”زه باورلرم چی په فراه ولایت کی دوه ډوله شخره روانه ده، ترټولو پیژندل شوي شخړه د دولتی ځواکونو او طالبانو تر مینځ جګره ده او بل ډول شخړه قومی شخړه ده چي له مینځه تللي او یوازی په ځینو ځانګرو سیمو لکه بالابلوک ولسوالی کي لیدل کیږي.

”هغه څوک چی په سیمه کی د طالبانو غړی پیژندل کیږی هغه د طالبانو غړي بلل کیږی او د هغه د قومی پیژندني ځای د ده سره د طالبانود اریکي پیژندنه نیسي، او دی به نور د نورزي،اڅکزي او یا غریزي په نامه نه یادیږی څکه چي دی د طالبانو غړی دی“.

[۱۸۸] ټول ارایه شوی ارقام نسبی دی او په فراه کی د علمی څیړنو بنسټ نه لری .

د فراه په یو سیمه کی د امنیتی وضعیت د خرابیدو له وجهی نورو برخی حالات هم ورسره خوزیږی دا د ځینو لاملونو د تغیر له امله لکه د سلاوو شتون او حکومت په تیره د وسله والو دولتی ځواکونو د حضور له امله دی . د خویندو د خوځښت د د نهاد غړی د تشویش په درلودلو سره داسی وویل :

"بیله د فراه ولایت مرکز په ولسوالیو کي د مکتبونه په سم ډول شتون نلری او په ډیرو ولسوالیوکی لکه بکوا ،گلستان او بالابلوک ولسوالیو کي حتی ابتدایي مکتب هم نشته اوپه دي سیمو کي د مخدره موادو مافیانفوذ هر چیرته احساس کیږی.

د فراه ولایت په ځینو سیمو کی ، شخصی سیالی د شخړی یوه بله برخه بلل کیږی. هغه وخت چی یو څوک یوه پخوانی شخصی سیالی په درلودو سره دولتی موقف لری نو دده سیالان د طالبانو ملاتړ کوی. هغه څوک چی د دولت حمایت د ځان سره لری هغه خپل سړی توقیفونه ، آزار (ستومانی) او گواښ خپل و سیال خواته په لاره اچوی او هغه څوک چی د طالبانو ملاتړ د ځان سره لری هغه بیا سړی تښتونه ، خلکو ته گواښ ، د ماینونو ښخه ول او په ځینو پیښو کی خپل پر سیالانو تروریستی بریدونه تر سره کوی چی په دی توگه د وسله والی شخړی څخه یو مشکوکه او ناپیژندل شوی حالت مینځ ته راولی او د ملکی خلکوته ستړیا او درد لاملونه مینځ ته راوارلی.

د ولایت په ځینو نورو سیمو کی ، د مخدره موادو د مافیا گروپونه شخړی مینځ ته راولی، چی دا هم یوه نوی پیښه نه ،بلکی په دی کلونو د حکومت لخوا د ځینو ځانگرو مهموسیمو د کنترول د لاسه ورکولو له امله د مخدره موادو د مافیا د فعالیتونو د پرمختگ سبب شوی دی.

خلکو ادعا درلود چی د مخدره موادو مافیا ددی حالت سره په گټه اخیستلو سره د شورشیانو د لوجیستیکی او مالی حمایت کولو په وسیله یی حالت خپل په نفعه راگرځولی اودا شورشیان تر پولی پوری د دوی د مخدره موادو د کاروانونه خوندیتوب تضمینوی او د تریاکو د کروندوساتنه پر غاړه لری. چی دا کار د شورشیانو توان بیا هم ډیروی، چی په دی توگه د بی امنیتی او بی ثباتی کچه پورته ځی. گدونوالو دا یی یو لوی بحران و بولی چی په ولسوالیو کی د حکومت نه شتون او د شورشیانو څخه د مخدره موادو د مافیا ملاتړ د دوی د پیاوړتیا و د واک د پراختیا سبب گرځی. لکه چی مخکی هم یادونه وشوه، د مخدره موادو کښت د شورش کچه وار وار پورته کوی ،ځکه چی حکومت د مخدرو موادو د له مینځه وړلو لپاره کوم خاص او روښانه پلان نلری. په هغه سیمو کی چی د مخدره موادو د کښت کچه لوړه ده (لکه د بکوا او بلابلوک ولسوالیو کی)، طالبان د مخدره موادو د کروندو د له مینځه وړلو مخنیوی کوی او په هغه سیمو کی چی دولت

په بشپړه او یا یو څه واکمن دی ، غریب بزګر دیر لږ مخدره مواد کری او حکومت کوښښ لری تر څو دا کروندی د حاصلاتو پر وخت له مینځه یوسی. د بزګرو لپاره کوم انډولیز د کښت پروګرا م نشته اوحکومت په دی کار سره د دوی عایداتی لاره له مینځه وړی.

د قومی مسالو له امله د شخړو کچه د هغی ولسوالی، د قومونو د اړیکو مخینه او د واک د لوبولو د توان باندی اړه لری. او دا مساله د شته سرچینو د ملاتر د ترلاسه کولو د کچی او همدارنګه د پخوانیو شخړو چی تر اوسه هم روانی دی، او بیلابیلو عواملو څخه د کار اخیستنی پوری اړه لری.د بالابلوک د ولسوالی څخه یو قومی مشر وویل :

"د فراه د نورو ولسوالیو پر خلاف ، په تاسف سره د بالابلوک ولسوالی د قومی او نژادی شخړو څخه رنځ وړی. د یو پخوانی مثال په توګه د یو مشخصه قومی یو سړی د خپل سیالي قومی یو نفر یی ووژی ، په داسي حال کي چی وژل شوی کس په قومی شخړی کي یي هیڅ ونډه نه درلود او یو عادی بزګر وو، نو اوس تاسی راته وواياست چی د وژل شوي کس نور قومي غړي ددي پیښي په مقابل کي څه وکړي؟ دا په ډاګه ده چی دوی به د قاتل د قومی په مقابل کي و دریږی چي دا شخړه د پنځو کلونو پوري دوام لريي."

ګډونوالو په ډاګه کره چی په بالابلوک ولسوالی کی، قومی شخری ډیرتره پر سیمه ایزو خلکو او سیالو قومونو باندی د واک چلولو باندی ګرځی چی دا واک د حکومت په اداراتو کی د نفوذ درلودلو او یا هم وسله والو مخالیفینو د ملاترله امله و یا هم په سیمه ایزه کچه د مخدره موادو د مافیا د ګروپونولخوا عملی کیږی.

خو بیا هم ، د ښخړو د تشدید لپاره ډیر نور لاملونه هم د ولایت په سطحه شتون لری. چی د هغو لاملونو څخه چی د ګدونوالو لخوا په ګوته شو په مرکزی سطحه د سیاسی دوام نه شتون او همدارنګه په سیمه ایزه کچه د بیسوادی د کچی لوړوالی وبلل شو. ددی واټنونو شتون د لوبغاړو لپاره یی د سیمی د خلکو څخه د انسانی او تخنیکی منابعو لاس ته راوړنه آسانه کړی ده. یو بل لامل چی په شخری کی مرسته کوی د فراهی اوسیدونکو لپاره د سیاسی او اقتصادی فرصتونو نه شتون بلل کیږی. د اداری فساد نه کنترولیدونکی حالت هم د ګډونوالو لخوا د اوسنی ښخړی لپاره یو بل لامل وپیژندل شو، چی د دی لامل کیږی چی خلک د حکومت څخه واټن ونیسی اوخپل ځان د فساد څخه لیری وساتی. د فراه څخه یوه نرسه ښځه په فراه کی د جګړی لاملونه چی د همسایه ملکونو څخه متاثره شوی دی داسی بیان کړ:

"ممکنه ده چی دیر لږ عقیدوي طالبان وي چی خپل د عقیده لپاره جنګیږی او دوی په هغه اندازه ډیر ندي چي بې ثباتی مینځ ته راوړی او یا دیر لږ

افغان ملی اردو او یا پولیس ځواکونه دي چي خپل د وطن لپاره جنګیږی. دواړه طالبان او همدارنګه افغان امنیتي ځواکونه د خپل مالی ګټو لپاره جنګیږی.د افغانستان ملي ځواکونه د میاشتنی معاش لپاره او طالبان د یو څو پاکستانی روپیو او څو زرو افغانیو لپاره چی د جنایتکارانو لخوا ورکول کیږی جنګیږی چي په دي توګه حالت بی ثباته کړي.تر ټولو لویه شخړه چی فراه ولایت کی دوام لري د مخالیفینو او د ملی امنیتی ځواکونو او د بهرنیانو په مرسته شخړه ده. ددي شخړي دوام نه یوازي د کار د نشتوالی و یا هم نه کنټرلیدونکی اداری فساد له امله ده بلکی نور لاملونه هم شته چی ددې شخړی وضیعت تشدیدوی . د مثال په توګه ، ایران او پاکستان د تل لپاره ددي هیواد دښمنان وه او خپل پاکستانی طالبان وسیمې ته را استوی ، او یا هم سیمه ایز طالبان د یو څو زرو پاکستانیو روپیو او د یو کلاشینکوف په ورکولو سره اجیروی.″

**د شخرو لاملونه:** د ژورو ګروپونو د ګډونوالو ، سروی فورمونو او د فردی مصاحبو پر مهال ، ګډونوالو باور درلود چی د شخړی واقعی لامل طالبان ، شورشی ګروپونه رهبری پر غاړه لری او د همسایه هیوادونو لکه د ایران او پاکستان ، مخدره موادو مافیا، د ځینو قومی مشرانو لکه د حکومتی ریاستونو لرونکی او د هغه سیاستوالو لخوا چی د حکومتی پستونو لپاره کوښښ کوی(د ولایتی شورا او پارلمان غړي) دی.

**دطالبان تر مشری لاندی اغتشاش:** د ګډونوالو په وینا دوه ډوله طالبان شتون لری. یو قسم طالبان چی کورنی طالبان دی چی د اوسنی حکومت سره د بهرنیانو پر سرستونزه لری، او دوهم ډول طالبان بهرنی طالبان دی چی په واقعیت سره په ولایت کی د امنیت د ګډ وډولو لپاره هڅه کوی.بهرنی طالبان د هغو طالبانو له جملی څخه دی چی د ایران او پاکستان د حکومتونو لخوا ملاتړ کیږی. بهرنی طالبان همدارنګه هغه طالبان دی چی د هلمند ،کندهار او یا نورو ګاونډیو ولایتونو څخه راکډه شوی دی .د ایران ګټه په فراه ولایت کی د اوبو پرسرریښه لری. د فراه اکثره طبیعی اوبه د ایران و خاوری ته بهیږی دا په داسی حال کی ده چی د فراه اولس د اوبو د نشتوالی څخه په تنګ دی. په همدی ډول سره ، یو سوله ییزه او باثباته فراه د ایران په ګټه نده ځکه چی په هغه حالت کی حکومت او خلک د اوبو دسرچینو څخه سمه ګټه اخیستلی شی.د مدنی ټولنی او د ښځو د بشری حقونو یو مدافع وویل:

″زه نه شم کولای چی ووایم چی د عقیدي جنګ روان دي، ولی د افغانستان جنګ د تروریستی عملونو نښه ده او هیڅ څوک خپل د عقیدي لپاره نه نیول کیږی، هیڅ څوک خپل د عقیدی لپاره نه وژل کیږی مګر دوی ددی لپاره وژل کیږی چی د ځینو کورنیو او بهرنیو سیاسی ګړیو لخوا لوبول کیږي.

ګډونوال په ګوته کړل چی د زدکړی د آسانتياوو لکه د ليسو او يا هم د لومړنی ښوونځيو کموالی او همدارنګه فقر چی په نتيجه کی يی د افرادو د پوهاوی کموالی د سولی، پراختيا، هيواد پالنی په اړه او د شريعت د نظره د جهاد څخه د بد تعبير پراختيا رامينځته کوی د شخړی د زياتوالی لپاره په فراه ولايت کی مرسته کوی. په دی اړ کی د بالا بلوک ولسوالی د ګرانی د کلی څخه څخه يو سپين ژيری دا نظر وړاندی کړ :

"ما يو روزانه کارګر استخدام کړ چی زما کور سمنټ کړي. د غرمی د ډوډي پر مهال ، ما د يادشوی کارګر څخه پوښتنه وکړه چی د کوم ځای يی،په ځواب کی د وويل چی د بالابلوک ولسوالی اوسيدونکی دی. ما پوښتنه ځيني وکره چي په ښار کي څه کار کوي او ده راته وويل چی زه کار کوم ترڅو دوه- دري زره افغانی ترلاسه کړم او يو موبايل تليفون ځان ته واخلم اود بالابلوک ولسوالي په جهاد کی ګډون وکړم. هغه وخت چي ما د ده څخه د اسلام د اصولو لکه د لمونځ د ادا کولو او د قران شريف د بنسټيزو آيتونو په اړه پوښتنه وکره ، د ونکړای شوه چی ځواب راکړي. ده پر دی باندی تل ټينګار کاوه چی دی به جهاد وکړي او دا يو اسلامی فريضه ده چی د کفارو په مقابل کی و جنګيږو."

افغانستان حکومت هم د شخړی يو لامل وپيژندل شو ځکه چی فاسد کارکونکو او همدارنګه د غير مسلکی نظاميانو درلودلونکی دی. د سلامشوری پرمهال دا په ډاګه شوه چی په ځينو ولسواليوکی ،پوليس، د طالبانو سره د اړيکی په تورمحلی خلک تورن کوی او خپل سری نيونی (توقيفونه ) ، ستونزی ،ګواښ او ځينی وختونه نور جدی جنايتونه د سيمه ايزو اوسيدونکو پر ضد ترسره کوی. د خاک سفيد له ولسوالی څخه يوه سپين ږيری داسی وويل:

"څو مياشتی مخکی ، د خاک سفيد ولسوالی د پوليسو ارواښآد قوماندان څلور ځوانان يي ځکه توقيف او دوی ته يی په کلکه توګه شکنجه ورکړه ، چی دوی يو دغره پسه ښکارکړي او هغه يی و نوموری قوماندان ته نه وو راوړی. د دوی کورنی غړو وسله واخيستله او په امنی يی لاس پوری کړ."

خلکو ادعا درلود چی په دی ولايت کی د شخړی خواوی په بيلا بيل ډولونو د بې امنيتی څخه ګټه پورته کوی. د مثال په توګه د مخدره موادو مافيا د طالبانو او دولتی ځواکونو څخه د شرايطو سره سم خپل د اموالو د ترانسپورت لپاره کار اخلی.

ګډونوال يادونه وکړل چی امنيتی کمپنی هم د بی امنيتی څخه ګټه اخلی ځکه چی دوی په دی حالت کی کولای شی چی د ايساف د لوجيستيکی کاروانونه د انتقال ساتنی قرارداد په لوړ قيمت او په آسانی تر لاسه کړی. فاسد دولتی کارکونکی هم د امنيت د نشتوالی سره خوښ دی ځکه چی دولت نکولای شی چی دوی د خپل موقفونو څخه وشړی او د طالبانو سره د دوی د يوځای کيدو خطرقبول کړی. دا مساله د لوړو چارواکو په اړه هم

صدق کوی.پر هم دی اساس دوی یو ځانگړی وسله وال گروپ او یا هم په سیمی کی د هغو طالبانو څخه مالی ملاتړ کوی چی په سیمی کی بی امنیتی جوړوی. او یا هم دوی په آسانه سره د اداری فساد څخه گټه اخلی او ددولت څخه خپل انتظار کموی او د رشوی اخیستل ددوی لپاره آسانتړه ده. یو پخوانی پولیس صاحب منصب د لاند یمثال په وړاندی کولو سره خپل خبری تایید کول:

"زه په یاد لرم چی موږ دری د تیلو ټانکرونه توقیف کړل چی دوی و گمرک ته یی مالیه نه وو ورکړي. څو دقیقی وروسته مونږ ډیر تلیفونونه د کابل څخه ترلاسه کړل چی دوی موږ یی تهدیدولو چی دا ټانکران پریږدو.د کابل څخه مشرانو ویله چی امنیتي وضیعت ښه نه دي او که تاسي د داسي واکمنو ټانکرونو و نیولو ته دوام ورکړی ،تاسی به خپل ژوند د خطر سره مخامخ کړی"

د مباحثی سره سم ، د شخړی خواوی د سولی لپاره کومه ځانگړی اجندا نلری ځکه چی ددوی شخصی منفعت د فراه په امنیت او خوندیتوب کی په خطر کی لویږی. سیمه ایز طالبان او نور شورشیان یو خپلواکه عقیده نلری او دوی د نورو ځایونو لکه د کویټی شورا[۱۸۹]،د پاکستان دISI او یا هم د ایران د سپاه پاسداران څخه پریکړی ترلاسه کوی .

## ۴. د سولی د لاری نقشه

د سولی د دادخواهی لپاره ،ملایان، سیمه ایز مشران او د ټولنیزی پراختیایی شوراگانو غړی د گډونوالو لخوا غور وپیژندل شوه.که څه هم هغه کسان چی د سولی دادخواهی کوی د طالبانو او نورو مخالفینو اویا هم د مخدره موادو د مافیا لخوا تر برید لاندی راځی. تر څو چی دا گروپونه شتون لری،حکومت باید د یادشویو دادخواهانو د خوندیتوب وعده وکړی که نه دوی به د دی توان ونلری ترڅو د ولایت په سطحه د سولی لپاره کار وکی. نړیواله ټولنه باید په افغانستان کی د همسایه هیوادونو د مخنیوی په وسیله د سولی په اړه فکر وکړی. سیمه ایز مشران د قومی او شخصی مسایلو په حل کولو کی دیر ښه رول لوبولی شی. که څه هم ، وخت چی د پراخه سیاسی منظر د طالبانو اودولت ښخړی ته وکتل شی دا به دوی ته ستونزمنه وی چی کوم فرق ولیدل شی.

وخت چی و ښخړی ته په یو پراخ منظر وکتل شی، گډونوال عقیده لری چی دا د حکومت د پاره ضروری وه چی د همسایه هیوادونو د لاسوهنی د ختم لپاره اوچت گامونه پورته کړی،په شمول ددی چی بین المللی محکموته مراجعه، د شورش ضد کمپاینونه ، د اقتصادی او اجتماعی چارو سمبالول ،د بیطرفو او پاک کسانو په گمارولو د سولی د

[۱۸۹] هغه څه چی د کویتی په اصطلاح شورا په نامه یادیږی د طالبانو د مشرانو د هغی شورا څخه عبارت دی چی په ۲۰۰۱ کال کی د طالبانو د رژیم د نسکوریدو او د امریکا د مداخلی سره سم د پاکستان د بلوچستان په کویته ښار کی پناه واخسیت .

پروګرام رامینځته کول، او ددی څخه اطمینان حاصلول چی قانون پر ټولو باندی په یوه پیمانه پلی کیږی.

**ګاونډیو هیوادونو د لاسوهنی مخنیوی:** ګډونوالو عقیده درلود یوازنی پاته شوی علاج او لاره د ګاونډیو هیوادونه سره د بالمثل عمل کول دی . که څه هم ګدونوالو د انتقام اخیستونکو عملونو غوښتونکی نه وه ولی دوی د بهرنی هیوادونو د لاوسوهنی په مقابل کی د اوچوتو ګامونو د اخیستلو غوښتونکی وه.

د مثال په توګه ، هغه وخت چی پاکستان ځانمرګی د عامه وګرو د وژنی لپاره را لیږی، حکومت باید دا ځانمرګی ګرفتار او د دوستانو سره یی یو ځای ووژنی.دوی همدارنګه وویل وخت چی ایران زموږ مهاجرین پر مرز باندی وژنی او سلاوی او مالی مرسته د مخالیفینو سره کوی، حکومت باید هغه کسان چی په داسی مسایلو کی لاس لری ګرفتار او قانون ته یی وسپاری.دوی وویل چی په نورو ولایتونوکی ،هغه وخت چی پاکستان توغوندی را غورځوی ،افغانستان هم باید هم هغسی ځواب ورکړی. ګډونوالو دایی په ډاګه کره چی بین المللی ټولنه باید د ګاونډیو هیوادونو لاس وهنی او نفوذ د افغانستان په کورنی چارو کی ودروی.که څه هم دا څرګنده نه وه آیا ګډونوالو د ا یی و نړیوالی عدالت محکمی ته او یا ملګرو ملتونو و امنیت شوراته راجع کول چی د یوی قضیی پرانستل په ملګرو ملتونو کی به د کورنی مسایلو په ډاګه کولو کی به دیر ښه پوهاوی را مینځته کری او د نریوالی ټولنی لپاره به سپارښتنی چمتو تر څو دوی د لاس وهنو مخ ونیسی.د فراه د تجارت د اتاقونو مسوول داسی وویل:

> "د هغه ځایه چی موږ ددی دوو هیوادونه د منفی لاسوهنو څخه سخت متاثر شوي یو،موږ باید په ملګرو ملتونوکی یوه قضیه واچوو تر څو د افغانانو په چارړو کي د ایران او پاکستان د ښکاره لاسوهنو مخنیوی وشي.

**د مسلح مخالفینو پر ضد موثر  مبارزه:** ګدونوالود طالبانو تر مشری لاندی شورشیان یی د شخړی اصلی عاملانوبلل او پر حکومت باندی یی ږغ وکړ تر څو ددی پدیدی(طالبان) څخه مخنیوی وکړی. خلکو دی ته یی اشاره وکړه چی د شورش پر ضد د عملیاتونو پر لاری اچول و ورورسته د سیمی پریښودل د شورش د ختمولو لپاره لاره نده. ددی پر ځای، دوی وویل چی دولت باید خپل بیلګه (آثار) د اډو په جوړولو سره او همدارنګه د ماهرو کسانو په ګمارولو سره چی وکولای شی قانون پلی کی په منطقی کی پریږدی. دوی همدارنګه وویل چی یو مناسبه شورش پر ضد کړنلاره د مناسبو څیړلو او تحیقیقاتو ترسرل کول دی، څکه چی حتی هغه وخت چی مخالفین ګرفتاره کیږی هم، قاضیان نکولای شی چی د سست او بیځایه تحقیقاتو له کبله دوی محکوم کړی.

**عمومی اقتصاد او ټولنیزه پراختیا:** همدارنګه چی ګډونوالو څرګنده کړه، یو دهغو لویو لاملونو څخه چی و شخړی ته مرسته کوی د اکثریتو خلکو لپاره د اقتصادی فرصتونو او د ژوند د بنیادی ضرورتونو نه شتون دی. د شخړی ګرځونکی و دوی ته د پیسو او سلاوو وعدی ورکوی چی دوی هم بل کوم انتخاب نلری. د ګډونوالو په وینا د ولایت په لیرو سیمو کی، نه مکتب شته ، نه ښه صحی مرکز شته، او نه کوم بله بشردوستانه مرسته شته.په دغه حالت کی، دا د سیمه ایزو خلکو ټاکنه ده چی خپل ورځنی کار لپاره بله سرچینه ومومی. ګډونوالو وویل چی یوه ستونزه په فراه ولایت کی د حکومت نه پاملرنه د بخش آباد بند و جوړولوته ده ، چی کلونه مخکی پلان شوی دی. دوی دا ګمان درلود که دا بند جوړ شی نو به د ولایت و سیموته بریښنا ورکول کیږی او یو مثبت بدلون به د عادی خلکو په ژوند کی راشی د مدنی ټولنی او د ښځو د حقونو کارکونکیوویل :

"په دی ولایت کی او په ځانګړی توګه په ولسوالیو کی ، د ژیړدنی کچه لوړه او دا نفوس یوازي و سلاووته لاس رسی لري.دوی و پوهنی ،صحي خدمتونوته لاسرسی نلری او د اوبو او خوراک د کموالي سره مخامخ دي.ددا‌سی یو نسل څخه څه انتظار لری ، بیله تاوتریخوالی او شخری؟ طالبان او نور مخالیفین ګروپونو ددوی څخه خپل د هدفونو لپاره د رسیدو په خاطر په دیره آسانه د یو وړیا انسانی سرچینی په توګه کار اخلی ،.

**د سولی پروګرام دی د شفافه او متعهدو کسانو لخوا مخ ته ولاړ شی:** د سلا مشوری پر مهال ګډونوال په دی باور وه چی اوسنی د سولی او بیا یو ځای کیدو پروګرام د هغو کسانو لخوا مخته وړل کیږی چی په پخوانی جګرو کی په جرمونو شکیل کسان وه. ګډونوالو همدارنګه وویل چی اوسنی د سولی د شورا غړی خپل و کار ته تعهد نلری دوی فقط غواړی چی خپل شخصی منفعتونه ډیر کړی او دوی و سولی ته د رسیدو لپاره د سوچه ګامونو مخنیوی کوی. د فراه ولایت څخه یوه شپین ږیزی وویل:

"په دی ولایت کی د سولی لپاره یو محسوسه او مشخصه لاس ته راوړنه نشته. یو څو مشخصو ګروپونو کسانو په ټولیدو سره چی خپل شخصي منفعت په نظر کي لری دا پروګرام جوړ شوي او د عادي خلګو هیڅ ګډون پکښي نشته."

ګډونوالو دا احساس درلود چی لږ تر لږ د ا د اوسنی د سولی پروګرام د هدفونو او د دارالانشا او د سولی د شورا مشرتابه کارکونکو کی دی بیاکتنه وشی .

## ۵. د خلکو سپارښتنی

د فراه ولایت په ټول مشورتی غوندو کی ، خلکو په دی نظر سره چی په فراه کی د شخړی ټول اساسی لاملونه په نښه کړی و ی حکومت ته دا لاندی سپارښتنی وړاندیز کړی دی:

**د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروسې ګړندې کول او د پراخیدو هڅول:** (۱) د سولې د عالي شورا او لایتي شورا هدفونو او د ددې شورا د غړو د ټاکنې و پروسې ته بیا کتنه او د بیا یو ځای کیدلو د پروسې څخه اطمینان حاصلول؛ (۲) د سپین ږرو، ملایانو، دیني عالمانو او همدارنګه د ټولنیزو پراختیایي شوراګانو را پاړول تر څو د سولې ته دادخواهي کړي؛

**د قانون د حاکمیت او د محلي حکومتداري بنسټونو تقویه کول:** (۱) د آزادې سیالې او شایسته سالارۍ له لارې د دولتي شغلونوزیاتول؛ (۲) په فراه ولایت کې د اداري فساد پر ضد د یو ښه پروګرام جوړونه؛ (۳) پر عادي او واکمنو خلکو باندې د قانون یو شان پلي کول؛

**د اغتشاشیانو پر ضد موثر مبارزه او د امنیت د پراختیا تقویه کول:** (۱) د یو قوي شورش ضد پلان جوړونه په شمول ددې چې حکومتي اداري دې په هغه ځایونو کې چې حکومت تر ولکې لاندې راځي جوړې شي؛ (۲) فراه ولایت کې د امنیتي حالت د ښه والي لپاره د امنیتي ځواکونو د شتون قوي کول؛ (۳) د نا مسوولو وسله والوکسانو بې وسلې کول؛ (۴) د فراه ولایت څخه د لوړو مقامونو لخوا والیانو، د پولیسو او همدارنګه د نظامي او امنیتي چارواکو ګمارل ، څکه چې دوی د فراه ولایت د حالت څخه ښه تره پوهنه لري.

**اجتماعي او اقتصادي پراختیا:** (۱) د ملي پروګرام د پلي کولو لپاره د مرکزي حکومت سره د ښې اړیکې ساتنه؛ (۲) د سیمه ایزو خلکو لپاره د کارونو د فرصتونو برابرول ترڅو دوی د تاوتریخوالي و ملاتړ ته مجبور نشي؛ (۳) د کوکنارو ضد د یوه ښه پلان جوړونه ،او د هغو بزګرانو لپاره چې د کوکنارو د کښت څخه لاس اخلي بدیل فرصتونه باید برابر شي؛ (۴) دفراه د سیند د اوبو د ضایع کولو ، ایران ته د بهیدولو مخنیوی او د بخش آباد د اوبو او بریښنا د بند جوړونه چې په دې ډول سره به عام خلکو ته د کار فرصتونه ته برابر شي؛ (۵) په بیلابیلو برخو کې لکه د بشري حقونو په اړه د خلکو د پوهنې د کچې لوړول؛

**د ګاوندي هیوادونو د مداخلې مخنیول کول:** (۱) د ګاوندیو هیوادونو په ګډون د نړیوالې ټولنې سره د چال چلند لپاره د یو مشخصه ،اوروښانه بهرنی پالیسي جوړونه؛ (۲) د افغانستان په کورنی چارو کې د بهرنی هیوادونه د لاسوهنی مخنیوی.

# د نیمروز ولایت
# د سولي لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

د سولې لپاره دغه طرح د هغو متمرکزو ډله ییزو بحثونو د موندونو لنډیز دی، چې په نیمروز ولایت کې ترسره شوی. په بحثونو کې له ټول ولایت څخه ښځو او نارینه وو ګډون کړی و، چې په ګډونکوونکو کې ځایی میشت خلک، د مدنی ټولنې استازی، قومی مشران، د عالمانو د شورا غړی او ښوونکی شامل وو.

دا مشورتی غونډی د سولی په هکله د افغانانو د خبرو اترو ( چی ددی څخه وروسته خبرو اتری نومول کیژی) ددویم مرحلی د یو ی برخی په ټوګه د ۱۱ مدنی ټولنو او د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون لخوا د ۴۵۰۰ عادی افغانانو څخه زیاتې کسانو سره د سولی د ۳۴ محلی نقشی د برابرولو په موخه تر سره شول.

## ۲. د ولایت جوړښت: جغرافیه، د وګړو ترکیب او سیاسی وضعیت

نیمروز ولایت د وګړو د ترکیب له پلوه مختلط دی او د افغانستان د سهیلی حوزې د نورو ولایتونو څخه توپیر لری. په تاریخی لحاظ د دغه ولایت زیاتره وګړی بلوڅان او براهویان دی خو د دی سربیره د پام وړ کډوالی د دی لامل شوی چی د پښتنو ټولنې د دغه ولایت ۶۰ سلنه نفوس جوړوی. بلوڅان، تاجکان او هزاره ګان د دغه ولایت د نفوس پاتې ۴۰ سلنه تشکیلوی.

په داسې حال کې چې سوداګریز فعالیتونه (دواړه قانونی او ناقانونی هغه) د ګاوندی هیواد ایران سره په ځایی اقتصاد کې د پام وړ رول لوبوی، خو کرنه د دغه ولایت د زیاترو وګړو دویم اقتصادی فعالیت جوړوی. په ولسوالیو کې میشت زیاتره ځایی ټولنې چې په کرنه بوختې دی، په پراخه کچه د خپلو فصلونو د خړوبلو لپاره د رودنو په ځایی سیستمونو باندې اتکا کوی. نو له همدې امله د دغه ولایت کرنیز محصولات د وچکالی او نورو اقلیمی فکتورونو په وړاندې زیانمنیدونکی دی.

د طالبانو د رژیم تر ړنګیدو وروسته، د ټولنو ترمنځ کومه ستره شخړه نه ده پېښه شوې، که څه هم د قومونو ترمنځ توپیرونه او کشمکشونه موجود وو، په تېره بیا په ځینو سیمو کې د پښتنو او بلوڅو ټولنو ترمنځ. قومی مشران په خپلو سیمو کې ځواکمن کسان دی او سیاسی ګوندونه زیاتره وخت د دوی د ملاتړ د تر لاسه کولو په لټه کې وی.

دغه ولایت د ایران تر پیاوړی نفوذ لاندې دی، نه یوازې دا چې په څرګند ډول ایرانی اسعار پراخ کارول کیږی، بلکې له سیاسی پلوه هم. د ولایت زیاتره وګړی ادعا کوی، چې ایران د نیمروز ولایت پر چاروکو له اندازې زیات لری. ځایی خلک استدلال کوی، چې د ایران پولو ته څیرمه له نږدې سیمو څخه د نیمروز ولایت ته د بریښنا لیږد بی پریی او

بې مقصده نه دی او کیدای شی په راتلونکو کلونو کې د سیاسی فشار د وسیلې په ډول وکارول شی.

همدارنګه په دغه ولایت کې د ایرانی کلتور نفوذ هم ترسترګو کیږی، په تېره بیا په ښځو کې، چې کولی شی له کوره بهر کار وکړی او د هیواد د جنوبی سیمو د نورو هغو په پرتله په عامه ژوند کې د پام وړ رول ولوبوی.

د امنیتی وضعیت له پلوه، دغه ولایت په سهیل کې د نورو ولایتونو په پرتله له یاغیتوب څخه لږ اغیزمن شوی، که څه هم په ځینو پښتون نفوذه ولسوالیو لکه خاشرود کې، د دولت ضد عناصرو سره د ټولنې په کچه خواخوږی او ملاتړ موجود دی. خو د خاشرود او دلارام په ولسوالیو کې د حکومت پلوه ځواکونو د پر لپسې عملیاتو له امله د یاغیانو ځواک او شتون کمزوری شوی، نوموړې ولسوالۍ د هغو دولت ضد عناصرو، چې د هلمند او فراه ولایتونو ترمنځ تګ راتګ سفر کوی، د لیږد لارې دی. له امنیتی او سیاسی پلوه، د خاشرود ولسوالی ستراتیژیک موقعیت لری. دا یوه پښتون میشته سیمه ده، چې په دودیز ډول د دغه ولایت زیاتره اوسیدونکی بلوڅان او د هغوی تر نفوذ لاندې و، او د نوموړې ولسوالی مرکز، غرغری د طالبانو د رژیم پرمهال د نیمروز ولایت مرکز و.

د ولایتی مشرتابه د پرلپسې هڅو سره سره، په دولتی اداراتو کې د ټیټې کچې مسلکی کارکوونکی، پراخ اداری فساد، کمزوری دولتی جوړښتونه، په ځینو لریو پرتو ولسوالیو کې ناامنی او د مرکزی حکومت له خوا کمه پاملرنه او مرسته له هغو ننګونو شمیرل کیږی، چې د نیمروز ولایت ځایی حکومتولی ور سره لاس او ګریوان ده.

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې محرکونه

د نیمروز ولایت د یاغیتوب له هغه ناوړی تاوتریخوالی څخه خوندی پاتې شوی له کوم څخه چې د افغانستان د سهیلی سیمې نور ولایتونه اغیزمن شوی. که څه هم د دغه ولایت په زیاتره برخو، په ځانګړی ډول د ایران سره د پولې په اوږدو کې په پرتو سیمو کې د قانون تنفیذ خورا کمزوری دی، کوم څه چې له پراخ قاچاق په تېره بیا د نشه یی توکو له هغه سره مرسته کوی.

د خاشرود او دلارام په ولسوالیو کې افغان ملی امنیتی ځواکونه له سترو ننګونو سره مخ دی. داسې ښکاری چې ځایی حکومت په دغو دوو سیمو کې ډېر کمزوری او د دې توان نه لری، چې د خپل صلاحیت او نفوذ سیمه د دغو ولسوالیو د مرکزونو څخه بهر ته پراخه او تعمیل کړی. دغه کمزوری د دې لامل شوې، چې دغه دوه ولسوالی د دولت ضد عناصرو تر ولکې لاندې راشی. انګیرل کیږی چې طالبانو د خاشرود ولسوالی او دولتی چارواکو تر منځ له تشې څخه په ګټې اخیستو سره خپلو وړتیاوو او ځانګړتیاوو ته وده

ورکړې وی. یو بل لامل چې له نا امنی سره یې مرسته کړې دا دی، چې په نیمروز کې میشت یو شمیر دینی عالمان او ملا امامان، په ځانګړې ډول هغه چې د ولایت په مرکز زرنج کې دی، په ایران کې میشت د یاغیانو له شبکې سره نږدې اړیکې لری.

چارواکی او مدنی ټولنه ویره لری، چې د نړیوالو نظامی ځواکونو په وتلو سره به امنیتی وضعیت لا پسې خراب شی. دوی څرګنده کړه، چې افغان ملی امنیتی ځواکونه په کافی اندازه نه دی روزل شوی او د تجهیزاتو د اکمال له کمښت سره مخامخ دی. داسې اندیښنه شتون لری چې افغان امنیتی ځواکونه به له یوې سترې ننګونې سره مخ وی، تر څو دوی د بلواګرو سره مقابله وکړی او د ګاوندیو هیوادونو څخه د هغې د راتګ مخه ونیسی.

څرنګه چې د نیمروز ولایت په ناوړه ډول له موسمی وچکالی څخه اغیزمن شوی، ځایی وګړی له پخوا راهیسی د مرکزی حکومت څخه د مرستې غوښتنه کوی، تر څو د دغه ولایت د اوبو رسولو او خړوبونې سیستمونه لاپسې ښه کړی. د کمال خان بند او نهر لشکری کانال د بیا رغونې کار ، کوم چې له هلمند ولایت څخه د نیمروز ولایت ته اوبه رسوی، چې د مرکزی حکومت له خوا یې له پخوا راهیسې ژمنه شوې وه، لا همداسې نیمګړی پاتې دی.

له ځایی ټولنو سره د حکومت د ښه امنیتی وضعیت د رامنځ ته کولو او د محلی پرمختیایی پروګرامونو د پراختیا ژمنې لا اوس هم په پراخه کچه نیمګړې پاتې دی. په ځینو ولسوالیو کې دوامداره نا امنی، په تېره بیا په دلارام او خاشرود کې، ځایی اوسیدونکی ناهیلی کړی. د ځایی چارواکو له خوا د خدمت کمزوری ارایه کول، په ځانګړې ډول د وچکالی څخه په اغیزمن شویو ولسوالیو کې د اوبو رسولو کمښت، په ځایی خلکو کې داسې احساس رامنځ ته کړی، چې ګواکې هغوی د محلی حکومت له خوا له پامه غورځول شوی. همدارنګه له ایران څخه په دامدار ډول راستانه شوی کډوال او د هلمند او فراه داخلی بې ځایه شوی وګړی پر حکومتی خدمتونو د فشار لامل. څخه داخلی بې ځایه شوی کسانو راتګ پر دولتی خدمتونو باندې اضافی بار تحمیلوی. د هغو ټولنو ترمنځ چې د پولې په اوږدو کې اوسی دا ویره موجود ده، چې کمزورې حکومتولی او اداری فساد ښایی د دولت ضد عناصرو د نشه یی توکو سوداګیری او نورو ناقانونه کړنو ته لار هواره کړی.

## ۴. د سولې لپاره طرح

**د ټولنیز او اقتصادی پرمختګ پیاوړتیا:** ګډونکوونکو په وار وار د حکومت او نړیوالې ټولنې ناکامیو ته اشاره وکړه، چې نه دی توانیدلی د پرمختیایی مرستې د برابرولو له لارې په نیمروز ولایت کې ټیکاو راولی. ناهیلتوب په ښکاره ډول سره تر سترګو کیده چې په

تیره لسیزه کې د پرمختیا ډیر ښه فرصتونه له لاسه وتلی او داسې مایوسی ولیدل شوه له دې سره سره، چې په میلیاردونو امریکایی ډالر د نړیوالې ټولنې له خوا په افغانستان کې ولګول شول خو د نیمروز ولایت وګړی لا تر اوسه هم له بیروزګاری او بیوزلی څخه رنځ وړی.

د یوه ګډونکی په وینا:

"د جګړې له عمده فکتورونو څخه یو هم د خلکو د ژوندانه د کچې راټیټیدل دي. د عدالت د پلي کولو لپاره نړیوال ملاتړ شتون نه لري او چارواکي خلکو ته د خپلو ورکولو شویو ژمنو په پوره کولو کې پاتې راغلي دي. یو دلیل چې خلک له شورشیانو سره یوځای کیږي، دا دی چې دوي فکر کوي چې طالبان د نورو په پرتله عادل دي." (په زرنج کې د ځایي شورا غړي)

همدارنګه زیات شمیر ګډونکوونکو د اوبو کمښت ته اشاره وکړه او هغه یې د سترو ننګونو په ډول په ډاګه کړ، چې اړتیا ده دغه ستونزه په بیړی سره حل شی او خلکو په کلکه پر حکومت باندې نیوکه کوله چې نه دی توانیدلی د اوبو زیربنایی پروژې پلی کړی، چې دا کار په خپله د اوبو د کمښت په لیری کولو کې ښه مرسته کولای شی.

"حکومت ژمنه کړې، چې د کمال خان بند به له سره جوړ کړي خو تر اوسه یې هیڅ کوم اقدام نه دی تر سره کړي او وچکالي په ټول ولایت کې لا هم شتون لري. د دغه پروژې نه عملي کیدل په خپله د بیکاري لامل شوی، بیوزلي یې زیاته کړې او خلک یې اړ ایستلي چې د طالبانو سره یو ځای شي تر څو یو عاید تر لاسه کړي چې د هغي سره د خپل ځان او کورنۍ ملاتړ وکړي." (په چاربرجک کې یو ځایي اوسیدونکي)

سربیره پردې، زیات شمیر ګډونکوونکو د هغه اضافی فشار یادونه وکړه، چې د بیرته راستنیدونکو کډوالو او د نا امنو سیمو څخه داخلی بیځایه شویو کسانو راتګ پر دغه ولایت اچولی دی او پر ټولنیزو خدماتو او ګډو سرچینو باندې اضافی پیټی دی.

"د نورو ولایتونو څخه په زرګونه کسان دغه ولایت ته راځي او دوي په بشپړ ډول د دغه ولایت په وګړو کې نه دي ادغام شوي چې دا په خپله د بیکاري کچه لوړوي. حکومت د دغه مهاجرتونو په مدیریت کې پاتې راغلي دی." (په زرنج کې یو ښوونکي)

**د ښې حکومتولۍ ترویجول او د اداری فساد پر ضد اقدام:** په داسې حال کې چې د مشورتی بحثونو ځینو ګډونکوونکو بهرنی فکتورونه په نا امنی کې شامل ګڼل، (د بهرنیو هیوادونو د بی ثباته کوونکی نفوذ او د کابل حکومت ناغېړیتوب په ګډون) خو یو شمیر

نورو یې بیا د ولایتی چارواکو اداری فساد او شخصی ګټې د ټولنیزې ناخوښی اصلی لاملونه شمیرل.

"دولتي چارواکي خپل خلک د شخصی ګټو پر بنسټ ګماري، او ناورین ته لار هواروي. دوي د خپلو ټولنیزو مسؤلیتونو د نه تر سره کولو له امله جګړه ترویجوي." (په زرنج کې یو تن مشر)

د مشورتی بحثونو یوه ګډون کوونکی د کمزوری حکومت او نا امنی ترمنځ د مستقیم تړاو یادونه وکړه.

"ایا تاسې کولای شئ د یو کمزوري حکومت په درلودلو سره ښه امنیت ولرئ؟ ګمارنې د وړتیا پر بنسټ نه بلکې د زیاتو بډو په ورکولو سره صورت مومي. کله چې یو کس په کار وګمارل شي، لومړي کار یې دا وي، چې خپلې ورکړل شوي پیسې د ناقانونه عایداتو لکه بډې اخیستل او یا د نشه یي توکو د قاچاقکوونکو سره د معاملې له لارې بیرته تر لاسه کړي." (یو ژورنالست، زرنج)

ان په ځایی حکومت کې په کار بوخت کسان هم د اداری فساد ستونزه تاییدوی.

"مونږ د نیمروز ولایت په زیاتره حکومتي دفترونو کې د اداری فساد له شتون څخه رنځ ګالو. زما په اند دا یوه ستره ستونزه ده او که چیرې حکومت دغه ستونزه حل کړي، پاتې نورې به په اسانۍ سره حل شي." (د دولت یو کارکوونکی، زرنج)

د متمرکزو مشورتی بحثونو زیات شمیر ګډونکوونکی په دې اند وو، چې د نشه یی توکو قاچاق د دولت په ادارو کې د اداری فساد اصلی زړی دی، په تیره بیا په افغان ملی امنیتی ځواکونو کې.

"حکومت خپله ونډه نه تر سره کوي او امنیتي ځواکونه د نشه یي توکو په قاچاق کې لاس لري. زیاتره مونږ د خپل شخصي امنیت او خوندیتوب له ډاره حقایق نه شو څرګندولای."(په زرنج کې یو تن مشر)

**د قانون د واکمنۍ ملاتړ او د مجازاتو معافیت ته رسیدګی:** داسې انګیرل کیږی، چې د نشه یی توکو په سوداګیری کې د ښکیلو اشخاصو معافیت په نیمروز ولایت کې د قانون واکمنی په سخت ډول کمزورې او زیانمنه کړې. د زرنج یو قومی مشر وایی؛

"د نشه يي توکو قاچاق کوونکي او په قضايي ادارو کی پراخ اداري فساد د جګړې اصلي سرچینې دي. قضايي ادارې نه شي کولای، چې د نشه يي توکو قاچاق کوونکي کنترول کړي،او دغه مسله ولایت ناامنه کوي."

د ځینو کسانو د ویناوو پر بنسټ له مجازاتو څخه معافیت او د قانون د واکمنۍ نشتوالی د ناامنۍ اصلي لاملونه دي. زیات شمیر کسانو شکایت درلود، چې قانون یوازې پر بېوزلو کسانو باندې تطبیق کیږي، په داسې حال کې چې پاتې نور له دغه امر څخه مستثنی دي. زیات شمیر ګډونکوونکو ادعا کوله، چې پر ځای د دې چې دولتي چارواکي، په ځانګړې ډول افغان ملي امنیتي ځواکونه او افغان ملي پولیس د قانون پلي کوونکي واوسي، دوی په خپله له قانون څخه اصلي سرغړونکي دي. له همدې امله، رسمي قضایي سیستم په پراخه کچه بې باوره شوی.

″خلک د دې پر ځای چې رسمي محاکمو ته مراجعه وکړي، ښه ګڼي چې خپلې شخړې په ځایي شوراګانو کې حل او فصل کړي، ځکه چې په قضایي سیستم کې پراخ اداري فساد شتون لري.″ (د ځایي شورا یو غړی، زرنج)

یوه قومي مشر او پخواني ولسوال په ډاګه کړه، چې د تیرو جرمونو څخه د مجازاتو معافیت د اوسنیو ستونزو اصلي لامل دی.

″که چیرې تاسې د دې هیواد تیر تاریخ ته پام وکړئ، زیاتره جرمونه او د بشري حقونو څخه سرغړونې د جنګ سالارانو له خوا تر سره شوي. یو وخت خلک خوشبینه وو چې دغه جنایت کاران به مقصر وپیژندل شي خو هیڅ څه تر سره نه شول. که چیرې په یوه ټولنه کې عدالت نه وي نو په یقین سره هلته به جګړه شتون ولري.″ (د چاربرجک د ولسوالۍ یو تن مشر)

دغه ډول څرګندونې او احساسات د زیات شمیر ګډونکوونکو له خوا منعکس شول، ځوک چې په دې باور وو، چې حقایق د دوی له هیلو او غوښتنو سره سمون نه کوي، او دوی د راتلونکې لپاره ډیر هیله مند نه وو، که چیرې د دوی له خوا په ګوته شوې ستونزې له پامه وغورځول شي.

″چیرې چې شایسته سالاري شتون و نه لري، د بشري حقونو تیري کوونکي محاکمه نه شي، د سولې د شورا غړي ریښتني او بې پرې نه وي، نو هلته د ناورین او جګړې پرته بله لار شتون نه لري.″ (د قومي شورا یو مشر، زرنج)

**د سولې او پخلاینې د بهیر پیاوړتیا:** زیات شمیر ګډونکوونکو په ملي او ولایتي کچه د سولې پر شورا نیوکه کوله. ځینو نورو یې په ډاګه کړه، چې د سولې له شورا څخه بهر، زیات شمیر کسان شته، ځوک چې د دې ظرفیت لري چې د سولې لپاره په اغیزمن ډول کار ترسره کړي، لکه د عالمانو د شورا او د ولایتي شورا غړي.

ان په خپله د سولې د شورا غړي د دغې شورا پر کار نیوکه کوله، یوه یې داسې وویل:

"زه داسې اراده نه وینم چې سوله دې د سولې د شورا له لارې تامین شي. دوي زیاتې پیسې بې ځایه لګولي، او زه فکر کوم چې دغه شورا د "خلکو تر منځ د تفرقه اچولو او حکومت کولو" سیاست لوبوي."

ځینو ګډونکوونکو غوښتل ډاډ ترلاسه کړی، چې د سولې پروسه له ټولنو سره په ټیټه کچه یعنی د ټولنو له منځ څخه پیل شی او شکایت یې کاوو، چې د سولې ولایتی شورا د خپلو فعالیتونو په هکله له دوی په پراخه کچه مشوره نه ده کړې. د یوه ځایی کلینیک د نرس له وینا سره سم؛

"زه پدې نظر یم، که چیرې د سولې ځایي میکانیزمونه په اغیزمن ډول سره کار وکړي، ټوله پروسه تقویه کیږي."

یو شمیر نورو ګډونکوونکو خپله لیوالتیا د یو سولې د یوې ټول شموله او بنسټیزی پروسې په هکله ښکاره کړ، پر علمی پایلو متمرکزه پروسه نه د تیوریکی بحثونو یو نهاد.

"زه غواړم وړاندیز وکړم چې که د سولې شورا د ټول ولایت څخه د بیلا بیلو قومونو او مذهبی ډلو له استازو څخه جوړه شي او ټول هغه کسان چې د سولې لپاره کار کوي باید په سوله باور ولري." (د چخانسور ولسوالی یو تن اوسیدونکي)

په لنډ ډول سره، زیات شمیر ګډونکوونکی په دې باور وو، چې د سولې پروسې بریالیتوب د هر انسان دنده ده، او نه باید د یو شمیر غوره شویو کسانو ته پریښودل شی، چې په دې اړه پریکړه وکړی.

"زه فکر کوم چې سوله د ټولنې د یوې برخې په واسطه نه تامین کیږي. سوله یوازې په ځینو مشرانو او یا د سولې د شورا په غړو پورې نه ده تړلې." (د ځایي انجو یو غړی)

## ۵. د خلکو سپارښتنې

لاندنۍ سپارښتنې د هغو وړاندیزونو پر بنسټ ولاړې دی، چې د متمرکزو مشورتی بحثونو د ګدونکووونکو له خوا وړاندې شوی او داسې طرحه شوی چې په نیمروز ولایت کې په ګوته شویو ځانګړو اندیښنو ته رسیدګی وکړی.

**د اقتصادی ټولنیز پرمختګ پیاوړتیا:** (۱) له بیوزلی سره مبارزه او د هدفمندو پرمختیایی پروژو د طرحې له لارې د کاری فرصتونه رامنځته کول؛ (۲) د داسې تدابیرو پلی کول، چې د موسمی وچکالی ناوړه اغیزی لږ کړی، په ځانګړی ډول د کمال خان بند د پروژې او د نهر لشکری د اوبو لګولو د کانال د بیاروغونې د کار بشپړول؛

**د ښې حکومتولۍ ترویجول او د اداری فساد پر ضد اقدام:** (۱) د وړتیا پر بنسټ د دولتی کارکوونکو د غوره کولو او ګمارلو یقینی کول؛ (۲) په ټولو کچو کې د دولتی چارواکو له خوا د صادقانه کار له لارې پر دولت باندې د باور زیاتول؛ (۳) له دندو څخه د هغو دولتی چارواکو لیرې کول څوک چې په اداری فساد محکوم شویدی؛

**د قانون د واکمنۍ ملاتړ او د مجازاتو معافیت ته رسیدګی:** (۱) د مجازاتو څخه د پراخ معافیت دود ته د پای ټکی ایښودل، په ځانګړی ډول هغه کسان چې د نشه یی توکو په قاچاق کې لاس لری؛ (۲) د اداری فساد، د صلاحیت څخه ناوړه ګټې اخیستنی او د جنایی عدالت په سیستم کې د روڼوالی د کمښت لیری کولو په وړاندې پیاوړې مبارزه؛ (۳) د هغو کسانو تعقیب او مجازات کول چې په تیر وخت کې د بشری حقونو څخه په سرغړونه محکوم دی؛

**د سولې و پخلاینې بهیر پیاوړتیا:** (۱) د سولې او پخلاینې ډګر پراخول تر څو دغه پروسه بیلا بیل قومونه او مذهبی ډلې راونغاړی؛ (۲) د سولې د پروسې د پیاوړی کولو لپاره ځایی ټولنې شاملول او په ټولو کچو کې له دوی سره سلا مشوری کول؛

# د هلمند ولایت
# د سولي لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

دسولی دا ولایتی نقشه د هغو کلیدی موندنو او مسلو لنډیز بیانوی چې د تمرکز د ډلو په بحثونو، انفرادی مرکو او د نظریو په هغو سروې ګانو کې چې د هلمند په ولایت کې د مشاورت په بهیر کې را پورته شوی دی. مشوری د ډله ییز بحثونو په ډول وو چی د ۵۰ نارینه او ۲۵ ښځینه ګډونوالو سره تر سره شول . د امنیتی محدودیتونو له کبله مشوری محدودی شوی.

دا مشورتی غوندی د سولی په هکله د افغانانو د خبرو اترو ( چی ددی څخه وروسته خبرو اتری نومول کیږی) ددویم مرحلی د یو ی برخی په توګه د ۱۱ مدنی ټولنو او د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون لخوا د ۴۵۰۰ عادی افغانانو څخه زیاتې کسانو سره د سولی د ۳۴ محلی نقشی د برابرولو په موخه تر سره شول.

د سولې لپاره د لارې د محلی نقشې موخه داده څو د شخړې محلی انګیزې په هر اړخیز ډول تحلیل شی او همدارنګه داسې مناسب د حل لارې تشخیص شی چې د دې سره مرسته وکړی چې د هلمند په ولایت کې سوله او ټیکاو استحکام ومومی.

## ۲. ولایتی پروفایل: جغرافیه، احصائیه او سیاسی حالت

هلمند د افغانستان په جنوب غرب کی واقع دی. نیمروز او فراه یې وغرب ته واقع دی کندهار یې وه شرق ته پروت دی، د پاکستان بلوچستان ایالت یې وه جنوب ته او ارزګان، ډای کونډی او غور یې و شمال ته پراته دی. ۶۱،۸۲۹ کېلومتره مربع مساحت لری. هلمند د افغانستان تر ټولو لوی ولایت دی او رنګارنګ قوموته پکښی مېشت دی. اقتصاد یې پر کرهڼه ولاړ دی. هلمند د افغانستان یو د هغو ولایاتو نه دی چی تر ټولو ډېر تاریاک په کښی کرل کیږی، او د کوکنارو کر یې مخ پر زیاتېدو دی. د مشوری په وخت کی راپور ورکړل شوی وو چی باغران او دیشو ولسوالۍ یې د طالبانو په لاس کی دی. د نوزاد لاره یې ستونځمنه ده او د دولت اکمال متاثره کوی. په ټولو نورو شمالی ولسوالیو کی یې لکه موسی کلا، سنګین او کجکی کښی د حکومت کنټرول یوازی د ولسوالۍ تر مرکزه محدود دی. هلمند د امنیتی، اداری، او پر مختیا یی کارونو په وړاندی د ننګونو کړېږی.

د افغانستان تر ټولو اوږد یا هلمند سیند زرو کېلومتره لېری په میدان وردګ ولایت کی سرچینه اخلی په بامیان، ډایکنډی، اروزګان، هلمند، او نیمروز کی تېریږی او و څنګو ته یې پرتې زرخېزه ځمکی خړوبوی. هلمند پر ۱۴ ولسوالیو باندی وېشل شوی دی. مرکز یې د لښکر ګاه مخ پر وده ښارګوټی دی.

د اوسېدونکو قاطع اکثریت یې پښتانه دی، لوی قومونه یې علیزی، بارکزی، نورزی، اسحاکزی، الکوزی، پوپلزی، خروټی، ترکی، سلېمان خېل، توخی، کاکړ، نیازی، صافیان،

دفتاڼي، هوتک او خوږیاڼي دي. دلته ډېر بلوڅان هم سته، په خاص دول په جنوب کې. نور اقلیتونه یې هزاره، تاجک او سیکان دي.

د کندهار په څېر هلمند ته هم د افغانستان دغلې د مرکز لقب ور کول کېږي. اقتصاد یې پر زراعت ولاړدي، چې جنوبي سیمې یې عموماً د پنبوو، وچې مېوې، نخودو، لوبیا، جوارو او غنومو پر کر کیله باندې تکیه کوي. شمالي حصې یې ډېر د بادامو، انګورو او انارو د باغونو لپاره مشهوره دي.

هلمند د تریاکو د لوړ تریني کښت لپاره هم مشهوره دی. د تریاکو بعد غنم په دوهم ځای کې قرار لري. تریاک د هلمندي بزګرانو د ګټې وټې عمده برخه جوړوي. خو ځینې محدود کاروباریان بیا د عادي کاروبار په پرتله ډېر څه لاس ته راوړي. مالداري او ترانسپورټي خداماد نور عمده کاروبار تشکیلوي.

هلمند په پخوا کې وچکالۍ هم سخت ځپلي دي چې قربانیان یې عام خلک او څاروي وو. د دې ځای د زراعتي توکو په خاص ډول مېوو لپاره د سړو خونو ،یخچالو او بازار موندنې سخت کمې دي.

سیاست په هلمند کې پر قومیت ولاړ دی. عام خلک پر ګوندونو د دوی د تېرو کړونو پر اساس بې باوره دي چې سیاسي مشرانو ته یوازې خپلې شخصي ګټې مترح دي، نو په دې خاطر او د ناامنۍ له کبله د سیاسي ګوندونو فعلیتونه په ټپه درېدلې دي. هلمند د پښتنې دودونو تر سخت فشار لاندې دی. مهمې فېصلې د قومي مشرانو په لاس کې وي او د جرګو له لارې کېږي. د نااهلي ادارې او ملوث قضائي سیسټم له کبله د هلمند په ځینو برخو کې ټولنې په ټولنیزه او کورنۍ سطح د طالبانو و قضائي سیسټم ته د پر وخت فیصلې لپاره ور ځي.

تعلیم به هلمند کې په بد حالت کې دی، د ۵ نه تر ۸٪ پورې نارینه لوستي دي او د ۱٪ پا شاوخوا کې ښځینه وو تعلیم کړې دي. یوازې ۶٪ کوچینیان چې عمر یې د ۶ نه تر ۱۳ پورې دي په مکتبونو کې شامل سوي دي. د هلمند صحي خدمات په ابتدایي کې حسابیږي، یوازې یو ولایتي او درې د ولسوالۍ په سطحه شفا خانې لري چې د ټول ولایت لپاره د ۵۶ روختیایي مراکزو او ۴۲۵ ابتدایي مراکزو تر څنګ خدمات وړاندې کوي.

## ۳. د جګړو څېړنې: د جګړو ډولونه او عاملین

په هلمند کې د طالبانو پر سیمه باندې کنټرول ډېر دی. باغران په کامل ډول د طالبانو تر کنټرول لاندې دی، په شمول د ولسوالۍ د مرکز. د طالبانو د کامل کنټرول په خاطرنو دا ولسوالي ډېره په امن کې ده څکه هلته هېڅ عملیات نه اجرأ کېږي. د هغه ځای اوسېدونکې دا اجازا لري چې ونورو ولسوالیو، کندهار یا لښکرګاه ته ولاړسي. دوی د د

ولسوالۍ نه دباندې د خلکو سره خبرو ته زړه نه ښه کوي کېدای سي چې دلیل یې دا وي چې دوی د بېرته تګ پر مهال د طالبانو له لوري پوښتل کېږي. دولت د ولسوالۍ په هکله هیڅ معلومات لاس ته نه سي راوړلای. د صحت او تعلیم د بخش بې طرفه کارکوونکې ته اجازه ورکول سوې ده او طالبان غرض نه په لري که چېرې دوی د حکومت په ګټه کوم حرکت ونه کړي. دېشو ولسوالي د ۲۰۱۳ کال په پای کې د طالبانو له لوري ونیول سول. د دولت حاکمیت په نوزاد ولسوالۍ کې تر څو کلیو پوري محدود دی. د سنګین او موسی کلا ولسوالیانې د دولت او طالبانو ترمېنځ د ۲۰۱۳ راهیسی په جنګ کې دې خوا آخوا کیږي. مخ کې په عمومي ډول دولت د ولسوالیو مرکز او مهم سړکونه په کنټرول کې لرل او اطراف د طالبانو په لاس کې وه په ځینو کلیو کې به بیا دورځې لخوا د حکومت وی او د شپې د طالبانو وي. د نړیوالو ځواکونو دوتلو وروسته افغان امنیتی ځواکونه او طالبان د یو بل سره په ساده او ورته وسلو جنګونه سره کوي، کوم چې د اوږدو او سختو جنګونو سبب ګرځي.

د اچ آر یو وه احصایې ته په کتلو سره دا معلومیږي چې کومه مرګژوبله چې د زدو خوردونو یاورته پېښو په نتېجه کې مېنځ ته راځي نه یې څوک د مخالفینو ګڼلای سی و نه د امیتي ځواکونو. خو ویلای سو چې په دوی کې به د یوی ډلې نه وي. خو تعداد یې د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ په پرتله تر تر ۱۰ چنده هم اوړي. د دې جنګونو آثار پر ملکیانو باندې غیرې انساني دي. د جنګونو او نه لاسرسی له وجهې د مرګژوبلې راپورونه زد او نقیص اوت خمیني وي یا ډېر خو بېخي راپوریږي نه. دابېلګې د ځونې په څېر یادولای سو: د شمالي هلمند د صحي مراکزو د راپورونو پر اساس د ۲۰۱۴ کال په دوبې کې د اوو(۷) اونیو په جریان کې ۶۳۱ملکې وګړي چې ۳۹۶ یې نارینه وه، ۱۱۹ یې ښځې او ۱۱۶ یې ماشومان د دولت او طالبانو د جګړو او ځونو په وصیله ټپیان سوي وه. به خبره خو لا دا ده چې پورته احصائیه کې یوازې د سنګین، موسی کلا او کجکی د ولسوالیو ځیني سیمې شاملې دي او هغه لا هم نه دي پکښې شامل چې هلته وژل سوي وي او روغتونونو ته نه دي راوړل سوي.

د حالت د خرابېدو نوري نښې دا دي چې د ( یو ان اچ سی آر) ارقام ښیي چې په ۲۰۱۳کې د بېځایه سویو کسانو شمېر د افغانستان په جنوب کې ۴۴٪ لوړسوی دی. ۵۶.۵۸۶ نور کسان بېځایه سوي دي چې ټول شمېر ۱۸۳.۸۸۰ته لوړږي. همدارنګه جنوب د ۲۰۱۳ په پای کې جنوبې حوزې تر ټولو نورو حوزو ډېر بېځایه سوي کسان درلودله. اکسره بېځایه سوي خلک د نوزاد، موسی کلا، کجکی، او سنګین ولسوالیانو دي چې په شمالي هلمند کې قرار لري.

فکر او دهشت ګردي د هلمند د جنګ یو لامل دی او شاید یو معمولي لامل وي. خو اصلي دلیل یې د تاریاکو مافیا ده. د سنګین د ولسوالي د اوسیدونکې په توګه یې وویل:

؛هلمند ولایت  د دولت د مخا لفینو لپاره ځکه ډیر اهمیت لری چی هغوی پکی د تاریاکو کار او بار کوی. د نورو ولایاتو څخه سنگین ولسوالی ته آفین د قاچاق لپاره را انتقالیږی او هغه ځکه چی سنگین ددی کار لپاره یو ښه ماحول دی،اکثره دولتی کړی په هلمند کی د نا امنیو او جنگ غوښتونکی دی او دلیل یی دادی چی دوی غواړی د کوکنارو کښت او کار او بار ته زمینه برابره کړی. په سنگین کی ډیری ځمکه د بل هر قسمه زراعت لپاره براره ده خو له بده مرغه مونږ دولت نه حمایه کوی نو اکثره کروندگر اړ دی چی د کوکنارو کښت ته مخه کړی. همدا وجه ده چی د دولت مخالفین د کوکنارو څخه کټه اخلی او خپل اورپکی پری تقویه کوی.

## ۴. د نښتو شننه : د نښتو ډولونه او انگیزې

د ایدیالوژی برسیره ٬ گدونوالو اقتصادی لاملونه چی د مخدره توکی د کرنی او قاچاق څخه لاس ته راځی هم په دی ولایت کی د جگړی د عواملو څخه وگنل.

د حقوق بشر یو کار کوونکی داسی وویل:

> پدغه ولایت کی د جنگ مهم لامل د پاکستان سره د اوږد سرحد لرل دی. په همدغه سرحد باندی طالبان د پولی د هغه خوا څخه راوړی او د دولت پر وړاندی جنگیږی.

> د کوکنارو کښت د نا امنی یو بل لامل دی. بی سوادی او د اسلامی عقایدو څخه د کامل درک نلرل چی تر ډیره پکی پاکستانی مدرسی مسولی گڼل کیږی، د دوامداره جنگ او نا امنیو جاری ساتلو نور دلایل گڼل کیږی.

دا پدی شاهدی ورکوی چی اکثره نا امنی یا تروریستی حرکتونه چی په نړۍ کی رامنځ ته کیږی، یواځی د فکری یا انقلابی علاقمندی له مخی نه وی بلکه یو واضح لامل یی د مالی گټو لاسته راوړل هم وی. د افغانستان په مورد کی د هغوی گټی د کوکنارو د کرلواو تاریاکو د کار او بار څخه ده. د یو محلی شورا د غړی له نظره د اسلا م څخه صحیح پیژندنه به د یو بل پر وړاندی د تیری نه کول، متقابل احترام، سوله او انسانی وقار ته وده او تحفظ ورکړی. هغه زیاته کړه چی د اساسی خدماتو نه محیا کول، د خلکو نا امیدۍ او هغوی باندی د تیری کولو زمینه برابره کړی. د بیلگی په توگه:

> د ټیټ کیفیت ښوونه او روزنه، د بنسټیزو خدماتو نلرل( لکه برق، اوبه او نور کرهنیز فعالیتونه) او د ښه حکومت داری نلرل.

خلک پدی نظر و چی طالبان به د ناامنیو لپاره یواځنی منبع پاتی شی، نو له همدی امله یی د دولت هغه ادعاوی رد کړی چی گواکی دوی به پاکستانی دهشت گرد ختم کړی. د

یو مذهبی عالم په اند، افغان طالبان په نظامی چارو کی مسلکی ندی او فقط همدومره یی وکولای شول چی افغان امنیتی ځواکونه په خپلو مراکزو کی راحصار وساتی او دا ځکه چی دوی د خارجی (خصوصا د عربی) جهادیانو څخه مرسته ترلاسه کړی کوم چی ډیر بی رحمه وو. نوموړی زیاته کړه، د افغانستان په حکومت کی داخلی مخالفتونو د طالبانو پرضد د قواو روحیه ضعیفه کړی او ددولت په کمزورتیا کی یی مهمه ونډه لرلی ده.

په هلمند کی د موجوده نا امنیو او جنګ دلایل په تړاو اشخاصو او حالات دلایل د لښکرګاه یو با تعلیمه کارمند په هلمند کی د اوسنی نا امنیو پړه پر یو شمیر اشخاصو او حا لاتو ور اچوی کوم چی د جنګ د دوام لامل ګرځیدلی:

> بی سوادی د جنګ او نا امنیو یو له سترو عواملو څخه ګڼل کیږی. په عمدی توګه د ګاونډیو هیوادونو لخوا لاس وهنه او طالبانو ته د اسلحو ورکول د کورنیو جګړو او ورانکاریٖ یو بل ستر لامل دی. په حاضر وخت کی د قدرتمندو اشخاصو لخوا د سولی د راوستلو په برخه کی زه هیڅ نوع سیاسی اراده نه وینم. کچیری اراده موجوده وای، نو د طالبانو او مخالفینو ماتی به ډیره اسانه وه.

د سولی د ولایتی شورا یو تن غړی وایی چی په هلمند کی د اوسنی جنګونو پرتله او بیلول اوس اسانه نه بلکه ډیر ستونزمن بریښی او دا ځکه چی سیاسی او فکری جنګونه اوس د قومی غچ اخستنی او شخصی خصومتونو سره ور ګډ شوی چی همدی حالت ګډ وډی او تشنج رامنځ ته کړی:

همدارنګه قومی سیالیو او رقا بتونو د هیواد او ټولنی په خلکو باندی منفی اغیزه کړیده. بعضی اوقات شخصی شخړی په نظامی شخړو بدلیږی. د د دښمن سره د جنګی میتودونو په برخه کی هیڅ نوع اخلاقی حدود وجود نلری. خلک ماشومان د خپل سیال د وژلو لپاره او طالبان یی د ځان وژنو او نورو تروریستی بریدونو لپاره استعمالوی.

د افغان محلی پولیسو په هکله ډیر کم اوریدل کیږی پداسی حال کی چی دوی په ۸ ولسوالیو کی په دندو بوخت دی. افغان محلی پولیس په نادره توګه په جنګ کی د برخه اخستنی او یا هم عملیاتو په وخت کی د بشر د حقونو د تیری په هکله څرګندونی کوی. ممکن یو د عوا ملو څخه داوی چی د هغو وګړو د ډلی څخه چی په دایمی توګه د محلی پولیسو تر کنترول لانده ساحه کی اوسیږی، فقط یو څو تنه یی د HRU لخوا انټرویو شوی وی. سربیره پردی، د محلی پولیسو ډیری کړنی ممکن د چور او چپاو، تهدید او په زور سره د خلکو څخه د اجناسو اخستل او داسی نور په برکی ونیسی اما د افغانی اصولو له مخی خلکو ته دا اړینه نه ښکاری چی نوموړی کړنو په هلکه راپور ورکړی.

د نړیوالو ځواکونو په اړه د خلکو نظر نا څرګند و. خلکو ویل چې دوی هم د جنګ او هم د سولې عاملین دي. د دهشت ګردی پر وړاندې جنګ، د ساختماني او نورو زیربنایي پروژو او د افغان امنیتي ځواکونو د تقویه کولو په برخه کې د نوموړو فعالیتونه د توصیف وړ دي. خو برعکس ددوی جنګ ملکي تلفات هم له ځانه سره لري. ډیری نظر ورکونکو وویل چې د افغان امنیتي ځواکونو د مسلکیتوب لپاره د نړیوالو هڅې ناکامې او مناسبه نه وې. په دولتي اورګانونو کې د خپل پالنې، رشوت، اختلاس او تبعیض په هلکه خلکو په کراتو خپل غږونه او شکایتونه پورته کړي دي او وایي چې نوموړي ستونزې اوس په دولتي اداراتو کې یو معمول ګرځیدلي چې ژوري ریښې یې کړي او د خلکو لخوا په ډیر مهارت سره تر سره کیږي.

یواځې جګړه مار ندي چې پدې ځپل شوي او ورسته پاتې ولس هیڅ رحم نلري. د ۲۰۱۳ م کال په اواخرو کې بشري نهادونو تاید کړه چې په هلمند کې د بشري مرستولیږدول مخ په سختیدو دي او دا ځکه چې د لشګرګاه د لویو لارو امنیتي پوستو د بشري کاروانونو د امنیت ټینګوني لوړ قیمتونه وضع کړي. په هلمند کې ډیري شخصي امنیتي کمپنۍ وجود لري چې د نړیوالو ځواکونو د وتلو څخه وروسته یې کار او بار مخ په کمیدو دی. یواځنی مشتریان چې دوی یې استثمار کړي، بشري مرسته کوونکي اداري وې. بعضې مشاهده کوونکي پدې باور دي چې هغه حملې چې د مرسته کوونکو ادارو په کاروانونو تر سره شوي کوم تصادف نه، بلکه دلیل یې نوموړو کمپنیو ته د لوړ قیمت نه ورکول و.

**سولې ته د رسیدو لار: د** کره کتنې د ګروپ برخه وال په هلمند کې د موجوده ناخوالو څخه پوره اګاه و او پدې هم پوهیدل چې راتلونکې کې پرکوم لور تګ غواړي. ددوی اکثره نظریات د کو علمي تحقیق نتیجه نه وه بلکه شخص تحلیلونه او تجارب و. د جنګ په مقابل کې خلک ډیر محتاط او د سولې غوښتونکي و. خو پدې هم پوهیدل چې تنها د جنګ او طالبانو نشتوالی د سولې په مانا ندي بلکه په مساوي ډول د بشر حقوق، برابروالي او د عدالت تامینول دي. د سولې د شورا یو تن غړي وویل:

> "خلک د عدالت غوښتونکي دي او د خپل دولت څخه باید عدالت په عمل کې وګوري"

په همدې توګه یو مدني فعال د دولت څخه وغوښتل چې د خلکو او دولت ترمنځ فاصله دې کمه کړای شي، د قانون حاکمیت دې تطبیق او د خلکو حقوقو ته احترام او شایسته سالاري دې رامنځ ته کړای شي. د سولې په برخه کې د خلکو پیشنهادات په لاندې څلورو موضوعاتو څرخیدل:

**امنیت، ثبات او د حکوت دارۍ تقویه کول:** پورته موضوع ګانې د هر یوه شخص لخوا په جلا جلا توګه تر بحث لاندې ونیول شوې. دوی د شایسته سالارۍ په چوکاټ کې د ښه

حکومت غوښتونکی دی او پده ټینگار کوی چی ټوپک سالاری باید ختمه شی. د یو پخوانی کارپوه محمد قسیم اخګر په وینا، دولت د خلکو سره د خدمت کولو تش د خولی وعدی او سر خوزوی او دا هم پدی خاطر چی بهرنیان ورڅخه د خدمت کولو توقع لری. خلکو په دولت کی د اوږدی مودی لپاره د قانون نه مشروعیت، خپریدونکی فساد، زورواکو لخوا یواځی د ځان لپاره خدمت کول، د مدنی کارمندانو د مهارتونو کموالی، د واک څخه غلطه استفاده او په دولت کی د ځایی جنګ سالارانو د مداخلی څخه شکایت درلود. سره ددی چی دوه لسیزی مخکی د دولت څخه د خلکو کرکه ددی باعث شوه چی دولت ړنګ او د طالبانو حګومت منځ ته راشی. دغه تاریخی ویښونکی موازی او ویجاړونکی ملامتیا په اوسنی وخت کی د یو ویښونکی غږ دنده نه ترسره کوی. کار او بار د معمول په څیر پرمخ روان دی اما په حقیقت کی ورځ تر بلی خراپیږی. د یو مدنی فعال په وینا:

″ددغه حالت لومړنی او ستر لامل د خلکو او دولت ترمنځ د فاصلی موجېدیت دی او له بده مرغه دغه واټن کال په کال زیاتیږی. خلک په پراخه توګه د دیموکراسی د کلتور، سیاسی صداقت، مدنی ویاړ او ټولنی ته د خدمت د نه موجودیت څخه اګاه دی. د مدنی ټولنی یو فعال د شکایتونو اوانتقادونو یو لست وړاندی کړو، پداسی حال کی چی د دولت او ټولنی زیاتره موسسات له ستونزو ډک دی. سخا منه نوره نشی ساتل کیدای، او دا به ټول سیستم د نابودۍ طرف ته راکاږی.

په هلمند کی مطبوعات خپلواک ندی، ټول مطبوعات د دولت ملاتړ کوی او د خلکو واقعی مشکلات نه منعکس کوی. یو قوم یا یو تعداد خلک پدی خاطر خوشحاله دی چی د حکومت سره روابط لری اما دغه خلک د هلمند د ټولو خلکو استازیتوب نکوی او هیڅ څوک په هلمند کی ددغه حالت څخه شکایت نشی کولای. پده توګه یواځی ددولت مخالفین ندی چی په خلکو تیری کوی بلکه حکومت یی هم کوی. خلک بی واکه دی او دغه حالت ځکه زغمی چی دوی د خپلو حقوقو څخه نا خبره، د مطبوعاتو د مسولیتونو، د بیان آزادی او د مدنی ټولنو په ارزښت نه پوهیږی.″

خلک د موجوده بیرته راستنیدنی، سولی او پخلاینی د پروسی څخه خوښ او راضی ندی. دا ځکه چی دوی د هغه خلکو په اخلاص او کارکردګۍ باور نلری څوک چی دغه پروسه مخی ته وړی. د هلمند د سولی پروسه د هغو خلکو لخوا مخی ته نځی څوک چی د خلکو رښتینی استازی، د جنګ څخه ستړی او د جنګ نه غوښتونکی وی. برعکس هغه خلک یی مخی ته وړی د چا لپاره چی جنګ او نا امنی د سولی څخه ډیر اهمیت لری او په ګټه یی ده. خلکو دا شکایت هم درلود چی کوم خلک چی د سولی پروسه مخ ته

وړی، د پوره مهارت لرونکی ندی، راز نشی ساتلی او پدی نه پوهیږی چی خپل اوږد مهاله هدف څنګه ترلاسه کړی. نو همدا وجه وه چی د سولی ټوله پروسه یی بی اغیزه کړیده. یو پخوانی مدنی غړی ایچ ار یو ته داسی وویل:

د سولی ولایتی شورا خپل محدودیتونه لری. د شورا غړي په کمه توګه د ولایت د نا امنو ولسوالیو څخه لیدنه کوی. حتی دوی د سفر لپاره مصارف هم نلری نو پدی خاطر خلک د سولی د ولایتی شورا په غړو باندی باور نلری. د ولایت د سولی شورا یو غړی وویل چی دغه کموالی تنها د سولی په شورا کی نه بلکه ددولت په ټولو اورګانونو کی موجود دی.

د پوهنتون یو تن محصل وویل:

"د سولی په پروسه کی داسی خلک هم شته چی افراطی دی او د هلمند خلکو د سولی لپاره درست خدمت نکوی. د همدغو خلکو په وجه د سولی پروسه ډیره په قراره، نا مناسبه او د خلکو د ر خوښی په اساس پرمخ نه ځی."

یو امریکایی مامور د سولی په اړوند د خلکو د بی اعتباری نظریات تاید او زیاته کړه:

"دغه پروسه د ټولو لخوا ډیره حمایه کیږی پرته د هغو اشخاصو څخه چی ددغی پروسی په ویجاړولو کی خاصه او مقرره فایده لری."

سره لدی چی مصاحبه کوونکو دا تاید کړه چی شایسته سالاراو وړ خلک او هغه نمایندګان چی د خلکو په وینو یی لاسونه سره ندی ددغی پروسی په ښه والی او موثروالی کی مهم رول لوبولی شی.

**د بشری حقونو، قانون حاکمیت تقویه کول او د معافیت ختمول:** خلکوپه هلمند کی په مکمله توګه د یو بشرپاله ټولنی تصور درلود اګر که ویناوال ددی څخه نا خبره و چی د بشر حقوق څه مانا او یا دوی څه حقوق لری. خو داچی دغه غونډه د آیچ آر یو د بخش لخوا جوړه شوی وه نو خلک ډیر منظم او د بشر د حقوقو په هلکه یی خبری کولی. په عامه توګه خلکو د رښتینولی او برابروالی غوښتنه کوله او ویل چی سیاسی جنګ او ځان ښودنی ته دی د پآی ټکی کیښودل شی.

د ناد علی ولسوالی د مدنی شورا یو غړی د دیموکراسۍ، سولی او دبشر د وقار د اعادی لپاره د لاندنیو اصلاحاتو غوښتنه وکړه:

ټول ښاروالان او والیان دی د یو مستقل او آزادو ټولټاکنو دلاری وټاکل شی. مونږ باید د فساد ضد مبارزه وکړو. هغه خلک چی د بشر حقوق تر پښو لاندی کوی بندیان او دقانونی محاکموله لوری مجازات شی. د سولی د پروسی

لپاره حکومت باید عملی اقدامات وکړی نه سمبولیک عمل. مونږ بایدهغه مخالفین چی بیرته ملکی ژوند ته راګرځیدل غواړی او هغه چی د حکومت پر وړاندی جنګیږی سره تفکیک اوپه صحیح ډول وپیژنو.

ځنی هغه کسان چی د ایچ آر یو له خوا ورسره مرکه وشوه ، د نا انډولۍ او د قانون د نه حاکمیت په هکله چی د دولت او ټولنی اکثره موسسات یی معیوبه کړی، ډیر دقیق فهم درلود. د یو دینی شورا غړی خپل د هیلو لیست پدی ډول وړاندی کړ:

د قانون حاکمیت، ملی او بین المللی قوانینو ته احترام، د اقلیتونو پر وړاندی د هر نوع تبعیض له منځه وړل، شایسته سالاری، په ټولو سکتورونو کی په پراخه اندازه اصلاحات، په خاصه توګه دولتی او مطبوعاتی سکتورونو کی ځکه چی مستقل او آزاد مطبوعات کولای شی د سولی او بیا رغونی په پروسه کی ښه رول ادا کړی.

پداسی حال کی چی د افغانانو نظر د هغه چا په هکله چی پر دوی حکومت کوی خوشاینده نه ښکاری ، خلکو د افغانستان د عدلی او قضایی سکتور په هکله بد نظر درلود. دا ځکه چی په عدلی اورګانونو کی بی عدالتی د دولت پدی برخه ډیره منفی اغیزه شیندلی ده او دا نسبت د حکومت اجرایوی سکتور او نورو ارګانونو ته ډیره حیرانونکی ده.

د ولایتی شورا یو غړی لاندی څرګندونی لرلی:

ما یو کس ولید چی د بایسکل د غلا په تور په کلونو بندی و او بل خوا قاتل له بند څخه ازاد شوی و. خلک دا ډول فساد نشی تحمل کولای. بعضی خلک د ازادیدو وروسته د دولت د مخالفینو سره یوځای کیږی، کچیری دولت خلکو ته کار او روزګار پیدا کړی نو د کوکنارو کرل او دهشت ګردی به خاتمه پیدا کړی. په بعضی ولسوالانو تورونه پوری شوی خو دوی تراوسه د دولت په رسمی بستونو باندی کار کوی او دولت ددوی د فساد په هکله هیڅ اقدام نکوی. زمونږ په سیستم کی تراوسه هم قوی کړی شته چی دغه د ښښنی او معافیت پروسه ژوندی ساتی.

حتی په منځنی کچه د دولت کارمندان د رشوت پیسی له ځانه سره وړی کومی چی ددوی د قانونی معاش په مقایسه ډیری زیاتی دی. خصوصا په لږ پرمخ تللی هیواد لکه افغانستان او یا په همدی ډول هلمند کی چی اقتصاد یی ډیر لرغونی او کرهنې پوری تړلی دی.

دیو مسلکی قضایی سیستم نلرل او د قانون د حاکمیت نشتوالی زمونږ د سیاسی، فکری او نظامی تگ لارو د ښه کیدو او پرمختگ ښکار شوی.

خلکو په وین، د جزا څخه د مرتکبینو معافیت دوه پایلی لری: یو د خلکو او دولت ترمنځ درز پیدا کیدل او په بعضی مواردو کی د قربانیانو شخصی بدل اخستل. دا پدی خاطر چی د حکومت څخه یی د عدالت تمه او توقع نه درلوده.

**دټولینزو او اقتصادی پرمختگونو پیژندنه:** د سولی د بهبود او پایښت لپاره، خلکو د مشورتی غونډو په لړ کی اقتصادی او اجتماعی پرمختگ مهم وباله. د هغوی په نظر د تعلیم تقویه کول، د موثره صحی خدماتو لرل، د کار کولو زمینه برابرول او پرمختگ ته متوازن لاس رسی مهم عوامل گڼل کیږی .

د یو مذهبی مشر په قول، پرمختیایی مرستو مثبت او منفی دواړه اغیزی لرلی. خصوصا د افغانستان په شان هیواد کی چیرته چی پیسی د سیلاب په شان راوبهیدی خو ښه بد بختانه چی ښه حکومت داری او د قانون حاکمیت وجود نه درلود.

په زیاته اندازه بین الملل کمکونه په ولایت کی د گډ وډی سبب شوی ځکه چی په راس کی یی داسی کسان و چی په سیاست نه پوهیدل او ددی وړتیا یی هم نه درلوده چی په هغو لارو پیسی مصرف کړی چی ټولنی ته موثر تمامیدای شوای.

د ځوانانو د شورا یو استازی شکایت درلود چی:

> مونږ ښه رهبریت، نظارت او ارزیابی نلرو. نړیوالو موسساتو په سلهاو ملیونه ډالر مصرف کړل خو تراوسه هم د خلکو په ژوند کی کوم مهم تغیر نه تر سترگو کیږی. مونږ حتی د شفافیت او حساب ورکونی په ماناهم نه پوهیږو، د دریو لسیزو جنگ جگړو څخه وروسته خلک په خپلو ټولنو کی د پرمختگ او بهتروالی غوښتونکی دی.

دغه ارزیابی د کندهار د ولایت سره متفاوته ده کوم چی د ایچ آر یو په واسطه تر سره شوی ده. هلته هم خلکو د ورته مشکل یعنی بی ځایه لگونی او چل او فریب څخه سر ټکاوه خو بیا دا څرگنده شوه چی په تیرو لسو کلونو کی د زیربنایی پروژو او اساسی خدمتونو په برخو کی په افغانستان کی د پام وړ پرمختگونه شوی دی. داچی په قندهار کی جنگی پیښی نظر هلمند ته کمی دی نو ځکه کندهار د پرمختیایی فعالیتونو لپاره ښه ځای دی او بل داچی کندهار د پاکستان هیواد سره تجارت او کار او بار لپاره لاره لری.همدارنگه د کندهار مرکز په افغانستان کی دوهم لوی ښار گڼل کیږی.

د ناد علی ولسوالی یو اوسیدونکی وویل چی حکومت د خلکو سره هیڅ مرسته نده کړی، د خلکو ملاتړ یی ونه کړ نو ځکه خلکو د مخدره توکو کار او بار ته مخه کړه. یواځی د

حکومت څخه د خلکو مایوسی د کوکنار د کرلو لامل نه دی بلکه د کوکنارو کرل نظر نورو حاصلاتو ته ددوی په گټه دی او دا واضح ده چی ددی په وړاندی به مبارزه ډیره سخته وی.

خلک ضرورت لری چی کوکنار وکری ځکه چی حکومت د خلکو سره په نورو زراعتی برخو کی کمک ندی کړی. زمونږ په ولسوالی کی پنبه (مالوچ) ډیر ښه حاصل ورکوی خو بد بختانه چی حکومت ورته توجه نکوی. زمونږ تولیدات څوک نه اخلی، نو مونږ به څه کو؟ خلک د مالی مشکلاتو سره مخ دی او د ځمکو د اوبه کولو لپاره اوبه ډیری قیمتی دی. دا ځکه چی په هلمند کی کافی اوبه نشته. نو پدی خاطر که خلک د کوکنارو نه بغیر نور زراعتی محصولات وکری، د هغی د اوبه کولو قیمت نشی پوره کولای.

ایچ ار یو پدی برخه کی هم شکایتونه واوریدل چی گواگی ډیر پرمختیایی کارونه په ښاری سیمو کی ترسره کیږی او کلیوالی سیمی په نظر کی نه نیول کیږی. خلکو انتقاد وکړ چی پرمختیایی فعالیتونه د ورته مشکل ښکار شوی چی په ټوله کی د حکومت د نا امنۍ سبب شوی دی. د ناد علی ولسوالی یو تن اوسیدونکی شکایت درلود چی:

> زمونږ ولسوالی د مرکز څخه فقط ۱۲ کیلو متره لری ده اما تر اوسه مونږ د زده کوونکو او ښوونکو لپاره پوره ښوونځی او اسانتیاوی نه لرو. بعضی وخت مونږ ښوونځی او ښوونکی لرو اما زده کوونکی نه لرو. همدارنگه هغه ښوونکی چی معاشات اخلی په صحیح توگه کار نکوی او د ښوونی او روزنی ریاست په فساد کی ښکیل دی.

د یوی ټولنیزی شورا غړی خپله خواشینی د پرمختیایی پروژو او د دولتی منابعو د مدیریت څخه څرگنده کړه، او زیاته یی کړه چی:

> هر کله چی د پروژو د فعالیتونو د کنترول او نظارت لپاره کوم استازی رالیږل کیږی نو رشوت اخلی او بیرته راپور ورکوی چی هر سه سم او منظم دی. په کار پوه او وړو کسانو ته کار کولو موقع نه ورکول کیږی. د پارلمان وکیلان او د ولایت چارواکی هر وخت کوښښ کوی چی خپل نفر په دولتی پوستونو کی وگماری. پوستونه خرڅیږی، کله چی یو څوک د مقرریدو په خاطر پیسی ورکوی نو د هغه اول کار داوی چی خپلی پیسی بیرته لاس ته راوړی. پدی لنډ وخت کی مونږ د بعضی ولسوالانو د لری کیدلو او مقرریدو شاهدان و، کچیری یو ولسوال خپل کارونه په سمه مخی ته وړی نو ولی هغه لری، یا بلی ولسوالی ته تبدیل او یا په بل پوست مقرریږی؟

ددولت يو پخوانی کارمند چی په يو منځنی کچه بست يی کار کاوه د خپلی شخصی تجربی له مخی خپله نا اميدی پدی توګه څرګنده کړه:

په دولت کی هر هغه شخص چی ښه کار کوی نه ستايل کيږی او څوک چی سم کار نکوی نه مجازات کيږی. زه د پوهنتون څخه فارغ يم اما د غټو چارواکو په مرسته ځما پر ځای داسی يو شخص وګمارل شو چی سواد نلری.

**د سولی راوستونکو او ويجاړونکو ته کتنه:** طالبانو د خلکو په زړونو کی خپل محبوبيت د لاسه ورکړی. يو شخص وويل چی ځايی خلک ځکه په طالبانو باور نلری چی دوی د خلکو سره زشت او جدی برخورد کوی او په هغو معيارونو نه ځی چی د خلکو د باور وړ وی. ځنی خلکو طالبان هغه موقع شناس د مخدره توکو قاچاقبران او بی پرنسيبه مجرمين و بلل چی يواځی په پيسو يی باور درلود او هر څه ته يی د خپلو مستخدمينو په شمول د يو جنس په نظر کتل. د مدنی ټولنی يو فعال وويل چی هغه داسی او ريدلی و چی د طالبانو تر کنترول لاندی بغران ولسوالی کی شورشيان:

داسی يوه کميټه جوړه کړی چی خلک د طالبانو سره د يوځای کيدو لپاره وهڅوی. دوی ۲۰۰۰۰ پاکستانی کلداری چی ۲۰۰ امريکايی ډالر کيږی هغه چا ته ورکوی چی دوی ته کلاشينکوف راوړی او ۷۰۰۰۰۰ پاکستانی کلداری چی ۷۰۰۰امريکايی ډالره کيږی هغه چاته ورکوی چی دوی ته د افغان ملی پوليسو رنجر موټر په لاس ورکړی. د هلمند په ولايت کی ۶۲ طالبان د سولی د پروسی سره يوځای شول خو وروسته دا ثابته شوه چی دا هسی يوه دوکه وه.

په هلمند کی د سولی او قانون حاکميت د راوستلو پر وړاندی د خلکو نظريات مختلف و او داسی بحثونه و چی عرفی قوانين لکه (شورا او قومی مشران) کولای شی چی د خلکو منازعات او شخړی د قضايی او رسمی سيستمونو څخه په ښه توګه حل کړی. ايچ ار يو د ځنو قضاياو په هکله واوريدل چی د منځګړيتوب د هڅو پر اساس مسلی حل او د شخړی دواړه خواوی راضی وی. په هر صورت خلکو دا ومنله چی د عرفی او عنعنوی قوانينو د لاری د شخړو او غير انسانی مجازاتو ورکولو او مسلو د حل کولو وخت تمام شوی په ځانګړی توګه هغه قضاياو کی چی د ښځو او ماشومانو پر وړاندی تبعيض شوی وی او يا هغوی پکی متضرره شوی وی. د سولی عالی شورا چی جوړه شوی د خلکو لپاره د اعتبار وړ نده. خلک د متبادلی لاری غوښتونکی و. د يو متوسطه ښوونځی سر ښوونکی وړانديز وکړ چی :

داسی خلک دلته شته چی د دولت د طرفدارانو او مخالفينو ترمنځ خبرو ته زمينه برابره کړی. د پارلمان او ولايتی شورا غړی او قومی مشران دا ظرفيت

> لری چی د سولی د راوستلو او په ټولنه کی د نورو شخړو د حل لپاره کار وکړی.

نوموړی دا ونه ویل چی ولی پدغه خلکو دا باور لری چی ګواکی دوی به د سولی په برخه کی کار وکړی. پداسی حال کی چی ډیری افغانان همدغه خلک په خود خواهی او بی کفایتی تورنوی. شاید ددی مطلب به داو چی ددوی د منځ نه خصوصا هغه خلک چی ډیر صادقه وی او دی ته تیار وی چی پدی برخه کی کار وکړی، په ګوته او حمایه دی شی. ایچ ار یو داسی واوریدل چی صرف په بعضو مواقعو کی د تاریخ جوړونی،دافغانانو د حمایه کولو یا په هلمند کی د وضیعت د عادی ښودلو هڅی شوی.

د حزب اسلامی یو غړی داسی ادعا لرله چی:

> هر کله چی امریکایی فوځ یو مسلمان هیواد ته راشی نو جنګ شروع کیږی. امریکایی ځواکونه شپنی عملیات، وژل او د خلکو د بندی کولی مرتکب دی. فساد هغه وخت شروع شو کله چی امریکایی فوځونه راغلل.

لکه څرنګه چی ټمه کیده په داسی یو ولایت کی چی اوږد سرحد او نژادی اړیکی د پاکستان سره لری نو ډیری خلک پدی نظر و چی د پاکستان هیواد د همکاری نه پرته د سولی راتلل نا ممکن دی او همدارنګه ډیری خلکو د پاکستان هغه رول چی په افغانستان کی ترسره کړی دی منفی او تخریبونکی وباله.

## ۵. د خلکو سپارښتنی

ښکتنی سپارښتنی د یو سلسله مشورو او پروسی په اساس رامنځ ته شوی. د مختلفو نظرونو، انفرادی قصو او همدارنګه د نړیوالو ښو تجاربو څخه د اګاهی د لوړیدو او نړیوالو حقوقی وجایبو څخه منځ ته راغلی دی. په حقیقت کی دا ټول د ا فغا نستان په زیاته برخه کی د تطبیق وړ دی نه یواځی په هلمند کی.

**د حکومت داری، امنیت او ثبات تقویه کول:** (۱)په عاجله توګه په ټولو سکتورونو کی د ایمان داری، حساب دهی، مسلکی توب او شفافیت راوستل ترڅو په حکومت باندی د خلکو موجوده بی باوری ختمه شی. (۲) په ټولو پالیسیو او پروګرامونو کی د هر اړخیز انسانی امنیت مفهوم ځای پر ځای کول (۳) د خبرو اترو پروګرام باید د دولتی نهادونو، دیموکراتیک سازمانونو لکه (مدنی تولنی او مستقل مطبوعات) او هم شهریانو ترمنځ زیاتی شی ترڅو د اعتبار زمینه برابره، دوه اړخیزه نفاهم او همکاری په یومناسب ماحول کی رامنځ ته شی.

**د بشر د حقونو تقویه کول، د قانون حاکمیت او د ښځی د رواجی ختمول:** (۱) د بشر د حقوقو د نقض او د واک څخه د غلطی استفادی په مورد کی د ښنی رواج له منځه وړل.

(۲) د خلکو د فهم تر کچی پورته د بشر د حقوقو د اګاهی ورکول او همدارنګه د بشر د حقوقو د شعار، د مفهوم ژوره پيژندنه، محتويات، ګټې او د بشر د حقوقو پيژندل او منل. (۳) د یو مستقل، با کیفیته او مسلکی مطبوعاتو رامنځ ته کول او د هغی څخه داسی ګټه اخستنه چی دولت مخالفينو او دولت طرف دارانو ته رسیدګی او اګاهی وکولای شی(۴)د کلتوری او مذهبی منل شوی ځيرو ترمنځ اتحاد او بیا ددوی په واسطه د بشر د حقوقو، عدالت، انصاف او بی تبعیضی پیغامونو خلکو ته رسول.(۵) د قانون د حاکمیت اصلاح او په سمدستی او جدی توګه د فساد، ناوړه ګټه پورته کول، په قضایی اورګانونو کی د نه شفافیت خصوصا ( جزایی عدالت) سیستم ( په شمول د بندی کولو او معطولو په اړه اقدام)

**د اجتماعی او اقتصادی پرمختګونو تقویه کول:** (۱) د تخریبی، نا سالمه او په مخدره موادو ولاړ اقتصاد څخه راوتل(۲) د نیستی سره مقابله، البته په مناسبه او مساوی توګه خلکو ته د کار زمینه برابرول (۳) د کلیوالی سیمو د پرمختیایی اړتیاو پيژندل او په ګوته کول(۴) په نؤیوال کومکونو کی د شفافیت رامینځته کول .

**د سولی او پخلاینی په پروسه کی د شمولیت حمایه کول:** (۱) په سمدستی او جدی توګه د موجوده د سولی او پخلاینی د پروسی د فعالیتونو سمول ترڅو ډیر موثر تمام شی او د هغو فعالیتونو او جوړښتونو درول کوم چی په نوموړی پروسه کی په موثره توګه تمام نشو(۲) د مدنی ټولنو حمایه کول ترڅو د حکومت او خلکو ترمنځ د اعتبار پل جوړ کړی(۳) د هغو خلکو سره مبارزه کول څوک چی د سولی او پخلاینی پروسی لپاره منفی نظر لری په شمول د هغه موجوده خلکو چی اوسنی پروسه په درست شکل مخ ته نه بوځی او د جنګی جنایتکارانو او بشریت په مقابل کی د جنګ د مرتکبینو د بښلو او معاف کول مخ نیوی.

# د کندهار ولایت
# د سولي لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

دسولی دا ولایتی نقشه کې هغو موندنو او مسلو لنډیز وړاندې شوی چې د ټمرکز د ګروپی مباحثو، انفرادی مرکو ، سروې ګانو او نظریاتو په ترڅ کې راپورته شوی دی چې د مشورو د لارې د کندهار د اوسیدونکو سره تر سره شول. برخه والو د بیلابیلو ټولنیزو، تعلیمی او سیاسی سابقو څخه استازیتوب کولو. دغه مشورې د افغانستان د خلکو خبرې اترې د سولې د پروګرام د دوهم پړاو لپاره یې صورت ونیو. د ۸۵ نارینه وو او ۴۸ ښځو سره د ټمرکز د ډلې اوه بحثونه وشول. د سروې پوښتنلیکونه د ۲۱ نارینه وو او ۲۳ ښځو له خوا وړاندې شول. د ډیرو هغو کسانو سره چې مرکې وشوې هغوی تعلیم یافته، مامورین وو چې په ښاری محلاتو کې اوسیدل. نږدې نیمایی یې د دولت مامورین وو او نورو یې د مدنی ټولنې په موسسو اونورو سکتورونو کې کار کولو.

لکه چې دا په یوه داسې ټولنه کې چیرته چې انفرادیت او ازاد فکر کولو زیاته وده نه وی کړې د دې څخه بله چاره نشته نو څکه هغه پوښتنلیکونه چې د بشری حقونو د څانګې له اړخه ویشل شوی دی اکثرو ته یې مشابه او حتی یو ډول ځوابونه او جملې راغلی دی او دا جوتوی چې دغو ځواب ویونکو کسانو په ګروپونو کې کار کړی څو د اتفاق نظر له مخې ځواب ورکړی اویا هم داچې ځینو کسانو دپوښتنلیکونو د ډکولو لپاره د " مشرانو" نظریات او لارښونې رعایت کړی دی. د ښځینه برخه والو زیاته شمېره کې ګډون ( په تیره بیا په انفرادی سروې ګانو کې) بې ساری او عمدی و.

ډیری کسانو چې ورسره مرکې وشوې داسې ځوابونه یې درلودل چې د هغوی د خپل ځانی ګټو را ولاړ شوی، چې دا انسانی فطری پدیده ده او ورباندې اعتراض نه شی کیدلای څکه چې دغه هیلې او غوښتنې د وګړو د اکثریت هیلو سره سمون لری (د بیلګې په ډول د ژوندون د معیار لوړیدل) او کومه استثنا نه ده. دغه موضوع هغه مهال نازک حالت غوره کوی کله چې اشخاص داسې غوښتنې مطرح کوی چې په هغو کې د هغوی شخصی حالت او د ځان غوښتنې له مخې په استثنایی او توپیری ډول ښه والی وغواړی پرته له دې څخه چې په کې ټولنې ته کومه ګټه متصوره وی. د بیلګې په ډول ډیرو نارینه وو چې ځانونه یې د هغه ځای د کلیوالو او ټولنو دودیز معززین بلل د سولې په ولایتی شورا ګانو کې یې د علماوو او دودیزو مشرانو لپاره د قوی نقش غوښتنه درلودله خو دا یې هیر کړې وه چې ښځې، روڼ اندی او ځوانان هم باید په برابره توګه په کې شامل شی او له مخې یې د کند هار په ولایت کې دغه موسسې با شموله، شفافې، عادلانه او اغیزمنې شی.

د سولې لپاره د لارې دغه محلی نقشه کې هڅه شوې چې تر ممکنه بریده د شخړې په اړه د محلی او ځایی محرکاتو یو هر اړخیز تحلیل وړاندې شی. په دې کې هم دا راز تلاش

شوی چې مناسب او داسې عملی لارې چارې تشخیص کړی چې د هغو له مخې د کندهار په ولایت کې د سولې په راوستلو، تداوم او ټیکاو کې مرسته وشی.

## ۲. د ولایت هنداره: جغرافیه، نفوس پیژندنه او سیاسی زمینه

کندهار په ختیځ کې د زابل د ولایت، په لویدیځ کې د هلمند، په شمال کې د اروزګان او په سهیل کې د پاکستان د بلوچستان د ایالت سره پوله لری. کندهار ۱۷ کلیوالې ولسوالۍ لری – او د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ له میاشتې ۱۵ ښاری ناحیې لری. د کندهار ښار د افغانستان د زیات نفوس دوهم ستر ښار او د دغه ولایت مرکز دی. د کندهار د ولایت څخه درې سیندونه تیریږی: د ارغنداب، ترنک او اغیستان سیندونه چې ټول یې د هلمند دسیند مرستیالې ځانګې دی. د رودونو دغه سیستم د کندهار د کرهنې د زیاتې برخې سره مرسته کوی . د ولایت په سهیل کې د ریګستان دشته ده . د دغه ولایت شمال په غرونو پوښلی دی چې د افغانستان ډیری برخو سره مشابهت لری.

د اټکل له مخې د کندهار اوسنی نفوس نږدې ۱۰۵۷۰۰۰ تنو ته رسیږی چې هغه کېدلای شی د غیر ثبت شوو میشته کېدنو او داخلی مهاجرتونو له مخې د ولایت په کچه دوه برابره زیات وی. د دغه ولایت ۶۰ سلنه نفوس په کلیوالو ولسوالیو کې میشت دی. د کندهاریانو مطلق اکثریت د پنځو درانی قبیلو پښتانه دی: پوپلزای، الکوزای، بارکزای ( محمد زایی او اڅکزایی) ، علیزایی او نورزایی. په دغه ولایت کې همدارنګه د غلجی قبیلو لړکی چې په کې توخی، هوتک، کاکړ، تره کی، سلیمانخیل او مهمند هم شامل دی، اوسیږی. د هزاره ( اهل تشیع) او هندوان د کندهار په ښار کې کوچنی اقلیتونه دی. په زرګونو کوچیان د کندهار د ولایت په کچه په موسمی ډول د لوړو سیمو څخه مهاجرتونه لری.

یو له هغو لاملونو څخه چې ولې کندهار ستراتیژیک اهمیت لری هغه د دې ولایت جغرافیایی موقعیت دی چې هغه د سوداګرۍ او ترانزیت لپآره پاکستان، ایران او د هرات او کابل سترو ښارونو ته په تللو سترو لارو د عبور مرکز دی. ملی حلقوی سړک( لومړۍ لویه لار) د کندهار د ښار څخه تیریږی. څلورمه لویه لار د کندهار ښار د پاکستان د پولې سره په سپین بولدک کې نښلوی. د پام وړ هغه شتمی چې ځینې ځمکې لرونکی او سوداګر یې لری کیدلای شی چې د مخدره توکو د سوداګرۍ او د نورو قاچاقی فعالیتونو څخه تر لاسه شوې وی. د کندهار ولایت د کرهنیزو محصولاتو لپاره ( د هلمند د ګاونډی ولایت سره) مشهور دی چې اکثره وخت ورته د افغانستان د " غلې ګودام" ویل کیږی. خو دتیرو لسیزو وسله والو شخړو اوسیاسی بې ثباتۍ په محلی اقتصاد باندې زیاته منفی اغیزه درلودلې ده. د دې سره په تیره بیا د اوبه خور سیستمونه چې د زیات محصول ورکونکی کرهنیز سکتور لپاره یې اوبه برابرولې اغیزمن شول.

قبایلی مشران او دینی عالمان( علماء) په ټول سهیل کې د پام وړ ټولنیز او سیاسی نفوذ لری. د ولایت ټولې ولسوالۍ قومی شورا ګانې لری چې هغه د ولسوالیو د چارواکو سره د چارو په همغږه کولو او د محلی شخړو د حل په لار کې خورا مهم نقش لوبوی. د قومی مشرانو دغه ډول نفوذ هغوی د دولت ضد عناصرو او نورو عناصرو له خوا د وژنو په وړاندې زیانمنونکی کړی دی چې د هغوی د نفوذ له امله د دغو عناصرو ګټې کېدلا ی شی تر ګواښ لاندې راشی. قبایلی اړیکی خورا زیاتې پیچلی او متحوله دی. په داسې حال کې چې اوس مهال هلته په ولایت کې کومې مهمې قومی شخړې نشته، د قبیلو ترمنځ سیالۍ شتون لری، په تیره بیا د ممتازقشرپه کچه د سیاسی او کاروباری موخو لپاره. قبایلی وفادارۍ او اړیکې لا هم سیاسی ځواک او اقتصادی فرصتونو ته په رسیدنې اغیزه لری. د کندهار با نفوذه اشخاصو کې د کرزی کورنۍ او د پولیسو قوماندان جنرال رازق شامل دی.

د کندهار د سولې ولایتی کمیټه په ۲۰۱۰ کال کې جوړه شوه او ولسوالیو ته د رسیدنې غونډې او ساحوی لېدنې یې درلودلې. قومی مشران او علماء د کندهار په ولایت او د پاکستان په پوله کې د پرتو ښارونو چمن او کویټه کې د دولت ضد عناصرو د قوماندانانو سره د مفاهمې لپاره خورا مهم اسانتیا برابرونکی دی. د ۲۰۱۳ کال د سپټمبر تر ۲۴ نیټې پورې د ټول هغو شورشیانو شمیره چې د افغانستان د سولې او بیا یوځای کېدنې د پروګرام سره یوځای شوی دی ۱۵۲ تنه وو. د قوماندانانو د هڅونې پروګرام د دې لپاره دی چې د دولت ضد عناصرو هغه قوماندانان و هڅول شی چې د افغانستان د سولې او بیا یوځای کېدنې د پروګرام سره یوځای شوی دی د دولت ضد عناصرو نور قوماندانان په دې معتقد کړی چې د دوی مثال تعقیب کړی. د سولې د مدافعانو نوښت د دې لپاره دی چې د عوامو په کچه رسیدنه ولری او د دولت ضد عناصر دې ته را وبولی چې د افغانستان د سولې او بیا یوځای کېدنې د پروګرام سره یوځای شی. د ولایت په کچه د سولې او پخلاینې په بهیر( او سیاسی ژوند) کې د ښځو ونډه تر زیاته بریده سمبولیکه اوتش په نامه وه. سیاسی ګوندونه شته خو د عوامو په ژوند کې د ولایت په کچه چیرته چې د ټولنیز او سیاسی تشخص لپاره دودیز معیارونه لکه قبیله لاهم حاکم دی د هغوی نقش د پام وړ نه دی.

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې ډولونه او محرکات

**د شخړې ډولونه:** په کندهار کې خلک عموماً درې ډوله هغه شخړې تشخیصوی چې په وسله والې جګړې پورې محدودې نه دی: لومړی محلی وسله وال د سیمې او نفوذ لپاره جنګیږی، چې په ظاهری بڼه له یوې خوا د افغان امنیتی ځواکونو (چې د ایساف له خوا یې ملاتړ کیږی) او د بلې خوا د طالبانو تر منځ صورت نیسی، خو په واقعیت کې د وفاداریو د تغیر، د پردې تر شا معاملو او د ډیرو ښکیلو لوبغاړو د انعطاف تشخصاتو له

امله رامنځته کیږی. ایډیالوژی همیشه نه شی کولای غوښ نقش ولری؛ د قدرت او مالی ګټو لپاره هڅې یوشان مهم تحرک بلل کیږی. دوهم داچې شورشیان د پاکستان څخه را وارد شوی دی او لږ ترلږه د هغوی له خوا پارول کیږی: هغوی چې مغزونه یې پریمنځل شوی، ځوان دی او په ناوړه توګه روزل شوی جنګیالی چې ایډیالوژیکی عقدې لری او هغوی چې په کلیوالو کچه په هغو نښتو کې ښکیل دی چې پورته توضیح شوې، هغوی یواځې د ترهګرۍ اعمال سرته رسوی چې دوی ته هیڅ ډول مادی ګټه نه لری او نه هم کوم قلمرو او یا هم سیاسی نفوذ تر لاسه کوی. دریم هغه سیاسی شخړه ده چې د ځواک د اوسنیو درلودونکو او هغوی چې د ځواک په تمه دی صورت نیسی چې ټول یې د دې په لټه کې دی چې خپله ځواکمنی او شتمنی زیاته کړی. اتباع او ښاریان په دې ښه پوه دی چې د دغو لوبغاړو لپاره کلی، ښارونه او نفوس چې حکومت باید ورته خدمات ورسوی یواځې د شطرنج په تخته د هغو مهرو څخه پرته بل څه نه دی چې دوی پرې غواړی خپله لوبه سرته ورسوی:

" زموږ سیاست وال خلکو ته یوڅه وایي، خو کوي بل څه."

د کندهار څخه یوې میرمنې یوه تبصره درلودله چې د هغې د غضب، خطرناکې وضعې، ستومانۍ او پریشانه مبهم حالت څرګندونه یې کوله:

" موږ له جګړې ستومانه یو. موږ یواځې او یواځې سوله او امنیت غواړو. موږ هیڅکله هم نه پوهیږو چې دا خلک څوک دي او حتی هغوي چې د سولې پر ضد کار کوي، او نه هم په دې پوهیږو چې ولې دا کار کوي."

ځینو خلکو و ویل چې په افغانستان کې د ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۰۳ پورې ډیره زیاته خوشبینی موجوده وه او داچې هېواد په دغو دریو کلونو کې د پام وړ پرمختګ درلود. د هغې وروسته هم ایساف او هم طالبانو خپل نظامی عملیات زیات کړل، چې د هغو په پایله کې زیاته نا امنی او درانه تلفات رامنځته شول. خلکو په عمومی ډول د کندها ر په ولایت کې د طالبانو له خوا رهبری شوی شورش سولې او ټیکاو ته د ستر تهدید په توګه یاد کړ. د هلمند په ولایت کې د طالبانو تاکتیک ویجاړونکی او ګډوډونکی دی: د خرپ اوترپ د بریدونو د لارې چور او تالان رامنځته کوی، د لنډو وختونو لپاره یوه سیمه نیسی، د امنیتی ځواکونو سره د پیشو او موږک لوبه کوی او په مځکه کې ماینونه فرشوی او په تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ککړوی. د دې پرخلاف د کندهار په ولایت کې پخپل ټاټوبی کې طالبان لا زیات سیاسی، او حتی جوړونکی ( لږتر لږه د هغوی د خپلې انګېرنې له مخې) طرزالعملونه کاروی: چې په دې توګه د کوچنیو زور ورو کسانو سره خپل اړیکی بیرته جوړ کړی اوپه حکومتی ادارو او د ځواک په محلی جوړښتونو کې نفوذ کوی.

د بشری پالنې د چارو یوه رسمی چارواکی چې د کندهار د ولایت په ټولو ولسوالیو کې د هر وخت بدلیدونکی امنیتی وضعیت په اړوند یې ښه معلومات درلودل د ۲۰۱۴ کال په لومړیو کې د بشری حقونو څانګې ته و ویل چې د ایساف د ځواکونو په راکمېدوسره هلته په کلیوالو وګړو باندې زیات فشار و: د ایساف د لوړې کچې د تخنیکی ملاتړ پرته د افغانستان امنیتی ځواکونو او شورشیانو نږدې یوشان نظامی ځواکمنی درلوده، چې د دې سره نښتو دوام پیدا کولو هغوی یې لا زیاتمنول او د دې سره زیاته سیمه د داوړو خواوو ترمنځ د سیالۍ په ډګر اوښتله. ځواکمنو ډلو حتی داچې ډیرې کوچنۍ سیمې یې په ولکه کې وې او هغو کسانو چې هرې خواته یې سفر کاوه اړ وو چې د ډیرې پاشل شوې او ټوټه ټوټه سیمې څخه چې لا زیات محلی لوبغاړی په کې وو تیریدل او په دغو سیمو کې اکثره وخت حالاتو پرته له دې چې وړاند وینه یې وشی بدلون موندلو.

پخپلو پوښتنلیکونو کې ځواب ویونکو نږدې د نظر په اتفاق سره د " سولې" په اړه یو عمومی تعریف درلود چې په هغې کې جنګ ، بې عدالتی، تبعیض نه وی او خدماتو ته په برابره توګه لاس رسی وی.

**د شخړې محرکات:** ډیرو خلکو چې د مدنی ټولنی سره یې مرکې درلودلې په څرګنده و ویل چې " د افغانستان ګاونډی هېوادونه په افغانستان کې دجګړې اساسی لامل " دی. کله چې د دې پوښتنه وشوه چې په پراخه توګه دا بیان کړی چې ولې هلته دومره " نا امنی" ده نو ډیرو یې بیا هم د دې لپآره " د ګاونډیو هېوادونو د منفی مداخلو " یادونه وکړه، خو د دې سره یې " د خلکو د حقونو تلف کېدل چې د دولت دننه ادارو کې د بې عدالتۍ او فساد له امله رامنځته کیږی" نږدې د بل عامل په توګه یاد کړ. کله چې د بشری حقونو څانګې د خپلو پوښتنو ساحه لا نوره پراخه کړه او وپوښتل شو چې ولې د خلکو تر منځ " ناراضیتوب" شتون لری نو پایلې لا هم د حکومت لپاره شرمونکې وې: " مفسد او غیر مسلکی دولتی چارواکی" خپل ځانونه د " طالبانو او نورو وسله والو مخالفو ډلو" او " جنګ سالارانو او محلی قوماندانانو" تر منځ په نا مساعد حالت کې وینی. نتیجه دا ده چې درې واړه کتګوری ګانو یو ډول رایې تر لاسه کړی دی.

خلک په عمومی صورت په دې اند وو چې طالبان به د نا امنۍ د یوې سرچینې په توګه پاتې وی، په دې توګه یې د حکومت له خوا دغه د باور ادعاوې چې وخت په وخت یې کوی او هغه داچې حکومت به ډیر ژر دغه شورشیان چې په اخریو سلګیو کې دی او یواځې د پاکستان له خوا د ټوپ د تختې په توګه کارول کیږی ډیر ژر مات کړی، ردې کړې.

په عمومی صورت د افغان محلی پولیسو په اړه ډیر لږڅه اوریدل کیږی. په داسې حال کې چې د کند هار په ولایت کې په لسو کلیوالو ولسوالیو کې افغان محلی پولیس مستقر شوی دی خو د هغوی په اړه دعملیاتو د تر سره کولو په برخه کې په لوړه کچه د

شمولیت او یا هم د هغو په ترڅ کې د بشری حقونو څخه د سرغړونو په اړوند دیر کم خبرونه تر لاسه کیږی. د دې یو لامل همدا کیدای شی چې د هغو کسانو له جملې څخه چې د بشری حقونو د څانګې له خوا ورسره مرکې شوی دی په واقعیت کې ډیر کم یې په دایمی توګه په هغو کلیوالو ولسوالیو کې میشت دی چې هلته افغان محلی پولیس حضور لری. د دې سربیره د افغان محلی پولیسو له خوا په شوو تیریو کې کیدلای شی هغه کړنې وې چې په کې هغوی کې چور چپاول، اخازی ګانې او ډارونې شاملېد ی چې دغه ډول کړنې د قربانیانو له خوا دافغانی معیارونو له مخې زیاتې کوچنۍ پیښې ګڼلې شی - چې د هغو راپور ورکړای شی. د پنجوایی د ولسوالۍ ( د کندهار ولایت) څخه دوو سپین ږیرو د بشری حقونو څانګې ته و ویل چې افغان محلی پولیسو د هغه ځای د اوسیدونکو څخه په منظم او ښې سازمان شوې طریقې سره د پیسو اخازی کړې او په تصادفی ډول یې نیونې اوتوقیفونه کړی دی. هغوی همدارنګه افغان محلی پولیس په ناقانونه وژنو تورن کړل او د دې لپاره یې د یوې ځانګړې پیښې یادونه هم وکړه. یو څو کسانو و ویل چې افغان محلی پولیس اکثره وخت نه دی روزل شوی او مجهز هم نه دی؛ خلک په عمومی صورت افغان محلی پولیس د دریو ځواکونو ( افغان ملی پوځ، افغان ملی پولیس، افغان محلی پولیس) تر ټولو زیات د پامه غورځول شوی او غیر مسلکی ځواک بولی، خو ټولو لپاره د نورې لا زیاتې روزنې ( د نړیوال ملاتړ او نظارت سره) سپارښتنه وکړه. د پام وړ شمېر خلکو دا ومنله چې افغان محلی پولیسو د محل او کلی د امنیت په تامین کې مثبت کردار ترسره کړی دی.

د نړیوالو نظامی ځواکونو په اړه د خلکو نظرونه ګونګ او مبهم وو: هغوی ته د ډیرو لړو ځواب ورکونکو له خوا هم د جګړې او هم د سولې د محرکاتو په توګه و کتل شو. خلکو د شورشیانو سره په جګړې تر سره کولو، د اساسی او بنسټیزو پرمختیایی پروژو ( په تیره بیا اساسی تاسیسات) او په ځانګړی ډول- د افغانستان د امنیتی ځواکونو د روزنې په لړ کې د هغوی د نقش په اړه اعتراف وکړ او هغه یې وستایلو. خو د دې سره یې د دې یادونه هم وکړه چې د دوی د جګړو پر مهال ملکی تلفات او مصیبتونه هم رامنځته شوی دی. ډیری ځواب ورکوونکو په دې ټینګار کړی چې د نړیوالو هڅو سره سره د افغان امنیتی ځواکونو مسلکی وړتیا لا تر اوسه کمزورې وه. ځینو خلکو داسی انګیرله چې نړیوال نظامی ځواکونه ددې لپاره افغانستان ته نه دی راغلی چې بی غرضه له افغانانو سره مرسته وکړی، بلکه دوی د خپل ملی امنیت د ساتلو او نورو ګټو لپاره راغلی دی. خلکو په وار وار سره ویلی دی چې بډې اخیستل، اختلاس او له خپل ځواک څخه د خپلوانو په ګټه ناوړه استفاده کول په حکومتی ادارو کې عام ګرځیدلی چې مخنیوی یی تقریبآ نا ممکنه بریښی. دغه چلند په افغانانو کې دومره ژورې ریښې ځغلولی او افغانان له هغو څخه په دومره مهارت کار اخلی چې حتی یوناما هم په کندهار کې له هغو څخه

په امن کې نه ده پاتې شوې. د ډېرې اندیښنې خبره لا داده چې د ملګرو ملتونو له ساحې څخه بهر لکه په حقیقی افغانی ټولنه کې، هغه کسان چې غواړی ریښتنوالی، مسلکی معیارونه او د قانون واکمنی تقویه کړی کله کله له پامه غورځیدلی، بیرول شوی او په دې ډول هغوی ناتوانه او شاته کوی چې د اوسنۍ واکمنی وضعې سر زوری پلویان د دوی په وړاندې مقاومت څرګندوی.

## ۴. د سولې لپاره نقشه

د متمرکزو ګروپی خبرو اترو په جریان کې څرګنده شوه چې خلک په کندهار ولایت کې له شته ستونزو او ناخوالو څخه خبر وو، دوی د ځینو علتونو په باره کې ډېر شکایتونه کول خو د ځینو نورو هغو په باب چپه خوله پاتې وو. دوی په دې هم پوهیدل چې په کوم لوری باید پر مخ ولاړ شی. د خپلې روښانه راتلونکې په باب یې فکر کاوه. خو ډېرې خبرې او څرګندونې شخصی نظریې وې چې په مشاهده او تجربو ولاړې وې. ډېر کم داسی تحلیل کیږی چې جدی بنه ولری، هیڅ چاد شخړو په بنستیزو لاملونو خبرې ونه کړې او خپل ځانی نیوکې په اټکلی ډول بشپړې نه وې. د دې په ځای، ډېری افغانانو په داسې ځیلناک ډول د لویې او ویاړنې خبرې کولې چې د بهر نیانو په وړاندې د کرکې او بدبینۍ سرحد ته نزدې کیدل، دوی په دې ټینګار کاوه چې د افغانستان د ټولو ستونزو پړه په بهرنیانو ده : د افغانستان ګاونډی ملکونه د جګړو او نا امنیو د اصلی لاملونو په ډله کې راتلل. ډېری کسان چې د بشری حقونو ځانګې خبرې ورسره کړې دی تر یوې اندازې یې تعلیم کړی و او ښاری خلک وو. یو څو تنو افغان کلیوالو چې د بشری حقونو ځانګې مرکې ورسره کړی دی داسې نظریې په ډاګه کړی چې د ښاری او کلیوالی خلکو په منځ کې توپیر څرګندوی چې په پرمختیایی هیوادو نو کې د کومې حیرانتیا وړ خبره نه ده. د مثال په ډول، کلیوالو او سیدونکو و ویل چې د پرمختګ کارونه په غیر عادلانه ډول په لویو ښارونو کې ډېر کیږی، دوی د افغان ملی اردو مسلکی توب وستایه او افغان محلی پولیس یې له دې امله وغندل چې له ډسپلین څخه بې برخې وو او محلی او دودیزو موسساتو ته یې زیاته ترجیح ورکوله (دغه موسسات په معمول ډول دوی ته ددې امکان ورکوی چې د ځواکمنو کسانو په ځیرې وپیژنی) او دولتی مرکزی او عصری موسسې (لکه ټاکنې) یې نه دی منلی. هغه عملی وړاندیزونه چې خلکو د اوږد مهاله سولې لپاره کړی دی د لاندنیو څلورو داسې موضوعاتو تر سر لیک لاندې راتلای شی چې یو له بل سره اړیکی لری:

**د حکومتدارۍ، امنیت او ثبات ټینګښت:** یوه موضوع نژدې د هر یوه کس له خوا بیا بیا تکراریده : د افغانانو ډېره شدیده غوښتنه، چې د مرحوم اخګر په قول چې افغان، روښانفکرو، د وړ او ریښتینو کسانو حکومت جوړ شی څو د " ټوپک واکمنی ختمه کړی". عجیبه داوه،

چې حکومتی چارواکو هم دې عالی هدف ته د رسیدلو لپاره د خولې لاپې وهلی، خو بې له شکه دوی ځکه دا خبرې کولی څو د بهرنۍ نړۍ له تمې سره سمې خبرې وکړی.

خلک په عمومی ډول په دې باور وو چې د تلپاتې سولې او ثبات کلی په دې کې وه چې په کندهار کې د محلی حکومتی ادارو واکمنی او مشروعیت یقینی شی. ګڼون کوونکو شکایت وکړ چې حکومتی اداره له ډیره وخته راهیسې د مشروعیت په بحران مبتلا ده او لاملونه یې فساد، د ځواکمنانو له خوا د شخصی ګټو ساتل، د ملکی خدمتونو د کارکوونکو په منځ کې د وړتیا نشتوالی، د جنګ سالارانو او ځایی واکدارانو له خوا د حکومت په چارو کې مداخله او له ځواک څخه ناوړه استفاده شمیرل شوی دی. که څه هم په حکومت باندې د خلکو بې باوری کله کله له هغې نا امیدۍ او کر کې سره پرتله کیږی چې نژدې دوه لسیزې پخوا یې له طالبانو سره ځواک ته په رسیدو کې مرسته وکړه، خو دغه ویجاړه وضعه هم داسې نه بریښی چې د خطر زنګ و وهی. کارونه لکه د معمول په شان جریان لری.

لکه څنګه چې معلومیږی نه دی ویل شوی چې قومی مشر څنګه متنفذ شخص دی او داسې کوم تحلیل هم نشته چې ولې دی دا ډول وړاندوینه کولای شی. د ده ادعاء د ملګرو ملتونو د امنیت او حفاظت د څانګې له احصایې سره سمون نه لری چې د کندهار ولایت امنیتی وضعه یې له ۲۰۱۱ څخه تر ۲۰۱۲ پورې ښه ښودلې خو په ۲۰۱۳ کې بیا وضعه خرابه شوه. د کندهار د ښار د نسبی امنیتی ښې وضعې او له ښار څخه بهر په کلیوالو سیمو کې د ناکرارې امنیتی وضعې په منځ کې توپیر نه دی شوی او په زیاتیدونکی ډول د حکومتی قواوو او طالبانو تر منځ د جګړو میدان ګرځیدلی.

یو څو مرکې، په عمده ډول له کلیوالو سیمو څخه داسې څرګندوی چې خلک د حکومت په اوسنیو، ملی او غیر مذهبی موسسو باور نه لری. دوی په دې باور درلود چې ځایی او دودیز برخه وال ځواکمن، مناسب او وړ کسان دی چې کولای شی مثبت بدلونونه راولی خو ډیر مذهبی (غیردیموکراتیک) اعتبار لری. د پام وړ خبره دا وه چې ځینو ښځو هم دا ډول ځوابونه ورکړی دی چې پخپله هم ددغو محافظه کاره ځواکونو له خوا له تبعیض سره مخامخې شوی دی. البته ددې خطر موجود دی چې خلک پخوانی، عادی، په زړه پورې خو ښایی خیالی ژوند ته رجعت وکړی، د ژوند یو سبک چې په حقیقت کې ښایی په هیڅ ځای کې هم په هغه کچه له درنښت څخه نه و برخمن لکه څنګه چې خلکو په هغو تبصرې کولې، یو خیالی دود دستور کله چې د بشری حقونو څانګې و پوښتل چې وروستی کوم وخت و چې په کندهار کې امنیت موجود و، زیاتو خلکو ( ۴۴٪) د پاچاهی وخت چې په ۱۹۷۰ کلونو کې و په ډیر افتخار سره یاد کړ. ۲۴٪ و ویل چې هیڅکله امنیت نه و. ۱۳٪ و ویل چې اوس امنیت شته او دې ته نژدې سلنې ( ۱۴٪) شمیرې و ویل چې د طالبانو د رژیم په وخت کې سوله ټینګه وه.

افغان حکومت په سختئ سره بریالی وخوت او د خلکو قضاوت هم دا و چې د سولی لپاره په افغانستان کې ګټور دی. ډیری خلکو ومنله چې په اساسی ډول ټاکنې ددې لپاره مناسب کار دی چې یو مسوولیت منونکی حکومت ځواک ته ورسیږی او د تخنیکی طرز لعملونو او د ټاکنو د قواعدو په باب هم د دوی نظر مثبت و. سره ددې دغو کسانو ددې بیره درلودله بلکه په مطلق ډول په دې باور وو چې د سیاست والو او سنئ طبقه یانوی سیاست وال چې ورته شجره ولری به بیا وضعه تر خپلې ولکې لاندې راولی، ټاکنې به انحصار کړی او بیا به ځواک په خپلو لاسونو کې ونیسی او په دې ډول به د هر ریښتینی او ماهر سیاستوال د پرمختګ مخه ونیسی. د کندهار له ښار څخه یوه تن په افغانستان کې د ټاکنو د پروسې او له هغه وروسته وضعې په باب دا لاندې خواشینونکی تحلیل ورکړ:

″خلک ټاکل کیږي، ځکه دوي رایې اخلي. له دې امله چې دوي ځواک ته ورسیږي لومړیتوب یې داوي چې تر ممکنه بریده پورې ډیرې پیسې پیدا کړي[ خپل لګښتونه پوره کړي]. کله چې دې هدف ته ورسېدل بیا ښایي دوي د خلکو لپآره د کار کولو په فکر کې ولویږي.″

سره ددې چې د ټاکنو په باب په پراخه پیمانه شکونه موجود وو، ځینو کسانو ددې پلوی کوله چې په حکومتی مقرریو کې کموالی راولی او ویل یې چې د ولایت والی، ولسوال او ښاروالان باید د ټاکنو له لارې راشی. خلکو په ځانګړی ډول د سولې ولایتی شوراګانو په باب ډیر منفی او انتقادی نظر درلود. د ټولو پوښتل شویو کسانو ۷۵٪ خلکو د سولې د ولایتی شوراګانو له فعالیتونو څخه خپله نارضایتی څرګنده کړه. ډیری کسانو فکر کاوه چې دا یوه بله داسې موسسه ده چې ناجایزې ګټې (حتی د دې لپاره جوړه شوې) ورڅخه اخیستل کیږی، ځو ددې شورا د غړو ګټې وساتی نه دا چې د سولی لپاره کار و کړی. د سولې د شورا غړی د ناموثره، مفسدو او دوه مخیو کسانو په څیر بلل شوی. د سولې د شورا غړی حتی په داسی فعالیتونو تورن شوی چې له نا امنئ سره یې مرسته کړې وی ځکه چې دوی طالبانو ته ددې فرصت ورکړ چې له پټو ځایونو څخه را و وځی او په " کلیو او ولسوالیو کې نفوذ پیدا کړی." ډیرو کسانو، چې د بشری حقونو ځانګې ورسره مرکې کړی دی د سولې د شورا د غړو د پخلاینې هڅې مسخره ګڼلې، خاصتا کله چې دوی په عمومی ځایو نو کې فعالیت کوی:

″د طالبانو بې وسلې کول او بیا راګډول چې په اوس وخت کې کیږي جدی بڼه نه لري، د ولایت یا ولسوالیو د چارواکو له خوا طالبانو ته هر کلی او په ټولنه کې د دوي د بیا راګډولو هڅې یوازې نمایشي بڼه لري. ډیری یا غیان د ې هڅو ته د مسخرو په ستر ګه ګوري : دوي په بهیر کې د ګډون لپاره لاسلیک کوي، یو زوړ بې کاره ټوپک ورکوي، یو څه روپۍ واخلي، د یو څو میاشتو لپاره فعالیت نه کوي او بیا له یا غیانو سره یو ځای شي.″

مرکه ورکوونکو منلې ده چې متنفذ، ریښتینې او وړ مشران او فیصله نیوونکې چې لا سونه یې د چاپه وینو نه وي ککړ، کولای شي چې د سولې په پروسه کې یو مثبت نقش ولوبوي. یوه امریکایي رسمي چارواکي د سولې په باب د ډیرو افغانانو شکمنې انګېرنې او ناهیلۍ ومنلې او د بشري حقونو څانګې ته یې په محرمانه ډول و ویل:

"دا خبره ټول هغه څه تصدیق کوي چې ما په دې باب اوریدلي دي، په استثناء دهغو کسانو چې په دې سیستم کې خپلې ګټې خوندي ګڼي."

یوه ښه تعلیم یافته افغان و ویل چې د یاغیانو په مجازات کولو کې، چې په بشري حقونو یې تیري کړي وي یا یې نور جرمونه تر سره کړي وي، له یوه معیار څخه کار نه اخیستل کیږي:

"د یاغیانو په منځ کې کم رتبه کسانو ته جزا ورکول کیږي او محبسونو ته لیږل کیږي. ددې په خلاف، لوي قوماندانان چې ډیرې جرمونه یې کړي وي او ددې نفوذ لري چې د " تقاعد د برخې" لپاره مذاکرې وکړي ښايي په کابل کې هوسا کار پیدا کړي او ښايي د سولې په بهیر کې د مذاکره چې په ډول نقش ولري."

همدارنګه افغانانو د پارلمان د استازو په باب هم مثبت نظر نه درلود. یوازې ۳۸٪ کسانو له دې خبرې سره رضایت ښکاره کړ چې: " ستاسې له سیمې څخه ټاکل شوي وکیلان ستاسې په ولایت کې د سولې، امنیت او د بشري حقونو د تقویې لپاره کار کوي." د هغو ځواب ورکوونکو په منځ کې چې له حکومت سره تعلق نه لري د سولې د شورا او ملي شورا د غړو په باب ۱۰۰٪ نارضایتي موجوده وه.

**د بشري حقونو او قانون د واکمنۍ تقویه او د معافیت د دود ختمول:** افغانانو دا خبره په پراخه پیمانې سره ( ۹۱٪) منلې ده چې بشري حقونو ته احترام کول د سولې د تقویې لپاره ګټور ثابتیږي. دا خبره د دې دلیل نه شي کیدای چې ټول افغانان په دې پوهیږي چې بشري حقونه څه شی دي، خو دا حقیقت ښکاره کندوي چې بشري حقونو ته د یوه مثبت شي په سترګه کتل کیږي او یوه مثبته نتیجه ده، سره له دې چې مذهبي افراطیان د بشري حقونو په بدنامه ولو کې هڅې کوي لکه دغه ادعاء چې بشري حقونه د اسلام سره سمون نه لري. ( باید و ویل شي، چې لېرې نه ده چې د دې مثبت ځواب یوه برخه له دې کبله وه چې نزاکتونه مراعات شوي دي ځکه چې سروې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا تنظیم او اداره شوې وه.)

په داسې یوه ولایت کې چې تروریزم او نظامي عملیات ورځنی حقیقت دی، ښايي د حیرانتیا خبره وي چې مرکه شویو خلکو د امنیت په باب یو جامع نظر ښکاره کړ. نه یوازې د جګړو ختمول، بلکه عمومي تعلیم، د کار ښه فرصتونه او اقتصادي پرمختیا یانې د بشري مصونیت، بشري حقونو او دوامداره بشري پرمختیا کلیدي اجزاوې په کې شاملې

دی. هیڅ کومه بله تبصره نه شی کولای د افغانانو ناهیلی له دې موجودې واکمنې وضعې څخه څرګنده کړی لکه دا د لاندې هغه چې د یوې ولسوالۍ په لیرې پرته سیمه کې یې کړې ده:

"آیا د طالبانو او افغان امنیتي ځواکونو په منځ کې څه توپیر شته؟ دوي دواړه ظالمان دي. حکومت موږ د ورځې استثماروي او طالبان مو د شپې تهدیدوي. هیڅ لوری زموز حقونو ته درناوی نه لري."

دغه خبرې څرګندوی چې افغانان ځکه ناهیلی دی چې ځواکمنان د دوی مشروع، مناسب حقوقی او عادلانه حقونه یعنی بشری حقونه نه منی.

د افغانستان د کلیو او سیدونکی نه یوازې له ناهیلۍ سره مخامخ دی، بلکه دوی د وژونکی خطر احساس هم کوی. حتی په کندهار کې یوه تعلیم یافته اوسیدونکی هم هغه دایمی خطر او بیره څرګنده کړه چې دی یې احساسوی:

"طالبان او حکومت دواړه په احتمالی ډول د وحشت په اچولو کې یو شانته د ي. که چیرې تاسې د طالبانو پر ضد کار کوئ دوي به تا و وژني. که تاسې د حکومت په کارونو په ښکاره ډول ډیرې نیو کې وکړئ او هغه څرګندې کړئ، دوي هم تا وژني. "

یوه بل کلیوال و ویل :

"یاغیان په بې تو پیره ډول تعبیه شوي چاودیدونکي توکي خښوي. د دوي هدف افغان امنیتي ځواکونه دي. خو په حقیقت کې د قربانیانو زیات شمیر خلک ملکي کسان دي چې خپلو کورونو یا کروندو ته ځي. یاغیان په زوره له موږ څخه ډوډۍ او مرستې غواړي. یاغیان موږ ته اخطارونه راکوي چې حکومت ته د دوي د ځای په باب څه ونه وایو. کله چې حکومت پلوه ځواکونه له موږ څخه پوښتي چې طالبان چیرته دي، موږ له دې بیرې څه نه شو ویلای چې طالبان مو وژني. ددې کار له امله حکومت پلوه ځواکونه موږ ملامتوي او تور لګوي چې موږ له یاغیانو سره مرستې کوو. دا زموږ لپاره دردونکي معماءده."

په داسې حال کې چې د افغانانو نظریات د هغه چا په باب چې په دوی حکومت کوی په سختۍ سره نرم ګڼلی شو، خو خلکو د افغانستان د قضایی سکتور په باب خپله کر که څرګنده کړې. ښایی دلیل یې دا وی چې دلته فساد او بې انصافی د حکومت د دې څانګې اصلی ماهیت نفی کوی او له دې امله د اجرایه قوې په پرتله نور ډیر خواشینوونکی ښکاری. یوه تن دغه حقیقت په داسې ډول لنډ بیان کړ :

"زموږ عدلي سیستم په بشپړ ډول په فساد کې غرق دی: مجرمین ازاد ګرځي او بې ګناه خلک په محبسونو کې پراته دي."

دغه خبره په ځانګړې ډول د افغانستان د جنایي عدالت د سیستم کرکجنه بڼه څرګندوي، یانې د یوه سړی مالي توان چې کولای شي چې له بند څخه ځان خلاص کړي، که هر څومره شدید جرم یې هم کړی وي.

د کندهار ولایت له لویدیځ څخه د یوې ولسوالۍ یوه قومي مشر همدا ډول ویلي دي:

"قانون او نظم دواړه د قانون ماتوونکو په لاس کې دي."

خلکو دا هم و ویل چې په افغانستان کې له جرمونو څخه د معافیت کلتور- پخوانۍ او اوسنۍ- دوه منفي پایلې درلودلې: په دې کار سره د خلکو او حکومت ترمنځ واټن زیات شو، او په ځینو مواردو کې قربانیانو چې په دولت یې د دې باور له لاسه ورکړی چې عدالت دې پلي کړي، پخپله د غچ اخیستنې په لټه کې شول.

خلکو څرګنده کړه چې د "قبیلوي" جګړې تر ټولو عام شکل هغه وسله والې نښتې نه وې چې د محلي ملیشو وړو ډلو ترمنځ کیږي، لکه د افغانستان په نورو برخو کې هم چې لیدل شوي، بلکه په ناقانونه ډول د دوی دښمنانو توقیف کول د هغو کسانو په لاس چې غوښتل یې پخوانۍ جګړې ختمې کړي یا په شخصي ډول د انتقام اخیستلو په فکر کې وو. د سپین بولدک د ولسوالۍ یوه پولیس و ویل:

"زه زندان ته ولیږل شوم ځکه چې له یوه کروندګر سره مې دعوه درلوده چې له لوړ پوړي سیاستوالو سره تړاو لري. هغه حتی داسې لاپې هم ویشتې چې دی کولای شي ما ونیسي. ما له ده څخه ځمکه اخیستې او پیسې مې ورکړې. له هغه وروسته هغه ادعاء وکړه چې ځمکه د هغه ده او زه باید د هغې لپاره بیا قیمت ورکړم. کله چې موږ د خبرو لپاره تر دعوې لاندې ځمکې ته ولاړو، زه په دې تور ونیول شوم چې ګواکې ما پولیس افسر ته بد ویلي دي او په هغه مې برید کړی دی."

له پولیس افسرانو او خلکو سره په خبرو کې د بشري حقونو ځانګې وموندله چې دوی په یو بل باندې باور نه لري. پولیسو شکایت کاوه چې عادي خلک له پولیسو سره مرسته نه کوي چې د جرمونو په اړه څیړنې وکړي، د امنیتي ځواکونو په غړو باندې ملنډې وهي او د هغو کسانو لپاره هیڅ همدردي نه ښیې چې په وظیفه کې ژوند له لاسه ورکوي. خلکو بیا پرلپسې او پراخې ویرې ته اشاره کوله- ضروري نه ده چې ویره له امنیتي ځواکونو څخه وي- او ډیری حقیقي اندېښنې یې درلودلې (چې د پولیسو له خوا تصدیق شوې)

چې په امنيتي ځواکونو کې حکومت ضد عناصر ننوتي دي او له هر هغه چا څخه غچ اخلي چې غواړي له امنيتي ځواکونو سره مرسته وکړي.

**اقتصادي او ټولنيز پرمختګ:** د مشورو په لړ کې، خلکو په عمومي ډول و يل چې اقتصادي او ټولنيز پرمختګ په کندهار ولايت کې د سولې د ټېنګښت لپاره اړين دي: د ښوونې پياوړي کول، د روغتيايي خدمتونو تقويه کول، د کارۍ فرصتونو ايجادول او متوازن پرمختګ ته لاس رسي. يوه ډيره ښه خبره د دوی په منځ کې مشترکه وه او هغه دا چې په تېره لسيزه کې افغانستان د بنيادي جوړښتونو، روغتيايي پاملرنې او تر ټولو لومړی د تعليم په برخو کې، په ځانګړي ډول د نجونو د زده کړې په برخه کې ډيرې برياوې درلودلې. يو شو کسانو د رسنيو ازادي او تنوع دغه راز د ښځو د حقونو پرمختګ وستايل. د کندهار د پوهنتون يوې ښځينه استادې د تعليم د اهميت په اړه داسې و ويل:

> ”تعليم د امنيت لپاره د کليد(کنجي) ارزښت لري. لوستي خلک جګړې نه کوي. وګورئ موږ ته په دې خونه کې موږ له يو بل سره جګړه نه کوو. هغه مېړونه چې تعليم لري او ښې تنخواګانې اخلي خپلې ښځې نه وهي.“

ډيری کسانو نوی او ښه سړکونه، ښوونځی او کلينيکونه غوښتل، دا غوښتنې د دې تاييد کوي چې نوې پانګې اچونې ته اړتيا شته او پيل شوې پروژې بايد دوام وکړي. مهمه خبره دا وه چې خلکو دا منله چې ټولنيز او اقتصادي پرمختيا په ټول افغانستان کې شوې او دغه راز د دوی په ولايت کې هم پرمختګ شوی. له دې امله هغه ضد او نقيض خبرې بې اعتباره شوی چې پرمختګ په ټولو نورو ځايونو کې شته، خو له هغه چا سره چې ته خبرې کوې له پرمختګ څخه محروم پاتې شوي. په پای کې، خلک په دې پوهيدل چې پرمختګ نه يوازې د ګټه اخيستونکو ژوند ته بدلون ورکوي، بلکه د ټول هيواد په ټيکاو، امنيت او سوله کې مرستندويه دی. يوې ښځې داسې و ويل:

> ”افغانستان په تيرو ۱۲ کلونو کې ډيرې مرستې تر لاسه کړي، لا تر اوسه ولې بې وزله او غريب پاتې دي؟“

د بشري حقونو ځانګې ته همدارنګه نيوکې رسيدلی چې تر ډيره بريده پرمختيايي فعاليتونه په ښارونو متمرکز او کليوالې سيمې يې له پامه غورځولی او پروژې هم لنډ مهاله او يا ناپايداره وي. خلکو نيوکې کړی چې پرمختيايي فعاليتونه او د بې وزلۍ د له منځه وړلو پروګرامونه د ورته ستونزو پواسطه چې په ټولیز ډول يې حکومت د ننګونو سره مخ کړی، احاطه شوي دي: د کندهار په ولايت کې له کليواليو ولسواليو څخه د قومي مشرانو يوې ډلې د حکومت له خوا د استخدام د عادلانه فرصتونو د ترويج په اړه چې ناوړه او جدي پايلې لری ډير کم څه کړی، يوه بېلګه وړاندې کړه:

" د واک په تر لاسه کولو سره خلک د خپلو فعالیتونو په حدودو کې ټول کارونه یوازې خپلو خپلوانو ته ورکوي. دا کړنې وګړي بېګانه کوي. په کلیوالو سیمو کې بېکاري په ځانګړې ډول ډېره پراخه ده. هغه ځوانان چې کار نه لري، ګوري چې د هغوي حکومت تر کومې اندازې فاسد دی، دوي په آسانۍ سره د طالبانو د استخدام کونکو لپاره اسانه ښکار ګرځي، ځوک چې د هغوي د محرومیت څخه ګټه پورته کوي او د یوه منظم معاش او حتی د یو عراده موټرسایکل په ورکولو سره هغوي غولوي او خپلو لیکو ته یې جزبوي."

یو شمیر خلکو درک کړې چې د پرمختیایی فعالیتونو او د بې وزلۍ د له منځه وړلو د پروګرامونو ملاتړ باید حکومتی کارکونکو په خاص ډول، امنیتی ځواکونو ته د کافی معاشونو د ورکولو له لارې ترسره شی، او په دې برخه کې د پاتې راتلو په صورت کې به د دفتر کارکونکی حتی نور فساد ته مخه او یا د هغوی عایدات نور کمزوری کړی.

**د سولې د فعالینو او مخربین:** د سلا مشورو د پروسې په اوږدو کې، خلکو ټینګار کړی چې په عنعنوی لحاظ د خاموشه خلکو- ښځو، ځوانانو، ښو لوستو کسانو او په سیاسی لحاظ د بې زوره تیکنوکراتانو پراخ ګډون د پراختیا ،سولې او پخلاینې د پروسو د بریالیتوب لپاره ضروری دی. خلکو باور درلود چې د مدنی ټولنې، ښځو او په عنعنوی لحاظ د ټولنې د تجرید شویو برخو پراخ ګډون د داسې پروسو د شمولیت او ځایی مالکیت لپاره اړین و. د مدنی ټولنې د ښځینه فعالینو یوې ډلې و ویل:

"حکومت مدني ټولنې ته د دښمن په سترګه ګوری. دا د دې لپاره چې د مدني ټولنې پاک او صادق غړی نه غواړي د حکومتي چارواکو سره د هغوي د ګټې په دوه اړخیزو فاسدو پرګرامونو کې شریک شي. په پرتله ییز ډول، مدني ټولنه د حکومت د خلاف کارۍ د رابرسیره کولو واک لري، همدارنګه کولای شي عامه احتجاج لارې ته واچو ي او هغه کسان په څرګند ډول رسوا کړي څوک چې د نه منلو وړ کارونه او سلوک کوي."

یوې بلې ښځې د حکومت او مدنی ټولنې د نهادونو تر منځ د اخلاقو د کچې د توپیر په اړه یوه عمومی، او جامع ادعاء را منځ ته کړه:

" په دې ورځو کې د حکومت ټولی پریکړې د دفتر د کارکونکو او یا د نوموړې اداری په ګټه ترسره کیږي. نا دولتي سازمانونه د خلکو لپاره کار کوي. حکومتي چارواکي یوازې د پیسو لپاره کار کوي. "

په دې کې هیڅ شک نشته چې په نا دولتی سکتور کې هم اداری فساد او حرص شتون لری او د نا دولتی سازمانونو هیڅ کارکونکی باید د ښه معاش د ترلاسه کولو لپاره ملامت نه شی.

خو بيا هم، يوه کتونکی يادونه کړې چې د ايساف د باد راوړی ثروت په پای ته رسيدو نادولتی سازمانونه چې مفت خوره او د خپل ځان د ګټو په فکر کې وو له منځ تللی او د مدنی ټولنې ډلې لاتر اوسه فعالې دی چې په ټوليز ډول مسلکی، اصولی او جدی دی.

د دې پر ځای چې "د حکومت او خلکو تر منځ د پله" د نقش د ترسره کولو اجازه ولری، مدنی ټولنه ادعا کوی چې په سيستماتيک ډول د حکومت له خوا د تصميم نيولو په پروسو او حتی په تخنيکې برخو کې چيرې چې مدنی ټولنه کولای شی د ارزښت وړ مهارت وړاندې کړی، څنډی ته شوی دی(د بېلګی په توګه، په ټولنېزو او د بشر پالنې په چارو کې). خلک او نړيوال سازمانونه به د مدنی ټولنې ملاتړ وکړی خو د حکومت له اړخه غبرګونونه (ډير) شديد وو. سره له دې، د مدنی ټولنو فعالين په خپلو روشونو کې اعتراضی نه بلکه جوړونکی وو او د حکومت او مدنی ټولنې تر منځ د اعتماد جوړولو طرفدار دی:

″د دې بې اعتمادۍ يوه برخه ځکه موجوده ده چې حکومت په يوه دموکراتيکه ټولنه کې د نا دولتي فعالينو د نقشونو او دندو سره اصلا اشنايی نه لري. موږ بايد اړيکې پراخې کړو، يو بل درک او رغوونکي روابط را منځ ته کړو.″

د دې علاوه، هر څه تياره نه دی، انځور يواځې تور او سپين نه دی. د مدنی ټولنې يوه فعال تصديق کړه:

″په حکومت کې هم وړ، صادق او لايق کسان موجود دي. موږ بايد هغوي وپيژنو، هغه تشويق کړو او د هغوي سره همکاري وکړو. خو هغوي يو کوچنی اقليت دی.″

کله چې د بشری حقونو ځانګې پوښتنه مطرح کړه چې که چيرې په عامه چارو/ژوند کې د ښځو د ګډون لپاره حالت مساعد وی، د مثبتو او منفی ځوابونو فيصدی په ترتيب سره ۴۵٪ او ۵۵٪ وه. که څه هم چې په افغانستان کې د ښځو څخه پراخه کرکه د ښځو د پياوړتيا په برخه کې ډير ويرونکی خنډ دی، يو شمير زياتو ښځو و ويل هغه څه چې د دوی مخه نيسی او د هغوی شتون تر کورونو محدودوی هغه يوه بله اساسی او عمده ستونزه ده، او هغه د امنيت نه شتون دی. دغې ستونزې د يو شمير زياتو ښځو مخه ډب کړې چې ښوونځيو ته ولاړې شی او يا وروسته په مدنی ژوند کې برخه واخلی اوپه کار وګمارلې شی.

د ښو لوستو ښځو سره د چا سره چې د بشری حقونو ځانګې خبرې کړی غوښتنه کوله چې په ټولنه کې برخه واخلی او باور يې درلود چې هغوی کولای شی په ټولنه کې مثبت رول ولوبوی او هغوی اکثرا د نه ماتيدونکې مبارزې روحيه ښکاره کوله. يوې و ويل:

"ولی باید موږ ښځې ټول ځان په بشپړه توګه پټې کړو؟ په اسلام کې داسې څه شتون نه لري چې زه باید چادري په سر کړم. خو امنیتي وضعیت دومره بد دی چې زه د مجبورۍ له مخې ځان پټوم او له دې وضعیت څخه هغه کسان چې غواړي د ښځو ازادي محدوده کړي، ګټه پورته کوي."

دا تند او تیز بحثونه او پراخه نا امیدی د ښوونځۍ یوې ښځینه ښوونکې په ډاګه کړې:

"د څو لسیزو شخړو په پایله کې په افغانستان کې د نارینه وو نفوذ لا هم زیات شوی. حتی د اسلام ستر پیغمبر محمد (ص) هم د خپلې ښځې، خور او مور څخه سلامشورې اخیستي دي. ولی زموږ نارینه او واکداران نن نه شي کولای ورته کار ترسره کړي؟"

ښځو همدارنګه په ډاګه کړې چې احصایه په حکومت کې د ښځو شمیر ناسم ښی. زیاتره ښځې چې په حکومتی موقفونو کې قرار لری(په عمومی توګه تدریس کوی) خو په نادره توګه د مشرتابه په سیاسی موقفونو کې ځای لری.

د جنسیت پر اساس د توپیر په وړاندې مبارزه او د ښځو د پیاوړتیا موضوع حتی په پرتله ییز ډول په کلیوالی او د کندهار ښار په سوچه چاپیریال کې هم نسبتاً بحث پارونکې وه. د مرکچیانو په یوه ګډه ډله کې یوه شخص ادعاء وکړه چې زده کړې او اقتصادی فرصتونه باید لومړی نارینه وو ته په پام کې ونیول شی ځکه چې د هغوی په کورنیو کې هغوی د خپلو کورنیو لپاره د نفقې برابرونکی دی او نا لوستی او بې روزګاره نارینه د طالبانو سره د یو ځای کېدو تمایل لری. د دغه بحث په مخالفت کې یوی ښځې و ویل چې ناراضی او نا امیده ښځو په کورنیو کې تشنج ته مخه کړې او په ټوله ټولنه کې به بې ثباتی وغځیږی.

خلک په رښتیا د طالبانو سره خبرو اترو ته لیواله نه وو، خو دا یې درک کړې وه چې د یاغیتوب په وړاندې د پوځی ماتې په شتون کې کیدای شی خبرې اترې د اجتناب وړ نه وی، که چیرې دا د هغوی خوښې او یا خوښې نه وی. یوې ښځې و ویل:

"په افغانستان کې شخړه ډیره اوږده شوې. موږ نه شو کولای د طالبانو د شتون څخه سترګې پټې کړو. حکومت باید د هغوي سره خبرې اترې وکړي."

د دې سربېره، د یو شمیر افغانانو او طالبانو تر منځ کم علایق موجود وو. د هغو فعالینو تر منځ چې ګمان کیده "د سولې د تامین لپاره ګټور دی" (هغه اصطلاح چې د مثبتو عملونو له لارې د سولې تامین او د منفی عملونو مخنیوی کوی تر پوښښ لاندې نیسی)، د افغان حکومت، د افغانستان د ګاونډیو هیوادونو او د نړیوالو پوځی ځواکونو په پرتله طالبانو کمې رایې اخیستی دی.

د بشری حقونو په اړه د نړیوالې ټولنې له لیوالتیا څخه په درک سره، خو په یقین سره د بشری حقونو د ځانګې د هر ډول اشارې پرته، دې ښځې په خپلو خبرو کې د هر ډول خبرو اترو لپاره مخکینی شرایط یاد کړل کوم چې د یوناما او د نړیوالې ټولنې له خوا لا ډیر د پخوا څخه مطرح شوی وو:

″موږ باید په هیڅ حالت کې بشري حقونه او د ښځو حقونه د پروسې قرباني نه کړو. دواړه خواوې جدي، ریښتینو او پراخو اصلاحاتو ته اړتیا لري.″

خلک په افغانستان کې عموما(ښایی چې عمومیت ونه لری) د بهرنیو پوځی ځواکونو د دوامداره شتون سره مخالف نه وو، خو د یوې ښځېنه ښوونکې لاندې تبصری وړاندېز کوی چې افغان حکومت او بهرنی فعالین دواړه باید په بشپړه او شفافه توګه خلکو ته د معلوماتو د وړاندې کولو په برخه کې د پام وړ هڅې ترسره کړی:

″ کله چې د ایساف قوتونه افغانستان ته راغلل نو موږ یې د راتګ په علت نه پوهیدلو. اوس چې دوي له هیواده بېرته ستنیږي، بیا هم موږ د ستنیدو په علت نه پوهیږو.″

د کندهار له ولایت څخه د مدنی ټولنې یوه ښه لوستی استازی د حالت څخه یو ښه درک درلود، خو دی مسلې هغه ابهام او ناامیدی د کومو سره چې هغه مخ وه له منځه یو نه وړل:

″ افغانان نه په طالبانو او نه په حکومت باور لري. په افغانستان کې یوازې نړیوال (پوځي او ملکي ځواکونه) د سپیڅلتوب نوم لري. موږ په خاص ډول د ایساف او ملګرو ملتونو څخه نا هیلي یو،ځکه چې موږ د ۲۰۰۱، ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کلونو په ترڅ کې د چټک پرمختګ نه وروسته کوم مثبت بدلون و نه لید. ښایی خلکو غیر واقعیبینانه فکر کاوه او د معجزو په تمهو و، خو په دې کې شک نه شته چې هغوي احساس کوي چې نړیوالې ټولنې خپلې ژمنې نه دي ترسره کړي. ″

لکه څنګه چې تمه کیده هغه ولایت چې د پاکستان سره اوږده سرحدی پوله او نژادی اړیکې لری، زیات خلک په دې باور وو چې د پاکستان د همکارۍ نه پرته د سولې تامین نا شونی دی. د نژادی اړیکو سربېره، زیاترو خلکو د پاکستان په اړه د مشاهده شوی ویرانونکی نقش په اړه چې په هیواد کې یې ولوباوه، بې ساری منفی نظر درلود. یوه قومی مشر په پاکستان کې په ۲۰۱۳ کال کې د مدرسو ترلو ته د بېلګې په توګه اشاره وکړه او ویی ویل چې په دې اقدام سره پاکستان په زرګونو مذهبې بنسټګر او تلقین شوی زده کونکی افغانستان ته په زوره ولیږل. ځینو خلکو په ریښتیا سره د ښو (افغان) طالبانو، څوک چې د مناسبو او په دلیل برابرو طالبانو په حیث پیژندل شوی او د بدو (پاکستانی)

طالبانو تر منځ، چا ته چې د بهرنیو متعصبینو په سترګه کتل کیږی او بدنیته او ویجاړونکې انګیرنې لری "او د پاکستان د استخباراتی ادارې لخوا یرغمل شوی " تورپیر وکړی. ځینو خلکو د امریکا د متحده ایالاتونو او نړیوالې ټولنې د نفوذ په هکله غیر واقعی نظریې درلودلې( هغوی باید په افغانستان کې د پاکستان د مداخلو مخنیوی وکړی). ځینو خلکو د هرات او نیمروز ولایتونو په پرتله په کندهار کې د ایران د پیکه نفوذ په هکله ورته کمزوری نظر درلود. ځینو ویل چې "نه ایران او نه پاکستان یو باثباته افغانستان غواړی". سره د دې چې زیاتره خلک د بهرنۍ مداخلې په هکله حساس وو، خو د پاکستان او ای ایس ای په هکله یې هم خپله بې میلی پټه نه کړه، همدارنګه ځینو خلکو د افغانستان د عمومی، عنعنوی او د بې طرفۍ وقار هم څرګند کړ: ټول بهرنیان باید له افغانستان څخه و وزی او افغانانو ته د خپلو ستونزو د هوارۍ فرصت ورکړی.

## ۵. د خلکو سپارښتنې

د لاندنیو وړاندېزونو بنسټ د سلا مشورې پر پروسه ولاړ دی. د یو شمیر زیاتو او ( متنوع نظریو) څخه تعمیم شوی، د انفرادی اشخاصو د حکایتونو او محلی شکایتونو او نارضایتی ګانو څخه پاک، او د نړیوالو ښو فعالیتونو د پوهاوی او نړیوالو حقوقی تعهداتو په واسطه تشدید شوی، په رښتیا سره نه یوازې د کندهار ولایت په اړه بلکې د ټول افغانستان لپاره د تطبیق وړ او مناسب دی.

**د حکومتدارۍ، امنیت او ټیکاو پیاوړی کول:** (۱) په حکومت باندې د خلکو د اوسنی ویجاړونکی باور د کمېدو مسلې ته د ځواب ویلو په موخه، حکومت د ټولو سکټورونو په ټولو کچو کې ریښتینوالی، حساب ورکونې،مسلکیتوب،روڼوالی او صداقت تطبیق ته په سملاسی توګه د طرزالعملونو د لارې د عملی جامې ور اغوستل؛ (۲) د افغان امنیتی ځواکونو د ظرفیتونو لوړول ( د هغو نهادونو، واحدونو یا انفرادی اشخاصو په شمول څوک چې د اصلاح وړ نه دی منحلول، له منځه وړل او مجازات کول) څو د یاغیتوب په وړاندې ښه و روزل شی او د بشری حقونو او د بشر پالنې د قانون درناوی وکړی؛ (۳) په ټولو پالیسی ګانو او پرګرامونو کې د امنیت( بشری مصوونیت) د هر اړخیزې مفکورې ترویجول؛ (۴) د ټولو حکومتی ادارو، د دموکراسی پلوه ځواکونو( د بېلګې په توګه د مدنی ټولنې سازمانونه او خپلواکې رسنۍ) او د عامو افغانانو تر منځ د ډیالوګ زیاتوالی، څو وکولای شی اعتماد را منځ ته کړی، دوه اړخیزه درک ته وده ورکړی او په مساعدو مسلو کې سره په ګډه کار وکړی.

**د بشری حقونو او د قانون د حاکمیت وده او د معافیت له منځه وړل:** (۱) بشری حقونه مه خوشې کوئ. افغانان د بشری حقونو غوښتونکی دی؛ (۲) پراخ معافیت له منځه یوسئ، په خاص ډول د بشری حقونو جدی سرغړونې او د صلاحیت څخه جدی ناوړه ګټه؛

(۳) د بشری حقونو سره د خلکو د اشنایې د کچې لوړول او د بشری حقونو د تصدیق د مفکورې د ښه درک لپاره د بشری حقونو شعارونه، محتوا، امتیازونه او د بشری حقونو تحقق، او د بشری حقونو په هکله د لا زیات پوهاوی را منځ ته کول؛ (۴) د قانون د حاکمیت اصلاحات: په سملاسی ډول په عدلی سیستم کې( د زندانونو او توقیف ځایونو په سیستم کې) د فساد، ناوړه ګټې اخیستنې او د شفافیت د نه شتون په وړاندې مبارزه.

**د ټولنېزې او اقتصادی پرمختیا پیاوړی کول:** (۱) د ټولو انکشافی پلانونو، تطبیق او ارزونه کې د هغو نړیوالو پیژندل شویو روشونو کارول چې د بشری حقونو پر بنسټ ولاړ وی؛ (۲) د معارف په برخه کې په خاص ډول د نجونو، همدارنګه د تنکیو ځوانانو لپاره د سواد د زده کړې په شمول د پانګې تداوم او زیاتوالی؛ (۳) د نیستۍ په وړاندې، په ځانګړی ډول د کار د عادلانه او مساوی فرصتونو د را منځ ته کولو له لارې مبارزه؛ (۴) د کلیوالو سیمو د انکشافی اړتیاوو پیژندل او هغو ته ځواب ویل.

**د سولې او پخلاینې د پروسې د جامعیت ملاتړ:** (۱) د سولې او پخلاینې د اوسنیو فعالیتونو سملاسی اصلاحات څو هغه لا موثره واقع شی، او هغه فعالیتونه او اصلاحات او جوړښتونه چې ناقصی پایلې لری، منحل کړی؛ (۲) د میکانیزمونو پیاوړتیا، څو په عنعنوی لحاظ د تجرید شویو ډلو نظریې، د ښځو اوځوانانو په ګډون ترلاسه او شاملې کړی، دغه نظریې د اوږدمهالې سولې د تامین لپاره په پلانونو کې ځای کړی؛ (۳) د دولت او خلکو تر منځ د باور د تشې د ډکولو په موخه د مدنی ټولنې ملاتړ؛ (۴) د سولې او پخلاینې د پروسې د ورانکارو عناصرو او کسانو د بررسۍ په شمول چې د سولې د پروسې رهبری کوی، د منفی نفوذ مخه نیول . (۵) جنګی جرمونو او د بشریت په وړاندې د جرمونو د هر ډول عمومی بخښنې د اعلام ردونه.

# د زابل ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

د سولی دا ولایتی نقشه د تمرکز د ډلې د هغو خبرو اترو د موندنو لنډیز دی چې د زابل په ولایت کې د ۲۰۱۳ کال د می په میاشت کې ترسره شوی. د سلا مشورو په پروسه کې د ولایت د هرې خوا څخه خلکو او یو شمیر ځایې اوسیدونکو، قومی مشرانو، مذهبی مشرانو او د مدنی ټولنو فعالانو برخه اخیستې وه.

دا مشوری د د سولې په اړه د افغانانو د ډیالوګ د دوهمی دورې چی د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون په ګډون د دیولسو مدنی ټولنو لخوا د ۴۵۰۰ افغانانو سره د مشوری په موخه او د ۳۴ دسولی ولایتی نقشی د جوړیدو په خاطر ترسره شوی دی .

## ۲. ولایتی انځور: جغرافیه،جمعیت پیژندنه او سیاسی اوضاع

زابل د هیواد یو لېږې پروت او کم میشته ولایت دی. د زابل د ولایت زیاتره اوسیدونکی معیشتی بزګران دی څوک چې د کرهنیزو او حیوانی محصولاتو د تولید په فعالیتونو بوخت دی. په زابل ولایت کې په عملی توګه سپکې صنایع شتون نه لری. که څه هم چې دا ولایت د کابل او کندهار د حلقوی سړک تر منځ موقعیت لری خو دې ولایت تر زیاتې اندازې انکشاف نه دی کړی او د عامه خدمتونو څخه نه دی برخمن شوی.

د زابل د ولایت زیاتره اوسیدونکی پښتانه دی، د دې خلکو زیاتره برخه غلجی دی چې د توخو او د هوتکو د قبیلې څخه دی. د زابل ولایت د کوچیانو لپاره د مهاجرت په یوه مهمه دودیزه موسمی لاره واقع شوی او په ژمي کې په دې ولایت کې نږدې ۵۰۰۰۰ کوچیان اوسیږی.

قومی شوراګانې او مذهبی مشران(علما) د ټولنې ثابتې ستنې دی، او په ولایت کې د ټولنو سیاسی، مذهبی او ټولنیز ژوند متاثره کوی. هغوی همدارنګه په دودیز ډول د ټولنو او چارواکو تر منځ او د ځایې شخړو د هوارولو په برخه کې منځګړی نقش لوبولی دی.

د زابل په ولایت کې سیاست قومی دی او سیاسی واک ته لاسرسی په عنعنوی توګه د قومی تړاو او د ځمکې أه شتمنیو څخه سرچینه اخلی. د جنوب په څیر، په ولایت کې، په خاص ډول په کلیوالی سیمو کې د سیاسی ګوند فعالیتونه محدود دی. د سیاسی ګوندونو په اړه زیاتره خلک منفی انګیرنې لری او هغوی د څو لسیزو شخړو په ناکراریو کې ښکیل بولی او داسی انګیری چې زیاتره کړاو د سیاسی ګوندونو/ډلو لخوا را منځ ته شوی دی.

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې انګیزې

له هغه ځایه چې دا ولایت د هغو یاغیانو لپاره کوم چې په پاکستان کې میشت دی او د زابل له لارې افغانستان ته داخلیږی او بیا له همدی ځایه د هیواد نورو سیمو ته ځی یوه مهمه ترانزیتی لار ده او دولت ضد عناصر لا هم په ولایت کې د پام وړ شتون لری. د دولت ضد عناصرو لپاره په زابل ولایت کې د پراخ ملاتړ بنسټ د پښتونولی څخه د دولت ضد عناصرو د پیروی له امله او د اسلام څخه د هغوی د حنفی سنتی تفسیر کولو څخه سرچشمه اخلی، دا عمل په پراخه پیمانه د پښتنو او همدارنګه د قومی او د خپلولی د اړیکو پر اساس ترسره کیږی. په عمومی ډول، ګمان کیږی چې په زابل کی په ایدیالوژیک لحاظ د تحریک شویو طالبانو کم شمیر موجود وی. ګمان کیږی چې د ځایی طالبانو تر څنګ بهرنی طالبانو هم اکثرا د روزونکو په حیث کار کوی او دغه نقش په عمومی توګه د ځایې ټولنو لخوا هم د قبول وړ دی.

د زابل په ولایت کې په ځانګړې توګه په ولسوالیو کې د دولت په وړاندې زیاتره نه علاقه مندی د دې څخه سرچینه اخلی چې حکومتولی او د خدمتونو رسول ډیر زیات کمزوری دی. دا د یو شمیر فاکتورونو د ترکیب په نتیجه کې ، د بیلګې په توګه د محدودو مالی سرچینو، د ولسوالی د چارواکو په منځ کې د مهارتونو او ظرفیت د کمزورې کچې او همدارنګه د نا امنی څخه را منځ ته شوی. د پاکستان د پولې سره نږدې ولسوالی په خاص ډول زیانمنونکی دی، نو د له همدې امله د حکومت شتون د ولسوالیو تر اداری مرکزونو پورې محدود دی. په لېرې پرتو سیمو کې د با کفایته کسانو د استخدام او ځای په ځای کولو په برخه کې ستونزې هم هغه فاکتور دی چې د حکومت لخوا د خدمتونو د رسولو چارې محدودوی. د دغو لاملونو لپاره،یو شمیر کلیوالی ټولنی هم د حکومت په وړاندې تر زیاتې اندازې بې تفاوته دی، او ادعا کوی چې دوی له دولت څخه د لمس وړ هیڅ ډول ګټې نه دی تر لاسه کړی.

اقتصادی فاکتورونه هم د شخړې مهم لاملونه دی او د اشتغال د هر ډول بدیلو کاری فرصتونو په نه شتون کې زیاتره کسان د ابتدایې معاش او د اقتصادی معیشت د ترلاسه کولو په خاطر د طالبانو سره یو ځای کیږی.

په پراخه کچه د یوه موثره حکومت د نه شتون له امله، ځایې ټولنې عدالت ته د لاسرسی او د شخړو د حل په موخه د طالبانو موازی جوړښتونو ته مراجعه کوی. په زابل کې زیاتره شخړې د هغو شخړو په شمول په کومو کې چې جدی جرمونه شامل دی د مرکو(ځایې شورا) له لارې حل کیږی.په یو شمیر زیاتو سیمو کې،دا همدارنګه د طالبانو لپاره یو غیر عادی کار نه دی چې د شخړو په حل کې نقش ولوبوی. د زیاترو ادعاوو له

امله چې ګویا قاضیان او څارنوالان په فساد ککړ دی په رسمی عدلی سیستم باندی باور کم دی.

د دولت ضد عناصرو لخوا د ښوونځیو د ترلو، د ښوونځیو د تعمیرونو د کموالی، فرنیچر او زیربناوو، قرطاسیی او د مسلکی ښوونکو د نشتوالي له امله د معارف سکتور لا هم د زیاتو ننګونو سره مخ دی. د تعلیم د ترلاسه کولو کچه ډیره ټیټه ده، په ولایت کې د سواد ټولټال کچه ۱۰ سلنه ده چې یواځې دوه سلنه یې ښځې دی.

## ۴. د سولې لپاره د لارې نقشه

**د سولې او پخلاینې د پروسې د ټول شمولیت ملاتړ:** د سلا مشورو پروسې د هغه څه په اړه په کوم ډول چې د سولې او پخلاینې پروسه پر مخ وړل شوې هر اړخیزه ناخوښی ښکاره کړې. داسې احساس کیږی هغه کسان چې د سولې پروسه پر مخ بیایی په دې نه دی توانیدلی چې د ټولنې ټول سکټورونه، د طالبانو په شمول په موثره توګه په پروسه کې را ښکیل کړی،او د دې لپاره چې طالبان و هڅول شی او د جګړی څخه لاس پر سر شی د باور جوړولو لا نورو تدبیرونو ته اړتیا لیدل کیږی.

د ارغنداب د ولسوالی څخه یوه ملا خپل نظر په لاندې ډول وړاندې کړ؛

> که چیري طالبان په دی پوه شي چې د هغوي ژوند په خطر کې نه دی او حکومت به هغوي بندي نه کړي، هغوي به د سولې د پروسې سره یو ځای شي.

دا نظر د عالی ښوونځی یوه تن زده کونکی چا چې په دی خبرو اترو کې برخه اخیستې وه شریک کړ؛

> ”خلک او حکومت باید یو ځای کار وکړي، په خاص ډول د سولې لپاره. طالبانو وروڼو ته و ویل شي چې څنګه دوي باید خپلې وسلې په ځمکه کیږدي او د حکومت سره یو ځای شي. د هغه یواځیني دلیل لپاره چی طالبان لا هم جنګیږي هغه د یوه مناسب میکانیزم نه شتون دی تر څو هغوي ته د خوندیتوب ډاډ ورکړي چی کله هغوي وسلې په ځمکه کیږدي“.

یو شمیر زیاتو کسانو چا چې د سولې په پروسه کې په خبرو اترو کې برخه اخیستې داسی انګیری چې دوی د سولې د پروسې څخه د باندې پاتې شوی دی. ځینې په دې نظر وو چې د سولې د پروسې رهبری د هغو کسانو لخوا څخه نه کیږی څوک چې د سولې د پروسې لپاره په ریښتنې توګه کار کوی بلکه د هغو کسانو لخوا رهبری کیږی چې د خپلو شخصی ګټو په لټه کې دی. په زابل ولایت کې د ډله ییزې او ټولنیزې نظریې د ترغیب په برخه کې د قومی او مذهبی مشرانو د اهمیت په نظر کې نیولو سره، یو شمیر زیاتو

کسانو نظريې څرګندې کړی چې دغه مشران بايد د سولې او پخلاينې په پروسو کې مرکزی رول ولوبوی.

نورو بيا د سولې په پروسه کې د ښځو او ځوانانو د فعال ګډون غوښتنه کړې، او د خبرو اترو پر مهال چې کومه عمومی موضوع مطرح شوې هغه د هغه قشر په اړه وه څوک چې شخصی ګټو ته ژمن دی او د سولې د پروسې رهبری کوی ، هغه په حقيقت کې د ټولنو د پراخو هيلو استازيتوب نه کوی. يو شمير ګډون والو(د سولې د ولايتی شورا د غړو په شمول) و ويل چې،

"د سولې پروسه نه يواځې د سولې د عالې شورا مسوولیت دی بلکه د هر افغان دنده ده"

**د حکومتداری، امنيت او ټيکاو پياوړی کول:** د ولايتی مرکز څخه د باندې، د حکومت شتون او کنترول د ولسوالی تر اداری مزکزونو پورې محدود دی. په لېرې پرتو سيمو کې د استخدام په موخه د وړ کارکونکو د ګمارنې په برخه کې ستونزې هم يو فاکټور شميرل کيږی چې د حکومت اغيزمنتوب محدودوی.

که څه هم د خبرو اترو زياترو ګډون والو ويلی چې حتی په هغو څو ځايونو کې چيرې چې حکومت شتون درلود د ولسوالی په کچه د حکومت اداره کمزورې او فاسده وه. هغه څوک چې د حکومت مخالف نه وو تر زياتې اندازې بی تفاوته وو. په داسې حال کې چې زياتره خلک د فاسدو، نا لوستو او په خپلو ګټو د مينو حکومتی چارواکو څخه ستړی شوی،زياترو کسانو ويلی چې ځايې ټولنو طالبانو ته د هغوی د ستونزو د هوارولو په خاطر ترجيح ورکوی.

د شهر صفا، شاجوی او کاکړو ولسواليو څخه د يوې ډلې مشرانو په حواله؛

"د حکومت روش د اسلام مخالف دی. هغوي په فساد ککړ دي، هغوي د اسلام او يا د هيواد لپاره نه بلکه د خپلو ګټو لپاره کار کوي. طالبان په دې حواله د حکومت څخه ښه دي."

**د ټولنيزې او اقتصادی پرمختيا پياوړتيا:** د زابل د خلکو لپاره د اقتصادی فرصتونو نه شتون هغه مهم فاکټور دی چې ځوانان د طالبانو ليکو ته د جذبيدو په موخه هڅوی. د شهر صفا د ولسوالی څخه يوه مشر حالت په لاندې ډول خلاصه کوی؛

"په ولسواليو کې زياتره خلک کار نه لري،او حکومت هم هيڅ ډول کاري فرصتونه نه دي برابر کړي. له همدې امله، طالبان په دې توانيدلي چی وزګارو ځوانانو ته کار ورکړي، هغوي ته موټرسايکل او معاش ورکړي. دغه ډول امتيازونه د حکومت له خوا نه دي برابر شوي".

د نو بهار او شهر صفا د ولسوالیو څخه نورو مشرانو د معارف نه شتون ته د یوه لومړیتوب په حیث کتلی چې باید ورته ځواب و ویل شی.

″موږ په هغه څه کوم چې موږ ته د مرکزي حکومت لخوا راکړل شوی قناعت نه لرو. زموږ په ولسوالیو کې مناسب معارف نه شته. د نورو ولسوالیو زده کونکي اکثرا د هیواد څخه د باندی د لوړو زده کړو د ترسره کولو لپاره انتخابیږی.خو موږ د ښوونځیو په ابتدایې او منځنیو کچو کې د خپلو ماشومانو لپاره د معارف د تهیه کولو په برخه کې د ستونزو سره مخ یو″.

که څه هم چې په اوس حال کې د نا امنیو له وجې زیاتره ښوونځی تړلی دی، خو یو شمیر زیاتو کسانو د سولې د عالې شورا څخه غوښتې ځو د طالبانو سره خبرې پیل کړی او د هغوی څخه وغواړی څو د ښوونځیو بیا پرانیستلو ته اجازه وکړی.

**د بشری حقونو او د قانون د حاکمیت ترویج او معافیت ته ځواب ویل:** یو شمیر زیاتو کسانو چا چې د خبرو اترو په پروسه کې ګډون کړی و د پخپل سر او مفسد قضایې سیستم په هکله اندیښنه څرګنده کړې. د یو څو انفرادی کسانو د تجرید شویو عملونو په نتیجه کې ځینو کسانو شکایت کړی چی حکومتی چارواکو، څوک چې د قدرت د ځایی دلالانو لخوا تر نفوذ لاندې راغلی په حقیقت کې د ټول قوم په غړو "ډله ییزه سزا" ترسره کوی. نورو بیا ویلی چې حکومتی چارواکی په معمول ډول بې ګناه خلک بندی کوی. د ارغنداب څخه یوه مشر وویل؛

″د ولایت او ولسوالیو په کچه، محاکمې بې ګناه خلک بندي کوي، هغه بې ګناه خلک چې په خپلو ټولنو کې د درناوي وړ دي، وهي. خلک هیڅ حق نه لري ځکه چې قانون د قدرت د با نفوذه دلالانو په لاس کې دی″.

نورو کسانو بیا دې حقیقت ته پام جلب کړ چې چارواکی په توقیف کې د توقیف شویو کسانو سره ناوړه چلند کوی، او دا مسله یې د حکومت له اړخه د عمومی نیمګړتیاوو سره و نښلوله؛

″ما یو شمیر زیات زندانیان د چا سره چې حکومت بد چلند کړی و ولیدل. حکومت ډیر بد او فاسد دی.″

## ۵. د خلکو وړاندیزونه

لاندې وړاندیزونه د سلا مشورو د پروسې څخه را ایستل شوی او بنسټ یې د ګډون والو لخوا په پیژندل شویو لومړیتوبونو ولاړ دی.

**د سولې او پخلاینې د پروسې د ټول شمولیت ملاتړ:** (۱) ډاډ حاصل شی چې د سولې ولایتی شورا ته ټاکل شوی کسان وړ،موثره او بې پرې کسان وی؛ (۲) د سولې په پروسه کې د ښکیلتیا په موخه د طالبانو د تشویق په خاطر د اتبار لرونکو میکانیزمونو برابرول؛ (۳) د سولې او پخلاینې په پروسه کې د لا زیاتو ښځو او ځوانانو شاملول؛ (۴) ډاډ حاصل شی چې د قومی مشرانو او علماوو سره په مناسبه توګه د سولې د پروسې د یوې برخې په حیث سلا مشورې ترسره شی؛ (۵) د دې نظریې ترویج چې د سولې تامین نه یواځې د سیاسی نخبه ګانو بلکه د ټولو افغانانو مسوولیت دی؛

**د حکومتداري، امنیت او ټیکاو پیاوړي کول:** (۱) د حکومت د ټولو ارګانونو په ټولو کچو کې د ایمانداری، حساب ورکونې، مسلکی توب، روڼوالی او صداقت د منل شویو معیارونو چټک انفاذ، د وګړو لخوا په خپل حکومت باندې د موجوده نه اعتماد مسلې ته ځواب ویل؛ (۲) ډاډ حاصل شی چې په دولتی ریاستونو کې ګمارنې د لیاقت پر اساس ترسره شی او د بډو او فساد له لارې په سترو وړاندیز ورکونکو باندې ونه پلورل شی؛

**د ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا پیاوړي کول:** (۱) د داسیېکاری فرصتونو را منځ ته کول د کومو پر اساس چې طالبان و نه کولای شی ځوانان په خپلو لیکو کې په کار وګماری؛ (۲) د معارف په سکټور کې د پانګونې زیاتوالی؛

**د بشری حقونو او د قانون د حاکمیت ترویج او د معافیت له منځه وړل:** (۱) د قدرت د ځایې دلالانو د نفوذ او معافیت پای ته رسول؛ (۲) د شرعی قانون د رعایت ترویج؛ (۳) د اعتماد وړ او بې پرې عدلی سیستم را منځ ته کول؛

# د ارزګان ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه.

دسولی دا ولایتی نقشه د تمرکز د ډلې د هغو خبرو اترو د موندنو لنډیز وړاندې کوی کوم چې د ارزګان په ولایت کې د ۲۰۱۳ کال د مۍ په میاشت کې ترسره شوی. د سلا مشورو په پروسه کې د ولایت د هرې خوا څخه د ولایت اوسیدونکو، قومی مشرانو، ښوونکو او د مدنی ټولنو استازو برخه اخیستې و. دا سلا مشورې د سولې په اړه د افغان خلکو د ډیالوګ د دوهم پړاو د یوې برخې په حیث ترسره شوی.

## ۲. ولایتی انځور: جغرافیه،جمعیت پیژندنه او سیاسی اوضاع

د ارزګان ولایت د طالبانو د مشر ملا محمد عمر چا چې د دهراود په ولسوالی کې د ځلمیتوب دوره تیره کړې د زیږدو ځای دی، په ۲۰۰۱ کال کې د ارزګان د ولایت څخه ولسمشر کرزی د طالبانو په وړاندې خپل کمپاین پیل کړ. په داسې حال کې چې د ارزګان ولایت په قومی او کلتوری لحاظ د کندهار سره اړیکی لری، دا ولایت د ګاونډیو ولایتونو په پرتله متفاوت او د خپلواکۍ او خپل ځانی ادارې له لحاظه بې ساری دی.

ارزګان د هیواد په کچه زیات وروسته پاتې ولایت دی، د روانې شخړې له امله د افغان حکومت مخه ډب شوې او نه شی کولای اساسی ټولنیز خدمتونه برابر کړی، په حکومتداری کې ښه والې راولی او د قانون حاکمیت پلی کړی. له همدې امله د حکومت شتون د ولسوالیو تر مرکز او ولایتی پلازمینې ترینکوټ پورې محدود دی. په ولایت کې د دولت ضد عناصرو شتون او د فعالیت کولو قابلیت د دې ولایت جغرافیایې موقعیت، د قومونو تر منځ تشنج او د دولتی موقفونو او طبیعی زیرمو پر سر لاسرسی ته منسوب شوی. د ولایتی ادارې په قابلیت کې د وروستنیو اصلاحاتو سربیره څو وکولای شی خپلو وګړو ته خدمتونه ورسوی، د نیستی لوړه کچه، د معارف ټیټه کچه او پراخه بې کاری، ملکی ادارو او قضایی خدمتونو ته محدود لاسرسی د شخړې مهم لاملونه دی. د اوږد مهاله مودې ټیکاو لپاره د ولسوالی په کچه د جامع پراختیایی میکانیزمونو په هکله تمرکز ډیر مهم دی.

د ارزګان اقتصاد تر زیاتې اندازې غیر رسمی او زراعتی دی. د ولایت د کرهنیزو تولیداتو لپاره د مناسب ترانسپورت، زیرمې کولو او د مارکیټ د امکاناتو نه شتون د خوراکی توکو د تولیداتو کیفیت متاثره کړی او د دې توکو کیفیت اکثرا په معیار برابر نه وی. نو له همدې امله ځایی مارکیټ د سیالی وړ نه دی. د غنمو په قیمتونو کې عمومی کمښت زیاتره بزګران اړ ایستی چې د غنمو د کر څخه لاس واخلی او په ځای یې د تریاکو په کښت کې پانګونه وکړی. په ولایت کې د پراختیایې پروژو لپاره د تمویل کونکو لخوا د ملی سرچینو د عمومی کمښت او پوځی کموالی له امله بې کاری مخ په زیاتېدو ده.

په ولایت کې(نږدې ۹۲ سلنه) پښتانه اوسیږي او پاتې برخه یې هزاره اوسیدونکی دي چې په خاص ارزګان او ترینکوټ کې اوسیږي. په اټکلي ډول درې برخې پښتانه درانیان دي او پاتې یوه برخه غلجي دي.

د ارزګان په ولایت کې سیاست په اصل کې قومي دی. د طالبانو د رژیم د نسکورېدو راهیسې، د وسله والو ملیشاوو قومانده او کنټرول د یوه اضافي فاکټور په حیث را څرګند شوی او په ولایت کې دولتي موقفونو ته لاسرسی او سیاسي تحرکاتو ته شکل ورکوي. کلیوالي ټولنې د سیاسي ډلو په وړاندې د پام وړ نا باوري لري او ګمان کوي چې د قومي او ملي ګټو پر ځای سیاسي مشران خپلو انفرادي ګټو ته ژمن دي.

د ارزګان په ولایت کې د ښځو لخوا په عامه ژوند کې د ګډون کچه ډیره ټیټه ده، حتی که هغه چیرې د کندهار او هلمند ولایتونو سره پرتله شي. په ترینکوټ کې چې کومې ښځې د کورونو څخه د باندې لیدلې کیږي زیاتره یې د هیواد د نورو برخو څخه راغلي کډوال دي. په ولسوالیو کې د ښځو د خوځښت ازادي لا ډیره محدوده ده. په ولایت کې د ښځینه ښوونکو،ډاکټرانو او نرسانو کم شمیر موجود دی خو ډیرې کمې ښځې د کورونو څخه د باندې کار کوي او زیاتره ښځې په اصل کې د نورو ولایتونو څخه راغلي دي.

## ۳. د شخړې تحلیل: د شخړې انګیزې

د یوه خوندي او مطمین چاپیریال په را منځ ته کولو کې د افغان حکومت او نړیوالو پوځي ځواکونو د پاتې راتلو له امله د خبرو اترو پروسې پراخه ناهیلې را څرګنده کړې. خلکو هم د اداري فساد د نه له منځه وړلو، کمزورې حکومتدارۍ او د اساسي ټولنیزو خدمتونو د نه رسولو لپاره په دولت نیوکې کړې. همدارنګه حکومت نه دی توانیدلی چې د قانون حاکمیت پیاوړی کړي،عدالت ته لاسرسی تضمین کړي او یا د ټولنو هغه توقعات کوم چې د ټولنیز عدالت سره تړاو لري، پوره کړي. په پای کې، حکومت نه دی توانیدلی کاري فرصتونه را منځ ته کړي. د محاظه کارانه عنعنوي او مذهبي باورونو سره یو ځای دغو ناکامیو، د قومي همغږۍ نه شتون، د ملکي کسانو تلفاتو او نیستۍ دولت ضد عناصرو ته دا فرصت ورکړی څو د ځایي وګړو په ځینو برخو کې نفوذ وکړي.

د طالبانو یو شمیر جګپوړي مشران(ملا عمر،ملا برادر، ملا عباس او نورالدین ترابي) د ارزګان د ولایت څخه دي او ممکن لا هم په ټولنو د پام وړ نفوذ او اغیز ولري. همدارنګه راپور ورکړل شوی چې د طالبانو موازي جوړښتونه لا هم په ولایت کې فعال دي. په ټولیزه توګه، خلک د دولت ضد عناصرو ملاتړ نه کوي خو داسې ښکاري چې د دولت ضد عناصر د افغان ملي امنیتي ځواکونو د محدود شتون او د نړیوالو پوځې ځواکونو د بیرته وتو څخه ګټه پورته کوي، په خاص ډول، د ولایت په غرنیو او لېرې پرتو سیمو کې. د دولت ضد عناصر، د افغان دولت پاتې راتلل د افغان دولت پر ضد استعمالوي.

دتیرو څو کلونو په ترڅ کی ارزګان د حکومت پلوه ځواکونو(د پولیسو په شمول څوک چې ولسوال ته وفادار وی، او همدارنګه شخصی ملیشاوې) او طالبانو(په ټول ولایت کې د قوی نفوذ په درلودلو سره) تر منځ د مکررو جګړو شاهد وو. په خاص ډول، متاثرې شوې کورنۍ د څو کلونو راهیسې د ځایی هزاره ګانو، حکومت پلوه جنګ سالار عبدالحکیم شجاعی د فعالیتونو په هکله شکایت کوی.

په ترینکوټ او ګاونډیو سیمو کې د ښه والی او پرمختګونو سربیره، د ارزګان په ولایت کې امنیتی وضعیت بې ثباته او د نه پیشبینۍ وړ دی. ستونزمنې اراضی او جغرافیایی تجرید، د افغان ملی امنیتی ځواکون او لوجیستیکی ملاتړ نه شتون د ولایت امنیت متاثره کړی.د ایساف څخه افغان ملی امنیتی ځواکونو ته د امنیتی مسوولیتونو د لیږد په تعقیب، دولت ضد عناصرو خپل تمرکز د نړیوالو پوځی ځواکونو څخه افغان ملی امنیتی ځواکونو ته اړولی او د هغوی د بریدونو په پایله کې ملکی تلفات اوښتی. د سیمه ییزو تمایلاتو سره سم، دولت ضد عناصر د ځای پرځای شویو چاودیدونکو توکو کارولو ته دوام ورکړی، د افغان ملی امنیتی ځواکونو په پوستو د سپکو وسلو ډزې کوی او د حکومتی چارواکو او د هغو کسانو وژنو ته چې د حکومت ملاتړ کوی دوام ورکوی. په وروستیو میاشتو کې، د ولایتی شورا غړی،د شورا غړی،علماء، قومی مشران او نور با نفوذه اشخاص د حکومت ضد عناصرو له خوا د وژنو قربانی شوی دی.

## ۴. د سولې لپاره لارې نقشه

د سلا مشورو د پروسې په اوږدو کې، ګډونوالو په ارزګان کې د دوامداره نا امنی، د ټولنیزی او اقتصادی پرمختیا د نه شتون او د حکومت د کمزورو او فاسدو جوړښتونو تر منځ ښکاره اړیکه په ګوته کړې. ځینو د ارزګان ولایت د پراختیا او امنیتی تشو د ځواب ویلو په موخه د نړیوالې ټولنې په هڅو نیوکې کړی، یو شمیر نورو بیا په دې اړه خپګان ښکاره کړی او دا یې "بهرنۍ مداخله" ګڼلې. د حکومتی فساد او بې عدالتی په وړاندې د مبارزې کولو د غوښتنې تر څنګ، د کارونو د را منځ ته کولو او معارف د برابرولو په اړه زیاته غوښتنه شوې څو په دې توګه وکولای شی د هغو خلکو په حالت کې څوک چې په ولایت کې ژوند کوی بدلون را منځ ته کړی او د ځوانانو او هغو کسانو لپاره څوک چې د رایې یا انتخاب د حق څخه محروم وی څوک چی په بل ډول ښایی د یاغیانو لخوا جلب شی، هیلې را وټوکوی.

**د حکومتدارۍ، امنیت او ټیکاو پیاوړی کول:** د سلا مشورو پروسې د دولتی جوړښتونو په دننه کې د بې کفایتی، فساد او قوم پالنې په اړه هر اړخیزه نیوکه جوته کړې. یوه ګډون کونکی عمومی تمایلات په لاندې ډول شرح کړی،

"موږ ته خپل حقونه نه دي راکړل شوي، او ټولې حکومتي څوکۍ، د بشر پالني مرستي او نور عايدات او امتيازونه د ځايي جنګ سالارانوجيبونو ته ځي. يو بانفوذه شخص په عين وخت کې کولای شي پنځه دندې ونيسي او همدارنګه د هغو کسانو مخه ونيسي څوک چې د نوموړي د قوم سره تړاو و نه لري او د مرستو د ترلاسه کولو څخه يې محروم کړي. موږ يې له نظره غورځولي يو او دا د حکومت او خلکو تر منځ شخړې ته لار هواره وي."

ګډون والو په لويه پيمانه شکايتونه کړی چې په حکومتی اداره کې قومی توازن په نظر کې نه دی نيول شوی او د پوپلزيو(د درانيو د قوم د يوې قبيلې) د تسلط په هکله يې زياتې منفی تبصرې کړی.

. هغو کسانو چې د خبرو اترو په پروسه کې يې ګډون کړی و و ويل چې د افغان ملی پوليسو په روزنو او انظباط کې ښه والی راغلی، خو په دې هکله بايد لا نور کارونه هم ترسره شی. دوی همدارنګه د افغان ملی پوليسو او افغان سيمه ييزو پوليسو لپاره د لا نورو روزنو غوښتنه کړې.

د خپلوانو د طرفدارۍ او قومی تعصب د له منځه وړلو د يوې وسيلې په حيث، ګډون کونکو هيله څرګنده کړې چې په ټاکنو کې برخه واخلی او د کوم ګواښ او د ځايې جنګ سالارانو د فشار څخه پرته په ازادانه توګه خپلی نظريې څرګندې کړی. دوی همدارنګه د پارلمان د غړو په شمير کې چې وکولای شی په پارلمان کې د دوی څخه ښه استازيتوب وکړی، د زياتوالی غوښتنه کړې.

**د ټولنيزې او اقتصادی پراختيا پياوړتيا:** د خبرو اترو په پروسه کې د ګډون والو له خوا عمومی شکايت شوی چې د مرکزی حکومت او ولايتی ادارې لخوا د ارزګان د خلکو اساسی بشری مصوونيت او پراختيايې اړتياوو ته پام نه دی شوی. يو شمير زياتو ګډون والو هم شکايت کړی چې ګاونډی ولايتونه، په ځانګړې توګه د ډايکنډی ولايت د ټولنيزو او اقتصادی مرستو زياته اندازه په نا متناسب ډول ترلاسه کوی.

د ښوونې او روزنې د مناسبو امکاناتو نه شتون يوه مهمه انديښنه وه. د سولې د عالې شورا ولايتی مشر و ويل چې، له هغه ځايه چې د معارف سيستم په ارزکان کې ډير کمزوری دی، د ارزګان د ولايت د ليسو کمزوری زده کونکی نه شی کولای د کابل د زده کونکو سره سيالی وکړی چې کله دوی په پوهنتون کې د شموليت لپاره ازموينه ورکوی.

يوه تن مذهبی مشر و ويل چې،

"د ارزګان اوسیدونکي د کابل د ادارې لخوا له نظره غورځول شوي دي. زموږ ماشومان د معارف او روغتیا پالنې یو مناسب سیستم نه لري. زموږ ماشومان مناسب کار نه لري او حکومت په دې هکله هیڅ اقدامات نه دي ترسره کړي."

په داسې حال کې چې حکومت او نړیوالو تمویل کونکو د ښوونځیو او کلینیکونو لپاره نوې ودانۍ جوړې کړی، یو شمیر زیاتو کسانو د روزل شوو ښوونکو یا ډاکټرانو د نه شتون په اړه شکایت کړی او دا یې ویلی چې د اساسی عامه خدمتونو برابرول یو "سمبولیک" عمل وه.

نورو کسانو بیا د معارف او کاری فرصتونو د نه شتون تر منځ ښکاره رابطې او د دولت ضد عناصرو قابلیت ته چې نوی جنګیالی استخداموی، اشاره کړې. یو شمیر زیاتو کسانو یادونه کړې چې د کاری فرصتونو د نه شتون په نتیجه کې نیستی او نا امنی د حکومت او خلکو تر منځ واټن را منځ ته کړی او دغه ټولنیزه تشه یا نارضایتی د دولت ضد عناصرو په خپله ګټه کارولې.

د پوهنتون د یوه ښوونکی په حواله چا چې د خبرو اترو پر مهال خبرې وکړې، د نورو حقونو د واقعی لاسته راوړنو لپاره معارف ته لاسرسی یو وړاندینی شرط دی.

"بشري حقونو ته باید لومړیتوب ورکړل شي، خو کله چې موږ سوله او ټیکاو و نه لرو نو بیا دا یو ستونزمن کار دی. که چیرې ځوانان و نه شي کولای ښوونځیو او پوهنتونو ته ولاړ شي او کار تر لاسه نه کړي نو بیا د ښځو د حقونو ارزښت څه دی؟"

په ځانګړې توګه د بریښنا نه شتون هم د ارزګان د ټولنیزی او اقتصادی پراختیا د مخنیوی په برخه کې یو ستر فاکتور دی. دا ولایت لا هم د انرژۍ د ملی شبکې سره نه دی نښلول شوی او د بریښنا ریاست هم ترینکوټ او دهراود ولسوالیو ته کمه اندازه بریښنا ورکوی. زیاترو کسانو چا چې د خبرو اترو په پروسه کې ګډون کړی د بریښنا په وزیر نیوکې کړی او په هغه یې تور پورې کړی چې د کافی اندازې د بریښنا د نه ورکولو له لارې یې عمداً غوښتل چې په جنوبی افغانستان کې اقتصادی پراختیا محدوده کړی.

په ارزګان کې ځایی اوسیدونکو هم د نړیوالو تمویل کونکو لخوا د ناسمو یا غیر مناسبو لګښتونو په اړه ناهیلی څرګنده کړې. یو شمیر زیاتو کسانو شکایت کړی چې زیاتره نړیوالې پراختیایې مرستې د نړیوالو قراردادیانو په اجارو لګیدلی دی او یا یې فاسدو چارواکو ته اختصاص کړی او هغه اندازه پیسې یې چې دلته په پروژو لګولی د افغانستان څخه د باندې د خلکو جیبونو ته تللی. د چینارتو د ولسوالی څخه یوه تن مشر وویل،

"د نړیوالې ټولنې لخوا د ارزګان په ولایت کې په میلیونونو دالره مصرف شوي،خو زیاتره پیسې د یو څو خلکو جیبونو ته، چا چې په کابل،دوبۍ او نورو ملکونو کې د تجملي ژوند په برخه کې پانګونه کړې، تللي دي."

خلکو همدارنګه شکایت کړی چې یو شمیر هغه زیاتې پروژې چې د نړیوالې ټولنې لخوا تمویل شوې د ځایي اداري سره د مشورې نه پرته پلې شوې چې د زیاترو پروژو کیفیت ښه نه و او یا هیڅ نه دی بشپړې شوې.

دغه نظریه په افغانستان کې د نړیوال مداخلت د هغې عیب لرونکې نظریې سره تړاو درلود د کومې په ذریعه چې نړیواله ټولنه "موږ ته په یوه لاس پیسې راکوي او په بل لاس مو وژني"، د ترینکوټ څخه یوه مشر سړی و ویل. ځینو بیا د دسیسې او توطیې د تیورۍ یادونه کړې چې ګواکې د امریکا د مرکزی استخباراتو اداره د طالبانو ملاتړ کوی او غواړی په دې توګه په افغانستان کې جنګ سیمه ییزې جیوپولیتیک د لوبې د یوې برخې په توګه پر مخ یوځی. نورو بیا د یوناما څخه غوښتنه کړې چې د خپل نفوذ څخه کار واخلی څو پاکستان او ایران اړ کړی چې د افغانستان په چارو کې مداخله و نه کړی. د ترینکوټ یوه اوسیدونکی په عام ډول منل شوې نظریه داسې وړاندې کړ؛

"نړیواله ټولنه باید زموږ په کورنیو چارو کې مداخله و نه کړي او افغانانو ته اجازه ورکړي چې د خپل هیواد د بیارغونې لپاره کار وکړي."

**د بشری حقونو او د قانون د حاکمیت ترویج او معافیت ته ځواب ویل:** ګډون کونکو د حکومت پلوه ځایې هزاره جنګ سالار عبدالحکیم شجاعی د فعالیتونو په اړه شکایتونه کړی.شجاعی او د افغان سیمه ییزو پولیسو یوه ډله کومه چې نوموړی ته وفاداره ده د تیرو دریو کلونو په ترڅ کې د یو شمیر غیر قضایی وژنو په تور تورنه ده. د نوموړی د نیولو په اړه یو شمیر حکمونه نه دی پلی شوی. د ځایې ټولنو له خوا متعددې ادعاوې موجودې دی چې د افغان حکومت او امریکایې پوځ په دننه کې د شجاعی قوی ملاتړی موجود دی ځکه چې نوموړی د طالبانو په وړاندې یو موثره ( خو بې رحمه ) جنګیالی دی. په عدلی سیستم هم چې ګمان کیږی کمزوری او له فساد څخه ډک دی، پراخې نیوکې موجودې وې. یو له هغو څخه چا چې د خبرو اترو په پروسه ګی ګډون کړی و، دا شکایت درلود؛

"موږ وینو چې یو شمیر زیات بې ګناه کسان د هیڅ ډول دلیل پرته په زندانونو کې پراته دي. زیاتره کسان ځکه په زندانونو کې پراته دي چې هغوی نه دي توانیدلي افغان ملی پولیسو، څارنوالانو او یا قاضیانو ته بډې ورکړي."

ګډون والو د هغو کسانو خوښې کیدل څوک چې کافې اندازه پیسې لری او رشوت ورکولای شی یو عادی عمل وګاڼه، حال دا چې یو شمیر زیات بې ګناه خلک د هغو جرمونو د ارتکاب لپاره کوم چې هغوی نه دی ترسره کړی، د اقرار کولو په نیت شکنجه کړی. داسې قضیې د یوه تن ګډون وال لخوا په ډاګه شوې او ویلی یې دی چې دا د حکومت ضد احساساتو د راپارولو لپاره یو مهم خوځنده فاکتور دی؛

"حکومت د هغه چا څخه چې په غلطه بندی شوی، څه توقع لري؟ ایا نوموړی به د حکومت ملاتړ وکړي او که به د حکومت په وړاندې ودریږي؟ زه وایم چې هغه به حتمي وسله واخلی او د فاسدی ادارې په وړاندې به مبارزه وکړي."

## ۵. د خلکو وړاندیزونه:

لاندې وړاندیزونه د سلا مشورو د پروسې څخه را ایستل شوی دی او بنسټ یې د ګډون والو لخوا په پیژندل شویو لومړیتوبونو ولاړ دی.

**د حکومت داری، امنیت او ټیکاو پیاوړی کول:** ۱) د حکومت د ټولو ارګانونو په ټولو کچو کې د ایمانداری، حساب ورکونې، مسلکی توب، روڼوالی او صداقت د منل شویو معیارونو چټک انفاذ، د وګړو لخوا په خپل حکومت باندې د موجوده نه اعتماد مسلې ته ځواب ویل.

۲) ډاډ حاصل شی چې په دولتی ریاستونو کې ګمارنې د قومی تړون پر اساس نه بلکه د لیاقت پر اساس ترسره شی.

۳) د افغان امنیتی ځواکونو د مسلکی توب د پیاوړتیا د چارو دوام څو د موثره جنګیالی په توګه هغوی د یاغیتوب په وړاندې ښه و روزی او د بشری حقونو او د بشر پالنې د قانون څخه د هغوی رعایت پیاوړی کړی.

۴) د پارلمان د هغو غړو په شمیر کې زیاتوالی چې په پارلمان کې د ارزګان څخه استازیتوب کوی.

**د ټولنیزې او قتصادی پرمختیا پیاوړتیا:**

۱. د کاری فرصتونو د را منځ ته کولو په هکله د لا زیات تمرکز له لارې د نیستی او نا امنی په وړاندې مبارزه

۲. د معارف په سکتور کې په خاص ډول د ښوونکو د ګمارنې،روزنو او ظرفیت د ښه کولو په برخه کې زیاته پانګونه

۳. د روغتیا پالنې په سیستم کې په خاص ډول د طبی کارکونکو د ګمارنې،روزنو او ظرفیت د ښه کولو په برخه کې زیاته پانګونه

۴. د بریښنا د ملی شبکی سره د ارزگان نښلول
۵. د پراختیايي پروژو ښه کنترول او نظارت څو د ضایعاتو او کمزوری پلی کولو د مخنیوی څخه ډاډ حاصل شی.

**د بشری حقونو او د قانون د حاکمیت ترویج او معافیت ته ځواب ویل**

۱. د ځواکمنو جنگ سالارانو د نفوذ او معافیت له منځه وړل
۲. د بشری حقونو او د ځواک د ناو ړه کارولو د جدی سرغړونو د معافیت پای ته رسول
۳. د دې لپاره چې د شخړو د حل لپاره له تاوتریخوالی څخه مخنیوی وشی باید بو بې پلوه او باوری قضایی سیستم رامنځته شی.

# د غور ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پيژندنه

دسولی دا ولایتی نقشه د هغو کلیدی موندنو او مسلو لنډيز بيانوی چې د ټمرکز د ډلو په بحثونو، انفرادی مرکو او د نظريو په هغو سروې ګانو کې چې د ۱۵۰ افغانانو سره دغور په ولایت کې د مشاورت په بهير کې را پورته شوی دی. په ګډون والو کې د بيلابيلو ټولنيزو او سياسی سابقو څخه کسان چې په کې د دولت کارمندان، د ټولنو او کليو مشران، بزګران، ښوونکی، دمدنی ټولنو استازی. دينی عالمان او د ټولنې سره بيرته يوځای شوی (بخوانی طالبان) چې ۳۵ سلنه يې ښځينه ګډون والې وې شامل وو.

دا مشورتی غوندی د سولی په هکله د افغانانو د خبرو اترو ( چی ددی څخه وروسته خبرو اتری نومول کيږی) ددويم مرحلی د يو ی برخی په توګه د ۱۱ مدنی ټولنو او د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کميسيون لخوا د ۴۵۰۰ عادی افغانانو څخه زيات کسانو سره د سولی د ۳۴ محلی نقشی د برابرولو په موخه تر سره شول.

د سولې لپاره د لارې د محلی نقشې موخه داده څو د شخړې محلی انګيزې په هر اړخيز ډول تحليل شی او همدارنګه داسې مناسب د حل لارې تشخيص شی چې د دې سره مرسته وکړی چې د غور په ولايت کې سوله او ټيکاو استحکام ومومی.

## ۲. ولايتی انځور: جغرافيه، نفوس او سياسی وضعيت

د غور ولايت د افغانستان په مرکزی-لويديځه سيمه کې موقعيت لری او ۳۸۵۷۹ کلومتره مربع مساحت لری او د نورو نهو ولايتونو سره پوله لری: بادغيس، باميان، دايکندی، فراه، فارياب، هلمند، هرات، سر پل او د ارزګان ولايتونه، او د هېواد د سهيل، شمال، لويديځ او مرکزی سيمې سره نښلوی. دغه ولايت په لسو اداری ولسواليو ويشل شوی دی چې چغچران يې د ولايت مرکز دی.[۱۹۰] غور يو غرنی او غير پرمختللی ولايت دی؛ هغه د ژمی د سخت موسم له امله چې په کې درنې واورې اوری د ستونزو سره چې په کې هر کال لارې او معبرونه تړل کيږی او دغه ولايت د نورو سيمو څخه تجريد کوی مخ وی.

د مرکزی احصايې د دفتر د ارقامو له مخې د غور د ولايت نفوس ۶۴۶۳۰۰ تنه دی، خو د نورو اټکلونو له مخې دغه نفوس تر ۷۸۰۰۰۰ پورې پورته کيږی. چغچران په دغه ولايت کې تر ټولو با نفوسه ولسوالی ده چې نفوس يې ۱۳۱۸۰۰تنه دی، ورپسې لعل او سرجنګل ( ۱۰۸۹۰۰ ) ، ساغر( ۳۳۷۰۰)، دولت يار( ۳۱۸۰۰) او چارسده (۲۶۶۰۰) تنه دی. پسابند (۹۲۲۰۰)، تيواره (۳۸۹۰۰)، شهرک ( ۵۸۲۰۰)، تولک (۵۰۰۰۰)، دولينه (۳۵۱۰۰).

دغه ولايت په عمومی صورت تاجک ميشته ولايت دی چې ورپسې هزاره ګان په دوهمه درجه کې د ۱۷٪ څخه زيات دی، په داسې حال کې چې پښتانه ۲-۳ ٪ دی. په دغه ولايت

[۱۹۰] د ولايت مرکز د تيواره څخه چغچران ته په ۱۹۶۵ کال کې وليږدول شو.

کې دوه مذهبي فرقې دي- سنيان چې اکثريت دي او دغور په ټولو سيمو کې دي ، په داسې حال کې چې اهل تشيع نږدې ۱۷ ٪ دي او زياتره په لعل سرجنگل ولسوالۍ کې اوږد پسابند او دولتيار د ولسواليو په ځينو کوچنيو کليو کې هستوګنه لري. د ولايت اکثريت وګړي په دري خبرې کوي . د دوبي په موسم کې پښتانه کوچيان د فراه ، هلمند، هرات، او بادغيس د ولايتونو څخه کډوال کيږي. د ولايت د مقام له خوا په ۲۰۱۲ کال کې نږدې ۲۰۰۰۰ موسمي کوچيان اټکل شوي وو.

د طالبانو د وتلو تر مخه د غور ولايت د جمعيت اسلامي[۱۹۱] او حزب اسلامي د ګوندونو له خوا تر کنترول لاندې و. د پښتنو د نفوس د پام وړ کموالي او د سختو ژميو له امله په خوځښتونو کې خنډونه را منځته کيږي او له همدې امله د طالبانو د نفوذ مخنيوی شوی دی، خو بيا هم د لسو څخه په اتوو ولسواليو کې يو څه ناڅه حضور لري. خو د دې سره سره په دغه ولايت کې د ټيکاو د نشتوالي ځينې نور ستر لاملونه هم شتون لري چې هغه قومي شخړې او د ناقانونه وسله والو ډلو موجوديت دی چې پر ټيکاو منفي اغيز لري.

## ۳. د شخړې تحليل: د شخړې ډولونه او انګيزې

**د شخړې ډولونه:** د مشورو پر مهال د غور د ولايت خلکو يو له بل سره تړلې شخړې چې په کې د طالبانو له خوا شورش ، سياسي لانجې، د نژادي ډلو تر منځ، قومونو تر منځ او د ناقانونه وسله والو ډلو تر منځ شخړې.

د غور ولايت د دې له امله پر ځان منحصر ولايت دی چې اکثريت نفوس يې تاجکان دي، چې په کې د هزاره نفوس په ختيځ او زياتره د لعل سرجنګل په ولسوالۍ او د دولت يار په يوه برخه کې دي. يواځې د اټکل له مخې ۲-۳ ٪ نفوس په قومي لحاظ پښتانه دي ، او په دوديز لحاظ د طالبانو پلويان دي. په غور کې اساسي شخړه قومي ده، چې ډيری وخت د قبيلو ترمنځ اوږد مهاله شخړې دي. د قومي شخړو څخه پخوانۍ مجاهدين ګټه پورته کوي چې هغوی ناقانونه وسله والې ډلې تشکيل کړي دي چې د خپل ځان او خپلو قبيلوی ګټو څخه ساتنه وکړي؛ د سياست والو له خوا د قومي وفاداريو څخه د دې لپاره کار اخيستل کيږي چې خپله ځواکمني وساتي، او د طالبانو له خوا دغه تفرقې د دې لپاره کارولې شي چې د هغو محلي ټولنو او کليو چېرته چې هغوی دوديز نفوذ نه لري همکاري راجلبه کړي.

**قبيلوی شخړې:** د غور ولايت د قومونو تر منځ د شخړې له امله ځوريږي. قبيلې ځينې وختونه د دولت ضد عناصرو په شکل کې ، د ځمکو پر سر د جګړې، د کوچنيو قبيلو او خيلونو تر تسلط لاندې را وستلو، او همدارنګه د ناموس پر مسلو يو له بل سره نښتې

[۱۹۱] اسلامي جمعيت او اسلامي ګوند د طالبانو رقيب ګوندونه پاتې شوي دي .

لری. ځینې شخړې چې د ګډون والو له خوا توضیح شوی دی څو نسلونه وړاندې ځی او د تسلط، د ځمکو د شریکوالی او د بیلابیلو قومونو د ځواکمنولو څخه را ولاړیږی. که څه هم اتنیکی شخړه هم په ولایت کې شتون لری، زیاتره د تاجکانو د نفوس ویش په قبیلوی ستونزو له امله دی د دې پر ځای چې هغه قومی وی. په شهرک او تیوارا ولسوالیو کې یوې د کور میرمنې دا لاندې څه مشاهده کړی دی:

" د شهرک او تیوارا په ولسوالیو کې د پهلوان او چشتي قبیلو [ دواړه تاجکان ] تر منځ ستونزې په دغو دوو ولسوالیو کې د خلکو تر منځ اکثره شخړې را منځته کوي. "

د ځینو قبیلو له خوا د نورو قبیلو مطیع کول د تیرو زیاتو نسلونو څخه را په دې خوا اوږد مهاله اختلافات را منځته کړی دی چې په پایله کې یې شخړې او منازعې رامنځته کیږی. قبیلوی اختلاف د وژنو او ژوبلو لامل کیږی او په پایله کې غچ اخیستنې د بده مرغه په غور کې عامې دی. د یوه زده کوونکی د وینا له مخې:

"د قبیلې د مشر دلچسپي په دې کې ده چې نورې هغه قبیلې چې ورسره د لسیزو لاینحله اختلافات او نښتې لري او لیدل کیږي چې وروستنۍ او دمنلو حل لاره او یا هم د حکومت له خوا کومه اراده او میکانیزم د دې لپاره نه وي چې د متخاصمو قبیلو تر منځ دغه شخړې پای ته ورسوي، تر خپل نفوذ لاندې راولي. "

پر یو مهال ځینې قبیلې د حکومت سره په لاس یو کولو او د خپلوانو د لارې په نورو قبیلو باندې په ولایت کې خپله تسلط چلوی. د یو تن محلی مشر په وینا:

"درې سترې قبیلې په دغو نښتو کې ښکیلې دي او په ولایت کې زیاتره شخړې رامنځته کوي. هغوي د غور د ولایت د دولت یار په ولسوالۍ کې سرکونه بندوي اود نادولتي موسسې ( انجو) کار کوونکي ډاروي. اکثره د قبیلې وګړي د دولتي ادارو له خوا استخدام شوي دي او په عین وخت کې د منازعې لاملونه دي. "

ګډون والو په ۲۰۱۱ کال کې د دولت یار په ولسوالی کې د ناموس پر سر د وژنې د یوې پیښې یادونه وکړه چې د هغې په پایله کې د نښتو او هدفی وژنو له امله شپږ مړینې را منځته شوې- شخړه تر نن ورځې پورې نه ده هواره شوې. دغه وضعیت هغه مهال رامنځته شوکله چې یوې قبیلې یوه میرمن د مخالفې قبیلې څخه وتښتوله، او په دې توګه یې د غچ اخیستنې لړۍ را منځته کړه. د غور د ولایت څخه د یو تن سوداګر په وینا:

" د غور په ولایت کې باید د ښځو د حقونو درناوی وشي څو په دې توګه د قبیلوي شخړو مخنیوی وشي. ښځې د فرهنګي حقونو د سرغړونو سره مخ دي."

قبیلوی شخړې په ولسوالیو کې موجودې دی او دا د منازعې د نورو ډولونو لپاره چې همدا اوس د غور په ولایت کې موجودې دی زمینه او چوکاټ برابروی.

**د طالبانو په مشرۍ شورش:** خلکو د دې یادونه وکړه چې د دولت او د طالبانو د ډلو تر منځ نښته چې قوی معتقدات لری په غور کې د شخړې یو له لاملونو څخه دی. یوې ښځینه زده کوونکی و ویل:

" طالبان زیاتره د دولت ضد دي او هغوي وایي چې دولت امریکایي پروژې پلي کوي. بشري حقونه د هغوي لپاره د منلو وړ نه دي ځکه چې هغوي په دې عقیده دي چې بشري حقونه یوه غربې پدیده ده چې دا د شرعیت پرخلاف ده. دغه وګړي د بشري حقونو لپاره تهدید دی. زه یوه ښځه یم چې د نجونو په ښوونځي کې کار کوم، او هلته د طالبانو له خوا ګواښونه را رسیږي څو خپله دنده پریږدم ځکه چې د ښوونځي چاپېریال دهغو له پامه د اسلامي احکامو سره په سمون کې نه دی."

که څه هم د غور ولایت د طالبانو د شورش لپاره زمینه نه درلودله دغې ډلې په ولایت کې د قبیلوی اختلافاتو او اپورتونیستو قوماندانانو د کارولو لارې ځانته لاره ووندله. ګډون والو د دې یادونه وکړه په داسې حال کې چې د دولت ضد عناصرو دډلو شمېره د دې لپاره کافی نه ده چې اوږد مهاله بې ثباتی راولی، هغوی د ټولنې د اختلافاتو څخه ګټه اخلی څو هلته فعال و اوسی. د غور اوسیدونکو په عامه توګه ادعاء کړې چې ځینې وسله والې ډلې چې د طالبانو په نوم فعالې دی د بهرنیو هېوادونو ملاتړ د ځانه سره لری اوداسې یوه اجنډا لری څو پر هېواد مسلط شی.

**ناقانونه وسله والې ډلې:** دغور په ولایت کې ناقانونه وسله والې ډلې په مشخصه توګه معلومول ستونزمن دی ،ځکه چې ډېری وخت هغوی د قبیلوی دفاعی ډلو او هغو ډلو تر منځ چې په خپلواکه توګه د ًقبیلوی جوړښت لپاتره فعالې دی تر منځ شتون لری. ځینې نا قانونه وسله والې ډلې دې ته متمایلې دی چې د دولت لوری ونیسی، او نورې بیا په مخالفت کې دی، خو د هغوی پریکړې د هغوی په شخصی ګټو پورې تړلی دی او د عقیدې پر خلاف دی[١٩٢]. د غور د ولایت د یوه تن بزګر په وینا:

[١٩٢]نا قانونه وسله وال ډلی یو هغه بیل کټګوری د طالبان د او د دولت ضد عناصر دی . ددولت مخالف عناصر د هغو مسلح ګرو پونو څخه عبارت دی چی په مستقیمه ټوګه ددولت او یا بین المللی قوا په مقابل کی د خپل ایدیالوژی یا اقتصادی اهدافو په خاطر جګړه کوی.

" ډیری ناقانونه وسله والې ډلې د قبیلوي او شخصي مسلو لپاره جنګیږي. د هغوي ځینې یې یواځې غواړي چې په سیمه کې خپله څواکمني وساتي او د دولت څخه مالي ملاتړ تر لاسه کړي.

هغه تلفات چې دوی ته رسیدلی دی د پام وړ دی. د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون معلومات ورکړی دی چې ناقانونه وسله والو ډلو ۲۸۲ تلفات ( ۱۵۲ غیر جنګی کسن وژل شوی او نور ۱۳۰ تنه ټپیان دی) تر اوسه پورې په ۱۳۹۲ لمریز کال رامنځته کړی دی ( مارچ ۲۰۱۳-مارچ ۲۰۱۴ ). د مقایسې په توګه د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ څخه تر ډسمبر ۲۰۱۳ پورې د څلورو څخه په زیاتو کلونو کې یوناما ۲۰۳ ملکی تلفات ( ۹۷ ملکی وژنې او ۱۰۶ ټپی کېدنې) چې د وسله والې جګړې له امله را ولاړ شوی دی ثبت کړی دی. د دې موضوع په اړه د تفصیل ورکولو په لړ کې یوه تن ښوونکی توضیح کړه:

" ټولې اړونده ډلې چې په اوسنۍ جګړه کې په دغه ولایت کې ښکیلې دي مشترکه ګټه لري: د ساحې په یوه مشخصه برخه کې د د واکمنۍ درلودلو فرصت، د دې سره، د بیلګې په توګه د طالبانو او ناقانونه وسله والو ډلو تر منځ نږدې اړیکي دي چې سره یوځاي سازش کولای شي. د دولت ضد عناصر به وکولای شي چې په ځانګړو ساحو کې چې د ناقانونه وسله والو ډلو له خوا کنترولیږي په ازادانه توګه خوځښت ولري، او د دې په بدل کې نا قانونه وسله والې ډلې به په دې کې ستونزه نه لري چې خپلې ساحې کنترول کړي او همدارنګه د دولت ضد عناصرو له خوا به د اړتیا په صورت کې ملاتړ او تحفظ تر لاسه کوي. "

لکه چې پورته یادونه وشوه د طالبانو د ملاتړ شمیر دغور په ولایت کې نسبتآ کم دی، خو طالبانو د قبیلوی تفرقې څخه په ګټنې سره هلته تیری کړی دی چې پخوا یې هلته ځای نه درلود. یو تن پخوانی دولتی چارواکی و ویل:

" د پساوند په ولسوالي کې خلک په دوو ډلو ویشل شوي دي، یوه ډله د دولت ضد عناصرو څخه ملاتړ کوي او بله برخه یې د دولت او یا هم ناقانونه وسله والو ډلو چې د دولت پلویان دي ملاتړ لري. هره قبیله یوتن ځایي مشر او یا قوماندان لري چې د قبیلې مشري او ساتنه کوي."

دغه ډول شخړې په ژوره توګه یو له بلې سره په تړاو کې دی او یوه بله تغذیه کوی. حتی د محلی ټولنو لپاره چې ورسره مشورې شوی دی دا ستونزمنه ده چې د خالصو قبیلوی شخړو ، خالصو سیاسی شخړو او هغو شخړو تر منځ چې د جګړو له امله د محلی قوماندانانو او د دولت ضد عناصرو تر منځ راولاړې شوی دی توپیر وشی..

**د جګړې انګيزې:** ګډون والو د غور په ولايت کې د جګړې ګڼه شميره کې انګيزې چې په هغو کې قبيلوی شخړې، د اغيزمنې حکومتولۍ کموالی، د قانون د حاکميت نشتوالی، بې وزلی، د پوهنې د کچې ټيټوالی، د طالبانو او د ټولنې د محافظه کارو عناصرو تر منځ ايډيالوژيکی اختلافات، دسياست والو او ځواکمن کونکو کسانو نفوذ، د سولې د روان بهير غير اغيزمنتيا، او دبهرنيو دولتونو نفوذ او مداخلې شاملې دی.

**قبيلوی شخړې:** ډيری مرکه کوونکو او ګډون والو و ويل چې د غور په ولايت کې د شخړې اساسی لامل هلته قبيلوی شخړې دی. د غور د ولايت ډيری قبيلې هغسې شخړې لری چې د نسلونو څخه هلته پاتې ذی، چې د بيلابيلو قبيلو تر منځ په نورو قبيلو او خيلونو باندې د ځواکمنتيا په موخه ورڅخه کار اخيستل کيږی. ځينې شخړې د ښځو او ناموس پر سر دی. تر ټولو زياتې اساسی شخړې د ځواکمنۍ د څرګندولو په موخه دی. د پسابند د ولسوالی د ټرک د يو تن چلونکی په وينا:

> " اکثره شخړې قبيلوي دي او يا هم په سياسي ګوندونو پورې اړوندې دي. زموږ په ولسوالي کې ډيری شخړې د ځواک تر لاسه کولو له امله دي."

بيلابيلو قبيلو په اساسی توګه خپل دريځونه تبديل کړی دی د دولت او يا هم د طالبانو د تحريک سره يوځای شوی دی او دا په دې پورې اړونده دی چې د دوی سيالانو څه ډول موقف نيولی دی د کومې خوا سره دريدلی او دا چې په راتلونکی وخت کې څه شی د هغوی په ګټه دی. د يوه زده کوونکی په وينا چې په اصل کې د شهرک د ولسوالی څخه دی:

> " دلته د محلي وګړو تر منځ باور نه شته. هر کس هڅه کوي چې د نورو قبيلو په تاوان کې ځواک تر لاسه او هغه وساتي. ځينې وګړي تجريد شوي دي او يواځې د دې لپآره د دولت سره يوځاي شوي دي چې خپل حقوق وساتي. د غور د ولايت په ولسواليو کې قبيلوي مسلې د انديښنې وړ ستونزې دي. "

دغه د متقابل باور نشتوالی او د نورو قبيلو په تاوان د ځواکمنۍ تر لاسه کولو انګيزې د غور په ولايت کې ژورې ريښې کړی دی.

**د اغيزمن دولتی کنترول نشتوالی:** مرکه کوونکو د حکومت د اغيزمن کنترول کمزوری اود دولت د واک په اغيزمنه توګه دښوولو نيمګړتيا د غور په ولايت کې د شخړې د يوبل عامل په توګه ياد کړلو. د دولت يار د ولسوالی د يوتن سپين ږيری په وينا د دولت دغه کمزوری حضور، د اوږد مهالو موجودو قبيلوی مسلو سره يوځای دغه جګړه توده ساتی. هغه د جګړې په اړوند داسې توضيحات ورکوی:

> " ۵۱ سلنه د دولت کمزوري او ۴۹ سلنه د خلکو کمزوري ده."

د غور د ولایت صعب العبوره قلمرو د دولت د کنټرول په لار کې کلیدي خنډ دی. که څه هم د هرات څخه د کابل پر لور لنډه لار د غور څخه تیریږي، حلقوي سړک په اصل کې د ولایت په چاپیره تیریږي او دا ستونزمنوي څو هلته رسیدنه وشي. نه هم د شتمنو طبیعي زیرمو څخه برخمن کیږي او نه هم د سترو سوداګریزو مرکزونو تر منځ دی، او په تیرو کلونو کې د شورشیانو د لړ نفوذ له امله لږې سرچینې دغه ولایت ته ځانګړې شوې وې. د غور د ولایت څخه یو تن زده کوونکي وایي:

" ډیر عوامل چې د غور په ولایت کې د جګړې لامل ګرځي شتون لري. د رواني جګړې ستر لامل په دغه ولایت کې د مرکزي حکومت د دې نا ځواکمني او بې کفایتي ده چې د خلکو ملاتړ ته ژمن و اوسي او د دولت غیر موثره سیستم کې اصلاحات را ولي. پولیس په دې کې پاتې دي چې نا امني پای ته ورسوي او د دې لامل خو یا هم د سرچینو، هم د بشري او هم مادي دواړو کمښت او یا هم د بیلابیلو محلي نا قانونه وسله والو ډلو سره د دوي تړاو دی چې دا د نا امنۍ لامل ګرځي. د دولت د ظرفیت دا محدود والی چې د ولایت ډیره برخه کنټرول کړي ، محلي نا قانونه قوماندانان او ځینې وختونه طالبان د دغه فرصت څخه په ګټنې په معافیت درلودلو سره د بشري حقونو څخه سرغړونې کوي. "

ډیری برخه والو د تمرکز د ډلو په بحثونو کې او هم په ځانګړو مرکوکې د معافیت موضوع راپورته کړه. د دوی په ګومان د حکومت دې ناکامۍ چې خپل واک وچلوی یوه تشه را منځته کړې چې هغه د محلي زور واکانو ، قبیلوی مشرانو، نا قانونه قوماندانانو ، او په پای کې د طالبانو له خوا ډکه شوې ده.

**د سیاست والو او د ځواک د دلالانو نفوذ:** په یو مهال، ناقانونه وسله والې ډلې او قبیلې ځینو ځانګړو د واک دلالانو سره تړلي دي چې په دولت کې ځای لري او یا هم په پارلمان کې د ولایت استازیتوب کوي. د پارلمان غړو ته ویل شوي دي چې په مستقیم ډول د دغو مشخصو ډلو په کنټرول کې وي څو چې محلي وفادارۍ او کنټرول باوري کړي. یو تن محلي مشر و ویل،

"حکومت او پارلمان د خپل ځان په ګټه د کار لپاره مصروف دي او د وسله والو ډلو مشران ورسره تړلي دي او د سیاسي ګوندونو او یاهم د پارلمان د غړو له خوا ورسره مرسته کیږي. "

د ټاکنو پر مهال راځي، او د دې هیله لري چې د دوی د سیاسي لیډرانو لپاره په یوه او یا بله لاره رایې تر لاسه کړي. په رایو کې د لاس وهنو تورونه د ۲۰۰۹، ۲۰۱۰، او ۲۰۱۴ کلونو په ټاکنو کې لګیدلي وو. ناقانونه وسله والې ډلې او محلي قوماندانان په دې تورن شوي

دی چې خلک یې په لاریو کې د ثبت غرفو ته راوستی دی څو هغوی د رایې ورکونې لپاره ځانونه راجستر کړی او بیا یې د هغوی څخه د رایو د ثبت کارتونه راټول کړی دی. د غور څخه یو تن پانګه وال د دې یادونه کوی:

″ د واک محلي د لالان او نا قانونه وسله وال قوماندانان د ملي شورا د غړو له خوا ملاتړ کېږي. دغه د شورا غړي په سیمه کې د وسله والو کسانو خپلې ډلې لري، چې د هغوي څخه کار اخلي څو د ټاکنو پر مهال د هغوي ملاتړ ولري؛ دغه ډلې د دې په بدل کې پیسې تر لاسه کوي.″

بیلا بیلې وسله والې ډلې د ملی شورا د همغو غړو لپاره کار نه کوی، خو هغوی د مختلفو ډلو سره په تړاو کې دی چې په ولایت کې د نفوذ ساحه لری. دا سیاسی کسانو ته د دې امکان برابروی چې د قبیلو تر منځ د پخوانیو موجودو ستونزو څخه د دې لپاره کار واخلی چې د رایو یوه اعتمادی پایګاه جوړه کړی.

د غور د ولایت د کور یوې میرمنې د دې یادونه وکړه،″ هغوي [ سیاسیون او د ځواک دلالان] د وسله والو ډلو او قوماندانانو ساتنه کوي څو چې د راتلونکې پارلمان لپاره ټاکنې باوري کړي. په ټاکنو کې ښه سوداګري شته، ناقانونه وسله واله ډله پیسې تر لاسه کوي او په زور سره خلک دې ته اړ باسي چې د دوي له نوماند ملاتړ ولري. فرد نه شي کولای خپلې نظریې وړاندې کړي، همدغه قبیلې او ګوند او وسله وال قوماندانان یو له بل سره تړلي دي او یو له بل سره هم په ارتباط کې دي. هغوي د سولې په اړه فکر نه کوي. د هغوي شخصي منفعت تر هرڅه دوي ته مهم دی.″

د سیمې او ملی یو والی په مقابل کې دخپلې شخصی اوسیاسی ګټې پورته ګڼلو سره دغه د واک دلالان د شخړې لپاره یو بله انګیزه برابروی. د هغوی علاقمندی د یو سوله ییز او د قانون د رعایت کولو د فضاء رامنځته کول نه دی، ځکه چې د دې سره به د هغوی دا توانمندی کمه شی څو رایې راټولې کړی او په ملی کچه ځانته سیاسی ستېژ پیداکړی. قبیلې همدا اوس یو د بلې په مقابل کې د هغوی د قبیلوی خواشینو له امله ولاړې دی، او دا خواشنۍ هم سیاسی، او همدارنګه قبیلوی اړخونه لری چې د جګړې بنسټ جوړوی.

**د بهرنیو دولتونو لاس وهنې:** د ګډون والو تر منځ یوه بله عامه موضوع د بهرنۍ مداخلې موضوع ده. ډیری خلکو د سیمې د هېوادونو د بدنیت لاس وهنه او همدارنګه د ایساف د نړیوالو ځواکونو نظامی حضور ته اشاره درلودله . د ګاونډیو هېوادادونو په اړه، ګډون والو د دې تور ولګاوه چې هغوی تر یوې اندازې پورې د ناقانونه وسله والو ډلو په تمویل کې لاس لری. د غور څخه د یو تن پخوانی دولتی چارواکی په وینا:

" هره قبیله یو تن محلي مشر یا قوماندان لري چې د قبیلې مشرتوب کوي او د قبیلې ساتنه کوي. دغه محلي مشران د سیاسي ګوندونو سره په تړاو کې دي او هغوي د سیاسي ګوندونو څخه پیسې او ملاتړ تر لاسه کوي څو د دوي ملاتړ ته ادامه ورکړي او په عین وخت کې هغه محلي وسله وال کسان د ګاونډیو هېوادونو سره تړلي دي چې هغوي په سیمه کې د شخړې اور ته لمن وهي، څکه چې هر یو په سیمه کې په دې پوهیږي چې د دولت کارمندان د ناقانونه وسله والو ډلو سره تړلي دي او د هغوي څخه په مالي لحاظ ملاتړ کوي او په موټر سایکلونو او موبایلونو او د موبایل په کریدت کارتونو یې مجهز کوي."

ګډون وال همدارنګه په دې باور دی چې د ایساف ځواکونه د شخړې یوه انګیزه ده ، که څه هم د ۲۰۱۴ کال تر پایه په دغه ولایت کې نور نړیوال نظامی حضور نه[۱۹۳] و.

**د قانون د حاکمیت نشتوالی:** ډیری خلکو د اغیزمن او بې پرې عدالتی سیستم کمزوری ته د شخړې دیوې انګیزې په توګه اشاره درلودله. هغوی د محلی لوبغاړو معافیت د قبیلو تر منځ د شخړو د تداوم لامل وبللو. په ټول ولایت کې د اغیزمن حکومتی کنترول د نشتوالی سره سره د خلکو اکثریت د دې احساس لری چې حکومت د خلکو تر منځ د شخړو په لړ کې بې طرفه نه دی. نو له همدې کبله خلک دې ته تر جیح ورکوی چې محلی شورا ګانو ته او یا هم ناقانونه وسله والو ډلو ته دخپلو لانجو د حل په موخه مراجعه وکړی. خو د دې سره د هېواد په ځینو برخو کې داسې جوتیږی چې ناقانونه وسله والې ډلې همدارنګه خلک د دې څخه منع کوی چې د رسمی عدالت موسسو ته مراجعه وکړی څو په دې توګه خپل واک وچلوی. د غور څخه د یوتن بزګر په وینا:

" حکومت بې پرې نه دی. ډیری وګړي د اچې حکومت څه ډول اجراات کوي نا هیلي دي، هغوي زیاتره وخت په محلي شوراګانو باور کوي. هغوي خپلې ستونزې د غیر رسمي عدالتي سیستم د لارې چې د محلي مشرانو او ناقانونه وسله والو ډلو له خوا پرمخ وړل کیږي خپلې ستونزې حل کوي. ډیر خلک حتی دا نه خوښوي چې د بشري حقونو په اړه وغږیږي. که چیرې هغوي په بشري

[۱۹۳] د ۲۰۱۵ کال د جنوری له میاشتی څخه راهیڅی ناتو خپل د کومکی فوجونو بنه په غیر جګړه ییز ماموریت ( د افغان امنیتی ځواکونو د ښوننی همکاری او مشوره ورکول ) ته راووښت . د ناتو د دوامدار حمایت ماموریت مقر په کابل کی دی او همدا رنګه یو د هغه د څلور منطقوی مرکزونه په هرات کی ده . ( د زونونو د مرکزونو په غیر په مزار شریف - کندهار او لغمان ) . د عسکرو په شمیرکی د پام وړ کمښت راغلی ده لکه څرنګه چی د ۲۰۱۵ دسامبر میاشت را هیڅی د \ایدار حمایت د قوا و شمیره تر ۱۲۹۰۵ کس ته چی د ۴۲ هیوادنو عسکر په کی ګډون لری کیږی . لاندی ادرس ته مراجعه کولای شی :
http://www.rs.nato.int/troop-numbers-and-contributions/index.php, last accessed 6 March 2016

حقونو باور ولري نو باید چې خپل ټوپک پر خمکه کښېږدي او د سولې د بهیر سره یوځای شي، تر ټولودمخه هغوي باید د هغه څه له امله چې د خلکو په مقابل کې یې ترسره کړي دي د عدلي تعقیب لاندې راشي.″

لکه چې پورته یې یادونه وشوه په غور کې د شخړې لومړنی عامل او محرک د قدرت تر لاسه کول دی. داد خلکو په انګیرنو پورې اړه لری چې محلی حکومت څنګه کار کوی او دا چې د قانون د واکمنۍ د اغیزمنو موسسو نیمګړتیا څه ډول د جګړې د دوام لامل کیږی. د غور څخه یو ښوونکی دا توضیح کړه چې د دې سره په ولایت کې د جګړې اور څنګه دوام کوی:

″ د قانون د حاکمیت او د دولتي چارواکو د نا کافي غبرګون د نشتوالي له امله ، د واک د دلالان، غیر مسووله وسله وال قوماندانان تقریبا په بشپړه توګه د معافیت په درلودلو سره د ولایت په یوه برخه کې حاکمیت لري. دغه عاملان هیڅکله هم مقرراتو ، قواعدو یا هم بشري حقونو او یا هم دموکراسۍ ته درناوی نه لري. هغه څه چې د دوي لپاره مهم دي هغه د د وي د کنترول پراختیا، زیاتره مالي ګټې تر لاسه کوي او ددې وضعیت څخه د ځان لپاره ګټه اخلي.″

د ډلو تر منځ د اختلافاتو له منځه وړل د ملکی حکومتی ادارو یا هم محاکمو د قابو څخه وتلی کار دی، او په دې توګه دا یقینی کیږی چې دغه ډول شخړې باید چې د تاوتریخوالی د لارو څخه هوارې شی.

**بې وزلي:** ګډون والو د دې یادونه وکړه چې محدود اقتصادی امکانات چې د غور په ولایت کې شتون لری عادی وګړی یې دې ته اړباسلی دی چې د یاغیتوب سره یوځای شی، او دا یواځې د دې لپاره چې خپلو کورنیو ته خواړه برابر کړی. د یاغیتوب او یا هم د کوکنارو په کښت کې د ښکیلتیا په وړاندې د مانا دارو بدیلونو نشتوالی د دې زمینه برابروی چې د کاری ځواک یوځای کیدل د ناقانونه وسله والو ډلو او یا هم د دولت ضد عناصرو سره په پرلپسې توګه جریان ولری او په دې توګه وګړی د دولت پر خلاف ودریږی. د پسابند د ولسوالی څخه د یو ټرک ډرایور و ویل:

″ محلي وګړي دې ته اړتیا لري چې بل انتخاب ولري، حکومت ته په کار دي چې خلکو ته د کار فرصت برابر کړي څکه چې دلته کار نه شته. دا اساسي ستونزې دي چې خلک دې ته هڅوي چې د سیاسي ګوندونو او د دولت د ضد عناصرو له خوا استخدام شي. حکومت موږ ته ویلي دي چې باید کوکنار ونه کرو خو هغه د بزګرانو ملاتړ نه کوي څو قانوني کرهڼه ولري. د خلکو اقتصادي

وضعیت ډېر خراب دی، ډېری خلک نورو هېوادونو ته د کار د ترلاسه کولو په موخه ځي.″

غور په افغانستان کې یو له بې وزلو ولایتونو څخه دی. په دې ولایت کې تاسیسات او زیربناوې او هوار سړکونه چې هغه د نورو ولایتونو او یا هم مرکز سره وصل کړی د نشت برابر دی. په دې توګه وارد شوی توکی یا مالونه یا خو د نورو خواوشا سیمو په پرتله په بیو کې پورته دی، او په عین وخت کې خلک په دې نه توانیږی چې د هېواد په کچه پراخو مارکیټونو ته لاس رسی ولری. لکه د هېواد د زیاترو برخو په څیر په دغه شان حالاتو کې دا اسانه ده چې د بیلابیلو وسله والو ډلو لپاره استخدام صورت ونیسی.

**ایډیالوژی:** له هغه ځایه چې د غور ولایت د خلکو د روشونو له مخې د یو محافظه کاره ولایت په توګه انګیرل کیږی ، خلکو د دې یادونه وکړه په داسې حال کې د دولت ضد عناصرو او ناقانونه وسله والو ډلو څخه ځینې یې په بشپړ ډول د کنترول د تر لاسه کولو لپاره جنګیږی، نور یې د ایډیالوژۍ پر اساس د دولت مخالف دی. د شهرک د ولسوالی څخه د یو تن زده کونکی په وینا:

″ دوي د مختلفو د مفکورو خاوندان دي، ځینې یې د ایډیالوزۍ لپاره جنګیږي او د سولې په اړه فکر نه کوي، دوي یواځې غواړي حکومت نسکور او شرعي قانون نافذ کړي. نورې ډلې لکه نا قانونه وسله وال ګروپونه یواځې غواړي چې په ساحه کې خپل ځواک وساتي او په ځایي خلکو حکومت وکړي. ځینې خلک جنایت کاران دي او د معافیت په لټه کې دي او دوي شایي چې د سولې سره په هغه صورت کې موافقه ولري چې دوي وساتل شي.″

هغه کسان چې په ایډیالوژیکی کمپ پورې تړاو لری د حومت له اوسنی شکل سره په بنیادی ډول موافقه نه لری او په دې لټه کې دی چې هغه نسکور کړی او په بشپړ ډول د حکومت با ډول قایم کړی. د غور له ولایت څخه یو تن محصل وویل:

″ دلته ځینې دا سې ډلې، عاملان او ګوندونه دي چې په شخړه کې ګډون لري او هیڅکله هم په بشري حقونو په معیاري شکل باور نه لري. د داسې مسلو په اړه لکه بشری حقونه او دموکراسي د هغوي اساسي نظر دادی چې دغه دواړه پدیدې د لودیځ محصول دی او موخه یې داده چې د خلکو او د هغوي د دیني او اخلاقي ارزښتونو تر منځ تشه پراخه کړي.″

دغه ډول ایډیالوژیکی تشې د غور په ولایت کې د شخړې بل محرک دی ، البته په غالب ګومان چې د نورو زیاتو ولایتونو په پرتله کم دی.

## ۴. د سولې لپاره د لارې نقشه

د غور په ولايت کې د متمرکزو بحثونو په ترڅ کې ګډون والو تقريباً په ټوليز ډول هغه لاملونه په ګوته کړل چې کولای شو د محل د شرايطو سره سم يې د سولې عملی نوښتونه وبولو چې موخه يې د جګړې د ريښه يی لاملونو محوه کول وی؛ په دې لاملونو کې لاندنی عناصر شامليږی خو په هغو پورې محدود نه دی لکه د سولې او پخلاينې د پروسې سمونه او پراختيا، او د حکومتولۍ د تشې ډکول، او د دې باوری کول چې ټولنه د قانون د حاکميت له لارې بايد اداره شی نه د قوې له لارې، د اقتصادی او پرمختيايی فرصتونو پراخول او په ولايت کې د بهرنيو ځواکونو د نفوذ کمول.

که څه هم په دغه ولايت کې د بهرنيو هېوادونو د نفوذ مخنيوی په حتمی توګه يوه محلی او ولايتی مسله نه ده ، خو دا د يادونې وړه چې دا هغه مسله ده چې د غور په ټول ولايت کې را پورته شوې ده.

**د سولې او پخلاينې د بهير اصلاح او پراخول:** ګډون والو په پرلپسې توګه دې واقعيت ته اشاره درلودله چې د سولې اوسنی بهير چې د افغانستان د سولې او پخلاينې د پروسې ( ای پی آر پی) د پروګرام له مخې روان دی د غور په ولايت کې د محلی پخلاينې پخپله اساسی دنده کې ناکامه دی. د سولې د محلی شورا غړی په دې تورن دی چې د خپلو شخصی ګټو لپاره کار کوينهده داچې د سولې د ګټو لپاره. د پسابند د ولسوالی د ټرک ډرايور و ويل :

> ″ د سولې د بهير ( ای پي آر پي) غړي د سولې واقعي غوښتونکي نه دي؛ هغوي يواځې د دې په لټه کې دي چې خپلې ګټې تقويه کړي. د سولې پروسه په افغانستان کې مثبتې پايلې نه درلودې، د واک ځينې د لالان لوړې تنخواګانې تر لاسه کوي خو هيڅ نتيجه نشته. هغوي د افغانستان د خلکو لپاره د منلو وړ نه دي. که چېرې د سولې پروسه ښه پر مخ وتللې واي ، که چېرې سرغړونکي د عدالت منګولو ته سپارل شوي واي، نو بيا به موږ په افغانستان کې پرمختيا ليدلې وه، او د بشري حقونو ار ښتونه ليدل شوي واي. موږ اسلامي بشري حقونه غواړو او نه کفري بشري حقونه.″

په دې تورونو برسيره چې دوی د سولې په بهير کې علاقمند نه دی ، ځينو ګډون والو د دې شک څرګند کړ چې د افغان سولې او پخلاينې د پروګرام غړی حتی د دې ظرفيت او توان لری چې په دې پوه شی چې د خلکو د جګړې کولو لاملونه څه دی او څه بايد وشی څو ياغيان او د دولت ضد عناصر د دولت په پلوۍ کې را وستل شی. د دولت د ضد عناصرو يو تن پخلا شوی کس و ويل:

" ټول جګړه ماران یو له بل سره تړلي دي. تر دې اوس مهاله ۶۰۰ تنه چې په بیلابیلو ډلو کې دي او په چغچران کې فعال دي، دولت او ټول خلک هغوي پیژني خو همدا زما او د ټولو خلکو او زما د دوستانو لپاره چې د سولې د پروسې سره یو ځاي شوي دي پوښتنه ده چې ولې د هغوي په مقابل کې د دولت له خوا جدي اقدام نه کیږي ځو په دې وپوهیږي چې هغوي د چا لپاره کار کوي؟"

بله مساله چې ګډون والو پرلپسې را پورته کړې ده هغه دا وه چې ایا د افغان سولې، پخلاینې پروګرام د سولې بهیر ته په زیاته شمیره کې واقعی یاغیان راجلب کړی دی. دغه مسله په ډیرو مناسبتونو کې را پورته شوې ده ، چې هغه خلک څوک چې " پخلا" شوی دی هغوی په واقعیت کې یاغیان نه وو، بلکې هغه ډلې وې چې سره را غونډ شوی څو د سولې له بهیر سره یوځای شی، او دا د دې لپاره یوه هڅه ده چې د افغان سولې او پخلاینې له پروګرام څخه مالی او نور اړوند امتیازونه تر لاسه کړی[۱۹٤].

د غور د ولایت د شهرک د ولسوالی یو تن زده کوونکی و ویل:

" دلته ډیرې داسې ځالې دي چې سره را ټولیږي او وایي چې هغوي د سولې پلویان دي، هیڅ واقعي د دولت ضد عناصر خپله وسله نه تسلیموي څو د دولت سره یوځای شي. د افغان سولې او پخلاینې د پروګرام د پیل څخه تر اوسه پورې د هغه هیڅ بریالیتوب نه شته."

که څه هم د انتقادونو سره سره ځینې ګډون والو دا په ګوته کړه چې د افغان سولې او پخلاینې پروګرام کولای شی چې د شخړې لپاره ریښتونی د حل لارې چارې برابرېکړی. یو تن کلیوال د " غور په ولایت کې د شخړې یوې قضیې ته چې د سولې د پروسې د لارې هواره شوې ده، دغه مسله تیر کال د چغچران د الله یار په سیمه کې رامنځته شوه چې هلته د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام په دې وتوانیدلو چې د دوو قبیلو تر منځ یوه قومي شخړه هواره کړي. " اشاره وکړه.

[۱۹٤]پخوانی جنګیالی ددولت پخوانی ضد عناصر هغه کسان چی جګړه درولی وی او خپل خلکو سره د بیا پیوستون پروګرام له لاری لکه د افغانستان د سولی او یو ځای کیدنی برنامی لخوا یو ځای شوی وی . د بیا پیوستون د پروګرام له مخی هغه پخوانی جنګیالیان چی تاو تریخوالی ته پایله کیژدی د افغانستان اساسی قانون ومنی د قانون سره سم ژوند وکړی او خپل رابطه د مخالفینو سره قطع وساتی دوی به خپلو خلکو سره یوځای شی د تعلیم او کار موندنی دزدکړی او امنیتی حمایت کومکونو څخه هم برخه مند کیدای شی. د ملی امنیت د شورا او د دی آر کمیسیون معلومات وګوری :
https://info.undp.org/docs/pdc/Documents/AFG/00060777_00060777_APRP_National%20Programme%20Document%202010%2006%2001.pdf

د سولې بهير په ټولو اړخونو کې ډېر زيات روښوالى ته اړتيا لرى ، چې په دې کې د سمو خلکو انتخابول او د هغوى د بې پرې توب څرګندول شامل دى. په اوس مهال کې هلته ځينې خلک دى چې هغوى د سياسى ګوندونو سره تړلى دى او په لوړو څوکيو کار کوى ، خو هغوى هغسې بې پرې او اغيزمن نه دى لکه څنګه چې لازمه ده.

يو تن زده کوونکى وايى:

" سوله په شخړه کې د ښکيلو فعالانو په لاسونو کې ده، خو هغوي د خپلو ځانونو لپاره ژوند نه کوي ، هغوي د نورو سياسي ګوندونو لپاره کار کوي. داد بهرنيو هېوادونو مداخله ده. سوله د هر وګړي لپاره يو ارمان دى، که چېرې د سولې د بهير کار کوونکي په صداقت سره زيار وباسي نوهغوي به په دې وتوانيږي چې په دغه پروسه کې بريالي شي اوکه داسې نه وي نو هيڅ پرمختګ به را نه شي. "

خلک د سولې بهير د پرمختيا او د خلکو له پوهاوى سره تړى. هغوى د دولت ، پرمختيا او خلکو تر منځ د تشې د موجوديت له امله انديښمن وو. لکه چې د غور څخه يو تن سوداګر و ويل:

" حکومت بايد حساب ورکوونکي او ريښتوني خلک د ولسواليو او ولايت په کچه په لوړو څوکيو وګوماري چې د هيڅ ګوند سره تړاو ونه لري، دولت او نړيواله ټولنه بايد دا باوري کړي چې پرمختيايي پروژې د ولايت په کچه په برابره توګه ويشل شوي دى. ديني مشران بايد خلک دې ته وهڅوي چې د دولت سره په مفاهمت کې راشي. "

د عامه پوهاوى لپاره د ملايانو او دينى مشرانو څخه کار اخيستل د ټولو ګډون والو له خوا ګډ وړانديز و. خو په عين وخت کې ځينو ګډون والو په دې اړتيا ټينګار وکړ چې بايد مدنى ټولنه ، ښځې او دښځو ګروپونه د مذهبى بنسټونو سره په ګډه د سولې پيغام په اوږدمهاله زده کړو او پرمختيايى چارو کې د وړاندې تګ د لارې په توګه شامل کړى. د غور څخه يوتن زده کوونکى وويل:

" مدني ټولنې سره بايد د دولت له اړخه مرسته وشي څو هغه د سولې د بهير لپاره خپل غږ ولري او اغيزمنه وي. ښځو ته هم بايد د دې امکان ورکړل شي چې د سولې په ډيالوګ کې ګډون ولري او په کې دخيلې وي او دا چې د هغوي نقش بايد د پامه ونه غورځول شي. ديني مشران او حکومتي چارواکي چې ټولنيز موقف لري بايد سره منسجم شي څو د سولې په بهير کې ښکيل و اوسي. "

د دغه روش په اړه د غور څخه یو تن ښوونکی هم وویل:

> ″ دلته ځینې خلک شته چې د غور په ولایت کې د سولې په جوړولو کې د هغوي نقش مهم ګڼل کیږي. مذهبي مشران ، با نفوذه خلک، د مدني ټولنې فعالین کیدلای شي چې د سولې د نوښتونو په لړ کې اغیزمن و اوسي ، خو دلته داسې عاملین شته لکه د دولت ضد عناصر او ناقانونه وسله والې ډلې چې هغوي د خپلو پالیسیو له امله د دوي درناوی نه لري. ښځې هم کولای شي چې په سوله کې خپل نقش ولوبوي په ځانګړي ډول د خپلو کورنیو په ماحول کې ځو خپلو نارینه وو خپلوانو ته د دې مشورې ورکړي چې په نا امنیو کې ونډه ونه لري او دبشري حقونو څخه په سرغړونو کې دخیل ونه اوسي. ″

په دې توګه د غور خلک د سولې د بهیر د ملاتړ کولو لپاره د ټولنې د ټولو برخو نقش ته متوجه شول. خو دا په دولت پورې اړه لری ځو چې یو مانا لرونکې لاره ولټوی او ټول دغه غبرونه د سولې او پخلاینې په بهیر کې شامل کړی، او په دې توګه د ټولنې د ټولو برخو چې په کې ښځې او د مدنی ټولنې استازی شامل دی مناسبه ونډه باوری کړی.

**د دولتی اغیزمن کنترول اود قانون د واکمنۍ پراخول:** بله عامه موضوع د ګډون والو لپاره د اغیزمن حکومتی کنترول اود قانون د واکمنۍ اړتیا وه. ګډون والو اکثره وخت د هغه معافیت په اړه چې نا قانونه وسله والې ډلې او بانفوذه کسان یې په رسمی عدالتی ادارو اود قانون د تطبیق په برخه کې لری خبرې کولې. ځینو دې ته اشاره درلودله چې مختلفې ډلې چې په حکومت کې په پولیسو کې استازیتوب لری د رسمی چارو د سرته رسولو پر مهال د خپل ځان او یا دخپلې قبیلې د ګټو په فکر کې وی. هغوی همدارنګه د دې یادونه وکړه چې حکومت په اغیزمن ډول د ولایت په ډیری برخو کې اود ولسوالیو د مرکزونو څخه د باندې حضور نه لری ، قبیلې او ناقانونه وسله والې ډلې په اصل کې حکومتی چارې پرمخ بیایی.

په ډیره ابتدایی کچه خلکو د دولت له خوا د امنیت د نه برابرولو له امله داندیښنې یادونه وکړه چې باید ورته رسیدنه وشی. د غور څخه یو تن بزګر وړاندیز کوی چې:

> ″حکومت باید د ولسوالیو په کچه خپل حضور تقویه کړي. افغان ځوانان باید د دې لپاره وهڅول شي ځو د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو سره یوځای شي.″

د دې پرته چې یواځې ساده حضور ولری، خلکو د دې یادونه هم وکړه چې په حکومت کې باید د ولسوالیو او ولایت په کچه اصلاحات راشی. افغان ملی پولیس چې په محلی کچه استخدام شوی دی اکثره وخت په دې تورن دی چې د خپلو قبیلو په پلوۍ او یا هم د واک د محلی دلالانو په حکم کار کوی.

د دولینه د ولسوالۍ څخه یو تن د دې وړاندیز درلود:

" افغان ملي پولیس باید چې د نورو ولایتونو څخه وي او د هغوي شمیره زیاته شي. افغان ملي اردو باید په لېرې پرتو سیمو کې فعال و اوسي او باید چې د دولت ضد عناصر له منځه یوسي. ناقانونه وسله والې ډلې باید بې وسلې شي او حکومت باید د ځوانانو لپاره کارونه برابرکړي. حکومت باید د ولسوالیو په ادارو کې اصلاحات را ولي او حکومتي کارمندان باید د خلکو لپاره کار پیل کړي."

خلکو بیا بیا د دې یادونه وکړه چې د بشری حقونو ساتنه د دولت مسوولیت دی. د دولت کمزوری حضور په تیره بیا په لېرې پرتو سیمو کې خلک زیامنونکی کوی. د غور څخه د کور یوې میرمنې و ویل، " بشري حقونه باید د محلي حکومت له خوا تضمین شي ، په تیره بیا په لېرې پرتو ولسوالیو کې. د سولې او ټیکاو په اړه عوامي پوهاى باید چې زیات شي. "

د ولسوالیو په کچه د دولتی ادارو پراخول او اصلاح د موضوع په اړوند خلکو د دې یادونه وکړه چې معافیت او فساد هم د جګړې تداوم ته لاره هواروی. د دو لینه د ولسوالۍ څخه د یو تن اوسیدونکی په وینا:

" قضایي نظام باید احتساب ورکونکی و اوسی. د فساد باید مخنیوی وشي او مجرم باید د محکمې په وړاندې ودریږي. معافیت ته باید د پای ټکی کېښېښودل شي او ټول مجرمین باید محکمې ته حاضر کړا ی شي."

د فساد او احتساب موضوع یواځې د محکمو او رسمی محلی ادارې لپاره نه وه. خلکو همدارنګه د دې یادونه درلودله چې بې پرېتوب باید چې د سولې د بهیر پورې هم پراخه شی. په داسې حال کې چې خلک د سولې د مانا لرونکی هغسې بهیر په پلوۍ کې وو چې یاغیان بیرته اصلی محور ته را وستل شی، دوی همدارنګه په دې اړتیا ټینګار درلود چې د قربانیانو حقوق وساتل شی. لکه چې د شهرک د ولسوالی څخه یو تن زده کوونکی وویل:

" حکومت او د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام باید چې د هغو طالبانو پرخلاف و اوسي څوک چې د خشونت سابقه لري. طالبان باید محکمې ته را وستل شي او هغوي باید چې د خلکو ناخوالو ته ځواب و وایي."

په عین وخت کې ګډون وال په دغه بهیر کې د خپل نقش څخه آګاه وو. لکه چې د دولت یار د ولسوالی څخه یو تن وینا کوونکی څرګنده کړه:

" موږ په نږدې وخت کې په ټاکنو کې ګډون کوو. موږ باید داسې څوک انتخاب کړو چې د خلکو لپاره د صادقانه کار کولو ښه سابقه ولري نه داچې د غه انتخاب په قومي ګټو ولاړ وي."

**د پوهنې او اقتصادي فرصتونو پراختیا:** په دې لړ کې خلکو د دې احساس درلود چې د اقتصادي فرصتونو او د ښې پوهنې نشتوالی د یاغیتوب لپاره یو له کلیدي عواملو څخه دی. د مختلفو سابقو درلودونکو وګړو د دې اړتیا یادونه وکړه چې د خلکو لپاره د ټیکاو او اقتصادي ښیرازۍ سره د ژوند کولو امکانات باید زیات شي څو په دې توګه یاغیتوب د ماتې سره مخ شي.

د پسابند د ولسوالۍ د ټرک د یو تن ډرایور په وینا:

" د وګړو اقتصادي، امنیتي او ټولنیزو مسلو ته د نه پاملرنې له امله په بې ثباتۍ کې ډیروالی راغلی دی. که چېرې حکومت د خلکو اقتصادي او نورو ننګونو ته پام ولري نو موږ به د بې ثباتۍ د کچې د راټیټوالي شاهدان و اوسو."

خلکو د دې یادونه وکړه چې اقتصادي کمزوري هغوی دې ته اړباسلي دي چې پخپله لاره په جګړه کې برخه واخلي. په سختو اقتصادي حالاتو کې خلک دې ته اړ دي چې د لنډ مهاله موخو لپاره پریکړې ولري نه داچې د هېواد اوږد مهاله ګټې په پام کې ونیسي. یو تن هټیۍ وال داسې توضیحات ورکړل:

" موږ ټول په بې ثباتۍ کې شامل یو، ځکه چې که موږ طالبانو ته د دې اجازه ور نه کړو او محلي مشران د دې څخه منع کړو چې د سیاسي ګوندونو څخه پیسې تر لاسه کړي ، هغوي به په دې ونه توانیږي چې جګړه را منځته کړي. د یو ډیر کم مبلغ د پیسو په تر لاسه کولو سره موږ خپل هېواد پلورو او د راتلونکې په اړه سوچ نه کوو."

په دې توګه خلک د خپلې راتلونکې لپاره دوه امکانات ګوري، په ولسوالیو او کلیوالو سیمو کې د پوهنې او پرمختیا پر لاره تګ او یا هم داچې د راتلونکې بې ثباتۍ پر لور حرکت کول. هغوی په دې نظر دي چې حکومت او خلک د لنډ مهاله ګټو په موخه خپله راتلونکې قرباني کوي. د راتلونکي ټیکاو لار د ګډون والو له نظره ولسوالیو ته د حکومت د کنټرول غځېدل، په کلیوالو ساحو کې پرمختیا او انکشاف پر واقعیت بدلول، او د زده کړې د کیفیت او تعلیمي د فرصتونو برابرول دي. د شهرک څخه د یوه زده کوونکي په وینا:

"که چېرې خلک په دولت باور ولري او د حکومت د پروګرامونو ملاتړ وکړي نو موږ به یوه روښانه راتلونکې ولرو. او که حکومت د پوهنې په برخه کې مرستې وکړي نو موږ به نوره بې ثباتي ونه وینو. خو که چېرې د سولې د بهیر ملاتړ ونه لري ، او که چېرې حکومت د پرمختیا او معارف په لړ کې تعادل په پام کې ونه ونیسي او په کلیوالو سیمو کې خپل حضور تقویه نه کړي نو موږ

به د لا زیاتې بې ثباتۍ شاهدان و اوسو. سیاسي ګوندونه به یو له بل سره په جګړه وي. د قبیلو او ډلو تر منځ شخړې به زیاتې شي. ″

دا د حیرانتیا وړ نه ده چې د پوهنې او د کارې فرصتونو پر یو مهال پراختیا د خلکو لپاره د هغوی د اړتیاوو په لړ کې یو شان اهمیت لري. کلیدی مسله داده چې خلک غواړي د هغوی په ټولنو کې د سولې ګټې و ويني. د غور څخه یو تن ښوونکی څرګنده کړه

″ تعلیم ته لاس رسی او وروسته پاتې ولایتونو سره د حکومت ملاتړ کولای شي چې په اوږد مهاله کې د سولې د ټینګښت او د تاو تریخوالي څخه سولې ته د خلکود افکارو را اړول به اغیزمنه وي. د ځوانانو لپاره چې د جګړې د تداوم لپاره اساسي پوتانسیال دی د کاري فرصتونو برابرول چې په کې با مفهومه او باعزته استخدام را منځته شي کولای شي چې په دغه ولایت کې د تل پاتې سولې سره مرسته وکړي. ″

**د نړیوالو اړیکو سمول:** که څه هم غور نړیوالې پولې نه لري، خلکو دا تایید کړه چې د ګاونډیو هېوادونو نفوذ په دغه ولایت منفی اغیزه لري. خلکو همدارنګه د دې یادونه وکړه چې د نړیوالې مرستې او پر مختیایی پروګرامونو څخه دغور د ولایت ونډې نیمګړې دی. لکه چې د پسابند څخه یو تن ډرایور یادونه وکړه:

″ نړیواله ټولنه باید بې پرې او افغانستان ته د مرستو رسولو په لړ کې ریښتونې و اوسي. هغوي باید د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ وکړي. ګاونډی هېوادونه باید د افغانستان په کورنیو مسلو کې لاس وهنه ونه کړي، دلته زما مقصد د پاکستان او ایران څخه دی.″

د اوسنۍ شخړې له امله د غور عادی وګړی د نړیوالې ټولنې او طالبانو تر منځ راګیر دی. که څه هم انتقال روان دی، هغوی دې اړتیا ته اشاره وکړه چې د نورو هېوادونو سره باید اړیکې بیا جوړې شی چې دا به افغانستان ته د دې امکا ن ورکړی چې د خپل پرمختګ پر لار پرته د بهرنۍ مداخلې څخه پر مخ ولاړ شی. د شهرک د ولسوالی څخه د یوتن زده کوونکی په وینا:

″ که چیرې موږ په افغانستان کې د طالبانو حضور پای ته ورسوو نو موږ به وتوانیږو چې افغانستان کې امنیت او سوله را ولو. په ایران او پاکستان باید فشار راشي څو د افغانستان په کورنیو مسلو کې د مداخلې لاس واخلي. ″

## ۵. د خلکو وړاندیزونه

د مشورو په پروسه کې خلکو لاندنی عمومی وړاندیزونه د دې لپاره وړاندې کړل چې حکومت او نړیوال فعالین او مدنی ټولنه په یو جوړښتی ډیالوګ کې راشی او د غور په ولایت کې دجګړې اصلی لاملونه له منځه یوسی:

**د سولې او پخلاینې د پروسې اصلاح او عام شمولیت:** (۱) د افغانستان د سولې او پخلاینې د بهیر د پروګرام کره اصلاح او د داسې یو ماډل جوړول چې په کې د مدنی ټولنې ، ښځو او مذهبی بنسټونو د سولې په پروګرام کې سره را یوځای شی ځو دا عام شموله شی او تل پاتې سوله باوری شی؛ (۲) دا باوری کړای شی چې د سولې پروسه غیر سیاسی شی، د قدرت د دلالانو، جنګ سالارانو، او نورو مخربینو چې د خلکو منافعو ته پام نه لری سیاسی مداخله ایسته شی؛ (۳) د افغانستان د سولې او پخلاینې د پروسې پروګرام پراخه شی ځو دې ته دا امکان برابرشی چې قبیلوی او محلی شخړې چې بې ثباتۍ ته لاره هواروی حل کړی ، او دا پروګرام د لازمو و سایلو د لارې تقویه شی ځو دغه ډول کړنه تر سره کړی؛ (۴) دا باوری کړی چې د قربانیانو مشروع شکایتونه په پام کې نیول شوی دی او هغوی چې جنایتونه یې تر سره کړی دی د عدلی تعقیب لاندې راغلی دی؛

**د محلي حکومتولۍ د ادارو تقویه او دحکومتي کنترول پراخوالی:** (۱) د اضافی افغان ملی امنیتی ځواکونو د ځای پرځای کولو د لارې په هغو سیمو کې چې محدود کنترول شتون لری د د دولتی اقتدارپراخول؛ (۲) د دې باوری کول چې پولیس د ولایت د باندې ځخه استخدام شوی دی او داچې هغوی محلی قبیلوی تعصباتو ته متمایل نه دی؛ (۳) ناقانونه وسله والې ډلې باید بې وسلې کړای شی او حکومت باید نور د موازی تشکیلاتو د چلولو لپاره د هغوی ملاتړ ونه کړی؛ (۴) صادق، بې طرفه، مسلکی کسان په دولتی ادارو کې په کار وګوماری او خپلوی پالنه او فساد په حکومتی موسسو کې له منځه یوسی؛

**د بشري حقونو، د قانون د واکمنۍ وده او د معافیت مخنیوی:** (۱) د دې باوری کول چې د بشری حقونو وده په داسې توګه چې په کې د افغانی او اسلامی ارزښتونو درناوی وشی او د دینی مشرانو ، ښځو، او مدنی ټولنې فعال ګډون په کې وی؛ (۲) دا باوری شی چې د ټول ولایت په کچه د ټولو خلکو لپاره په برابرۍ سره قوانین تطبیق کیږی؛ (۳) محلی حکومتولی تقویه کول او د دې باوری کول چې د دولتی چارواکو په کار ګومارل په شفافیت او د وړتیا له مخې ترسره کیږی.

**د ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا تقویه:** (۱) د قوی کلیوالی او ښاری پرمختیایی نوښتونو د پلی کولو ملاتړ کول چې موخه یې د سیمه ییز اقتصادونو ځواکمنول دی او د ملی اقتصاد سره د دې تړاو او همدارنګه د کاری فرصتونو په رامنځته کولو باندې تمرکز کول؛ (۲) پرمختیایی مرستو ته د محلی ټولنو د برابر لاس رسی باوری کول، او د خلکو د دې لپاره

توانمندول چې پخپلو سیمو کې د پرمختیایی پروژو څخه نظارت ولری؛ (۳) د ځوانانو لپاره د پوهنې د کلیوالی پروګرامونو او همدارنګه د لوړو زده کړو د فرصتونو او تخصصی روزنو پراخول؛ (۴) د دولت او نړیوالې ټولنې د مرستو بیا کتنه څو دا باوری شی چې پرمختیایی پروګرامونه کلیوالو سیمو ته رسیږی.

# د باميان ولايت
# د سولې لپاره ولايتی لار نقشې

## ۱. پيژندنه

د سولې په اړه د افغان خلکو د ډيالوګ دوهم پړاو يوه مشورتې پروسه وه چې موخه يې د سولې، د پخلاينې د پروسې او امنيتی وضعيت په هکله د عامو افغانانو د (ښځو په شمول) د نظريو مستند کول و. دا پروګرام د ۱۱ مدنې ټولنو د شبکو لخوا پيل چې موخه يې په هيواد کې د څه نا څه ۴۵۰۰ عامو افغانانو سره د سلامشورو سرته رسول و تر څو د ۲۰۱۳ کال تر پايه د ۳۴ ولايتونو لپاره، د هر ولايت لپاره د سولې يوه ځايې طرح جوړه کړی.

په دې کې د باميانو لپاره د سولې يوه ځايې طرح شامله ده او د هغو کليدی موندنو او مسايلو يوه خلاصه هم وړاندی کوی کوم چې په ۲۰۱۳ کال کې د نږدې ۲۴۵ هغو افغانانو لخوا څوک چې په باميانو کې ژوند کوی د ټمرکز د ډلې د خبرو اتو،انفرادی مرکو او د سروې ګانو د پوښتنو له لارې مطرح شوی، ترسره کوی. په دې پروسه کې بزګرانو، د عامه سکټور کارکونکو،د ټولنې مشرانو، ښوونکو، د مدنې ټولنې استازو، دينی علماو، معيبو کسانو او د " ټولنو سره يو ځای کيدونکو کسانو " ګډون کړی و.

د سولې لپاره د دې ځايې طرح موخه د شخړې د ځايې محرکو د يوه جامع تحليل او د مناسبو عملی حل لارو برابرول دی څو په باميانو کې سوله او ټيکاو پياوړی او غښتلی کړی.

## ۲. د باميانو ولايتې پيژندنه

د باميانو ولايت د هغې سيمې يوه برخه ده چې په عمومی توګه ورته " هزاره جات " وايې. د هزاره شعيه ګانو اکثريت وګړو ته په اشاره، څوک چې په دې سميه کې ژوند کوی، دا ولايت د غور د ولايت څخه تر سر پل، سمنګانو،پروان،ميدان وردګو او غزنی ولايت پورې سيمې احتوا کوی.

د باميانو ولايت د وريښمو د سړک پر سر د سوداګرو د کاروانونو لپاره يو مهم ټمځای او د ګډ مذهبی او نژادی نفوذ او تاثير محصول پاتې شوی. په باميانو کې کرنه يو مهم اقتصادی فعاليت شميرل کيږی او د دې تر څنګ د کانونو مهمې زيرمې هم لری چې د کانونو د استخراج او بهرنۍ پانګونې په برخه کې سرچينې جلبوی. د باميانو ولايتی پرمختيايې پلانونه جوړ او لومړيتوب بندی شوې خو د روغتيا او معارف د سکټورونو په برخه کې د فعاليت په حواله لا هم ځينې مسلې نه دی هوارې شوې.

د باميانو د ولايت د وګړو شمير د ۵۰۰۰۰۰ او ۶۵۰۰۰۰ وګړو تر منځ اټکل شوی چې د دې جملې څخه يې ۶۵ سلنه د ۲۰ کلونو څخه د ټيټ عمر درلودونکی کسان دی.

هزاره(٪۷۰)، تاجک(٪۲۰)، پښتانه(٪۵) او نورې بيلابيلې لږکۍ ډلې د وګړو پاته برخه جوړوی.

په تاريخی لحاظ، د ولايت هزاره وګړی د دوامداره تبعيض سره مخ شوی، ځکه نو، په ۱۹۹۹کال کې د طالبانو لخوا د سيمې د نيولو وروسته د تبعيض په کچه کې د پام وړ زياتوالی راغی او په خاصه توګه و زورول شول. د ۱۹۹۸ او ۲۰۰۱ کلونو تر منځ د باميانو په بيلابيلو ولسواليو کې، د يکاولنګ د ولسوالۍ په شمول د طالبانو لخوا د هزاره ګانو په وړاندې عام وژنه ترسره شوی چې بنسټ يې قومی انګيزه وه. تر اوسه پورې د قربانيانو لپاره په رسمې يا غير رسمی ډول عدالت نه دې تامين شوی. د دې کلونو په جريان کې، په ۱۹۹۸ کال کې د طالبانو لخوا د سيمې د محاصرې نه وروسته، د غزنی، مزار او کندهار د ولايتونو عمومی مارکيټونو ته د باميانو د ولايت لاسرسی ستونزمن شو. د دې په نتيجه کې، اکثرو وګړو روغتيا، معارف او اساسی خدمتونو ته لاسرسی له لاسه ورکړ او په زرګونو کورنيو د اقتصادی او کاری فرصتونو د پيدا کولو په موخه ايران او پاکستان ته مخه کړه.

د باميانو ولايت په اوس حال کې د هيواد په کچه يو نيستمن او غرنی ولايت دی او د کرنې له لحاظه يوه بې حاصله سيمه ده. د دې ولايت زياتره سيمه بې حاصله، د نه لاسرسی وړ، بې اوبو، ټوټه ټوټه،د غذايي نه مصونيت له مخې زياته خواره او د ځمکې د ناوړه کيفيت څخه برخوداره ده چې دا د سيمې د ځمکې خصوصيت جوړوی. دا سيمه د ډير کم يا هيڅ صنعت څخه برخمنه نه ده. په داسی حال کې چې د ولايت اکثره وګړی د ۲۰ کلونو څخه د ټيټ عمر درلودونکی کسان دی، د کار ځايې مارکيټ به په نږدې راتلونکی کې د ستونزو سره مخ شی که چيرې د نړيوالو او نا دولتی سازمانونو تر څنګ، د اشتغال موندلو نورې موثره سرچينې پيدا نه شی.

د باميانو په ولايت کې زياتې کانی سرچينی موجودی دی، خو دا زيرمې تر اوسه پورې په مناسب ډول نه دی سروې شوې او د ولايت او ولسواليو د اداری کچو د کمې او يا هيڅ ښکيلتيا پرته په ملی کچه په منظم ډول استخراج شوې. په اوس حال کې بهرنی پانګه وال په کهمرد(اټکل ۴۵ مټريک ټنه د ډبرو سکاره) او جنوبې شيبر کې تر ټولو ستر امتياز لری (د حاجيګک غاښی کې، ۱.۸ ميليارده مټريک ټنه معدنې اوسپنه ). د يکاولنګ او ورس ولسوالی هم د کانې سرچينو د استخراج لپاره د بل القوه پوتانسيل په حيث پيژندل شوی، خو تر اوسه ګټه ور څخه نه ده اخيستل شوې.

**سياسی انځور:** د يو څو ملکی تلفاتو د پيښو په درلودلو سره، د باميانو په ولايت کې امنيتی وضعيت نسبتا ارام دی، خو د دې سره سره، په دې ورستيو کې امينی وضعيت تر يوې اندازې خراب شوی دی. په داسی حال کې چې هزاره ګان نسبتا روڼ اندی او مترقی خلک دی او امنيتی وضعيت هم د بشری حقونو د کم تر کمه معيارونو د تطبيق لپاره مساعد دی، خو د باميانو ولايت لا هم د يو شمير ستونزو سره مخ دی او دا د اساسی بشری حقونو څخه د ځايې وګړو برخمن کيدل متاثره کوی.

ولايتی چارواکی داسی کافی ملاتړ نه دې تر لاسه کړی چې د ولسوالې او نورو چارواکو ته د دې توان ورکړی تر څو د بشری حقوقو معيارونه پلې کړی. دا چاپيريال همدارنګه په قضا کې د فساد لپاره مساعد دی او دا د ټولنې پر بنسټ د شخړو د هواری په ميکانيزمونو، کوم چې د ښځو لپاره ګټور نه دی د ځايي وګړو اتکا زياتوی. د دې سربيره، په ولايت کې د عامه مدافع وکيلانو کم شمير هم د عادلانه محکمې د معيارونو تطبيق متاثره کوی او د عدالت د پلې کولو په برخه کې د بشری حقوقو د سرغړونو سره مرسته کوی. نيستې، عنعنوی کړنې او معافيت يا د حساب ورکونې نه شتون د انديښنې وړ نورې مسلې دی.

د نورو سيمو په پرتله د باميانو په ولايت کې د مدنې ټولنې سازمانونه ډير فعال دی او د بيان د پام وړ ازادی څخه برخمن دی. د مدنې ټولنې د ۶۰ څخه زيات سازمانونه د عدليې د رياست سره ثبت دی.

د شمال شرقی ولسواليو زيامنتوب او د پسرلی او دوبی په موسمونو کې د کوچيانو مهاجرت موسمی امنيتې انديښنې را منځ ته کوی. د باميانو د ولايت زيانمنونکی سيمې د کهمرد،سيغانو او شيبر په دريو ولسواليو کې پرتې دی. د شيبر او کهمرد د ولسواليو ځايي عناصرو د ګاونډ بغلان ولايت د تاله او برفک په ولسوالی کې د دولت ضد عناصرو د شتون سره مرسته کړې او د افغان ملی پوليسو د تلاشی په پوستو يې دوامداره بريدونه تر سره کړی او د ۲۰۱۳ کال د پسرلی او دوبی په موسمونو کې يې تبعيه شوی چاوديدړونکی توکی ښخ کړی.

## ۳. د شخړې تحليل: د شخړې نمونې او محرکات

د افغانانو د ډيالوګ د دوهم پړاو پر مهال د څه نا څه ۲۴۵ انفرادی کسانو سره سلامشورې تر سره شويدی. هغوی په امنيت او ټيکاو باندې د ځايي شخړو د اغيزو په شمول، د هغو شخړو د نمونو په اړه هم خبرې کړې کوم چې د باميانو ولايت متاثره کوی. ګډونوالو وويل چې د باميانو ولايت په ګاونډ ولايتونو کې د خپريدونکې نا امنې، د نږدی سيمو څخه د دولت ضد عناصرو د نفوذ په اړه او د هغوی لخوا د باميانو او کابل په سړک د پوليسو په پوستو د بريدونو په شمول او همدارنګه د ولايت په وړاندې د مرکزی حکومت د بې اعتنايې له امله اغيزمن شوی. هغوی همدارنګه په محلی او مرکزی حکومتی ادرو کې پراخ فساد، کوم چې د معافيت د کلتور سره مرسته کوی او چيرې چې سياسی ګوندونه د مرتکيبينو د غير قانونې عملونو څخه حمايت کوی، پيژندلی. د دې سربيره، هغوی په هيواد کې د جګړې داخلې او بهرنې لاملونو، لکه په مرکزی حکومت کې د ځينو نژادی ډلو نفوذ، د مرکزی دولت له اړخه د باميانو د ولايت تجريد او د دريمو ډلو مداخلې ته اشاره کړې (ګاونډی ولايتونه او هيوادونه).

**د شخړو نمونې:**

**د دولت ضد عناصر(طالبان):** زياترو ګډونوالو طالبانو ته په باميانو ولايت کې د شخړې د اصلي لامل او د سولې او ټيکاو په وړاندې د يوه ستر ګواښ په سترګه کتلې. د ګډونوالو په حواله، طالبان د نا امنۍ څخه ګټه پورته کوي، ځکه نو په عمدي توګه غواړي نا امني را منځ ته کړي تر څو په دې توګه خپلو موخو ته ورسيږي. هغوی د باميانو د ولايت د ۶ ولسواليو څخه په دريو ولسواليو، يعنې(سيغانو،شيبر او کهمرد) کې خپل شتون ساتلی. د دغو ولسواليو څخه د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو چاودنې، د پوليسو د پوستو په وړاندې وسله وال بريدونه او د ملکي وګړو تلفات راپور شويدي. دا په سيمه کې د طالبانو د پام وړ شتون او د هغوی فعاليتونو ته اشاره کوي.

**د ګاونډ بغلان ولايت څخه د دولت ضد عناصرو نفوذ:** د باميانو د ولايت د سيغانو،شيبر او کهمرد په ولسواليو کې د طالبانو د شتون سربيره، دولت ضد عناصرو د بغلان د ولايت د تاله و برفک د ولسوالۍ څخه په باميانو کې هم نفوذ کړی او د افغان امنيتي ځواکونو او حکومتي ادارې په وړاندې يې بريدونه تر سره کړي تر څو په دې توګه د سيمې څخه تر وتلو وړاندې خپل شتون اوځواک وښيي. د راپورونو سره سم، د تاله و برفک په ولسوالۍ کې د طالبانو سيمه ييزه اداره شتون لري او له هغه ځايه څخه د طالبانو سره په همغږۍ کې خپل فعايتونه تر سره کوي تر څو په ګاونډ ولايتونو کې خپل حضور پراخ کړي.

ګډونوال فکر کوي هغه طالبان چې د باميانو د ولايت په سيغانو، شيبر او کهمرد ولسواليو کې ځای پر ځای دي په مستقيم ډول د هغو دولت ضد عناصرو لخوا څوک چې په تاله و برفک کې ميشت دي، اداره کيږي.

**کوچيان:** د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو تر منځ د څړ ځای پر سر شخړې اکثرا له خشونت څخه په ډکو مخالفتونو اوړي. د پسرلي او دوبي په موسمونو کې هر کال د ځايي ټولنو او کوچيانو تر منځ د ميدان وردکو د ولايت د اول او دوهم بهسودو په ولسواليو کې چيرې چې دا ولسوالۍ د باميانو د ولايت سره ګډه پوله لري د څړ ځايونو پر سر د وسله والو نښتو راپورونه ورکړل شويدي. د يوې پايلې په حيث، په هغو سيمو کې چيرې چې څړ ځايونه موقعيت لري د کوچيانو لخوا کله نا کله د باميانو د ولايت اوسيدونکی تر بريد لاندې راځي. د تمرکز د ډلې د خبرو اترو پر مهال، ګډونوالو د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو تر منځ شخړې ته په کتو ويلي شخړې د پښتنو واکمنان له هغې ساسي اجنډا څخه سرچينه اخلې چې غواړي هزراه ټولنه تر فشار لاندې راولي. په باميانو کې د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو تر منځ د څړ ځايونو پر سره لانجه د شخړې يو مهم لامل دی.

**د افغانستان ګاونډ هیوادونه:** ګډونوالو وویل[۱۹۵] چې، د هلمند د سیند په شمول کوم چې د ایران څخه تیریږی او د افغانستان او پاکستان تر منځ د ډیورند کرښې په ګډون، ایران او پاکستان په افغانستان کې خپلې ګټې لری. د دغو ګټو په پام کې نیولو سره،ګډونوال باور لری چې ایران او پاکستان به په افغانستان کې د کورنۍ لاسوهنې څخه لاس وا نه خلی، ځکه چې یو خپلواک او ثبات لرونکی افغانستان د هغوی په ګټه نه ده. له دې امله، هغوی ویلی چې د بهرنیو هیوادونو د اجنډاګانو تحمیل چې بې عدالتی را منځ ته کړې د شخړې او نا ارامیو لامل ګرځیدلی. د ګډونوالو په نظر، ایران او پاکستان د کورنۍ جګړې پر مهال د سیالو سیاسی ډلو ملاتړ کړی، د هغوی په استازیتوب په وسله والو شخړو کې ښکیل پاتې شوی او اوس غواړی د دینی علماوو له لارې مداخلې ته زمینه برابره کړی تر څو د شعیه او سنی ټولنو تر منځ نفرت را وپاروی. په بامیانو ولایت کې فرقه ای تبعیض یوه مهمه مسله ده.

**سیاسی سیالي:** ټولنه هغه وخت په منفی ډول متاثره شوه کله چې د کورنۍ جګړې څخه د سیاسی سیالو ډلو د میراث په نتیجه کې د ایران او پاکستان د طرفداره سیاسی ګوندونو مجاهدین په شخړه کې ښکیل شول. د بیلګې په توګه، یو شمیر زیاتې وسله والې شخړې د شعیه ټولنې په منځ کی د حرکت اسلامی(د اصف محصنی تر رهبری لاندې) سازمان نصر(د قربان علی عرفانی تر مشری لاندې)شورای اتفاق اسلامی(د سید علی بهشتی تر رهبری لاندې) او سپاه پاسداران اسلامی( د محمد اکبری تر مشری لاندې) واقع شوې. د سیغانو او کهمرد په ولسوالیو کې هم د سنی ټولنې په منځ کې د اسلامی ګوند(د حکمتیار په مشری) جمعیت اسلامی (د ربانی په مشری) او اتحاد اسلامی(د رسول صیاف په مشری) د ډلو تر منځ هم ورته وسله والې نښتې را منځ ته شوې. دغو شخړو، دواړو- ملکی کسانو او جنګیالیو ته تلفات واړول او لار یې غچ اخیستنو او بریدونو ته هواره کړه. که څه هم چې محلی حکومت په سیمه خپل کنترول لری خو هغه شخړې چې د پخوانیو وسله والو نښتو سره تړاو لری، لا هم کله نا کله واقع کیږی.

**د ځمکې پر سر شخړې:** د ځمکو پر سر شخړې په عام ډول د دوو کورنیو یا دوو قومونو تر منځ واقع کیږی. ګډونوالو د ځمکې پر سر د هغو بیلابیلو نښتو یادونه کړې د کومو په نتیجه کې چې ملکی تلفات را منځ ته شوې او همدارنګه یې په سیغانو کې د هزاره وو او تاجکانو تر منځ د اوبو پر سر د شخړې یادونه هم کړې. دوی وړاندوینه کوی چې که حکومت دغه ستونزې حل نه کړی، تشنج او تاوتریخوالې به له ولکې څخه ووځی. ګډونوالو همدارنګه په قضا کې د فساد د شتون په اړه هم یادونه کړې او وایې قانونی اجرات د دې په خاطر ځنډیږی تر څو زیاتې بډې تر لاسه کړی، او د ښې حکومتولۍ او د

[۱۹۵] د جولای ۱۸، د بامیانو مرکز

قانون د حاکمیت لپاره کافي ملاتړ موجود نه دی. په قانونې پروسه کې ځند تشنج او شخړې ته لار هواروی او د حکومت او ځایې ټولنې تر منځ اختلاف را منځ ته کوی.

**ناقانونه وسله والې ډلې:** په بامیانو کې ناقانونه وسله والې ډلې لا هم شتون لری او یو امنیتی ګواښ ګڼل کیږی. د یکاولنګ د ولسوالی څخه ګډونوالو په خاص ډول د حاجی یونس تر رهبری لاندې د یوې ناقانونه وسله والې ډلې یادونه وکړه. هغوی ادعا کړې چې دا شخړه د قضایه قوې د ناکامی په نتیجه کې را منځ ته شوی چې قضیه تر څو په مناسب او شفاف ډول حل کړی. ګډونوالو ویلې چې ځینې وسله والې ډلې د محلې حکومت په وړاندې مخالفت کوی، په داسی حال کې چې د سیاسی ګوندونو او پارلمان ځینو غړو د هغوی څخه د ټاکنو پر مهال د خپلو ګټو د خوندیتوب په موخه کار اخیستی.

**د شخړې محرکات**

**تبعیض:** د ګډونوالو په حواله، بامیان د مرکزې دولت له اړخه له پامه غورځول شوی. یوه تن دینی عالم[196] وویل چې، "موږ د حکومت له اړخه د پراخ تبعیض شاهدان یوو، د بیلګې په توګه، د بامیانو ولایت یو سوله ییز او د هلمند ولایت یو بې ثباته ولایت دی، حکومت بامیانو ته ۶ میلیونه امریکایې ډالر او هلمند ولایت ته ۵۰۰ میلیونه امریکایې ډالر ورکوی. بامیانو ته باید د خپل سوله ییز چاپیریال په خاطر تشویقی انګیرې په نظر کې ونیولې شی، په داسی حال کې چې دا برعکس دی."

د یکاولنګ د ولسوالی ګډونکونکی باور لری چې حکومت د سرچینو او بودیجې[197] په اختصاص کې توپیرې چلند کوی. د بامیانو په مرکز کې د خبرو اترو په جریان کې یوه ګډونوال وویل "د جګړې/ شخړې ریښې د قومی نفرت په درلودلو سره په حکومتونو کې دی. د جګړې زیاتره لاملونه داخلی دی او په قومی حکومتونو[198] کې ریښې لری".

**په حکومتی چارو کې د سیاسی ګوندونو مداخله:** د تمرکز د ډلو په زیاترو خبرو اترو کې، ګډونکونکو په حکومتی چارو کې د سیاسی ګوندونو د مداخلې او په ولسوالیو او د بامیانو په مرکز کې د منفې سیالیو په اړه د سیاسی ګوندونو د مداخلې په هکله خبرې کړې. ځینې چارواکې د سیاسی ګوندونو او بهرنیو هیوادونو سره اړیکې لری او ښکاره تعصب او فساد ته لار هواره وی. په داسی حال کې چې هغوی غواړی د ځان لپاره حمایت کسب کړی، د سیاسی ګوندونو فعالیتونو په اصل کې خلک ویشلې. د پوهنتون یوه تن استاد

[196] د سیغانو د ولسوالې د تمرکز ډله، د جون ۱۶، ۲۰۱۳ کال

[197] موقعیت:د بامیانو د ولایت د یکاولنګ ولسوالې، نیټه،۲۰۱۳/۶/۶. ګډونوال: نارینه او ښځې، د ښوونځیو ښوونکې، د ټولنې مشران، دینی علما، زده کونکی، بزګر، د ټولنو پرمختیایې ښوونځې(د ټولنو پر بنسټ پرمختیایې شورا ګانې، ښځې، شورا او سازمانونه)

[198] ولسوالې: د بامیان مرکز، نیټه، د اپریل ۱۷، ۲۰۱۳ کال.

وویل، ولې سیاسی ګوندونو د هیواد په وروستی تاریخ کې منفې نقش لوبولی دی. د نوموړې[199] په حواله، "په افغانستان کې په واقعې مانا هیڅ سیاسی ګوند شتون نه لری، د اوږدو جګړو په پایله کې سیاست په منفې ډول متاثره شوېدی، او ګوندونه قومی شویدی. نوموړی وویل چې موږ د واقعی سیاسی اجنډا درلودونکی سیاسی ګوندونه نه لرو".

د بامیان په مرکز کې په دې هوکړه وشوه چې "پخوا د سیاسی ګوندونو په منځ کې سیالۍ موجودې وې، په یوه دولتی موقف باندې د یوه سیال غړې په ټاکلو سره، د بلې سیالی ډلې لخوا منفې او ناوړه سیالی په سیمه کې منفې رقابت را منځ ته کاوه. د ټولو ګوندونو بنسټ پهقومی اړخونو ولاړ دی او د دې لپاره را منځ ته شوی څو د جنګسالارانو ګټې خوندی کړی، څکه نو دا ډول ګوندونه اساسا شخصی[200] ګوندونه دی."

د ټولنی یوه تن ګډونکونکی وویل چې:

> ”زیاتره لوړ رتبه دولتي پوستونه سیاسي پوستونه دي، د دې لپاره چې کوم دولتي مقام تر لاسه کړي، نو ضروري ده چې د نوموړي حمایت د کوم سیاسي ګوند او یا کوم سیاسي شخص لخوا وشي، هغه شخص چې موقف تر لاسه کوي، ضروري ده د حکومت او هغه سیاسي ګوند لپاره کار وکړي د چا له طرفه چې معرفي شوی او یا یې حمایت شوی.“ [201]

**د معافیت کلتور او د قانون د پلې کولو نه شتون:** د خبرو اترو پر مهال، اکثرو ګډونوالو د قانون د نه پلی کولو، د معافیت د کلتور، بې عدالتی او د ټولنیز عدالت د نه شتون په اړه اندیښنې مطرح کړې. د کهمرد د ولسوالی څخه د ټولنې یوه تن مشر وویل "په داسې حال کې چې د تابعیت د تذکرې اصلی بیه ۱۰ افغانۍ ده، د نوموړی څخه د خپلو ماشومانو د تابعیت د تذکرې د اخیستلو په خاطر د ۱۰۰۰ افغانیو غوښتنه شوې، د داسې فساد په درلودلو سره، دولت ضد عناصر به د ټولنې د غړو په زړونو کې د ځان لپاره ځای جوړ کړی."[202]

د ګډونوالو په حواله، قضایې ریاستونه په بشپړه توګه فاسد او په اداري فساد کې ښکیل دی. د هغو ټولو کسانو لخوا چا چې د تمرکز د ډلو په خبرو اترو کې اشتراک کړی د فساد په اړه خپلې اندیښنې څرګندې کړې. نا حل شویو قضیو هم کومې چې د اوږدې مودې

[199] " په بامیانو کې د سیاسی ګوندونو پراخ شتون. دغو ګوندونو زموږ ټولنه په ډېرو برخو ویشلې او غواړی خلـک جلب کړی. هغوی پروپاګنده او ناوړه شیان پیل کړی". د تمرکز د ډلې خبرې اترې: ولسوالې: د بامیـان مرکز،نیتـه، د اپریل ۱۷، ۲۰۱۳ کال.

[200] د تمرکز د ډلې خبرې اترې، ولسوالې: بامیان مرکز، نیټه،د اپریل ۱۷، ۲۰۱۳ کال

[201] د ورس د ولسوالی د تمرکز د ډلې خبرې اترې، ولسوالی:د بامیان مرکز، نیټه، د می ۲۲، ۲۰۱۳ کال.

[202] د کهمرد د ولسوالی د تمرکز د ډلې خبرې اترې، د سپټمبر ۱، ۲۰۱۳ کال.

راهيسې د عدلي تعقيب د دفترونو او محاکمو سره نا تمامه پرتې دی په حکومت بې اعتمادی او بد گمانې را منځ ته کړې. نا حل شويو قضيو هم لا زياتو شخصی، قومی او نژادی شخړو ته لار هواره کړې.

**اداري فساد:** په هره ساحه او هر رياست کې د پراخ اداري فساد شتون د ټولنې د غړو په منځ کې د بې باورۍ او بد گمانې يو چاپيريال را منځ ته کړی، کيدای شی دا چاپيريال د باميانو د ولايت په ځينو سيمو کې د بيلګې په توګه د کهمرد، سيغانو او شيبر په ولسواليو کې په کومو کې چې دولت ضد عناصر لا له وړاندی موجود او فعال دی، د هغوی د فعاليتونو د د زياتوالي لپاره يو فرصت په لاس ورکړی.يو چانس ورکړې.

د حکومت په دننه کې بې عدالتی او فساد خلک د خپلو رايو د ورکولو څخه محروم کړيدی. ګډونوالو په مرکزی حکومت د قانون د نه پلي کولو په خاطر نيوکې کړې. دلته د معافيت يو خاص کلتور موجود دی، سياسی ګوندونه د ناوړه عملونو د مرتکبينو څخه ملاتړ کوی، حکومت دغو مرتکبينو ته د سزا ورکولو په برخه کې کمزورۍ او په فساد ککړ دی. هغوې د حکومت له اړخه د فساد په وړاندې د مبارزې په برخه کې د دولت په ناتوانې ټينګار کړی او د روانې شخړې پړه يې د قانون د حاکميت په نه شتون اچولې.

**نيستي:** په ولايت کې بې کارې او د پرمختيايي فرصتونو نه شتون هم د شخړې يو ستر لامل دی. په افغانستان کې د ديموکراتيک دولت د جوړيدو راهيسې، د دولتی چارواکو او خلکو دواړو لپاره غير متوازن او نا مساوی پرمختيا د انديښنې وړ يوه موضوع ده. په افغانستان کې د ديموکراسې د تاسيس او د نړيوالې ټولنې دښکيلتيا سره، د ټولنو غړی د يوې روښانه راتلونکې او عادلانه پرمختيا لپاره خوشبين و، خو د باميانو د ولايت په وړاندې د تبعيض او تعصب له امله په ولايت کې هيڅ ستره پراختيايي پروژه پيل نه شوه. دا موضوع د يو شمير ګډونوالو لخوا مطرح شوه. يوه ګډونوال وويل، "د باميانو د ولايت سره د کابل له اړخه تبعيضی چلند کيږی او هغه پاملرنه د کومې چې مستحق دی نه ده ورته شوې." [۲۰۳]

**په دولت کې د مسلکيتوب نه شتون:** د تشنج او شخړې هغه نورې مسلې چې د تمرکز د ډلې د اتو ناستو، د سروې د ځوابونو او له وړاندې څخه د ترتيب شويو مرکو له لارې په باميانو ولايت کې مطرح او پيژندل شوې په هغو کې په دولت کې د مسلکيتوب نه شتون،د عامه اداري د اصلاحاتو نه پلي کيدل او په دولت باندې د ټولنې بې باورې شامله ده.

[۲۰۳] جوړښتې مرکه، محمد صاديق علی يار زاده، د سولې د ولايتې کميتې مشر، باميان مرکز.

## ۴. د خلکو سپارښتنې او دسولی نقشه:

د سلامشورو د خبرو اترو په جريان کې، ګډونوالو د لاندې يادو شويو عمومی سپارښتونو وړانديز کړی تر څو دولت، د نړيوالې ټولنې فعالان او مدنې ټولنه په باميانو ولايت کې د شخړې د اصلي لاملونو د ځوابولو په خاطر په يوه ګټور ډيالوګ کې ښکيل کړی.

**د افغان امنيتی ځواکونو پياوړتيا:** زياتره ګډونوال په دې نظر و چې افغان امنيتی ځواکونه بايد وروزل او په لازمو وسلو او مهماتو سمبال شی تر څو د هيواد څخه ساتنه وکړی. په باميانو کې د امنيت د ساتلو په خاطر د افغان ملی پوليسو په شمير کې د زياتيدو او په باميانو کې د افغان امنيتی ځواکونو اډې ته خاص ضرورت دی.

**د بهرنيو پاليسې ګانو توجيه:** د دې په خاطر چې د ګاونډيو هيوادونو سره، په خاص ډول د ډيورند د کرښې پر سر د پاکستان سره د خړپړتيا کچه را ټيټه او دې مسلې ته د حل يوه لار پيدا شی، ګډونوالو د بهرنيو پاليسې ګانو د توجيه کولو وړانديز کړی څو د بهرنيو چارو سره په ديپلوماتيک لحاظ چلند وشی.

**د سولې او پخلاينې د پروسې د جامعيت ملاتړ:** د سولې خبرې اترې بايد د پوهانو ، دينی علماوو،د ځوانانو د ډلې، مدنې ټولنې د فعالينو، بشری حقونو د فعالينو، ښځو حقونو د فعالينو او نړيوالې ټولنې لخوا له طالبانو سره تر سره شی. طالبان بايد د سولې د خبرو ترو سره يو ځای شی، که نه نو بايد په جبری ډول له منځه يووړل شی. د دې په خاطر چې د دوی د ولسوالی څخه د دولت ضد عناصرو د نفوذ مخنيوی وشی، بايد د بغلان د ولايت د تاله و برفک د ولسوالی د اوسيدونکو سره د سولې خبرې اترې پيل شی.

**د سولې په پروسه کې د ښځو ښکيلتيا:** د تمرکز د ډلې په هره ناسته کې، ګډونوالو د ښځو د حقونو په ترويج او د سولې په پروسه او د پريکړې نيولو په لوړو کچو کې د هغوی په ښکيلتيا ټينګار کړی. "د سولې په هره پروسه کې، بشری حقونو په خاص ډول د ښځو حقونو ته بايد درناوی وشی او د دولت ضد عناصرو لخوا افغان اساسی قانون ومنل شی او هغه ته درناوی وکړی." د افغانستان اساسی قانون د ښځو او نارينه وو لپاره مساوی حقونه برابروی. "بايد د ښځو حقونه او بشری حقونه قربانې نه شی، بايد د لږکيو د حقونو درناوی وشی." طالبان(ناراضی ورونړه)بايد افغان اساسی قانون او د بشری حقونو نور اصول ومنی.

**د بشری حقونو او د قانون د حاکميت ترويج څو وکولای شی د فساد او معافيت مخنيوی وکړی:** زياتره ګډونوال په دې باور دی چې د بشری حقونو تعميل او د معافيت له منځه وړل به د سولې او همدارنګه د ټولو نژادی ډلو په منځ کې د مساوی عدالت څخه د ډاډ حاصلولو

او د اسلامی اصولو د درناوی سره مرسته وکړی. سوله بايد د معافيت لپاره يو پوښښ نه وی. د پوهاوی د لوړلو کمپاينونه بايد د ښځو د حقونو په پلويتوب پيل شی.

**د ټولنيزې او اقتصادی پراختيا پياوړی کول:** د تعصب پرته مساوی پراختيا. نړيواله ټولنه بايد د باميانو د ولايت پراختيايې مسايل له پامه ونه غوځوی. باميانو او د هيواد نورو ولايتونو ته بايد مساوی انکشافی بوديجه اختصاص شی. د هغو سړکونو د امنيتې وضعيت په اړه بايد غور وشی کوم چې باميان او کابل سره نښلوی. د سولې د پروسې او د افغان قانون په اړه بايد په ټولنه کې د پوهاوی کچه لوړه شی.

**د انتقالي عدالت پلې کول او ولايت ته واک ورکول:** ګډونوالو په هيواد کې د پايدارې سولې او امنيت په برخه کې د يوې ښې حل لارې په حيث ولايتونو ته واک ورکول او همدارنګه د هيواد په کچه د يوې ستراتيژې د جوړولو وړانديز هم کړی چې د ټولنې ټول قشرونه او ټولنيز عدات په پام کی ونيسی. ګډونکونکو ويلې چې په افغانستان کې د پايدارې سولې په لور ملی وحدت، او ټولنيز عدالت يو مثبت ګام دی.[٢٠٤]

[٢٠٤] د يکاولنګ په ولسوالی کې د تمرکز د ډلې خبرې اترې، نيټه، ٢٠١٣/۶/۶ او د تمرکز د ډلې خبرې اترې، شيبر ولسوالی، د اپريل ٢۴، ٢٠١٣ کال

# د پنجشیر ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

دغه د سول یولایتی نقشه په ډله ییزو متمرکزو بحثونو کې د رابرسیره شویو کلیدی موندنو لندیز وړاندی کوی کوم چې د پنجشیر په ولایت کې د کابو ۸۰ تنو ځایی ټولنو غړو سره د مشورو پر مهال، د ۵ انفرادی مصاحبو او ۱۰ د نظریو سرویګانی له لاری، ترتیب شویدی. ګډون کوونکو کې، چې د بیلابیلو ټولنیز – سیاسی مخینو استازیتوب کول، د ټولنی مشران، نارینه او ښځینه ښوونکی، د ځوانانو د موسسو استازی، د مدنی ټولنو استازی، دینی عالمان او پخوانی جهادی قوماندانان شامل وو.

دغه سلا مشوری د سولی په اړوند د افغانانو ډیالوګ په دوهم پړاو کې تر سره شوی چې د ۱۱ مدنی ټولنی او د افغانستان د بشری حقونو د کمیسیون په ګډون په نوښت سره لاری ته اچول شوی تر څو ۴۵۰۰ تنه افغانانو سره مشوره وکړی او د ۳۴ ولایتونو څخه، د هر ولایت د سولی ځایی طرحی لپاره یو راپور تیار کړی.

د سولی په اړوند د موجوده ځایی طرحی هدف دا دی چې تر ممکنه حده پوری د وضعیت ارزونه وکړی او د کړنی وړ معقولی حل لاری وړاندیز وکړی چې د پنجشیر په ولایت کې د دوامداری سولی او ټیکاو سره مرسته وکړی.

## ۲. ولایتی انځور: جغرافیه، د وګړو ترکیب او سیاسی وضعیت

د پنجشیر دره (د پنځه زمریانو دره) د کابل په شمال کې ۱۲۰ کیلومتر لیری د هندوکش غرونو لړی ته نږدی موقعیت لری. ټول ټال ۶۶۴۵ کیلومتر مربع مساحت لری. دغه ولایت د پروان یوه برخه وه او تر ۲۰۰۴ کال پوری کله چې پریکړه وشوه تر څو د دریمی ګټګوری ولایت په ډول رامنځته شی، څلور حصی درلودی چې له اولی تر څلورمې حصه پوری نومیدې. اوس مهال اووه ولسوالی لری: د ولایت مرکز بازارک، حصه اول (اوله ګټګوری ولسوالی چې مرکز یی خنج یادیږی)، روخه (دویمه ګټګوری ولسوالی چې مرکز یی شاست دی)، عنابه (دویمه ګټګوری ولسوالی مرکز یی عنابه دی)، دره (دویمه ګټګوری ولسوالی مرکز یی کرامان دی)، پریان (دویمه ګټګوری ولسوالی مرکز یی ناودانک یادیږی) او شتل (دریمه ګټګوری ولسوالی چې مرکز یی دالان سنګ نومیږی). د ۲۰۱۲ کال په لومړیو کې د ابشار په نامه نوی ولسوالی، چې د دره د ولسوالی څخه بیل شوی، رامنځته شوه تر څو دولتی خدمات (په ځانګړی ډول روغتیایی او روزنیز خدمتونه) د دره ولسوالی لیری پرتو وګړو ته ورسول شی خو لا تر اوسه په بشپړ ډول سره نده فعاله شوی.

په تاریخی لحاظ د پنجشیر ولایت د جمعیت اسلامی سیاسی ګوند او جمعیت/شورای نظار، د شوروی د یرغل پر مهال – د جهاد په وخت کې د ۵۰۰ روسی ټانکونو په واسطه د ورځې د ولسوالی مشهوره محاصره، او د ۱۹۹۶-۲۰۰۱ کال پوری د طالبانو پر ضد د احمد شاه مسعود د مقاومت تحریک، پوری تړلی دی. په ورته ډول سره دغه ولایت ډیری

سختی جګړی او محدودیتونه (جیره بندی) تجربه کړی چې د هغه له امله د دی سیمی وګړی څو ځله د خپلو سیمو پریښیدو ته اړ شوی او د بیا میشت کیدو لپاره نورو ولایتونو او یا هم د هیواد څخه بهر ته ګډه شوی.

د قومی ترکیب په لحاظ د پنجشیر ولایت تاجک تبار دی ، او د طالبانو سره تاریخی مخالفت درلودونکی دی .

که څه هم ځایی یاغیتوب په ولایت کې شتون نلری، خو د ګاوندی ولایت نورستان او همدارنګه د بغلان او کاپیسا ولایتونو څخه د دولتی ضد عناصرو خوځښت د چارواکو د اصلی اندیښنی په ډول پاتی دی. د نورستان په ولایت کې د یاغیتوب په اړوند فعالیتونه د پنجشیر ولایت هم اغیزمن کړیدی ځکه چې د تاوتریخوالی څخه تښدیلی مهاجرین دغه ولایت ته راځی. د ډی ډی آر د پروسی څخه ناراضه شوی پخوانی جهادی قومندانان او تر نن روځی پوری بیروزګاری د چارواکو په نزد د بی ثباتی لپاره د بالقوه سرچینی په سترګه لیدل کیږی.

## ۳. د جګړی تحلیل: د جګړی ډولونه او انګیزی

**د جګړي ډولونه:** د پنجشیر ولایت د ټولنی غړی په ویاړ سره وایی چې په دغه ولایت کې اوسنی جګړی شتون نه لری. دوی وایی چې وضعیت په دغه ولایت کې د مرکزی حوزی له نورو پنځو ولایتونو څخه په بشپړ ډول سره توپیر لری. دوی دری عمده دلیلونه وړاندی کړل چې ولی د پنجشیر ولایت په مرکزی حوزی کط تر ټولو زیات امن ولایت ګنل کیږی. لومړی دلیل جغرافیایی موقعیت دی. د پنجشیر ولایت په لوړو غرونو سره راچاپیر شوی چې د ګاونډیو ولایتونو څخه ورته لاسرسی امکان نه لری مګر د پروان ولایت څخه پر ته چې د پنجشیر ولایت ته د ننوتو دروازه نومول شویدی. دویم دلیل د پنجشیر ولایت جهادی تاریخ دی چې وګړی یی سره یو موټی ساتلی دی. دوی یاده کړه چې د پنجشیر ولایت د اوږدی مودی لپاره د جهاد زړه وو، د روسی او کابل مرکزی حکومت پر وړاندی ۱۴ کاله مبارزه او بیا د طالبانو پر وړاندی۵ کاله مقاومت د وګړو د پیاوړی یووالی لامل شویدی.

یوې ښځینه ښوونکی چې د خلکو په ډیالوګ کې ګډون کړی وو وویل:

> ”د پنجشیر په ولایت کې جګړه نشته، دا ځکه چې زمونږ خلک یو موټي دي او یو د بل ملاتړ کوي. مونږ د دولتي ضد عناصرو څخه ملاتړ نکوو او د خپلو خلکو او هیواد په مقابل کې خپلو مسؤلیتونو باندي پوه یو.“

دریم دلیل په قومی ترکیب پوری نغښتی دی: د پنجشیر ولایت ټول اوسیدونکی په تاجک قومونو پوری مربوط دی.

یوه قومی مشر وویل:

″ ډیري جګړي د قومي شخړو له امله رامنځته شوي. طالبانو د دغه ډول شخړو څخه په استفادي سره د یوه قوم ملاتړ تر لاسه کړ تر څو د هغه بل پر ضد جګړه وکړي. له نیکه مرغه په پنجشیر کې مونږ ټول د یو قوم څخه یو. مونږ ټول په اتحاد د یو بل سره ولاړ یو: مونږ د یو بل ملاتړ کوو ځرنګه چې مونږ د اوږدی مودي لپاره خپل د مجاهدینو ملاتړ وکړ.″

خو د دی سره سره د سولی او ټیکاو په اړوند ژوری اندیښنی شتون لری چې د ځایی خلکو په باور تر ګواښ لاندی دی.

د مدنی ټولنی یو فعال وویل:

″ همدا اوس مونږ د پنجشیر په ولایت کې د جګړي سره مخامخ نه یو، خو د راتلونکي په هکله مونږ جدي اندیښنه لرو. مونږ تر اوسه یو حساس پړاو ته نه یو رسیدلي خو مونږ داخلي سیاسي ستونزي لرو چې کولای شي د ولایت موجوده سولي ته ګواښ زیات کړي.″

د بحثونو په لړ کې خلکو موجوده او راتلونکی اندیښنو ته اشاره وکړه.

**د خلکو اوسني اندیښني:** د ډله ییزو بحثونو پر مهال ګډونکوونکو پر دریو اصلی اندیښنو باندی ټینګار کاوه چې کیدای شی په ولایت کې د جګړی لامل وګرځی:

- اداری فساد او ځایی کمزوری حکومت؛
- د مرکزی حکومت له خوا کمه پاملرنه چې په تبعیض آمیزه پالیسی منجر شوی.
- د پرمختیایی پروژو نشتوالی چې د لوړی کچی د بې روزګاری لامل شوی.

**اداری فساد او کمزوری حکومت:** د ټولنو غړی د اداری فساد او د حکومتی چارواکو د کمزورې کړنی څخه شاکی وو. دوی ویل چې چارواکی د ټولنو بېوزلو غړو د ژوند کچی ته پاملرنه نه ده کړی. دوی وویل چې حکومت نه دی توانیدلی په تېرو څو کلونو کې د ژوند د وضعیت د ښه کولو په ډګر کې زیات څه تر سره کړی.

د مدنی ټولنی یوه فعال یاده کړه:

″ اداری فساد کولای شي د پنجشیر په ولایت کې سوله له منځه یوسي. اوسني حالت د هري ورځي په تېریدو سره خرابیږي او داسي اداره شتون نه لري چې د فاسدو چارواکو سره مبارزه وکړي او د دوي څخه خلاصون وومي.″

د خلکو په وینا په ولایت کې فاسد چارواکی د کابل د مرکزی حکومت د ځینو زورواکو کړیو له خوا تقویه کیږی. البته دغه ډول ملاتړ اداری فساد لا زیات هڅوی.

یوه ځایی مشر ادعا وکړه:

″ اداري فساد او کمزورې حکومتولی د مرکزي حکومت له خوا تقویه کیږي.″

وروسته د مدنی ټولنی یو فعال وویل:

″ د ټولنو تر ټولو ستره اندیښنه د ځایي حکومت کمزورتیا ده. د خلکو او حکومت تر منځ واټن د هري ورځې په تېریدو سره زیاتیږي. حکومتي چاروکې نور نو دا ظرفیت نه لري چې خلک او ټولني ځان ته راجلب کړي″

**د مرکزی حکومت له خوا کمه پاملرنه:** د ګډونکوونکو زیات شمېر ادعا کوله چې مرکزی حکومت پنجشیر ولایت ته کافی پاملرنه نه ده کړی.

یوه پخوانی جهادی قومندان وویل:

″ د پنجشیر په ولایت کې اوسنۍ سوله ډیره ټینګه نه ده؛ که چېري د مرکزي حکومت چاروکی د پنجشیر ولایت په وړاندي خپل تبعیض ته ادامه ورکړي، دا امکان لري چې د پنجشیر خلک د خپلو حقونو لپاره بیا جګړه پیل کړي.″

یوه تن حکومتی کارکوونکی وویل:

″ مونږ د پنجشیر ولایت په وړاندي د مرکزي حکومت له خوا د تبعیض په اړوند اندیښنه لرو. د پنجشیر په ولایت کې ټولنیز عدالت شتون نه لري. که چیرته دغه تبعیض ادامه ومومي نو کیداي شي اوسني سوله او ټیکاو له ګواښ سره مخامخ شي.″

د ټولنی غړو په ټینګ باور درلودچې دوی د سولی قربانیان دی. دوی ادعا لری چې د دغه ولایت سوله ییز حالت د دی لامل شوی چې نړیواله ټولنه کافی پرمختیایی او د کارموندنی پروژې تیارې او پلی نکړی.

یوه ځایی مشر یاده کړه:

″ مونږ د دي شاهدان یو چې د مرکزي زون په ناامنو ولایتونو کې پروژې پلي شوي او مالي مرستي وراستول شوي. خو مونږ ته هیڅ شي هم نشته: دا ځکه چې مونږ د یوه ښه سوله ییز او د ټیکاو حالت څخه برمن یو او نړیواله ټولنه نه غواړي چې په امنو او د ټیکاو لرونکو سیمو کې خپلي پیسي مصرف کړي. تاسي ما ته ویلاي شئ چې ولې؟ مونږ هم کار، عاید او پرمختګ ته اړتیا لرو –

دا تبعيض دی، نړيواله ټولنه بايد له سولې څخه برخمن ولايتونو، لکه پنجشير ولايت، ته هم پاملرنه وکړي تر څو نور نا امنه ولايتونه لکه د لوګر ولايت، وهڅول شي تر څو خپل نا امنه چاپېريال ته بدلون ورکړي.″

**د پرمختيايي پروژو کمښت او بېروزګاری:** ګډون کوونکو د پنجشير په ولايت کې د بېروزګاری په اړوند خپله انديښنه رابرسيره کړه، په ځانګړی ډول د ښځو په اړوند. د پنجشير په ولايت کې په تيره ۲۰ کلنه جګړه کې کابو ۴۰۰۰ کونډې پاتې دی چې ټولې يی د کار په لټه کی دی. د دی برسيره ځوان نسل هم کار ته اړتيا لری. دوی ادعا کوله چې ځوان نسل د پنجشير ولايت پرېږدی او د کاری فرصتونو په لټه کې کابل ته ځی. په داسی حال کې چې دلته کانونه، قيمتی کانی او د اوبو سرچينی شته، خو د ټولنی مشرانو د پنجشير په ولايت کې د پرمختيايي پروژو د پلی کولو له کمښت څخه شکايت درلود.

د مدنی ټولنی يوې ښځينه غړې وويل:

″ زه غواړم چې د پنجشير په ولايت کې د ښځو د ځوان نسل د بېوزلي او بېروزګاري په اړه په خپلې انديښني باندي اصرار وکړم. مونږ د ۴۰۰۰ تنو څخه زياتې کونډې ښځې لرو چې کار، عايد او ساتني ته اړتيا لري. خو ځايي او مرکزي حکومتونه بې اندازه کمزوري دي او داسي مسالو ته هيڅ پاملرنه نه کوي.″

د دينی عالمانو يوه غړی وويل:

″ د پنجشير په ولايت کې زمونږ د وګړو ستره انديښنه بېوزلی، بېروزګاري او بېسوادي ده...″

يو پخوانی جهادی قوماندان وويل:

″د زياتو کلونو د جهاد له امله مونږ زيات شمېر کونډې، ژوبل او معيوب کسان لرو؛ د دي برسيره د کار نشتون او د پرلپسي مايوسي له امله زيات خلک په مخدره توکو روږدي شوي او مونږ متخصص کسان نه لرو چې د دوي سره مرسته وکړي. دغې مسالې د خلکو او حکومت تر منځ تشي او واټن رامنځته کړيدي. ″

د دی نه علاوه زيات شمېر مجاهدين چې خپلی وسلی يی د ډی ډی آر تر پروګرام لاندی سپارلی دی بيروزګاره دی او د حکومت د ملاتړ د نشتون له امله شکايت لری.

يوه پخوانی جهادی قوماندان په لاندی ټکو باندی اصرار وکړ:

″ زه د جهاد پرمهال د څو کلونو لپاره قوماندان وو، خو کله چې زه د ډي ډي آر د پروګرام سره يو ځاي شوم حکومت مونږ هېر کړو. دوي زمونږ د راتلونکي په هکله هيڅ پاملرنه ونکړ؛ دوي يوازي زموږ نه وسلي واخيستلي او مونږ يي

یوازي پرېښودو. د حکومت کړني د خلکو د اندیښنو اصلي لاملونه دي. اوس مهال مونږ وسله نه لرو او جګړه نه کوو او د جګړي د بیا نه پیل کولو په خاطر کار ته اړتیا لرو.″

په همدی اړوند یوه بل جهادی قومندان وویل:

″ کله چې مونږ وسلي تسلیم کړې خو زمونږ د ستونزو په اړوند د حکومت پاملرنه کمه شوه. تاسي وینئ چې زمونږ زیات شمېر جهادی قومندانان وو او له ځانه سره مو وسلي او افراد درلودل، او کله چې جهاد ختم شو او چارواکو له مونږ نه وغوښتل چې خپلي وسلي تسلیم کړو او زمونږ سره یې وعده وکړه چې دوي به مونږ ته کاري فرصوتونه برابروي، مونږ په خوشحالی سره ومنله، د ډي ډي آر د پروګرام سره یو ځاي شولو، خپلي ټولي وسلي مو تسیلم کړې خو له بده مرغه حکومت مونږ هېر کړو. په لومړیو کې مونږ دیر هیله من وو خو اوس مونږ پر حکومت باندي اعتماد نه لرو.″

**د خلکو راتلونکي اندیښني:** د پورته یاد شویو موضوعګانو جلا، د پنجشیر ولایت د ټولنو غړو نوری اندیښنی را برسیره کړې چې دوی هغه د ؛راتلونکی اندیښنی؛ په نوم یادوی:

(۱) د حکومت او نړیوالی ټولنی له خوا د مجاهد مشرانو ترک کول او هیرول؛

(۲) د مجاهدینو تنظیمی اختلافات؛

د مجاهدینو د مشرانو هېرول د دوی د مایوسی او ناخوښی سبب وګرځید:

″ مرکزي حکومت او نړیواله ټولنه د مجاهدینو مشران هېر کړل. مونږ د شوروي او طالبانو پر ضد جهاد کې ستر کار تر سره کړ خو و نه ستایل شوو.″

د مجاهدینو تنظیمي شخړي: د ټولنو غړو وویل چې په کابل کې د بیلابیلو تنظیمونو د مجاهدینو د نخبګانو تر منځ خړپړتیا زیاته شویده، چې د پنجشیر ولایت څخه د مجاهدینو مشران هم په کې شامل دی. خلکو دا اندیښنه را برسیره کړه چې دوی د دغه انشعاب څخه اندیښنه لری او ډاریږی چې په کابل کې د نخبګانو د خپل منځی اختلافات د پنجشیر په ولایت کې د مجاهد مشرانو د انشعاب او خړپړتیا لامل نه شی.

دری اصلی اندیښنی شتون لری: (۱) ځایی حکومت (۲) مرکزی حکومت او (۳) د پنجشیر سیاسې مشران.

۱. ځایی حکومت: د ټولنی غړو د ځایی چارواکو د کمو اجرااتو او اداری فساد په اړوند شکایت درلودل.

یوه ځایی مشر وویل:

" زمونږ ځایي چارواکي په خپلو شخصي کاروبارونو بوخت دي او د خلکو په اړوند کومه پاملرنه نه لري. د ګمارنې پروسه شفافه نه ده؛ دوي د زورواکو چارواکو سره د اړیکو درلودلو له امله ټاکل شویدي."

۲. مرکزی حکومت: د ګډونکوونکو زیات شمېر مرکزی حکومت په " تبعیض" ګرم کړ.

یوه پخوانی جهادی قومندان لاندی ټکی یاد کړل:

" د زیاتو کلونو د جهاد له امله، مونږ زیات شمېر کونډې، ژوبل او معیوب کسان لرو؛ د دي برسیره بېروزګاري او مایوسي زیات شمېر په مخدره توکو روږدي کړیدي او مونږ دلته مسلکي کسان نه لرو چې د دوي سره مرسته وکړي. دغې مسالې د خلکو او حکومت تر منځ خلا رامنځته کړي."

" د اوسني حکومت په لومړیو کې د پنجشیر زیات شمېر مجاهد مشران د حکومت سره یو ځاي شول او خپلې وسلې یې دوي ته وسپارلې تر څو د خلکو لپاره کار وکړي؛ بیا مرکزي حکومت ورو ورو د پنجشیر ولایت څخه مجاهد مشران لیري کړل. اوس مهال مونږ یوازي دوه مجاهد قومندانان په حکومت کې لرو. خو زه ټینګ باور لرم چې دوي به زمونږ د جهاد او په تېر وخت کې زمونږ د کړني ستاینه او تقدیر وکړي."

۱. د پنجشیر سیاسي مشران:

د ټولنی مشرانو وویل چې د کابل د بیلا بیلو تنظیمونو د مجاهدینو په نخبګانو کې خپل منځی خړپړتیا زیاته شوی، چې د پنجشیر مجاهد مشران هم په کی شامل دی. خلک د همدی تقسیم په اړوند خپله اندیښنه څرګنده کړه او له دی یې ډار درلود چې په کابل کې د نخبګانو خپل منځی اختلافات د پنجشیر په ولایت کې هم خپل منځی اختلافات او خړپړتیا رامنځته کړی.

یوه پخوانی جهادی قومندان وویل:

" د جهاد څخه وروسته د ټولني سیاسي - ټولنیز جوړښت بدلون موندلی. په تېر وخت کې یوازي یو مشر وو، ؛احمد شاه مسعود؛، خو په اوس وخت کې مونږ زیات شمېر مشران لرو څوک چې لومړي د خپلو ګټو په هکله فکر کوي مخکې له دې چې دوي زمونږ په اړه، د خلکو په هکله فکر وکړي. زمونږ اوسني مشران د ټولنو د ستونزو څخه آګاه ندي حتی دا چې دوي د خلکو سره خبري هم نه کوي."

## ۴. د سولي لپاره طرحه

د ډله ییزو بحثونو، مصاحبو او د نظریو د سرویګانو د پروسی پر مهال، د پنجشیر د ټولنو غړی په دغه ولایت کې د ټیکاو د ډاډمن کولو، پایداره سولی او د خلکو د ښه راتلونکی په خاطر لاندنی سپارښتنی وړاندی کړې. دوی پر دوو عمده ډګرونو باندی تمرکز درلود:

(۱) د ځایی حکومت سمون؛

(۲) په ولایت کې د اقتصادی او پرمختیایی پروژو په هکله توجه او تر اوسه پوری هېر شوی ولایت ته ځانګړی پاملرنه؛

**۱. د ځايي حکومت سمون:** خلک په دی باور وو چې د ولایتی چارواکو زیات شمېر د اهلیت پر بنسټ نه دی ګمارل شوی او یوازی د شخصی اړیکو پر بنسټ مقرر شویدی.

یو ځایی مشر وویل:

> " که یو کمزوره سړی د شخصي اړیکو پر بنسټ مقرر شوي وي، هیڅوک به د هغه د وړتیا په هکله پوښتنه و نه کړي."

همدارنګه دوی د سمون او د چارواکو د ظرفیت د ارتقاء د پروګرام پر اړتیا باندی ټینګار وکړ.

د مدنی ټولنی څخه یوه ځوان کس وویل:

> " مونږ وینو چې د پنشجیر په ولایت کې یو شمېر چارواکی د زیاتی مودی لپاره په عین منصب کې کار کوی پرته له دی چې کومه لاسته راوړنه ولری بیا هم د هغه څوکۍ څخه نه تبدیلږی."

**۲. په ولایت کې د اقتصادي پرمختیايي پروژو په اړوند پاملرنه:**

د پنجشیر په ولایت کې ښی سرچینی لکه کانونه، قیمتی ډبری او اوبه شتون لری او د ټولنو غړو د سمی پانګونی لپاره غږ وکړ.

> " مونږ په خپل ولایت کې ښي سرچیني او فرصتونه لرو، خو اړتیا ده چې حکومت زمونږ هېر شوي ولایت ته لومړیتوب ورکړي، د دي سربېره د پنشجیر د سند په اوږدو باندي د اوبو بریښنا بند تاسیس کولاي شي د خلکو د ژوند په بدلون کې مرسته وکړي او ټول ولایت به بریښنا ته لاسرسي ولري."

## ۵. د خلکو سپارښتنی:

(۱) د اهلیت پر بنسټ د ځایي حکومت سمون چې د خپلولي څخه ډډه وکړي؛ (۲) د اداری فساد په وړاندی مبارزه؛ (۳) د ځایی چارواکو لپاره د ظرفیت لوړولو روزنیز فعالیتونه؛ (۴) پر پرمختیایی پروژو باندی سمه پانګونه؛ (۵) د کارموندنو د فرصتونو

رامنځته کول او لکه د جهاد کونډو، معیوبو کسانو، ځوانانو او په پنجشیر کې له پخوانی جهادی قومندانانو څخه چې تر ټولو زیات زیانمنیدونکی دی ملاتړ؛

# د دایکندی ولایت
# د سولې لپاره ولایتی لار نقشې

## ۱. پیژندنه

د سولې په اړه د افغانانو د ډیالوګ دویم پړاو د دې لپاره وقف شوی و چې د سولې، پخلاینې او امنیت په اړه د عادی افغانانو (ښځی او نارینه) نظریات راغونډ کړی. دغه دسولی ولایتی نقشه د هغو موندنو او مسالو لنډیز وړاندی کوی چې په دایکندی ولایت کې له ۲۰۰ عادی افغانانو سره د سلا مشورو په پروسه کې د شپږو متمرکزو ګروپی مباحثو، لسو انفرادی مرکو او د نظریاتو د ۲۱ سروې ګانو په پروسه کې راپورته شوی. ګډون کوونکی د ژوند له بیلا بیلو اړخونو څخه وو لکه کروندګر، د عامه سکټور کارمندان، د ټولنې مشران، ښوونکی، د مدنی ټولنې استازی، دینی پوهان، معیوبین او د بیلا بیلو ولسوالیو څخه بیرته راستنیدونکی کسان، حتی له ډیرو ناکراره سیموهغو څخه لکه کجران، میرامور او کیتی ولسوالیو څخه رابلل شوی وو.

د سولې لپاره دغه ځایی طرح د هغو موندنو او مسالو لنډیز وړاندې کوی چې د دایکندی د ښاریانو لخوا د افغانانو د خبری اتری دټول هیواد په کچه ددوهم پړاو د برخی په ټوګه دیو لسو مدنی ټولنو لخوا د ۴۵۰۰ افغانانو سره د مشوری په موخه او د ۳۴ دسولی ولایتی نقشی د جوړیدو په خاطر ترسره شوی دی .

د سولې دغه نقشه په پام کې لری چې د شخړو د ځایی انګیزو یوه ممکنه هر اړخیزه څیړنه برابره کړی او دغه راز مناسبی او کاری حل لارې په ګوته کړی چې په دایکندی ولایت کې سوله او ثبات ټینګ کړی.

## ۲. د ولایت پیژندنه

د دایکندی ولایت د مرکزی لوړی سیمې یوه برخه ده او په هغه ساحه پوری تعلق لری چې په عام ډول هزاره جات بلل شوی او د اوسیدونکو غوڅ اکثریت یې شیعه مذهبه هزارګان دی. دایکندی په پخوا کې د اوروزګان ولایت یوه برخه وه، مګر د ولسمشر کرزی له خوا د هزاره ټولنې د غوښتنې پربنسټ د ۲۰۰۴ د جولای په ۲۰ یو رسمی ولایت شو. دغه غوښتنه ځکه شوې وه چې خلکو د ناامنی او قومی تشنج له امله نه شو کولای چې د پخوانی ولایت مرکز تیرین کوټ ته ولاړ شی. د دایکندی ولایت له پینځو نورو ولایتونو سره پوله لری: غزنی،اروزګان، هلمند، غور او بامیان. دغه ولایت په اتو ولسوالیو ویشل شوی: نیلی، شهرستان، میرامور،اشترلی، بندر/سنګ تخت، خیدیر، کجران او کیتی. د ګیزاب ولسوالۍ موقف ځکه لالهاند دی چې په ۲۰۱۰ کې په اداری لحاظ له دایکندی څخه جلاشو او د ولسمشر د فرمان په ذریعه د اوروزګان ولایت ولسوالی وګڼل شوه. خو د ۲۰۱۳ په جون کې ولسمشر خپل فرمان وګرزاوه او د ګیزاب ولسوالی یې په دوو مساوی برخو وویشله چې نیمه یی په دایکندی او بله نیمه یی په اوروزګان ولایت پورې وتړل

شوه.د دایکندی ولایت ۱۷۵۰۱ کیلو متر مربع ساحه نیولی چې د ټول افغانستان د خاورې ۳ سلنه جوړوی.

په دې ولایت کې تر اوسه په رسمی ډول احصاییه نه ده اخیستل شوې او په پایله کې د نفوسو شمیر تر اوسه پورې د ټولنې د مشرانو، د ولایتی شورا او ولایتی چارواکو تر منځ تر بحث لاندی ده چې په تخمینی ډول د ۶۵۰۰۰۰ تر ۷۰۰۰۰۰ پورې اټکل شوی. په تخمینی ډول ټول نفوس په قومونو باندی په دې ډول ویشل شوی: هزاره ګان(٪۹۰)، پښتانه(٪۲)، بلوڅان(٪۵) او سیدان(٪۳). ځای نښتې او قومی سیالۍ او مخالفتونه جاری دی خصوصآ په سهیلی (کجران) برخو کی چیری چې په پښتنو د دې شک کیږی چې د هلمند او اروزګان په ولایتونو کې د ځای شویو طالبانو سره همدردی لری. د دایکندی ډیری نفوس (٪۹۹) په کلیولی سیمو کې اوسی.

دایکندی د خپل سخت اقلیم له وجی معروف دی. د ژمی په موسم کې ډیری برخو ته لاس رسی نه کیږی او د خوړو له کمبودی څخه رنځ وړی. څرنګه چې ولایت لیری پروت دی، طوفانی سیمه او سخت اقلیم او وچ میدانونه لری، دغه ولایت په ټول کال کې د بشر پالنې مرستو ته اړتیا لری. ولایتی اداره نه ظرفیت او نه سرچینې لری.. نا امنې سیمې په اوروګان کی شتون لری خو د هغی کچه د نورو ولایتونو په پرتله کم دی . د میرامور د ولسوالۍ ختیځه او د ولایت سهیلی برخی په خاصه ټوګه نا امنه دی. دغه ساحې په اروزګان او هلمند ولایتونو کې ځای شویو حکومت ضد عناصرو(طالبان) له خوا تر برید لاندی دی چې یوه سیاسی اجندا لری او ناقانونه چیک پوستونه یی جوړ کړی او په موقت ډول لویه لار چې د کندهار او د جنوب شرقی سیمو د خوړو مارکیټونو ته غځېدلې، بندوی.. په جنوبی برخو کې د حکومت د کمزوری سره یو ځای، د کجران او ګیزاب د ولسوالیو ولایتی اداری منابع تر سخت فشار لاندی دی. د ۲۰۱۳ کال په وروستیو شپږو میاشتو کې د کجران په ولسوالۍ کې په هلمند/ اوروزګان کې د ځای شویو عناصرو او ملی امنیتی ځواکونو تر منځ څو ځله نښتې وشوې، چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په ذریعه د دایکندی په ساحه کی پر میشتو ملی امنیتی ځواکونو او حکومتی چارواکو بریدونه وشول او ورسره ملکی کسانو ته زیان واوښت چې د ۲۰۱۳ کال په موده کې ثبت شوی دی.[۲۰۵]

## ۳. د نښتو شننه: د نښتو ډولونه او انګیزې

د ۶ متمرکزو ګروپی مباحثو، د نظریاتو ۲۱ سروې ګانو او لسو له ګروپی بحثونو شویو مصاحبو په درشل کی نژدې د ټولنې ۲۰۰ غړو چې د دایکندی له بیلا بیلو برخو څخه وو

[۲۰۵] ډیټابیس وګوری او د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ ارقام ورسره یو ځای کړئ

وویل چې په ولایت کې په ګاونډیو ولایتونو کې د روانو ناامنیو له امله اندیښنې زیاتی شوې او مرکزې حکومت دې ولایت ته پاملرنه نه کوی. دوی دغه راز د کوچیانو مساله، اداری فساد، د نابرابری پرمختیا مساله د نا قانونه وسله والو ډلو شتون، د سیاسی رقابتونو مساله، د اړیکو کموالی چې کابل ته د تللو په لار کې د نا امینو له وجې راپیدا شوی او په دایکندی کې د نښتو د نورو ډولونو مساله یاده کړې ده.

**د نښتو ډولونه**

**د حکومت ضد عناصرو او افغانی ملی امنیتی ځواکونو په منځ کې نښتې:** د ایکندی له غزنی، هلمند او اروزګان ولایتونو سره اوږدې ګډې پولې لری، چې په بشپړ یا په قسمی ډول د حکومت ضد عناصرو(طالبان) تر ولکې لاندی دی او له دې ځایه په دایکندی بریدونه کوی او امنیت یې ګډو ډوی. په عمده ډول دوی د اروزګان ولایت د چارچینو او ګیزاب له ولسوالیو د هلمند ولایت د بغران ولسوالۍ او د غزنی ولایت د اجرستان له ولسوالیو څخه د دایکندی ولایت د میرامور او کجران ولسوالۍ تربرید لاندی نیسی. د پولو په اوږدو کې د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو کارول او دغه راز د حکومت ضد عناصرو او افغان ملی امنیتی ځواکونو په منځ کې نښتې زیاتی شوې دی. له برید څخه وروسته دوی د غزنی، هلمند او اروزګان ولایتونو ته ستنیږی، چیری چې دوی اډې لری او د ځایی حکومتونو له خوا نه ګواښل کیږی.

له دایکندی څخه هلمند او اروزګان ولایتونو ته ټولی لارې د طالبانو تر ولکې لاندې دی. په ۲۰۱۳ کی طالبانو دغه لارې د دایکندی د اوسیدونکو پرمخ څو ځله وتړلې او له عامه موټرونو څخه یې د مالیاتو غوښتنه کوله چې د اضافی فشارونو په ذریعه خپلو موخو ته ورسیږی.

ګډون کوونکو وویل چې طالبانو په ۲۰۱۳ کې د کیتی او کجران د ولسوالیو لاری چې کندهار او اروزګان ته غځیدلی دی، څو ځله بندی کړې او له دوی څخه یې وغوښتل چې له خپلو ولسوالیو څخه افغان ملی امنیتی ځواکونه وباسی او د طالباتو بیرغ جګ کړی. یوه تن مذهبی سړی وویل: " له کومه راهیسي چې د امریکا ځانګړي ځواکونه د کجران له ولسوالي څخه وتلي دي، طالبانو خپل بریدونه پیل کړل او لاري یې وتړلې، په داسي حال کې چې د امریکې د ځانګړو ځواکونو ځای ملي امنیتي ځواکونو و نه نیو، طالبانو له دې تشې څخه ګټه واخیسته." یوه تن د کاندار وویل:

> " شل ورځې کیږي چې لارۍ بار ولاړه ده او نه شم کولای چې مال ولیږدوم ځکه چې لارې طالباتو تړلې دي. ما کچالو بار کړي دي او اوس خراب شوي دي. څو ورځې مخکې هرې لارۍ پنځلس زره پاکستانۍ کلداری ورکړې او د تیریدو اجازه یې واخیسته. کله چې لارۍ نیلې ته ورسیدې په نیلي کې مالیات

تصدیق شول او طالبانو دوی ته اخطار ورکړ چې د مالیې خبره رسوا نه کړی ځکه چې د طالبانو اعتبار ته زیان رسوی او که نه دوی به جزا ووینې او لاری به یې وسوځول شي." [٢٠٦]

**د کوچیانو او ځایی اوسیدونکو په منځ کې د څرځایونو پر سر اختلاف:** د کوچیانو او ځایی اوسیدونکو تر منځ د څر ځایو او ځمکو پر سر اختلافونه اوږد تاریخ لری. هر کال، د پسرلی او دوبی په موسمونو کې د میرامور په ولسوالۍ کې د څر ځایونو پر سر د کوچیانو او ځایی خلکو تر منځ د وسله والو شخړو راپورونه را رسیدلی دی. د څرځایونو منازعه د دایکندی ولایت له لویو ننګونو څخه یوه ده او خصوصا د میرامور په ولسوالۍ کې چې د غزنی ولایت د اجرستان له ولسوالۍ سره ګډه پوله لری.

د متمرکزو ګروپی مباحثو په ترڅ کې ګډون والو مرکزی حکومت په دې ملامت کړ چې د کوچیانو او ځایی خلکو تر منځ په ننګونو کې ښکیل دی او تور یې ولګاوه چې طالبان د کوچیانو شاته ولاړ دی چې د پولو په اوږدو کې نا امنی زیاته شی او دوی په ساحه کې خپل شته والی او ولکه پراخه کړی.

ګډون والو وویل:

"په ناامنیو کې د کوچیانو ښکیلتیا د حکومت او طالباتو له خوا تقویه کیږي، له دوی سره سلاوې شته او په ټولنو بریدونه کوي خو محاکمه کیږي نه او مرکزي حکومت د دي اراده نلري چې د کوچي جنایتکارانو په وړاندی قانون تطبیق کړي." [٢٠٧]

**سیاسی رقابتونه:** په متمرکزو ګروپی مباحثو کې،ګډون والو په ځایی ټولنو باندی د سیاسی ګوندونو نفوذ تایید کړ چې په خشونت امیزه مخالفتونو بدل شوی. نفوذ لرونکی سیاسی اشخاص ځایی ټولنې د خپلو سیاسی هدفونو لپاره استعمالوی چې کله په تاوتریخوالی بدل شی (ژوبلې او مړینې). سیاست وال په داخلی جګړو کې ځکه ښکیل وی چې د دوی په دې کې ګټې وی. ګډون والو وویل:

"سیاسي ګوندونه او د پارلمان غړې له جنګ سالارانو او ټولنو څخه ګټه اخلي چې خپلو شخصی او سیاسي ګټو ته ورسیږي او دوی د عامو خلکو د ګټو په اړه فکر نلري". [٢٠٨]

---

[٢٠٦] د کجران او کیتی له وسلوالیو څخه له استازو سره متمرکز ګروپی بحثونه، دایکندی، می اوم، ٢٠١٣
[٢٠٧] د افغانانو ډیالوګ، متمرکز ګروپی بحثونه، دایکندی، ٢٠١٣/٧/۴
[٢٠٨] متمرکز ګروپی بحثونه، شهرستان ولسوالی، دایکندی، ٢٠١٣/٧/۴

د ولسوالي د پرمختیا یی شورا رئیس وویل: "د سیاسي ګوندونو تر منځ سیالۍ، خصوصا د ټاکنو په وخت کې او حکومت ستونزې ایجادوي او سیاسي ګوندونه په ولایت کې د نښتو اصلي لاملونه دي".[209]

**ناقانونه وسله والې ډلې:** ناقانونه وسله والې ډلې په دایکندی کې پراخ حضور لری او ازادانه ګرزی. پولیس د دې توان نلری چې هغوی کنترول کړی او په یو ډول پولیس له هغوی سره موافقه لری او د دوی حرکت نه محدودوی. دغه ناقانونه ډلې په پخوا کې جنګ سالاران وو چې د کورنۍ جګړې په دوران کې د یو بل په ضد جنګیدلی دی او اوس هم په دې لټه کې دی چې له خپلو سیالانو (دښمنانو) څخه چې قتلونه یې کړی دی، غچ واخلی. ځینې وختونه د پارلمان غړی هغوی ته پیسې ورکوی چې د دوی په ګټه کمپاین وکړی او ټولنې په دې مجبوره کړی چې مشخصو نوماندانو ته رایې ورکړی. دغه طریقه په دایکندی کې له ۲۰۰۴ څخه راهیسې جاری ده. ناقانونه وسله والی ډلی قانون او بشری حقونو ته ارزښت نه ورکوی، هغوی د خپلو شخصی ګټو په اړه فکر کوی.

حاجې، یوه متنفذ خپل نظریات داسی شریک کړل:

"ناقانونه وسله والې ډلې د بشري حقونو احترام نه ساتي او ځینی خلک فکر کوي چې د دوی ګټې په جګړو کې نغښتي دي، ځکه دوی د بشري حقونو معیارونه نه مني." [210] ګډون وال: " جنګ سالاران او هغه نوماندان چې په تیرو ټاکنو کې یې رایې ونه ګټلې هم د نا امنیو په ایجادولو کې لاس لري. ناکام نوماندان ځکه نا امنی جوړوي چې کامیاب نوماندان بد نام کړی او د بل ځل لپاره ټاکنې وګټي".[211]

**قومی او مذهبی تعصب:** ګډون وال په دې باور دی چې قومیت لا اوس هم یوه لویه ننګونه او ستونزه ده چې د دایکندی ولایت یې متاثره کړی دې. طالبان په دایکندی باندی له پښتون میشتو سیمو څخه بریدونه کوی (هلمند او اوروزګان ولایتونه)، په داسی حال کې چې د هلمند او اوروزګان ځایی حکومتونه د دغو بریدونو او دایکندی ته د طالبانو له را شیوه کیدو څخه مخنیوی وکړی، خو دغه کار دوی نه کوی او دوی د طالبانو په وړاندې هیڅ غبرګون نه ښیی. د هلمند او اوروزګان ځایی حکومتونو غبرګون ښیی چې دوی په دایکندی کې امنیت او ثبات نه غواړی.

ګډون والو وویل:

[209] متمرکز ګروپی بحثونه، د خدید د ټولنې له غړو سره، مۍ ۸، ۲۰۱۳
[210] متمرکز ګروپی بحثونه، د خدید د ټولنې له غړو سره، مۍ ۸، ۲۰۱۳
[211] د کجران او کیتی له وسلوالیو څخه له استازو سره متمرکز ګروپی بحثونه، دایکندی، می اوم، ۲۰۱۳

" اوروزګان او هلمند په کجران باندی جګړه تحمیلوي، دا هغه ساحه ده چې د اوروزګان په ولایت کې د کجران په څنډه کی واقع ده او د طالبانو لپاره د پناه ښه ځای دی. د اوروزګان والی اراده نلری چې هلته عملیات وکړي، ځکه دی غواړي چې له حکومت څخه نور امتیازات تر لاسه کړی او وښیی چې په اوروزګان کې نا امنی ده. له کجران څخه د حکومت د ملاتړ نشتوالی په دې مانا ده چې له طالبانو سره په غیر مستقیم ډول مرسته کیږي. بله مساله د مذهبي تعصب مساله ده، چې ځینی خپل چاروکی کسان له هغه ګټه اخلي. د لارو د بندښت اوسنی حالت له دې امله رامنځ ته شوی چې هلمند او اروزګان ولایتونو ته د کجران له خوا لاس رسی کیږی، او ځکه د مذهبي تعصب یو څرګند مثال دی. دغه نښته په عمده ډول د دې لپاره کیږی چې قومی اختلاف موجود دی. پښتون نه غواړي چې په هزاره میشته سیمو کې سوله ټینګه شي".[۲۱۲]

**د نښتو انګېزې**

**د طالبانو او حکومت ضد عناصرو شتون:** د طالبانو او حکومت ضد عناصرو شتون یوه ستونزه او د امنیت لپاره یو تهدید دی. دوی د افغانستان د حکومت پر ضد دی. په دایکندی کې طالبان د خلکو په باور د سولې او امنیت په وړاندې یو لوی تهدید دی، ځکه دوی له رسمی امنیتی ځواکونو سره په همیشنی جنګ کې دی او ملکی کسان تر هدف لاندی نیسی.

**فساد:** اداری فساد په رسمی ادارو کې پراختیا موندلې، په خاص ډول په قضایی ارګانونو، ټمه کیږی چې قانون پلی کړی او تورن مجرمین د عدالت په وړاندې ودروی او اداری فساد محوه کړی او په ټولنه کې ټولنیز عدالت، امنیت او ټیکاو راولی. خو رسمی ارګانونه له دې څخه ډیر لیرې بریښی چې قانون ته درناوی وکړی او قضا او قضایی ارګانونو قانون نه دی پلی کړی، ځکه چې دوی پخپله په فساد کې اخته دی او په دې ډول یې د حکومت او خلکو په منځ کې واټن لوی کړی دی. د ګډون والو ډیری په دې باور وو چې پراخ اداری فساد د نا امنیو یو عمده لامل دی او دغه فساد له مرکزی حکومت څخه ځایی حکومت ته غځېدلی دی.

ګډون والو وویل:

" فاسد حکومت د افغانستان د قومونو تر منځ تبعیض کوي، حکومتي چارواکي د وړتیا پر بنسټ نه مقررېږي، په بشري حقونو په پرله پسې ډول

[۲۱۲] د کجران او کیتی له وسلوالیو څخه له استازو سره متمرکز ګروپی بحثونه، دایکندی، می اوم، ۲۰۱۳

تیری کیږي، نیستي او د معافیت کلتور د ځایی نښتو لاملونه ګرزي."[۲۱۳] یوه مدافع وکیل وویل: "کمزوری او فاسد قضایی سیسټم امنیتي ستونزې راولاړوي چې په پایله کې یې نښتې رامنځ ته کیږي." ژورنالست وویل: "کله چې قضایی سیسټم په مناسب ډول کار نه کوي، په پایله کې د غچ اخیستلو یو احساس راژوندی کیږي او ښکېلې خواوې له خپلو حقوقو څخه دفاع کوي"."

د ښځو د شورا یوې مشرې وویل: "حکومت فاسد دی او د اوسنیو ټولو ستونزو لپاره مسوول دی".[۲۱٤]

**نیستی، بی سوادی او بېکاری:** دایکندی د افغانستان یو له نیستمنو ولایتونو څخه دی. د بیکارانو شمیر ډېر زیات دی او ټولنې له نیستی څخه رنځ وړی. ډېری جنایی پیښی د نیستی له امله رامنځ ته کیږی.

په دې برسیره، د انفلاسیون کچه لوړه ده که له نورو ولایتونو سره پرتله شی ځکه چې لاری ویجاړی دی او واورې تر ډېره پوری پرتې وې چې د ژمی په موسم کې لویې لارې تر ډېره وخته پورې تړلې پاتې کیږی.

ګڼون وال په دې باور وو چې نېستی، بی کاری او نالوستی د نا امنیو اصلی لاملونه دی. فرصتونو ته په کتو سره، سیاسی ګوندونه او ناقانونه وسله والی ډلې نیستمن خلک د خپلو ګټو او شخصی هدفونو لپاره استعمالوی. مدافع وکیل وایی:

"نیستي او بې سوادي د نا امني اصلي لاملونه دی."[۲۱۵]

په متمرکزو ګروپې ډېری بحثونو کې ګډون والو پر لپسې فقر او نیستی په دایکندی کې د نا امنی د اصلی عامل په څیر یاد کړی دی او حکومت یې په دې پړ ګڼلی چې په ولایت کې د نېستی د کمولو لپاره مشخص پلانونه نلری.

**د معافیت کلتور او د قانون د پلي کیدو نشتوالی:** د معافیت کلتور پراخې ریښې لری چې په ټولنه کې په هره کچه غځیدلی دی. په ټولنه کې خلک په دې باور دی چې حکومت معافیت په یوه رسمی کلتور باندی اړولی دی. د قانون او عدالت لاس جنګ سالارانو او جنایتکارانو ته نه رسیږی، یو ازی غریب خلک محاکمه کیږی او د عدالت په وړاندی درول کیږی.

[۲۱۳] متمرکز ګروپی بحثونه، شهرستان ولسوالی، دایکندی، ۲۰۱۳/۷/۴

[۲۱٤] متمرکز ګروپی بحثونه،نیلی، دایکندی می ۹، ۲۰۱۳

[۲۱۵] متمرکز ګروپی بحثونه،نیلی، دایکندی می ۹، ۲۰۱۳

ګڼون والو وویل چې ځایی حکومت نه د ولایت په مرکزی او نه د ولسوالۍ په کچه د دې اراده لری چې د معافیت له کلتور سره مجادله وکړی، بلکه برعکس، دوی له جنګ سالارانو او سیاسی اشخاصو سره همکاری او همغږی کوی څو دوی خپلی رسمی وظیفې خوندی وساتی. تر اوسه پوری هیڅ یو تورن مجرم جنګ سالار یا زورور مجرم د عدالت په وړاندی نه دی درول شوی ځکه چې دوی جرمونه کړی دی. ګډون والو په دې بحث وکړ چې نه ختمیدونکی معافیت امنیت ته زیان رسوی او د جرم قربانیان دې ته هڅوی چې له مجرمینو څخه په خپلو لاسونو غچ واخلی ځکه چې بله چاره نلری. ناقانونه وسله واله ډلې په دې تورنې دې چې د جنګی جرمونو مرتکب شوی دی او د جرمونو ځینی قربانیان د دې هڅه کوی چې د نورو ناقانونه وسله واله ډلو په مرسته غچ واخلی.

**بهرنۍ مداخلې:** د سیاسی ګوندونو ډیری چې اوس په دایکندی کې فعالیت کوی او بر لاسی دی، په افغانستان د شوروی د یرغل په موده کې په ایران او پاکستان کې جوړ شوې دی. دغه ګوندونه د ډیرو کلونو لپاره د پاکستان او ایران له خوا تقویه کیدل او د دوی ګټو په نا امنی کې لاس درلود.

په ملک کې د بهرنیو مداخلو له وجې ټول ولایتونه متاثره شوی. ګډون والو وویل چې طالبان له خشونت څخه کار اخلی او د بهرنیو ملکونو لاس پوځی دی چې په ملک کې امنیتی وضعه خرابوی. ګډون والو دغه راز وویل چې ایران د مذهبی عالمانو د سیاسی ګوندونو له لارې چې له ایران سره اړیکې لری په دایکندی کې لاسوهنه کوی.

**سیاسی ګوندونه:** سیاسی ګوندونه په ټولنو نفوذ غورځوی او په ډیر فعالانه ډول خپل پلویان په ځایی حکومت او ولایتی شورا کې تقویه کوی. د پارلمان غړی چې له دایکندی څخه استازیتوب کوی، د سیاسی ګوندونو په ذریعه بریالی وختل او حتی ملکی کارمندان د سیاسی ګوندونو په سپارښتنه او مرسته مقرر شوی دی.

ګډون والو وویل چې د پارلمان ټول غړی په رسمی چارو کې ګوتې وهی، لوړ پورې چاروا کې (ولسوالان، د پولیس قومندانان، او د اړونده حکومتی ریاستونو رئیسان) په دې مکلف دی چې د پارلمان له غړو سره خپلې دوامدارې اړیکې وساتی، او که نه دوی به خپلې دندې له لاسه ورکړی. دغه ډول دوامداره منفی لاس وهنې شفافیت او د قانون واکمنی ته زیان رسوی او په ولایت کې نا امنی زیاتوی.

**تبعیض:** ګډون وال ټینګ په دې باور وو چې مرکزی حکومت له دایکندی سره تعصب کوی او دغه ولایت یې په عمدی ډول له پامه غور ځولی دی. د حکومت بې غوری د ځینو کسانو لپاره په مرکزی حکومت کې ددې فرصت برابروی چې امنیت ویجاړ کړی تر څو په دی ولایت کې د پرمختیا پروسه ټکنۍ کړی. تبعیض پخپله یو عامل دی چې د ځایی خلکو

او حکومت تر منځ فاصله او مخالفت ایجادوی او د ملکی خلکو د خپګان لامل ګرزی. ګډون والو وویل چې تبعیض د نا امنۍ او ټولنیزې بې عدالتی په لورې یو ګام دی.

## ۴. د خلکو سپارښتنې او د سولی نقشه

د سلامشورو د پروسې په ترځ کې، خلکو دا لاندی عمومی سپارښتنې وکړې او دا یې په نظر کې ساتلی چې حکومت، نړۍ وال فعالین او مدنی ټولنه د یوه ګډ او سازنده ډیالوګ په ترځ کې د دایکندی په ولایت کې د نښتو اصلی لاملونو ته رسیدګی وکړی:

**د ځایی حکومتی موسساتو تقویه کول:** ډیری ګډون وال په دې باور وو چې افغان ملی ځواکونه باید تقویه شی او په لازمو وسایلو تجهیز شۍ چې وکولای شی په ناامنی غلبه پیدا کړی. ګډون والو وړاندیز وکړ چې د ملی اردو او ملی پولیس شمیر زیات شی او هغه تقویه شی او له ګاونډیو ولایتونو سره په پولو کی نظامی اډه جوړه شی تر څو دایکندی ولایت ته د حکومت ضد عناصرو د راتګ مخنیوی وکړی.

**د اقتصادی او اجتماعی پرمختګ تقویه کول:** بې له تبعیضه برابره پرمختیا، حکومتی موسسات او ځایی حکومتونه د افغانستان په ټولو ولایتونو کې باید په برابره توګه د پرمختیا او د ولایتونو د بیا ودانولو لپاره بودجه تر لاسه کړی او د ملی یووالی او د خاورې د بشپړتیا لپاره باید تبعیض محوه کړی.

**د بشری حقونو او د قانون د واکمنۍ پرمختیا او د معافیت مخنیوی:** ډیری خلک چې مشورې ورسره شوې دی په دې باور وو چې د معافیت په ختمولو او د بشری حقونو په تضمینولو سره کیدای شی چې سوله ټینګه شی. دغه راز، د ټولو قومی ګروپونو په منځ کې د عدالت ساتل او د اسلامی اوصولو درناوی مهم دی. سوله باید په جرمونو پرده ونه غوړوی او معافیت ختم کړی. د ښځو د حقونو په باب باید د پوهاوی کمپاین پیل شی.

**د کوچیانو او ځایی خلکو تر منځ د اختلافونو حل کول:** په افغانستان کې د کوچیانو او ځایی خلکو تر منځ د اختلافونو د حل کولو لپاره د اساسی قانون تطبیق تر ټولو ښه لار ده. حکومت مسوول دی چې د تاوتریخوالی د مخنیوی په مقصد د کوچیانو لپاره ځمکه برابره کړی.

**د اداری فساد او د معافیت د کلتور محوه کول:** د دې لپاره چې د حکومت مشروعیت او د قانون واکمنی ټینګه شی، حکومت مسوولیت لری چې اداری فساد او د معافیت کلتور محوه کړی ترڅو ټول افغانان په برابره توګه د قانون تر سیوری لاندی ژوند وکړی او له ټولنیزی بې عدالتی سره مخامخ نه شی.

**د ښځو د حقوقو ساتنه او پالنه:** د ښځو حقونه باید وساتل او تقویه شۍ. حکومت باید ښځو ته د دې فرصتونه برابرکړی چې د ملک په ټولو ټولنیزو، سیاسی او اقتصادی چارو

کې برخه واخلی. د سولې په هره مذاکره کې له ښځو سره باید د داسی لوری په څیر سلا مشورې وشی چې د سولې په پروسه کې د پریکړو په نیولو کې نقش ولری. د ښځو د حقونو په برخه کې لاس ته راغلې برياوې باید وساتل شی.



# د سولې په هکله د افغانستان
# د خلکو خبرې اترې

## د ۳۴ ولایتونو د سولې ولایتي نقشې